Download from:aghalibrary



# احمد شاه درانی

لیکوال

ډاکټر ګنډا سنګه

ژباړن

نصرالله سوبمن منګل

۱۳۹۴ لمریز کال

# درانی احمدشاه

## (د اوسني افغانستان پلار)


**لیکوال:**

**ډاکتر گنداسنگهـ**

**ژباړن:**

**نصرالله سوبمن منگل**



۱۳۹۴ ل کال



**Download from:aghalibrary**

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: درانی احمدشاه

لیکوال: ډاکتر ګنداسنګهـ

ژباړن: نصرالله سوبمن منګل

خپرندی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

لومړی چاپ: ۱۳۶۶ل کال

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

کمپوز/ډیزاین: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۵۹)



یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

Download from:aghalibrary

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلابېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

Download from:aghalibrary

# نیولیک


| څپرکی | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | نظريې او سريزې | ۱ |
| ۲ | لومړی فصل (د ابدالیانو منځته راتلل) | ۴۵ |
| ۳ | دویم فصل (د احمد شاه وړکتوب) | ۶۲ |
| ۴ | دریم فصل (انتخاب او تاج پر سر کول) | ۷۹ |
| ۵ | څلورم فصل (د کابل او پېښور نیول) | ۹۷ |
| ۶ | پنځم فصل (په هند باندې لومړی برید) | ۱۰۳ |
| ۷ | شپږم فصل (د منو پور جګړه) | ۱۲۳ |
| ۸ | اووم فصل (په هند باندې دویم برید) | ۱۵۱ |
| ۹ | اتم فصل (د هرات الحاقول) | ۱۶۳ |
| ۱۰ | نهم فصل (د خراسان عملیات او نیول) | ۱۷۲ |
| ۱۱ | لسم فصل (په هند باندې دریم برید) | ۱۹۲ |
| ۱۲ | یوولسم فصل (ځینې کوچنې مسایل) | ۲۳۰ |
| ۱۳ | دولسم فصل (په پنجاب کې بدلونونه) | ۲۴۲ |
| ۱۴ | دیارلسم فصل (په هند باندې څلورم برید) | ۲۵۸ |
| ۱۵ | څوارلسم فصل (د جټانو پر خلاف قوې لښکر) | ۲۹۰ |
| ۱۶ | پنځلسم فصل (تیمور شاه په پنجاب کې) | ۳۲۰ |
| ۱۷ | شپاړسم فصل (د کلات میر نصیرخان بلوا) | ۳۴۴ |
| ۱۸ | اوه لسم فصل (د پنجاب لور ته واړه عملیات) | ۳۵۶ |
| ۱۹ | اتلسم فصل (په هند باندې پنځم برید) | ۳۶۹ |


**Download from:aghalibrary**

| | | |
|---|---|---|
| ۲۰ | نولسم فصل (د پاني پت جګړه) | ۴۰۴ |
| ۲۱ | شلم فصل (کورني حالات) | ۴۳۶ |
| ۲۲ | یوویشتم فصل (په هند باندې شپږم برید) | ۴۴۳ |
| ۲۳ | دوه ویشتم فصل (په هند باندې اووم برید) | ۴۶۹ |
| ۲۴ | درویشتم فصل (په هند باندې اتم برید) | ۴۹۷ |
| ۲۵ | څلرویشتم فصل (د بلخ، بخارا، پنجاب او خراسان پر لور وروستي عملیات) | ۵۱۵ |
| ۲۶ | پنځه ویشتم فصل (د احمد شاه وروستۍ شپې ورځې او مړینه) | ۵۲۲ |
| ۲۷ | شپږ ویشتم فصل (د احمد شاه شخصیت او کارنامې) | ۵۲۷ |
| ۲۹ | ضمیمې | ۵۵۷ |
| ۳۰ | ماخذونه | ۶۹۸ |
| ۳۱ | یادونه | ۷۱۵ |

Download from:aghalibrary

# سریزې او نظریې

## درانی احمد شاه

### د ملي وحدت سمبول او د اتلسمې پېړۍ غوره څېره

احمد شاه درانی، چې د خپلو کارنامو له امله یې د خپلو وطنوالو له خوا د ((بابا)) لقب ګټلی دی. د منځنۍ اسیا د تاریخ په داسې لانجمنو شېبو کې د قدرت واګې ترلاسه کړي، چې د افغانستان اوسني حدود هم تر زیاتې اندازې د ګورګاني او صفوي دولتونو استعمارګرو حکامو د پراختیا غوښتنې د سیاست قرباني شوي و.

احمد خان چې د خپل عمر پنځه ویشت پسرلي یې تېر کړي وو، د ۱۷۴۷م کال د اکتوبر په میاشت کې د (شېرسرخ) په هغه ستره جرګه کې د واکمن په توګه انتخاب شو، چې د ملیتي ترکیب له مخې د تېرو سترو جرګو په پرتله یې محتوا زیاته غني وه، په دغه جرګه کې د پښتنو، بلوڅو، تاجیکو، هزاره وو او د نورو ملیتونو استازیو ګډون درلود.

احمد شاه درانی تر پاچا کېدو دمخه د نادرشاه افشار په دربار کې سیاسي او اداري تجربې ترلاسه کړې وې او د خپل ذاتي استعداد په وجه یې دغه تجربې نورې هم شتمنې کړي. احمد شاه درانی نه یوازې د پښتنو او نورو ملیتونو د وحدت د مزیو کلکولو ته د سلطنت له هماغه پیل څخه اقدام وکړ، بلکې د صفوي او هند ګورګاني دولتونو د استعماري جغ څخه یې د افغانستان ټولې سیمې وژغورلې او حتی دده د سلطنت په قلمرو کې د ایران ختیځې سیمې او د هند د نیمې وچې یوه اندازه سیمې په مستقیمه توګه شاملې شوې، ددغو ټولو سیمو مرکزیت بیا هم په افغانستان کې و، دا ځکه احمد شاه دراني اراده نه لرله چې د ایران ټول ملک او د هند ارته سیمه چې پېچلي سیاسي حالات یې لرل، تر مستقیم کنټرول لاندې ونیسي او ددې لپاره ده زیات دلایل لرل چې دغو دلایلو د احمد شاه دراني مولف ((ګندا سنګهـ) د کتاب په متن کې ځای پر ځای اشاره کړې ده.

احمد شاه دراني په دې قانع و چې د اوسني افغانستان څخه بهر سیمې د یو سپر په توګه د پارس د تهاجماتو او د هندي قوتونو په مقابل کې وساتي. احمد شاه درانی کلک مسلمان و، خو د نورو ادیانو له پیروانو سره یې د تعصب له مخې هېڅکله چلند کړی نه دی، چې په دې باب ډېر شواهد او اسناد شته دی.

د احمد شاه نبوغ په اداري ساحه کې دومره زیات و چې ده په اسانۍ سره وکولای شول د بهرنیو فتوحاتو په سبب شتمن شوي او فیوډالان په خپله درباري هیرارشي کې وساتي او دوی په عامه توګه دده درناوی وکړي. د هغه وخت په تقاضا د عام ولس تابعیت احمد شاه ته ددغو قبیلوي مشرانو

او فیوډالانو په درناوي کې نغښتی و. د احمد شاه تر مرګ وروسته درباري هیرارشي رنګه او له زمان شاه پرته بل څوک د داسې استعداد خاوند نه و، چې د غیر تجانسي سترې امپراتورۍ مزي کلک وساتي. په نتیجه کې د تیمورشاه د سلطنت په پیل کې د متنفذو خانانو سرغړونې او تحریکات پیل شول. که څه هم تیمور شاه ددغو حرکتونو مخنیوی کاوه، خو دده د اولادې او ځای نیوونکو په حیطه کې دا حرکتونه دومره پیاوړي شول چې په نتیجه کې د اسیا دغې سیمې ته د انګریز استعماري طاقت د راکاږلو یو علت ګڼل کېدای شي.

د (احمد شاه درانی) د کتاب مولف ګنډا سنګهـ چې د هند یو وتلی او ستر مورخ دی او په سلګونو مقالې او کتابونه یې لیکلي دي، د احمد شاه سترو الي ته هغه وخت متوجه شو، چې ده د اتلسمې پېړۍ په باب خپلې څېړنې وړاندې بیولې. د احمد شاه کارنامو او پوځي نبوغ او شخصیت په ده دومره اغېزه وکړه چې دده په قول له ۱۹۳۳م کال څخه تر ۱۹۴۶م کال پورې یې د احمد شاه د وقایعو او تاریخ د څېړلو په پاره د هند ټولې کتابخانې وپلټلې او حتی افغانستان ته یې سفر وکړ او تر لندن ورسېد.

د ګنډا سنګهـ د تحقیقاتو نتیجه دغه موجود کتاب دی چې د هغه د ارزښتمنې محتوا په سبب د پښتو څېړنو بین المللي مرکز ریاست د ۱۳۶۰ل کال په اوږدو کې پرېکړه وکړه چې دا کتاب دې له انګرېزي څخه په پښتو ترجمه شي. د ترجمې چارې د سرمحقق مرستیال نصرالله سوبمن ته وسپارل شوې. نوموړي د کتاب ترجمه د یوه علمي کار په توګه بشپړه او د مرکز ریاست ته یې له اصل سره وړاندې کړه.

د مرکز د تعامل سره سم دا کتاب چاپ ته واستول شو او ویاړو چې دادی اوس د محترمو لوستونکو د استفادې لپاره یې وړاندې کوو.

دغه کتاب ترجمه او چاپ په دوو لحاظونو زموږ په نظر ډېر اهمیت لري؛ لومړی دا چې دا د یوه بهرني محقق د اوږدو کلونو د داسې تحقق نتیجه ده چې د احمدشاه بابا په باره کې د یوه باوري، مکمل لومړي ماخذ حیثیت لري.

بله دا چې خپله احمدشاه بابا زموږ د هېواد د ټولو ورونو ملیتونو لپاره د ملي وحدت، ملي ورورګلوۍ او بالاخره د ملي روغې جوړې حیثیت لري. ددغه مهم اثر د ترجمه کولو له امله چې یقیناً به د افغانستان او سیمې د یوې مشخصې مرحلې د تاریخ په غني کولو کې مهم رول ولوبوي. محترم نصرالله سوبمن ته کور ودانی وایو او له سرمحقق علي محمد منګل نه د هغه زیار له امله مننه کوو چې ددغه کتاب د چاپولو په برخه کې یې ایستلی دی.

سرمحقق دوست شینواری

د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز رئیس

# نظریه:

کتاب احمد شاه درانی تالیف گندا سنگهـ از کتب معتبر زندگی نامه احمد شاه درانی موسس خانواده سدوزایي است. این کتاب با مراجعه به ماخذ معتبر و احیاناً نایاب تالیف شده است و ترجمه آن به زبان پښتو کاری است بسیار مفید و ارزنده مترجم محترم در ترجمه جانب امانت رانگهداشته و به خوبی از عهده این کار بر امده است. نشر ان از طرف اکادمی محترم علوم جمهوری دموکراتیک افغانستان اقدام گرانبهای است در راه روشن شدن قسمتی از تاریخ کشور و ازین جهت انرا توصیه میکنم و توفیق مزید مترجم محترم ان نصرالله سوبمن منگل را در کارهای علمی می خواهم.

۱۴ حوت ۱۳۶۲

میرحسین شاه

# تقریظ:

لازم به تذکر است که بمطالعه تاریخ کشور خود ، همانند سایر مردمان جهان، وسیعاً علاقه داریم. و این تمایل بدان جهت است که سپر تکامل جوانب زندگی کنونی را که کم و بیش سابقه تاریخی دارند ، و از ورای پژوهش های تاریخی بدرستی می توان انرا دریافت، و مورد قضاوت و تحلیل قرارداد و به نحو خواستنی و اگاهانه از ان بهره گرفت.

از تذکر بالا بر می آید که وجوه زندگی ایکه الان در اختیار داریم، با گذشته هایش پیوند ناگستنی دارد به نحو یکه اثرات گذشته شامل کارنامه ها ، پدیده های اجتماعی و نهضت های فرهنگی و ادبی که حاصل دست و دماغ مردمان پشینه و چهره ها و رجال ناموری که در صحنه تاریخ کشور ما ایجاد گرانه در خشیدند ، به شمار درمیابد برنحوه زندگی امروزه نمایان و مشهود هست. بدین صورت، بیاری تاریخ به ماهیت ارتباط اجتماعی که ایجاد گر علایق مشترک، تمنیات و منافع مشترک ملی میان کلیه طبقات ملت افغان است، اگاهی می یابیم و راه را در جهت گسترش و استوار ساختن هر چه بهتر نصب العین ملی که ما افغانان رابهم فکراً و عملاً پیوند داده است، هموار میسازیم.

ضرورت به یاد اوری است که مطالعه تاریخ، یک اثر بس لازمی است که بدان وسیله، افتخارات و علایق مشترک را که در تنظیم حیات ملی ما سهم چشمگیری ادا میکند، نه تنها تشخیص دهیم، بلکه با همدستی و اشتراک مساعی درنگاهداشت ان اهتمام لام بعمل اید.

بدین ملحوظ هر اثریکه در مورد تاریخ کشور نگارش می یابد، جزء سرمایه ملی خود بر شمریم و به آن نوع تحقیقات تاریخی ارج بگذاریم.

کتابی را که اکنون زیر عنوان ((احمد شاه درانی)) در دست مطالعه داریم، تالیف گندا سنگهـ محقق توانا و پژوهشگر چیره دست است که در سال ۱۹۵۸م به زبان انگلیسی بدست نشر سپرده شده است و بر زوایای تاریخ کشور در نیمه سده هجدهم بوجه نیکوی روشنی می افگند.

این اثر تاریخی کاملاً بر محتوای تحقیق علمی استوار بوده و در نوع خود منحصر به فرد می تواند باشد. بگو نه دیگه مولف در تهیه کتابش آیین تاریخ نگاری را که مبتنی است بر مطالعه و تکنیک تحقیق تاریخی و نقد موشگافانه تاریخی ترتیب مطالب بایکدیگر، کاملاً رعایت نموده و بادرنظرداشت محلوظات متذکره، مولف حقایق تاریخي کتاب مربوط را باستناد مدارک و شواهد ثقه و درست مخصوصاً از نوع دست اول توام با نظم کرونولوژیکي ترتیب داده است، مولف در امر تدوین درنهایت دقت زمینه گرداوری مدارک دست اول اعم از کتب مطبوع، نسخه های خطی و یاد داشت هایي که در کتابخانه های مورد نظر دستیاب میگردید، پرداخته است.

مولف در مقدمه کتاب در مورد می نویسد: چهارده سال تمام ۱۹۳۳- ۱۹۴۶ ((در هر سال آن سه ماه در خارج کشور)) در جهت گرداوری حقایق تاریخی مورد نظر (عموماً از نوع دست اول) بشکل خسته ناپذیر البته با قبول هر نوع دشواریها و موانع، اشتغال ورزیده است. با وقوف علمی ایکه از تاریخ نویسی داشت، خود بسراغ حوادث و پدیده های تاریخی مربوط رفته است. زیرا میگویند: ((وقایع خود به خود گویا نیستند. بلکه به کمک مورخ لب به سخن میکشایند)).

بدینگونه محترم گنداسنگهـ به نوشتن کتاب (احمدشاه درانی) که گویای بیوگرافی و چگونگی فرمانروایی احمدشاه در سرزمین افغانستان و بخش از کشورهای ایران و هند، به تفصیل لازم توفیق یافت و با انجام این کار دشوار علمی و تاریخی، برما افغانان عظیم منت گذاشته است. در ارتباط به موضوع، فیض کابلی مردم افغانستان را مرهون مولف میداند.

انگیزه ایکه گنداسنگهـ را در امر نوشتن کتاب واداشته، به قرار گفته خودش اصلاً ان بوده است که او دریافت، احمدشاه صاحب چنان شخصیت برازنده و ممتازی بوده که علی الرغم مولفان هندی درباره او ذهنیت مثبتی نداشته اند، چهره تابناک و یکه تاز میدان سیاست در سده هجدهم اسیایی میانه درشمار می آید.

مولف جریان زندگی اجتماعی و اداری احمدشاه درانی را در اترش بدون کمترین کاربرد تعصب مذهبی و نژادی جسته جسته حکایه میکنند که باختصار درین مبحث برگزیده شده است.

احمد شاه درانی در اکتوبر ۱۷۴۷ در جرگه ملی ای که بمنظور تعیین سرنوشت کشور و انتخاب پادشاه در کندهار تدویر یافته بود ، نمایندگان کلیه ملیت های ساکن افغانستان از قبیل پشتون، تاجیک ، ازبک ، هزاره ، بلوچ دران اشتراک نموده بودند و درست بعد از نه روز گفتگو در مورد به حیث پادشاه افغانستان با تفاق اراء انتخاب گردید.

شاه افغان بعد از انکه به اریکه قدرت تکیه زد ، باداشتن قابلیت ذاتی ، اداری، در بدوو هله ممیت ها و قبایل مختلفه افغانی را ان طوری که در صفحات پشین تذکر یافت در پرتو نصب العین ملی با هم متحد ساخت و بدین وسیله در امر احیای مجدد ملت واحد افغان نایل آمد ، در قدم دوم باثر همدستی نیروهای متشکل و متحد ملی در طرد استیلای سیاسی بیگانه گان چون صفویان ایران و عمال گورگانی هند از خاک افغانستان موجوده اندر کار شد و با تصرف حصص شرق ایران و بخشی از سرزمین های هند شمال غربی امپراطوری افغانی رابنیاد نهاد و منظورش از اشغال سرزمینهای متذکره غالباً آن بوده که مناطق مربوط را به حیث یک زون بی طرف یا بفرستت به کاربرد و بدان وسیله از دولت جدید التاسیس افغانی حراست بی چون و چرای بعمل آید.

مولف کتاب احمد شاه را رهبر حایز شخصیت ممتاز و سجایای عالی افغانی وانمود میکند و رویه مدبرانه و سازنده او را در تنظیم حیات ملی که امیخته بر حسن نیت او در تاسیس یک افغانستان برومند بوده، باین شرح کایه مینماید:

احمد شاه درانی که از تبحر نظامی و سیاسی خاص برخوردار بود، به حیث یک اداره کننده باکفایت در صحنه اداره و فرمانروایې چنان درخشید که در شرق زمین در همان عصر، رهبری همانند او تاریخ سراغ ندارد.

به قول گندا اسنگهـ: اگر تاریخ اورا بوجود اورنده افغانستان و ملت بزرگ منش افغان نمی شناسد ولی می توان ادعا کرد که احمد شاه احیا کننده دوباره کشور افغانستان و اعاده فرمای ابروی و حیثیت تاریخی افغانان بوده است. او احمد شاه را مرد تاریخ، صاحب دانش و فهم ادبی و چهره ایدال افغانی و بالاخره انسانیت معرفی میکند. به قول مولف، الفنستون در زمینه میگوید: ((احمد شاه مرد ساده خوش خلق و رفیق مشرب بوده، در امور اداره دولت، متانت شایستگی و تدبر خاصی در سیمایش هویدا بود.

احمد شاه در قلوب مردم خود راه داشت و مردم باو به حیث یک رهبر محبوب حرمت میگزاردند به حدیکه او از طرف رعایایش به لقب (احمد شاه بابا ) یا (بابای ملت افغان) مفتخر شد.

گندا اسنگهـ در مقدمه کتابش در مورد زندگی عادی شاه افغان تذکری بدین نحوه دارد: احمد شاه مانند سایر سران قبایل و اراکین سرشناس دولت، لباس ساده به تن میکرد و به تناول غذای ساده و مروج زمان خود علاقمندی به خصوص داشت. وی در هنگام فرمانروایې بیشتر اوقات بروی زمین می نشست نه به تخت سلطنتی. همانطور مولف کتاب مزبور مشغولیت های ادبی و استعداد شعری اورا نادیده نه گرفته، در مورد می نویسد: که شاه افغانستان نه تنها از نعمت سواد برخوردار بود، بلکه صاحب قریحه عالی و توانای ادبی نیز شناخته می شود، بگونه ایکه او در

زبان های پشتو و دری اثار منثور و پارچه های منظوم انشاء کرده است، چنانچه یکعده اشعار در سال ۱۳۱۹ه. ش زیر عنوان (لوی احمد شاه) در کابل بدست نشر سپرده شده بود. احمد شاه درانی نسبت به گرفتاری های که ناشی از فتوحات و تحکیم پایه های ان در سرزمین های تحت اشغال باو روی اورده بود، نه توانست بیشتر بدسترس ذوق ادبی خود اشتغال ورزد، باسهم در ساحه معماری و اعمار بناهای عمده تاریخی بشمول ساختمان شهر جدید کندهار به نام ((کندهار احمد شاه)) یا ((اشرف البلاد)) و بعضی ابدات تاریخی دیگری منجمله قلعه های نظامی در حصص معین از قلمرو خود اقدام نماید.

گنداسنگهـ در مورد عاطفه انسانی و عادت مسالمت امیز شاه افغان چنین اظهار نظر مینماید:

او علاقه نداشت بیجا شمشیرش را از نیام برکشد و ناحق بریختن خون مردم دست اندر کار شود، حتی علاقه داشت با باغیان و دشمنان نقش لزوما از دراشتی و مصالحه پیش آید، مخاصمات بی لزوم ما بین را از ریشه قلع و قمع نماید. که بتاسی ازین پیش آمد به قول کتاب (احمد شاه درانی) مسیر تاریخ افغانستان را توانست عوض کند. به نحو یکه احمد شاه اصلاً بنای دولتی از نوع تمرکز قدرت را پیریزی نمود با انکه خودش در امور دولت مداخلاتی مینمود، به روسای قبایل اجازه میداد هر یک در امور اداره قبیله خود نقش داشته باشند، چنانچه فیریر در مورد میگوید: ساختمان اداری افغانستان نوین بیشتر به یک نظام جمهوری فدرال شباهت داشت تا به یک رژیم مطلقه سلطنتی همانگونه شاه افغان به

وجود اورد که بدون مشوره شورای متذکره گاهی در طرح و حل مسایل خطیر اداری توسل نمی جست.

احمد شاه در سیاست مذهبی روش خیلی ملایمانه داشت با آنکه خودش به حیث یک مسلمان واقعی به مناسک دینی سخت پابند بود ، اجازه میداد پیروان سایر ادیان و اقلیت های مذهبی در داخل و خارج کشور در اجرای شعایر مذهبی شان از ازادی کامل بر خوردار باشند و حتی در مورد تسهیلات لازم در اختیار شان می گذاشت.

بالاخره احمد شاه به حیث یک رهبر صادق و فداکار، خوش داشت مردمش عظمت تاریخی پارینه خود را باز یابند ، خوش داشت ببیند افغانان علیرغم مسایل قبیلوی در نهایت وحدت و همبستگی بسر برند و وحدت ملی آنان رو به توسعه و درخشش باشد. احساس مفرطش در ارتباط به افغان و افغانیت درست هنگامی نمودار شد که وی با انکه امپراتوری وسیعی بنیاد نهاد والی مرکز فرمانروایي خود را از کشور خودش (افغانستان موجوده ) قرار داده بود. که بقول گنداسنگهـ درین امر رازی نهفته بود که می توان از ورای مطالعات دقیق این اثر از روی آن پرده برداشت و بدین صورت نظریه ایکه مولف کتاب (پښتانه د تاریخ په رڼا کي ) در زمینه ارائه کرده است و درین اواخر بعضی از روشن فکران افغانی نیز بزعم خودیدان توجیهاتی نموده اند ، تا حدی نادرست تلقی نمود.

خلاصه: کتاب (احمد شاه درانی ) به زبان انگلیسی در جمله زمره بزرگترین سرمایه تاریخی ما در قرن هجدهم برشمرده در توسعه و بسط فرهنگ کشور تاثیر بس ارزنده دارد. بر رسی این اثر به پژوهشگران تاریخ زمینه

ایرا فراهم کرده است تا چهره واقعی احمد شاه درانی را به حیث یک زمامدار فاتح، مدبر، راستکو درست تشخیص دهند.

خوشبختانه این اثر گرانبها توسط دانشمند محترم معاون سر محقق نصرالله سوبمن به پشتو برگردانیده شده است. محترم سوبمن در امر ترجمه کتاب نهایت دقت و امانت داری به کار برده است، تا از یکطرف زبان ترجمه ساده و سلیس و عام فهم باشد و از جانبی مفاهیم اصلی متن انگلیسی در پشتو درست افاده شود. به زعم بنده ترجمه این اثر از دو نگاه واجد اعتبار است:

یکی آنکه مترجم محترم به انگلیسی کاملاً وارد هست و دیگر آنکه در زبان مادری اش (پښتو ) به حیث یک ادیب و نویسنده توانا تسلط قابل اعتنای دارد.

موجودیت ترجمه پشتو کتاب برای علاقمندان مطالعه تاریخ افغانستان، که به انگلیسی تسلطی ندارند، متن پشتو نعمت عظیم دیگری بوده و انان می توانند از طریق بررسی متن پشتو به گسترش دانش تاریخی خویش در ساحه مربوط دست یابند.

ومن الله التوفیق

معاون سرمحقق محمد محسن فرملی

کارته مامورین

۳۱-۲- ۱۳۶۲هـ. ش

چې خدای لوی کړلې احمده !
تــل د خــوارو دستګیري کــړه

# درانی احمدشاه

کله چې ما ددې اثر د اهمتام چارې بشپړولې، نو د افغانستان دغه لوړ تاریخي، نظامي، سیاسي، توریالي، زړه سواند، صوفي، کلک مسلمان، په هېواد مین او ادبي شخصیت سترو چارو او کارنامو ته اړ کړم چې څو ټکي پرې وکښم:

د دولسمې هجري پېړۍ په شپږمه لسیزه کې د لویې (اسیا) زړه (اریانا، باختر، خراسان) چې د افشار نادر د ظلم او تېریو په شنولو خړو کې سوځېده. د څمکنو میاعمر(رح) له څو ګڼو څخه لاهور ته ولاړ، د لاهور نیکان او ملایان ده ته راغلل او له نادري وحشت څخه یې د خلاصون دعا ور څخه وغوښتله، په دغه باره کې حافظ مرغزی داسې وایي:

له څو ګنو صاحب روان شه په دا لار د هندوستان شه

***

| | |
|---|---|
| دا اواز شه په هر لور | چې داخل شه په لاهور |
| د لاهور چې علما وو | د فنونو فضلا وو |

پہ خدمت وارہ تیار　　　　　　د مشکل پہ استفسار

***

څوک پہ عرض د خپل حاجات　　　　څوک پہ حل د مشکلات
اما وخت د نادر شاہ وہ　　　　　د هر چا تر حلقه ساہ وہ

***

پہ درگاہ د خدای قبول یې　پہ مجلس د پاک رسول یې

***

ستا دعا دہ مستجابه　　　　　پہ درگاہ عالیجنابه
ستا دعا لري اثر　　　　　　ماتوي د غرونو سر
اوس دعا کړہ پہ دا باب　　　چې نادر کړي خدای خراب

***

چې میاصاحب نظر که　　　　تامل یې پہ دفتر که
یو ساعت گورہ خاموش و　که مظلوم و هلی جوش و

***

پہ تجدید د شهریار　　　　　منور کړې دا دیار
چې رونق شي د اسلام　　　　پرې عروج راشي تمام

***

دا ارزو کا بندګان　　　خدایه ته یې مهربان

***

مقاصد ورته عیان کړې　　　مسخر یې هندوستان کړې
د سکندر په دود تاجوروي　　　بهادر فتح کشوروي
ښه پادشاه کړې ارجمند　　　په زمین زمان بلند[1]

څه وخت چې د لاهور خلکو د میاعمر صاحب(رح) څخه دغه غوښتنه وکړه، هغه د رب درګاه ته سوالونه وکړه، حافظ مرغزي په دغه باره کې وایي چې تر دغې دعا کولو وروسته د څوکنو میاعمر صاحب(رح) د حاضر مجلس خلکو ته زېری ورکړ چې د کندهار په سیمه کې به یو صوفي او عادل پاچا پر تخت کېني او د افشار نادر له ظلمه به مو خدای خلاص کړي، په دغه هکله د حافظ مرغزي خپل کلام دادی:

(( دادعا چې شوه تمامه　　　په دا باب د خاص و عامه
په تقریر ګوهر فشان شه　　　په فصیح ژبه ګویان شه

***

ښه کلام یې کړ بیانه　　　په لاهور کې زما جانه
په دا لور د قندهار　　　بل به راشي شهریار

(۱) - اکاډیمیسن محترم استاد عبدالشکور رشاد، د څمکنو میاعمر(رح) شلم - یوویشتم مخونه، ۱۳۶۰ل کال، د افغانستان د علومو اکاډیمي، د اجتماعي علومو د اجتماعي او تحقیقي مرکز چاپ.

***

مصفا، صوفي مذهب په مذاق بلند مشرب))(۲)

د څمکنو د میاعمر صاحب(رح) پیشګویي رښتیا شوه، د افشار نادر تر وژل کېدو وروسته د ۱۱۲۰هـ. ق کال د رجب په میاشت په کندهار کې د خلکو او لویو مشرانو له خوا لوی احمدشاه بابا د پاچاهۍ پر تخت کېناست.

څه وخت چې احمدشاه بابا د قدرت واګې په لاس کې ونیو، دده په تدبیر سره دا ځنډ نه تاریخي خاوره او د لویې اسیا زړه د لومړي ځل لپاره د (افغانستان) په نوم یاد شو. دی لوی غازي او عادل شهنشاه د افغانستان د نوم د رامنځته کولو سره ددې غرني ښکلي هېواد د تاریخ لوری او تګلاره هم د خپلواک ژوند د ګټلو لپاره بدله کړه.

د احمدشاه بابا په پاچاکېدو سره د لویې اسیا زړه (افغانستان) وخوځېد، قوت یې بیاموند. ختیځ او لویدیځ ته یې مراندې په ډېر قدرت او متانت سره وغځېدې. احمدشاه بابا د خلکو ترمنځ ولسي او ملي کړنلاره غوره کړه، په دې لارې سره د هغه وخت لوی لوی مشران او د سترو قبیلو خانان او لویان له ده سره متحد او یوځای شول، ده له هغو سره د ملګري په شان په ټولو دولتي او قومي چارو کې سلا او مشوره کوله او له هغو یې ځان لوړ نه ګاڼه، ابدالي احمدشاه افغان ولس په ځان راغونډ کړ او د پردیو له ظلم او ستم څخه یې بچ کړ...

(۲) - اکاډیمیسن استاد عبدالشکور رشاد، د څمکنو میاعمر(رح) دوه ویشتم مخ، ۱۳۶۰ل کال، د افغانستان د علومو اکاډیمۍ چاپ.

سر او لف کيرو د ډاکتر ګنداسنګهـ په کتاب (درانی احمد شاه) باندې د خپلې يوې تبصرې په ترڅ کې د احمد شاه بابا د شخصيت په برخه کې داسې ليکي: ((درانی احمد شاه د يو افغان سلطنت موسس و، زړورتيا او رعب دده په خټه کې اخښل شوی و، هغه د افرادو او قبيلو د تنظيم په کار کې ډېر ماهر و، په يقين سره هغه د تورې او جګړې د ميدان يو زړور سړی و، خو فطرتاً زړه سواندی و د هغه سياست دا و چې تر خپله وسه به يې د روغې جوړې کوښښ کاوه، هغه داسې يو پادشاه و چې هېچرې يې له عوامو سره رابطه او اړيکه نه وه پرې ايښې، هغه بې له شکه د خدای(ج) په مينه مست و او په پښتو ژبه يې شعر ويلی دی، ديوان يې اوس هم شته او خلک يې ستاينه کوي.))

ډاکتر ګنداسنګهـ د احمد شاه د لوړ شخصيت په باب داسې کښلي دي:

((هغه ذاتاً يو سپاهي و، يو فطري مشر و، کلک پښتون و يو ډېر انساندوست حاکم و ويو ښه اعلی منتظم و او د علم او ادب سرپرست و.))

ما چې ددغه اثر د اهتمام په وخت کې د احمد شاه بابا کړو وړو ته لږ څه پام شو، نو په لنډه توګه سره دده په باب دومره ويلای شم چې: د احمد شاه بابا ژوند ملي او ولسي ژوندون و، هغه عيش او نعمت ته هوس نه درلود، د خوارانو او بېوزلو سره يې مرسته کوله او د هغو لحاظ به يې ساته. دی ډېر نېک خويه، مهربان او ننګيالی سړی و، چې د خپل اولاد او يوه عادي سړي توپير يې نه کاوه، ده په خپله پوهه سره افغانان د بل هر وخت نه زيات راويښ او بيدار کړل. له خپلې خاورې سره يې مينه ډېره زياته وه، هغه و چې

د ډیلي تخت یې قبول نه کړ، په دغه باره کې خپله لوی احمد شاه بابا څه ښه ویلي دي:

د ډهلي تخت هېرومه چې را یاد کړم

زما د ښکلې پښتونخوا د غرو سرونه

(وګورئ د بابا دیوان)

درانی احمد شاه بابا په رښتیا له خپلې خاورې او وطن سره د زړه مینه درلوده، زموږ ددې خبرې لپاره ښه دلیل دده خواره اشعار کېدای شي چې په خاص انداز یې ویلي دي، دده شعرونه په دې بابا دومره سوځنده، زړه راښکونکي او د مینې په احساس ککړ دي چې په هر ویونکي باندې ژور اثر کوي.

هغه وخت چې احمد شاه بابا په هند کې په خپلو عسکري عملیاتو بوخت وو او د هند لوړې او ژورې، ښارونه او کلي، باغونه او ځنګلونه یې نیولي وو، هغه شېبه کې هم ددغه زړور غازي بادشاه د زړه مرغه د وطن پر لوړو غرو او دنګو څوکو کې ګرځېده چې په یو بیت کې یې انځور داسې کښلی دی:

د زړه ګل به مې له خاورو کا سر پورته

که نسیم له کوهستانه پاڅېدنه

د احمد شاه بابا له خپل پلرني وطن سره ډېره مینه وه که ټوله دنیا یې نیولې وای بیا یې هم خپله خاوره نه هېروله، دده زړه تل په خپل غرني وطن پورې تړلی و، په یوه غزله کې د وطن مینه داسې ستایي:

ستا د عشق له وینو ډک شو ځیګرونه
ستا په لاره کې بایلي زلمي سرونه
تا ته راشمه زړګی زما فارغ شي
بې له تا مې اندېښنې د زړه مارونه
که هر څو مې د دنیا ملکونه ډېر شي
زما به هېر نه شي دا ستا ښکلي باغونه
د ډیلي تخت هېرومه چې را یاد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه
د رقیب د ژوند متاع به تار په تار کړم
چې په تورو پښتانه کا ګوزارونه
د (فرید) او د (حمید) دور به بیا شي
چې زه وکاندم په هر لوري تاختونه
که تمامه دنیا یو خوا ته بله خوا یي
زما خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه
(احمد شاه) به دغه ستا قدر هېر نه کا
که ونیسي د تمام جهان ملکونه

په پای کې د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز دغه نېک اقدام چې د پروفیسر ګنداسنګه په انګرېزي ژبه د (دراني احمد شاه) اثر یې په پښتو ژبه اړولی ستایم او د دغه مرکز د نورو زیاتو بریالیتوبونو د بري هیله کوم چې د پښتو ژبې په لار کې خپل خدمت ته دوام ورکړي.

ددغه اثر پښتو ژباړونکې نصرالله سوبمن ته کور ودانی وایم چې په ډېره ساده او روانه پښتو یې دا اثر ترجمه کړی دی، په قلم دې یې برکت وي.

(روښانه دې وي د علم ډیوه)

**علي محمد منګل**

**کابل- افغانستان**

**انصاري واټ**

**۲۸-۲-۱۳۶۲ل کال**

# د مترجم مقدمه

د احمد شاه بابا د ژوند او د کارنامو سره مې لا د ښوونځي په دوره کې علاقه پیدا شوه، دا ځکه چې زموږ په واکمنانو کې دی لومړنی مشر دی چې د هېواد په مطبوعاتو کې د (بابا) او (لوی) لقبونه ورکړل شوي دي. ماته دا ډېره په زړه پورې وه چې د هېواد د اتلسمې پېړۍ د دغه وتلي شخصیت د ژوند او چاپېریال په باب لږ څه معلومات پیدا کړم.

د پوهنتون په دوران کې مې هم دا مینه ژوندۍ پاتې شوه. د اثارو په لړ کې د (احمد شاه درانی) دغه اثر چې د هندي نامتو پوه او پروفیسور دوکتور ګنداسنګهـ له خوا تالیف شوی زما زیاته پاملرنه ځان ته واړوله، د کتاب محتویات راته ډېر زیات ګټور وبرېښېدل او د هغې د ترجمې په ارمان کې شوم. له نېکه مرغه په دغو وختونو کې مې دا توفیق په برخه شو چې دغه په زړه پورې علمي اثر په پښتو واړوم.

دوکتور ګنداسنګهـ د دغه اثر په لیکلو کې زښت زیات زیار ایستلی دی. ده د خپل خواږه عمر نږدې بنځلس کاله په دې کار کې تېر کړي او له هندوستان څخه نیولې بیا د برېتانیا تر برېټش موزیم پورې یې د دغې موضوع په باب منابع لټولي دي او دا کتاب د هغه د دغو تلاشونو په نتیجه کې منځته راغلی دی.

د احمد شاه په باب زموږ مورخینو په تېره بیا میرغلام محمد غبار هم ډېر زیار ګاللی چې د احمد شاه دراني د ژوند او دوران د غوره پېښو او حالاتو یو انځور وکاږي. دی د خپل اثر (احمد شاه بابا) په مقدمه کې لیکي: ((....

افکار و اعمال این شخص در حیات سیاسي ملت افغانستان تاثیر مهمی نموده و جریان تاریخ این مملکت را در دو قرن پیشتر از جهتی به جهتی کشیده و لهذا او از رجال عمده تاریخ افغانستان و دانستن ترجمه حال و کارنامهایش ازواجبات ملی هر افغان به شمار میرود.

((اهمیت احمد شاه ازینست کې او یکنفر پادشاه افغانی بلکه بیشتر از جهتی است که او بعد از فتور دو قرنه و تجزیه سیاسی افغانستان (یعنی بعد از سقوط دولت تیموری های افغانستان و تجزیه مملکت بدست امرای بخارا فارس و هند در قرن ده هجری) موسس دولت حسابی و مجدد سیاسی سابق افغانستان است.

((البته رجال هوتکي و ابدالی افغانی قبل از احمد شاه استقلال را فتح نموده اند ولی این ها در داخله به توحید اداره سیاسی کل مملکت موفق نشدند اما احمد شاه همانقدر که از جنبه فتوحات پادشاه بزرگ افغانی شناخته می شود بسیار تر به واسطه خدمات گرانبهای که در راه وحدت ملی و سیاسی افغانستان نموده قابل احترام است)).

د احمد شاه د فتوحاتو په باب مې یو شمېر پوښتنې اورېدلي دي. وایي چې ولې احمد شاه بې جهته هڅه وکړه چې په هند ورودانګي او دغه نیمه وچه وځپي. دا پوښتنه په اوسي حال او احوال کې د ګران هېواد د دوو تېرو پېړیو د حالاتو په پرتله د اورېدلو وړ بریښي، خو که همدغه پوښتونکې د منځنۍ اسیا د اتلسمې پېړۍ تاریخ ته په ژوره توګه پاملرنه وکړي، نو ددغې پلټنې وروسته به دا ورته څرګنده شي چې د احمد شاه دوره کې حالاتو دې ته اجازه ورکوله چې دی دې د هند لور ته پرله پسې ستومانه

کوونکي سفرونه وکړي. دا وخت په هند کې د انګرېزي استعمار نيالګي په چټکۍ رسه په لوېدو وو. د دکن د ارتې او لوړې سيمې مرتهان د يوه نا ايل کېدونکي قدرت په توګه راپورته شوي وو او غوښتل يې چې نه يوازې د هند د مغولي دولت تغر تول کړی و حتی د امکان په صورت کې پاتې افاني ملکونه هم په خپله خيالي امپراتورۍ کې راونغاړي. د دوی ددغې طرحې د اثبات لپاره موږ کولی شو د ګنډا سنګهـ په همدغه اثر (احمد شاه درانی) کې دا مطلب ومومو: د ۱۷۵۸ميلادي کال د مارچ او اپريل ترمنځ (ساباجي پاتيل) له جهلم څخه واوښت او اټک ته روان شو. دی د پېښور پر لور وړاندې لاړ (ددغه کتاب... مخونه وګورئ) په دې اثر کې لولو: دغه راز سکانو په ۱۷۲۴م کال کې په لاهور باندې د بريدونو سره سم (ددغه کتاب مخ) د ملتان او ديره جاتو لور ته ځانونه ورسول او د قاضي نورمحمد (جنګنامې) په حواله هغوی د مسلمانانو جوماتونه رنګ کړل مسلمانان يې وځپل او د ملتان سيمې يې ويجاړې کړې. شاه له هغوی سره د مقابلې لپاره په لږ څه پراخو اقداماتو لاس پورې کړ. د مثال په ډول دلته هغه ليک کافي دی چې احمد شاه بابا د هغه د بلوڅي متحد د کلات خان مير نصير خان په عنوان استولی دی او ددغه کتاب، مخ کې درج دی.

په دې ډول احمد شاه بابا ددغسې حرکتونو له راتلونکي څخه وبرېده او په دې فکر و چې لږ تر لږه تر اباسين پورې سيمې د دښمن له لښکرو څخه په امن کې وساتي.

دا پوښتنه هم رامنځته کېږي، چې احمد شاه د ډيلي مغولي امپراتوري وځپله او په دې ډول يې د انګرېزي استعمار د پراختيا لپاره لاره هواره کړه.

په دې ځای ک بهم یو څه تامل په کار دی. انګرېزي استعمال داسې یو وړوکې قدرت نه و چې د هغه په مقابل کې د مغولو بې اتفاقه او ګډوډه اداره او کمزوری دولت مقاومت وکړای شي. انګرېزانو لومړی هرڅان د هند د مغولي دولت او نورو سیالو امارتونو په مقابل کې ملا تړ کړل حتی د میر غلام محمد غبار په قول (احمد شاه بابا دوه سوه پنځه شپېتم مخ) د پاني پت په جګړه کې له مرتانو سره انګرېزي پوځ ملګری و. په یوه حساب د پاني پت په جګړه کې یوازې مرتان د افغاني قواوو په مقابل کې ولاړ نه وو، بلکې انګرېزي استعمار د لومړي ځل لپاره زموږ د منظم پوځ او ملېشې په مقابل کې سنګر ونیو.

د پاني پت د جګړې ماتې په هند کې د انګرېزانو اندېښنه زیاته کړه او په دې سبب هغوی لومړی هڅه وکړه چې مغولي شهزاده (شاه عالم) په زور یا په رضا د ځان کړي او بیا ورو ورو نور راجګان او حتی سکان د افغاني تسلط په خلاف ولمسوي. ددغه اثر د متن په څلورمه ضمیمه کې لولو: ((انګرېزانو د هند په لور د شاه د راتلو په نتیجه کې چې ټول هندي شهزادګان اشراف او امپراتور به ورسره اتحاد وکړي د خپلو پلانونو بېخي شنډېدل ولیدل. نو دوی خپلې ټولې هڅې دې ته په کار واچولې چې امپراتور منیر الدوله او شجاع الدوله له شاه سره له کتلو څخه واړوي او یا دا چې له هغه سره کومه بله معامله ونه کړي. ظاهراً دوی له امپراتور سره د پیوستون او علاقمندۍ تظاهر ساته خو په حقیقت کې دوی دده د تخریب او راپرزولو لپاره فعالیت کاوه. وانسیتارت د ۱۷۶۲ کال د دسمبر په دیارلسمه نېټه په خپل لیک کې امپراتور ته لیکلي وو چې: ... هرځومره چې

زه دلته پاتې شم هغو مره به د امپراتورۍ د مسايلو تنظيم او د تيمور د شاهانه کهول د لوړتيا او خوښۍ لپاره ځان وقف کړم. ))

په څلورمه ضميمه کې راغلي دي:

(( ورلست ته منير الدوله د ۱۷۶۷ کال د مارچ په اوومه وليکل چې د پاچا (شاه عالم) لپاره به دا د سلا وړ نه وي چې شاه (احمد شاه) ته څه وليکي... ده زياته کړه چې دا به بدې نتيجې ولري او زه فکر کوم جټ جوهر سنګه نجيب الدوله او نور روهيله مشران به شاه ته ورشي او خپلې سيمې به هغه ته وسپاري... که چېرې جټان او روهيله متحد شي او پټ سکانو ته څه مرستې ورکړي دا ممکنه ده چې شاه به مات او سپک شي. ))

احمد شاه بابا د ايران په باب جلا سياست درلود. دده د واکمنۍ په دوران کې ايران يوه ګډه وډه سياسي وضعه لرله. دغې موضوع د روښانولو لپاره د کتاب په نهم فصل کې همدا مطلب وينو.

((... لکه چې پوهېږو د مازندران ولايت د محمد حسين خان قاجار له خوا غصب شو. دا رښتيا ده چې دده پوځ دراني شاه پسند خان هغه وخت په شا وتمباوه چې غوښتل يې په هغه ولايت بريد وکړي، خو د شاه رخ او محمد حسين خان ترمنځ کومه مينه پاتې نه وه، ځکه حسين خان هيله درلوده چې د شاه رخ د ميراث په کنډوالو باندې خپل ځان قدرت ته ورسوي. ګيلان د خپل يوه مشر په لارښوونه د خپلې خپلواکۍ اعلان کړی و او اذربايجان د نادر د يوه جنرال ازاد خان افغان په لاس کې و. د ګورجستان د شهزاده هيرا کليوس کړه وړه داسې برېښېده چې د مسلمانانو حکمرانانو په مقابل کې

به پاڅېږي... په اصفهان کې د علي مرادخان (يو بختياري مشر) کريم خان (د زند د قبيلې) او ازادخان افغان ترمنځ يوه درې اړخيزه کشاله روانه وه، هېڅ يو نوی داوطلب نه شو کېدلی د فقيد امپراتور نادرشاه يوه اولاد ته د ملاتړ لاس ور وغزوي. په يزد او کرمان کې داسې صميمي مشران نه و چې په هغو باندې د مادي مرستې څه باور وشي.))

په دې ډول وينو چې احمدشاه د ايران په باب يوه جلا مفکوره لرله. همدارنګه د سرجان مالکم هغه ليکنه په زړه پورې ده چې دغه کتاب په نهم فصل کې راغلې او لنډيز يې دادی:

((احمدشاه دا وخت په يوه داسې حالت کې و چې د ټول پارس لاندې کولو ته اقدام وکولی شي، خو دغه هيله دومره راکښونکې نه وه ځکه افغانانو تراوسه پورې د هغو بدمرغيو اصلي عاملين ګڼل کېدل چې د هغه ځای (ايران) په خلکو يې تحميل کړي وي... په دغسې حالت کې مونږ د افغاني شهزاده هوښياري ستايو چې له دغه کړکېچن او لانجمن ډګر څخه يې ځان ويوست چې په خپل پلرني هېواد کې د قدرت ټينګولو عالي او معقول هدف ته خپلې راتلونکې هلې ځلې په خاصه توګه په کار واچوي...))

په دې ډول ده نه غوښتل چې ټول ايران ونيسي يوازې دومره يې ارزو وه چې د خراسان ولايت د شاه رخ په مشرۍ د خپلې تحت الحمايې په توګه وساتي. په دې کار بريالی شو. دده دا سياست دده د دوران له شرايطو سره موزون بريښي ځکه په دې کار سره ده د ايران د ياغي مشرانو په مقابل کې يو سپر (ډال) جوړ کړ او له بلې خوا ده خپل پوځي قدرت د ايران دننيو بې اتفاقه

اميرانو په ځپلو سره کمزوري نه کړ او هغوی یې په خپل حال او له یو بل سره په جګړه اخته پرېښودل.

د احمدشاه د فتوحاتو دلایل همدومره کافي برېښي. اوس بیا دې پوښتنې ته راځو چې ایا دده شخصیت د هغه د زماني او مکاني شرایطو سره برابرو او که نه په دې باب به دا غوره وي چې د م. الفنسټن یوې وینا ته مراجعه وکړو هغه لیکي: ((داسې ښکاري چې د احمدشاه شخصیت د هغو شرایطو لپاره ډېر موزون و چې دی په کې واقع شوی و. دی خپل هوډ او تشبث په دې قادر کړ چې د هغې ګډوډۍ نه ګټه واخلي چې د نادرشاه له مړینې وروسته پیدا شوې وه او هغه تدابیر او اعتدال چې ده له خپل ملت سره د تماس په وجه حاصل کړی و د یوه مېړني او ازاد ولس د اداره کولو لپاره د طبیعي نبوغ له قوي میلان څخه لږ ضروري نه و.

((هم دده خپل رعیت او هم هغه ملتونه چې دی ورسره یا په جنګونو یا اتحادیو کې مخامخ شوی و دده نظامي زړورتیا او فعالیت په ستاینې سره یادوي.

داسې ښکاري چې دده طبیعت نرم والی او زړه سوي ته متمایل و او که څه هم ممکنه نه ده چې په اسیا کې پاچایي قدرت بې له څه جنایتونو څخه ترلاسه شي او هغه ممکن وساتل شي سره له دې هم د ختیځ هېڅ واکمن به دغومره لږې بې رحمۍ او لږې بې عدالتۍ کړې نه وي، لکه څومره چې ده کړې دي.

((داسې ښکاري چې احمدشاه د شخصي کرکتر له نظره بشاش مینه ناک او د ښه طبیعت خاوند و. په رسمي مواقعو کې یې ښه وقار ساته خو په نورو وختو کې به یې د هغه مساوي خوی او اخلاقو رعایت کاوه چې ده له درانیو مشرانو سره پخوا له دې چې د پاچایۍ لقب وګټي، لرل. ده له ملایانو او پیرانو (ستانه و) ته د سیاست او شخصي میل له نظره په قدر کتل.

((د خپلو ملکونو د بېلو بېلو برخو په باب د احمدشاه سیاست په عمومي ډول له پښتنو او بلوڅو سره په سولې ولاړ و... په ترکستان کې یې خپل مقبوظات په زور وساتل خو د دغه ملک تارتاري مشران یې په خپل حال پرېښودل او نرم چلند یې ورسره وکړ.

هندوستاني ولایتونه یې یوازې په زور ساتل... دی دې ته تیار و چې د هر هغه چا په مقابل کې وسله استعمال کړي چې غوښتل یې دده پلانونه شنډ کړي.)) (۱)

دوکتور ګنداسنګه هم د خپل دغه اثر په مقدمه کې د احمدشاه د شخصیت په باب له خوشبینۍ او یا بدبینۍ پرته یو لړ مطالب وړاندې کړي دي، چې تر زیاتې اندازې علمي برېښي او د احمدشاه په باب دده د علاقمندۍ او ژورې څېړنې نمایندګي کوي. دغه راز نوموړی مولف دده د مړینې او کارنامو په برخه کې هم د احمدشاه د ژوندانه بېلابېلې برخې په دقت او میکروسکوپیک ډول څېړلي چې د لوستونکو او محققینو لپاره په زړه پورې ګڼل کېږي.

(۱) م. الفنستهن د کابل سلطنت بیان کابل دویم ټوک، دوه سوه اوه شپېتم مخ.

زه د پروفیسور دوکتور ګنداسنګهـ ددغه اثر اکثریت برخه بې غرضانه او اکاډمیک بللی شم چې په پرېمانه ماخذونو یې بنسټ ولاړ دی. صرف د سکانو په برخه کې د حتی المقدور بې طرفي سره سره یو څه خوشبینانه بڼه غوره کوي خو نه شي کېدلی ددې اثر د دومره زیاتو ښېګڼو او علمي دریځ په مقابل کې یې دا وړوکې عیب په پام کې ونیسو.

احمدشاه په خپل مهربان او نرم خویه سړی ګڼل شوی دی. دده د سختو چلندونو مسولیت زیاتره سردارجهان خان ته محول کېږي، رښتیا هم داسې برېښي چې سردارجهان خان یو سخت زړی او حریص شخص و او په ځینو مواقعو کې دده ظلمونه د احمدشاه د امپراتورۍ د کمزوري کېدو سبب شوی دی، خو څرنګه چې احمدشاه دده توري ته زیات اړ و نو دده له دغه عیب څخه یې سترګې پټې کړې دي. له بلې خوا د احمدشاه صدراعظم شاه ولي خان د خپل واکمن احمدشاه په څېر مدبر نرم خویه او سوله غوښتونکې شخصیت و چې دغه بېلوونکې وجه د دوی (جهان خان او شاه ولي خان) ترمنځ د اختلاف سبب شو او دغه اختلاف زموږ د ویاړلي هېواد په ورپسې تاریخي پېښو کې اغېزمن و.

د احمدشاه د پراخه جهانبینۍ او نرۍ لید په باب محترم استاد پوهاند زهما داسې څرګندونه وکړه: ((کله چې احمدشاه لاهور ته راغی په دې ځای کې یو قزلباش ازبک حاکم ولید، حاکم ددې لپاره چې احمدشاه له ځان څخه راضي کړي له دغه ځای څخه یې ځان ګوښه کړ او په مشهد کې یې وظیفه غوره کړه زیات شمېر شیعه وطنوال یې د ماشومانو په ګډون ووژل او بیا په کندهار کې احمدشاه ته راغی او دا کیسه یې ورته وکړه. احمدشاه

دده په اعمالو خواشینی شو او په تونده لهجه یې ورته وویل چې دا دې ډېر بد کار کړی دی. بیا یې د لویانو غونډې ته مخ واړاوه او له هغو څخه یې وغوښتل کوم سړی چې توره لري راودې یې باسي. توري وایستل شوې او احمدشاه امر وکړ چې دغه بدکاره دې دباندې وباسي او هلته یې د اعمالو په سزا ورسوئ.))

په نتیجه کې ویلی شم د ګندا سنګهـ نظریې د احمدشاه د شخصیت او کارنامو په باب د پوره بېطرفۍ او بې غرضۍ او علمي دریځ څخه سرچېنه اخلي. زه په ټولو برخو کې دده لیکنه باوري بولم چې زموږ د ویاړلي هېواد د اتلسمې پېړۍ د تاریخ یوه برخه یې په علمي توګه روښانه کړې ده.

نصرالله سوبمن

۱۰-۱۲-۱۳۶۲ ل کال

# د فیض محمد خان فیضي کابلي نظریه

کتاب تاریخ احمد شاه بابا را که جناب فاضل محترم سردار گند اسنگهـ در زبان انگلیسي تالیف نموده اند مطالعه کردم. در نظر من نقص و نقیصی در بیان واقعات موجود نشد و حشو و اعتراضی مشهود نگردید. انچه در منابع و ماخذ این کتاب ثبت اوراق است عیناً درین مولفه مذکور گردیده است. اقای مولف خیلی زحمت کشیده ذوق و قریحه خود را به اسلوب خوب و زیبا ارائه فرموده اند و در نوشتن همچو تاریخ افاغنه به ما افغانان احسان نموده اند.

۲ ماه میزان، سنه ۱۳۳۱هـ

کابل- یکه توت، فیضی کابلی.

# د مولف مقدمه

یوه سکهـ ته به دا ښايي عجیبه غوندې وبرېښي چې د یوه افغاني اتل په باب په دومره زياته خوشبینۍ څه وليکي. د تاریخ یو متوسط شاگرد سکان او افغانان یوازې د دښمنانو په حیث پېژني چې په ذکر کې سره مخامخ کېږي او یو د بل په خلاف د بې رحمه دښمنۍ په منظور توري راباسي، خو د هغو کسانو په نظر چې دوی دواړه یې په ښه توگه پېژندلي وي دوی داسې برېښي چې د خویونو زياتې ښې سره ورته دي. د دوی دواړو د وجود جوړښت، فکري حالت او طرز او طبیعي تمايلات یو رنگه گڼل کېږي. دواړه یې په زړه صاف، ځيرڼ او پياوړي دي او د اړتيا پر وخت ((سپاره په توره ننه باسي)). څرنگه چې د احمدشاه دراني د ژوند بيان پرته له دې چې دافغاني سیمو د وحدت او استحکام لپاره دده هڅې شرحه کوي، په پنجاب کې د تفوق په غرض د افغانانو او سکانو مبارزې ښيي، نو د هغې له مخې یو سکهـ کولی شي په اتلسمه پېړۍ کې د افغان ((امپراتورۍ جوړوونکي)) هیلې او صفات په خاصه او ځانگړې توگه درک او تقدیر کړي. دا وخت دده خپل غور نیکونه هم په ورته کار اخته وو.

پنځه ویشت کاله پخوا چې د شمالي هند د اتلسمې پېړۍ د تاریخ په پلټنه او څېړنه لگیا وم احمدشاه د لومړي ځل لپاره د منځنۍ اسیا د یوې سترې

تاريخي څېړې په توګه په ما اغېزه وکړه. زه دده په خلاف د تعصب لـه مخـې رالوی شوی او روزل شوی وم او ماتـه يـوازې دا رازده شـوي وو چـې دی يـو داړه مار او لوټمار مشـر دی، چـې د ولجـي لپـاره پـه هنـد رانښـکته شـو او پـه ټنونو هندي سره زر او په زرهاوو هندي مريان يې افغانستان ته له ځان سره يووړل. خو هر څومره چې مې دده پـه بـاب زياتـه مطالعـه وکـړه هغـومره دده د ستر توب خصوصيات پـه مـا ژوره اغېـزه وکـړه او زمـا ذهـن تـه يـې پـه خپلـه نفوذ وموند. زما په نظر دی دومره ستر ښکاره شـو چـې کـه لـه نادرشـاه څخـه لوړ نه وي د همـاغـه په شان خو هرومرو لوی و.

د نادر په باب ما هغه وخت چې پـه ايـران کـې وم او لـه فقيـد سـر ارنولـد. ټـي ويلسـن (Sir Arnold T. Wilson ) سره مې معرفـت پيـدا کـړ، زياتـه څېړنـه وکړه.

ويلسـن دا وخـت پـه نولسـمه او شـلمه پېړۍ کې د پـارس د ببليـو ګرافـي پـه تاليف لګيا و. د احمد شاه د بشپړې او هر اړخيـزې بيـو ګرافـي لپـاره زمـا لټـه بـې ځايـه وه او زه پـه دې حيـران شـوم چـې پوهـانو او ليکوالـو ده تـه سـمه پاملرنه کړې نه ده او هم هغه ته يې د يوه ستر فاتح او اداره چې په حيث (چې که د يوه ستر اسيايي ملت موسس يې ونـه بولـو، ازادوونکـې او راژونـدی کوونکې خو يې هرو مرو و ) وړ او پر ځای مقام ورکړی نه دی.

په دې خوشاله يم چې ددغې بيوګرافۍ پـه ليکلـو او د افغانسـتان د معاصـر تـاريخ پـه څېړنـه کـې مـې پـه يـوه عـاجزانـه پيـل سره ددې تـوان ومونـد چـې د افغانانو تاريخ ته يو څه خدمت وکړم. د احمد شاه دغه سرګذشت پـه اتلسـمه پېړۍ کې د افغانستان د ساده، زړورو او بې ريا خلکو د يـوه لـوړ او شـوکت

لرونکـي اسـتازي د لـه جـوش څخـه ډک ژوندانـه د تګـلارې یـو سـپین او صـادقانه بیـان ګڼـل کېـږي. پـه دې لیکنـه کې مـا هڅـه کـړې چې ددغـه سـتر شخصیت ښه نوم د غندنې له پېټې څخه چې ډېره موده تـرې لانـدې شـوی و، وژغورم، داسې نوم چې د هندیانو او ایرانیانو د مذهبي او نژادي تعصباتو د اور تر سمندر لاندې پټ شوی و.

هڅه مې کړې د احمدشاه یو داسې انځور وړاندې کړم چې دده ستر اوصاف به په منصفانه او عـادلانه توګه وښیي، خو پـه عـین حـال کې مې دده د هغـو نیمګړتیاوو او کمزورو ټکو څخه سترګې پټې کړې نه دي چې پـه ده او دده په یارانو کې موجودې وي. البتـه دا بـه هم عـادلانـه نـه وي چې د نـن ورځې د معیارونو له مخې دده په باب قضاوت وکړو. ددغه اثر په تیـارولو او لیکلو کې به زما کړاوونه هغه وخت تلافي شـوي وي چې پـه هغـه کې د احمدشـاه څېره خپله اصلي بڼه غوره کړي.

د احمدشـاه د بیـوګرافۍ پـه لیکلـو کـې ځینـې خاصـې سـتونزې تـر سـترګو کېـږي. لـومړی دا چـې دده د کـړو وړو او فعـالیتونو پـه بـاب معتبـر او سـم مدارک ډېر لږ دي. دویم دا چې دده پوځي عملیات او فتوحات څو هېوادو ته رسېدلي او په بهر کې دده د کارنامو او شـهکارایو بیـان پـه بېلابېلـو ژبـو کښل شوی چې خـورا تیت او پـرک دی. د احمدشـاه د سرګذشت پـه ارتبـاط زیات مواد په پارسي ژبه په زړو نسخو کې راغلي دي چې د هغـو د ترلاسـه کولـو پـه غـرض مـا هـر کـال لـه (۱۹۳۳- ۱۹۴۲ ) پـورې درې میاشـتې اوږده سـفرونه پـه غـاړه واخیسـتل. مـا د لاهـور، امـرتسـر، کپـور تـالا، پټیالـه، دیوبنـد، ډیلـي، رامپـور (یـوپي) علیګـر، لکنهـو بنـارس بنکیپـور پټنـه،

کلکتې، حيدراباد (دکن) پونې، بمبيي او د وليا په ګډون د هند نږدې ټولې غوره کتابخانې وپلټلې. په دغو کتابخانو کې به په دې موضوع کې له ما څخه داسې کومه يوه پارسي قلمي نسخه پاتې نه وي چې مې نظر ته راغلې نه وي. هغه قلمي نسخې چې په هند کې ترلاسه کېدلی نه شوې د ((برېټش موزيم))، ((انډيا آفس))، ((سرجادو نات سرکار)) او لندن څخه مې يې فوتوکاپي ګانې وغوښتې. په افغانستان کې د کابل او کندهار کتابخانې مې هم ددې لپاره وکتلې چې اصلي مدارک او قلمي نسخې په کې مومم، خو په افغاني ارشيفونو کې دا شان مواد دومره زيات نه شته.

د مرهټي موادو په منظور په ستارا کې د پراسنس کلکيسون (چې له هغې وروسته په پونه کې د دکن کالج او د روزنې عالي موسسې ته ولېږدول شو) او په کمشت (Komshet) کې د راوبهادر دوکتور جي. س. سار ديسای کتابخانه (Rao Bahadur Dr. G.S. Sardesai) دراجويد ايتهاس رسمشو داک مندل ستې کروتيجک مندل، دوليا (Dhulia) او ويست کنديس (West Khandesh) کليکسيونونه له نظره تېر کړل. د ((سار ديسای)) د ((پيشوا له دفتر انتخابات (Selections from the peshwa Daftar) په نامه مجموعې پورې مربوطو جلدونه چې د بمبيي د حکومت په مرسته خپاره شول او د پراسنس د ((ډيلي يتيل مرتيانچي راجګرا نين ( Dilli Yethil Maraghianchi Rajkaranin) په ګډون يو شمېر نورې ورته مجموعې مې هم وکتلې.

د خواشينۍ ځای دادی چې د مرهټانو په خبر د (پيغام ليکونو) سفرنامو، مکتوبونو، اخبارونو په بڼه معاصر مدارک د سکانو په برخه کې په لاس

کې نه لرو. ددې دلیل هم دومره لیرې او مبهم نه بریښي. په اتلسمه پېړۍ کې د سکانو مشرانو او سردارانو یوازې په توره تکیه درلوده او د قلم د استعمال د زده کړې لپاره یې وخت نه درلود. د بهادر شاه د سلطنت له زماني راهیسې (۱۷۰۷-۱۷۱۲) دوی د رسمي بند یز لاندې وو. امپراتور بهادرشاه د شاهي امر سره سم دوی نه یوازې یاغیان ګڼل کېدل ( ددې فرمان او امر نېټه د ۱۱۲۲هـ کال د شوال نهه ویشتمه ((بهادرشاهي، د ۱۷۱۰ کال د دسمبر لسم و ) بلکې دا دستور و، هر چېرې چې ولیدل شي باید له منځه یوړل شي. (نانک پرستان راهرکجاکه بیا بند به قتل برسانند ) (اخبار دربار مغلا )

دغه حکم په ۱۷۱۲م کال د امپراتور فرخ شیر له خوا د بندا سنګهـ له اعدام وروسته په داسې توګه تکرار شو: ((هر چېرې چې ددغې مذهبي فرقې پیروان ولیدل شي، له درنګ پرته باید په قتل ورسېږي. )) په دې ډول د سکانو څه ناڅه سختې ځورونې څلوېښت کاله دوام وکړ او د ۱۷۵۳ کال په دسمبر کې د مېرمنو په مرګ سره پایته ورسطدله. د مېرمنو پر وخت د لاهور د ولایتي مرکز څخه د ژویو په څېر سکانو د ښکار لپاره سیارې ډلې لېږل کېدلې او د دوی د سرونو لپاره بیې ټاکل شوې وې. په دې زمانه کې دوی خپل کورونه پرېښي وو، غرونو او ځنګلونو ته یې پناه وړې وه او دوی مجبور وو چې د خپل واقعي وجود لپاره وجنګېږي.

د دوی ګور دواراګان (Gurdwaras ) او د کتابونو ذخایر ټول وسځول شول. یوازې د ستلج لاندې د مالوا په برخو کې دوی یو څه هوسا ژوند لاره، خو دلته هم دوی د زده کړې لپاره اسانتیاوې نه لرلې. د سکانو برهمنان

(Brahmans) او کیاستان (Kayasths) نه لرل چې د دوی لپاره د لیکوالو په توګه کار وکړي. په دغه وخت (اتلسمه پېړۍ کې. م.) مسلمانانو هم د یوې طبقې په حیث له دوی سره مخالفت درلود. په دې سبب هېڅ یوه مسلمان دانشمند او یا شاعر د دوی تاریخ لیکلی نه دی. نتیجه دا وه چې سکانو به په اتلسمه میلادي پېړۍ کې یوازې د تاریخ جوړوونکي وو او یا دا چې تاریخ یې جوړ کړ، خو د هغه د لیکلو لپاره یې وخت نه درلود. که دا وخت رتان سنګهـ بانکو (Ratan Singh Bhangu) شته والی نه لرلی چې خپل ((پراچین پنته پراکاش Prachin Pangh Prakash ولیکي نو په اتلسمه پېړۍ کې به د سکانو تاریخ زیاتره یوه اټکلي او ګوماني مساله ګرځېدلې وای او د سکانو په خلاف د احمدشاه د عملیاتو جزئیات خو به بېخي ورک وای.

(دغه اثر په هغو معلوماتو ولاړ دی چې نوموړی بانګو له خپل پلار رای سنګهـ له خوا او د خپل مورني نیکه د نارلي سردار شیام سنګهـ او د سکانو له نورو سردارانو څخه چې د احمدشاه بابا معاصرین وو اخیستي دي.) یو بل غوره پنجابي اثر ((بانسوالي نامه دسن پاتشاهیان کا (Bansavdi Namah Patshahian ka) دی چې د کیسار سنګهـ چېبار له خوا ۱۷۸۰ کال په جنورۍ کې بشپړ شو.

دا د احمدشاه د افرادو له خوا د امرتسر د لوټ یو د سترګو لیدلی حال بیان دی. اوس دغه اثر یوه قلمي نسخه ده او د ((سکهانو د تاریخ ټولنې)) له خوا د چاپ انتظار باسي.

یو شمېر غوره او لومړني[1] پارسي اثار، مرتبې سفرنامې او پیغام لیکونه، د ختیځ هند انګرېزي کمپنۍ افسرانو ته رارسېدلي پارسي لیکونه او د هغو ځوابونه چې په یو لړ توکونو کې خپاره شوي د دغه اثر په لسمه ګڼه ضمیمه کې د ((ځینې ببلیوګرافیکي یاد داشتونو)) ترنامه لاندې لیدل کېږي او هم په یولسمه ضمیمه کې په ببلیو ګرافي کې ښودل شوي دي.

د احمدشاه ملکي او پوځي اداره، دده سکې، د هغه شجره او دده د اولادې یو لنډ بیان کتاب د پاتې برخې په لومړۍ، دویمه، درېیمه، پنځمه او شپږمه ضمیمه کې راغلي دي.

د احمدشاه په باب د ختیځ هند انګرېزي کمپنۍ طرز تلقي په څلورمه ضمیمه کې شته، په داسې حال کې چې اوومه ضمیمه د سکهانو په باب پنځه پاڼېزې یادونې ته وقف شوې ده، چې په شمالي هندوستان کې د شاه سخت او زورور سیالان وو.

د احمدشاه په باب یوه بشپړه کرونولوژي او په دغه اثر کڅ نورې راغلې نېټې په اتمه ضمیمه کې ځای شوي دي. د ((هجري بیکرامي)) او ((شاکا)) د سنو د تبدیلیو او یو په بله د اړولو په غرض ما د ((دیوان بها درل. ډي. سوامي کنو پیلای له نجومي کالنۍ ( Dewan Bahadur L.D Swami Kannu Pillai) څخه استفاده کړې او په عین حال کې مې هغنوی د ترکلانکر (Tarkalankar) او سراسواتي (Saraswati) له کرونولوژیکي جدولونو، د نولکشور (Nawal Kishore) د تقویم یکصدو دوساله.

(۱) دلته له اصلي او لومړنیو اثارو څخه مقصد هغه کتابونه دي چې د احمدشاه په وخت کې لیکل شوي دي. مترجم.

دمـوداک لـه کرونولـوژيکي جـدولونو او د جي.اچ. کـری (G.H. Khare) لـه (Shiva Kalin samparan shakavali) سره پرتله کړی دی.

د کتـاب پـه مـتن کـې مـې د غيـر انګرېزي کلمـو د ليکلو لپـاره د افغـاني او هنـدي تلفـظ او د هنتـر[1] (Hunterian system) د املايـي سيسـتم پيـروي کړې ده. د املا پـه برخه کې هڅه شوې چې يو وحدت په کې خونـدي وي، خو د انګرېـزي پـه بڼـه د اوښـتيو کلمـو او د خاصـو نومونـو امـلا لکـه لاهـور Lahore ډيلي Delhi، جهلم Jhelum، لکنهـو Lucknow، او نـورو پـه خپلـو هماغه مروجه اشکالو پـاتې شول. پـه دغـه برخـه کې د بيلو اجزاوو تـرمنځ مطلق نږدې والی او پرله پسې والی ډېر ارزښت نه لري، ښايي يو څه اندازه ګډوډي به يې پيدا کړی وای.

د احمد شاه عکس لـه يـوه ځانګړي او بې ساري (منحصـر بفـرد) رسم څخـه اخيستل شوی دی چې د هند د پخواني محترم سفير دوکتـور سردار نجيب الله خان په قول يو ډېر واقعي او معتبر انځور شمېرل کېږي.

د افغانستان او د هغه ګاونډيو هېوادونو نقشې ددې لپاره برابرې شوي چې په ۱۷۶۲ کې د ده د امپراتورۍ نهايي وسعت او پراختيا او په ۱۷۷۲ کې چې دده د مړينې کال دی ددغې امپراتورۍ د لوی والي حدود (په دغه وخت کې دده امپراتوري د ۱۷۶۲ کال په پرتله وړه شوې وه ځکـه ده د سـکهانو د تبـارز په نتيجه کې د پنجاب ولايت له لاسه ورکړ. مترجم) شکاره کړې.

دلته زما پـه زړه پورې وظيفه داده چې د خپلې مننې يادونه وکړم.

---

(۱) ښايي هنتري سيستم به د سکاټلند نامتو فزيک پوه او جراح ويليام هنتر ته مربوط وي. مترجم.

د اکسن اکسفورډ (Oxon) لیسانسه پروفیسور محمد حبیب (د علیګړ یو نامتو پوهاند) او د ده منلی همکار شیخ عبدالرشید (ماستر MA) او د حقوقو (L.L.C) هغه کسان وو چې زه یې د لومړي ځل لپاره د دغې راخیستنو لپاره وهڅولم او د علیګړ په مسلم پوهنتون کې ـــــــــ مت په وخت کې (۱۹۴۲-۴۴) د دوی له یوه مهربانه چلند څخه د زیاتې مننې اظهار کوم. زه له فقید دوکتور سرجادونات سرکار څخه زیات مدیون یم چې نه یوازې زما د هڅونې او الهام منبع و، بلکې د ځینو با ارزښته قلمي نسخو او راتوګرافونو (راتوګراف چې د اصلي نسخې څخه عکس اخیستل شوی وي. مترجم) په وسیله یې له ما سره مرسته وکړه. په پټنه کې د پټنې د عالي موسسې یا کالج استاد خانصاحب سید حسن عسکري (ماستر) تل د خدا ایبخش د ختیځ پوهنې د کتابخانې په بانکیپور (Bankipore) او نورو ځایونو څخه د پارسي قلمي نسخو د کاپي ګانو په حاصلولو کې ما ته د مرستې لاس را اوږد کړی دی.

پرنسیپل سیتارام کولي (Principal sita ram kohli) (متقاعد ماستر او د یوه (P.E.S) ربښتونی او زړه سواند پوه په خبر نه یوازې زما د دغه اثر لومړنۍ مسوده ولوستله او څو ښه پیشنهادونه یې وکړل، بلکې کله کله شخصاً له ما سره د بحث وړ ټکو په باب په تفصیل بحث کړی دی او تجدید شوی ټایپي نسخه یې په دقت سره ولوستله. دغه کار له ما سره دا مرسته وکړه چې په موضوع باندې د ببرې پر ځای په ډېره خونسردۍ او زغم سره کار وکړم. زه د ده ځښت زیات احسان په ځان منم.

دغه راز زه د خدایبخش د ختیځ پوهنې د کتابخانې بانکیپور پټنه او د دکن په حیدراباد کې د اصفیه او عثمانیه د پوهنتونونو کتابخانو، د امر تسر د خالصه کالج ((د بهارت ایتهاس شمسو داک مندل)) (پونه) د مسولو امرینو او د رامپور (اترا پردېش) (Rampur, Utra pradesh) د ((کتابخانه شاهي)) مولانا انتظام علي عرش او د علیګړ د مسلم پوهنتون د مرحوم مولانا طفیل محمد څخه د هغو مرستو په مقابل کې شاکر یم چې په دغه انستیتیوت کې زما د اقامت په وخت کې راسره کړې دي.

د روابهادر دوکتور جي. اس سار دیسای هغه مینه او زړه سوی هېڅکله هېرولی نه شم چې د پونه د سیمې په کمشت کې یې په خپله ریشي ډوله خونه کې یې له ما سره هغه وخت وښود چې دده د شاګردۍ ویاړ مې درلود. ماته د پونې د مهمامهو پادیان پروفیسور داتوی پوتدار ( Dattov. Potdar ) له خوا تل خوږ هر کلی ویلی شوی دی او نوموړی د مرتبې نشریاتو ډېر نادر او ناچاپ مواد زما په واک کې راکړي دي.

خاصتاً د خپل ملګري پروفیسور هربنس سنګهـ (Prof. Harbans Singh) د فرید کوټ د تیکا صاحب مدرس) څخه له دې امله زیات ممنون یم چې د خپلې بېغرضه هڅې په ترڅ کې یې زما د دغه اثر ټایپي نسخه وکتله او ټایپي تېروتنې یې اصلاح او د لازمو اصلاحاتو لپاره یې پېشنهادونه راته وکړل. په پټیاله کې د مهندرا تاریخ د څانګې غړي پروفیسور ګرګر چران سنګهـ د کالج (ماستر) د هغې مرستې مننه کوم چې د دغه اثر د پروفونو په لوستلو کې یې راسره کړې ده. د پټیالي د ارشیف په څانګه کې زما ستنیو ستینو ګرافر (Stenographer) د اثر د وروستي ټایپي نسخې په برابرولو

کې زما زوی پرینام سنګهـ د نقشو د ایستلو او شري تریلوک سنګهـ د ځینو انځورونو او تمثالونو د کاپي کولو په برخه کې زما د زیاتې مننې مستحق دي.

زه د هند د حکومت د پوهنې وزارت او په امر تسر کې د شرومانی ګورد وارا پرا (Shromani Eurdwara Prabandhok) له مالي مرستو څخه په یوه شان مدیون یم چې د چاپي لګښتونو یوه برخه یې ونیوله. د دوی له سخاوت پرته کتاب چاپ ته استول کېدلی نه شو.

دغه راز زه باید په کابل کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر جناب سردار فیض محمد خان فیضي څخه د زیاتې مننې او شکران اظهار وکړم. ده کله چې په **۱۹۵۲** کې زه په کابل کې وم د اثر تاپیي نسخه یې په ډېره مینه ولوستله او په ځینو تاریخي نکاتو یې له ما سره خبرې وکړې. زه د ده د هغې ارزښتمندې نظریې څخه زیات قدر کوم چې د دغه کتاب په پیل کې مې د (سریزې یا دیباچې) په توګه راوړې ده.

که چېرې له ما سره د پنځلسو کلونو په موده کې د نسخو په پلټلو پسې یوه ځای او بل ځای ته د تللو او زما په لاربنوونه د هغو په کاپي کولو کې زما د پخواني دوست منشي فیض الحق امرتسري نوم له پامه وغورځوم، نو په خپله وظیفه او احترام کې به ورته مقصر یم. ده شریفانه خوی ستایم او د هغه د بېغرضه همکارۍ درناوی کوم. په **۱۹۴۷** کال کې چې دی په پاکستان کې مېشت شو، له ده سره زما اړیکي وشلېدې او په دې زه بریالی نه شوم چې ده ځای پیدا کړم. په دغو وختونو کې مې په ډېرې خواشینۍ خبر اخیستی چې دی څه وخت وړاندې وفات شوی دی، خدای دې دی وبښي!

په پای کې به دا زما لپاره یو لوی نعمت وي چې ستر هندي پوه او سیاست مدار مولانا ابوالکلام ازاد غوندې لوی سړي ته خپل ډېر ژور درناوی څرګند کړم. ده زما له دغې لیکنې سره مینه وښوده او د ټایپي نسخې څه برخې یې وکتلې. دده غمجن مرګ د ختیځې نړۍ په کلتوري ژوند کې یوه ضایعه شمېرل کېږي. ما ډېره ارزو درلوده چې ده ته شخصاً ددغه کتاب د یوې نسخې د وړاندې کولو نېکمرغه چانس ترلاسه کړم، خو افسوس دا وخت رانه غی زه به د هغې ټایپي نسخې پاڼې د یوه ارزښتمند یادګار په توګه وساتم چې مولانا صاحب په خپل مبارک لاس په هغې باندې ټاکلي یاد داشتونه کښلي دي.

ګندا سنګهـ

لورمل پټیاله

سپټمبر ۹، ۱۹۵۸

# لومړی فصل

## مقدمه

## د ابداليانو منځته راتلل

### سدوزي:

دراني احمدشاه چې ددغه اثر مووضع تشکيلوي، د ابداليانو له قبيلې ځخه و. دا قبيله خپله سرچېنه ابدال[1] ته رسوي چې له سامي قيس سره په پنځم پښت نښلي. قيس د حضرت محمد(ص) په وخت کې اسلام ومانه او د مسلمانانو له دود سره سم د عبدالرشيد نوم ورباندې کېښودل شو.

ابدال د ترين زوی او د شرف الدين لمسی و. د شرف الدين پلار سړبن د عبدالرشيد مشر زوی دی. د ابدالي قبيلې د نسب نامي جزئيات يا دا چې ددغې قبيلې د زيات شمېر خېلونو په تاريخ باندې ډېر بحث کول ددغه اثر په هدف کې نه راځي. زموږ د مرام لپاره دومره بس ده چې ووايو درانيان (دا نوم هغه وخت چې احمدشاه قدرت ته ورسطد ورکړل شو او تر ده وروسته دده اولادې او پيروانو هم دغه نوم خوندي وساته) د ابدال له لومړي ماندينې ځخه پيدا شوي دي. د ابدال لمسی سليمان چې مستعار نوم يې ((ځيرک)) و د عيسی زوی او د پوپلزيو، بارکزيو، الکوزيو او موسی زيو

(۱) د ځينو ليکوالو په حواله دده اصلي نوم ابدال نه و، دا هغه لقب و چې ده ته د خپلو خدمتونو او ديندارۍ په وجه د چشتي طريقې د نامتو پير خواجه ابو احمد ابدال له خوا ورکړل شوی و.

نږدې نيکه و. عمر د پوپلزيو له قبيلې څخه و او د هغه دويم زوی سعد و (۲). په شپاړسم پښت عبدالرشيد ته رسېږي. سدو خپل نوم په خپله اولاده باندې کېښود چې اوس سدوزي بلل کېږي. سدو پنځه زامن لرل چې دويم زوی يې خواجه حضرخان د حضرخېلو د پښې مشر شو. خواجه خضرخان ډېر متدين سړی و او افغانان يې تر اوسه پورې د يوه سپېڅلي ولي او پير په توګه لمانځي او په ټولو مذهبي ورځو کې نذرونه ورکوي او دعا ورته کوي. هغه سپېڅلتيا او حرمت چې د غه شخصيت د خلکو په زړونو کې پيدا کړ د سدوزيو ټولې پښې ته يې د تقدس احساس وباښه او د هغې غړي د خاصو امتيازاتو څخه برخوردار و. د دوی غړي مقدس و او د دوی له خپلې پښې پرته بل هېڅ ا پر دوی تحميلولی نه شوه، حتی د ابداليانو مشر هم پر يوه سدوزي باندې د مرګ حکم صادرولی نه شو (۳).

سدو د خپل ژوند په پای کې هيله وکړه چې خواجه خضرخان د قبيلې مشر وټاکي خو د قبيلې بېلابېلو پښو دده انتخاب رد کړ او د هغه ورور مغدود خان يې ددې کار لپاره وړ وګاڼه، ځکه نوموړی د عمر او سن پر اساس تر

---

(۲) دده اصلي نوم اسدالله و او سدو يې د مينې نوم او کنيه وه چې زيا تر و خلکو په همدې نوم باله. عقيده داده چې دی د نهه سوه پنځه شپېتم هـ کال د ذوالحجې په مياشت (سپتامبر-اکتوبر ۱۵۵۸م کال) کې د ايران د صفوي پاچا شاه طهماسب د پاچاهۍ په دوران کې زېږېدلی دی. دده پلار عمر له خپلې مړينې څخه اته کاله وړاندې چې نوي کلن و دی به خپل ځای وټاکه او په خپل لاس يې د ((ملابند او توره ترملا دود)) اجرا کړ. دا وخت سدو پنځه ويشت کلن و خو دغه ځوان د خپل استعداد او شهرت له سببه د مشرتابه مقام ته د رسېدو لپاره د قوم له خوا په مينه ومنل شو، ټولو دده د شپېته کلن ورور، ملک صالح په ګډون ددې پرېکړې تود هرکلی وکړ.

(۳) تاريخ مخزن افغاني، تاريخ احمد ۴-۵، تاريخ حسين شاهي، ۴-۶ صولت افغاني، ۳۳۶-۳۷، ناش Nash، په افغانستان کې د جګړې تاريخ، ۲۳، حيات افغاني، ۱۱۵-۱۲۲-۱۲۳ سره ددې هم دغه خواجه خضرخان بايد د هغه نامتو پيغمبر خضر(ع) سره چې ځای يې د افغاني قبيلو په منځ کې ترېوې اندازې همدغه خضرخان نيولی غلط نه کړو. په حيات افغاني کې د سدوزيو د روايا تو له مخې دغه خضرخان د خضر پيغمبر په دعا سره وزېږېد او له دې امله د خضر نوم ورباندې کېښودل شو. دده د انتخاب په وخت کې دغه مطلب د قبيلوي افرادو له خوا د هغه په ګټه ارزيابي شو (يوسلو درويشتم مخ وګورئ.)

خضر مستحق و، سره له دې هم د سدو تر مرګ وروسته قبیلوي افرادو په یوه اتفاق خواجه خضر خان د دغه لوړ مقام لپاره وټاکه او دی یې د دغې ځوکۍ د مسولیتونو لپاره تر نورو وړ وشمېره.

## سدوزی شېرخان:

له خضر وروسته دده مشر زوی خداداد مشر تابه ته ورسېد. داسې ویل کېږي چې نوموړی د هند د امپراتور اورنګزېب له خوا د سلطان لقب ترلاسه کړی او د افغانانو په منځ کې د سلطان خودکي په نامه نامتو و(۴). لږه موده وروسته ده د یوه بېګناه سړي او درېو ماشومانو له قتل څخه د پښېمانۍ څرګندولو او توبه کولو په سبب یې خپل ځای کشر ورور شېرخان ته پرېښود او موافقه یې وکړه چې له خپأې خوا د نومړ (نامزد) شوی ((شېرخان، مترجم)) د مرستیال په توګه به کار وکړي. شېرخان به کله کله د کندهار له پارسي حکمران بیګلر بیګي[۵] سره مخالفت او ټکر کاوه ځکه چې نوموړی حکمران د مغدود خان زوی شاه حسین ته د میرزا د لقب په ورکولو سره هغه دده سیال وګرزاوه، خو د پارسیانو دغه ګوډاګی میرزا تر زیات وخت پورې ونه شول کولی د پارسیانو پام او ملاتړ د ځان لپاره خوندي وساتي او دده ګوند او ډله هغه وخت بې ارزښته شول چې ده شرمناک تنزل وکړ او په نتیجه کې یې د خپل ساوو (بادار او نایک) په لاس په زندان کې ولوېد. وروسته دغه غمجن میرزا له شېرخان سره روغه وکړه

(۴) حیات افغاني ۱۲۳-۲۴، صولت افغاني، ۳۳۷-۳۸.
(۵) تاریخ سلطاني، یو شپېتم مخ په حواله بیګلر بیګي په ۱۱۰۵ه (۱۶۹۳-۱۶۹۴م) کې د کندهار د حکمران په توګه مقرر شو.

او د هند په لور یوه خوندي پناه ځای ته یې ځان ویوست[۶]. د ملتان د افغاني حکمران نواب مظفرخان نیکونه د دغه میرزا اولاده ده. نواب مظفرخان د ۱۸۱۸م کال د جون په میاشت کې د مهاراجا رنجیت سنګهـ سره په یوه سخته نښته کې ووژل شول[۷].

## سدوزی دولت خان:

شېرخان په پنځه شپېته کلنۍ کې هغه وخت له آس څخه په وژونکې توګه راولېد چې د باندې په ښکار کولو لګیا و. له مړینې څخه د مخه یې د عمر زوی بختیارخان چې د صالح خان له اولادې څخه و، څنګ ته راوغوښت او د خپل زوی سرمست خان د روزنې سپارښتنه یې ورته وکړه. سرمست په خپل وار سره خپل میراث کشر زوی دولت خان ته د خپل تره د زوی حیات سلطان تر څارنې لاندې چې د سلطان خداداد زوی و، وسپاره.

کله چې دولت خان ځوانۍ ته ورسېد، نو د خپل سرپرست حیات سلطان د کمزورۍ له امله چې هېواد یې پرېښود او د ملتان په ګاونډ کې یې پناه وغوښتله[۸]، د کندهار له پارسي حکمران سره په ستونزو اخته شو.

خو دولت خان د بل ډول خوی څښتن و. ده په دوو نښتو کې د پارسیانو اعزامي قوې چې دده پر ضد رالېږل شوې وې، ماتې کړې او خپل ځان ته یې د افغانانو په منځ کې نوم او شهرت وګاټه[۹]. د دولت خان سوبو او

---

(۶) تاریخ سلطاني، ۶۱-۶۴، صولت افغاني، ۳۳۸، حیات افغاني، ۱۲۳-۲۴.
(۷) صولت افغاني، ۳۳۸، حیات افغاني، ۱۲۵.
(۸) وقایع ملتان، ۱۹، صولت افغاني، ۳۳۹، حیات افغاني، ۱۲۶.
(۹) تاریخ، سلطاني ۶۶.

بریالیتوبونو نه یوازې دده نوم په خپلو خلکو کې جګ کړ، بلکې د پارسیانو د نه ماتېدو عقیده یې هم له منځه یوړله. دغو بریو صفوي دربار وبیراوه. دا وخت پارسیان د تش په نامه پرهېزګار شاه حسین له خوا چې د فاسدو روحانیونو او خواجه ګانو د لاس لاندې ښخه بل څه نه و، رهبري کېدل. لکه چې مالسن هوړ ته د افغانانو تاریخ په نوم اثر کې وایي: ((هغه معیارونه او لارې چارې چې د افغاني قبیلو د راضي کېدو لپاره د لوی شاه عباس دده هم نومو پاتې کسانو او سلیمان له خوا وضعه شوي وو، د سلطان حسین د حکومت په دوره کې په پرله پسې توګه له پامه وغورځېدل او په نتیجه کې یې مطیعي قبیلي په تېره بیا غلزي هم د نارضایتي له ښودلو ځخه غلي پاتې نه شول)) سره ددې چې په دغه وخت کې رښتیانی ولسي او ستر اغتشاشونه موجود نه وو، خو بیا هم هغه پوځي تظاهرات (د سدوزوي دولت خان په خبر چې پورته ذکر شو) چې دوی د بریالیو دفاع ګانو په ترڅ کې سر ته ورسول، دومره پیاوړي وو چې د سلطان حسین کمزوري سلاکاران تر یوې مودې پورې د هغو په مقابل کې د تجویزونو د نیولو په برخه کې اند ښمن شول(۱۰).

## ګورګین خان:

د کندهار حکمران راوغوښتل شو او پر ځای یې د امپراتورۍ ډېر تکړه جنرال ګورګین خان چې یو مسلمان شوی ګورجي و او ورپسې یې د شاه

---

(۱۰) ماسن، د افغانستان تاریخ، ۲۱۱.

نواز خان لقب واخیست، وګومارل شو. ګورګین یو ډېر با استعداده سړی و چې د پوځي مهارت او سرسختۍ په سبب یې خپل ځان اوچت کړ.

ده د دولت خان په مقابل کې هر ډول سیاسي چل ول او ټګي په کار واچوله. پر ۱۷۰۲م کال کندهار ته له رسېدو وروسته یې ابدالي مشر ته زیات شمېر ارزښتناک سوغاتونه ولېږل او له هغه سره یې د ملګرتیا خبرې پیل کړې. ده ته معلومه شوه چې افغانان په خپلو منځو کې سره اتفاق نه لري، له خپل ځان څخه د تېرېدنې او روغې جوړې روحیه چې یو هماهنګ ملت جوړوي، له پامه غورځېدلې وه. له دې امله ګورګین خان په اساني سره وکولی شول چې ځانمنې او شخصي ګټه غوښتونکي افغاني خانان خپل ساز ته ونڅوي. دا ډول کسان په ابدالیو او یا په خپله په سدوزیو کې څه حاکم نه وو. ده د دولت خان دوه تنه سدوزي سیالان یعنې عزت او اتل په خپل لاس کې ونیول او دوی ته یې ډاډ ورکړ کله چې دولت خان له مخې څخه لرې کړل شي، نو هغه وخت به په ابدالیانو کې د دوی سرداري ومني(۱۱). همدا شان ده د غلزي حاجي امیرخان هوتک (چې په حاجي میرویس خان سره نامتو و) هغه لوړې هیلې او احساس وهڅول چې د افغانانو مشرۍ ته یې د ورسېدو لپاره په زړه کې یې روزلی. ده د ګورګین خان د پېشنهاد له مخې د غه ځای هغه وخت ترلاسه کولی شو، چې دده د یوازیني سیال، دولت خان له خوا ګواښ او مخالفت پای ته ورسول شي. دوو تنو سدوزیو (عزت او اتل، مترجم) او هوتک (میرویس، مترجم) په اسانۍ سره د ګورجي د پلان له عملي کېدو سره موافقه وکړه. لږ وخت وروسته د پلان د ترسره کېدو لاره په

(۱۱) تاریخ سلطاني، ۶۶-۶۷، صولت افغاني، ۲۹-۵۰، حیات افغاني، ۶۵-۶۶، فیریر، د افغانانو تاریخ، ۲۴.

خپله برابره شوه. تصادفاً دولت خان د شهر صفا له چونۍ څخه بهر تر مځکې لاندې استوګنځی غوره کړ. د سیسه جوړوونکو د شپې د تروږمې څخه په استفادې سره په دغه استوګنځي باندې نابېره برید وکړ او دولت خان دده زوی، نظرخان او یو تن مریې چې فقیر نومېده، ونیول شول او حکمران ته یې بوتلل او هغه په دوی باندې د اعدام حکم وکړ[۱۲].

## سدوزی رستم خان او زمان خان:

دولت خان درې زامن درلودل چې د هغو له لړ څخه یو یې (نظرخان) د پلار په سرنوشت اخته شو. دوه نور یې رستم خان او زمان خان وو. په دغو بحراني شرایطو کې هم حتی چې د دوی دواړو ژوند په خطر کې و، دوی ګورجي ته په هېڅ ډول سرونه ټيټ نه کړل. له دې امله ګورګین په یوه شرط رستم خان د ابدالیانو په مشرتابه ومانه چې هغه خپل ورور، زمان خان، ده ته د یرغمل په توګه وسپاري. رستم خان په دغه موضوع باندې له نورو مشرانو سره خبرې وکړې، مشرانو ددې لپاره دغه پېشنهاد تایید کړ چې په دغه ډول به واکمني د جابرو د سیسه جوړوونکو له لاسو څخه ووځي[۱۳].

نو پر دې ډول رستم خان د خپلې قبیلې د منلي مشر په توګه منځته راغی یرغمل زمان خان د ګورګین له خوا د کرمان لرې ولایت ته چې د پارسیانو له خوا یې نظارت کول اسان و، ولېږل شو. رستم خان ډېر ژر د پارسي حکمران باور ترلاسه کړ او په خپلو نورو افغاني خانانو باندې یې لوړتیا وګټله. دغه

(۱۲) تاریخ سلطاني، ۶۷.
(۱۳) تاریخ سلطاني، ۶۷.

حالت دده د ابدالي او غلزي سيالانو لپاره ډېر دردوونکې او بې خونده و. په دغه وخت کې له بده مرغه په بلوڅو کې اله ګوله پیدا شوه او ګورګین له رستم خان څخه وغوښتل چې دغه اله ګوله غلې کړي. لېږل شوی پوځ په غمجنه توګه ناکام او رستم خان د سر او مال د درنو تلفاتو په ورکولو سره مات راستون شو. دغو پېښو دده غلزیو او سدوزیو سیالانو ته ګټه ورسوله او دوی رستم خان د پارسي امپراتورۍ په مقابل کې د خاین په توګه وګاڼه او دهغه عامل یې په خپله دده هلې ځلې ګڼل. غضب نیولی ګورګین دې زندان ته واچاوه او دده د سملاسي اعدام حکم یې صادر کړ. ماهر غلزي (میرویس. مترجم) خپل ځان وایست او د ګورګین دغه بدغونې او شریر کار ته یې سدوزي (عزت او اتل. مترجم) ور وړاندې کړل. په وروستۍ شېبه کې د دغه کار په خلاف د عزت په زړه کې یو څه راپیدا شول او په دغه فکر سره یې ځان وربېدېد چې د یوه سپېڅلي او بې ګناه سدوزي وینې تویوي، خو د اتل سترګې د ابدالیانو د شوقمن او لېوالـه مشرتابه بربېښونکي دورنما ړندې کړې وې، دده شعور د دغسې شان بربري عملونو په سر ته رسولو سره مړ شوی و، نو لـه دې امله دده رستم خـان وواژه او د بهرنیو اشغالګرانو د رضایت لپاره د خپلو خلکو د محوه کولو د یوې آلې په توګه وګرځېد (۱۴).

## غلزي میرویس او دده اولاده:

(۱۴) تاریخ سلطاني، ۶۷-۶۸.

ډېر وخت لا تېر شوی نه و چې دده اتل زړه مات شو او په بد مرغی، واوښت. ګورګین خان اتل ته د ابدالیانو د مشری، ورکول په دې شرط ومنل چې دی هغوی د کندهار ګاونډیتوب ته د مېشته کولو لپاره راولي. دده په نظر په دې توګه کېدلی شول چې دوی له نږدې څخه وڅاري او خپلې پټې نقشې ورباندې عملي کړي. ګورګین د ساده فکره اتل په مقابل کې چالاک و او هغه یې په لومه کې بند کړ. د ابدالیانو مشران د ګورګین له ظلم څخه وبېرېدل او موافقه یې وکړه چې له خپلو خوندي ځایونو څخه د کندهار حومي ته راشي. که میرویس د ګورګین له جنایت څخه ډکو نقشو هڅوونکي و نه شمېرو، نو لږ تر لږه د ساده ابدالي مشرانو په مقابل کې چې د شپې په تروږمی، کې ګورګین په ډله ییزه توګه ووژل، دده همراز خو و. هغه کسان چې له دغې ژوبلې څخه بچ شول، زندان ته یې ولېږل او د کرمان ولایت لور ته تبعید شول. دا پېښه په ۱۷۰۷م کال کې وشوه او د یو څه وخت لپاره ابدالیان له صحنې څخه ووتل او غلزي د میرویس تر مشری، لاندې د پارسیانو په مقابل کې په بري سره د مبارزو کولو او په کندهار کې د افغاني خپلواکی، د اعلان په ترخ کې ډګر ته راووتل (۱۷۰۹)[۱۵].

په لنډه توګه باید ووایو چې میرویس خان ډېر ژر ګورګین خان د خپلو عملونو په سزا ورساوه. د ابدالیانو له ډله ییزې وژنې څخه لږه موده وروسته ګورګین میرویس ونیو او د پارس پایتخت ته یې لاس تړلی ولېږه. دلته میرویس په دربار کې د خپلې شتمنی، په مرسته زیات نفوذ وموند او د شاه لپاره ډېر منلی وګرځېد. کندهار ته له ستنېدو وروسته میرویس د

(۱۵) تاریخ سلطاني، ۶۷-۶۹.

خپل مقام د بیانولو په ترخ کې له ګورګین سره ډېرې نږدې اړیکې ټینګ کړل. له دې امله ګورګین په غلطه توګه له خپل امنیت څخه ډاډه شوی و او د غلزیو له خوا په یوه مېلمستیا کې چې دده لپاره جوړه شوې وه، ووژل شو.

ورپسې میرویس پر ۱۷۰۹ د افغانانو خپلواکي په کندهار کې اعلان کړه[۱۶].

پارسیانو د میرویس پر ضد درې واره پرله پسې زورورې لښکرې ولېږلې خو میرویس هغوی ته په کلکه توګه ماتې ورکړې او خپله خپلواکي یې وساتله. میرویس د **۱۷۱۵**م په نوامبر کې له دنیا څخه سترګې پټې کړې او پر ځای یې میر عبدالعزیز چې عبدالله هم بلل کېده، منځته راغی (**۱۷۱۵**-۱۲م).

میر عبدالعزیز ډېر ژر په خپلو خلکو کې خپل باور له لاسه ورکړ او د **۱۷۱۲** کال په مارچ کې د میرویس د زوی میر محمود له خوا ووژل شو. محمود نه یوازې د کندهار سلطنت ټینګ وساته، بلکې د **۱۷۲۲** کال په مارچ کې د شاه حسین پرځای په تخت کېناستلو سره یې د پارسیانو د سلطنت د صفوي کورنۍ واکمنۍ پای ته ورسوله. په پارس کې د غلزیو واکمني اته کاله دوام وکړ او پر ۱۷۳۰م کال د نادرشاه له خوا ختمه شوه. نادرشاه په **۱۷۳۶** کې د کندهار تر واکمنۍ لاندې افغاني سیمې او کابل ونیول او ورپسې یې پر **۱۷۳۸** کال د مغولو یو ولایت لاندې کړ[۱۷].

# ابدالیان د هرات د واکمنانو په توګه

(۱۶) فیریر، **۲۸**-**۲۹**، مالسن، **۲۲۵**-**۲۶**، تاریخ سلطاني، **۶۸**-**۶۹**، لاکهارت نادرشاه، **۳**.

(۱۷) جهان کشای نادری، لاکهارت، نادرشاه، فیریر، **۲۵**-**۳۳**، مالسن، **۲۱۱**-**۲۶۶**-وګورئ. د میرویس مفصله شرحه د سید محمد الموسوي په ((کتاب تحقیق وتعداد اقوام افغانی)) (بي ام اس اور ۱۸۶۱) کې او هم ((میرویس))، پارسي کروموېل، د یوه سویډني افسر له خوا، لندن **۱۷۴**، حسین شاهي، **۶**-**۷**، تاریخ احمد، **۵**-**۶**، تاریخ سلطاني، **۹۷**-**۹۸**، کې وګورئ.

## عبد الله خان:

له کندهار څخه د پارسیانو په شړلو کې د میرویس بریالیتوبونو او د غلزیو له خوا د خپلواکۍ اعلان د نورو افغاني قبیلو په زړه کې د الې ګولې اور بل کړ. په دغو قبیلو کې ډېر غوره یې دهرات ابدالیان وو. دوی د حیات خان زوی عبد الله خان له ملتان څخه د هغه مقام د نیولو لپاره راوغوښت چې حیات خان د دولت خان په وخت کې پرېښودلی و. هراتیانو په دغه کار کې دوه مقصدونه لرل: یو جوت هدف یې دا و چې له میرویس څخه په داسې وخت کې په غچ اخیستلو زړونه ساړه کړي چې په هغه باندې په ۱۷۱۱م کې د ګورګین د تره زوی خسرو خان په مشرۍ د پارسیانو یو زورور لښکر راروان و. ضمناً دوی هیله درلودله چې د یوه متنفذ مشر تر لارښوونې لاندې خپله پیاوړتیا وساتي او د موقع په صورت کې د پارسیانو د جغ په غورځولو سره خپلې خپلواکۍ ته ورسېږي. عبد الله خان او دده زوی اسد الله، د خسرو خان د جنډې لور ته په چټکۍ ورغلل او هغه ته یې د غلزیو په مقابل کې مرسته ورکړه. ګرجي قوماندان په دغه کار سره دده ته ډېر اخلاص پیدا کړ او په نتیجه کې د همدغه قوماندان په مرسته دی د ابدالیانو یو منلی مشر شو. سره ددې هم د خسرو خان لښکرې له ماتې سره مخامخ شوې او په خپله خسرو خان له کندهار څخه د راوتلو په وخت کې خپل ژوند له لاسه ورکړ. د ایران پاچا له خوا بل ځل هڅه هم په همدغه سرنوشت اخته شوه، خو د میرویس ځای نیوونکي، میرعبد الله (۱۷۱۵-۱۷۱۶) تصمیم ونیو چې له پارسیانو سره سوله وکړي او د همدغه مقصد لپاره یې اصفهان ته یو هیات واستاوه. عبد الله خان او دده زوی هرات ته

راستانه شول. د هرات حکمران عباس قلي خان شاملو په هرات کې د دوی له خوا د پارسیانو د قدرت او واکمنۍ لپاره د خطر احساس وکړ او دواړه یې زندان ته واچول. په دغه وخت کې د هرات قزلباش د شاملو پر ضد پاڅېدل او دی یې له کاره ګوښه کړ. د شاملو د ځای نیوونکي، جعفر قلي خان استجلو د رارسېدلو څخه دمخه وقفه کې عبدالله خان او دده زوی له زندان څخه د دوشلخ لویدیځو غونډیو ته وتښتېدل[۱۸]. دلته دوی د خپلې قبیلې زیات شمېر خلک په ځان راغونډ کړل او د فراه او بکوا په ګاونډ کې د قوې په تجدید سره په هرات باندې راتوی شول. جعفر قلي خان له دوی سره د مقابلې لپاره راووت په هغه نښته کې چې د دوی ترمنځ پېښه شوه، افغانانو په خپلو دښمنانو باندې بری پیدا کړ او جعفر قلي خان د هغوی په لاس کې ولوېد. ابدالیانو ښار تر کلا بندۍ لاندې ونیو، مقاومت کلک و، خو څنګه چې د پارس له خوا هغوی ته مرتسه ونه رسېدله، نو په دغه وخت کې د ښار په دننه کې د ابدالیانو ملګرو کلابندي کوونکو ته د ۱۱۲۹هـ د شعبان په شپږویشتمه شپه (د ۱۷۱۷کال د جولای شپږ ویښتمه نېټه) په ترورږمۍ کې د فیل خانې د برج له خوا لاره پرانستله او ابدالیان ښار ته ننوتل. په دې ډول ابدالیان د هرات واکمنان شول او خپله خپلواکي یې اعلان کړه[۱۹]. سره له دې هم دغه خپلواکۍ دوه کاله وروسته خپل معراج ته

(۱۸ ) حسین شاهي، ۶-۷، تاریخ احمد، ۵-۶، تاریخ سلطاني، ۹۷-۹۸.

(۱۹ ) په دغه برخه کې ما په تاریخ سلطاني (د سلطان محمد ابن موسی خان دراني لیکنه، محمدي مطبعه، بمبیي ۱۲۹۸ه) باندې حواله ورکړې ده. فیریر په خپل اثر ((د افغانانو تاریخ))، ۳۵-۳۶ مخونو او مالسن په خپل کتاب ((د افغانستان تاریخ))، ۳۳۶-۳۷ مخونو کې په دغه باب جلا بیان وړاندې کوي. د فیریر په حواله دا وخت د هرات حکمران زمان خان قورچې باشي وچې هغه ته سدوزي حیات سلطان خپل ښکلي زلمي زوی اسدالله د ناروا کار لپاره ولېږه. ناوړه کار اجرا شو او دغه بدمرغه ځوان له پارسي کمپ څخه له تښتېدلو وروسته د خپلې قبیلې د پټ د خوندي کولو په خاطر خپل پلار ونیو او زندان ته یې بوت او وروسته یې په قورچې باشي باندې نابیره یرغل وکړ او هغه یې وواژه. له هغې وروسته

په دا سې ترڅ کې ورسېدله چې په ۱۷۱۹م کال کې اسداله خان د صفي قلي خان تر قوماندې لاندې يو د برش زره کسيز پياوړی لښکر يوازې په خپلو پنځلس زره افغانانو سره مات کړ [۲۰].

ورپسې د غلزيو او ابداليو ترمنځ يو لړ مبارزې او دښمنۍ پيل شوې. په ۱۱۳۲هـ ۱۷۲۰م کې د فراه د چونۍ د نيولو پر سر جګړه کې اسدالله خان د خاشرود په غاړه له دلارام سره ووژل شو (دغه کلا اسدالله خان له غلزيو څخه نيولې وه) [۲۱].

سپين ږيری عبدالله خان د خپل منلي زوی اسدالله خان په مړينه سره سخت ولړزېد او ډېر وخت لا تېر شوی نه و چې دماغي ناروغي ورته پيدا شوه، دالکوزي عبدالغني په مرسته دده پر ځای د رستم خان ورور سدوزی زمان خان چې کرمان ته له تبعيد وروسته راستون شوی و، کېناست. ورپسې په عبدالله خان باندې ډېرې بدمرغۍ راغلې، دی د جعفرخان استجلو په لمسون (جعفر خان استجلو د غلزيو له خوا له بنده خوشې شوی و) او يا د

---

دغه بريالي ځوان د هرات په لور حرکت وکړ او د هرات د ښار دننه خواته يې لاره بيامونده. په ښار کې يې يو شمېر پارسيان پيدا کړل او هغوی يې له منځه يوړل. په دې ډول دې ډګر ته راووت او له کوم سيال پرته د ټول ولايت واکمن وګرځېد او د ۱۱۲۸هـ کال د روژې په شپږويشتمه ورځ يې يوه خپلواکه شهزاده نشينه سيمه (امارت) اعلان کړ.
دغه بيان حتی په خپل په دغو کرښو کې ناسم برېښي خکه لومړی خو دا چې اسدالله دحيات سلطان لمسی و نه د هغه زوی. بل دا چې د حکمران په نامه کې هم توپير موجود دې. په صولت افغاني کې د زمان خان قورچي باشي او سدوزي زمان خان (د احمدشاه دراني پلار) ترمنځ اشتباه شوې ده. ۳۴ مخ وګورئ حيات افغاني، ۱۲۷.

(۲۰ ) حسين شاهي، ۷، تاريخ سلطاني، ۵-۶، ۹۷-۹۸ صولت افغاني ۳۴۰ سايکس د پارس تاريخ، دويم ټوک ۳۱۱.

(۲۱ ) تاريخ سلطاني ۹۹ لاکهارت په خپل کتاب ((نادرشاه ۳۱ مخ) کې دغه پېښه په ۱۷۱۸ کال کې ګڼي. د دلارام کلی چې د کندهار هرات سړک په غاړه د فراه او ګرشک ترمنځ پروت دی له ګرشک څخه پنځه اويا ميله واټن لري. د محمد علي رهنما ۹۱ مخ.

نوي مشر د حسادت له مخې زندان ته ولېږل شو او وايي چې هلته د زمانخان په وسیله مسموم یا وژل شوی دی[۲۲].

د مشر په توګه د زمان خان د ګومارلو په باب په تاریخ کې ډېر لږ بیان شته او تر دوه نیمو کلو پورې یې د خپلې قبیلې مشري په غاړه لرله او له مړینې وروسته یې پر **۱۱۳۵**هـ (**۱۷۲۲-۱۷۲۳**م) کال کې د وژل شوي عبدالله خان زوی او اسدالله ورور، **محمد خان** مشرتابه ته ورسېد[۲۳].

# ذوالفقار خان:

د **۱۷۲۲- ۲۳**م کال په ژمي کې محمد خان په مشهد باندې یرغل وکړ او د غه ځای یې څلور میاشتې تر کلابندۍ لاندې ونیو، خو د اشغال په برخه کې یې ناکام شو. په دغه کار سره دی د خپلې قبیلې په نظر مختوری وګرځېد او دده پر ځای یې د زمان خان مشر زوی ذوالفقار خان (د زمان خان کشر زوی احمدخان و چې ورپسې د احمدشاه په نامه ډګر ته راووت) وګومارهٔ. پر **۱۷۳۷- ۱۷۲۵**م د وژل شوي عبدالله خان زوی رحمان هڅه وکړه چې له ذوالفقار خان څخه د پلار انتقام واخلي. د دواړو خواوو ترمنځ د قتل او قتال تربګنۍ تر یو څه وخت پورې روانه وه، خو د ابدالي مشرانو په منځګړیتوب سره پایته ورسېدله. دغو مشرانو ذوالفقار خان با خرز (یو ځای دی. مترجم) او رحمان کندهار ته ولېږه. د عبدالله خان زوی الله یار

(۲۲ ) تاریخ سلطاني سلم مخ، صولت افغاني **۳۴۵**مخ او حیات افغاني ۱۲۷ مخ وګورئ. لاکهارت په خپل اثر نادرشاه کې دا پېښه په ۱۷۱۸ کې ګڼي او وايي چې عبدالله خان د زمان خان له خوا ووژل شو.

(۲۳ ) جهانکشای نادری **۹۵** مخ، تاریخ سلطانی سلم مخ، صولت افغانی، لاکهارت، نادرشاه **۳۱** مخ وګورئ. دغه پېښه باید د اکتوبر د لومړۍ اوونۍ چې د **۱۳۵**هـ پیل و او د دسمبر د وروستۍ اوونۍ ترمنځ چې **۱۷۲۲**م کال پای ته رسېدلی و، شوې وي او د لاکهارت، نادرشاه په حواله موږ د هغه جانشین محمد خان د **۱۷۲۲ - ۲۳**م په هماغه ژمي کې په مشهد باندې د عملیاتو په ترڅ کې مومو.

خان چې د مخکښني حکمران محمد خان ورور و په ۱۱۳۸هـ کې راوغوښتل شو او د قبیلې د مشر په توګه انتخاب شو. په دغه وخت کې د ذوالفقار خان ماما عبدالغني خان الکوزی بیا ډګر ته راووت. دی په ښکاره توګه د خپلې خور د کورنۍ له وړاندې تګ او مصوونیت سره علاقه مند و، په تېره بیا د هغې د درې کلن زوی احمد خان مصوونیت چې یوازې د ذوالفقار خان په واکمن پاتې کېدلو او یا دده په خپله ذمه واری پورې تړلی و. دده په لارښوونې سره ذوالفقار خان په باخرز کې له خپل ګوښه ځای څخه راووت او د الله یار خان په مقابل کې ودرېد. څرنګه چې الله یار خان هم له ده څخه کمزوری نه و نو په اسانۍ سره یې ځای ورته خالي نه کړ او دغه شخړې تر شپږو میاشتو اوږدې شوې[۲۴].

په دغه وخت کې افشار نادرخان چې وروسته د پارس امپراتور (نادر شاه افشار) په نامه نامتو شو، مشهد ونیو (د ۱۱۳۹هـ د ربیع الاول ۱۲، د ۱۷۲۶ کال د نوامبر ۱۲) او داسې اوازې خپرې شوې چې دی به ژر په ابداليانو راودانګي. دداسې یوه لوی خطر په مقابل کې چې د سدوزیو پولو ته متوجه و او د هغوی سرحدونه یې تهدیدول، مشرانو پرېکړه وکړه چې د سیالو ډلو ترمنځ اختلافات دې پرېښودل شي او یو سوله ییز حل دې وشي.

الله یارخان ته اجازه ورکړل شوه چې په هرات کې واکمن واوسي او ذوالفقار خان د فراه د والي په توګه وګومارل شو[۲۵].

---

(۲۴) تاریخ سلطاني، ۱۰۰-۱۰۱، لاکهارت نادرشاه، ۳۱. د (احمدشاه بابا) مولف فکر کوي چې ذوالفقار او احمد دوه سکني ورونه وو، بلکې له بېلابېلو میندو څخه پیدا شوي دي. دده په حواله ښایي د احمدشاه سکنی ورور به د علي مردان خان په نوم وي. له ۳۱ مخ څخه تر ۳۴ مخ وګورئ.

(۲۵) جهان کشای نادری، ۲۶.

نادر له طهماسب سره د اختلافونو او له هغه څخه د سرغړونو په سبب په ابداليانو باندې تر دوو کلونو او څلورو مياشتو پورې يرغل وځنډاوه. د ۱۱۴۱هـ کال د شوال د مياشتې په لومړۍ اوونۍ کې (د ۱۷۲۹م کال د اپريل په پای کې) پارسي فاتح هرات ته رادمخه شو. دده د راتګ د خبر په خپرېدو سره الله يار خان د مقابلې لپاره له هرات څخه ور وخوځېد خو ويې نه شول کولی چې په برياليتوب سره مقابله وکړي. کله چې دی له نادر سره د خپل همېشني سيال ذوالفقار خان له مرستې څخه خبر شو نو نږدې و چې نادر ته د تسليمۍ سرټيټ کړي، خو سره له دې هم نادر د دواړو سيالانو په متحده قوه باندې هم ډېر غبنتلی وبرېښېد او ابداليان د جون په مياشت کې اطاعت ته اړ شول. دوی نه يوازې اطاعت ته غاړه کېښودله، بلکې له نادر سره يې د غلزيو په مقابل کې د مرستې ژمنه هم وکړه.

الله يار خان د طهماسب له خوا د هرات والي په توګه مقرر شو او د جون د مياشتې په پای کې پارسيانو د خپل کور په لور تګ پيل کړ[۲۶]. کله چې نادر له ترکيې سره په خپلو لومړيو پوځي عملياتو بوخت و، نو په دغه وخت کې ذوالفقار خان د خپلې خپلواکۍ لپاره يو ځل هڅه وکړه او د هغو يو شمېر ابداليو الګوله يې رهبري کړه چې د کندهار د غلزي حسين سلطان (سلطان حسين به وي. مترجم) له خوا د ۱۳۷۰م کال په لومړيو وختونو کې ولمسول شول.

کله چې الله يار خان په هرات کې له دوی سره د يو ځای کېدو څخه ډډه وکړه نو ذوالفقار خان ددوی په مرسته په اسانۍ سره دی وشاړه (اپريل ۱۷۳۰م)

(۲۶) جهان کشای نادری، ۹۶-۱۰۳، حسين شاهي، ۷-۸، تاريخ احمد، ۶-۷، تاريخ سلطاني، ۱۰۲-۱۰۶، لاکهارت، نادرشاه، ۳۱-۳۴.

ذوالفقار خان د خپل پخواني بري په هڅوني سره په مشهد برید وکړ او ددغه ځای حکمران ابراهیم خان (د نادر خان ورور) ته یې ماتې ورکړه. نوموړی والی د یرغل کوونکي (ذوالفقار خان) د مقابلې لپاره د ۱۱۴۳هـ کال د محرم د میاشتې په دیارلسمه نېټه او د شنبې پر ورځ (د ۱۷۳۰م کال د جولای اتلسمه) دانګلی و. د ښار کلا بندي یود پرش ورځې اوږده شوه. له هغې وروسته ذوالفقار خان هرات ته راوګرځېد[27].

نادر خان د ۱۱۴۳هـ کال د ربیع الثاني د میاشتې په وروستۍ ورځ (د شنبې ورځ د اکتوبر ۳۱-۱۷۳۰م) مشهد ته راستون شو او د همدغه کال د روژې په پنځلسمه نېټه د هرات د ابدالیانو د قاطع لاندې کولو لپاره یې له هرات څخه حرکت وکړ. ذوالفقار خان د خپلې قبیلې د خپلواکۍ لپاره کلکه هڅه وکړه او د محمد سیدال تر قوماندې لاندې د کندهار له سلطان حسین سره متحد شو، خو سره ددې هم نادر دوی په شا وتمبول او د می د میاشتې په لومړیو ورځو کې یې د هرات ښار کلا بند کړ. ذوالفقار خان له دوه میاشتې کلابندۍ وروسته د ۱۱۴۴هـ کال د محرم پر ۱۷ ورځ (د ۱۷۳۱م کال د جولای یوولسمه له هرات څخه ورووت خو ببرته په شا وتمبول شو. په دغه کار سره سیدال خان ډېر خواشینی شو او د ځینو ابدالي مشرانو په سلا له خپلو غلزیو سره په پټه وتښتېد. په نتیجه کې یې ذوالفققار خان سولې ته غاړه کېښودله او نادر هم په ډېره مینه سره دده د سولې پېشنهاد ومانه. د ذوالفقار خان او ابدالیانو په غوښتنه سره الله یار خان بیا د هرات د والي په

(۲۷) جهان کشای نادری، ۱۴۱-۱۴۶، تاریخ سلطانی، ۱۰۶-۱۰۷، صولت افغانی، ۳۴۰، لاکهارت، نادرشاه، ۵۱-۵۲.

توګه مقرر شو او د صفرې په اتلسمه نېټه ( د اګست یوولسمه ) یې دغه ځای اشغال کړ. ذوالفقار خان د فراه خواته راوګرځېد[۲۸].

د هرات د استحکاماتو د پیاوړتیا په ډاډ او یا د سیدال خان تر مشرۍ لاندې په اسفزار (شیند ډنډ. مترجم) کې د ذوالفقار خان له قواوو سره د غلزیو د یو ځلوېښت زره کسیزې قوې د ګډېدلو او بیا په ستومانه پارسي لښکرو باندې د هغوی د برید کولو د اوازې خپرېدل هغه شیان وو چې الله یارخان یې نادر ته له وفادارۍ څخه منصرف کړ او د افغاني خپلواکۍ جنډه یې لوړه وساتله خو نادر د بې اتفاقه او کمزور شویو ابدالیانو په مقابل کې ډېر زورور و او دده د کسات قوت ټول مقاومت شنډ کړ. د ۱۷۳۱م کال د دسمبر د پنځلسمې نېټې د سولې له پېشنهادونو وروسته الله یار خان د یوې موقع موندلو لټ وکړه، خو کله چې هغوی (افغاني مشران. مترجم) له نادر سره تر کتنې وروسته ډېر ژر له خپلې ژمنې څخه واوښتل نو دغه حالت په نادر باندې د هغه د ټول زړه سوی سره سره ډېره بده اغېزه وکړه. د ښار کلا بندي سخته شوه او د یوې زورورې حملې په نتیجه کې ښار د ۱۱۴۴هـ کال د روژې د میاشتې په لومړۍ ورځ ( د ۱۷۳۲م د فبرورۍ ۱۲ ) یانې کله چې الله یار خان د وروستي ځل لپاره غاړه کېښودله او ملتان ته په ښټ لاړ، تسلیمۍ ته مجبور شو. دا وخت نادر نور نو هرات د ابدالیانو په لاس ورنه کړ، بلکې هغه یې ونیو او اداره یې یوه پارسي حکمران پیرمحمد سلطان ته وسپارله[۲۹].

---

(۲۸ ) جهان کشای نادری، ۱۵۶-۱۷۲، تاریخ سلطانی، ۱۰۹-۱۱۵

(۲۹ ) جهانکشای نادری، ۱۷۲-۱۷۹، تاریخ سلطانی، ۱۱۵-۱۱۸، لاکهارت، ۵۴.

په عین وخت کې ذوالفقار خان هم له فراه څخه وشړل شو. ددې لپاره چې د سیدال تر مشرۍ لاندې بیا د غلزیو او ذوالفقار خان قواوې د هرات د کلابندۍ لپاره د یووالي امکان پیدا نه کړي، نو په دغه سبب نادر خپل ورور ابراهیم خان د فراه لور ته ولېږه چې هغه ځای ونیسي. فراه په داسې یوه سرعت سره ونیول شو چې مات شوی الله یار خان لا ملتان ته د تګ په لار کې و. ذوالفقار خان او دده کشر ورور احمد خان کندهار ته پناه یووړه او دلته د میر حسین له خوا زنداني شول او یوازې هغه وخت له زندان څخه ووتل چې نادرشاه پر ۱۸۳۷م کې دغه ځای فتحه کړ[۳۰].

خو نادر تر هغو د هرات او فراه په سقوط او د الله یار خان او ذوالفقار خان په وتلو باندې راضي کېدلی نه شو چې څو ابدالي قبیلوي خلک په خپله سیمه کې د خپلو قبیلوي مشرانو په واک کې وي. ده فکر وکړ چې دوی به هغه وخت بیا په ښه راوګرځي چې دده مخ د هغوی له سیمې څخه واوړي. له دې امله ده د ابدالیانو د بشپړې تصفیې تصمیم ونیو او له افغانستان څخه یې د غني خان الکوزي او نورمحمد خان غلزي په ګډون ټول شپږ زره تنه د خراسان د ولایت د مشهد نیشاپور او دا مغان سیمو ته تبعید کړل. نادر پخوا هم د خراسان ولایت ته له دغه شمېر څخه لس واره زیات افشاري او نور پارسي قبایل شړلي وو، سره له دې هم ځینې ابدالي مشران د خدمت لپاره وټاکل شول او دده تر شخصي څارنې لاندې راغلل[۳۱].

---

(۳۰) جهانکشای نادری، ۱۷۹-۱۸۲ تاریخ سلطانی، ۱۱۸.
(۳۱) جهانکشای نادری، ۱۷۲-۱۷۹، تاریخ سلطاني، ۱۱۸.

تر شپږو کلو پورې د ابدالیانو سرنوشت په همدغه شان په بد مرغۍ سره روان و. په دغه دوران کې دوی د نادر اعتماد بیا جلب کړ او دده په ترحم سره پر ۱۷۳۸م کې په هرات او کندهار کې خپلو کورونو ته ستانه شول. سره له دې هم د دوی خپلواکي د ستنېدو له نېټې څخه نهه کاله وروسته هغه وخت ربښتیانۍ شوه چې پر ۱۷۴۷م نادر له دنیا څخه سترګې پټې کړې او د ذوالفقار خان ورور احمد خان د ابدالیانو د ستر مشر په توګه انتخاب شو او د احمدشاه دراني تر شاهانه نوم لاندې د افغانانو د پاچا په توګه یې تاج پر سر کړ.

# دویم فصل

## د احمد شاه ورکتوب:

احمد شا هدرانی چې مور او پلا احمد خان باله د سدوزیو د پښې د ابدالي زمان خان دویم زوی دی، چې پر ۱۷۲۲م کال له الکوزي زرغونې ښځه په ملتان کې وزېږېد [1]. دده له زېږېدو ښځه ځو میاشتې وروسته یې

---

(۱) په تاریخ کې د احمدشاه د زېږېدنې سمه نېټه څرګنده نه ده. دغه پورتنی کال (۱۷۲۲) چې په متن کې استعمال شوی، د احمدشاه د عمر په باب د یو شمېر هغو حوالو له مخې د ریاضي د محاسبې پر اساس ورکړل شوی دی، چې په تاریخي اثارو کې مې وموندلې. لاکهارت په خپل اثر ((نادرشاه)) کې د فارسي لیکوالو په استناد د احمدخان عمر پر ۱۷۳۸ کال (د نادر له خوا د کندهار د نیولو په وخت کې) له څوارلس ښځه تر شپاړس کلو پورې ښودلی دی، ۱۲۰ مخ، او د نادرشاه د مړینې (۱۷۴۷) په وخت کې یې درویشت یا څلیرویشت کاله ګڼي. د لومړي رقم له مخې به دده د زېږېدو کال (۱۷۲۴) وي چې دده د پلار زمان خان له مړینې سره سمون نه شي کولی.
زمان خان د ۱۷۲۲م د اکتوبر د وروستۍ اوونۍ یانې کله چې ۱۱۳۵ هـ کال پیل شو او د دسمبر د وروستۍ اوونۍ ترمنځ چې په دغه وخت کې دده ځای نیوونکې محمد خان د ۱۷۲۲-۱۷۲۳م کال په ژمي کې په مشهد باندې د پوځي عملیاتو د سوق کولو په حال کې معلومېده، مړ شوی دی.
حتی که چېرې احمدخان د پلار له مرګ ښځه وروسته زېږېدلی وي چې سمه نه ده بیا هم دی باید د ۱۷۲۳ میلادي تر اګست پورې زېږېدلی وي. له دې امله موږ یوه لاره لرو چې دده زېږېدنه پر ۱۷۲۲ میلادي کې وشمېرو چې د هغې له مخې به پر ۱۷۳۸م کې دده عمر شپاړس کاله او په ۱۷۴۷ کې پنځه ویشت کاله وي.
لکه چې موږ ته جوته ده د احمد خان پلار زمان خان په ۱۷۲۰ م کې قدرت ته ورسېد او داسې کوم سند نه شته چې د هغه له مخې دی ګوندی دا ښکاره شي چې نوموړی د ۱۷۲۰ او ۱۷۲۲ ترمنځ د څه وخت لپاره ملتان لیدلی وي. دا چې د امام الحسیني په اثر (تاریخ حسین شاهي) کې د احمدشاه زوکړه په ملتان کې یاده شوې په دې دلیل سمه برېښي چې د هرات د سختو شبو ورځو په دوران کې به دده مور ملتان ته د زوکړې لپاره استول شوې وي. د ((احمدشاه بابا افغان)) په نامه اثر مولف میر غلام محمد غبار له دغې خبرې سره موافقه نه لري. دده په حواله احمدشاه په ۱۱۳۵ هـ (د ۱۷۲۲م اکتوبر- ۱۷۲۳ سپتمبر پورې) په هرات کې چې پلار یې لا ژوندی و، وزېږېد ۳۵-۴۱ مخونه.




Ahmad Shah Durani

Born ۱۷۲۲

Died October ۱۶-۱۷, ۱۷۷۲

پلار چې د هرات والي و ، له دنيا سترګې پټې کړې. د احمد خان کورنۍ ته
دا شېبې په زړه پورې نه وې او زرغونه د خپل ماشوم په هکله اند يښنمنه

شوه او د هرات نوی والي حاجي اسماعیل خان ته د خپلې لور په ور کولو سره یې د هغه حمایت جلب کړ. اسماعیل خان له احمد سره ډېر ژوره دلچسپي پیدا کړه او هغه یې د سبزوار (شینډنډ. مترجم) او فراه لور ته واستاوه.

دا چې احمد تر لس کلنۍ پورې څنګه او چېرې ژوند وکړ، موږ ته معلومه نه ده. پر ۱۷۳۲م کې موږ دده په باب هغه وخت بیا څه اورو چې ورور یې په فراه کې ماتې وخوړه او له هغه سره یوځای د کندهار لور ته د خپل ژوند د ساتلو لپاره پناه وړې. په کندهار کې دوی د دغه ځای د حکمران غلزي میرحسین له خوا د قبیلوي تربګنۍ له مخې او یا د ذوالفقار خان تر مشرۍ لاندې د ابدالیانو د ګواښ او خطر د پیداکېدو په سبب زندان ته واچول شول[۲].

د ورپسې اوو کلونو په اوږدو کې د نادر ابدالي ټولې د نادر د قدرت په پراخولو او پیاوړتیا کې د ایله جاریو (رضا کارو) په توګه دنده ترسره کړه او نوموړی دوی د خپلې امپراتورۍ د شمزۍ په توګه وشمېرل. په تېره بیا داغستان د پوځي عملیاتو په وخت کې (۱۱۴۷هـ) دی د هغوی له خدمتونو څخه ډېر راضي شو او یو وخت یې له دوی سره ژمنه وکړه هر څه احسان چې له ده څخه وغواړي له هغو سره به یې وکړي. ابدالي مشرانو چې دا وخت یې وتلی او غوره مشر الله یار خان و، په ډېره هوښیارۍ سره له دغې ژمنې څخه ګټه واخیستله او له ده څخه یې وغوښتل چې دوی په افغانستان کې خپلو اصلي کورونو ته بېرته ولېږي. دوی دا هیله هم وکړه چې هغه ټولې کورنۍ چې پر ۱۷۳۲م کال خراسان ته تبعید شوې وې، خپلې مېنې ته ستنې شي او

(۲) صولت افغانی، ۲۴۰.

هم کندهار له غلزیو څخه بېرته دوی ته وسپاري. نادر له دوی سره موافقه وکړه، هغه وخت چې دې په کندهار کې د قدرت نیولو توان پیدا کړی د دوی دا غوښتنې به په هماغه لحظه کې تر سره شي. نادر پر ۱۷۳۸ خپله دغه ژمنه په بشپړه توګه سرته ورسوله[۳].

## د نادر له خوا د کندهار نیول کېدل:

پر ۱۷۳۲م نادر له ترکیې سره د یوه تړون له لاسلیک او د ((بختیاریانو)) له بشپړ ماتولو وروسته خپل پایتخت ته راستون شو او دغه ځای ته د ۱۱۴۹هـ کال د جمادی الثاني په نهمه او یا د ۱۷۳۲م د اکتوبر پر څلورمه نېټه راورسېد. وروسته سملاسي ده د کندهار په مقابل کې د خپلې اوږدې مودې پوځي عملیاتو د پلان لپاره ترتیبات پیل کړل. دی د ۱۱۴۹هـ کال د رجب د میاشتې په (۱۷) نېټه د غلزیو په ضد راروان شو. ده د کرمان او سیستان له لارې خپل تګ پیل کړ او د شوال په دویمه (۱۷۳۷م د جنورۍ ۲۳) د کندهار او سیستان له ګډې پولې څخه واوښت او د فبروري په اوومه د فراه، دالاک او دلارام له لارې ګرشک ته راورسېد. په څلورمه ورځ دوی د ارغنداب له لویدیځې غاړې سره نږدې واړول او د شپې له خوا غلزیو جنرالانو یانې یونس خان او سیدال خان چې هر یوه اته زره چاپ شوي سواره لرل، ورباندې یرغل وکړ. سره له دې هم د ابدالیو مشر عبدالغني خان چې د نادر شاه په سنګر کې ولاړ و د دغه تکوونکي برید په باب خبرتیار درلودله. ده سملاسي په یونس خان باندې مخکې تر دې چې د سیدال خان

(۳) صولت افغانی، ۳۴۰-۳۴۱.

مرسته هغه ته راورسېدلی شي، برید وکړ. په غلزيو باندې دا برید دومره تس نس کوونکې و چې حتی د سیدال خان په رسېدو سره هم هغه ونه شول کولی د دغه حالت او برید چاره وکړي. په کندهار کې د عبدالغني خان له خوا د نادر پوځونو ته د دغه لومړني بري ور په برخه کول د دې سبب شول چې د نادر په خاطر د ابدالیانو په موقع خدمتونه نور هم د قدر وړ وګرځي. د ۱۷۳۷م کال د اپریل په لومړنۍ اوونۍ کې د کندهار کلا بندي پیل شوه.

او د ۱۱۵۰هـ د ذوالحجې تر دویمې (۱۷۳۸م) کال د مارچ تر ۱۲) پورې یې اوږدوالی وموند. د وروستۍ نېټې په شپه پارسیانو یو پوبرخ ونیو او خپل پرمختګ او فشار یې زیات کړ. میر حسین چې په دې پوه شو چې نور هر څه تمام شوي دي، نو بله ورځ یې د ننواتې په توګه خپله کشره خور زینب د غلزیو له یو شمېر مشرانو سره یوځای د امن غوښتلو لپاره واستوله. نادر دغه دود ته درناوی وکړ او حسین، دده کهول او نور پیروان یې له مرګ څخه وبښل او د بندیانو په څېر یې مازندران ته ولېږل[۴].

## کندهار او هرات ته د ابدالیانو راستنېدل:

لکه چې وړاندې مو وویل ذوالفقار خان او ورور یې احمد خان د مخه په کندهار کې بندیان وو.

نادر دوی ازاد کړل او دی د احمد خان د اوښي حاجي اسمعیل خان غلزي په سبب په احمد خان باندې په خاصه توګه مهربانه شو. هغه ده ته (اسمعیل خان ته. مترجم) له شاهي خزانې څخه یوه زیاته اندازه پیسې ورکړې، چې په

(۴) جهانکشای نادری، ۳۲۴-۳۲۹، صولت افغانی، ۳۴۰-۳۴۴.

هغـو سـره دا ورونـه (احمـد خان او ذوالفقـار خـان) وسـاتي. د مـا زنـدران حکومت يې هم دوی ته پرېښود. هغه وعده او ژمنه چې په ۱۱۴۷هـ کې نـادر د داغستان په جګړه کې له ابداليانو سره کړې وه سرته ورسوله. (د احمدخان ماما) عبدالغني خان الکوزی يې د کندهار والي او نور ابدالي مشران يې د ګرشک، بست او زمينداور واليـان مقرر کړل. هغـو ابداليانو تـه چې پـه خراسان کې د نيشـاپور، مشـهد او دامغـان نـاحيو تـه شړل شوي وو، اجازه ورکړل شوه چې بېرتـه د کنـدهار لـور تـه لاړ شي او هلتـه د خراسـان خواتـه تبعيد شويو غلزيو په مځکو باندې واړوي.

د غلزيـو نـورې سـيمې درې ابـدالي قبيلـو تـه ورکـړل شـوې، ارغنـداب د عبدالغني خان قبيلې يانې الکوزيو ته، زمينداور د نورمحمد خـان قبيلـې يانې اليزيو ته او پاتې يې باکرزيو تـه ورسـېدې. هرات هم ابداليانو تـه پـه تېره بيا سدوزيو يانې د احمدخان پښې ته ورکړل شو او دوی ددغـه ځـای پـه لويـديځو ځمکـو واړول او تـر نـن ورځـې پـورې دا ځـای د درانيـانو لـه خـوا اشغال شوی دی[۵].

## احمدخان د نادر په ځانګړي او شخصي دفتر کې:

دا چې کله ذوالفقار خان مازندران ته لاړ او يا هلتـه ده پـه کـوم ډول او څنګـه ځـان وچلاوه زمـوږ د څېړنـې او بيـان پـه هدف کـې نـه راځـي. دده کشـر ورور احمدخان غوره شخصيت سره ددې چې دا وخت شپاړس کلن و، نادرشاه تـه

(۵) جهانکشای نادری، ۲۲۸-۲۹، تاريخ حسين شاهي ۹-۱۰، تاريخ احمد ۷-۸، تاريخ سلطانی ۱۲۱، صولت افغاني ۳۴۱، لاکهارت نادرشاه ۱۲۰.

نور هم ډېر ګران شو او دی يې په خپل خصوصي ګارد کې ديساول ياني ساتونکې يا د امر ضابط په توګه وګوماره. ورپسې د زيات استعداد په سبب د پارسي فاتح له خوا د هند ، ترکيې او نورو جګړو په ترڅ کې د خپلې قبيلې د يوې ډلې قوماندانۍ ته را اوچت کړشو او په زيات شمېر دغو شخړو کې يې په قهرمانۍ سره ونډه واخيستهل. داسې ګڼل کېږي چې دغه ټول برياليتوبونه دده په راتلونکي ژوند کې د هغه د خپلو يرغلونو او شخړو په منځته بيولو او لاربښوونو کې ېېساري مشوق ګرځېدلی او دی يې دغو بريدونو ته لېواله کړ. ده د خپلو وړ خدمتونو په واسطه خپل ځان د بانک باشي يا خزانه دار درجې ته ورساوه[۶].

نادرشاه ته دی دومره ګران شو چې کله کله به يې په عام دربار کې د درباريانو او اشرافو پر وړاندې ياداوه او ويل به يې چې ده په ايران، توران او هندوستان کې د احمد ابدالي په څېر کوم سړی ليدلی نه دی، چې دومره لوړ استعداد لري. ده به تل د خپلې شاهي خېمې په دويمه دروازه کې درې يا څلور زره زړور او تجربه لرونکي ابدالي سپاره د احمدخان تر قوماندې لاندې ځان ساتل[۷].

## نادرشاه او د نظام الملک اتکل:

په امپراتور محمدشاه باندې د نادر له بري او هم دده له خوا د ډيلي د شاهي چوڼۍ له نيول کېدو وروسته (د ۱۱۵۱هـ د ذوالحجې نهمه د ۱۷۳۹م د مارچ

(۶ ) خزانه اميرا، ۹۷، مسيرالامرا، دويم ټوک، ۷۱۹. د ګلشن رحمت په حواله دی د نادر د مجلس غړی شو.
(۷ ) تاريخ حسين شاهي ۱۱، تاريخ احمد ۹، ګلستان رحمت، ۱۴۵.

نهمه) يوه ورځ د امپراتور پخواني صدراعظم (ورپسې د دکن وايسراى) نظام الملک چېن قاليج خان اصف جاه احمد خان له ديوان عام سره نږدې وليد چې د جالي (Jali) له دروازې څخه بهر ناست و[٨].

نظام الملک چې يو څېره پېژندونکې و، په احمد خان کې د سترتوب نښې نښانې وليدلې او وړاندوينه يې وکړه چې دده په برخه به پاچاهي ورسېږي. وايي چې نادر د نظام الملک د څېره پېژندنې په پوهې بشپړ باور درلود او د دغې خبرې پيشګويۍ په اورېدو سره چې ژر ورته ورسېدله، ده احمد خان خپل ځان ته نږدې راوغوښت او له خپلې ملا څخه يې چاړه راوايستله او د هغه غوږونه يې ورباندې بوچې کړل او ورته يې وويل: ((کله چې ته پاچا شوې نو دغه نښه به مې در په يادوې[٩].

دا څرګندونه چې ډېرو ليکوالو هم ذکر کړې ده، ښايي اټکل او يا افسانوي ډول ولري. په يوه بيان کې راغلي دي چې يوه ورځ نادرشاه د استراحت لپاره سرې ورېمې ته په طلايي څوکۍ ناست و او احمد خان په ډېره احترامانه توګه دده پر وړاندې ولاړ و. نادر ناڅاپه ده ته غږ کړ چې: ((ابدالي احمده! وړاندې راشه! کله چې دى ورنږدې شو نو نادرشاه ورته وويل: نور هم پورته نږدې راشه!)) احمد په ډېر اطاعت او احترام ده ته لا ورنږدې شو ده احمد ته وويل:

---

(٨) مالسن په خپل کتاب ((د افغانستان تاريخ)) کې د ځينو مولفينو په حواله وايي چې احمد له خپل ورور ذوالفقار خان سره مازندران ته لېږل شوى او هلته له هندوستان څخه د نادر تر راستنېدو پورې پاتې شو))، ٢٧٢ مخ، خو دغه خبره د هغه حقيقت له مخې چې احمدخان په ډيلي کې موږ ته د نادر په ډله او پوځ کې رابښيي، سمون نه خوري. تاريخ احمدشاهي، ٢، خزانه اميرا، ٩٧ ميراث الامرا دويم ټوک ٧٩١ مخ وګورئ.
(٩) تاريخ احمدشاهى ٢، (حاشيه)، فيرير، ٩٣ وګورئ، تاريخ سلطاني، ١٢١ چې په دې حواله کې يوازې دده د يوه غوږ پر بکول ښودل کېږي.

((ابدالي احمد خانه ! په ياد ولره چې له ما څخه وروسته به ته پاچاهۍ ته ورسېږې، خو ته به زما له اولادې سره په مهربانۍ چلند کوې ! )) احمد ورته په تعظيم وويل: ((له تاسو جار شم زه د اعليحضرت په واک کې يم او زما د مرګ اختيار لري. نور نو داسې خبرو ته هېڅ دليل او اړتيا نه پاتې کېږي ))
ورپسې نادر بيا ورته وويل: (( زه په دې باور لرم چې ته به پاچا شې زما له اولادې سره مهربانه اوسه ! )) د تاريخ حسين شاهي د مولف مير امام الدين حسيني په قول چې خپل اثر يې د ۱۷۹۸ په نوامبر کې بشپړ کړ، احمد شاه کله چې په تخت کېناست نو په ډېره وفادارۍ سره د نادرشاه دغو خبرو ته په درنده سترګه وکتل او دده د ځای نيوونکي او لمسي ميرزا شاه رخ سره يې مرسته وکړه. د احمدزو تيمور د شارخ له زامنو سره کومک وکړ او دوی يې له بنده راو ايستل او مشهد ته يې واستول. له کومه منته پر ته شارخ خپله لور تيمور ته په نکاح کړه. امام الدين په خپل اثر کژ موږ ته وايي: ((دغه روغ چلند چې د احمدشاه اولادې د نادرشاه له اولادې سره درلود د ۱۲۱۳هـ کال پورې يې دوام موندلی دی[۱۰].

## د نادرشاه وژل کېدل:

د احمدخان په باب يوځل بيا موږ په ۱۷۴۷م کال کې د نادرشاه د مړينې په ترڅ کې څه اورو. له دغې تراژيدۍ څخه لږ مخکې نادر په فکري ګډوډۍ اخته شوی و. ده په خپلو خلکو بدګوماني پيدا کړه او د دوی ځورولو او

(۱۰ ) تاريخ حسين شاهي ۱۱-۱۲، تاريخ احمد ۹-۱۰، تاريخ سلطاني ۱۲۱ مخ وګورئ، عسر کار، د مغول د امپراتورۍ زوال لومړی ټوک، ۲۰۱.

کړولو ته یې لاس واچاوه. دغه کار دده په مقابل کې اله ګولې راپیدا کړې او دی دومره په غضب شو چې د لېونتون درجې ته ورسېد.

د ۱۱۲۰هـ کال د محرم په لسمه نېټه نادرشاه له اصفهان څخه یزد او کرمان ته لاړ. ((هر چېرې به چې دی تم کېده نو هلته به یې زیات شمېر خلک ځورول او دومره یې وژل چې له سرونو څخه به یې برجونه جوړ شول.)) په کرمان کې د نوروز د مېلې له تېرولو څخه وروسته د مشهد خواته وخوځېد، دلته یې د ۱۷۴۷م په اپریل کې د اصفهان او کرمان د ظلمونو او کړاوونو په پرتله ډېر زیات غیر انساني او بېرحمانه عملونه ترسره کړل. په دغه وخت کې دی خپل وراره علي قلي خان له اغتشاش څخه په سیستان کې خبر شو. دغه پاڅون (( د نادر د نه زغم کېدونکي جباري په مقابل کې تضاد او مخالفت لاپسې پیاوړتیا ته ورساوه. د خابو شان کوردان د علي قلي د ملاتړ لپاره راپاڅېدل او د توکم اخیستلو (نسلګیرۍ) د اسونو شاهي فارم یې په رادکان کې تالا کړ. نادر سملاسي د تېری کوونکو د ټکولو لپاره راوخوځېد او د جماد الثاني په یوولسمه نېټه د یکشنبې په شپه له خابو شان څخه دوه فرسخه (پړاوه) لیرې فتح اباد نه یې ځان ورساوه (۷-۸ جون)[11].

ریو پیرلو بیربازین س.ج. چې یو عیسوي و او دا وخت یې د شاه نه وړاندې حضور درلود، وایي چې: (( په دې ځای کې پاچا داسې بربښېده چې له خپلې بدمرغۍ څخه خبر شوی اوسي. څو ورځې دده اس په حرم کې تیار زین ولاړ و. ده هڅه وکړه چې کلات ته وتښتي. دده ساتونکو دی ونیو او ده

(۱۱) جهانکشای نادری ۴۶۰ لاکهارت، ۲۵۹-۶۱ بیان واقعی دغه نېټه د ۱۱۶۰هـ کال د جماد الاول دیارلسمه ښودلې، چې سمه نه ده.

ته يې ددغې تېښتې د لا بد مرغيو اټكل وكړ. دوى ده ته وعده وركړه چې له ده سره به وفا دار اوسي او دده د دښمنانو په مقابل کې به وجنګېږي او هېڅ يو به دى يوازې پرې نږدي. دا وخت دى په خپله پوه شو چې نور نو مجبور دى او ببرته بايد وګرځي. ده په جوته توګه دا درک کړه چې له څه وخت را په دې خوا يو شمېر لويانو او اشرافو دده د ژوند په مقابل کې د سيسې په کار اچولي دي. دده په درباري اشرافو کې دده خپلوان محمد قلي خان او صالح خان ډېر زيات ناراضي او فعال مخالفين ګڼل کېدل. لومړى يې د ګارد قوماندان او دويم يې د کورنۍ ناظر و. نادر له دويم څخه وېره نه درلودله، ځکه دده مقام داسې نه و چې په پوځ باندې قدرت پيدا کړي، خو نادر له لومړي سړي څخه چې ډېر تکړه سړى و او د خپل زړورتوب پر اساس يې درناوى کېده او له افسرانو سره يې ښې متقابله اړيکي درلودې، په ډار کې ولوېد. په نومړي باندې دده بدګوماني زياته شوه او تصميم يې ونيو چې د نومړي مخه ونيسي.

ده په خپل کمپ کې څلور زره افغاني پوځيان لرل. دغه بهرني عسکر ټول ده ته وقف شوي وو او له پارسيانو سره يې مخالفت درلود. د جون پر ۱۹-۲۰ شپه نادرشاه د دوى ټول مشران راوغوښتل او ورته يې وويل: ((زه په خپل ګارد باندې باور نه لرم. ستاسو صداقت او وفاداري ماته جوته شوې ده. تاسو ته امر کوم چې سبا سهار ټول افسران توقيف او زولانه کړئ او هغه کسان چې مقاومت وکړي وربانده زړه سوى مه کوئ دا زما د ژ،ند د

مصونیت مساله ده او زه د خپل ژوند د بقا باور یوازې په تاسو کولی شم او بس.)) [۱۲]

ددغو افغانانو قوماندان احمد خان ابدالي و چې سملاسي یې د خپل واکمن د غوښتنو د ترسره کولو ژمنه وکه او د سهارنۍ کړاو لرونکي دندې لپاره د خپلو افرادو په چمتو کولو لګیا شو. د نادر خبرو څرګنده کړه چې ده د هغو پارسي افسرانو ژوبله غوښتله چې دی وربانديې بدګومانه شوی و. خو تقدیر نور څه پېښ کړل. د دوی خبرې یوه جاسوس واورېدلې او محمد قلي خان ته یې ورسولې او ده په خپل وار سره صالح خان ته په دغه باب خبر ورکړ او پرېکړه یې وکړه چې د حل یوازینۍ لار په جابر باندې د وژونکي ګوزار کول دي. د شپې په مهال د محمد قلي خان، صالح محمد خان، محمد خان قاجار، موسی بیګ افشار او قوجابیګ ګندوزلو په لاربښوونه او یا تنه مشران د نادر د خېمې لور ته روان شول(۵۷) تنه د ترور له ځای څخه بهر په لار کې ودرېدل، یوازې صالح محمد خان او محمد خان جرات وکړ چې دده خېمې ته ننوزي او له هغه سره لاس او ګرېوان شي. صالح محمد خان په خپله توره دی وواهه او یو لاس یې ترې پرې کړ. مخکې له دې چې نادر په ده باندې د برید لپاره راوګرځي محمد خان داسې یو وژونکې ګوزار پرې وکړ چې سر یې له تنې پرې شو [۱۳].

(۱۲ ) ((د بازین یاد داشتونه)) چې لاکهارت په خپل اثر (نادر شاه ۲۱۶مخ) کې رانقل کړي دي. په دغو افغاني مشرانو کې نورمحمد خان غلجایي او احمدخان ابدالی ......۸۳.

(۱۳ ) جهانکشای نادری، ۴۶۱مخ. مجمل التواریخ، ۱۴-۱۹، شاه نامه احمدیه، ۱۴، بیان واقعی ۱۲۵-۲۶، لاکهارت نادرشاه ۲۶۱-۶۲، مجمل التواریخ د نادر قاتل محمد بیک قاجار بولي.

د سيسه ګرانو هيله وکړه چې د نادر د مرګ خبر تر بل سهار پورې پټ کړي او په دې توګه پښتانه او ازبک به ښايي بې خبره وساتي، خو احمد خان په عين حال کې د حرم د يوې مينځې په واسطه د بي بي صاحبې له خوا يو پيغام ترلاسه کړ. شېرمحمد خان په خپل اثر ((انساب روساى ديره اسماعيل خان)) کې وايي چې د نادر کنده په يوه افغاني قبيله پورې تړلې وه. ده خپله ډله چې دري يا څلور زره وسله وال او هرې پېښې ته تيار ابداليان وو سره راغونډ کړل او د واکمن د حرم د ساتلو او دفاع لپاره يې د يوه کلک ګارد په توګه درول. په لومړي سر کې ده د نادر په مرګ باندې باور ونه کړ چې ايا په رښتيا هم دی وژل شوی دی. د هماغه ورځې په سهار ابداليان د نادر د خېمې لور ته ولاړل چې دده مړی وګوري او که امکان ولري له قاتل څخه غچ واخلي. دا وخت پارسيان د پاچا د کمپ په لوټولو بوخت وو. دوی په افغانانو بريد وکړ خو افغانانو دوی په شا وتمبول او له شاهي خېمې څخه تر روانېدلو دمخه احمد خان تصميم ونيو چې د نادر شاه له ګوتې څخه مهر واخلي او د کوه نور الماس او ځينې نور زېورات ترې ترلاسه کړي[(۱۴)].

(۱۴ ) حسين شاهی ۱۳، تاريخ احمد، ۱۰-۱۱، مجمل التواريخ ۱۹-۲۱، انساب روساى ديره اسماعيل خان ۸، تاريخ بلوچستان (کتاب اخوند محمد صديق) ۱۹۰-۷۵۳.

نادرشاه په عمومي توګه د کوه نور الماس د خپل ځانګړي مال په توګه له ځان سره ساته. لاکهارت ليکي: ((د سينګار په برخه کې دده ذوق ډېر ساده و، خو کله چې ده هند تالا کړ، نو ددې توان يې وموند چې له دې پلوه ځان بسيا کړي او له جواهراتو سره يې مينه زياته شوه)) ۲۷۴مخ. ده به معمولاً د کوه نور الماس په خپل مټ تړلی و.

لاکهارت دريو. بيربازين او يو شمېر نورو په حوالو وايي چې د احمدخان تر مشرۍ لاندې افغانانو د کندهار پر لور د تګ په لار کې هغه قافله ونيوله چې د نادر له کمپ څخه يې خزانه لېږدوله او لاکهارت فکر کوي چې احمدخان بايد په دې وخت کې د کوه نور الماس خپل لاس ته راوړی وي.) نادرشاه ۲۶۳مخ. د کندهار خواته د تللو پر وخت د احمدخان له خوا د خزانې قافله نيول هغسې بيان دی چې په درېيم فصل کې راغلی دی

ده دا وخت د واکمن مړي ته د وروستي ځل لپاره د درناوي سر ټيټ کړ. شاهي کمپ دا شببه دزياتو ګډوډيو او اله ګولو شاهد و. په داسې حال کې چې پارسي قزلباشان د پاچا د کمپ په لوټولو بوخت و، نو دا وخت نورې قبيلې د يو بل په چپاو او شکولو اخته شوې او د خپلو کورونو لور ته وخوځېدلې. د نادر د سا په ختلو سره هر څه واوښتل. سملاسي دده سر د قلي خان په واسطه د هغه وراره علي قلي خان ته واستول شو او د هغه د هيلو سره سم دده پاتې جسد د قتل په نهمه ورځ مشهد ته ولېږدېد او دلته په پنځلسمه ورځ په خيابان کې په هغه مړستون کې ښخ شو چې د همدغه منظور لپاره دمخه جوړ شوی و[15].

(همدا شان د درېيم فصل لسمه شماره لمن ليک وګورئ). لاکهارت وايي چې د کوه نور الماس قافله وال د نادر کمپ خوا ته تلل نه دا چې د کمپ له لوري يې الماس او نوره خزانه راوړله. که داسې وي، نو د کوه نور د الماس مساله چې د قافلې په خزانه کې و، دلته نه پيدا کېږي. (**)
(**)
غلام محمد غبار په خپل اثر ((احمدشاه بابا)) کې وايي چې د نادر ملکې د احمدخان د لوړو خدمتونو په مقابل کې چې نادر حرم ته يې کړی و، بل سهار ده ته يو شمېر سوغاتونه ولېږل چې د کوه نور الماس هم په هغو کې شامل و (۸۴مخ) دغه خبره د نورو باوري منابعو له خوا تاييد شوې نه ده او د يوه تاريخي حقيقت په توګه منل کېدلی نه شي.
(۱۵) بيان واقعي، ۱۲۶–۲۷مخ. د نادر پاتې جسد د تل لپاره دمشهد په دغه مړستون کې پاتې نه شو او د اغا محمد شاه قاجار په امر سره وايستل شو او تهران ته ولېږدېد، هلته دده د ماڼۍ تر دروازې لاندې ددې لپاره ښخ شو کله چې دی چېرې ځي نو دی به د خپل ځان او کورنۍ دغه ستر دښمن او ځورونکي د جسد خاورې تر پښو لاندې کوي). لاکهارت نادرشاه ۲۶۲مخ.

# دریېیم فصل

## انتخاب او تاج پر سر کول:

د نادر شاه مړینې د افغانستان په تاریخ کې نوی فصل پرانیست. هغه ستر شخص چې دا وخت ذکر ته راووت ابدالي احمد خان و ، ده ته په رښتیا هم د نوي افغانستان د پلار لقب ورکول کېدلی شي. ځکه هغه د لومړي ځل لپاره د یوه جلا افغاني سیاسي شته والي هیله وکړه (په حقیقت کې یې هغه رامنځته کړ) او خپل خلک یې د تسلط له خړ پړ غولي څخه د خپلواک سلطنت لور ته راجګ کړل.

افغانان د نادر د مړینې پر وخت خپل ځانونه له هرې خوا څخه د پارسي مخالفینو په منځ کې ښکېل شوي ولیدل. پارسیانو په دوی باندې ددې لپاره برید وکړ چې د شاهي خېمو پر لور د هغوی د رسیدلو کوښښونه ناکام کړي. کله چې افغانانو ته د غمجن حقیقت په باب قناعت حاصل شو نو یې دوباره د دښمن د لیکو په مینځ کې د په شا تللو لاره په زور خلاصه کړه او د احمد خان په مشرۍ یې ځانونه د هغوی له منګولو څخه وژغورل. د دوی بریالی واکمن ووژل شو او اوس د وفادارۍ اختلافونه موجود نه وو. دوی ته یوازې یوه لاره پاتې وه او هغه دا خپل مورني هېواد ته راستانه شي او د پردیو له جغ څخه د هغه ازادولو ته خپلې هڅې په کار واچوي.



دا

وخت افغانان د نورمحمد خان علیزي تر اعلی قوماندې لاندې وو، نوموړی د نادر د منصوب په توګه پر ۱۷۳۸کال د کندهار د نیولو له وخت راهیسې دا واګې په لاس کې درلودل، خو د مالسن په قول (د نادر په مړینه او کندهار ته د ټولو افغانانو د راستنېدو په ترڅ کې نه یوازې د دغه افغاني پوځي ټولګي موقف واوښت، بلکې د هغه ملت په سرنوشت کې بدلون راغی، چې دوی یې نماینده ګي کوله.

دوی ته د خپلواکۍ میدان خلاص شو. دوی په دغه شېبه کې د یوه پردي شاهزاده د اجیر ټولګي بڼه نه لرله، بلکې یو ملي لښکر و چې د نادر په تدبیر د کوشېر شوي او ارجل (نامتجانسې) ډلې په مقابل کې یې د مقاومت توان درلود، دداسې ډلې چې دده د کنټرول په مړاوي کېدو سره په یقیني توګه له منځه تلونکي وو. البته غلزیو او ابدالیانو د یوه پردي شاهزاده د پوځ د یوې برخې په توګه د خپل واکمن د منصوب د اوامرو اطاعت منلی و، خو د خاوند په مړینه سره دغسې پیروي او اطاعت دلیل له منځه لاړ او دوی د خپلواکو او ازادو افرادو په حیث دا نه غوښتل چې د یوه

داسې علیزي درناوی وکړي ))[1] چې د هغه اصلیت د دوی په نظر دومره درونډ نه و[2].

## تاریخي غونډه:

د یوه نوي مشر د ټاکل کېدو لپاره په بشپړه توګه اړتیا حس کېدله. دا خبره سمه ده چې له ځان څخه د دفاع د ضرورت پر اساس ابدالیان او غلزي د یوه واحد په توګه سره نږدې شوي وو او دا وخت دوی د یوې متحدې ډلې په څېر وړاندې تلل. خو دوی د سختو دښمنانو په یوه پردۍ سیمه کې وو. په دې سبب دوی په درېیم پړاو کې د یوې جرګې (د قبیلوي مشرانو شورا چې د مشرتابه د مسالې په اړه کې پرېکړه کوي) د جوړېدو لپاره تم شول. د ابن محمد امین عبدالحسین ګلستاني په حواله دوی داسې بحث وکړ: ((په دغه اوږده سفر کې موږ باید یو داسې څوک ولرو چې د هغه تر اوامرو لاندې خپل ځانونه سمبال کړو. له یوه ستر مشر څخه پرته به موږ ته ګرانه وي (نه ناممکنه) چې د قزلباشانو د خطر له امله د خپلو ټولو پوځیانو، ملاتړو او پیروانو سره یوځای ځانونه کندهار ته ورسوو. نو راځئ چې د یوه مشر د ټاکلو په هڅه کې شو چې د مقصد ځای ته تر رسېدو پورې د هرې پېښې سره مقابله وکړو)) دغه مساله په اسانۍ سره حل ته ونه رسېدله او هره یوه قبیله په دې لټه کې وه چې د خپل کاندید ادعاوې وړاندې کړي. اته ورځې پرله پسې غونډې روانې وې چې په جلا جلا ادعاګانو باندې بحث وشي. په نهمه غونډه کې د محمدزیو مشر حاجي جمال خان د رایو اکثریت لاسته راوړ خو اقلیت پیاوړی و او د تصمیم نیول لا ښخې لرې او ناممکن برېښېده. سدوزي ابدالي احمد خان چې اصل او کورنۍ یې تر ټولو لوړ و،


(۱) د افغانستان تاریخ، ۲۷۳-۷۴
(۲) فیریر، د افغانانو تاریخ، ۶۸.

په دغو ځوړ ناکو غونډو کې حاضر او په ډېره سره سینه سره یې دغه ټولې خبرې واورېدې. د صابر شاه په نامه یوه ملنګ په داسې یوه مناسبه ګړۍ کې د احمدخان ادعا وړاندې کړه چې نور ټول وینا کوونکي مشران له اوږدو او تودو خبرو څخه ستړي شوي وو. ده وویل: ((د څه لپاره دومره اوږدې خبرې! خدای احمدخان له تاسو هر یوه څخه ډېر ستر پیدا کړی دی. دده کهول تر ټولو نورو افغانانو درونددي نو د خدای امر ومنئ که تاسو ورڅخه سرغړوئ نو په غضب به یې اخته شئ.)) حاجي جمال خان چې ډېر متنفذ سردار و او داسې هم معلومه شوه چې ډېرې رایې ورته موجودې دي، سملاسي د سدوزي د ادعا حقانیت او لوړتیا ته غاړه کېښوده. د احمد خان شجره په مستقیمه توګه سدو ته رسېږي، چې نوموړی د لوی شاه عباس له خوا د سفیر په حیث او د حاجي جمال خان ورنیکه د سفارت په هیات کې یوازې د غړي دنده لرله. همدا شان د احمدخان دویم ورنیکه د سدوزي خواجه خضر دی چې د پښتني قبیلو یو منلی پیر و. وروستی خو بیا هم غوره خبره داده چې دده مخکیني پلرونه د ابدالیانو مشران او د مشرتابه مقام ته رالوړ شوی و. نو په همدې سبب د احمدخان د لوړو ادعاوو په مقابل کې حاجي جمال خان له خپلو غوښتنو څخه د هغه په ګټه تېر شو او د خپلې اغېزناکې وینا په ټول قوت سره یې دده د انتخاب ملاتړ وکړ چې دغه چلند په افغانانو کې دده لپاره عمومي محبوبیت پیدا کړ.

دا هم باید وواېو چې ملنګ صابر شاه د نادر له قتل څخه درې ورځې مخکې د نظام الملک په خبر د احمدخان د پاچا کېدو اټکل کړی و. په هغه ورځ چې نادرشاه د وروستي ځل لپاره له خابو شان څخه راوګرځېد او خپل کمپ (خېمې) یې ودرولې، نو دا وخت یوه ملنګ چې وړینه خولۍ یې پر سر وه له احمدخان سره کتنه وکړه او د نادرشاه قدرت ته له پام کولو او

وبرېږ پرته يې ده ته وويل: ((زه ستا په څېره کې د پاچاهۍ نښې وينم ماته يو نخي ټوکر راکړه کله چې مې ځو خېمې او يو لوی شاهانه تجير ترې جوړ کړ، نو هغه وخت به زه تاته دوعا وکړم او ته به ډېر ژر د پاچاهۍ تاج پر سر کړې)). څرنګه چې احمد خان خوش باوره و نو د پير غوښتنې يې ومنلې او ورپسې نوموړی پير داسې برېښېده چې د ماشومانو په څېر د وړو خېمو په درولو باندې اخته او د قران پاک ايتونه تلاوت کوي. کله چې دربېمه ورځ راغله نادر ووژل شو. احمد خان ملنګ ته د يوه مبارک ولي په حيث چې راتلونکي اسرار يې اټکل کولی شول قايل شو او دې ته يې پام واړاوه چې د خپل راستنېدو پر وخت هغه له ځان څخه شاته پرې نه ږدي او ور څخه جلا نه شي. ملنګ احمد خان دې ته راوباله چې خپل ځان پاچا اعلان کړي خو احمد خان د سترې قبيلوي جرګې تر پرېکړې پورې په دې باب زړه نازړه او شکمن و[۴].

(۴) مجمل التواريخ، ۷۴ د ۲۵.
د حسين شاهي اوورپسې تاريخ احمد په حواله د صابرشاه پيشګوي د نادر له مړينې څخه درې کاله وړاندې شوې وه، خو د ابن محمد امين مجمل التواريخ په دغه برخه کې زيات باوري برېښي. فيرير د خپل اثر ((د افغانانو تاريخ) په ۶۸ مخ کې وايي چې د افغاني مشرانو غونډه د شيخ سرخ په زيارت کې چې د نادر اباد (د کندهار په پنځه دېرش ميلي کې اوسنی کشک نخود) په کلي کې پروت دی، جوړه شوه.



Mausoleum of Sher-i-Surkh.

Where Ahmad Shah was elected and crowned as Shah

## د احمد خان پاچا کېدل:

دی بیا هم شکمن وبرېښېد او د خپلې ناتوانۍ معذرت یې وړاندې کړ، ښایي دا عجز به ده په ځان کې د پاچاهۍ برم لپاره د ضروري وړتیاوو او شرایطو د نه لیدو پر اساس تقدیم شوی اوسي. خو صابر شاه ملنګ دا سې یو سړی نه و چې په اسانۍ سره له خپلې خبرې څخه وګرځي. دا وخت ده ولیدل چې افغاني مشرانو او قبایلي خلکو د احمد خان له انتخاب او پاچا کېدو سره علاقه وښودله نو له دغه حساسې شېبې څخه یې استفاده وکړه او په دغه ځای کې یې د خاورو یوه چوتره جوړه کړه احمد یې له لاس څخه ونیو په هغه جګ ځای باندې یې کېناوه ورپسې یې وویل:

((دا ستا د پاچهۍ تخت دی)). بیا یې له نږدې پټي څخه د اوربشو وږی راوشکول او دده په لونګۍ یې وتومبل او زیاته یې کړه: ((انشاء الله دا به خدای ستا د تاج جوغه کړي)). په پای کې ملنګ ددې لپاره چې مراسم بشپړ کړي نو یې اعلان وکړ: ((اوس نو ته دردوران پاچا یې.)) خو احمد خان دا نوم اصلاح کړ او دا یې غوره کړه چې خپل ځان در دران (د مرغلرو یوه مرغلره) او خپله ابدالي قبیله دراني وبولي[5].

---

(۵) مجمل التواریخ، ۷۴-۷۵، حسین شاهي، ۱۳-۱۴، تاریخ احمد، ۱۱-۱۲، بیان واقعي، ۱۳۱- ۳۲، سئیر المتاخیرن، ۸۶۰-۸۶۱، صولت افغاني ۳۴۱-۳۴۲، فیریر د افغانانو تاریخ، ۶۸-۶۹، مالسن، ۲۷۳-۷۵، سرکار د مغولو د امپراتورۍ زوال، دویم ټوک، ۲۰۳-۲۰۴.

د صابر شاه کیسه د احمدشاه دراني د وخت ټولو لیکوالو په ډېر لږ توپیر سره راوړې ده. د بیان واقعي او همدا راز د تاریخ سلطاني، ۱۲۳ مخ په حواله ملنګ صابرشاه کوم چې دی ورته بابا صابر وایي اصلاً په پنجاب کې د لاهور اوسېدونکې دی، چې د اسونو د نعل بند کار یې کاوه. دده اصلي نوم رضا شاه و او صابرشاه یې د درویش یا ملنګ په شان لقب و. دغه را مرات افتاب نامه، ۱۵۸ب وګورئ. د صابرشاه رور باقرشاه نومی په ۱۲۱۲هـ کې په پېښور کې اوسېده او له افغاني دولت څخه په کال کې پنځه زره روبۍ ورته رسېدلې. د تاریخ حسین شاهي مولف امام الدین

دا طبيعي ده چې احمد خان صابر شاه ته ډېر زيات احترام درلود. د تاريخ حسين شاهي مولف امام الدين حسيني د کابل نواب ناصر خان په حواله چې دده په هکله به په راتلونکو پاڼو کې زيات څه وواېو ليکلي دي: ((زه يوه ورځ د احمد شاه دربار ته لاړم. ما وليدل چې احمد شاه په تخت ناست و او يو لوڅ لغړ او په خاورو لړلی ملنګ يې په غېږ کې غزېدلی و. ملنګ په وار وار هغه له پزې او غوږو څخه راونيو او کش يې کړ او ويې ويل: ((او افغانه ګوره ته ما پاچا کړی يې او احمد شاه په داسې حال کې چې سر يې کښته اچولی و له ده سره په ډېره مهربانۍ خبرې کولې. کله چې ما د خوني له خلکو څخه دد غه ملنګ دنامه پوښتنه وکړه، دوی راته وويل چې دا ملنګ صابر شاه نومېږي[۲].

# د خپلواکۍ اعلان:

د افغاني مشرانو په دغه ستره غونډه کې يوه بله غوره موضوع چې ټولو له کوم اختلاف پرته ورسره موافقه وکړه، فيصله شوه او هغه دا وه چې له پارس سره اړيکې پرې شي او د يوه خپل پاچا لاندې افغانان خپله خپلواکي

---

حسيني په خپله له ده سره پېژند ګلوي درلوده او ويلي يې دي چې نوموړی د ښه استعداد خاوند و. حسين شاهي ۱۵-۱۶. شير محمد خان په خپل اثر ((انصاب وساى ديره اسماعيل خان))، ۳۱ب کې وايي: ((هغه پير چې احمد خان ته يې د در دوران لقب ورکړ د څمکنيو حضرت عمرو.))
د فيرير، ۶۹ مخ په حواله ملنګ د شيخ سرخ (کلمه اصلاً شېر ده نه شيخ، دا يوه اشتباه ده) د زيارت مجاور و چې دا ځای د کندهار په پنځه دېرش ميلۍ کې د نادر اباد په کلي کې موقعيت لري. فيرير وايي چې افغاني مشرانو له ايران څخه د راستنېدو وروسته په دغه محل کې د مشر د ټاکلو لپاره تاريخي غونډه جوړه کړه. تاريخ سلطاني، ۱۲۲ مخ. د ((شاه نامه احمديه)) مولف نظام الدين عشرت په دغه وخت کې د صابر شاه ذکر کړی نه دی. دغه پورتنی بيان چې له متضادو موادو څخه حاصل شوی دی ډېر زيات احتمالي او شکمن برېښي.
زه فکر کوم چې د افغاني مشرانو جرګه چې احمد يې د مشر په توګه وټاکه د کندهار په خوا د ستنېدو په لار کې جوړه شوې وې او د تاج پر سر کولو مراسم به د شېر سرخ په مړستانه کې چې د کندهار په سويل ختيځه دوه ميلۍ کې په نادر اباد کې پروت دی، په ځای شوي وي.
(۶ ) حسين شاهي، ۱۵.

اعلان کړي. سره د دې چې په رسمي توګه يې تاج پر سر کړی نه و، خو بيا هم احمد خان د يوه بشپړ تاج لرونکي په توګه د غوره مقرريو کار ته اقدام وکړ. باميزي شاه ولي خان ته يې د اشرف الوزرا لقب ورکړ او د صدراعظم په توګه يې وګوماره.

سردار جانخان چې ورپسې يې په جهان خان شهرت درلود د جنګ وزير او سپهسالار په حيث او شاه پسند خان يې د لښکر د قوماندان يا امير لښکر په توګه مقرر کړل. په همدې ډول نور زيات شمېر سرداران لکه برخوردارخان، عبدالله خان او نورالدين يې د نوي جوړ شوي دولت لوړو مقامونو ته په اوچت کولو سره سرلوړي وګرځول[۷].

احمد خان د کور لور ته د درې يا څلورو زرو افغانانو د مشر په توګه راوخوځېد. دا وخت هرات د نادرشاه د يوه پارسي استازي له خوا اداره کېده. څرنګه چې احمد شاه دومره پياوړی شوی نه و چې دغه ځای له هغه څخه واخلي او همدا شان د خپلو ملګرو په وفادارۍ باندې هم پوره ډاډه نه و، نو له دې امله يې وغوښتل خپل غوره هدف يانې کندهار ته په هر ډول ممکنه وسيله ژر ځان ورسوي او د هرات د نيولو مفکوره سملاسي پرېږدي. په دې ډول په مخامخ توګه د کندهار په لور وخوځېد. له فراه سره نږدې څو زره پارسي لښکر يې مخې ته ودرېد خو هغه يې په اسانۍ سره په شا وتمباوه او له کومه خنډه پرته په ټاکل شوې لار کندهار ته ورسېد[۸].

---

(۷) حسين شاهي، ۱۴ تاريخ احمد، ۱۱-۱۲، شاهنامه، ۳۸-۳۹.
(۸) حسين شاهي، ۱۴، تاريخ احمد، ۱۱-۱۲، شاهنامه ۳۴-۳۵.

## احمد شاه په کندهار کې:

له نېکه مرغه کندهار ته د احمد خان له رسېدو څخه يوه ورځ مخکې په سند او پنجاب کې د نادر بيګلر بيګي تقي خان شېرازي[9] د لاهور د نواب ذکريا خان استازی، محمد سعيد او د کابل نواب ناصر خان د دوو کروړو په ارزښت له يوې خزانې، الماسو او شالونو سره چې د يوې افغاني ساتونکي ډلې په درې سوه اوښانو بار وو، راورسېدل. دغه خزانه نادر ته وړل کېدله او ساتونکو د څو ورځو استراحت لپاره په ښار کې واړول چې هېڅ بل شی د دغه خبر د اورېدلو په څېر خوشاله کولی نه شو، نو ده سملاسي جارچيان ددې لپاره ولېږل چې د نادر د مرګ اوازه او د افغانانو د خپلواکۍ پاچاهۍ د پاچا په توګه د خپل انتخاب اعلان خپور کړي[10].

ورپسې ده دغه بدرګه، هاتيان او مالونه ونيول او د خپلو افسرانو، لښکريانو او د دولت نورو کارکوونکو ترمنځ يې ووېشل. فيرير وايي چې: ((دده دا ستر سخاوت د هغه د راتلونکي ژوند په برخه کې د هغه د ټولو شخصي محسناتو او تقوا او اصالت په پرتله ډېر اغېزمن و. زيات شمېر هغو قبيلو چې دده انتخابات لا تراوسه په يقيني توګه منلی نه و، خو مشرانو يې له سخاوت څخه استفاده وکړه ټولو خپل ځانونه په ده پورې

(۹) شېرازي يوازې په يوه سترګه ليدل کولی شول او يوه سترګه يې لرله او د ړانده خطاب ورته کېده. تذکره انندرام، ۲۳۵.

(۱۰) د بيان واقعي په حواله، ۱۳۰ مخ. دغه خزانه له کندهار سره نږدې د نورمحمد خان، کدوخان او نورو مشرانو له خوا تالا او ددوی ترمنځ ووېشله شوه. احمدشاه دوی بنديان کړل چې هغه بېرته ورکړي. زه د فيرير د ارقم چې الماس، شالونه او نور شيان هم په کې شامل وو، تاييدوم. عماد – السادات ټوله خزانه لس لکه اشرفۍ ښودلې چې د الماسو او شالونو په ګډون په رښتياني توګه دوو کروړو ته رسېږي.
سايکس په خپل اثر (د پارس تاريخ، ۳۷۰مخ) کې ليکي چې د جواهراتو په لړ کې د کوه نور نامتو الماس هم شامل و، خو دا خبره له حقيقت څخه لېرې برېښي. په دغه برخه کې د زيات تفصيل لپاره مجمل التواريخ باوري دی. دغه راز د دويم څپرکي لمن ليک وګورئ.

تړلي وګڼل او ده د هغوی له دغه ګډ احساس څخه د خپل قدرت د پیاوړي کېدو لپاره کار واخیست. ده د خپل سلطنت په لومړي کال له دوی څخه ډېر ستر لښکر برابر او بالاخره د کابل د نیولو په نیت روان شو.))[۱۱] احمد خان له محمد تقي خان سره ښه رویه وکړه او نوموړی له خپلو نورو قزلباشانو سره دده په خدمت کې شامل شو. تقي خان د خپل نوي واکمن په غوښتنه په کابل کې او پنجاب کې د نادر یو زيات شمېر قزلباشان راوغوښتل او دده د ملازمت لپاره يې وهڅول. خو ناصر خان دا سې سړی نه و چې ډېر ژر تسلیم شي، نو ځکه تر نظارت لاندې ساتل کېده[۱۲].

په دې ډول د افغانانو ملاتړ راجلب شو او سره متحد وګرځېدل او یو شمېر تازه پارسي سربازان دده په خدمت کې شامل کړل شول. ورپسې احمد خان د کندهار ښار ته رادمخه شو. مشران د هغه د ښه راغلاست لپاره راووتل او په هغو کې یو شمېر يې دا سې کسان وو چې هغوی خپل قدرت له لاسه وتلی وشمېره، نو ځکه يې د احمد خان په مقابل کې توطیه جوړه کړه خو دا دسیسه دمخه درک شوې وه او احمد خان د خبرو اترو په وخت کې یو سردار چې د مذاکرو او مصالحې دنده ورسپارل شوې وه، له لاسه ونیو او د پوښتنې ځای ته يې بوت او هلته يې د هاتي تر پښو لاندې واچاوه[۱۳].

د هماغه قبیلې دوه نور مشران هم په چاړه ووهل شول. اوس نو لاره خلاصه او دی په یوه ستر قوت سره ښار ته ورننوت.

---

(۱۱) دافغانانو تاریخ، ۷۰.

(۱۲) بیان واقعي، ۱۳۰-۱۳۱، حسین شاهي، ۱۵. مجمل التواریخ ۷۵، تاریخ احمد ۱۲-۱۳، فیریر ۶۹-۷۰ مالسن، ۲۷۵-۷۶.

(۱۳) د هغو کسانو په لړ کې چې دا وخت د احمدشاه په امر په کندهار کې ووژل شول د عبدالغني نوم شامل وچې دده ماما کېده او دا هغه څوک و چې نادرشاه په ۱۷۳۸م کې هغه ته د کندهار حکومت ورسپارلی و. دانندرام تاریخ، ۲۳۳ مخ وګورئ.

## د تاج پر سر کولو مراسم:

د کندهار واکمن احمدخان اوس په ډاډه زړه خپل ځان د افغانانو د پاچا په توګه مستقر وګاڼه. د ۱۷۴۷م کال د جولای په سر کې د کندهار په یوه جومات کې يې په رسمي توګه تاج پر سر کېښودل شو.(۱۴) ((د تاج پر سر کولو مراسم يې ډېر ساده او یوه مولوي د نوي پاچا پر سر یوه اندازه غنم وشيندل او راغونډ شویو افغانانو ته يې اعلان وکړ چې دی د خدای او ملت له خوا غوره کړ شوی دی. )) فيرير ليکلي دي: (( د شاهانه قدرت د منصب د ورکولو دا شان سمبوليک او رمزي دود د نولسمې پېړۍ له نيمايي وروسته تر نن ورځې پورې د افغاني قبيلو په منځ کې د مشر د ټاکلو په ترڅ کې موجود دی. دغه دود له دې امله غوره دی چې ښايي د هغه چا له کړو وړو څخه دوی ته خير او برکت ورسېږي، چې دوی ورته قدرت سپارلی دی. )) احمدخان ورپسې د ((در دران)) سربېره چې دمخه مو ذکر کړ، د شاه لقب ځان ته انتخاب او له هغې وروسته د احمدشاه دراني په نامه يادېده. ده دا امر هم وکړ چې د ابدالي پر ځای دې د دراني نوم د هغه د قبيلې لپاره د نغارې په ذريعه اعلان شي او هم هېڅوک هغه بايد په زاړه نامه ياده نه

(۱۴ ) فيرير د احمدشاه تاج پر سر کول د ۱۷۴۷م کال په پای کې ښيي او ناش هغه د ۱۷۴۷م کال اکتوبر بولي (په افغانستان کې د جنګ تاريخ). د انندرام په تاريخ کې د احمدشاه له خوا يو مکتوب د محمد حسين اپريدي په نامه راغلی چې په هغه کې دی د خپلې تاجپوشي نېټه د ۱۱۶۰هـ د رجب د مياشتې اتلسمه (د ۱۷۴۷م کال د جولای پنځلسمه) يادوي. ددغه بيان له مخې دا پېښه د ۱۷۴۷ کال د جولای په اخر کې ګڼل کېدلی شي.
ددغو ټولو موادو په مطالعه کولو سره دا فکر کوم چې د احمدشاه تاج پرسر کول به د کندهار په سويل ختيځه دوه ميلي کې د نادراباد د شير سرخ په زيارت کې صورت نيولی وي. غبار احمدشاه بابا ۸۵-۹۰مخ.

کړي[۱۶]. لکه چې په دغسې مواردو کې رواج ده، سکې د احمد شاه په نامه ووهلی شوې چې دغه لاندې فرد په کې کښل شوی دی:

حکم شد از قادر بیچون په احمد شاد شاه

سکه زن برسیم وزر از اوج ماهی تا بماه

دده د رسمي فرمانونو په مهر باندې دغه کلیمې کیندل شوې وې:

الحکم الله یا فتاح احمد شاه در دران

په پای کې یې د یوه طاووس انځور هک شوی و. دده د ګوتې مهر د صراحي بڼه درلوده. احمد شاه له خپله جلوسه وروسته دا غوره وګڼله چې د نواب ناصر خان خوشې کولو ته اقدام وکړي او د کابل حکومت بیا ورته وسپاري، خو سره له دې هم دی داسې بریښېده چې د دراني لپاره به یو منلی استازی ونه ګرځېدی شي. له ده څخه وغوښتل شول د ښه چلند د تضمین په خاطر خپل زوی په کندهار کې د برمتې په توګه پرېږدي. دا هم ویلی شوي چې نواب موافقه وکړه. په خپله خوښه یا په بل شان خپل لور احمد ته د پنځه لکه روپیو باج په ګډون په نکاح ورکړي[۱۸].

## د استحکام پیل:

وریسې احمد شاه په مخکې دوه سترې مسالې لرلې چې هغه باید حل کړي دغه مسالې دا وې:

(۱۶) طهما سنامه، ۶۱، شاه نامه احمدیه، ۳، فیریر، ۹۳.

(۱۸) ملخص التواریخ، ۳۶۵، عمده التواریخ، لومړی ټوک ۱۲۵، رساله نانک شاه، ۱۲۱، صولت افغانی ۲۴۴۰.

د افغاني قبيلو تنظيم او د سلطنت استحکام. دا هم سمه ده چې دده په ذهن کې د نادرشاه د پارسي مودل تجربه موجوده وه په بله وينا دده پر وړاندې د نادرشاه پارسي مودل د پيروۍ لپاره موجود و، خو د احمدشاه د پاچا کېدو پر وخت دلته کټ مټ هغسې شرايط نه ليدل کېدل لکه په ايران کې چې د نادرشاه د جلوس په وخت کې موجود وو، نو ځکه دا به اسانه نه وه چې افغانان د پارسي بڼې په چوکاټ کې راوستل شي. پارسيان له پېړيو راهيسې په دې عادت وو چې د يوه مستبد حکومتي سيستم بشپړ اطاعت وکړي، په دې سبب نادر له کوم مخالفت پرته يوې منظمې او مستقرې پاچاهۍ ته ورسېد، چې دغه حالت په خپله دده لپاره وړ شرايط برابر کړل.

(له بلې خوا احمدشاه دداسې جنګياليو او ازادو خلکو په منځ کې د سلطنت په ټينګولو مکلف و چې هغوی د نادر له پاچاهۍ څخه چې په جبري ډول يې اطاعت ته مجبور کړي وو، لنډه تجربه درلودله، نو په دوی باندې دده له خوا په زور واک ټينګول هغوی ته د خوښۍ پرځای لا کرکه پيدا کوله. دا هم ممکنه ده چې دوی له برابرۍ سره د هغې مينې له امله چې د هغوی په وينه کې يې ځای درلود د خپل ملت د يوه کس د لوړتيا په مقابل کې د يوه جابر پردي په پرتله زيات کينه ناک واوسي. له دې امله دی مجبور و چې خپله لاره وټاکي.

څرنګه چې دی يوه افغان پيدا و او د افغانانو په منځ کې لوی شوی و، نو د کلک هوډ او بېساري ځيرکتيا په لرلو سره يې په ښه توګه لومړی مساله حل کړه. ده دا درک کړه چې افغاني مشران په ډېره چېچلي توګه د خپلو ميراثي قبيلوي حقوقو ساتونکي دي، له دې امله ده له هغوی سره د غرض

نه کولو تصمیم ونیو او پرته له دې چې د قدرت ټولې منابع په خپل لاس کې ونیسي، په قبیلوي مشرانو باندې یې د فیوډالي سیستم له لارې حکومت چلول پیل کړل. ده پرته له دې چې د قبیلو په موجوده اداره کې څه مداخله ولري، ټولې یې د خپلو مشرانو تر واک لاندې ازادې پرېښودلې. مشران ده ته د جګړې پر وخت د یوې ټاکلې اندازې پوځې مرستې په ورکولو مجبور و او مرکزي حکومت هغوی ته د خپلو خدمتونو په مقابل کې د یو څه معاش په ورکړې باندې مکلفیت درلود.

ددې لپاره چې په لومړي پړاو کې د خپلې قبیلې نږدې مرسته چې په هغې باندې ده د خپلې واکمنۍ د ټینګولو په برخه کې زیاته ویسا کولی شوه لاسته راوړی نو درانیانو ته یې د خپلو ځمکو پخوانی ملکیت تایید کړ اوله هغې پوځې ونډې پرته چې نادر ټاکلې و له دوی څخه نور څه ونه غوښتل شول. ده دراني مشرانو ته په نوي دولت کې سترې څوکۍ ورکړې او دغه مقامونه یې د هغو په کورنیو کې میراثي وګڼل. ده د خپلې پښې او خېل د افرادو یانې سدوزیو قدر وکړ او د هغه برم چاپېریال یې نوره هم پراخه کړ، چې د سدو او خوجه خضر د اولاد لپاره موجود و.

ده نورو قبیلو ته هم په دې شان وکتل او په پراخې نظریې او زړه سوي سره یې هڅه وکړه چې ټول سره نږدې کړي او هغوی یې د یوه متجانس وجود په توګه سره واوډل. ددې لپاره چې په دوی کې له خپل آرې پاچا سره د نږدې کېدو او تړل کېدو روحیه پیدا کړي، نو یې په خپل هر عمل کې د وطن پالنې نښې نښانې له ځان څخه وښودلې. دی داسې یو پاچا و چې افغاني

واکمنۍ یې پراخه کړه، افغاني ملت یې منځته راوړ او افغاني عقیدې او نظریې یې خپرې کړې.

په همدې روحیه ده تل په ازادو او خپل سرو قبیلو باندې له برید کولو څخه ډډه وکړه او دا به یې ویل چې دی هېڅکله هیله نه لري په خپلو هېوادوالو باندې کوم کړاو راولي. د دغه لوړ احساس په سبب ده د پخواني کوټوال محبت خان، ښاروال نورمحمد خان او د نادر له خوا په کندهار کې د لښکر قوماندان ګدای خان په مغرضانه فعالیتونو باندې سترګې پټې کړې او هغه وخت یې د هغوی د مجازاتو لپاره اړتیا پیدا کړه چې د دولت استحکام ته یې په ښکاره توګه زیان پېښ کړ او له خپلو حدودو څخه یې پښې بهر وغځولې(١٩).

د دې لپاره چې دی ټولې قبیلې په دغو ملي احساساتو کې له ځان سره ملګرې کړي، نو په لومړي پړاو کې یې دا اړتیا لرله چې د هغوی د مشرانو زړه په لاس کې ونیسي. په دې اساس ده د نهو افغاني مشرانو شورا پرانیستله او د هغو له سلا پرته یې په کوم غوره اقدام لاس نه پورې کاوه.

الفنسټن وایي: په هېواد کې د ننه د ده د قدرت ټینګتیا تر زیاتې اندازې د هغه د بهرنیو جګړو په نتیجو پورې تړلې وه. کله چې به هغه بریالی وي، نو د ده اعتبار به هم ورسره زیاتېده او فتوحاتو به ده ته د یوه پوځ د ساتلو او په مکافاتو او مهربانۍ سره د افغاني مشرانو د پیوستون وسایل برابرول.

(١٩) ګلستان رحمت، ١۴۶.

د غنایمو په هیله ډېر شمېر هغه قبیلې ورسره یوځای شوې چې د هغوی ایل کول په اسانۍ سره ممکن نه وو: پوځ ته د زیات شمېر قبیلوي افرادو په راکښلو سره ده دا توان وموند چې د دوی له زیاتوالي او حتی په قبیلو کې د هغوی د نفوذ له خوندي پاتې کېدو څخه مخنیوی وکړي او د پوځي اطاعت خوی د دوی دې ته چمتو کول چې په دننه کې خپل حکومت ته په خوښۍ غاړه کېږدي. همدا شان پوځیانو به تل خپل پاچا له نږدې څخه لیده او هغه ته یې د خپلو میراثي مشرانو غاړه ایښودنه مشاهده کوله او دغه کار دوی ته دا ورزده کول چې هغه د ملت د مشر په حیث وګڼي. دی هیله من و چې دده ولسي خویونه، زړورتوب، کره وړه یا فعالیتونه، ویښتیا او دده نور پوځي صفتونه به د ټولو ډلو احترام جلب کړي او دده پوځیان به شخصاً له ده سره په کلکه توګه ونښلوي. ) )[٢٠]

د ګاونډیو هېوادونو حالت هم په همدغه شان مناسب ګڼل کېده. د هند او اوزبکو امپراتوري د نادر په واسطه له شوکت څخه غورځېدلې وې او ویجاړې پرتې وې. جنګیالي بلوڅان ایل شوي وو او د دوی له خوا د کوم مخالفت وېره موجوده نه وه. حقیقت دادی چې دغو خلکو ددې پرځای چې له یو بل سره اتحاد وکړي، دا غوره وګڼله چې له افغاني ګاونډیانو سره پیوستون ومومي. د ایران لمر هم د نادر په مړینه سره په وریځو کې څلور پلوه پټ شو او په سیاسي افق کې یې د بیا ختلو هیله موجوده نه وه.

نو دا وو هغه شرایط چې په افغانستان کې د احمدشاه د پاچا کېدو او د هغه د فتوحاتو پیل کېدو پر وخت یې استقرار درلود.

---

(٢٠ ) کابل، دویم ټوک ٢٨٣ –٨۴، فیریر ۶٩ –٧٠، مالسن ١٧۶٠ –٧٧.

# څلورم فصل

## د کابل او پېښور نیول:

د افغاني قبیلو په دلاسا کولو سره احمدشاه هغه اقدامات په ډېره بریالۍ توګه سرته ورسول، چې ده پر تخت کېناستلو پر وخت تر اجرا لاندې نیولي وو. له هرې خوا څخه جلبیان راټول شول او دده پوځ په لنډ وخت کې څلو ښتو زرو تنو ته ورسېد چې د یو شمېر قزلباشانو په ګډون د ابدالیو او غلزیو له ټولو پښو او خېلونو څخه جوړ شوی و.

## د کابل نیول:

د افغانستان په څېر کوم بل څه دومره غوره نه و، نو په دې توګه دده لومړنۍ دنده دا وه چې په سیاسي لحاظ بېلې بېلې افغاني سیمې سره متحدې کړي. هرات یې یوې بلې موقع ته پرېښود او تصمیم یې ونیو چې له غزني او کابل څخه پیل وکړي. ددې لپاره دلیلونه هم موجود وو. لکه چې موږ ولیدل د کابل نواب ناصر خان[1] خوشې شو او د کابل ولایت د حکمران په توګه منظور شو.

دی یو جالب او د سمه کار سړی و او لکه چې راتلونکو کړو وړو وښودله د هېڅ یوه شریفانه عمل قدرداني یې ونه کولی شوه. سره له دې چې د خپل ښه

(۱ ) دده اصلي نوم ناصری خان و. دی د هند د امپراتور اورنګزېب د سلطنت په دوران کې د کابل حکمران و، ناصر خان د محمد امان زوی دی چې پر ۱۱۲۹هـ ۱۷۱۷م کې د خپل پلار تر مرګ وروسته د کابل صوبه دار شو او د محمدشاه د سلطنت په دویم کال کې یې د پلار لقب ناصر خان حاصل کړ. د زیاتو تفصیلاتو لپاره معاصر الامرا، دریم ټوک ۴۳۳-۳۵، احمد یادګار، سلاطین افغاني، ۲۵۰ او همدارنګه طهماسنامه او تاریخ علي وګورئ.

سلوک د تضمین په خاطر یې خپل مشر زوی د یرغمل په توګه احمد شاه ته پرېښود ، بیا یې هم خپلې ژمنې ترسره نه کړې. د یوه روایت له مخې دی کابل ته له ستنېدو وروسته د بر ژر د ډیلي د محمد شاه په امر پېښور ته لاړ او هلته یې د خپل پاچا د پلانونو پر خلاف په لښکر ټولولو پیل وکړ. دی پخوا د محمد شاه له لوري په کابل کې حکمران و خو کله چې د غه ولایت نادر ته انتقال شو ده ته اجازه ورکړل شوه چې د هغه حکومت ته دوام ورکړي. ده دا وخت په کابل کې د نادر د ځای نیوونکي په توګه د احمد شاه له پېژندنې او هغو ژمنو څخه سترګې پټې کړې چې د خوشې کولو په وخت کې یې کړې وې او ددغو ټولو ترڅنګ یې د مغولو د یوه پلوي په توګه خپل ځان اعلان کړ. وایي چې ده په کندهار کې د یوه زنداني په حیث د بې وسۍ او بېوزلۍ له امله خپله لور په نکاح ورکړه. د کابل افغانانو چې وروسته یې له ده (ناصرخان) سره بې وفایي وکړه خپله ناتواني د پنځه لکه روپیو په ورکړه باندې چې ورباندې موافقه شوې وه له ځانه وښودله. دوی ناصرخان له درانې سره جګړې کولو ته وهڅاوه، په دې ډول ناصرخان هغه پنځه تنه درانې محافظین چې له ده سره د پیسو د اخیستلو په منظور راغلي وو ببرته واستول او په خپله یې د پوځي تیاري لپاره پېښور ته مخه وکړه[۲].

احمد شاه د خپل سلطنت په هماغه لومړي سر کې ددغسې یوې سپک نظرۍ زغم ونه کړی شو. له دې امله له یوې سترې قوې سره د ناصرخان مقابلې ته وروخوځېد. د غزني حکمران چې د نادر له خوا ګومارل شوی و، د احمد شاه د مخې د بندولو لپاره راووت، خو ماتې یې وخوړله او له لارې

(۲ ) سیرالمتاخرین دریيم ټوک، **۲۵۳**، عمده التواریخ، لومړی ټوک، **۱۲۲**، رساله نانک شاه، **۱۲۰-۱۲۱** ملخص التواریخ، **۳۵۶**.

لیرې کړل شو او دغه ځای یې له ډېر زیات مقاومت څخه پرته تر تسلط لاندې راغی. ناصرخان دا وخت په پېښور کې د تجهیزاتو په برابرولو لګیا و چې له درانيي سره مقابله وکړي. ده په داسې حال کې چې مغولي امپراتور ته یې ځان تسلیم کړی و د پیسو او پوځي مرستې غوښتنه یې له خپل واکمن څخه وکړه. همدا شان ناصر خان له اوزبیکي او هزاره قبیلو څخه جلبیان راټول کړل. له بلې خوا احمدشاه د خپل سلطنت له لومړي سر څخه ټولو افغاني مشرانو ته لیکونه واستول او هغوی یې ملي احساس ته راوپارول. دغه راز دی د کابل له افغانانو سره چې په ښکاره توګه یې ده ته د مرستې ډاډ ورکړی و، مفاهمې ته داخل شو، یانې چې دوی به د افغان پر ضد د مغلو لپاره ونه جنګېږي. حتی د کابل بالاحصار یو شمېر غوره پارسي کورنۍ هم له احمدشاه سره پټ تفاهم ته ورسېدلې او کابل ته د احمدشاه په رسېدو سره یې له هغه سره دډغو ژمنو په مقابل کې لاس یو کړ چې ((د هغوی مشرانو ته به دولتي مقامونو کې برخه ورکړل شي، د پاچا له سوغاتونو څخه به ګټه واخلي او په هر شي کې به له دوی سره د برابرۍ له مخې چلند کېږي.)) د ناصرخان مرستیال د څه وخت لپاره د مرکز څخه دفاع وکړه، خو د احمدشاه سره د افغانانو د درېدو له امله دده ټولې هیلې شنډې شوې او له خپل واکمن سره د یوځای کېدو په خاطر پېښور ته وتښتېد. د کابل سقوط د احمدشاه په قلمرو کې یو بل ولایت زیات کړ. پایتخت ونیول شو او یو افغاني مشر چې د احمدشاه د ګټو ساتندوی و د هغه د والي په توګه وګومارل شو. د ناصرخان ماندینه چې د زبردست خان علي مراد خان لور وه، د درانیانو لاسته ورغله، خو له دغې تور سرې سره

پـه بشـپړ درنـاوي سـر چلنـد وشـو. کلـه چې احمد شـاه د خپـل نـوي ولايـت د اداري دستګاه او ماشين په جوړولو لګيا و، نو پـه دغـه وخت کې يې خپـل سپهسالار سردار جانخان چې ټولـو بـه د بخشـي پـه نامـه بالـه، دمخـه ناصـر خان مقابلې ته ولېږه[۳].

## د پېښور نيول:

پـه کابـل کې د افـاني پاچـا پـه استقرار سـره ناصـرخان د افغـاني قبيلـو لـه احتمالي بريد څخه ووېرېد او فکر يې وکړ چې پېښـور تـه د هغـه د تـګ پـه وخت کې به له ده (احمد شاه) سره هرو مرو يوځای شي.

ددې لپاره چې دوی د وېرې او کنټرول لاندې راوستل شي، نو ده تصـميم ونيو چې د شپې پر مهال د دوی په يوه غوره مشر عبدالصمد خان محمدزي (مامانزی هم بلل کېده) باندې چې د اشنغر له دوابې څخه و، بريد وکړي. ده فکر وکړ چې ددغه خطر په ليرې کېدو سره بـه د خيبـر لاره د افغانـانو پـر مـخ په موفقانه توګه وتړي. عبدالصمد خـان لـه خپلې چونۍ څخـه د جلال ابـاد لور ته وتښتېد او د شاه له وړاندې لېږل شوي پوځ سره په لالپور کې يوځـای شو. ناصر خان دده له قهره د اشنغر چـونۍ تـالا کـړه او د عبدالصـمد خـان يـو شمېر خپلوان او پيروان يې له تېغه وايستل او پېښور ته ستون شو[۴].

سـردارجانخان د عبدالصـمد خـان پـه لارښـوونه سـره د خيبـر غاښـي خـواتـه پخوا تر هغې چې ناصرخان د هغه د بندولو لپاره اغېـزمن تدبيرونـه ونيسـي

(۳) اندرام ۲۷۳، حسين شاهي ۱۷، تاريخ احمد ۱۳-۱۴، سيرالمتاخرين ۸۶۱، صولت افغاني ۲۴۴، ملخص التواريخ ۳۵۶، مالسن ۷۰.
(۴) حسين شاهي ۱۷، تاريخ احمد ۱۳-۱۴، تاريخ سلطاني ۱۲۴ - ۱۲۵، صولت افغاني ۵۲.

راوړاندې شو. احمد شاه هم ډېر ژر په دوی پسې ورغی دا سې معلومه شوه چې ناصرخان ونه کولی شول د دوی د مقابلې لپاره د بري په هيله يوه پياوړې قوه چمتو کړي. د کابل ټول ولايت د پېښور په ګډون له افغانانو څخه ډک و او دوی په ځرګنده توګه د افغاني پاچا پلوي وکړه. نو په دې ډول ناصرخان په پټه سره له پېښور څخه ووت او د اباسين (اندوس) د ختيځ لور ته واوښت او د چچ هزاره سيمې ته يې پناه يووړه. احمدشاه د يوه ملي قهرمان په توګه پېښور ته ننوت او د هغه ځای د موجودو افغاني قبيلو له خوا يې د ملي اتل په حيث هرکلی وشو. د يوسفزيو او خټکو مخور له کومې استثنی پرته دده درناوي لپاره راغلل. عبدالصمد خان محمدزی، چې د سمندرخان مامانزي په نامه هم بلل کېده، له جهان خان سره دا وخت يوځای شوی و. دراني ته دده له اطاعت کولو وروسته د هوتي نازوخان زوی او د مندړو مشر فتح خان د تورو او بابوزيو د خانانو په ګډون د درناوي لپاره راغلل. احمدشاه په ډېر وياړ او اعزاز سره دوی ومنل او مندړو مشرانو ته يې لارښوونه وکړه چې په هندوستان کې د عملياتو لپاره د ده پوځ ته پنځه سوه سواره راولېږي. دوی يې د سوغاتو له ورکولو وروسته رخصت کړل. په پېښور پورې مربوطې سيمې د اباسين په ښي غاړه خورې شوې وې او ددغه ځای په نيول کېدو او د قبيلوي مشرانو په ايل کېدو سره د نوي سلطنت حدود د اباسين ټولو هغو لويديځو سيمو ته وغځېدل چې هلته دغه قبيلې مېشتې وې.

احمدشاه پېښور ته په رسېدو سره سردارجانخان ته امر وکړ چې ناصرخان تر هغو چې له هزاره څخه وتلی نه وي د هغه له تعقيب څخه لاس وانه خلي.

ډېر ژر احوال راورسېد چې فراري پنجاب ته تښتېدلی دی. د انندرام د تذکرې پر اساس دی د ۱۱۲۰هـ کال د ذوالقعدې د میاشتې په درویشتمه نېټه (۱۱۴۷م نوامبر ۱۵) لاهور ته ورسېد. دا وخت د لاهور حکمران نواب حیات الله خان شاه نواز خان له دراني سره په پټه توګه د مفاهمې په حال کې و، له دې امله ده ناصرخان ته تود هرکلي ونه وایه. رښتیا هم دغه والي حتی له ده سره د کتنې په برخه کې هم شکمن و. ناصرخان د عیدګاه په یوه خونه کې څو ورځې تېرې کړې او په دغه ځای کې شاه نوازخان په پټه ورسره وکتل، ورپسې هغه د ډیلي لور ته وخوځېد او د ذوالحجې په اووه ویشتمه نېټه (د ۱۷۴۷م کال د دسمبر نولسمه) دغه ځای ته ورسېد. امپراتور محمد شاه یې په ډېر مینه هرکلی وکړ او یو شپږ توکیز افتخاري کالي چې په کې یوه توره، یو هاتي او یو لک روپۍ شاملې وې، مغولي امپراتور ته د وفادارۍ د څرګندولو په توګه ورته ورکړل شوې[(۵)].

سردارجان خان د ناصر خان له تښتېدو وروسته پېښور ته راوګرځېد او په هند کې د هغو پوځي عملیاتو لپاره یې په تیاري نیولو پیل وکړ، چې د واکمن احمدشاه د لاهور د شاه نوازخان د دعوتونو په ځواب کې د هغې تصمیم نیولی و.

(۵) حسین شاهي ۱۸، تاریخ احمد ۱۴، تذکره انندرام ۲۷۳-۳۸، تاریخ سلطاني ۱۲۴-۱۲۵، شاهنامه ۵۰-۵۸، ح.و. بیلیو، یوسفزي، ۷۷.

# پنځم فصل

## په هند باندې لومړی برید

## د لاهور فتحه

### په پنجاب کې سیاسي حالت:

په هند باندې پر ۱۷۳۸-۳۹ کال کې د نادرشاه یرغل نه یوازې د مغولي حکومت په مرکز کې درز پیدا کړ، بلکې ډیلي ته د ولایتي حکومت په وفادارۍ کې یې هم تزلزل راوست. د یو څه وخت په تېرېدو سره به ولایتي حکومتونه د ټاکلیو کورنیو په واک کې د تل لپاره پاتې کېدل او د هغو غړي به په ټولو معاملو کې زیاتره د خپلو شخصي ګټو پر اساس له بهرنیو قدرتونو سره په تماس کې راتلل او حتی د امپراتورۍ له دښمنانو سره به یې د مرکزي حکومت له خبرولو پرته مذاکرې پیلولې. له فرانسویانو او انګرېزانو سره د دکن او بنګال د وایسرایانو چلندونو د پنجاب غاصب شاه نوازخان ته هم دا مفکوره ورکړه چې په بهرنۍ مرسته خپل قدرت د خپل مشر ورور او مرکزي حکومت په مقابل کې چې غوښتل یې د یوه قانوني او منل شوي والي په باب مداخله وکړي وساتي.

شاه نواز خان د پنجاب د والي خان بهادر ذکريا خان چې له **۱۷۲۲** څخه تر **۱۷۴۵**م پورې يې دلته حکمراني درلودله، دويم زوی و. دده اصلي نوم حيات الله خان و او کله کله به له مينې څخه پيلاوری خان بلل کېده.

د نادر شاه د حملې پر وخت ده له نادر سره له لاهور څخه تر ډيلي پورې ملګرتيا وکړه او کله چې يرغل کوونکي له دغه ځای څخه راوګرځېدل، نو دی يې خپل پلار ته د يو کروړ روپيو د برابرولو له سپارښتنې سره ولېږه. دی له نادر سره د ستنېدو پر وخت د سند تر لړکانې پورې لاړ او له هغه څخه يې د شاه نوازخان لقب ترلاسه کړ او د ملتان د والي په توګه وګومارل شو[1].

ذکريا خان د **۱۱۵۸**هـ د جمادی الثاني په دولسمه د **۱۷۴۵**م د جولای په لومړۍ نېټه په لاهور کې مړ شو. شاه نوازخان او دده مشر ورور يحيې خان چې د وزيرالممالک قمرالدين خان له لور سره يې واده کړی و، په تصادفي توګه دا وخت په ډيلي کې وو. ديوې اوونۍ په اوږدو کې دوی پنجاب ته لاړل. امير انورمحمد شاه نه غوښتل چې ذکريا خان زامن د لاهور او ملتان په حکومت کې وګوماري. سره له دې هم وروسته ده د يوې موافقې له مخې دغه ولايتونه وزير ته ورکړل نوموړي وزير وکولی شول له خپلې خوا څخه يحيې خان د لاهور په حکومت او شاه نوازخان د ملتان په حکومت کې وټاکي. ددغه مقصد لپاره د **۱۱۵۸**هـ کال د شعبان په نهمه د اګست **۲۲**، **۱۷۴۵**م دوی ته د محمد شاه له خوا افتخاري چپنې ورکړل شوې. په دې ډول

---

(۱ ) ملتان د شاه نوازخان د نيکه سيف الدوله نواب عبدالصمد خان (د ذکريا خان پلار) له خواله **۱۷۲۶** څخه تر **۱۷۳۶** پورې اداره کېده ( دمړينې کال يې **۱۱۵۰**هـ و او ورپسې يې پلار ذکرياخان د لاهور د ولايت ترڅنګ ددغه ځای حکمراني ترلاسه کړه. معاصر الامرا، دويم ټوک **۵۱۴**- **۱۵۱۷** بيل د ختيځې بيوګرافي قاموس، **۱۴**، بيلي مفتاح التواريخ، **۳۱۶**، تذکره انندرام **۱۰۵**- **۱۳۱**.

دواړه ورونه (دریم وروریې میر باقي خان و چې په ښکاره توګه په تاریخ کې نوموړکې پاتې دی) په پنجاب کې د خپلو دوو مربوطو ولایتونو والیان شول.

داسې معلومېږي چې یحیې خان وروسته ډېر ژر د خپل پلار د ملکیت د خوشې کولو په باب د خبرو اترو کولو لپاره ډیلي ته تللی وي. دا جایداد د مغولو د دود له مخې د پاچا لپاره ضبط شوی و. دغو مسایلو څو میاشتې وخت ونیو او د ۱۷۴۶م کال د جولای په لومړۍ نېټه لاهور ته د یحیې خان د راستنېدو په ترڅ کې ټوله موضوع پای ته ورسېدله. ده په څرګنده توګه هیله نه درلوده چې دغه ملکیت له خپلو کشرانو ورونو سره ووېشي. له بلې خوا شاه نوازخان یو ډېر بې پروا او تند ځوان و او د ۱۱۵۹هـ کال د ذیقعدې په اتلسمه د ۱۷۴۶م د نوامبر ۲۲ لاهور ته راورسېد او د ملکیت د رسمي وېش غوښتنه یې وکړه. په دغه برخه کې د دوی خبرې په سختو کلمو منتج شوې او د تورو موټو ته لاسونه وغځېدل. ډېر ځله د دواړو ورونو پوځیانو د لاهور په کوڅو کې جګړه وکړه په داسې حال کې چې دوی دواړه هر یو د ښار په خپله برخه کې د څوکیو (مورچلونو) او خندقونو تر شا ولاړ وو. کورنۍ شخړې تر څلورو میاشتو پورې روانې وې. بالاخره د ۱۷۴۷ کال د مارچ په اوولسمه نېټه د یحیې خان ګوریلایان مات شول او شاه نواز خان د همدغه کال د همدې میاشتې په یوویشتمه نېټه ښار ته ننوت. معزول شوی والي د غاصب په لاس کې ولوېد او د هغه د ترور دردانه بېګم په حویلۍ کې توقیف شو.

د امپراتورۍ له صدراعظم سره د يحيې خان نږدېوالی چې دده خسر و ، د شاه نواز خان اند ښنه زياته کړه او د راتلونکي په برخه کې يې دی هوښيار کړ. دی د يوه غاصب په توګه په دې پوه شو چې د پاچا په مقابل کې يې خپل باور له لاسه ورکړی او د لاهور او ملتان د ولايتونو د اصلي والي وزير قمرالدين خوشبيني يې له لاسه وتلې ده. سره له دې چې تر پنځو مياشتو دده په مقابل کې کوم عمليات ونه شول خو بيا هم دا وېره موجوده وه چې ژر يا ورو به په دده باندې د دوی قهر نازل شي. له دې امله دده خپل ناظر محمدنعيم خان ډيلي ته ولېږه چې هلته له امپراتور څخه د خپلو تېرو ناوړه کړو وړو ښښنه وغواړي او د لاهور د حکومت د مرستيال په توګه يې تاييد او وګوماري. دده استازی د ۱۱۲۰هـ د رمضان په نهمه د ۱۷۴۷م د دسمبر دربيمه ډيلي ته ورسېد او د ديوان عبدالمجيد خان سره يې مذاکرې پيل کړې او ورپسې يې د بخشي الممالک سعادت خان په واسطه له صدراعظم سره خبرې اترې او مصاحبه سرته ورسوله. په دغسې خبرو کې ځنډ راتلل يو طبيعي امر و ، په تېره بيا چې قمرالدين له ده سره ښه تمايل نه درلود [۲].

## د شاه نوازخان له خوا د احمدشاه رابلل:

له دې امله شاه نوازخان د بهرنۍ مرستې د موندلو په هڅه کې ولوېد. دا وخت احمدشاه دراني د کابل په ولايت کې و او شاه نوازخان له هغې

(۲ ) تذکره انندرام، ۱۰۵-۱۳۱، ۲۲۷-۲۳۱.

د بيان واقعي په قول ۱۲۹-۳۰ وزير قمرالدين شاه نوازخان ته وليکل چې يحيې خان ازاد کړي، خو شاه نواز تر هغو دده له غوښتنو سره موافقه ونه کړه چې د پنجاب په حکومت کې د والي په حيث د مقرربدو فرمان ورته ونه لېږل شي. ددغه ځواب په اورېدو سره وزير په لاهور باندې د يرغل لپاره په کلکو ترتيباتو لاس پورې کړ خو خپل زوم له قيده څخه ازاد کړي. دغه حالت شاه نوازخان ارام کړ.

وروسته دده له شاهکاریو څخه خبر شو او سترګې یې د هغه لور ته واوښتې. ده په جلندر دواب کې د خپل جاګیر د پوځدار ادینه بیک خان (نوموړی د لاهور په نیولو کې د شاه نوازخن ډېر پوخ بلوی و ) په سلا مشوره له یوه لیک سره احمد شاه ته یو استازی ولېږه او هغه یې د سیمې نیولو ته رادعوت کړ. ده د خپل ځان لپاره د هغه تر قیادت لاندې د صدراعظمۍ د څوکۍ غوښتنه وکړه[۳].

دغه راز ده شیعه مذهب غوره کړ او له خپل مهر څخه یې د تیموري امپراتورانو نومونه لیرې کړل او پر ځای یې د دوولسو امامانو اسما راوړل. ددغه کار دلیل به ښایي دا و چې د پارس د شیعه پوځ په منځ کې ملاتړ پیدا کړي او احمد شاه ته له مغولو سره د اړیکو په پرې کولو کې خپل جدیت وښیي[۴].

احمد شاه د شاه نوازخان د استازی او مکتوب ډېر ښه هر کلی وکړ،. ده خدای ته د هغو له امله شکر وکړ ځکه چې ده هېڅکله د داسې وړ کار په خپله برابرېدو هیله نه درلودله. احمد شاه سملاسي په دغو عبارتونو سره (تاج د احمد شاه او وزارت د شاه نواز ) یوه قباله او سند برابر او په پوځي مشرانو باندې یې د شهادت لپاره مهر کړ او د خپل یوه باوري استازي، بغراخان پوپلزي په لاس یې لاهور ته ولېږه.

## حالات واوښتل:

(۳ ) سیرالمتاخرین، ۸۶۱، طهماسنامه ۶۳-۶۴، خوشي وقت رای، تاریخ سکان ۶۱، د عمده التواریخ په حواله هغه استازی چې احمد شاه ته ولېږل شو، صابرشاه ملنګ و، خو دغه خبره د نورو منابعو له خوا تایید شوې نه ده.

(۴ ) بیان واقعي، ۱۲۹، اشوب دویم ټوک، ۴۵۳، سرکار، د مغولو د امپراتورۍ زوال لومړی ټوک ۱۹۶.

ادینه بیګ خان چې دوه مخی رول یې لوباوه (دوه مخي یې کوله) وزیر ته د شاه نوازخان او احمد شاه ترمنځ د پټو اړیکو خبرتیا ورکړه او ورته یې وویل چې: ((دده وراره ډېر بې سره شوی او له احمد ابدالي سره یې تماس نیولی دی، د خپلو ډېرو ښو خدمتګارانو خبرو ته غوږ نه ږدي[۵].

که وزیر غواړي دده خیال راضي او زړه یې لاس ته راوړي، نو دوی به هم ددې توان ولري چې شاه نوازخان ته زاري وکړي.)) وزیر چې د شاه نوازخان غوښتنو او د هغه د استازي عذر غوښتنې ته بې پامه شوی و، سملاسي په حقایقو باندې په پوهېدو سره راویښ شو. بله چاره موجوده نه وه او د شاهي فرمان پر اساس د شاه نواز غوښتنې ومنل شوې او د هغه استازي ته یې فرمان وسپاره. دغه راز وزیر په خپل لاس سره ده ته د پخلاکېدو یو لیک ولېږه، چې متن یې دا و: ((ستاسو کورنۍ په ټولو وختونو کې مغولي امپراتورانو ته وفاداري درلوده او هېڅکله یې ناشکري او د نه منښې عمل ترسره کړی نه دی. د داسې خیالاتو او تمایلاتو لرل د خواشینۍ وړ دی او د نادر د یوه یا ساول (حاضر باش) لپاره اطاعت کول شرمناک کار ګڼل کېږي. تاسو باید دغه خوار اشنا د هندوستان له ټولو سرحدونو څخه وشړئ، له هغې وروسته کېدی شي د کابل، کشمیر، تاتا لاهور او ملتان پنځه ولایتونه ستاسو تر واکمنۍ لاندې راشي. په دې سبب له خپلو ټولو منابعو سره به یو ځای امپراتوري ستا په لاس کې وي.))[۶]

---

(۵) په ډېرو ښو خدمتګارانو کې په خپله ادینه بیګ او د لاهور دیوان لاخپات رای شامل وو. خوش وقت رای، تاریخ سکان، ۶۱ مخ وګورئ.
(۶) سیرالمتاخرین ۱۶۸-۶۲، تاریخ انندرام ۲۳۵، علي الدین عبرت نامه، ۲۳۳.

دغه کار ټول حالت بدل کړل او شاه نوازخان د شاهي فرمان او د صدراعظم د مکتوب په رسېدو سره چې په کې دده د کورنۍ درناوی یاد شوی و او ورسره ژمنه شوې وه چې د خپلو دو منیونونو په پراختیا کې به ورسره مرسته وشي، غره کړ او خپل تصمیم یې واړاوه او له احمدشاه سره د خپلو مذاکرو په برخه کې بې علاقې شو. ده پرېکړه وکړه چې له خپلو عنعنوي بادارانو سره د دراني پرضد خپل بخت ازمایش کړي.

## د هند لور ته د احمدشاه روانېدل:

له بلې خوا احمدشاه اوس خپل ترتیبات پای ته رسولي وو. زیات شمېر افغاني سرتېري له شاوخوا قبیلو څخه د هندوستان د شتمنو ښارونو د لوټولو په هیله له ده سره یوځای شول. د ۱۷۴۷م په دسمبر کې دی له پېښور څخه له (۱۸۰۰۰) افغاني پوځ سره چې درېیمه برخه یې دده له خپلې قبیلې څخه وو، روان شو[7]. له اباسین څخه د بېړیو په یوه پله باندې واوښت او د یوسفزیو پوځي ټولګی په اټک کې ورسره یوځای شو.

په دغه وخت کې دده استازي بغراخان له لاهور څخه د ستنېدو پر وخت ورسره لیدنه وکړه او د اوښتي حالت په باب یې ده ته معلومات ورکړل. بغراخان په خپله د ناوړه سلوک خاوند او د هڅوونکي فصاحت له استعداد څخه بې برخې و. علي الدین وایي چې ده له شاه نوازخان سره د خبرو اترو پر

(۷) انندرام مخلص د هغو خبرونو پر اساس چې دا وخت ډیلي ته رسېدلي و، لیکي چې د شاه پوځ پنځه ویشت زرو سپرو ته رسېده، په داسې حال کې چې عبدالکریم په بیان واقعي، ۱۳۱ مخ کې او وروسته عبدالرحمن په خپل اثر مرات افتاب نما کې د شاه نوازخان تر عنوان لاندې، ۱۵۸ مخ، دغه شمېر له دولس زره پلیو او سورو څخه زیات ګڼلی دی. نو په دې ډول د ښاغلي جادونات سرکار په اثر ((د مغولو د امپراتورۍ زوال)) ۲۰۷ مخ کې د اتلس زرو تنو شمېر سم برېښي.

وخت په ځان کنټرول نه درلود او په خپلو ناوړو مباحثو يې هغه ولمساوه. دغه راز ده د دراني په خلاف د شاه نوازخان تياري وليد او د دغو اطلاعاتو په راغونډولو سره ډېر ژر ستون شو.

## په لاهور کې د پير صابر شاه وژل کېدل:

خو احمد شاه د دغه خبر په اورېدو سره انديښمن نه شو. د ده پوځ د جهلم لور ته وخوځېد او دروتاس چونۍ يې له کوم مقاومت پرته ونيوله. ده له دغه ځای څخه خپل پير صابر شاه د مخه لاهور ته له ضراب باشي محمد يارخان سره واستاوه. په ظاهري توګه د پير د استولو مقصد دا و چې هلته له خپلې مور سره وګوري او د ځينو سيمه ييزو وليانو زيارت وکړي. پير لاهور ته له رسېدو وروسته د مفتي عبدالله په کور کې تم شو. د نکرو مانسر (هغه څوک چې د مړو له ارواحو سره رابطه لري او پيشګويي کولی شي) په توګه د ده شهرت لا د مخه خپور شوی و. په ښار کې دا اوازه وه چې دی د دې لپاره دلته راغلی چې د درانيانو په مقابل کې د مغولو پوځ بې اغېزې کړي. شاه نوازخان د يوه داسې فوق العاده ملنګ د راتلو د خبر په اورېدو سره ادينه بيګ خان او ديوان کورامل هغه ته واستول چې د ده د راتګ اصلي مقصد معلوم کړي. صابرشاه دوی ته وويل: (( زه له هېچا سره کوم کار او معامله نه لرم د هغه درناوي ترڅنګ چې زه يې د دغه ښار ته (چې زما د زېږېدو ځای دی) لرم او د هغه مسوليت څخه سوا چې زه يې د خپلو وطنوالو او حکمرانانو په مقابل کې (چې ورسره مې ژوند کړی) احساس کوم، دا په جرئت ويلی شم چې بې وفايي د خدای(ج) او بنده دواړو رضايت نه

حاصلوي او هم دا باید درته جوته کړم چې ستاسو توره له احمد ابدالي سره برابره نه ده.))

دا وخت یو تن په خبرو کې ور ولوېد او ورته یې وویل: ((ستا مقصد څه دی)) ایا زموږ توري له لرګي او دده له اوسپنې څخه جوړې دي.))

ده په ځواب کې وویل: ((نه دواړه یې له اوسپنې څخه دي، خو دده اقبال او بخت لوړ دی او ستاسې ستوری له هغه سره نه برابرېږي.)) ادینه بیګ دا خبرې شاه نوازخان ته ورسولې او هغه یې په اوربدو سره ډېر خواشینی شو. ده امر وکړ چې ملنګ او د هغه ملګری محمد یارخان دې بندیان او تر کلکې څارنې لاندې ونیول شي چې د دراني د کمپ لور ته ونه تښتي. علي الدین په خپله ((عبرتنامه)) کې د شاه نوازخان او صابر شاه ملنګ مصاحبه ثبت کړې ده. شاه نواز خان له پیر څخه وپوښتل:

((احمد شاه ورور څه حال لري؟))

پیر په ځواب کې وویل:

((دی د ولایت افغانستان او خراسان پاچا دی او نیت لري چې هندوستان ونیسي او تاسو یوازې یو صوبه دار او د کوم بل یوه رعیت یاست. تاسو په کوم جرئت داسې خبرې کوئ؟))

د انندرام د تذکرې پر اساس صابرشاه، شاه نواز ته وویل چې د هند امپراتور له تاسو سره ښه تمایل نه لري او دی په دې لټه کې دی چې له تاسو څخه غچ واخلي. دا به ستاسو په ګټه وي چې له احمد شاه سره یوځای شئ او په دې توګه مو عزت او شان لوړتیا ومومي او د هېواد وزارت به په قانوني

توګه درکړل شي. دغسې او ځينو نورو خبرو په شاه نواز باندې ښه اغېزه ونه کړه. پير دی په بې ايمانۍ او بېوفايۍ وښکانځه او داسې سپکې سپورې يې ورته وويلې چې نومړی ځوان والي د هغو زغم ونه کولی شو. د زيات خفګان په سبب شاه نوازخان امر وکړ ملنګ دې بخشي خواجه عصمت الله خان ته وسپارل شي او له هدايت سره سم نومړی خواجه دده په ستوني کې د ويلې شويو سرپو په تويولو سره هغه وواژه. څرنګه چې په محمد يارخان باندې کوم اعتراض موجود نه و، نو هغه خوشې او د بېرته تګ اجازه ورته ورکړل شوه[8].

## له روتاس څخه تر شا درې:

وايي هغه وخت چې احمدشاه په روتاس کې واړول نو يې دا وخت د بالانات جوګي مانۍ ((درمسال)) تالا کړ. اوس هغه تيلا ګور اخنات نومېږي، چې له جهلم څخه د شلو ميلو په واټن ليرې پرته ده[9].

کله چې احمد شاه د خپل پير له سرنوشت څخه خبر شو، نو ورسره سم يې د لاهور خواته بيړه وکړه. ده د ګجرات پر لور د خپل تګ په لار کې د سلطان

(۸ ) سيرالمتاخرين، ۸۶۲، دربيم ټوک، ۲۵۶-۵۷، تاريخ انندرام، ۲۵۶، مرات افتاب نما، ۱۵۸ ب- ۱۶۰ الف، بيان واقعي ۱۳۲، بيليو، يوسفزي، ۱۱، علي الدين، عبرت نامه، ۲۳۳-۳۴، شاهنامه احمديه، ۷۳-۷۵، ګلستان رحمت ۱۴۷، لطيف، پنجاب ۲۱۶-۱۷.

د ځينو ليکوالو په حواله صابرشاه حتی د احمدشاه له رضايت پرته په خپله خوښه په ځانګړې توګه له روتاس څخه نه، بلکې له شاه درې څخه لاهور ته لاړ. تاريخ سلطاني وايي چې شاه د لاهور په بازار کې د وروخېمو هماغه زړه لوبه تکرار کړه او ويې ويل چې دی به دې سيمې ته د احمدشاه حکومت راولي. شاه نوازخان ددغې خبرې اورېدل ونه زغمل او امر يې وکړ چې ملنګ اعدام شي.

ځينې ليکوال په دې نظر دي چې دده سر په توره ووهل شو، د عمده التواريخ په قول دده خېټه څيرې او د لاهور په کوڅو کې په اس سپور وګرځول شو.

د صابر شاه زيارت د ټاکسالي د دروازې پر لور په يوه جګ ځای د سلطنتي جومات شاته موقعيت لري. عمدالتواريخ، لومړي ټوک ۱۲۲، ګولډنګ، زوړ لاهور، ۷۳، لطيف پنجاب، ۷۵-۱۱۷.

(۹ ) د جهلم د سيمې ګزيټر (۱۹۰۴)، ۳۴-۳۵.

مقرب خان (د راول پنډۍ یو کاکړ) متصرفات په هغه سیمه کې ومنل چې دی په هغې کې د ۱۷۴۱م[۱۰] په شاوخوا کې مستقر شوی و. له چنا څخه په سوهدره کې پورې شو وروسته په چټکۍ سره د ۱۱۲۰ هـ کال د محرم په اتلسمه نېټه (د ۱۷۴۸ د جنورۍ په اتمه) شا درې ته چې د راوي په کینه غاړه کې وه، راورسېد او د امپراتور جهانګیر په ښکلې مقبره کې یې ځای ونیو.

## شاه نوازخان په لاهور کې:

دا باید ووایو چې شاه نوازخان له ډیلي څخه د شاهي فرمان او د خپل تره وزیر قمرالدین خان د مکتوب په رارسېدو سره ډېر ژر خپل ترتیبات نیولي وو. خو دغه چمتووالی ټول د ښار د دفاع لپاره و او د هغه په لور (لاهور په خوا) د دښمن له وړاندې کېدو څخه د مخنیوي په برخه کې کوم څه کار ترسره نه شو. ده د دسمبر په دویمه اوونۍ کې خپلې خېمې له ښار څخه بهر ایستلې وې چې د ترتیباتو څارنه او کتنه وکړي. ښایي دده به دا خیال و چې احمد شاه له ځان سره ټوپک نه لري او د لاهور په توپخانې سره به ده ته په اسانۍ ماتې ورکړل شي، خو په ویجاړه خونه بری ترلاسه کېدلی نه شي. د حکومت ټول پخواني او مخلص خدمتګاران یا بندیان وو او یا اوښتي وو. هغو کسانو چې دده د ملګرتوب لاپې کولې، زړه نا زړه او بې علاقې برېښېدل. د کاسور افغاني مشران د یحیې خان د ازادۍ لپاره په چل ول لګیا وو او د هغه د خلاصون په برخه کې یې د شاه نوازخان له مصروفیتونو

(۱۰) د ګجرات د سیمې ګزیتر ۱۸۸۳-۱۸۸۴، ۱۵-۱۱۵

څخه استفاده وکړه (ذيحجه ۲۳ - ۱۱۲۰هـ، دسمبر ۱۵ - ۱۷۴۷م)[11] په ادينه بيګ خان باندې د دوه مخى پر اساس اتكا كېدلى نه شوه. كله چې احمد شاه په لاهور باندې د يرغل كولو لپاره د دغه ښار دروازو ته راورسېد، لاهور په دغسې غمجن حالت کښته و.

څرنګه چې شاه نواز خان خوش باوره و، نو وايي چې په دغه وخت كې دى خپل پير غلام محمد ته لاړ چې دده د پوځي كارو لپاره دوعا وكړي. كله يې چې يوه ورځ پير ناراض وليد د هغه په دروازه كې كېناست او تر هغو يې له تګ څخه ډډه وكړه چې تر څو پير ده ته يو كرامت وښيي. غلام محمد له ده څخه وغوښتل چې درې خښتې ورته راوړي. كله چې خښتې په دسمال كې تاو او دده په مخكې كېښودل شوې، پير د مراقبې په حال كې كېناست. يوه ګړۍ وروسته هغه وخت چې غلام محمد عادي حالت ته راغى او په سد شو خښتې په سپينو زرو اوښتې وې. پير چېغه كړه: ((ستا ببرۍ به ډوبه شي ته بايد له ظلم څخه لاس واخلې او د خپل پلار اميران (لوړ رتبه مامورين) ازاد كړې.)) شاه نواز خان د پير غلام محمد نصيحت ته توجه ونه كړه او دا يې وويل: ((ښايي پير به د بنديانو كوم غالمغال اورېدلى وي.))

## د لاهور جګړه:

د ۱۱۲۱هـ كال د محرم په شلمه نېټه (د ۱۷۴۸م د جولاى لسمه) يانې دده د رارسېدو په دريمه ورځ، سملاسي افغاني پوځ له سيند څخه پورې ووت

(۱۱) د يحيې خان تېښته د هغه د خپلې ترور په مرسته چې د ذكريا خان خور وه، تامين شوه. دى د ۱۱۶۱ه كال د محرم په ۲۳ د ۱۷۴۸م كال د جنورۍ د يارلسمه نېټه ډيلي ته ورسېد. دا وخت دلته دده خسر د شالامار په بن كې اړولي و او د احمدشاه په مقابل كې يې د يوه لشكر د استولو لپاره ترتيبات نيول. تاريخ اندرام، ۲۳۹ - ۴۰.

او د شالامار د بڼ لور ته وخوځېد. خپلې خېمې یې د هغه په شمال ختیځه خوا کې د محمود بوټي کلي په کروندو او میدانونو کې ودرولې.

دا وخت شاه نوازخان له ښار څخه بهر مورچل نیولی و او له ستړې قوې او ښایسته اندازه جنګي مهماتو سره د یرغلګرو د مقابلې لپاره یې انتظار ایسته.

ده د هغو ټولیو سربېره چې دده تر خپلې قوماندې لاندې وو، د پوځي اډې دوه ډیپوګانې تاسیس کړې وې چې یوه یې د خواجه عصمت الله خان[۱۳] تر څارنې لاندې د لس زره اسونو (سورو) او پنځه زره ټوپک والاوو سره د حضرت ایشان په چونۍ کې او بله یې د لچېن بیګ تر امر لاندې د پنځه زره اسونو (سورو) او په همدومره شمېر برېښنا اچوونکو (ماشه یي ټوپک والاوو) سره پرویز اباد، او درګاه شاه بهلول ته نږدې پرته وه چې پاخه سنګرونه یې لرل. دده لور ته د درانیانو په را اوښتلو سره ده د کاسور جلهه خان Jalha khan[۱۴] د هغوی د مقابلې لپاره ولېږه، خو دغه افغان له خپلو ټولو پوځونو او ټولیو او مهماتو په ګډون له افغانانو سره یوځای شو.

---

(۱۳) خوشو قت رای، تاریخ سکان، ۶۱-۶۲.

(۱۴) ځینو لیکوالو لکه محمدعلي خان انصاري، (تاریخ مظفري، ۴۲۳) ده ته د حشمت الله خان نوم ورکړی دی. دغه نوم د داسن او اسیلیوت د هند تاریخ ته له تاریخ احمدشاهي څخه د ترجمې په ترڅ کې ((زیله خان)) د هغه څه په خلاف چې خپلو مورخینو یې ذکر کړی را اخیستل شوی دی. په هغه اری پارسي نسخه کې چې په لندن کې د برتانوي موزیم د ۲۰۰۵ ګڼې او ار لاندې شته دغه نوم په درېیم ب مخ اوومه کرښه کې جهله خان لیکل شوی دی. تر هلاندې کامه ( ) داسې جوته ده برېښي چې د زیله خان او جمله خان په توګه د هغې لوستل کېدو ته کوم دلیل نه پاتې کېږي. دغه نوم په عمده التواریخ (لاهور ۱۸۸۵) لومړی ټوک ۱۲۳ جلی خان چاپ شوی چې په اصلي نسخه کې جلهي خان دی. که څه هم داسې چاپ شوی خو بیا هم جمله خان او زیله خان جلهه نه نږدې ګڼل کېږي.

کله چې درانیانو د ملک پور[۱۵] په کلي کې د خپلو پوځي واحدونو د ورځنیو اړتیاوو د وېشلو مرکز ټین کړ، نو په ورپسې سهار (د محرم لومړي نېټه) کې د لاهور د ښار لور ته وړاندې لاړل. دوی لا د شاه بهلول او درګاه شاحسین په میدان کې وو چې خواجه عصمت الله خان بخشي له خپلو لسو زرو اسونو (سورو) او په همدغه شمېر برېښنا اچوونکو سره د هغوی د مقابلې لپاره له خپلو ښېلو سنګرونو څخه راووتل او د ټوپکونو او راهکلاو ډزې يې وروباندې پيل کړې. احمد شاه په ډېرو لږو افرادو سره د جګړې تکل وکړ ځکه په دې پوهېدلی وو، چې که هر څومره زيات کسان ولېږي، په هماغه اندازه تلفات به ده ته ورسطېږي. نو په دې ډول ده له خپلې اصلي قوې څخه زر تنه سواره، ټوپک والا په جلا توګه واستول. دوی د دښمن په منځ کې ورګډ شول او خپل پلته ییز ټوپک يې ورباندې وچلول او د دښمن د ليکې هغې خواته يې په تراټ ور وځغستل. جګړه ټوله ورځ په همدې شان روانه وه او هېڅ يوې خوا له خپل غوره کړي موقعيت څخه د پرمختګ زړورتوب ونه ښود[۱۶].

د سيرة المتاخرين په حواله شاه نوازخان د جګړې په سهار کوم څوک ملنګ شاه قلاب علي ته چې يو پوه و د جګړې د نتيجې په برخه کې د سلا اخيستلو په باب ولېږه. هغه دا سې پيغام ورته راواستاوه: ((نن ورځ ستا لپاره بده ورځ ده. دا به ښه وي چې نن ورځ جګړه نه وي. سبا په هر ډول او هر چېرې به برى ستاسو په برخه وي.)) ددغه ځواب په رارسېدو سره شاه نواز

(۱۵) ملک پور- شاه نامه احمدیه ۷۷.
(۱۶) تذکره انندرام ۲۵۷ شاهنامه احمدیه ۷۶-۷۷.

خان د خپل پوځ افسرانو ته د ادینه بیګ خان او دیوان کورامل په واسطه پیغامونه ولېږل چې د درانیانو په مقابل کې ورونه وځي، د هغوی له خوا د فشار د دفع کولو په ترڅ کې یوازې د خپلو سنګرونو څخه د ننه جګړه وکړي. ورپسې دی خپلې خېمې ته د استراحت لپاره راستون شو.

دی په معمولي وخت له ادینه بیګ خان او نورو سردارانو سره ډوډۍ خوړلو ته کېناست، خو سمدلاسه د ټوپک یو غږ واورېدل شو، چې ابدالي سواره رانښکاره شوي وو او د لاهور د پوځ دوو سوو قزلباشانو[17] په هغو برید کړی وو. ورپسې درانیان په کراره په شا شول او وروسته بیا په زیاته قوه سره د حملې د نوي کولو لپاره راڅرګند شول. قزلباشان په شا ووهل شول او درانیانو دوی تر خپلو سنګرونو پورې پسې واخیستل. دغه کار د بخشي عصمت الله خان په لیکو کې ګډوډي منځته راوړه او ده سملاسي د نوې مرستې او قواوو غوښتنه وکړه. شاه نوازخان ادینه بیګ ته امر وکړ چې ډېر ژر په دې باب اقدام وکړي، خو هغه بلې خوا ته لیرې ولاړ او د یوه ناظر په توګه ودرېد. او امر بیا تکرار شو خو ادینه بیګ تر مازیګره پورې جوت حرکت ونه کړ او لمر لوېدلی نه و چې د ښار خوا ته ستون شو[18].

داسې بربښي چې هندي پوځ د همدغې ورځې د اوربند د مراعات کولو لپاره دا حالت غوره کړ او کله چې دوی د شپې له خوا خپلو څوکیو ته راستنېدل، نو پدغه وخت کې د انندرام په حواله افغانان نابېره بېرته

---

(۱۷ ) شاهنامه احمدیه هغوی ازبیکان بولي او له درانیانو سره د هغوی جګړه په یوڅه تفصیل سره بیانوي او وایي چې د هغې په نتیجه کې ازبیکان په بشپړه توګه ماتې مومي. وید، ۷۹-۸۲.
(۱۸ ) سیرة المتاخرین، ۸۶۲.

راوګرځېدل او په دوی باندې ورتوی شول. د سپرو مخکنۍ ډلګۍ خپل اسونه شیوه کړل او په چټکۍ سره یې برید وکړ، هغوی په لاهوریو باندې داسې وژونکې ګولۍ ورګوزار کړې چې دوی یې سربدال او بشپړ هک پک کړل او په خواشینۍ سره تارو مار شول. بخشي[(۱۹)] هم چې د وفادارۍ او اخلاص سره د ادعاګانو په برخه کې یې تل ځان ښوونه (خودنمایي) کوله، د خپلو نورو بې تجربه سردارانو په ګډون د جګړې له میدان څخه تېښته کول غوره کړله. د حضرت ایشان چونۍ د توپخانې د مهماتو په یوې محوطې سره مضبوطه شوې وه او د دوی د دفاع له عهدې څخه وتلی شوه، خو دوی خپل ټول مهمات، ګېډۍ ټوپکونه او نور جنګي لوازم درانیانو ته په ځای پرېښودل او په خپله یې د ښار د بوالونو ته پناه یوړله. انندرام وايي چې ادینه بیګ دا وخت په ښار کې دننه و او له بخشي سره یو ځای د زبردست خان حویلۍ ته راغی دوی زیاته هڅه وکړه چې د قوې په نوي کولو سره بیا هم بهر ته ور ووځي، خو دا کار بشپړ بې ګټې و. دی د شپې په لومړۍ ربعه کې ښار ته څېرمه پاتې شو او په څرخېدونکو ټوپکونو (سو یول) او توغندیو (راهکالا اوبان) سره یې ډزو کولو ته دوام ورکړ او افغانان یې پرې نه ښودل چې د حضرت ایشان له نیول شوې چونۍ څخه راوړاندې شي، خو دغو ټولو هڅو کوم ګټور مقصد ترسره نه کړ. ښار ته د بخشي او نورو سردارانو په تېښتېدلو سره لښکر ټول په وېره او اندېښنه کې ولوېد. شاه نوازخان هیله درلودله چې له خپل هاتي څخه کوز شي او

---

(۱۹) تاریخ مظفري، ۴۳۳، مور ته وايي چې بخشي حشمت الله خان (د تاریخ انندرام شاهنامه احمدیه او نورو عصمت الله خان) په دغه جګړه کې ووژل شو.

شپه په خېمه کې د خپلو افرادو د تشويق لپاره تېره کړي چې سبا سهار هغوی په لوی قوت سره جګړه بيا پيل کړي، ده فکر وکړ چې په دغه ډول به دا حالت ليرې کاندي، خو دده يو خپلوان، د توريالي مېړه، دده د هيلې په خلاف هغه دې ته اړ کړ چې د ښار يوې د امن برخې ته راستون شي. کله چې دده هاتي له خپلې خېمې څخه بهر د ليرې کېدو په حال کې وليدل شو، هغو کسانو چې لاتراوسه پورې په کمپ (خېمه) کې پاتې وو، دده لاره ونيوله او هرې خواته په تېښته کې شول او د ښار د دروازو خواته يې بيړه وکړه.

په دغه وخت کې يوې ډلې درانيانو موقع غنيمت وشمېرله او په کمپ باندې ورتوی شول او هغه يې لوټ کړ، حتی په خپله د والي خېمه هم ترې پاتې نه شوه او د هغې څورې او سامان يې ولوټه او ليرې يې يوور. هغه وخت چې شاه نوازخان د افسرانو او افرادو له خوا ګوښه پرې ښودل شو په ښار کې خپلو اپارتمانونو ته راوګرځېد. اوس کوم اميد پاتې نه و، د احمد د پير په وژلو سره ده نو نور له هغه (احمد) څخه د کوم ترحم هيله نه درلوده. په دې ډول تسليمی ته کوم سوال پاتې نه و يوازې په تېښته کې يې خپل امن وليد. نيمه شپه يې ځينو دوستانو ته د اشرفيو دکڅوړو او هم يو شمېر غلام بچه ګانو ته د يوې ټوکرې جواهراتو له وېشلو وروسته ښار پرېښود او ډيلي ته وتښتېد.

## د احمدشاه له خوا د لاهور نيول کېدل:

په دې ډول لاهور بې دفاع پاتې شو. بل سهار (د ۱۱۲۱هـ د محرم ۲۲ د ۱۷۴۸م د جنورۍ ۱۲) د شاه نوازخان د تېښتې د خبر په خپرېدو سره احمدشاه له

خپل کمر څخه ووت او له کوم مخالفت پرته یې د تښتېدلي حکمران کمپ او پوځي مرکز ونیو.

د یحیې خان یو شمېر وفادارو افسرانو لکه میر مومن خان، میر نعمت الله خان، سید جمال الدین خان او میر امین خان په پټه سره د شاه نوازخان له خوا په دغو میاشتو کې په بندیخانه کې ساتل کېدل، له خوشې کېدو وروسته په سهار کې یوه غونډه جوړه کړه او تصمیم یې ونیو چې په ګډه ډول یا د یوه هیات په څېر د فاتح خدمت کولو ته ځان ورسوي او د لاهور د ښار او ولایت په ګټه هغه ته تسلیم شي.

پر دې اساس میر مومن خان، دیوان لخپات رای او دیوان سورت سنګ ده ته لاړل او له هغه څخه یې وغوښتل چې ښار د چور او لوټ څخه معاف او وژغوري. دغه راز دوی ژمنه وکړه چې د برش لکه روپۍ به د جریمې په توګه ورکړي. احمد شاه په دغه ورکړه سره ډېر خوشاله شو او ډېر ژر یې خپل نسقچیان (تنظیمه افسران) د ښار د ساتلو لپاره بهر واستول چې وګوري کوم افغان ښار ته داخل نه شي. سره له دې هم زیات شمېر ځایونه او خونې په تېره بیا د ((مغول محله)) لوټ او ویجاړ شول.

د حاجي محمد سعید لاهوري په سپارښتنه چې یوځای یې ویلي وو په محله لاخي او عبدالله وری باندې غرض ونه شو. د میر مومن خان د پاخه او د قدر وړ هاند پر اساس په لاهور کې ډېر ژر سوله ټینګه شوه او د ښاریانو کړاو ډېر راکښته شو.

هغه ولجه چې احمد شاه له لاهور څخه ترلاسه کړه ډېره فوق العاده وه، د والي او د هغه د کورنۍ د ملکیت او جریمې سربېره قیمتي جواهر او خزانې، زیات جنګي وسایل، د ټوپکو (راهکالا او توغندي) په ګډون چې د نواب عبد الصمد خان (دلیر جنګ) او ذکریا خان له وخت راهیسې پنځه د پرشو کلونو په اوږدو کې راغونډ شوي وو، دده لاس ته ورغلل او شفقت خان، (میرسامان) یې د هغو څارنې ته وګوماره. د ښار دننه او شاوخوا ټول اوښان او اسونه دده افرادو د استفادې او بارونو لپاره لاسته راوړل شول. دد غو نویو سورو په حاصلېدو سره پنځه یا شپږ زره پلي افغانان د سواره پوځ واحدونو ته ور ولېږد بدل او یوه پوره اندازه چابکه او د انتقال وړ توپخانه دده په پوځي وسایلو او توپخانه باندې ور زیاته شوه[۲۰].

احمد شاه پنځه اونۍ په لاهور کې تم شو. په دغه موده کې د جمو بنو او د شمالي غونډۍ لرونکو برخو نورو راجاګانو ده ته د خپلې وفادارۍ او تسلیمۍ د عرض وړاندې کولو لپاره خپل وکیلان او استازي واستول، دغه راز د پنجاب غوره مشران او مځکوال ده ته د درناوي د څرګندولو په خاطر راغلل. یوه سکه هم دده په نوم وکښله شوه چې لاندې عبارت یې درلود:

| | |
|---|---|
| در دران احمد شاه بادشا | ضرب دار السلطنت لاهور |
| جلوس میمنت مانوس احد | احمد شاه در دران پاچا |

---

(۲۰ ) انندرام، ۴۴-۲۵۶- (۲۰) انندرام، ۴۴-۴۵، ۲۵۶-شاهي، ۱۹، علي الدين، عبرتنامه ۲۳۴-۲۳۵، سير، ۸۶۲-۶۳، (درېيم ټوک، ۲۵۷-۵۹، خوشوقت راى ۶۱-۶۲، چهار ګلشن پنجاب، ۱۲۵.

د لاهور په پايتخت کې سکه ووهله د پاچهۍ لومړی بختور کال[۲۱] د حدیقة العلیا مولف مورېته وایي چې د راوي په ښي غاړه باندې شاه درې ته له رارسېدو وروسته پوښتنه وکړه چې په لاهور کې کوم يو پير شته. ده ته په خواب کې د شيخ حاجي محمد سعيد نقشبندي[۲۲] نوم وا خيستل شو. کله چې دی په لاهور کې و له هماغه پير سره يې وکتل. د دغه پير په خاطر په محله (لاخی) او (عبدالله وری) باندې افغاني سپاهيانو غرض ونه کړ، په داسې حال کې چې د ښار نورې غوره برخې چور او لوټ شوې.

کله چې احمدشاه د مغولي سترې امپراتورۍ له قوت سره د مقابلې په برخه کې په تياري نيولو باندې لګيا و، د کاسور د يوه افغاني مشر جلهه خان په وسيله يې په لاهور کې يوځايي حکومت جوړ کړ چې د هغې حکمران په خپله جلهه خان و، مير مومن خان يې مرستيال او لخپات رای يې د ديوان يا عمومي منشي په توګه وو[۲۳].

(۲۱ ) حسين شاهي، ۱۹، لطيف پنجاب ۲۵۱.

(۲۲ ) وايي چې شيخ حاجي محمد سعيد په اتلسمه پېړۍ کې د لاهور يو نامتو مسلمان ولي يا پير و، چې په نقشبندي طريقت يې اړه لرله. دی د سيد محمد بن سيدعلي حسين کردي يو مريد ګڼل کېده. غلام سرور مفتي، حديقة العليا، ۱۲۱- ۱۲۲.

(۲۳ ) عمدة التواريخ، لومړی ټوک، ۱۲۳، انندرام ۲۶۱. کانهيا لال په خپل تاريخ پنجاب، ۷۲ او ورپسې لطيف (پنجاب ۲۱۷) کې وايي چې حکمراني لخپات رای او ديواني مومن خان ته ورکړل شوه خو انندرام چې ورسره معاصر دی ډېر د باور وړ برېښي.

# شپږم فصل
# د منو پور جګړه

## په ډیلي کې د حالاتو څرنګوالی:

کله چې احمد شاه په لاهور کې و، ورځ په ورځ له ډیلي څخه داسې اوازې رارسېدلې چې ستر مغول، امپراتور محمد شاه د یوه ستر پوځ په برابرولو او لېږلو لګیا دی چې دده (احمد شاه) مقابلې ته یې ولېږي. له کابل څخه د ناصر خان د تېښتې او ماتې نه لږ وروسته د ۱۹۴۷ کال د نوامبر په نیمایي کې په هند باندې د شاه له خوا د یوه پاخه برید خبر د ډیلي دربار ته رسېدلی و. د هند خواته د خپلو سیمو ته د هغه په اعلامیو کې لیدل کېدلی شي.

د هغې اعلامیې یوه نسخه چې دده د اپریدیو ملک محمد هاشم اپریدي ته په پېښور کې د اپریدیو د قبیلې د مشر یا سپین ږیري په توګه د هغه د مقررۍ په هکله صادره کړې وه، ډېر پخوا د ناصرخان د مرستیال امیر بیګ خان له خوا ډیلي ته استول شوې وه او د روژې د میاشتې په اوومه (د سپتمبر لومړۍ نېټه) امپراتور ته وړاندې شوه. کابل په اکتوبر کې اشغال

او د نوامبر په لومړيو ورځو کې ناصرخان له دغه ځای څخه وشړل شو. دا هم ویلی شوي چې د شاه نوازخان له خوا د لاهور د قبضه کېدلو او له ده (احمدشاه) سره د هغه خبرو اترو به دغه حالت کړکېچن کړی وي، خو سره له دې د مقابلې په برخه کې مرسته وشي او یا دا چې وروسته له دې چې شاه نوازخان له هغه (احمدشاه) سره مقاطعه وکړه، نوموړی تقویت ومومي.

ربښتيا هم هماغسې چې ښاغلی جادونات سرکار وايي ((دده (محمدشاه) دربار ناپوهۍ نیولی و، حتی د نادر د یرغل له امله د ژوبلې او سیکاوي نوې خاطرې هم دده کوم یو افسر د خپلې دندې د پېژندلو او حالاتو د ایجاباتو له امله راویښ نه کړ. دوه زړه توب د شورا مخالفت، ټالول او لټې دا وخت د ډیلي د حکومت دا سې معیارونه وو چې د پارس یرغل کوونکي له خوا د هغه د ګواښ له وخت څخه نور هم زیاتې شرمناکې اندازې ته رسېدلي وو))[1].

په خپله امپراتور یو کم عقله لټ تریاکي و او (لټې د کم عقلانو لپاره په زړه پورې لاره ګڼل کېږي.)) حتی کله چې مات شوی ناصرخان ډیلي ته راورسېد (د ۱۷۴۷ کال د نوامبر ۱۵) یوه اوونۍ وروسته له ښار څخه مقدماتي پوځي خېمې بهر ته ولېږل شوو (د نوامبر ۲۳) مګر د پوځ د تګ (مارش) اصلي وخت لومړی د ذیحجې یوولسمه (۱۱۲۰هـ) (۱۷۴۷ د دسمبر درېیمه) نېټه وټاکل شو. خو ورپسې دوه ویشتمې (د دسمبر ۱۴) ته محول شوه. بیا هم په هماغه ورځ د پوځونو هېڅ ډول حرکت کېدلی نه شو، ځکه دا وخت میاشت د ((لړم په بدمرغه خونه)) کې وه. تر درېو نورو اوونیو پورې

---

(۱) اتندرام، ۲۳۴-۲۳۵ سرکار، لومړی ټوک، ۲۱۱-۲۱۲

هېڅ اغېزمن څه ترسره نه شول. ضمناً امپراتور ته دا پیشنهاد شوی و چې که په خپله او شخصاً دی د پوځ قومانده او لاربنوونه په لاس کې ونه نیسي. د هندوستان راحت خوښوونکي سپاهیان به د افغانستان له پخو ، سخت زړیو سره مقابله ونه کړي. لیکن امپراتور ناروغ شو او دده طبیبانو ده ته د تګ اجازه ور نه کړله. هغه دا هم نه غوښتل چې خپل یوازینی زوی د لښکر په مشرۍ په خپل ځای د باندې ولېږي.

سپین ږیری صدراعظم قمرالدین د لوی قوماندان او د اود oudh نواب منصور علي خان صفدر جنګ او د جیپور راجا ایشري سنګ د هغه د مرستیالانو په توګه وګومارل شول. دغه راز یوه ډله نور افسران د هغه د مرستې لپاره په دغه ټاکنه کې شامل وو. ډېرې زیاتې پیسې چې ټولې شپېته لکه روپۍ کېدلې په دغو اشرافو او اعزازیانو باندې په پرېمانه اندازه ددې لپاره وویشل شوې، چې هغوی د پوځي عملیاتو لپاره خپل ځانونه وربانديې مجهز کړي، خو په کشرانو کې له یو شمېر استثنایي کسانو پرته نور ټول لټ، ډارن او بې احساسه وو او ((په حرکت کې د هغوی له خوا ټال راتلل شرمناک ګڼل کېدل.))[2].

## شمالي خواته د وزیر قمرالدین خوځېدل:

((وزیر- قوماندان)) د ۱۱۶۱هـ د محرم په اتلسمه نېټه (د ۱۷۴۸ د جنورۍ اتمه) له پوځ سره د حرکت کولو رسمي اجازه ترلاسه کړه.

(۲) انندرام، ۲۳۷-۲۴۳، ۲۴۶-۲۴۸.

دا هغه ورځ وه چې احمد شاه لاهور ته نږدې شاه درې ته راورسېد ، خو دی (وزیر) مجبور و د توپخانې لپاره څلور پنځه ورځې نور ټال شي چې د مخ پورته تګ توان پیدا کړي. راجا ایشري سنګ د محرم په درویشتمه نېټه (د جنورۍ دیارلسمه) له ډیلي څخه وخوځېد او ستر (کمپ) چې دوو سوو زرو ته رسېده په حرکت پیل وکړ. د جمو او لاخي یا لاکي جنګل ځمکوالو، خدایارخان، غازي خان بلوڅ، اسماعیل خان، هټ، ولید ادخان او د ملتان او سند نورو مځکه والو او د ملتا د والي (نایب الحکومه) مرستیال، زاهد خان ته عاجل لیکونه واستول شول، چې هغوی له شاهي پوځ سره د خپلو لښکرو په یوځای کولو کې بیړه وکړي. دغه راز دوی د مشرانو د یوې غونډې په ترخ کې وپتېیله چې د ټولو لښکرو او توپ خانې د راغونډېدو په وخت کې به په چټکو او پرله پسې مزلو سره لاهور ته مخکې له دې چې درانی له چناب څخه رااوړي ځانونه ورسوي. خو دوی یوازې ناریلا (د پایتخت په شپاړس میلي کې) ته رارسېدلي وو چې هیښوونکي خبرونه خپاره شول او دا خبر راغی چې هغه (احمد شاه. مترجم) دمخه لاهور نیولی او په دوی باندې د دانګلو لپاره هوسا پوځ برابروي.

دوی په دې هیله له امپراتور سره تماس ونیو چې خپل وارث (شهزاده احمد) له لښکر سره د استازي په حیث په علني توګه ولېږي. امپراتور بالاخره له دغې غوښتنې سره موافقه وکړه. شهزاده د ۱۱۲۱هـ کال د صفرې په یوولسمه (د ۱۷۴۸م د جنورۍ ۳۱) د یکشنبې پر ورځ له ډیلي څخه وخوځېد او بله ورځ سونیپت sonepat ته نږدې له پوځ سره یوځای شو. د صفرې په یوویشتمه، د فبرورۍ لسمه، پاني پت ته په رسېدو سره پوځ

تنظیم او ګامونه چټک شول. د ربیع الاول په لومړۍ نېټه د فبرورۍ نولسمه په کارنل کې دا خبر راورسېد د سرهند پوځدار علي محمد خان روهیله خپل ځای خوشې کړی او واو نله ته یې چې مراد اباد ته نږدې مورنی کلی (ښارګوټی) یې و، تښتېدلی دی[۳].

پوځ د ربیع الاول په اوومه سرهند ته نږدې راورسېد او بله ورځ (د ربیع الاول اتمه، فبروري ۲۲) همدلته پاتې شو. په دغه وخت کې د سرهند په چونۍ کې زیاتې سامان، ګاډي او اوښان چې زیاتره یې په وزیر اړه لرله د سمو دفاعي ترتیباتو له نیولو پرته (یوازې د زرو سپرو او پلیو ساتونکو له موجودیت او پرېښودلو ځخه سوا چې یوه مریې هلک یا غلام بچه تر مشرۍ لاندې وو) خوشې شوی وو. د علي محمد خان زامن عبدالله خان او فیض الله خان چې په ډیلي کې د یرغمل په توګه وو او شهزاده یې بدرګه کړی و، هم له هغه ځای ځخه لاړل. د ربیع الاول په نهمه د (مچېوارا) په لور چې هلته له ستلج ځخه او ښتل تر لودیانه ډېر اسانه ګڼل کېده، بیا تګ پیل شو. خو د لودیانې او سرهند له لارې د ډیلي په خوا د مستقیم او اصلي واټ په پرېښودلو سره چې د شاه (احمد شاه) لپاره یې په شاهي او سلطنتي مرکز (ډیلي. م) باندې د مخامخ ورتګ لاره خلاصوله (په هغه صورت کې چې

(۳) انندرام، ۲۵۴-۲۵۵.
د تاریخ مظفري په حواله علي محمد خان د وزیر قمرالدین په غوښتنه سرهند په دې وېره پرېښود چې نوموړی وزیر وېره لرله چې مابدا هغه به له درانیي سره متحد شي. ۴۲۳مخ وګورئ. ګلستان رحمت وایي چې وزیر امپراتور له سرهند ځخه د کاتر karehr خپلې علاقې ته د عبدالله خان د بدلولو پیشنهاد کړی و او د همدغه کار لپاره دده په نوم یو فرمان خپور شو او د هغه په رارسېدلو سره دی له سرهند ځخه خپل کور ته لاړ. وګورئ حیات حافظ ۲۱.

هغه انتخاب کړی وای ) دوی له ستراتیژۍ څخه د با خبرۍ له امله خیانت وکړ او د نه ښنل کېدونکي خیانت مرتکب وګرځېدل.

شهزاده احمد د بهارولي Bharoli کلي ته نږدې کمپ ته په رارسېدو سره ( له مچیوارا Machhiwara ) څخه په بل پړاو (رباط ) کې په دې خبر شو چې احمد شاه درانی د ربیع الاول په دولسمه، د مارچ لومړي له ستلج څخه لا رومبی اوښتی او د سرهند چونۍ او ښار یې نیولي دي[۴].

دلته مغول چې له درانیانو سره د مقابلې لپاره په تیاریو اخته وو، پرېږدو او بېرته لاهور ته راګرځو چې هلته له هماغه ځای څخه د سرهند پر لور د شاه پرمختګ وګورو.

## احمد شاه د سرهند لور ته خوځېږي او هغه اشغالوي:

د جلهه خان تر مشرۍ لاندې د یوه ځایي حکومت له ټینګېدو او د خپلو تجهیزاتو له پوره کولو وروسته احمد شاه د ۱۱۲۱هـ کال د ربیع الاول په لومړۍ نېټه (۱۷۴۸م د فبرورۍ نولسمه ) له لاهور څخه د مغولي رادمخه کېدونکي پوځ سره د مقابلې لپاره له دېرش زره سواره پوځ سره وخوځېد. له سرای خان خانان[*] څخه په لومړي رباط کې میر مومن خان او دیوان لخپات

(۴ ) انندرام، ۲۳۴-۲۳۵ -۲۴۳-۲۴۶-۲۴۸- ۲۵۴- ۲۵۵- ۲۶۲ - ۲۶۳- ۲۶۵سرکار، لومړی ټوک، ۲۱۲ - ۲۱۹، بیان واقعي، ۱۳۴- ۱۳۶، حسین شاهي، ۱۹-۲۱، مجمل التواریخ، ۹۸- ۱۰۰، تاریخ احمد ۱۵-۱۶، تاریخ احمدشاهي، ۳الف ۴ب، ګلستان رحمت، ۳۷-۳۹، ۱۴۸، جام جهان نما، فرح بخش، ۴۰.

)*(له لاهور سره نږدې یو ځای دی. مترجم.

ری هغه دوه ویشت لکه روپیۍ راوړې چې دوی د منل شوي جریمې لپاره راټولې کړې وې[۵].

ددې لپاره چې د پوځ د خوځېدنې راز په جدي توګه پټ وساتل شي شاه امر وکړ هر هغه هندو چې دننه یا له پوځ څخه بهر په تګ راتګ ولیدل شي، باید سملاسي ووژل شي. په دې ډول هغه یو شمېر هر کاره (ځری، مخبر- مترجم) چې په وزیر یې اړه لرله او یا نور هندي مشران ووژل شول او هېچاته اجازه ور نه کړل شوه چې له خبرو سره بېرته ستانه شي.

په سرای نورالدین او د ((وا یرووال) په ګودر کې د ((سردار جیسا سینګ الو والیا )) تر مشرۍ لاندې د سکانو له نامنظمو ډلو سره د کوچنیو نښتو پرته چې د لارې پر سر له خپلو پټو ځایونو څخه د لوټ ماری او مالونو د ولجې په هیله راوتلي وو، شاه له کوم خنډ سره مخامخ نه شو[۶].

په پهلاور کې دی په دې پوه شو چې مغلوانو د سرهند په چونۍ کې خزانه او ډېر مالونه زېرمه کړي دي.

شاه مخکې له مخکې د سرهند پوځدار علي محمد خان ته چې یو روهیله پښتون و، لیکلي وو، چې د تسلیمېدو لپاره ځان چمتو کړي. ده همدا راز هغه ته له بري وروسته د هندوستان د وزارت وعده ورکړې وه. په عین حال کې هماغسې چې محمد مستجاب خان موږ ته بیانوي، امپراتور محمد شاه په ((کاتهر )) کې د خپلې علاقې د اداره کولو فرمان ده ته وړاندې کړی و.

(۵ ) اننددرام ۲۶۱.

(۶ ) د کاپور تالا تاریخ د رام جاس لیکنه، ۱۳. وګورئ رام سخراو، جیسا سنګ بینود، د سکانو لنډ بیان په باب په پای کې په یوه ضمیمه کې ورکړل شوی دی.

علي محمد خان د خپلو سردارانو غونډه جوړه کړه چې له هغوی څخه سلا واخلي.

افغاني سردارانو ده ته د شاه لور ته د تسليمېدو خوښه ورکړه. خو علي محمد خان يو ځيرک سړی و، ده وويل: ((ستاسو نظريې عالي دي، خو زه پوهېږم چې احمد شاه به په هندوستان کې پاتې نه شي. له دې امله دا به د سلا وړ نه وي چې د خپلو خلکو په نظر کې ځانونه ګرم کړو او د هندوستان له امپراتور او مشرانو سره دښمن شو.)) هغه يوه خوندي لاره ونيوله او له خپل ټول پوځ سره چې شمېر يې نږدې شلو زرو کسانو سورو او پليو ته رسېده، د کامان غرونو په تل کې خپلې سيمې ته په بيړه راستون شو، په دې ډول د سرهند په بې دفاع پرېښودلو سره ده په غير مستقيمه توګه له شاه سره مرسته وکړه[٧].

شاه د ربيع الاول په ١٢، د مارچ لومړۍ، له لوديانې سره په ستلج واوښت او مخامخ سرهند ته لاړ. مغولو د لارې د بندولو لپاره ترتيبات نيولي نه وو او په نتيجه کې درانيان په لار کې له کوم مخالفت سره مخامخ نه شول. نږدې ځلو ښت ميله واټن په يوه ورځ کې ووهل شو او د مارچ په دويمه افغانان د سرهند د دېوالونو مخې ته راورسېدل. چونې مقاومت وکړ خو کمزوری و او کله چې د هغوی تجهيزات خلاص شول، د شاه په مخ يې دروازې پرانستلې. ټوله خزانه مالونه او د وزير د حرم پېغلې د هغه په لاس کې کېوتلې. زيات شمېر نارينه تر چړې لاندې شول او ښځينه د وينځو په توګه

(٧) ګلستان، ٣٧-٣٨، اننډرام ٢٦٦.

ونیـول شـوي. د چـونی، دننـه او بهـر زیـات شـمېر خـونې لـوټ او وسـوځول شوي[۸].

شاه خپله ښمه په پاچايي باغ کې ودروله او پوځ په شاوخوا باغونو کې دېره شو. ددې لپاره چې پوځ ښغمه شي، ده ټوله ولجه او سامانونه لاهور ته په دې فکر ولېږل، چې هلته به له سفر څخه دده د ستنېدو لپاره په ښه توګه خوندي کړل شوي وي.

دغه خبرونه عبدالمنصور خان ته د خپلو هر کاره وو په وسیله د بهارولي کلي ته چې هلته شهزاده احمد اړولي وو، ورسېدل. وزير دې ته تیار نه و چې په دغو خبرونو باور وکړي، ځکه دده هېڅ يوه هرکاره چې ښايي ټول به وژل شوي وو، ده ته حتی د درانیانو له راتګ څخه خبر ورکړی نه و. له دې امله ده ځیني کسان سرهند ته چې له (کمپ) څخه نږدې شل کروه (تقریباً څليرويشت ميله) ليرې وو، ولېږل چې ددغو اوازو سم او ناسم څرنګوالی معلوم کړي، دی ژر د غفلت له خوبه پاڅېد او پوه شو چې په دغه ځای پورې مربوط هماغه هر څه ترسره شوي دي. د سرهند له لاسه وتل او په ډيلي باندې د دراني پاچا د رادمخه کېدو د تیاري خبر هندیان وارخطا کړل او دا وېره موجوده وه چې مبادا هغوی به له کومې جګړې پرته تیت او پرک کړل شي. عبدالمنصور خان مجبور و چې د افسرانو د يوځای ساتلو لپاره فوق العاده عمل وکړي او ده وزير ته پيشنهاد وکړ چې د افغانانو په تعقیب د ډيلي په لاره په مخ لاړ شي[۹].

---

(۸) انتدرام ۲۶۶، مجمل التواريخ ۱۰۱- ۱۰۲، چهارچمن انشای ارشادی ۸۹-۹۰.

(۹) مجمل التواريخ ۱۰۲- ۱۰۴.

د درانیانو له خوا د سرهند د نیول کېدو او په ډیلي باندې د افغانانو د هیبتناک مارش خبرونو په پایتخت کې ډېره زیاته وېره او خواشیني رامنځته کړه. ددغه ښار اوسېدونکو ته یې د نادر شاه د وخت ډار ور په یاد کړ او هغوی په زیات شمېر له خپلو کورنیو او مالونو سره په تېښته پیل وکړ. امپراتور مجبور و چې ددغسې بهر ته د تېښتې او جریان د بندولو لپاره کلک تدابیر ونیسي. دغه راز ده محمد اسحق خان، محمد غازي الدین، راجابخت سنګ او خانه سامان سعدالدین خان ته وظیفه ورکړه چې له ښار څخه بهر لاړ شي او د سرای بدلی او وزیر اباد سره نږدې مخکیني سنګرونه ونیسي. د شاهي چونۍ دفاع هم پیاوړې شوه، خو د منو پور جګړې ښار له ټولو بدمرغیو څخه وساته[۱۰].

## د منو پور جګړه:

د ربیع الاول په څوارلسمه د مارچ دربیمه، شهزاده د سرهند لور ته وخوځېد او د پنځو کوه koh (کروه یم) (لس میلو) په واټن یې د منورپور په کلي کې خپل کمپ وټاکه. له بلې خوا احمدشاه د سرهند په بڼونو کې د خپل مهماتو مرکز ټینګ کړ او دوه نیم کوهه (تقریباً پنځو میلو) وړاندې یې خپل مورچلونه وکیندل. دغو مورچلونو له منور پور څخه هم همدومره واټن درلود. د دواړو خواوو څخه د ټوپکو په ډزو سره جګړه پیل شوه. د مغولي پوځ له خوا غوره شوی موقعیت دومره خوندي نه و شاوخوا یې وچه او د اوبو د برابرولو لپاره د څاه ګانو شمېر ناکافي و. خو هغې هم مرسته کولی

(۱۰) تاریخ احمد شاهي، ۴ب- ۵الف.

نه شوه ځکه افغاني مورچلونه له منوپور څخه د پنځو میلو په لیرې والي پـه مخکې پراته وو. له بلې خوا شاه لـه دې امله چې تـر شا یې سرهند و چې د اوبو او خوراکي شیانو له پلوه غني و په ډېر ممتـاز موقـف کې ځای درلـود. خو دی هم د توپخانې د کمزورتیا لـه املـه د خنډونو سره مخامخ شو. ده د مغولو د سلګونو توپونو په مقابل کې چې دراندہ توپونـه هم پـه کې شـامل وو، یوازې یو درونـد توپ او د ((جیلان)) اوه سپک توپونه لرل. له دې املـه ده په دښمن باندې کوم یو ستر یرغل کولی نـه شـو. دی مجبور و پـه دې ځـان قانع کړي، چې مغولان له هرې خوا څخه د سیارو او غلچکو ډلـو او وړوکـي شمېر جنګیالیو پـه استولو سره وځوروي، هغـوی د خپـل کمپ پـه شـاوخوا کې ایسـار کـړی او پـه دې ډول یـې پـه دفـاعي حالـت کې واچـوي. د دوی (د مغولـو ) کمیسـاري ښـه تنظـیم شـوی نـه و او لـه شـاوخوا څخـه د اړتیـاوو رارسـول وربانـدې بنـد شـول او د افغانـانو پـه لاس کـې ولوېـد. د خـوراکي شیانو او وښو کمبود د اوبو د لږوالي په ګډون د مغولـو عمـومي قومانـدان په زیاته اندازه وارخطا کړ. راجا ایشري سنګ او ځینو نورو سردارانو وزیـر تـه ددې سلا ورکـړه چې برید وکـړي او پـه درانیـانو ورتـوی شـي او هغـوی وشړي. خو ده (وزیر) عمدا له یوه عمومي اقدام څخه ډډه وکړه او جګړه یـې په دې هیله اوږده کړه چې افغانـان بـه د ځایي مشـرانو لکـه د پټیـالي سـردار الاسنګ او درای کوټ درای کالا له خوا د هغوی د وښـو او خـوراکي شـیانو په قافلو باندې د برید له امله له لوږې څخه په تنګ کـړي او سملاسي بـه پـه خپله توپخانه سره په هغوی باندې د ډزو کولو له امله دوی تسـلیمېدو تـه اړ باسي. په دغه ډول له کومې سختې جګړې څخه پرته یـوه اوونـۍ تېـره شـوه،

خو له بلې خوا احمدشاه په کراره او لاس تر زنې ناست نه و، دده د وړوکي شمېر جنګيالي ډلې ډېرې بريالۍ وې او ده د وزير په مقابل کې په خپله خپل موقف او وضعيت برابر کړ.

دا سمه ده چې سردار الاسنګ او راى کالا ځيني وختونه په دې بريالي شول چې يو شمېر افغاني اوښان د وزير کمپ ته راوتښتوي خو د مغولو په کمپ کې ستر شمېر لښکر ونه شول کولی د قافلو له منظمو بدرګو پرته تر زيات وخت پورې ځانونه وساتي.

دغه حالت له دې امله سخت شوی و چې د درانيو غلچکي ډلې د مغولو د کمپ تر شاوخوا په يوه وخت کې څو ميله راتاوېدلې. کله چې احمدشاه په دې پوه شو چې وزير دننه ايسار شوی دی، نو د يرغل په فکر کې ولوېد. د ربيع الاول په شلمه، مارچ نهمه، ده خپل يوازينی ستر توپ د مغولو کمپ سره نږدې يوه جګ ځای ته پورته کړ او د هغو د ليکو لور ته يې ډزې پيل کړې. دغه توپ ډېر ښه برابر شوی و او د هغه ګولۍ د دښمن له مورچو څخه واوښتې او د شهزاده او د هغه د لويانو خېمو ته ورسېدلې. زيات شمېر افراد او څاروي يې ووژل. د ژوبلې او مړينې اندازه او شمېر ډېر لوړ بربښېده او د مغولو په کمپ کې وېره دومره ډېره شوه چې وزير د ابو المنصور خان او نورو د فشار په سبب په يوه ښکاره عمل د لاس پورې کولو مجبوريت احساس کړ(۱۱).

(۱۱) انندارام، ۲۶۷-۲۷۱، تاريخ احمدشاهي، ۵ب، مجمل التواريخ، ۱۰۴-۱۰۵ مخونه.

د عمومي اقدام لپاره د جمعې ورځ ( د ۱۱۱۲هـ د ربیع الاول ۲۲، ۱۱۴۸م مارچ یوولسمه ) وټاکله شوه. نږدې ټول شپېته زره جنګیالي پوځ چې عمومي قوماندانې یې د وزیر په لاس کې وه په پنځو برخو وویشل شو:

۱- د لښکر مخکینۍ ډله د وزیر له ترکي ټولي او دده د زامنو میر نجم الدین خان، میر فخرالدین خان، میر صدرالدین خان احمدزمان خان طالب جنګ او د جلندر دواب د ادینه بیګ خان او د پوځونو او هغو لښکرو څخه جوړېدله چې مشري یې دده د مشر زوی میر معین الدین خان (په متداول ډول د مېرمنو په نوم نامتو و او وروسته یې د معین الملک لقب واخیست) په لاس کې وه.

۲- عبدالمنصور خان، صفدرجنګ له خپلو انتخابي پارسي سربازانو چې د نادر له تجربه کارو افرادو څخه د خدمت لپاره ګومارل شوي و او د هندوستان د پیوربیانو Purbias سره یې ښي اړخ اداره کاوه.

۳- د منځ اداره کول د سید صلابت خان او دلاور خان په مرسته د شهزاده احمد له خوا کېدله چې د خپل ځانګړي ګارد په راس کې و.

۴- کیڼه خوا د جیپور راجا ایشري سنګ او نورو هندي مشرانو (د راجپوت د لښکرو په ګډون) په لاس کې وه.

۵- د پوځ د شالور ته د کابل پخواني والي ناصرخان قوماندانې په غاړه لرله.

له بلې خوا شاه درې زره ایراني قزلباشان د محمد تقي خان شیرازي تر قوماندې لاندې راوستل او هغه ته یې امر وکړ چې د مېرمنو په مقابل کې

وخوځېږي په داسې حال کې چې دی په خپله د افغاني جنګياليو په راس کې د ابوالمنصور خان په مقابل کې رادمخه شو[۱۲].

اوښ چورلکيانو[*] ته امروشو چې فعاليت ته تيار اوسي، جګړه د درانيو له خوا د سپکو ټوپکونو په ډزو سره تقريباً د سهار په اتو بجو پيل شوه. د مغولو عمومي قوماندان د سهار د نهو او لسو بجو ترمنځ د ځانښت لمونځ (نفل. مترجم) لږ څه وړاندې خلاص کړی و او په خپل جاينماز باندې په وظيفه بوخت و، چې سملاسي د يوه افغاني توپ ګولۍ دده په خېمه باندې ولګېدله او د خېمې له څيرې کولو وروسته لومړی په ځمکه ولوېده او بيا وچاوده او دی يې له ملا سره نږدې ټيپي کړ. په دغه وخت کې فراش خان، سنګين بيګ خان او دده درې تنه نور ياران هم حاضر وو خو هېڅ بل يو ټپي نه شو[۱۳].

دا هم د باور وړ نه برېښېدله چې د دراني توپونه دې دومره سم په نښه برابر شوي وي، چې په خپل لومړني ګوزار سره يې د وزير په خېمه ګولۍ ښښتلې وي. انندرام په خپله تذکره کې د دغه کار دليل هغو اطلاعاتو ته منسوبوي چې د شاه د جاسوسانو له خوا ټول شوي وو. دی موږ ته دا بيانوي چې د ربيع الاول په شلمه، مارچ نهمه، د افغاني پوځ دوه تنه وزير ته راغلل او له هغه سره يې يوه مصاحبه درلوده. دوی دواړو ادعا وکړه چې د لاهور د

(۱۲) د غبار په حواله د افغاني پوځ ښي څنډه د سپهسالار سردار جانخان تر قوماندې، کيڼه خوا د امير لښکرشاه پسند خان او د منځ برخه په خپله د شاه تر قوماندې لاندې وه. احمد شاه بابا، ۲۰۰ مخ.

(*) ښايي هغه پوځيان به وو چې په اوښانو يې چورلېدونکي توپونه وړل. مترجم.

(۱۳) انندرام، ۲۷۳-۲۷۹-۲۸۰، مجمل التواريخ، ۱۰۷-۱۰۸، تاريخ احمدشاهي، ۵الف- ۶ب، تاريخ مظفري ۴۲۵، حسين شاهي، ۲۱-۲۲ سرکار لومړی ټوک ۲۲۴-۲۲۵.

مستوفي نواب ذکریا خان ډېر وفادار خدمتګاران دي. هغوی وویل دوی د دراني خدمت ته جبراً جلب شوي او هیله یې وکړه چې له خپلو ټولو ملاترو سره د مغولو لور ته ځانونه راوباسي، وزیر د دوی په خبرو باور وکړ او په دوی باندې مهربانه شو. له داروغه darogha څخه یې وغوښتل چې دوی په خدمت کې شامل کړي او سل روپۍ د انعام په توګه ورته وسپاري. دوی د خپل مرام سره سم اطلاعات برابر او د دراني کمپ ته ستانه شول هغوی وویل چې ژر به له خپلو افرادو سره راوګرځي[۱۴].

یو بل بیان هم شته چې د تاریخ احمد شاهي مولف راوړی دی. له دغه بیان سره سم یوه ورځ افغان احمد په هندوانو، منو او نورو مېوو بار شوی اوښ له خپلو افرادو سره یوځای شهزاده احمد ته له یوه لیک سره ولېږه احمد د سولې هیله وکړه او دا شرط یې کېښود چې که د نادر په شان ده ته کابل او تاتا thatta پرېښودل شي، دغه راز هغومره پیسې لکه چې نادر له ډیلي څخه له ځان سره یوورلې، هغه ته ورکړل شي، نو دی به راپه شا او بېرته به لاړ شي.

شهزاده لیک او اوښ ذوالفقار جنګ (سعادت خان) ته ولېږل. ده هغوی اعتماد الدوله (وزیر قمرالدین) ته وړاندې کړل. وزیر افغان احمد ته ځواب واستاوه چې نه غواړي امپراتور بې ګناه وبښي، نو په ترلو لاسونو دې خپل ځان شهزاده ته حاضر کړي... په دغه وخت کې سیاسي نماینده او ځری د هغه نکل او بیان پر اساس چې په عماد السادات کې راغلی دی، مهدي قلي خان توپچي باشي و چې د احمد دراني د توپخانې یو افسر ګڼل کېده. ده د

(۱۴) اتندرام، ۲۷۴-۲۷۶

وزیر له خپمې ځخه د ستنېدو په ترڅ کې له خپمې ځخه وا ټن په خپلو ګامونو اندازه کړ. همدا سبب و چې افغاني توپچې وکولی شول، خپله ګولۍ د وزیر د خپمې پرځای باندې برابره په نښه کړي. د عماد السادات مولف سید غلام علي وايي چې دا کیسه او بیان حقیقت نه لري او د ځیرکو مغولو له خوا د جوړو شویو درواغو ځخه بل څه نه دي. دغه نکل د هغو منابعو په حواله ثبت کړی چې غواړي خپل خلک تمجید کړي[۱۵].

## میر منو اداره په لاس کې نیسي:

کله چې وزیر په وژونکې توګه ټپي ولیدل شو ټول هغه کسان چې حاضر وو په ژړا او واویلا شول. دده زوی معین الدین خان دا وخت د توپخانې پرځای کې و، د یوه پیغام په رسېدو سره ژر خپل پلار ته حاضر شو. وزیر په دې پوه شو چې د مرګ په حال کې دی، نو یې خپل زوی میر منو (د مینې له مخې دا نوم معین الدین ته اخیستل کېده) ته وویل: ((زما زویه هر څه را ځخه پاتې شول، خو څرنګه چې د امپراتور دنده لا سرته رسول شوې نه ده، نو ژر باید پورته شې او مخکې له دې چې دا خبر خپور شي، یرغل ته لاس واچوئ. د (خاوند) د مالګې حق ادا کول تر ټولو شیانو پورته دی. زما کار ته به وروسته پاملرنه وکړئ.)) خپل زوی ته دد غو خبرو او وصیت په کولو او د شهادت د کلمې په ویلو سره د وزیر الممالک اعتماد الدوله نواب قمرالدین خان نصرت څنګ او د مغولو د پوځ لوی قوماندان ساه وختله[۱۶].

---

(۱۵) تاریخ احمدشاهي، ۵ب، الیوټ او داسن، درېیم ټوک، ۱۰۸، عمادالسادات، ۳۸.
(۱۶) انندرام، ۲۷۳، سرکار لومړی ټوک، ۲۲۳-۲۲۴.

میر منو ته د خپل پلا مړینه لړزوونکې وه، خو ده زیات فکري قوت او زړورتوب ونبوده دی یې په خپلو وینو لړلیو کالیو او هماغه خېمه کې ښخ کړ او مځکه یې وربانديې داسې هموار کړه چې کومه نښه یې پاتې نه شوه. ورپسې میر منو د خپل پلار په هاتي سپور شو او امر یې وکړ چې ډولونه وغږول شي. له دغه غمجن خبر څخه یوازې شهزاده ابوالمنصور خان صفدر جنګ، سعادت خان، ذوالفقار جنګ او ناصرخان خبر و. دا اوازه واچول شوه چې وزیر والګي نیولی او خپل زوی ته یې امر کړی چې دده پرځای پوځ اداره کړي. وروسته ده سرداران خپل حضور ته راوغوښتل او له دوی څخه یې په زغرده داسې هیله وکړه: (( هغه څوک چې د جګړې میدان ته له ما سره د تګ هیله من دي کېدلی شي له ما سره لاړ شي او هر هغه څوک چې نه غواړي، کولی شي خپلې خېمې ته په څټ وګرځي ځکه د جګړې پر وخت کې ببرته ګرځېدل بد او کور ورانوونکې دی. تر هغو چې زما په ځان کې ساه چلېږي، نو به د خدای(ج) په مرحمت جګړې ته دوام ورکړم.)) په دغو خبرو سره ده د راوړاندې کېدونکو درانیانو سره د مقابلې لپاره د جګړې میدان ته ورودانګل(۱۷).

په هر ډول چې و، د وزیر د وژل کېدو خبر درانیي مشرانو ته ورسېد. محمد تقي خان شیرازي سملاسي له ښي خوا څخه د میر منو پر خوا راتاو شو او د هغه پر لښکرو باندې یې پرله پسې حمله وکړه. دا وخت و چې میر منو بیا ډګر ته راووت چې خپلو افرادو ته ډاډ ورکړي او د افغانانو وړاندې تګ

(۱۷) انندرام ۲۷۶، بیان واقعي ۱۶۷، تاریخ احمدشاهي، ۶الف.

ودروي. شاه د شېرازي د ليکې د تقويې لپاره نوې ډلې ورولېږلې، خو له دې سره سره هم ويې نه شول کولی مير منو له خپل ځای څخه بې ځايه کړي.

په هر حال افغانان په ښي خوا کې چې د راجا ايشري سنګ تر مشرۍ لاندې د مغولي پوځ له کينې اړخ سره په جګړه لګيا وو، ډېر برياليي برېښېدل. راجپور تان په زعفران رنګ شويو چپنو کې ډګر ته راوتلي وو او تصميم يې درلود چې ترپايه به وجنګېږي. تر هغې چې مړه او يا بريالي شي.

شاه د دوی په مقابل کې د افغانانو يو درې زره کسيزه ډله او دوه سوه اوښ چورلکيان ورولېږل. دوی خپل ځانونه په دوو ليکو وو بښل يوې ډلې د راجپورتانو د کمزورۍ او اسان صف لور ته ور ودانګل او خپلې ډزې يې ورباندې وکړې او د باد په شان بېرته په تراټ راوګرځېدل.

بلې ليکې هم په هماغه ډول خپل بريد ترسره کړ. په دې ترتيب راجپوتانو د خپل برياليتوب او بې پروا زړورتوب پر اساس له خپل بري څخه د پوره ډاډ لرلو په فکر خپل برېتونه تاوول چې ګوندې جګړه به د سرې تورې په حکم شکل غوره کړي. دا وخت د ګوليو په هر يوه باران سره دوی په سلګونو له اسونو ولوېدل او ويې نه شول کولی چې دښمن ته ځانونه ور ورسوي. د جګړې دغه عجيبه روش په راجپوتانو باندې د دوو تېرو پېړيو په له کاره لوېدلي تاکتيک باندې روزل شوي وو، روحياتي ګوزارونه وکړل[۱۸].

## د راجپوتانو تېښته:

(۱۸ )سرکار، لومړی ټوک، ۲۲۷.

کله چې افغانانو راجپوتان متزلزل او ناپایدار ولیدل، نو سملاسي له ښي اړخ څخه په هغوی باندې ورتوی شول او د دوی په لیکو باندې یې وژونکې ډزې پیل کړې. کله چې د راجپوتانو د مشر راجا ایشري سنګ ترمنځ په زرګونو کسان مړه او یا د مرګ په حال کې ولوېدل نو وارختا شو او زړورتوب یې له لاسه ورکړ او خپل سلامت او امن یې د جګړې له میدان څخه په راپه شا کېدو کې ولید. هغه کسان چې د جګړې میدان ته د ((بریالیتوب یا شهادت)) په زړو چپنو کې راغلي وو او په خپل بېساري زړورتوب باندې یې ویاړ کاوه د افغانانو له مخې څخه داسې وتښتېدل لکه د باد سیلۍ چې بوس په هوا کړي. تېښته دومره نابېره وه چې دوی د ((هاتي ډول)) او راهکالاګان څاګانو ته واچول او په اضافي سامانونو یې اور ولګاوه. دا شیان زیاتره په خپله د جګړې په ډګر کې پرېښودل شوي وو او زیات شمېر سرګردان او بار شوي اوښان د لارې پر سر له کومې څارنې پرته خوشې کړل شوي وو. کله چې راجپوتان د جګړې له ډګر څخه پاک شول، احمدشاه خپل کیڼ لور ته وګرځېد او د میر منو د شا په مورچلونو باندې یې برید وکړ او د مرکز برخه چې د شهزاده په لاس کې وه، تر تهدید لاندې راغله. میر منو د راوړاندې کېدونکو افغانانو د تمبولو لپاره چار چاپېره راتاو شو او دا وخت د دواړو د سر زیان ډېر زیات و، زیات شمېر افسران ووژل شول. د هندوانو په منځ کې ډېره وېره ولوېدله او د هغوی له لړ څخه زیات شمېر هندوانو او مسلمانانو خپلې پوستې (پوځي مرکزونه) پرېښودلې او د ډیلي لور ته تښتېدل. داسې برېښېدله چې د مغولو ماتې رانږدې ده.

## د جګړې معراج:

مو اوس له خپلو ټولو پټو استعدادونو سره راپورته شو او په رادمخه کېدونکو درانیانو باندې یې په کلکه یرغل راوړ. د شا له لوري څخه ذوالفقار جنګ سعادت خان او ناصرخان دده ملاتړ وکړ. افغانان او مغول سره نږدې شول او یو بل ته یې لاسونه سره واچول. په توپخانې او پلټه ییزو ټوپکو سربېره اوس دلته سړې وسلې هم پرکېدلې چې وایي بشري تلفات یې نور زیات کړل. په دغه سرسخته جګړه کې منو په خپله هم دبټه مجبور و چې د افغانانو رادمخه کېدل د غشو په باران سره وتمبوي او داسې ویل شوي چې ده په دښمنانو باندې دوه درستې (کڅوړې) غشي اورولي دي.

جګړه دومره سخته وه چې په ندرت سره کوم یو افسر ټپ ناموندلی تر ې پاتې شو. منو په خپله هم د پوټکي په برخه کې د یوې ګولۍ په واسطه وګرول شو ، دده وروړ فخرالدین په پښه باندې ټپ واخیست د جلندر دواب ادینه بیګ خان دوه ځایه په ګولۍ ولګېد. جاني خان دارو غه، شهاب الدین خان او د هغه زوی بهروز خان او نور زیات شمېر افسران ووژل شو. په دغه بحراني شېبه کې وو چې د مغولو د امپراتورۍ سرنوشت په هغه تعادل پورې تړلی و ، کوم چې ابو المنصور خان صفدرجنګ د درانـي سیالانو په مقابل کې د قوې په تجدید سره خپل ځان ته چمتو کړ(۱۹).

په عین حال کې افغانان په ښي خوا کې د صفدرجنګ له خوا چې د مغولو کینې اړخ لاربښوونه یې کوله په شا وتمبول شول. د شاه په امر یو ټولګی

(۱۹ ) مجمل التواریخ، ۱۰۹-۱۱۱، انندرام ۲۷۷-۲۷۸ ، ۲۸۰-۸۲، تاریخ مظفري، ۴۲۷-۲۸ ، تاریخ احمدشاهي، لومړی ټوک، ۲۲۷-۲۸.

افغانـان او دوه سـوه اوښ چورلکیـان د ابو المنصـور خـان صـفدر جنګ پـه مقابل کې لېږل شوي وو. چورلکیانو یو جګ ځای ونیو او له هغه ځخه یې د هندیانو په لیکو باندې ډزې برابرې کړې. په دې سبب صفدر جنګ پـه خپـل هاتي باندې سپور شو چې د خپل پوځ لارښوونه وکړي. ده یو زر او اوه سوه تنه پارسي سواره له خپلې فرقې ځخه رابېـل او پیـاده یـې کـړل، بیـا یـې پلـې ولېږل چې په افغاني چورلکیانو برید وکړي. پارسیانو پـه خپلـو اوږدو پلتـه ییزو ټوپکو (جازیر Jazair په افغانانو باندې ګـولۍ واورولـې، د هغـوی یـو شمېر یې ووژل او د دوی په یـو شـمېر اوښـانو یـې چپـاو یـووړ او ویـې نیـول. پاتې افغانانو چې خپل شمېر لږ ولیـد نـو خپلـې اصـلي فرقـې تـه یـې پـه ځټ کېدلو خپل ځانونه بچ کړل. احمد شاه د افغانـانو یـو لښـکر واسـتاوه چـې لـه لاسه تللي چورلکیان بیا ونیسي خو له جګ ځای ځخه د پارسـیانو د سـختو ډزو له امله یې دا کار ترسره نه کړی شو او مجبور و د زیاتو تلفـاتو پـه ګـاللو سـره پـه ګـډوډه توګـه بېرتـه راوګرځـي. دغـه پېښـه پـه افغـاني لیکـو کـې د اندېښنې سبب شوه او په نتیجه کې یې د صفدر جنګ د سورو د پرمختـګ لاره هواره کړه. په دې ډول ددوی د پوځ کینې لوری چې د صفدرخان په مقابل کې و په بري سره په ځټ وتمبول شول[۲۰].

ابو المنصور خان د فراغت او ساه ایستلو لپاره پـه سـختۍ وخت درلـود ، دا وخت په منو باندې د مخ له خوا او په شهزاده باندې د منځ له خوا د افغانـانو د فشار خبر هغه ته راورسېد. ده په بېړه سره د دوی مرسـتې تـه ورودانګـل د هغه د نوي قوې په راتلو سره چې یـو شـمېر درانـه توپونـه او اووه سـوه اوښ

(۲۰) مجمل التواریخ ۱۰۷-۱۰۸، ۱۱۱.

چورلکيان په کې شامل وو، د افغانانو په لور دده د توپونو او ټوپکو له پرله پسې ډزو سره يوځای يرغل پيل شو. د منو، شهزاده او د ناصرخان لښکر هم زړورتيا ومونده او په زياتوونکي شجاعت سره وجنګېدل. دغو ټولو شيانو افغانان چې شاوخوا ترې ډېر زيات شمېر چاپېره وو، هک پک کړل او له هغو سره مقابله کول ورته ناممکن وبرېښېدل.

## په افغاني ليکو کې مصيبت:

په دغه بحراني شېبه کې يو بل مصيبت د درانيانو په بدمرغۍ باندې علاوه شو. د دوی په کاروان او کتار کې د ټوپکو (راکټونو) ډکه يوه کراچۍ موجوده وه چې هغوی په لاهور کې ترلاسه کړې وه، په دغو راکټونو کې يو يې د هغې سپرغۍ له امله اور واخيست چې په هغه ولوېدله له هغې سره جوخت ځو زره راکټونه په هوا شول او د درانيو په ليکو ببرته راولوېدل. دغه بخرکي په خپل وار سره په نورو کراچيو ولوېدل او هغوی يې وسوځولې. په همدې شان اور باروتو ته ورورسېد او د هغو په چاودلو سره زرتنه پارسي او افغاني افراد په لمبو کې وسوځېدل او مړه شول. دوی د راکټونو غږ ((ش شاه کوش- شا کو)) د يوې بدې بلا د کريږو په توګه کرکه وګڼله چې له هندوستان څخه راغلی او د شاه د موندلو لباره په هوا کې ګرځېدله. دغه کار په افغاني ليکو کې د جوتې ګډوډۍ او بې نظمۍ سبب شو او هغوی هرې خواته وتښتېدل[21]. په دغه ګډوډۍ کې ستومانه شويو

(۲۱) تاريخ مظفري ۴۲۷، انندرام ۲۸۳-۴، مجمل، ۱۱۰، تاريخ سلطنی، ۱۲۷، حسين شاهي، ۲۲-۲۳، تاريخ علی ۱۵۹-۱۶۰ وګورئ. د امام الدين حسيني په حواله افغانانو به ختايي سره ددې پرځای چې دښمن ليکو خواته ډزې وکړي د خپل لښکر لور ته يې ښايي خولې برابرې کړې اوسي. هغه ګډوډي چې د دوی له خوا په خپلو ليکو کې پېښه شوه له وېرې څخه يې افغانان هرې خواته وتښتېدل او دا يې ويل: ((دا هغه بلا ده چې

افغانانو ته دا ګرانه شوه چې د صفدرجنګ بریدونو ته ځانونه ټینګ کړي. په دې اساس دوی په شاتګ شول. که څه هم احمد شاه مات شو، خو افغانان یې له بشپړې ماتې او سترې تباهۍ څخه وژغورل. ده ته دا پته ولګېده چې په دغه ځای کې څه کولی نه شي، نو خپل ټول افراد یې راغونډ کړل، چې د خپل له لاسه وتلی موقعیت د بیا حاصلولو لپاره یو مقابل برید وکړي. په دې سبب ده تصمیم ونیو چې سرهند ته ستون شي، خو ده خپل فکر ارام کړ او خپل افراد یې په وار وار په شاتګ وایستل. د مغولو د فشار پر اساس به ده خپل افراد تر یوه واټن پورې په شاتګ بوتلل او بیا هغوی په یوه جنګي لیکه کې تنظیم او ډزې پیل کړې. د مازیګر خواته دې یوې وړې خاورینې چونۍ (ګاری garhi ته چې د منو پور او سرهند ترمنځ ده راوګرځېد او هغه یې ونیوله. په دغه ځای کې په پټون سره یې د مغولو په راوړاندې کېدونکي پوځ باندې ډزې پیل کړې او د هغو رادمخه کېدل یې له خنډ سره مخامخ کړل. کله چې توپونه راورسېدل، تیاره شوه او مغول د خپل کمپ لور ته په شاتګ ستانه شول. د شپې په تیاره کې احمد شاه سرهند ته راوګرځېد او د افغانستان په لور د ستنېدلو ترتیبات یې پیل کړل. مغولو هیله درلوده چې دی به د ربیع الاول په دروښتم سهار (د مارچ دولسمه) بیا د جګړې ډګر ته راووځي، خو کله چې دی جوت نه شو نو هغوی خپل هرکاره (مخبران) د باندې ولطړل چې دده پته ولګوي. خو هغوی یوازې له دې اوازې سره راستانه شول چې دی په جګړه کې وژل شوی او یا لږ تر لږه سخت ټپي شوی

---

له هندوستان څخه راغلي پاچا څه شو ناري وهي او پاچا لټوي)). د محمد صالح قدرت (تاریخ علي) مورخ ته وایي چې دغه راکټونه (بان) درانیانو او میر منو له توپخانې څخه نیولي وو. کله چې د منو د توپونو افسر وپسې د درانیانو لور ته د توپو خولې برابرې کړې د راکټونو دغو کراچیو اور واخیست او د درانیانو په لیکو کې یې ویجاړې پېښه کړه. ۹۵۹ مخ.

دی. د ربیع الاول په څلیرویشتمه نېټه احمد شاه څو پایې سپک توپونه د دښمن د مصروف ساتلو په غرض واستول، خو په خپله لاهور ته د خزانې او سامانونو د لېږلو په ترتیباتو باندې بوخت شو.

## د افغانانو ستنېدل:

مغولو په پنځه ویشتمه نېټه هم د جګړې په ډګر کې ځانونه ټینګ کړي وو. د ربیع الاول په ۲۲ (د مارچ ۱۵) احمد شاه شهزاده ته محمد تقي خان د سولې لپاره له یوه تصنعي پیغام سره ولېږه چې په کې دا څرګنده شوې وه که نادر ته ورکړل شوې سیمې ده ته پرېښودل شي، دی به خپل هېواد ته په شا وګرځي. منو او شهزاده د دغسې هر ډول خبرو د اورېدلو لپاره حوصله نه درلوده او یو تند ځواب یې ببرته ورولېږه. افغانانو په نمایشي توګه د سولې د شرایطو په نه منل کېدو باندې ځانونه خفه وښودل او د ربیع الاول په ۲۷ بیا جګړې ته حاضر شول، خو په حقیقت کې دغه اقدام ټول دد دې لپاره و چې شهزاده او صفدرجنګ وغولوي او په خوندي ډول خپله خزانه او سامانونه له سرهند څخه وباسي چې د مغولو له منګولو څخه وژغورل شي. اصلي پوځ په پټه سره د ځنګل په یوه لار تګ راتګ کېدونکې لاره له خپلو مالونو او یو شمېر غوره بندیانو سره چې د علي احمد خان زامن عبدالله خان او فیض الله خان په کې شامل وو، ولاړ او دا یوازې د شاه ګارد و چې له مغولو سره یې د پټ پټاني لوبې کولې او هغوی یې له اصلي موضوع څخه په دې توګه لیرې ساتل. د ربیع الاول په ۲۸، مارچ ۱۷، دغه وروستی پوځ هم له سترګو پناه شو او پخوا له دې چې افغانان تعقیب او د دوی د تېښتې

لاره ونیول شي، دوی خپل ځانونه لودیانې ته ورسول او له ستلج څخه په تېرېدو سره د لاهور لور ته وخوځېدل[۲۲].

مغولو په دوو دلیلو سره افغانان د وتلو په وخت کې تعقیب نه کړی شول.

لومړی د شهزاده احمد پلار امپراتور محمد شاه ډېر ناروغ او شهزاده چې د پوخ مشر و، ډیلي ته د راستنېدو لپاره په اند ېښنه او تکل کې و، خو نواب صفدرجنګ تر شهزاده هم زیات په فکر او اند ېښنه کې لوېدلی و هغه د نوي صدراعظم په توګه هیله په زړه کې روزله. ده د شهزاده له امر څخه په دې برخه کې ډډه وکړه چې له ستلج څخه واوړي او په لاهور باندې وړاندې شي. خو سره له دې اپریل په نهمه د رابلل کېدو او د هغه چې شهزاده ته د امپراتور له خوا هم ټول عملیات هغه وخت بندل شول د بېرته راتګ یو لیک رارسېدلی و. امپراتور محمد شاه د اپریل په پنځلسمه نېټه په داسې حال کې مړ شو چې شهزاده لا ډیلي ته د تګ په لار کې و.

دویم دا چې د وزیر قمرالدین مرګ نه یوازې د منو پور د جګړې د وطن پالنې اتل پناه کړ، بلکې د هڅونې او ملاتړ د هیلو قهرمان یې له منځه یووړ. صفدر جنګ د وزیر قمرالدین یو پخوانی سیال و او هغه داسې کوم کار نه کاوه چې له هرې خوا څخه د منو ګټې تامین کړي.

شاه له سر هند څخه[۲۳] په دویم پړاو (رباط) کې په کندهار کې د خپل وراره لقمان خان له الهګولې څخه خبر شو. په دې اساس شاه خپل هېواد ته د بېرته

---

(۲۲) انندرام، ۲۸۴-۸۵، ۲۹۱-۹۲، ۲۹۵-۹۶، تاریخ احمدشاهي ۷الف-۸الف، مجمل، ۱۱۲، حسین شاهي، ۲۳، فرحبش، ۴۲، جام جهان نما ۱۴، مجمل الاخبار، ۴۷۱.

تګ بيره درلودله. دی په لاهور کې دلخپات رای د ځپلو لپاره زيات وخت په لاهور کې پاتې نه شو.

لخپات رای څو ورځې وړاندې د کاسور افغان جلهه خان له لاهور څخه ايستلی و او د دغه ځای اداره يې په خپل لاس کې نيولې وه.

لخپات رای په جګړه کې د درانيانو له ماتې خوړلو څخه د خبرېدو سره سم جلهه خان ته يو پيغام ولېږه، چې په هغه کې يې ده ته داسې ويلي وو: ((ستا واکمن مات شوی او تښتېدلی دی. دا به ستا لپاره هم ښه وي چې په روغه توګه وتښتې که نه نو ته به بندي شې.)) دغه افغان (جلهه خان. مترجم) په پټه له لاهور څخه ووت او ليرې ولاړ. احمد شاه په لاهور کې محض دومره خت ته اړتيا لرله چې خپل سامانونه ټول او ويې لېږي، له هغې وروسته دی کندهار ته روان شو.

داسې بريښي چې شاه افغانستان ته د خپلو ټولو سامانونو د وړلو توان نه لاره او لکه چې د ((ډيلي پيښې)) ثبت کړی، دده ځيني مال مهدي قلي خان له لاهور څخه راوړ او د ۱۷۴۸ کال د دسمبر پر ۲۸ ډيلي ته راورسېد[۲۴].

(۲۳ ) د ((احمدشاه بابا)) مولف موږ ته وايي چې د لقمان خان د اله ګولې خبر احمدشاه ته د جګړې په ډګر کې رسېدلی او دغه کار د خپل هېواد لور ته دده د ژر ستنېدو د هڅونې سبب شوی و، ۲۰۴ مخ.

(۲۴ ) مجمل التواريخ، ۱۱۲-۱۳خوش وقت رای، ۶۳. خوش وقت رای وايي چې احمدشاه لاهور ته له رسطدو سره سم له لخپات رای څخه غوښتل چې ده ته د ښار د نيولو اجازه ورکړي، څو د جګړې کولو توان ومومي. لخپات رای په ځواب کې ورته وويل چې شاهي پوځونه دوه ورځې پخوا لاهور ته رارسېدلي دي او دی بېوسه دی. شاه امکا درلود چې هغه له دوی څخه په زور ونيسي، خو چې دا کار يې ونه کړلی شو، نو خپل هېواد ته ستون شو. دا خبرې حقيقت نه بريښي، ځکه شاهي پوځ دا وخت له ستلج څخه تېر نه شو او د مير منو پوځونه چې د لاهور د حکمران په توګه ګومارل شوی و، د ربيع الثاني په درويشتمه نېټه له دغه رود څخه تېر شول او يوه مياشت وروسته لاهور ته راورسېدل. تاريخ احمدشاهي، ۹ ب وګورئ.

احمد شاه له لاهور څخه د تګ په لار کې د سک سردارانو له خوا وځورول شو. په سکانو باندې د ولایتي مرکزونو څخه د فشار د کمېدو له امله دوی هوارو سیمو ته راتوی شول او له هغه چانس څخه یې ګټه واخیستله کوم چې د افغانانو د تېښتې څخه دوی ته په لاس ورغلی و. سردار چرهاټ سنګ سوکار چاکیا چې څه موده وروسته په ګجرانواله کې یې خپل ځان نامتو او کلک کړ، د احمد شاه د پوځ په څټ برخه باندې تر اباسین پورې دردوونکې او پاخه یرغلونه وکړل او له هغه څخه یې یو شمېر اسان او نوره متاع ترلاسه کړل(۲۵).

## د لقمان خان اله ګوله:

هغه لومړی کار چې احمد شاه کندهار ته له رسېدو وروسته د هغه په اجرا باندې مکلف و، د خپل وراره لقمان د اله ګولې او بلوا غلي کول ګڼل کېدل.

لقمان خان د احمد شاه د مشرورور ذوالفقار خان زوی و. احمد شاه به تل هغه د خپل زوی په څېر ګاڼه. ده د غزني او کابل په لور د روانېدو پر وخت هغه په کندهار کې د خپل نایب (مرستیال حکمران) په توګه وګوماره. کله چې احمد شاه له خپل هېواد څخه دباندې په هند کې په خپلو پوځي عملیاتو بوخت و، نو په دغه وخت کې د له نظره لویدلو قبیلو ځینې ناراض او کوچېاني خلک د لقمان په شاوخوا راټول شول او د یوه فرصت په هیله یې دی د خپلواکۍ د اعلانولو لپاره وهڅاوه. لقمان خان په خپله هم له ډېرې مودې راهیسې همدغسې مشابهه هیلې په زړه کې روزلې. ده د احمد شاه

---

(۲۵) د ښاغلي جادونات سرکار ترجمه، د ۱۷۴۸ کال د دسمبر ۲۸ ثبت او فقره.
دارنګه بخت مال، خلسه نامه، ۳۲، عمدة التواریخ، لومړی ټوک ۱۲۷، کننګهم، د سکانو تاریخ، (۱۸۴۹) ۱۰۰-۱۰۱.

ځینې باتجربه او پخواني خدمتګاران او افسران لیرې او پر ځای یې د خپلې خوښې کسان وګومارل په دې ډول ده د هېواد د اداري لپاره د شاه پخواني ترتیبات ګډوډ کړل.

خو کندهار ته د احمد شاه د راستنېدو د خبر له رسېدو څخه مخې د لقمان پلویان په هماغه لومړۍ شپه خپلو کورونو ته په پټه خواره واره شول. په دې ډول کله چې ټول کسان دده له شاوخوا څخه وتښتېدل، نو دا وخت ده په عیني توګه حقایق درک کړل. ده اوس کولی شول د خپلې سزا انتظار ولري. په دغه ژمنه سره ده چې په راتلونکي کې په ښه سلوک وکړي د ښښنې لپاره یې شاه ته منځګړي واستول. شاه دی خپل حضور ته وغوښتل او له خپلې څوکۍ څخه یې ګوښه او جیل ته یې ولېږه. دوه درې ورځې وروسته یې نوموړی په پټه سره د یوه پارسي عسکر په لاس ورکړ او هغه دی وواژه[۲۷].

(۲۷) د ((کابل سلطنت بیان)) (لندن ۱۸۴۲) ۲۸۸ مولف مونت ستوارت الفنسټن دغه پېښه له هند څخه د احمدشاه د دریېیم ځل راستنېدو پر وخت کې (۱۷۵۲) ښودلې ده. ما د مجمل التواریخ ۱۱۳ وکوت او د هغه په حواله د لقمان خان د اله ګولې خبر احمدشاه ته د افغانستان په لور د ستنېدو په لار کې هغه وخت ورسېد چې له سر هند څخه په دویم پړاو کې و. میرغلام محمد غبار له مجمل التواریخ سره موافق دی یوازې په دومره توپیر چې غبار وایي پورتنی خبر احمدشاه ته د جګړې په ډګر کې هغه وخت ورسېد چې د سولې تش په نامه خبرې د جګړې په ډګر کې پیل شوې وې. د غبار په حواله دغه خبرې لومړی د مغولي شهزاده احمد له خوا شروع شوې. زما په نظر د سولې د خبرو په باب تاریخ احمدشاهي ډېر باوري بریښي.

# اووم فصل

# په هند باندې دويم بريد

## له مير منو سره موافقه:

د لغمان خان د اله ګولې له ټکولو وروسته احمد شاه د خپل هېواد كراري او امنيت احساس کړ. اوړی يې په كندهار كې د راټولونکي پوځي بريد په تياريو تېر کړ او له هغې لږه موده وروسته دی مجبور و چې دوو شيانو ته پاملرنه واړوي: لومړی د اچې په هند كې خپل حيثيت بيا لاس ته راوړي، دويم د هرات نيول. دا سمه ده چې هرات د ابدالي قبيلې استوګځی او يو غوره افغاني ولايت ګڼل كېده او لا ترد غه وخته د پارسيانو په واک كې و له هغه پرته د افغانستان استحكام ممكن كېدلی نه شو. خو احمد شاه په درېو دليلونو سره په هند باندې د بريد كولو په خوا تصميم ونيو:

لومړی: د منو پور د جګړې اتل مير معين الملک (مير منو) دا وخت د پنجاب والي و. دی د شهزاده احمد (ورپسې امپراتور احمد شاه) له خوا د

ډيلي لور ته د تګ نه وړاندې د ۱۱۲۱هـ کال د ربيع الثاني په درويشتمه نېټه سهار (۱۷۴۸ د اپريل يوولسمه) په دغه څوکۍ باندې ګومارل شوی و. ده د پنجاب په حکومت کې خپل ځان کلک کې و او د افغانستان په ختيځ سرحد کې يې ورځ پر ورځ مادي او پوځي قوت د زياتېدو په حال کې برېښېده. ده کولی شول د احمد شاه د غيابت په صورت کې د پېښور او سرحدي سيمې په اسانۍ سره تر ګوابښ لاندې ونيسي.

دويم: د کابل پخواني والي ناصر خان د ۱۱۲۱ کال د ربيع الثاني په ځليرويشتم سهار (د ۱۷۴۸م. د اپريل ۱۲) بيا د هماغه ولايت (کابل) د والي په توګه ګومارل شوی و. دی لاهور ته راغی او دلته د کابل په بيا نيولو کې د دغه ځای حکمران معين الملک ورسره ژمنه وکړه[1].

نو په دغه وخت کې که شاه په هرات باندې د بريد تکل کړی وای نو کابل هرو مرو د ناصرخان او منو د ګډو قواوو تر ګوابښ لاندې راتللی شو.

درېيم دا چې په هند کې د ماتې سپکاوي له مخې ده په پارسيانو باندې د هرات په نيولو کې په غرور سره بريد نه شو کولی ځکه پارسيانو د هند د فاتحانو په توګه برم ګټلی و.

د ډيلي په شاهي دربار کې د سياسي حالت پر اساس په هند باندې بريد کول دا وخت مناسب برېښېدل. سپين ږيري امپراتور محمد شاه د وزير قمرالدين له مرګه وروسته د ګورستان لور ته کډه وکړه (د ربيع الثاني ۲۷، اپريل ۱۵). شهزاده احمد د احمد شاه په نامه د هند امپراتور په حيث تاج پر

---

(۱) تاريخ احمدشاهي، ۹ب، طهماسنامه، ب۵.

سر کړ. نوی امپراتور په حرم کې لوی شوی و او د جنګ او اداري هنر یې زده کړی نه و، دی چې طبیعتاً غبي، لټ مزاجه او په شهواني لذایذو عادت و، د حرم د غلام بچه ګانو د یوې الې په توګه ګڼل کېده او خود خواه او بې باکه درباریانو ساز ته نځېده. صدراعظم صفدرجنګ د دولت د استحکام په ځای د خپلو شخصي تربګنیو او غچ اخیستلو د سرته رسولو او ارضا په فکر کې ډوب و. ده د متوفي وزیر قمرالدین د یوه پخواني سیال په توګه په پټه دا پلان درلود چې د میر منو قدرت هغه ته د سیالانو په راپیدا کولو سره راکښته کړي. ناشکره او نېکي هېرونکې ناصرخان یې د خپل واکمن میر منو په مقابل کې ولمساوه او ورپسې یې شاه نوازخان د دې لپاره ولېږه چې د ده ولایت یانې ملتان په زور قبضه کړي. د زمامدارۍ په برخه کې د داسې یوه سړي په شته والي سره منو له ډیلي څخه د لویدیځ له لوري د یوه برید پر وخت د مرستې هیله کولی نه شوه[2].

د پنجاب د ولایت سوله او ارامي هم کله کله په خپله د سکانو د زیاتېدونکې قوت له امله له ګډوډۍ سره مخامخ وه. سره له دې کله او چېرې چې به فشار لږ و، چې د منو د اوسپنیزو منګولو په منځ کې دوی مهار کېدل، خو بیا هم هغوی به له شا څخه په کلکه کوزار کاوه. د درانیانو د ستنېدو په څلورمه شپه چې زوړ حکومت بې اثره او نوی حکومت لا جوړ شوی نه و، سکان له غرونو او ځنګلي برخو څخه راتوی شول او په جلندر دواب کې یې ځینې سیمې ونیولې. له امر تسر څخه یې د مغولو استازی وایست او په خپل مذهبي مرکز کې یې خپله خپلواکي اعلان کړه. دوی د

(۲) تاریخ احمدشاهي، ۱الف، تاریخ علي ۲۱۲-۲۱۳وسرکار ۳۲۸-۳۰، احوال سلاطین ۱۷۶۰.

ذکریاخان د خوځېدونکو پوځیو لیکو له امله دغو ځایونو ته پناه وړې وه. دغه راز دوی له ختېو څخه یوه څلور دېوالي د یوې وړې چونۍ په حیث پورته کړه او هغه یې رام راوني Ram Raoni وبلله. ددغې چونۍ کلا بندي په هماغه ورځو کې د منو د ېر ښه افسران ځان ته بوخت کړل[3].

دا ټول عوامل ددې سبب وګرځېدل چې احمد شاه په هند باندې د برید کولو تصمیم اغېزمن شي. د ۱۷۴۸ کال[4] له پای ته رسېدلو دمخه ده د پنجاب لور ته حرکت وکړ. ده دمخه د پېښور او د هغه د شاوخوا قبیلو ته دا دستورونه واستول چې د برید په وخت کې له ده سره بدرګه وکړي. دغه دستورونه ترسره شول او قبیلو په بېلابېلو پړاوونو کې له ده سره وکتل.

پېښور ته له رسېدو وروسته ده د څمکنیو له یوه نامتو پیر شیخ عمر سره لیدنه وکړه. ورپسې ده د پوپلزي سردار جانخان په مشرۍ یوه ښه سمبال شوې قوه مخکې له مخکې ولېږله. د اټک له جالې سره یو زیات شمېر ختېک دده سره یوځای شول. د جهلم او چناب د ګودرنو په برخه کې د سیمه ییزو ځمکوالو او د دوی د پیروانو په ورګډېدو سره دده په پوځ ستر برید

(۳ ) خوش وقت رای، ۶۷-۶۸ رتهان سنګ، پراچین پانت پراکاش ۳۹۸- ۴۰۴.

(۴ ) ځینو لیکوالو د احمدشاه دراني دویم برید د ۱۷۴۹- ۱۷۵۰ کال د مني او ژمي ترمنځ ښودلی دی سرکار، د مغولو امپراتورۍ زوال لومړی ټوک، ۴۱۷- ۴۱۹. ګوپتا د سکانو تاریخ، ۶۳- ۶۵، (ح ۱۵۰) ((خزانه امیرا))، ((تاریخ سلاطین افغانی، او ((حالات ملتان)) دا پېښه په ۱۱۶۲ هـ کې ګڼي چې د ۱۷۴۸م د دسمبر په ۱۱ جوته او د ۱۷۴۹ د نوامبر په ۲۹ پای ته رسېږي. په دې اساس کېدلی شي هغه د ۱۷۴۹ د نوامبر څخه وړاندې وشمېرو. ((د تاریخ سلاطین افغاني، ۱۵۷)) په حواله احمدشاه په هند باندې له لومړي برید (۱۷۴۸م. کال اپریل) وروسته اوړی په کندهار کې تېر کړ او په ژمي کې یې د دویم ځل لپاره په هند یرغل وکړ.

دا کېدلی شي د ۱۷۴۸- ۱۷۴۹ کال ژمی چې د ۱۱۶۲ سره سمون لري، وي. په همدغه وروستي کال کې احمدشاه خپل هېواد ته ستون شو. تاریخ احمدشاهي، (۱۷ الف) وایي: ((څو میاشتې وروسته احمدشاه له اندس څخه واوښت او د لاهور خوا ته راغی.))

دا خبره عمدة التواریخ، ۱۲۸- ۱۲۹، هم ملاتړ کړې ده. دلته په جوته توګه دا ذکر شوې چې احمدشاه په Maghar ۱۸۰۵(د هندوانو کال.مترجم) کې ( د ۱۷۴۸ وقت رای، تاریخ سکان، ۶۶ کلیان سنګ، خلاصة التواریخ، ۵۶ب، معاصر الامرا، لومړی ټوک، ۳۶۰، د کابل سلطنت بیان، الفنستن، ۲۸۶- ۸۷.

وشو[۵]، شاه په جهان خان پسې ورغی او ډېر ژر په دې پوه شو چې د چناب بله غاړه معين الملک نيولې او کودر يې تړلی دی، نو له دې امله يې امر وکړ چې دلته واړوي.

کله چې مير معين الملک د لاهور لور ته د شاه له راوړندې کېدو خبر شو، نو خپل دفاعي ترتيبات يې پيل کړل او له لاهور څخه دباندې ووت چې په چناب باندې د يرغلګر د پرمختګ مخه وتړي. ده د خپل غيابت په وخت کې سيد عوض خان په لاهور کې د چارو سرته رسولو لپاره د خپل مرستيال په توګه وګوماره. دی دا وخت له څو مياشتو راهيسې د خپل پوځ د معاش ورکولو باقي و او له لخپات راى څخه يې وغوښتل چې هغوی ته خپل خپل معاشونه ورکړي، خو د ديوان د راپور پر اساس په دغو سختو ورځو کې پيسې ټولېدلی نه شوې، نو له دې امله منو مجبور و چې د خپلې خزانې دروازې خلاصې کړي او خپلو افرادو ته معاش ورکړي او په دې ډول هغوی جګړې ته تيار کړي. په داسې حال کې چې ډيلي ته يې په چټکۍ سره د قوې د تجديد لپاره پيغامونه هم ولېږل د درانيانو د مقابلې لپاره له لاهور څخه ووت او په سو هدره sohdara کې خپل کمپ ودراوه.

د جلندر دواب ادينه بيګ خان او مهدي علي خان دده دوه غوره بدرګه وال افسران ګڼل کېدل. کله چې ده وليدل د درانيانو د مقابلې پوره توان نه لري، نو يې د يوه ستر بريد له خطر سره ځان مخامخ کولی نه شو او له ډيلي څخه د نوې قوې د رسېدو لپاره يې انتظار وايست[۶].

(۵) شاهنامه احمديه، ۱۱۴

(۶) عمدة التواريخ، ۱۲۹، خوش وقت راى، ۶۶، تاريخ علي ۲۱۱ – ۲۱۲. د خوش وقت راى په حواله د مرستيال نوم عزت خان و.

د دوارو خواوو ترمنځ د څه وخت لپاره کوچنیو ټکرونو دوام وموند او کومه غوڅه جګړه ونه شوه. دا وخت یو بل پلان د احمد شاه فکر ته راغی. ده خپل پوځ په دوو برخو وویشه یوه برخه یې تر خپلې قوماندې لاندې وساته چې د هغې په وسیله میر منو په سوهدره کې مصروف کاندي او بله برخه یې د خپل جنرال سردار جانخان تر ځارنې لاندې راوست او هغه ته یې امر وکړ چې د هغه (منو ) د شاوخوا پوځ وڅوروي او د لاهور په چاپېره سیمه یرغل وکړي.

جانخان ټوله سیمه ویجاړه کړه او هر چېرې چې به ورسېد ، ډزې به یې کولې او توره به یې ایستله. دی د راوي په غاړه دوه کاسه kos وړاندې لاړ او لاهور ته مخامخ شاهدرې[*] ته ورسېد. خو مخه یې بنده ولیده او ویې نه شول کولی له هغه ځایه واوړي او ښار ونیسي. عوض خان دراوي له ګودرونو څخه دفاع وکړه او د درانیانو لور ته یې ډزې کل جاري وساتل. کله چې جانخان د ښار په نیولو کې ځان بریالی ونه لید ، نو له دوو میاشتو خرابۍ او ویجاړۍ وروسته خپل اصلي پوځ ته راستون شو[۷].

یوه ورځ کله چې جهانخان په شاهدره کې اړولي وو او د پنجاب مرکز یې تر تهدید لاندې نیولی و ، نو دا وخت نواب کاپورسنګ چې د سکانو د روحاني پوځ (دال خالصه جیو dal khalsajio ) مشر و ، د ښار له ګډوډۍ

---

)*( زما په نظر سوهدره او شاه دره به یوه سیمه وي، ښايي له چاپي پلوه تېروتنه شوې وي. مترجم.

(۷ ) عمدة التواريخ، ۱۲۹ مخ وګورئ.

 څخه ګټه واخيستله او د ښاريانو په خوښه له شلو تنو سپرو له يوې کوچنۍ ډلې سره ښار ته ننوت او د کوټوالۍ په چابوتره[8] کې يې ځان ټينګ کړ[9].

دده مقصد په څرګند ډول دا و چې په دغه ګډوډۍ کې تر ممکنه حده پورې د ښار له مالياتي مرکز څخه پيسې ترلاسه کړي او بيا په پټه د خپل اصلي ((ډال Dal )) کمپ ته ستون شي. دا همدا دليل ښکاره کوي چې دده تر شاوخوا لږ شمېر سکان راغونډ وو او په همدې سبب کله چې د معين د مرستيال له خوا دده په مقابل کې د پوځ لېږلو لپاره ډول ووهل شو دی له ښار څخه وتښتېد.

چناب ته د درانيانو د رسېدو او د جهانهان په وسيله د سيمې له خرابيو څخه پرله پسې ډيلي ته خبرونه رسېدل او د امپراتور او وزير غوږ ته رسول کېدل. خو هېڅ يو په دې فکر کې نه و چې د لاهور والي ته د مرستې لپاره پيسې او پوځونه واستول شي. د ((تاريخ احمد شاهي )) مولف وايي چې (( وزير هېڅ نه غوښتل چې دده تنګسي او کړاو څخه خبر شي )). په دې ډول معين الملک د مرکزي حکومت له خوا خپلو منابعو ته يوازې پرېښودل شو.

څرنګه چې د جهان خان د لاهور د څوکيو د نيولو او په ښار باندې د حملې په برخه کې بريالی شو او د شاه کمپ خواته راستون شوی و، نو په دغه وخت کې د شاه له خوا يو ځری راورسېد. ځری محراب خان و چې احمد شاه له يوه ليک سره معين ته واستاوه او له هغه څخه يې وغوښتل چې ځان

---

(۸ ) د لفظ له مخې دا کلمه يوې جګې مځکې ته وايي، خو مجازا دا وخت يوه مالياتي دفتر ته ويل کېدل.
(۹ ) خوش وقت رای، د سکانو تاريخ، ۶۶-۶۷.

تسلیم کړي. معین په اسانۍ سره دغه غوښتنه ومنله او پیر شیخ عبدالقادر او علامه مولوي عبدالله یې ورولېږل چې د سولې شرایط او مواد ورسره فیصله کړي. د ((شاهنامه احمدیه)) مولف، نظام الدین عشرت هم له دوی سره بدرګه شو.

نظام الدین وایي چې ((له هندي مورچلونو څخه د شاه تر مقر پورې لار د تورو په سیوري پټه شوې وه او درانیان داسې ویرونکي بریښېدل چې وینه ترې په رګو کې وچېدله او د قران کلمې ژبې ته راتللې.)) د خان جانخان او یا سردار جانخان خېمې ته په رسېدو سره شیخ عبدالقادر له خپلې ډلې څخه ښکته شو او د لمانځه لپاره د جومات خواته وګرځېد. مغرورخان د شیخ په سر د خوارانو په منځ کې څو دیناره تاو کړل او ویې شیندل. له هغې وروسته بدرګه وال له ده څخه ګوښي شول او جهان خان دی د خپلو سوارو په بدرګه شاه ته ولېږه[10].

## د سولې تړون:

شاه د شیخ عبدالقادر او مولوي عبدالله[11] د ستړي مه شي لپاره له خپلې خېمې څخه ووت او د یوه پیر او استازي له شان سره وړ ښه راغلاست یې هغوی ته وویل. شاه د سرو زرو د مرتبانونو او نورو سوغاتونو په منلو سره چې د منو له خوا ورته لېږل شوي وو، زیات خوشاله شو او د سولې شرایط

(۱۰) شاهنامه احمدیه ۱۲۰- ۱۲۳.

(۱۱) نظام الدین موږ ته وایي چې میرزا عبید، خپل صوفي او په خپله د نظام الدین په ګډون د شیخ بدرګه وال توقیف شول. دا ښکاره ده چې میرزا عبید چې ځینو لیکوالو عبیدالله هم بللی دی له مولوي عبدالله څخه جلا کس و. طهماسنامه ب ۴ د مولوي عبدالله نوم چې د سولې د خبرو اترو دنده ورسپارل شوې وه، ځانته ذکر کوي. خو ما شاهنامه احمدیه اقتباس کړه چې مولف یې نظام الدین ډېر باوري دی، ځکه دی د استازي د بدرګه والو په ډله کې شامل و.

د دوا ړو خوا و په رضايت منتج شول. موافقه وشوه چې د اباسين لويديځ لور ته سيمې د افغاني دوه منيو ، يو نو په توګه وګڼل شي او دا چې د چهار محل يا د سيالکوټ، اورنګ اباد ، ګجرات او د پاسرور ځلور ناحيو باج دی چې په دې کې له ځوارلس لکو څخه زيات سهم ده نه ورکړی[۱۲] دا يوازې د امپراتور محمد شاه او نادرشاه ترمنځ د ۱۷۳۹ کال د تړون تکرارول وو. د تاريخ احمد شاهي مولف موږ ته وايي چې معين دغه تړون د ډيلي امپراتور احمد شاه په سلا تاييد او د ليکليو سپارښتونو سره ترسره کړ او وايي چې ناصرخان ددغو ځلورو محلو د اداري لپاره وګومارل شو چې کالنی باج کابل ته ولېږي[۱۳]. د امپراتور دغه شان کار مفکوره او دريځ په دوه لحاظه تشريح کولی شو: ده غوښتل چې خپل پخواني، ملګری له دغسې سختې څخه وژغوري او په پټه يې هغه ته دا دستورونه ولېږل چې د دراني د غوښتنو د منلو پر اساس دده (دراني) رضايت حاصل کړي.

دويم دا چې دا کار يې د لومړي وزير صفدر جنګ په سپارښتنه ددې لپاره وکړ چې له يوې خوا د معين قدرت راټيټ کړي او له بلې خوا په هند باندې د درانيانو يرغل شنډ کړي.

خو دغه تړون شاه ته ډېر زيات ګټور تمام شو. ده د منو پور فاتح په ګونډه کړ او له ختيځ څخه يې د مغولو وېره ليرې کړه. د ځوارلسو لکو باج دده د زېرمو د زياتېدو سبب ګرځېده او له دې ټولو علاوه دده اعتبار يې په هند

---

(۱۲ ) شاهنامه احمديه، ۱۲۵–۲۷، بيان واقعي، ۱۴۶، تاريخ احمدشاهي، ۱۷ب اليوت او داسن، اتم ټوک، ۱۵، طهماسنامه، ۸۷۴– ۷۵، مخلص التواريخ ۳۶۷، عمدة التواريخ، ۱۲۹، علي الدين، عبرت نامه، ۴۲۱، احوال سلاطين، ۱۷۶، تلخيص تاريخ احمدشاهي، ۶ب، ۷الف.

(۱۳ ) تاريخ احمدشاهي، ۱۷اف، (اليوت او دانسن، اتم ټوک، ۱۱۵). ددغه اثر په حواله له هغو ځلورو ناحيو څخه چې شاه ته ورکړل شوې، يوه يې ايمين اباد وه نه ګجرات چې نورو ذکر کړې ده.

او خپل وطن دده په نامه اداره کېدل، خو ددې سرجادو نات سرکار وايي چې: کې ټينګ کړ. د چهار محل په باب ډيلی د امپراتور د استازيو له خوا ((بې له شکه دغه ځايونه بيا هم سره سره افغانانو د ټول هند لومړی ترازه ترلاسه کړه چې د حاجت په وخت کې يې د جمو او کشمير د غرنيو مشرانو په مقابل کې يو پوخ اړخ ګڼل کېده.

## د افغانستان لور ته د شاه راستنېدل:

دا وخت شاه د کور خواته خپل تګ د سويل لويديځ په خوا د ملتان او ديره جاتو له لياري پيل کړ. ديره غازي خان ته له رسېدو سره سم د ملتان سدوزي زاهد خان د درناوي کولو په خاطر ده ته مخې ته ورغی او د ملتان له حکومت څخه د خپل ليرې کېدو او شړل کېدو عرض يې ورته وړاندې کړ.

## سدوزی زاهد خان:

زاهد خان د عابد خان زوی او د سدوزي شاه حسين خان لمسی و چې نوموړی د شېرخان په زمانه کې هند ته کډه کړې وه. کله چې شاه نواز خان د خپل پلار ذکريا خان له مړينې وروسته له ملتان څخه لاهور ته لاړ، نو خواجه اسحق خان يې ددغه ولايت د والي د مرستيال په توګه وګوماره.

زاهد خان ډيلي ته ولاړ چې د خپلې ادعا جدي غوښتنه وکړي او د روهيله محمد خان په وسيله وزير قمرالدين ته د خپل عرض د رسولو په برخه کې بريالی شو. دی د يوه شاهي فرمان په اخيستلو سره بېرته ملتان ته راوګرځېد. اسحق خان له ده سره د جګړې په نيت راووت، خو ماتې يې وخوړله. زهد خان د ملتان د والي په حيث ډګر ته راغی. په هند باندې د

دراني د لومړي برید (۱۷۴۷-۱۷۴۸) پر وخت دده هماغه موقف د احمد شاه له خوا تایید شو، خو کله چې میر منو د ملتان او لاهور والي شو، ده دا غوره ونه بلله چې په ملتان کې د احمد شاه د قبیلې یو سدوزی ابدالي په ځای پاتې شي. په دې سبب د هغه په عوض دیوان کوراامل وګومارل شو. زاهد خان د میر منو د واک له منلو څخه ډډه وکړه او له هغه سره د مخالفت لپاره ووت، خو د ماتي تال mati tal له کلي سره نږدې یې په یوه جګړه کې ماتې وخوړه او د سیټ پور sit pur لور ته وتښتېد. کوراامل د لاهور خواته د تګ په وخت کې د دغه ولایت اداره خپل مرستیال عبدالعزیزخان سدوزي ته وسپارله. د همدغه مرستیال په وخت کې احمد شاه له چناب څخه د راستنېدو په ترخ کې د بېره غازي خان ته راغی.

شاه د زاهد خان د شکایتونو د اورېدو وخت نه درلود او یا دا چې ده نه شول کولی هغه ته خپله موضوع وړاندې کړي. شاه د سدوزیو له امیرانو څخه وغوښتل چې د زاهد خان د شکایت سببونو ته په غور سره غور وڼیسي او بیا یې ده ته د هغو لنډه بڼه وښیي.

امیرانو ګډې او څو اړخیزې سلا مشورې وکړې او دې نتیجې ته ورسېدل چې د زاهد خان دښمن عبدالعزیز خان دی، خو څرنګه چې دغه وروستی کس هم سدوزی و، نو دوی د هغه په خلاف د کوم څه څرګندولو په برخه کې شمن شول. کله چې زاهد خان په دې پوه شو چې امیران شکمن دي، نو یې وویل چې دده اصلي دښمن یو هندو کوراامل دی. خو دا چې شاه د ملتان له اصلي والي معین الملک سره یو تړون لاسلیک کړی و، نو د زاهد خان لپاره یې کوم کار ونه کړلی شو او نوموړی ((سیټ پور)) ته لاړ چې د شاه

نوازخان د رسېدلو انتظار وباسي. ده په دغو وختونو کې د شاهنوازخان سره نږدې او د ملګرتیا اړیکي درلود[۱۴].

## ديره جات شاه ته تسليمېږي:

احتمالاً همدا وخت و چې د ديره جاتو (ډيره غازي خان او ديره اسماعيل خان) سويلي افاني قبيلو هم شاه د خپل پاچا په توګه ومانه. ده پښتواني قبيلوي مشران په مربوطاتو کې تاييد کړل او په دې ډول د دغه ځای چارې يې سمبال کړې او بېرته کندهار ته ستون شو[۱۵] په بلوچستان کې د کلات مشر نصيرخان هم له احمد شاه سره خپل ځان متحد کړ او دا وخت د هغه د يوه غوره پلوي په توګه وګڼل شو.

(۱۴ ) احمد یادګار تاریخ سلاطین افغاني ۲۴۲ - ۴۸. د زاهد خان په باب د زیاتو تفصیلونو لپاره د محمد یوسف ګردیزي (حالات ملتان) ۵۶م، د شېرمحمد خان ((زبده الاخبار وقایع ملتان)) ۲۲-۲۹ د امرنات (ظرفرنامه رنجیت سنګ) ۱۰۵-۱۱۳ وګورئ. د ((احمدشاه بابا)) مولف میرغلام محمد غبار د زاهد خان موضوع له دغه وخت څخه وړاندې د هند له لومړي یرغل څخه د افغانستان په لور د احمدشاه د ستنېدو پر وخت کې ګڼي. دا خبره سمه نه برېښي ځکه شاه دا ځل د پېښور او کابل له لارې افغانستان ته ستون شو نه د ملتان له لارې ۲۰۶ - ۲۰۵. کله چې شاه نوازخان له هند څخه راورسېد او د صفدرجنګ په مرسته یې ملتان ونیو، نو دا وخت کورامل له لاهور څخه په هغه باندې وروخوځېد. شاه نوازخان په جنګ کې ووژل شو او د خپل ملګري د مړینې له خبرېدو وروسته زاهدخان هم ژر مړ شو.

(۱۵ ) الفنستن کابل، ۲۸۶.

# اتم فصل

# د هرات الحاقول

## د شاه پر خلاف یوه د سیسه شنډه شوه:

کندهار ته د شاه په ستنېدو سره دده د وژلو یوه ناوړه د سیسه د عملي کېدو د ټاکلي وخت څخه څو شېبې وړاندې کشف شوه. ددغې د سیسې مشر الیـزي نورمحمد خان و چې د نادر تر امر لاندې یې د افغاني پوځونو قومانده په لاس کې لرله. د احمدشاه په رامنځته کېدو سره له هغه څخه واک واخیستل شو، نو له هماغه وخت راهیسې ده په پټه د احمدشاه په مقابل کې د پلانونو په جوړولو لاس پورې کړی و. احمدشاه په وړ توګه دده درناوی وکړ او د ((میر افغان)) لقب یې ورته وباښه.

نورمحمد خان چې یو وخت حکومت چلاوه او د قدرت په خوند پوه شوی و نو د خپل غرور له امله په کړاو کې ولوېد. ده یو شمېر توپچي باشي چې د احمدشاه له ورځ په ورځ زیاتېدونکي قدرت او په پنجاب او دیره جاتو کې د هغه له تازه بریو څخه رخه ورسره پیدا شوې وه په خپل راز کې شریک کړ. دوی د سیسه جوړه کړه چې شاه د مقصود شاه په نامه یوه جګ ځای کې چې

د ((ښار شمال)) يا د کندهار د شمالي حومې په يوه کلي کې دی، ووژني خو سره له دې هم شاه په دسيسه کې د يوه شريک په وسيله د هغه د ژوند د تباه کولو له دسيسې څخه خبر شو. د دغسې يوه جرم لپاره په هغو وختونو کې يوازې يوه جزا موجوده وه. نور محمد خان او دده ملګري او له هغو سره د جدي متعهدو قبيلو لس لس تنه په هماغه جګ ځای کې اعدام شول. ((له مجرمې قبيلې څخه د لسو تنو انتخابول چې د هماغې قبيلې د تېروتنې له امله په عذاب کې غورځول کېدل، په هغه زمانه کې د توطيې لپاره د جزا او جاري سيستم يوه عجيبه هوښياري ثرګندوي.))

په دغه وخت کې د افغاني مشرانو په منځ کې يوه وړه ويره موجوده وه ځکه دا د احمدشاه په امر لومړني اعدامونه نه وو، چې ترسره شول او دوی په دې وېدار شول چې مبادا دی به په راتلونکي کې د هغوی په مقابل کې دغسې سخت چلند غوره کړي. دوی د مرګ د جزا په برخه کې دده د فتوا د حق پوښتنه وکړه او د ((اعدامونو له سرته رسېدو وروسته)) دوی دا مساله رامنځته کړه چې ((د کسات حق)) احمدشاه او دده کورنۍ ته بايد ورکړل شي او که نه؟ دوی دده د قدرت د محدودېدو غوښتنه وکړي او يا دا چې دغه قدرت د دوی د تصويب تابع وي خو احمدشاه د مشرانو په برخه کې دا شان احساس په يوه قوت او مهارت سره وځا په او لکه چې فيرير وايي: ((دده قضاوت او عدالت ډېر ژر د هغه د دمنيون په دننه سيمو کې ارامي منځته راوستله))[1].

---

(۱) تاريخ سلطانی، ۱۲۷-۲۸، احمدشاه بابا. ۲۰۷-۲۰۸ فيرير د افغانانو تاريخ، ۷۳-۷۴ مالسن، د افغانستان تاريخ، ۲۸۰-۲۸۱.

## د پارس حالات:

لکه چې موږ ته ښکاره ده، هرات لا تر دغه وخته پورې د پارسیانو په لاس کې و. ددې لپاره چې د افغانانو د اوسېدو سیمې په یوه متجانس سیاسي واحد (افغانستان) کې سره یو شي، ددغه ځای نیول بېخي ضروري ګڼل کېدل. هرات د نادرشاه لمسی میرزا شاهرخ له خوا د یوه عربي مشر په واسطه تر قبضې لاندې راغلی و.

د هرات او ورپسې مشهد او نیشاپور په لور د احمدشاه د تګ له بیان څخه وړاندې دا ضروري برېښي چې په پارس کې د دوو مخکنیو کلونو پېښو ته کتنه وکړو. هماغسې چې پوهېږو، نادرشاه د خپل وراره علي قلي خان په لمسون ووژل شو. نوموړی د عادلشاه په لقب سره په تخت کېناست. ددې لپاره چې د خلکو رضایت حاصل کړي، نو د نادر وحشت او ظلمونه یې په یوه اعلامیه کې محکوم کړل او د جابر د وژنې مسولیت یې په غاړه واخیست. ((د هان وی)) په قول اعلامیه وایي: ((ده له وینو تویولو او بربریت څخه خوند اخیست او د خپلو رعایاوو له سرونو څخه یې منارونه جوړ کړل.)) خو کله چې معلومه شوه دی هم له نادر څخه ډېر ښه نه و. ده محض له شاه رخ څخه ته د نادر تړوله کورنۍ له تېغه تېره کړه. شاه رخ د بدمرغه رضا قلي خان زوی و چې په خپله د نادر له خوا ړوند شو. عادل د خپل ورور ابراهیم په واسطه له تخته کوز او ړوند شو، په مقابل کې ده هم ماتې وخوړه او د خپلو پوځونو له خوا ووژل شو.

ورپسې شاه رخ پاچاهۍ ته ورسېد. خو دی هم شخصاً د میرزا سید محمد له مخالفت سره چې د امام رضا د زیارت ناظر و، مخامخ شو او ماتې یې ووند له پاچایۍ ړوند کړ او د هغه په ځای د سلیمان شاه په لقب په تخت کېناست، داسې معلومېده چې دی به هم په کراره پاچاهي ونه کړي. د شاه رخ د ماتې په وخت کې دده جنرال یوسف علي له احمدشاه سره په هرات کې د جګړې د ماموریت د سرته رسولو له امله حاضر نه و. دی له سلیمان څخه د غچ اخیستلو لپاره په بیړه ستون شو او نوموړی یې له دوو زامنو سره وواژه. شاه رخ بیا په تخت کېنول شو او یوسف علي دده د نایب په توګه رامنځته شو. خو دغه له غمه ډکه پېښه لا هم پایته رسېدلې نه وه. د شاه رخ له بیا رامنځته کولو وروسته یوسف علي ډېر ژر د سیستان د عربو د قوماندان میر علم خان او د کوردانو د قوماندان جعفر په وسیله له قدرت څخه واچول شو. دغه دوه تنه مشران چې د یوسف علي پر ضد سره متحد شوي وو ژر راوپرزېدل او بریالی جعفرخان د ډېرو ړوندو شویو کسانو په اوږده لیست کې داخل شو. په مقابل کې میرعلم خان د احمدشاه دراني له خوا د مشهد په جګړه کې ماتې ومونده او له هغې وروسته لکه چې وبه وینو افغاني پاچا تصمیم ونیو د شاه رخ ترمراقبت لاندې د خراسان یو جلا ولایت جوړ کړي چې افغاني سیاسي سلطه ومني[٢].

## د هرات کلابندي:

(٢) د پارس تاریخ، سایکس، دویم ټوک ٣٧٠ – ٧٢، هان وی، سفرنامه.

اوس په هرات باندې د درانيانو برید نه راګرځوو. په داسې حال کې چې د پارس د تخت د نیولو لپاره د سلیمانشاه او شاه رخ ترمنځ لا مجادله روانه وه د هرات امیرخان او بهبود خان له خوا داسې عرایض راورسېدل چې شاه ته یې په کندهار کې د پارس د ګډوډو او ناراموحالاتو په باب خبر ورکړ. دغه یو په زړه پورې خبر و او د ترتیباتو له بشپړېدو وروسته احمد شاه د ۱۷۴۹ کال په پسرلي کې له پنځه ویشت زره پلیو او سورو[۳] سره له کندهار څخه ووت او د هرات په لور وخوځېد. کله چې دغه ځای ته ورسېد امیرخان او بهبود خان ته یې ولیکل چې دده حضور ته راشي. خانانو دده رابللو ته زړه ښه کړ، خو د هرات مخورو ښاريانو چې د مشرانو له دغه تمایل سره مخالف وو، موافقه ونه کړه او دوی یې توقیف کړل. دغه کار امیرخان او دده ملګري وبېرول او دواړو له خپل عمل څخه پښېماني څرګنده کړه. امیر خان د چونې دفاعي استحکامات پیاوړي کړل او د ښار په برجونو کې یې توپونه کېښودل او د شاه د لیک ځواب یې د توپخانې په ډزونو سره ووایه.

شاه تصمیم ونیو چې وړاندې وخوځېږي او ښار په یرغل سره ونیسي خو د ښار له استحکاماتو څخه سختې ډزې کېدلې او تلفات ډېر زیات وو نو په دې اساس دی مجبور شو چې په شا لاړ شي. په دغه وخت کې ده له خپلو پوځي سلاکارانو سره مشوره وکړه او هغوی ټول له ده سره په دې نظر کې

(۳ ) د مجمل التواریخ، ۷۶ په حواله دا وخت د افغاني پوځ شمېر څلوېښتو زرو ته رسېده، چې له یوسفزیو، عمرزیو، سدوزیو او د ابدالیانو او غلزیو له نورو قبیلو څخه جوړ شوی و. فیریر په خپل اثر ((د افغانانو تاریخ، ۷۴) کې دغه شمېر اویا زره ښودلی دی. چې ډېره مبالغه امیزه برېښي. ده دغه پېښه په ۱۷۵۰ کې ذکر کړې ده.

موافق وو چې د ښار کلا بندي په سختۍ سره اوږده کړي. د ښار بندول کلک شول او کلا بندي څو میاشتې ادامه وموندله[۴].

امیر خان په مشهد کې خپل واکمن شاه رخ میرزا ته زیات لیکونه واستول خو هغه په خپله له ستونزو څخه بېغمه نه و او په سختۍ سره یې کولی شول له مشهد څخه بهر ته ووځي. سرپیرسي سایکس sir percy sykes په خپل اثر ((د پارس تاریخ)) کې وایي چې (شاه رخ یوسف علي د احمد شاه مقابل ته واستاوه او دا هغه وخت و چې د نوموړي یوسف علي په غیاب کې شاه رخ ماتې وکړه او نیول شو.))[۵]

خو په دغه اثر کې دا نه دي راغلي چې دی څه وخت د احمد شاه سره مخامخ شو او له هغه سره یې توره وازمایله. ښایي دی هېڅکله هرات ته رسېدلی نه وي او د خپل واکمن په مقابل کې د سلیمان د کړو وړو په اورېدو سره بېرته مشهد ته ګرځېدلی وي.

## وروستی پړاو:

له بلې خوا احمد شاه کلابندۍ ته په سختۍ دوام ورکړ او بالاخره په دې بریالی شو چې د یوه یرغل په ترڅ کې د ښار کلابندي تنګه کړي. کله چې

(۴) مجمل التواریخ، ۷۷-۷۹، د کلا بندۍ وخت نهه میاشتې ښودلی دی په داسې حال کې چې د فیریر د افغانانو تاریخ، ۷۴، هغه څوارلسو میاشتو ته رسوي. د تاریخ سلطاني په حواله ۱۲۸ مخ دا کلابندي څلور میاشتې اوږدوالی مومي. سره له دې هم مالسن د الفنسټن په پېروۍ وایي چې ((هرات له څوارلسو ورځو کلابندۍ وروسته تسلیم شو.)) د ((کابل سلطنت بیان، ۲۸۷ مخ)) وګورئ.
ددغو پېښو د جوت کرونولوژیکي راپور د نشتوالي له امله د ربښتیاني وخت ښودل ګران کار خو نهه میاشتې یې سمه موده اټکل کولی شو. په دغه اساس د هرات سقوط په ۱۷۵۰ کال کې ټاکل کېږي چې د فیریر (۷۴مخ) او سایکس (د افغانستان تاریخ، ۳۵۶) په ګډون ځینو لیکوالو ذکر دی.
(۵) ۳۷۱- ۳۷۲ مخونه.

احمد شاه په دې پوه شو چې کلابندي اوږده او ستومانوونکې شوه، نو يوه ورځ يې له خپلو افغانانو څخه وغوښتل چې د ښار د نيولو لپاره خپلې هر اړخيزې هلې ځلې وکړې. دوی پرېکړه وکړه چې په خوله باندې د الله اکبر په يوه چيغه سره يرغل وکړي او تر هغو چې چونۍ نيول شوې نه وي خپل ګامونه په شاته وانه خلي. شاه او دده مشرانو د فاتحې سوره (الحمد الله) تکرار کړه او د سهارنۍ غوڅې جګړې لپاره يې ځانونه چمتو کړل. کله چې کلابند شوي افغانان له هوډ څخه خبر شول، دوی د راتلونکې جګړې لپاره لازم ترتيبات ونيول.

بل سهار وختي افغانان په چونۍ باندې ورتوی شول. دوی د چونۍ له خوا د ګوليو په باران او د خپلو ليکو په زياتو تلفاتو څخه پروا ونه کړه او وړاندې پرمخ ولاړل. په زرګونو تنه مړه يا ټپيان شول خو هېڅ شي دوی خواشيني نه کړای شول. بالاخره افغانانو د ورځې په پای کې د وينو په ډنډونو او د خپل مړيو او وژل شويو عسکرو د ډېريو پر سر چونۍ ته ځانونه ورسول. کلابند شويو هم په دوی د ټوپونو اور بل کړ. خو افغانان د خپلې ژمنې سره سم ونه تمبول شول او له خپل ځای څخه ونه ښورېدل. په دغه وخت کې شاه له خپل يوه فرد څخه وغوښتل چې کلابند شويو ته دغه پيغام ورسوي.

پيغام وړونکي په خپل ټول قوت سره داسې چيغه وکړه: ((زموږ شاه وايي چې موږ ستاسو په غوښتنه دلته راغلي يو. دومره مقاومت د څه لپاره دی، خبره دې ځای ته رسېدلې ده چې تاسو وتلی نه شئ او موږ ستنېدلی نه شو. جګړه بنده کړئ او خپلو مشرانو ته زموږ دغه پيغام يوسئ او ځواب يې راوړئ. ددغه پيغام په رسېدو سره اميرخان او بهبودخان په چرت کې

ولو بدل هغوی فکر وکړ چې (( نهه میاشتې کېږي چې موږ هره ورځ جنګ کوو، له شاه رخ څخه مو پرله پسې د مرستې غوښتنه وکړه. خو هېڅ شی لاسته رانه غی. په دغه پیغام سره دی سوله غوړاړي څرنګه چې نور نو زموږ افراد له تجهیزاتو پرته چونې ساتلی نه شي دا به مصلحت او سیاست وي، چې سوله وکړو )). په دې ډلو دوی د سولې پیغام واستاوه.

## وروستی یرغل:

کله چې افغانانو د امیر خان او شاه ترمنځ د پیغامونو د تبادلې له امله د هرات مدافعین له دفاع څخه لیرې ولیدل، نو د شپې له تیاره غوني څخه په استفادې سره د غونډې له اړخ څخه د چونې د بوالو ته پورته شول او د هغې پوځونو او سنګرونو ته ورننوتل. هراتي سربازانو د دوی د غږو په اورېدو سره همغې خواته وځغستل چې افغانان وشړي، دوی لا په دې کار بوخت وو، چې نور زیات شمېر افغانان د زینو په وسیله راورسېدل او جګړه پیل شوه. په چونې کې دننه د ګډوډۍ د پیدا کېدو له امله یو شمېر افغانانو د دروازې دفاع کوونکي ژر بې وسلې شول او له منځه لاړل په دې ډول ټول پوخ ښار ته ننوت او په بې پروایې سره یې هغه د سبا په مهال لوټ کړ.

فیریر وایي چې امیرخان له ارګ څخه د هرات د سقوط ننداره وکړه. ده تصمیم ونیو چې د وروستي ځل لپاره خپله هڅه وکړي او په همدې سبب یې خپل افراد راټول کړل او د ښار خواو شا ته یې ورښکته کړل، خو دغه هڅه بې فایدې وه دغه عسکر د مخ له خوا څخه د درانیانو او د شا له خوا هراتیانو په زیات شمېر تباه کړل او دی مجبور شو چې راستون شي.

احمد شاه لا تر دغه وخته له چونړۍ څخه بهر اړولي وو او امیر خان او بهبود خان د زاریو لپاره دده حضور ته ورغلل او د خپل تېر عمل څخه یې د ښښنې غوښتنه وکړه. شاه هرات له خپلو قلمرونو سره یوځای کړ او درویش علي خان هزاره ته یې د هغه ځای د حکومت چارې وروسپارلې[۶].

په دې ډول د ابدالیانو اصلي ټاټوبی له نورو افغاني ولایتونو سره یوځای شو او د افغاني سیمو یووالی یې د یوه ((افغانستان)) د جوړولو لپاره بشپړ کړ.

(۶) مجمل التواریخ ۷۶-۸۱، تاریخ سلطاني ۱۲۸، فیریر افغانان ۷۴-۷۵، الفنستن کابل، ۲۸۷ - ۲۸۸، مالسن، د افغانستان تاریخ، ۲۸۱، سایکس، د پارس تاریخ، ۳۷۰۳۷۲. د فیریر په حواله امیرخان په هماغه ځای کې له دې امله ټوټه ټوټه شو چې په پای کې یې بیا د هرات د دفاع هڅې وکړې، خو ما مجمل التواریخ اقتباس کړ.

# نهم فصل
# د خراسان عملیات او نیول

## مشهد

### د میر علم خان ماتې او وژل کېدل یې:

د هرات له نیولو وروسته احمد شاه د مشهد او نیشاپور په فکر کې ولوېد. نږدې دوولس زره هوسا سپاهیان چې د هرات د کلابندۍ لپاره راغونډ شوي وو، راورسېدل او دده له قواوو سره یوځای شول. دا وخت په مشهد کې ګډوډي روانه وه ړوند شاه رخ دداسې شخص په توګه ګڼل کېده چې شته والی او نشتوالی یې یو و. دده وفادار او کلک جنرال یوسف علي چې د هرات د ژغورلو لپاره تللی و او ورپسې بیا ژر د خپل واکمن د مرستې لپاره ستون شو، هم د میرعلم خان دا وخت د مشهد سر دمدار واکمن و. کله چې ده د نیشاپور د کلا بندۍ تیاری نیوه، نو په دغه وخت کې ده ته د احمد شاه په وسیله د هرات د سقوط او په مشهد باندې د هغه له برید څخه

خبر ورکړ شو. ده د نیشاپور فعالیتونه وځنډول او ژر د مشهد لور ته راغی چې د افغانانو د وړاندې تګ مخه ونیسي.

د مشهد سنګرونه یې ترمیم او خوراکي شیان یې ورته برابر کړل او کوم وخت یې چې د خپلو باوري او سېدونکو په دفاع باندې یقین راغی، نو له مشهد څخه ووت او تصمیم یې ونیو چې د امکان په صورت کې په هرات باندې برید وکړي.

احمد شاه پنځه زره تنه انتخابي افغاني پوځ د پوپلزي جهان خان په قومانده چې د بلوچستان مشر میر نصیر خان ورسره مرسته کوله، مشهد ته ولېږه. جهانخان تربت شیخ جام ته له رسېدلو سره سم په میرعلم خان باندې برید وکړ او هغه یې هک پک کړ. کله چې میرعلم خان له دغه ټکان څخه بیا په سد راغی، نو یې په ډېره زړورتیا د شا له خوا په درانیانو ګوزار وکړ او هغوی یې په شا وتمبول. کله چې د کلات نصیرخان په میرعلم خان باندې سخت یرغل وکړ، نو درانیانو خپل موقف بیا لاسته ور وست. نصیرخان په خپلو درې زره سورو سره په پارسیانو چپاو راوړ او هغوی یې په شا بوتلل. په دغه جګړه کې میرعلم خان ووژل شو او پارسي پوځ تیت و پرک شو[1].

## د شاه له خوا د نن (Nun) نیول:

---

(۱ ) تاریخ سلطاني، ۱۲۸، فیریر، ۷۵، سایکس، ۳۷۱ - ۳۷۲، د افغانستان تاریخ، ۳۵۶، د فیریر په حواله میرعلم خان ډېر ژر د مشهد د ساتلو مفکوره بدله کړه او خپلې قبیلې ته د ګین په لور ستون شو. خو څرنګه چې موږ بیا دده په باب څه نه اورو او هم د داسې یوه سړي په باب لکه میرعلم خان دا باور کېدای نه شي چې دی دې د یوه ناڅرګند صوفیانه ژوند لپاره ستون شوی وي. په دې اساس ماد سایکس خبره ومنله چې وایي: میرعلم خان ماتې وخوړه او ووژل شو.)) مجمل التواریخ، ۸۵ وګورئ. سایکس د زوی، شهزاده تیمور په په لاس کې ذکر کړې ده. زه تاریخ سلطاني تاییدوم. د دغه اثر په حواله هغه پوځ چې جهان خان او میر نصیر خان ورته ماتې ورکړه په خپله شاه رخ میرزا له خوا قومانده ورکول کېده. جهان خان هرات ته ستون شو څو ده (د احمدشاه. م) ته د دغې سوبې خبر ورسوي.

احمد شاه ډېر ژر له خپل پاتې پوځ سره دغه ځای ته راورسېد او د یوې ستري قوې په مشرۍ د مشهد لور ته وخوځېد. بل مهم ځای هغه چونۍ وه چې د میرعلم خان ورور میرمعصوم خان په لاس کې وه. ده لږ ساتونکي لرل، خو په دې ډاډه و چې ورور به یې دمخه ده ته د ملاتړ لپاره قوه ولېږي، په دې سبب ده خپل استحکامات او مورچلونه ټینګ کړي وو. احمد شاه چونۍ کلابنده کړه خو کلابندي دومره اوږده نه شوه. معصوم خان د خپل ورور د وژل کېدو د خبر په اورېدو سره د مقاومت ټولې هیلې له لاسه ورکړې او د سولې هڅه یې وکړه. شاه دی خپل حضور ته ور وباله او میر هغه ته د چونۍ کلی ورکړی او تسلیم شو.

## شاه رخ احمد شاه ته غاړه کېښودله:

ورپسې شاه د مشهد لور ته وخوځېد او هغه یې کلا بند کړ. پارسیانو په تیت او پرکه توګه له ښار څخه دفاع وکړه او څو افغاني حملو ته یې ځواب ووایه، خو افغانانو کلابندي سخته کړه او ښار یې نا امیده کړ. بالاخره شاه رخ د کلابند کوونکو مخې ته ورووت. شاه په ډېره مهربانۍ سره دده استقبال وکړ او له هغه سره یې موافقه وکړه چې دده تر سیاسي څارنې لاندې په دې شرط د مشهد پاچا اوسي چې یوه زیاته اندازه پیسې ده ته ورکړي. دغه راز دده د کهول (درانیانو) هغه غړي له بنده وباسي چې د نادر

د مړينې پر وخت دده (شاه رخ) په لاس بنديان شوي وو. شاه رخ له خداى څخه همدا غوښتل او د شاه له شرايطو سره يې په اسانۍ موافقه وښودله[2].

## شاه پسند خان مازندران ته ولېږل شو:

کله چې احمد شاه د خراسان د چارو په تنظيم لګيا و، نو په دغه وخت کې د فتح علي خان زوى محمد حسين قاجار په استراباد کې چې د کسپين د سمندرګي په ختيځه غاړه کې يو ښارګوټى دى، خپل سر را اوچت کړ. دغه ځاى دده د کورنۍ ټاټوبى و او ټول مازندران دده واکمنۍ ته غاړه کېښودله.

احمد شاه له دې څخه بيرېده چې مبادا په راتلونکي کې به محمد حسين دده تنظيمات په خراسان کې ګډوډ کړي، نو د شاه پسند خان په مشرۍ يې د افغاني پوځ يوه برخه په مازندران باندې د بريد لپاره واستوله، دى په خپله له اصلي پوځ سره د نيشاپور لور ته وخوځېد.

## د نيشاپور کلابندي:

دا وخت د نيشاپور سيمه د جعفرخان په نامه يوه تن له خوا داره کېدله په داسې حال کې چې د مرکز چوڼۍ د شاه رخ په پلوۍ د حسن خان بيات د زوى عباس قلي خان په لاس کې وه. عباس قلي خان د چوڼۍ له تسليمېدو څخه ډډه وکړه. ده يوازې دوه زره سواره ساتونکي لرل. نو موړى له خپل تره

(۲) تاريخ سلطاني ۱۲۸-۹، سايکس، ۳۵۶، الفنسټن، ۲۸۷. فيرير په خپل اثر د افغانانو تاريخ کې د مشهد د مقاومت اوږد بيان ورکړى دى چې په هغه کې د شاه رخ د دوو زامنو، نصرالله ميرزا او نصير ميرزا کوښښونه او له هغو سره د ((ماميش خان)) ملاتړ د احمدشاه پر ضد راغلى دى. دا هڅې په راتلونکي وخت پورې اړه لري. شاه رخ دا وخت ۱۶ کلن هلک و، دى د ۱۷۳۴م په مارچ کې زېږېدلى دى.

حاجي سيف الدين خان سره سلا وکړه او هغه ده ته دا سپارښت وکړ چې لږ ترلږه تر ژمي پورې صبر او مقاومت وکړي. د ژمي واورې او زيات ساړه به وکړای شي افغانان په څټ پسې واخلي. تره او وراره سخت مقاومت ته لاس واچاوه او په دروغو يې ځانونه له يو بل سره مخالف وښودل او له شاه سره يې په دوه مخې پيل وکړ، دی په دې تېر ايستل شو چې فعاليت ته لاس وانه چوي. په داسې حال کې چې عباس قلي خان د ښار استحکامات پياوړي کول. سيف الدين د دې لپاره چې په پلمه سره وخت تېر او اوږد کړي، نو يې له شاه سره مذاکرې پيل کړې او ده ته يې يو ليک ولېږه چې داسې په کې ذکر وو: (( ما په خپله په هغه ورځ خپله وسله په مځکه کېښوده چې تاسو دلته راورسېدلئ. خو د عباس قلي خان په سر زورۍ باندې چې د جنګ نيت لري غلبه کول يو څه وخت غواړي. )) شاه د دغه سپين ږيري حاجي په اخلاص باندې د باور کولو پر اساس يوازې د سيمې په کلابندۍ اکتفا وکړه.

حاجي د غسې خبرو او چلند ته دومره اوږدوالی ورکړ چې د نيشاپور مهلک ژمی له خپلو ټولو سختيو سره راورسېد او مخکې له دې چې افغانان خپل سنګرونه پرانيزي د زياتې واورې اورېدو او د زېرمو د برابرولو کمزورتيا دوی ستونې ته راورسول او دا ممکنه نه وه چې له پټون ځای پرته کلابندۍ ته دوام ورکړي.

دا وخت خبر راروسېد چې د شاه د پوځ هغه ټولګی چې د شاه پسند خان تر حکم لاندې و، په مازينان Mazinan کې سخته ماتې خوړلې ده او د پارسيانو له خوا تقريباً نابود شوي دي. کله چې محمد حسين خان قاجار د

مازندران په لور د شاه پسند خان له وړاندې تګ څخه خبر شو، نو عیسی خان کرد او حسن خان قاجار یې دده د مخې بندولو لپاره راواستول. هغه جګړه چې د دوی ترمنځ په مازینان کې پېښه شوه، شاه پسند خان د زیاتو تلفاتو په ورکولو سره ماتې وخوړله. دا وېره هم موجوده شوه چې د خراسان خانان به له دباندې خوا څخه په ده (احمدشاه) برید وکړي. بالاخره احمدشاه د یوه یرغل تصمیم ونیو. ده خپل توپونه ور وړاندې کړل او په سنګرونو یې ډزې پیل کړې. د ښار له شمالي خوا څخه یوه لاره خلاصه شوه خو مخکې له دې چې افغانان هلته ورسېږي، هغه ځای ټول تیاره و، د شپې په مهال دفاع کوونکي په یوه کنده کې سره راغونډ شول او د خلاصې شوې لارې پرمخ یې ژورې ځاګانې وایستل او د هغوی سرونه یې په خپلو او خځلو باندې وپوښل او دننه په کې ښایسته اندازه کسان کېناستل، چې افغانان په شا وتمبوي. لکه چې هیله کېدله په سهار کې د وختـه افغانان د کندې لـور تـه راوړاندې شول. په سلګونو افغانان ځاګانو ته ولوېدل او همدا وخت دفاع کوونکو ډزې پیل کړې. جګړه تمامه ورځ روانه وه او لـه غرمې وروسته یو شمېر افغانانو لـه کندې سره نږدې برجونه ونیول احمدشاه د هغـوی د مرستې لپاره دوه سوه اوښـان لـه چورلکیـانو سـره یوځـای ور واستول. پارسیانو پـه دوی د توپونـو ډزې وکـړې. دا وخت والـي جعفرخـان پـه یـوه ګولۍ ولګېد او مړ شو او دده د وینو ځاځکي د عباس قلي خان په مخ او سر ورتوی شول. سره له دې چې عباس قلي خان یو اتلس کلن زلمی و، خو د یوه سخت سرتېري خوی یې درلود. ده په کرارې سره خپل لمونځ خلاص کړ او ورپسې یې هغه ځای ته منډه واخیستله چې جعفرخان مړ په کې پروت و. ده

پارسي جنګياليان وهڅول او يو شمېر انتخابي افراد يې د برجونو د خوشې کولو لپاره واستول. افغانان له هغه ځای څخه وشړل شول او زيات شمېر ټوټه ټوټه شول، پاتې يې څاګانو ته وروغورځول شول، ورځ د افغانانو په زياتو تلفاتو سره چې د مړو شمېر يې دولس زره تنه اټکل شوی دی پايته ورسېدله.

## د کلابندۍ ناکامي او د هرات په لور د شاه ستنېدل:

داسې خبر راورسېد چې د خراسان ځينو خانانو د نيشاپور د خوشې کولو او ژغورلو لپاره يوه ستره قوه غونډه کړې ده. نو پر دې اساس احمد شاه د خپلو راتلونکو پلانونو په باب لا هم شکمن و. شاه له دوی سره د مقابلې تياری ونيو په دغه وخت کې کلابند شويو له ښار څخه په کلابندي کوونکو باندې سخت بريد وکړ.

دواړو خواوو (د خانانو او ښاريانو. م) بريد ستومانه او سړو وهلی افغانان په بشپړه توګه تلولي کړل او احمد شاه دې ته اړ شو چې په بيړه سره راستون شي. خېمې، بارونه، وسايل او توپخانه مجبوراً پرېښودل شول او يو زيات شمېر افراد او بار وړونکي ژوي د لارې پر سر له منځه لاړل. فيرير وايي: ((چې ساړه دومره زيات وو، له کيفر کلا سره د احمد اتلس زره عسکر په يوه شپه کې مړه شول او سبا ورځ هم نږدې همدومره کسان د ((کوشان)) له ښارګوټي سره نږدې له هريرود څخه د اوښتلو په هڅه کې تلف شول. د سيند مخ کنګل و، خو د فراريانو تر ګڼې ګوڼې لاندې يخ مات شو او هغوی په سړو اوبو کې ډوب شول.)) د سردار جمعه خان په استناد چې ددغې ډلې

مشري يې په غاړه لرله او د هغې يو لنډ بيان يې پرېښودلی دی، ويل شوي چې دی د ساړه د شدت او په نتيجه کې له مرګ څخه د خپل ځان د ژغورلو لپاره مجبور و د خپلو اوښانو خېټې وڅيري او د هغو دننه په يوه کمپله کې ځان ونغاړي او د شپې له خوا په هغې کې ځای ونيسي. کله به چې يوه سړه شوه نو به بلې ته ننوت د دغه مقصد لپاره ده له لمر لوېدو څخه تر لمر ختو پورې اوولس څاروي ووژل. وايي چې احمد شاه په پوځ باندې دومره ساړه زيات وو چې کله هرات ته پاتې شوي کسان راورسېدل نو يوازې د اسکليټ په څېر برېښېدل[۳].

## شهزاده تيمور په هرات کې پرېښودل شو:

احمد شاه هرات ته له رسېدو سره سم دا درک کړه چې د دغه ځای والي درويش علي خان شخصاً دده پر ضد په دې خيال يوه د سيسه طرحه کړې چې د درانيانو د خونو په کنډوالو باندې د خپل قدرت مانۍ ودانه کړي. ده دا ډېره زيان رسوونکې وګڼله چې کله دې کندهار ته لاړ شي، دده په غياب کې نوموړی په هرات کې آزاد پرېښودل شي. احمد شاه غوښتل چې تر ممکنه حده دمخه ځان کندهار ته ورسوي. په دې اساس د درويش علي خان د نيولو او بندي کولو امر يې صادر کړ او د هغه پرځای يې تيمور ميرزا وټاکه. له هغې وروسته دی د کندهار په لور وخوځېد او د ۱۷۵۰ کال په پيل کې دلته راورسېد[۴].

---

(۳) مجمل، ۸۴-۹۰، تاريخ سلطاني، ۱۲۸-۲۹، فيرير ۷۷-۷۸، الفنستين کابل، ۲۸۷، مالسن، ۲۸۱-۸۲، مالکم، د پارس تاريخ (د ام. اچ. کورت ايديټ، لاهور ۱۸۸۸).
(۴) تاريخ سلطاني، ۱۳۰، فيرير ۷۸.

## د پنجاب حالات:

د یوه نوي پوځ برابرول په کلکه پيل شول. څرنګه چې د مېرمنو له خوا پیسې رارسېدلې نه وې او شاه بو دیجې ته فوري اړتیا لرله، نو ده خپل دیوان راجا سکجیون Raja such jiwan لاهور ته ولېږه چې له هغه څخه د څلورو محلو (چهار محل) باج ترلاسه کړي. لکه چې پوهېږو د غه محلې د پخواني والي نواب نصیرخان تر اداري لاندې ورکړل شوې وې. نواب ډېر ژر خاین وخوت او په ډیلي کې د مېرمنو له سیالانو سره متحد شو. صدراعظم صفدر جنګ له پخوا راهیسې دې موقع ته انتظار و چې د ملتان او لاهور د والي قدرت رانسکته کړي. ده ناصرخان د خپل لاس د آلې په توګه تیار موندل. شاه نواز خان ته د ملتان د ولایت سند ورکړل شو او هماغه لور ته یې ولېږه، چې دغه ولایت په زور سره ترلاسه کړي. له بلې خوا احمد شاه ته د ټاکل شویو محلونو مدیر، ناصرخان دې ته وهڅېد چې په سیالکوټ کې پوځونه راټول او د امکان په صورت کې د لاهور ولایت له منو څخه ترلاسه کړي. منو د ناصرخان دمرامونو او خیالاتو د مخنیوي لپاره هڅه وکړه چې له ناصرخان سره ملګرتیا وکړي، خو ناصرخان د جنګ تیاری ونیو او منو مجبور شو چې د جګړې په ډګر کې له ده سره مخامخ شي. دی د یوه سرتېري په پرتله یوه غورتن (لاپوک) ته ورته او د جګړې له میدان څخه چې د محل بودیجه ناصرخان په خپلو پوځی تیاریو برباد کړې وه، نو دا ډېره ګرانه وه

چې منو ټول لګښت او تاوان له خپلې خزانې څخه واخلي او احمد شاه ته خپل ژمنه شوی مقدار ورکړي[5].

خوش وقت رای وايي چې راجا سکجیون په لاهور کې د ژمنه شوي مقدار د ترلاسه کولو لپاره دا وخت سختې خبرې له خولې وباسلې. دغو خبرو نواب او دده وزیر کورامل احساسات زیانمن کړل او وروستي کس وویل: ((تر څه وخت پورې به موږ درانې ته باج ورکوو موږ له هغه څخه په قوت کې څه کم نه یو. دا هماغه احمد شاه و چې یو وخت زما د بادار نواب له خوا یې ماتې وموندله)). په دغو خبرو کې ادینه بیګ ور ولوېد او ویې ویل: ((هغه څه چې دوه کاله وړاندې منل شوي لږ تر لږه اندازه پیسې ورکړل شوي او خپل هېواد ته ستون شو[6] داسې برېښي چې دا د ۱۷۵۰ کال په پای کې پېښه شوه.

## په نیشاپور باندې د شاه ورخوځېدل:

له زغمل شویو کړاوونو او بدمرغیو څخه د روغېدو او د یوه هوسا نوي پوځ په برابرولو سره احمد شاه په خراسان کې د خپلې وروستۍ ماتې د سپکاوي د جبران لپاره د ۱۷۵۱ کال په سر کې له کندهار څخه وخوځېد. ده ته دا پته ولګېده چې په لومړۍ کلابندۍ کې دده د ماتې علت د کلابندۍ د سترو او درندو توپونو نشتوالی و. له دې امله ټولو سورو سرتېرو ته یې هدایت ورکړ چې هر یو تن دې دولس پونډه او سپنه په خپله د توپ د قالب

(۵) طهماس نامه، ب، ۵-۶، تاریخ سلاطین افغانان، ۲۴۲-۴۸، تاریخ علي، ۲۱۲-۲۱۵.
(۶) تاریخ سکان، ۶۹.

تیارولو او په هدف باندې د ګوزار په غرض د ګولۍ جوړولو لپاره له ځان سره واخلي.

## کلا بندي پیل شوه:

احمد شاه د مشهد کلابندۍ ته له تم کېدو پرته چې او سېدونکو ته یې دده د وروستیو عملیاتو په وخت کې د لمسونو په خاطر باید مجازات ورکړل شي، د نیشاپور لور ته مخامخ وخوځېد. ښار له ټولو خواوو څخه وتړل شو او د هغې کلابندي په ډېر قوت سره ټینګه شوه. لومړی میاشت په دغه ځای کې د یوه توپ د قالب جوړولو، سوري کولو او په کراچۍ باندې د هغه د سورولو لپاره تېره شوه. دا یو ستر توپ و چې د شپږو هندي منونو (څلور سوه دوه اویا پونډه) په وزن د ګولۍ غورځولو ظرفیت یې درلود.

عباس قلي خان د وروستیو عملیاتو د قهرمان په توګه دا وخت په دومره خوشاله حالت کې نه و. دده ستره ستونزه د خوراکي موادو له پلوه ګڼله کېده. د میرعلم خان او ورپسې د احمد شاه د کلابندۍ د وخت راهیسې هلته حاصلات او عایدات نه وو او دا ګرانه وه چې له کافي خوراکي شیانو پرته د کلابندۍ سره مقاومت وکړل شي. په مقابل کې شاه پرېمانه زېرمې راوړې وې او ډلې ډلې یې د غنمو او وښو د راغونډولو لپاره ولېږلې چې خپل ګودام بیا ورباندې ډک کړي.

کله چې نوی توپ فعالیت ته چمتو شو نو په عملیاتو یې راوست او د هغې هماغه لومړی ګوزار چې احتمالاً وروستی یې هم و، داسې هیبتناک کار وکړ چې له زیات شمېر کورونو څخه ووت او هغه یې په کنډوالو بدل کړل.

دغو ویجاړونو د نیشاپور د ښاریانو په ذهن کې وېره پیدا کړه. دوی خپل زیات مشران له دې حقیقت څخه په ناخبرۍ سره چې توپ وچاود او کومه بله وېره یې موجوده ولې نه شوه، شاه ته واستول هغه ته یې د دوی د تسلیمۍ د میلان خبرتیا ورکړه، سره له دې هم عباس قلي خان چې د چونۍ قومانده یې په لاس کې وه ددغو مشرانو تسلیمي ونه منله او په افغانانو یې هغه وخت برید وکړ چې د ښار دروازې ته د ننوتلو لپاره نږدې شوي وو، خو دی د زیاتو تلفاتو په ورکولو سره په شا وتمبول شو او سملاسي یې خپله چاره په دې وکړه چې شخصاً خپل ځان شاه ته د یوه عارض په توګه حاضر کړي او له هغه څخه د رحم او شفقت هیله وکړي. شاه دی د یوه زنداني په حیث په خپل کمپ کې وساته او د یوه زړور سرتېري په توګه یې د هغه درناوی وکړ او خراسان ته د ستنېدو په ترڅ کې یې دی له خپل ځان سره کندهار ته راوست.

## د نیشاپور تالا کول:

ابن امین ګلستاني وایي چې شاه د نیشاپور د ښاریانو په مقابل کې د حسد په اور سوځېده. د صدراعظم شاه ولي خان په وسیله عباس قلي خان هڅه وکړه چې چونۍ شاه ته تسلیم کړي. شاه موافقه وکړه چې د ښار د اوسېدونکو سر او مال به په امن کې وساتل شي. شاه په دې شرط د دوی د ژوند خوندي کېدل غوښتل چې هغوی[7] ټول پېښې لوخي له مال پرته جامع

(۷) مجمل، ۹۲-۹۳، تاریخ سلطاني ۱۳۰، فیریر، ۷۹-۸۰، د مالکم د پارس تاریخ ۷۷. فیریر وایي چې احمدشاه عباس قلي خان له خپل ځان سره کابل ته بوت. خو پوهېږو چې دی له هرات څخه کندهار ته ستون شو نه کابل ته. سربېره پر دې ودونه په هغو مرکزونو کې وشول چې هلته دده

جومات ته لاړ شي که له کوم چا سره د يوې ستنې په اندازه کوم څه وليدل شو، نو هغه به د غازيانو له تورې څخه خپل مرګ وويني. او سېدونکو په داسې حال کې چې د خپلې ببوزلۍ له امله يې په سترګو کې اوښکې وې او په ژړا او واويلا سر وو، د فاتح د ستورونو ته غاړه کېښودله. له هغې وروسته ښار چور او لوټ شو. ټول کورونه وپلټل شول او مالونه يې ضبط شول. له جامع جومات پرته چې هلته خلک راټول شوي وو نور داسې کوم کورونه و چې خوندي او ولاړ پاتې شوي وي. په دې ډول د نيشاپور ښايسته ښار په کنډوالو بدل شو او په کنډو او کنډوالو کې يې اوبه جاري شوې. زيات شمېر خوار خلک له تورو تېر شول او ښځې او ماشومان يې د مريانو په توګه يوړل شول[8].

## د سبزوار نيول:

د اتو ورځو له تم کېدو وروسته شاه د سبزوار لور ته وخوځېد چې له کوم مخالفت پرته دده ګوتو ته ورغی. ګلستانی وايي چې دغه ځای له تميز پرته تر عام قتل لاندې راوستل شو او زيات شمېر سيدان، پوهان او روحانيون (سپېڅلي کسان) د افغانانو له تېغه تېر شول.

## د مشهد کلابندي:

کورنۍ اوسېدله. که عباس قلي خان له ده سره تر کابل پورې تللی هم وي، نو هغه بايد د ۱۷۵۱ کال په سپتمبر کې وي چې دا وخت دلته دی د پنجاب پر لور په هند باندې د دريم بريد لپاره راورسېد.
(۸) مجمل، ۹۳-۹۴.

کله چې نیشاپور او سبزوار تسلیم شول نو له هغې وروسته شاه د مشهد د تصفیه کولو او د خراسان د حکومت لور ته توجه واړوله. په نیشاپور کې د خپلې تېرې ماتې وروسته احمد شاه پوه شو چې د شاه رخ افراد له ده سره دښمن شوي دي له دې امله ده تیار چې دده په مخ یې دروازې وتړل شوې کلا بند کړ.

## د تون او تبس Toon- Tobbas سقوط:

په عین وخت کې ده د خپلو ډېرو باوري جنرالانو په پلزي سردار جانخان او د کلات مشر میر نصیر خان په مشرۍ یوه اعزامي قوه سویل لویدیځ ته د تون (اوسنی فردوس) د سیمې او تبس د نیولو لپاره واستوله. دوی د سیمې د ورانولو په وسیله په خلکو کې ویره پیدا کړه او له هغې وروسته یې د تبس د والي په خلاف ورودانګل. والي علي مراد خان هم د دوی مقابلې ته وروړت. افغانان او پارسیان د تون په شمال ختیځ کې په کا خک کې له یو بل سره مخامخ شول او دلته (داسې یوه خونړۍ او سخته جګړه وشوه، چې د پارس د تاریخ په پېښو کې په ندرت موندل کېدلی شي). په جګړه کې د علي مراد خان عملاً داخلېدلو د جګړه مارو شدت او سرسختي زیاته کړه. کله چې د دواړو خواوو تجهیزات خلاص شول نو دوی خپلې تورې وکښلې او له یو بل سره یې لاس او ګرېوان په جګړه پیل وکړ. جګړه سخته وه او هره یوه خوا د برې په هیله وه، چې ناڅاپه علي مراد خان ووژل شو او جګړه د افغانانو په ګټه پایته ورسېدله. د علي مراد خان پاتې پوځ وتښتېد او تون او تبس د افغانانو په لاس کې کېوتل. ددغې جګړې زیات ویاړ میر نصیر خان او دده بلوڅانو ته ورکول کېږي، چې د قهرمانانو په

توګه وجنګېدل. د ګوليو او تورې سربېره چې په ورانولو کې يې زيات رول درلود ، ښار کې لوټ او چور شول او افغانان له زياتو غنايمو سره يوځای د مشهد پر لور شاه ته راستانه شول.

## د پارس حالات:

د مشهد مدافعينو لا هم د شاه په مقابل کې مقاومت کاوه او له باندې څخه داسې بربښېده چې د هغه د سقوط هيله نږدې نه وه، خو خوراکي شيان د لرېدو خوا ته روان وو او د بيا تيارولو اميد يې نه کېده. شاوخوا سيمه د افغانانو په لاس کې وه. د لويديځ او سويل په خوا کې د شاه او دده د جنرالانو برياليتوب مدافعينو ته د مرستې د رسېدو امکانات له کوم لوري څخه له منځه يووړل. د پارس ستره امپراتوري ټوټه ټوټه شوې وه، لکه چې پوهېږو د مازندران ولايت د محمد حسين خان قاجار له خوا غصب شو. دا ربنتيا ده چې دده پوځ دراني شاه پسند خان هغه وخت په شا وتمباوه چې غوښتل يې په هغه ولايت بريد وکړي خو د شاه رخ او محمد حسين خان ترمنځ کومه مينه پاتې نه وه ځکه حسين خان هيله درلوده چې د شاه رخ د ميراث په کنډوالو باندې خپل ځان قدرت ته ورسوي. ګيلان د خپل يوه مشر هدايت خان په لاربنوونه د خپلې خپلواکۍ اعلان کړی و او اذربايجان د نادر د يوه جنرال ازاد خان افغان په لاس کې لوېدلی و. د ګورجستان د شهزاده هيرا کليوس کړه وړه داسې بربښېده، چې د مسلمانو حکمرانانو په مقابل کې به پاڅېږي. دا و د شمالي ولايتونو حالات، په اصفهان کې د مرکزي حکومت په باب که هر څومره لږ ووايو ښه به وي. دلته د علي مراد خان (يو بختياری مشر)، کريم خان (د زند د قبيلې) او ازادخان افغان

ترمنځ یوه درې اړخیزه کشاله روانه وه. هېڅ یو نوی دا وطلب نه شو کېدلی، چې د فقید امپراتور نادرشاه یوه اولاد ته د ملاتړ لاس ور وغځوي. په یزد او کرمان کې دا سې صمیمي مشران نه وو چې په هغو باندې د کومې مادي مرستې څه باور وشي.

## شاه رخ د سولې غوښتنه کوي:

په دغسې حالاتو کې د ړانده شاه رخ لپاره دا ناممکنه وه چې د احمد شاه دراني په مقابل کې مبارزې ته دوام ورکړي. احمد شاه په وروستیو درې نیمو کلونو کې د افغانستان یوه کلکه او پیاوړې شاهي جوړه کړې وه چې د جنګیالیو افغانانو له قوت څخه غني وه او په راس کې سرتېری زېږېدلی، بې سارې پوځي نابغه ناست و. له دې امله ده (شاه رخ. مترجم) یوازې د سولې کولو چاره لرله او احمد شاه دده له دغې غوښتنې سره په ډېره مینه موافقه وکړه. د ابن محمد امین ګلستاني په حواله (چې دده بیان له څو خواوو څخه په دې دلیل باوري دی چې ډېر کلک شیعه پرست و. ) احمد شاه هیله وکړه چې د امام علي رضا متبرک زیارت وکړي، خو په ځواب کې شاه رخ ده ته ضمناً دا پیغام ولېږه چې د زیارت کولو څخه دمخه دی غواړي له هغه سره ملاقات وکړي. بله ورځ شاه رخ له څو تنو دولتي خادمانو سره یوځای د تسلیمېدو لپاره شاه ته ورغی.

شاه دده له شان سره مناسب په ډېر درناوي سره ده ته سترې مه شي وویل او د خپل ځان په څېر یې په یوه مسند باندې کېناوه او مذاکرې په ډېر صمیمیت سره پیل شوې. بالاخره په دې موافقه وشوه چې شاه رخ دې په

معمولي ډول د احمد شاه اقتدار او واکمني ومني او په مقابل کې به احمد شاه دی د خراسان حاکم وبولي او له بهرنيو دښمنانو او د سيمې د ولاياتو او د مغرورو مشرانو په مقابل کې به يې ملاتړ وکړي. دا شرط هم کېښودل شو چې سکې به د احمد شاه په نامه وهل کېږي او په فرمانونو او نورو رسمي سندونو باندې به هم دده مهر جاري وي. دغه راز د تربت شيخ جام، بخرز، تربت حيدري او د خاف سيمې به دده ته وسپارل شي. د احمد شاه په نظر د خراسان مشرانو له شاه رخ سره ټګي درلوده. ده پېشنهاد وکړ چې خپل يو سردار نورمحمد خان په مشهد کې پرېږدي چې د خراسان د نوي جوړ شوي دولت په اداره کې مرسته وکړي او د هغه په پولو کې سوله وساتي. په دغه اساس يو تړون برابر او له دواړو خواوو څخه لاسليک شو. بله ورځ احمد شاه او شاه رخ په ګډه سره ښار ته لاړل او د امام علي رضا متبرک زيارت يې وکړ. ددې لپاره چې ټول رسميات بشپړ شي خطبه دده په نامه وويل شوه او سکې دده په نامه ووهل شوې.

کله چې احمد شاه په دې پوه شو چې اوس نو خراسان د خودخواهو او ياغي مشر او په تېره بيا د ازادخان افغان په مقابل کې د يوه کلک سنګر په توګه بدل شو، نو له هغې وروسته هرات ته راوګرځېد[۹].

---

(۹) مجمل ۹۰-۹۱، تاريخ سلطاني، ۱۳۰-۱۳۱، شاهنامه احمديه، ۱۲۸-۳۰، مالکم د پارس تاريخ، ۴۰-۴۰، سايکس، د پارس تاريخ، ۳۷۱-۷۴.

فيرير وايي چې احمدشاه د خپلو زېرمو خلاصېدل درک کړل، نو د سپرو يوه ډله يې د سبزوار او شاه رود بوستان لور ته واستوله. هغوی په خپل ماموريت کې بريالي شول او له دوه زره پنځه سوه څارويو سره چې ولجه باروو، بېرته روان شول. د لارې په سر دوی په عباس اباد کې د خپلو تم کېدو په ترڅ کې د يو زرو پنځه سوه سورو قاجاريانو له خوا نابيره تر يرغل لاندې راغلل او لوټ شول. افغانانو زر تنه د مړو او بنديانو په څېر د خپلو بدرګو په ګډون له لاسه ورکړل. نږدې زر تنه يې چې ژوبل شوي نه وو، راوګرځېدل.

## مالکم د احمد شاه د هوښیارۍ ستاینه کوي:

سر جان مالکم sir john Malcolm وایي: احمد شاه دا وخت په داسې یوه حالت کې و چې غوښتل یې د ټول پارس لاندې کولو ته اقدام وکړي، خو دغه هیله دومره راښکنکې نه وه. افغانان تر اوسه پورې د هغو بدمرغیو اصلي عاملین ګڼل کېدل چې د هغه ځای د (ایران) په خلکو یې تحمیلولې او هغه نیمګړې هڅې چې د دغه هېواد (ایران) مذهب بدل کړي د دې سبب شوې چې د پارسیانو په زړه کې له سنیانو سره د مقابلې کرکه بیا راژوندۍ شي. سربېره پر دغو موانعو د غضبولو هغه نمونه چې نادر شاه ښکاره کړه د هر یوه ولایت د حکمران او یا د قبیلې د هر یوه مشر په زړه کې د حکومت کولو غوښتنه راپیدا کړه او پارس د شاهي قدرت د نیولو زیات داوطلبان لرل. په دغسې حالت کې مور د افغاني شهزاده هوښیاري ستایو چې له دغه کړکېچن او لانجمن ډګر څخه یې ځان ویوست چې په خپل پلرني هېواد کې د قدرت ټینګولو عالي او معقول هدف ته خپلې راتلونکې هلې ځلې په خاصه توګه په کار واچوي او تر هغو چې دده اولادې ته تاج پاتې وي خپل ملت داسې یوې درجې او شان ته را اوچت کړي چې تر دغه وخته یې لیدلی نه وي. د پارس په یوه کتیبه کې کښل شوي چې احمد شاه له روانېدو دمخه غوره مشران راغونډ کړل او هغوی ته یې پېشنهاد وکړ چې د نادر د زېږېدو ولایت باید له پارس څخه جلا او د یوه امارت په توګه د هغه لمسي شاه رخ ته وسپارل شي. احمد شاه د خراسان د خپلواکۍ د شامن په حیث چې په رښتیا یې هم خپل ضمانت وساته وګرځېد او د خپلو دو منیونو (قلمرونو) د ساتنې او څارنې لپاره یې یو داسې پوخ سرحد جوړ کړ چې که کوم یو

حکمران په بري سره د پارس په تخت کښېني، د هغه له خودخواهۍ څخه بچ شي.)[۱۰]

## نور بریالیتوبونه:

احمدشاه له هرات څخه د پوځي مهماتو د یوه مرکز په توګه خپل یو وزیر بیګي خان (شاه ولي خان) له یوې پیاوړې قوې سره د آمو رود د (اکسوس) په خوا کې د شمال ختیځو سیمو د ایل لپاره چې ازبکان، هزاره او نور افغاني قبایل په کې اوسېدل او لا تراوسه یې دده واک ته غاړه ایښې نه وه واستاوه. دده پوځي ټولګی بریالی شول او میمنه، اندخوی، شبرغان، اقچه، سرپل، بلخ او خرم* یې له کوم کلک مخالفت پرته ونیول. خو دی دلته تم نه شو او د بدخشان د هندوکش د نورو شمالي سیمو او له بامیان څخه د کابل تر لویدیځ پورې ځایونه یې لاندې کړل. په دې ډول دده د سلطنت حدود د نن ورځې بڼه ونیوله. کله چې نیول شوې سیمې سره متحدې او کلکې شوې او باوري والیان پرې وګومارل شول، نو له هغې وروسته کندهار ته چې شاه هم په همدغه نږدې وخت کې ورته رارسېدلی و، ستون شو. خپل هېواد ته ور خدمتونو د ترسره کولو له امله شاه له شاه ولي خان څخه ډېر خوښ شو او دده د تقدیر لپاره یې هغه ته د صدراعظم لقب ورکړ او د ګلبهار په سمسورو مځکو کې یې ورته برخه وبښله[۱۱].

(۱۰) د پارس تاریخ، ۴۰.
*ښایي مطلب یې خلم وي-مترجم.
(۱۱) فیریر، ۸۱، سایکس، ۳۵۷، غبار احمدشاه بابا، ۲۱۳-۲۱۴.

لکه چې پوهېږو شاه له نیشاپور څخه عباس قلي خان له ځان سره واخیست. دده زړورتوب د خپلواکۍ روحیه او ساده خوی ددې سبب شو چې شاه له ده سره شخصي اړیکي ټینګ کړي او دا مفکوره ورته پیدا شوه چې په هغه باندې باور کېدلی شي، نو شاه په خوښۍ سره دده خور واده کړه او خپله یوه لور یې دده مشر زوی ته ورکړه. د دواړو کورنیو ترمنځ ددغسې نږدې پیوستون په نتیجه کې شاه عباس قلي خان ته د نیشاپور ولایت وسپاره او بېرته یې خپل کور ته ولېږه[۱۲].

(۱۲) مالکم، د پارس تاریخ، ۷۷، د فیریر په حواله ((شاه په دغه مشر (عباس قلي خان) کې ډېر فوق العاده استعدادونه او ساده خوی وپېژندل او د هغو له مخې ده په نوموړي باندې دا باور پیدا کړ چې خپله خور ورته ورکړي. دغه راز خپله یوه لور یې د عباس قلي خان زوی ته ورکړه او له هغې وروسته نیشاپور ته د هماغه ولایت والي او حکمران په توګه واستاوه.)) اتیایم مخ.

# لسم فصل

# په هند باندې د رېيم برید

# د پنجاب او کشمیر نیول

## څلور سیمې:

شاه اوس دې ته وزګار و چې د پنجاب خواته خپله توجه واړوي. د ۱۷۴۹م کال د پرېکړې پر اساس د سیالکوټ، اورنګ اباد، پاسرور او ګجرات د څلورګونو ناحیو باج چې په کال کې څوارلس لکه روپیو ته رسېده احمدشاه ته منل شوی و، خو هغه په منظمه توګه ده ته راونه رسېد. د لومړي کال په پای کې راجا سکجیون لاهور ته د طلباتو او ورکړې وړ پیسو د ترلاسه کولو لپاره ولېږل شو. دی یوازې له تش په نامه پرداخت سره خپل هېواد ته راوګرځېد. دا سمه ده چې په ملک (هند-م) کې موجوده کشالې روانې وې او د چهار محل ((اداره چې)) نواب ناصر خان د والي په مقابل

کې اله ګوله وکړه او زیات باج یې په خپلو پوځي ترتیباتو ولګاوه او پاتې یې له ځان سره واخیست، خو دا یوازې د لومړي نیمایي کال ونډه وه. د دوو پاتې فصلونو عایدات د میر معین الملک د مامورینو له خوا ټول شول. هغه خساره چې د ناصر خان د تېښتې له امله ورسېده مسوولیت یې د لاهور د حکومت پر غاړه و. څرنګه چې احمدشاه ته د په نامه شویو څلورو محلو ربښتیانی، مالکیت او حکومت د ناصرخان په لاس کې نه و او نه دا چې دی د هغه کوم ګومارل شوی او مامور ګڼل کېده، نو د سیمه ییزو دلیلونو پر اساس د طلب وړ پیسو خسارې مسوولیت منحصر په هغه باندې اچول کېدلی نه شي. په هره پلمه چې و شاه ته دغوښتنې وړ ورکړی د نه ورکولو اصلي علت د معین د نیت په بدلېدو پورې اړه لرله چې په خراسان کې د شاه د بدمرغیو او یاد کورامل د وطن پالنې پر اساس منځته راغلی و[1].

## استازی هارون خان په لاهور کې:

د باراني فصل له تېرېدو وروسته شاه له کندهار څخه کابل ته وخوځېد او له دغه ځای څخه یې د سردار جانخان او عبدالصمد خان په مشری یو ړومبنی پوځ ولېږه چې په پنجاب باندې ور ودانګي.

سره له دې هم ده وغوښتل یو ځل بیا د سولې لاره ونیسي او هارون خان یې د استازي په توګه د باقیاتو د حاصلولو لپاره ولېږه. هارون خان د ۱۷۵۱ کال د اکتوبر په دریمه (ذیحجه ۲۴، ۱۱۶۴هـ) د لاهور ګاونډیتوب ته راورسېد او ښار ته په ننوتلو سره جومات ته مخامخ په سرای حکیم کې (له چونې

(۱) طهماسنامه، ب ۵-۶، تاریخ احمدشاهي ۲۹ الف، تاریخ علي ۲۱۳-۱۵، خوش وقت رای، تاریخ سکان، ۶۹.

سره نږدې د ((ماستې)) دروازې دننه په ((ماهران والا – کاتراکې))- ) ورته ځای ورکړل شو. ده له الي نواب معين الملک سره د اکتوبر په لسمه مرکه وکړه او په ده باندې د طلباتو د ژورو کړی په لزوم ټينګار وکړ. معين د کورامل د رارسېدو لپاره خبرې اترې ځنډولې چې له ملتان څخه راغوښتل شوی و. د نوامبر په منځ کې د کورامل په رارسېدلو سره هارون خان ته وويل شول چې د کومې ورکړې لپاره امکانات نه شته او دوی حاضر دي چې د هغې پر ځای شاه ته په ګولۍ او توپ ځواب ووايي. پر دې اساس دی د معين له خوا په لاهور کې توقيف شو. هارون خان په لاهور کې د کورامل د پوځي تياريو لښکر او پوځي مهماتو له ليدلو څخه هک پک شو[۲].

## لاهور ته د شاه خوځېدل:

احمد شاه د ۱۱۶۴ کال د ذيقعدې په دوولسمه د ۱۷۵۱ کال د سپتمبر په يوويشتمه له کال څخه وخوځېد او پېښور ته لاړ دلته يې احتمالاً د هارون خان مذاکرو ته انتظار وايست. د ډيلي د ۱۷۵۱ کال، د دسبمر د شپږمې نېټې د يوه اخبار له مخې شاه د ۱۱۶۵هـ د محرم په يوولسمه په پېښور کې و پداسې حال کې چې جهان خان له اټک څخه روتاس ته حرکت کړی و[۳].

## په لاهور کې د منو ترتيبات:

(۲ ) متفرق اسناد، د پيشوا له دفتر څخه منتخبات (پارسي) ۵، ۳- ۱۲۷۱ ګڼه مکتوب، اکتوبر. ۱. ۱۷۵۱، ۱۹۳۰ ګڼه، اکتوبر، ۲۰، ۱۷۵۱، سوهان لال، عمدة التواريخ ۱۳۲- ۱۳۳.

(۳ ) د احمدشاه بابا مولف (۲۱۵ - ۱۶مخ) وايي چې احمدشاه پېښور ته له رسېدو سره سم د اسحق اقاسي عبدالله خان په مشرۍ يو دوه زره کسيز لښکر د کشمير د نيولو لپاره ولېږه، خو د کشمير او پنجاب تاريخونه چې زيات باوري برېښي د کشمير د نيولو عمليات د مير منو له تسليمېدو څخه وروسته ګڼي.

له کابل څخه د شاه د خوځېدلو خبر د لاهور په ښار کې ویره پیدا کړه او خلکو تصمیم ونیوه چې خوندي ځایو ته وتښتي. معین الملک ډېر پخوا یانې کله چې د ۱۷۵۰ کال په پای کې راجا سکجیون له لاهور څخه د کندهار په لور روان شو، خپل ترتیبات پیل کړي وو. ده ته اوس دا جوته شوه چې د جهان خان په مشرۍ ړومبنی لښکر دده قلمرو ته ننوتلی او شاه هم ډېر زیات لیرې نه و، نو پر دې اساس یې په ډېر قوت سره د خپلو پلانونو په عملي کولو لاس پورې کړ. ده زیات شمېر نوي افراد جلب کړل چې په هغو کې د مهدي قلي خان (د صوبه دار افراسیاب بیګ خان یو خپل او شمس الدین ((یاساوال)) په ګډون له کشمیر څخه دوه سوه سواره شامل وو.

مهدي قلي خان او ادینه بیګ خان له سیالکوټ او جلندر دواب څخه یو په بل پسې رارسېدل. کورامل هم له ملتان څخه راغی او له سکانو سره په دې فکر چې د دوی مرستې جلب کړي تماس ونیو[۴].

معین الملک د سکانو ډېر سخت دښمن و، خو کورامل چې په خپله سک و (که څه هم یو سنګهه نه و) په ملتان کې د شاه نوازخان پر خلاف د سکانو د مرستې په جلبولو کې بریالی ګڼل کېده. اوس بیا ده هغوی خپل څنګ ته ودرول او د برش زره کسه چې دا شمېر مبالغه امیز ښکاري له امرتسر څخه د ((وا نیکي)) په لور راروان شول، خو چې له ده سره یوځای شي، خو دوی په خپلو منځو کې په جګړه ولوېدل او د ((بهانګي)) کانفدریشن نږدې لس

---

(۴) متفرق اسناد (ا. س. پ. ډ) ۵، ۱۹۳۰، ګڼه اکتوبر، ۲۰، ۱۷۵۱، ۶-۷، ۱۹۴۲ ګڼه نوامبر ۱۷۵۱، دویم ټوک، ۱۹۵۲ ګڼه، ۱۷۵۱، دسمبر، ۶، خوش وقت رای، ۶۹، تاریخ علي ۲۱۸-۱۹، شاهنامه احمدیه، ۱۴۱.

زره تنه بېرته وګرځېدل. هغه کسان چې له کورامل سره پاتې شول د ((ماری کامبو)) د سردارانو سنګاټ سنګهـ او سوخا سنګهـ تر مشرۍ لاندې وو[5].

## مذاکرې:

له سرحد څخه احمد شاه په لاهور کې معین الملک ته یو لیک واستاوه او په هغه کې داسې راغلي دي (( په کابل پورې مربوط د څلورو محلو د باج په باب پرېکړه شوې وه چې په منظمه توګه به ورسېږي. خو تر اوسه پورې هېڅ څه رارسېدلي نه دي. دغه بې وفایي ستا له لوري ده او دا سبب دی چې زه دلته راغلم. بهتره داده چې تاسو د درېو کلو د باج په مقابل کې څلیرویشت لکه روپۍ راواستوئ چې زه بېرته ولاړ شم. ))

خو معین الملک فکر وکړ چې په جګړه کې به دی پر درانیو غښتلی وي له دې امله ده په ځواب کې ورته وویل: (( ناصر خان د دوو کلو باج له ځان سره وړی دی او زما پر خلاف یې ناوړه چلند وکړ یوازې د یوه کال باج دی زه پوروړی یم که ستا مقصد همدا وي زه به دغه پیسې تاته در واستوم او که چېرې تاسو جنګ کوئ زه هم تیار یم. ))

## لاهور ته د احمد شاه راوړاندې کېدل:

(5) رتهان سنګ بهانکو، پراچین پراپانت، پراکاش، ۴۰۷-۴۰۹، جیان سنګ، پانت پراکاش، ۶۹۴-۹۶ ګنداسنګ، مهاراجا کورامل بهادور، ۱۰۰-۱۰۱.




Sardar jahan khan
Commander- in- chief of the afghan army

کله چې احمد شاه د اباسين په پورې غاړه کې و او غوښتل يې چې راپورې وځي په دغه وخت کې معين الملک ده ته نهه لکه روپۍ واستولې. شاه پيسې واخيستلې خو څرنګه چې دا دده په حساب بشپړه ورکړه نه وه، نو خپل حرکت ته يې دوام ورکړ. سردار جانخان له روتاس څخه بيړه وکړه او له چناب او جهلم څخه له اوښتو وروسته سملاسي د محرم له ۲۳-۲۴ پورې (۱۱۵۲هـ۱-۲ د سمبر ۱۷۵۱م يې ځان له ايمين اباد سره نږدې راورساوه شاه هم په ډېره چټکۍ په ده پسې لاړ او د محرم په شپږ ويشتمه، (د دسمبر څلورمه) يا ددې نښتې په شاوخوا کې يې د روتاس، کجرات او سوهدرى له لارې له وزير اباد سره نږدې د ((کوټلا سيدان کلى)) ته ځان ورساوه. دا بايد ووايو چې شاه له جهلم څخه له اوښتلو وروسته امر وکړ چې روتاس بايد لوټ نه شي او د سيالکوټ د ساتنې لپاره يې رحمت خان واستاوه.

له بلې خوا کله چې معين الملک د خپلو ترتيباتو بشپړتيا حس کړه نو د تسکين لپاره د وليانو زيارتونو او مقبرو او د لاهور ملنګانو او دستانو لاس نيوي ته د محرم په يوويشتمه (د نوامبر نهه ويشتمه) لاړ او بله ورځ د محرم په دوه ويشتمه له راوي څخه واوښت او په ((سراى بلخيان)) کې يې چې له لاهور څخه څلور کاسه واټن لري خپلې خېمې ودرولې. عوض خان يې د لاهور د والي مرستيال په حيث وګوماره او بېګم ګانې ((د ده مور، شولا پورې بيګم، ماندينه مراد بيګم، دغه راز معلاني بيګم هم بلل کېدله او لور عمده بېګم) او د کورنۍ نورې پېغلې يې جمو ته واستولې. د والي

اقداماتو د لاهور ښاريانو ويره نوره هم زياته کړه او زيات شمېر يې ډيلي او نږدې غرنيو سيمو ته وتښتېدل[۷].

## له هارون خان سره خبرې اترې:

لکه چې پوهېږو دراني استازي هارون خان ته د تګ اجازه ور نه کړل شوه او لا هم په سرای بلخيان کې د مير منو په کمپ کې د سفرې تر څلورمې نېټې ( د دسمبر دولسمه ) پورې د پره و.

منو ده ته وويل:

(( ابدالي بې ايماني وکړه ( دا چې څنګه يې وکړه په دې هکله هغه څه ونه ويل ) ) دا څنګه مسلماني ده؟ زه د ښار د ساتنې لپاره راووتلم ) ). دا وخت مهارا جا کورامل له استازي سره يو څه خبرې وکړې او له يو څه بحث وروسته وروستی کس (هارون. م ) له څو ليکونو سره يوځای د کورامل د دو اسونو او خپل يو اس سره جهان خان ته واستول شو. دا هغه وخت و چې د غلام محمد يو بدرګه وال صوفي شکرالله چې سردار جان خان ته واستول شوی و، د دراني له يوه استازي، سلطانعلي خان سره يوځای د مير منو کمپ ته راستون شو[۸].

---

(۷ ) متفرقه اسناد (پارس) ۱۲، ۱۹۵۴، ګڼه، د سمبر ۱۰ ، ۱۷۵۱، ۱۹۵۵ ګڼه، دسمبر ۱۲ – ۱۷۵۱، ۱۲۰۶ ګڼه، دسمبر ۱۴، ۱۷۵۱، ۱۴– ۲۲۸۴ ګڼه، دسمبر، ۲۰ – ۱۷۵۱، طهماسنامه، ب. ۱۰، تاريخ احمدشاهي، ۲۹ الف–ب (اليوت اوداسن اتم ټوک ۱۲۲).

(۸ ) متفرقه اسناد (پارسي)، ۱۴–۱۵، ۲۲۸۴ ګڼه، دسمبر ۲۰ – ۱۷۵۱.

په داسې حال کې چې میر منو په (( سرای بلخیان ))[9] کې کمپ درولی و او له شاه سره مقابلې ته په انتظار کې و ، د جهان خان تر مشرۍ لاندې د لومړني پوځ تیت او پرک ډلو د راوي او چناب ترمنځ سیمه تارو مار کړه. ډېر ځله د دواړو خواوو پیش قراولان له یو بل سره مخامخ شول او په توپونو او پلټه ییزو ټوپکو یې ډزې وکړې او جګړه تر یو څه وخته روانه وه ، خو دا ټول خواره واره او کچنۍ ټېرونه وو او د مسالې د حل لپاره کومه غوڅه جګړه د دواړو لښکرو ترمنځ ونه شوه.

## له راوي څخه د شاه اوښتل:

ناڅاپه دا وخت د شاه فکر ته یو پلان راغی او په زړورتیا سره وخوځېد. ددې لپاره چې په تنګ یې څوک پوه نه شي ، نو خپلې خېمې یې ولاړې په ځای پرېښودلې او ښي لور ته یې زیات ځان راتاو کړ او پټه سره له راوي څخه د ۱۷۵۲ کال د جنورۍ په نیمایي کې د ((غازي پور)) د ګودر په برخه

(۹ ) طهماس خان (طهماسنامه ب، ۱۳)وایي چې میر منو د احمد شاه د مقابلې لپاره د چناب په غاړه تر ((پل شاه دولا پورې))ولاړ. د منو له اردو ګاه څخه ورځ په ورځ خبرونه (د پیشوا له دفتر څخه منتخبات، پارسي، متفرق اسناد ، ۴- ۱۵) په غوڅ ډول له دغه بیان سره مغایرت لري. منو لا د ولیانو زیارتونه کول (نوامبر ۲۹) چې د سردار جان خان په مشرۍ رومبی پوځ له چناب څخه واوښت او د ایمین اباد په لور په حرکت کې وا و د دسمبر ۱ -۲ نېټې پورې دلته راورسېد . شاه په خپله هم په څوورځو کې دریاب ته راورسېد اوویل شوي چې د دسمبر په حلورمه ( که لا دمخه نه وي) د ((کوټلاسیدان) کلي ته راغی، هلته یې واړول. وګورئ متفرق اسناد ، ۱۹۵۴ ، ۱۹۵۵ ، ۱۲۰۶ ګڼې دسمبر ۱۰ ، ۱۲ ، ۱۴ ، (دولسم دیارلسم مخونه) وګورئ. فرحت الناضرین، ای او ډي، دریم ټولک، ۱۶۷ ، تاریخ علي، ۲۱۸ -۱۹ ، شاه نامه احمدیه، ۱۴۰ - ۱۴۷ حسین شاهي، ۲۴ ، ۲۵ ، عبرتنامه ۲۴۲ ، خوش وقت رای، تاریخ سکان، ۷۰.

د عمدة التواریخ د مولف په حواله کله چې منو له کورامل څخه د دفاع د تدابیرو په هکله وپوښتل هغه په ځواب کې ښکاره کړه: ((که د احمدشاه له رارسېدو څخه دمخه ترتیبات نیول شوي وای، نو کېدلی شو له ده سره داندس، چناب یا جهلم په غاړه مخامخ شوی وای. اوس چې دی د لاهور څنګ ته راغلی، نو باید د راوي په بله غاړه له ده سره د ((سرای بلخیان)) د پخو سنګرو تر څنګ مقابله وکړو). منو دده سلا واخیستله او په هماغه ډول یې عمل وکړ.

سرای بلخیان (د نقشې په مخ پلخی، دېرشمه ګڼه) د شاه درې په شمال ختیځ څلور میلۍ کې چې د ((داندین)) له کلي څخه د یوه میل په واټن لویدیځ ته پروت دی.

کې واوښت او د (نیازبیک) له لارې د ((هنجروال)) کلي ته ننوت. له هنجروال څخه یې د لاهور شمال ختیځ ته حرکت وکړ او د شالامار د بڼ په شمال ختیځ کې یې واړول. دده پوځ د ((شاه بالوال)) او ((محمود بوتی)) پورې خور و. له بلې خوا جهانخان له مخامخ لارې څخه په ښار باندې په کراره سره راودانګل.

ددغه خبر په اورېدو سره چې شاه له راوي څخه اوښتی او لاهور ته نږدې رارسېدلی دی، معین الملک د ښار لور ته په بیړه په ځټ وګرځېد. جهانخان شمالي ګودر ته په چټکۍ راغی او له رود څخه واوښت او د لسو زرو سورو په قوې سره یې فیض باغ ونیو. معین خواجه میرزا جان، اسماعیل خان او یو شمېر نور سرداران ددې لپاره واستول چې جهان خان له فیض باغ څخه وشړي. میرزا جان د جهان خان په لیرې کولو او له باغ څخه ایستلو کې بریالی و او وروستی کس د شالامار د بڼ ترڅنګ له شاه سره نږدې موقعیت غوره کړ[10].

د ((پراچین پانت پراکاش)) مولف رتان سنګهـ په دغه برخه کې د راوي د رود په شمالي غاړه کې د افغانانو له یوې ډلې سره د سکانو د یوې نښتې په باب یو په زړه پورې بیان وړاندې کړی دی. کورامل د والي له کمپ څخه ښار ته له رارسېدو سره سم د یاکي Yaki دروازې دفاع سکانو ه وسپارله. د غرمې وروسته مهال کې د سکانو د کنډک قوماندان د ((ماری کامبو))

---

(۱۰) طهماسنامه ب، ۱۴، عمدة التواریخ لومړی ټوک، ۳۳، دا په ډیلي کې د امپراتور لپاره د منو د یوه بري په توګه ورسېدله، خود احمدشاهي تاریخ مولف وایي چې ((دا یو بری نه و په همدغه شان یو وخت جهان خان (عمومي قوماندان) له یوې سترې قوې سره په لاهور برید وکړ خو د چونۍ دفاع کوونکو او د ښار اوسېدونکو په ده د توپونو او ټوپکو ډزې وکړې او ډېرې یې وروغورځولې ابدالیان را په ځټ شول او بېرته لاړل، دا وخت و چې د جهانخان د مرګ اوازه ګډه شوه خو دا یوه درواغجنه اوازه وه.))

سردار سوخا سنګهـ د نهانګیانو په شمول له یو شمېر سکانو سره لـه راوي څخه واوښت. سکان بې له دې چې د افغاني قوې موجودیت تـه متوجه شي لـه خپلو ببرېیو څخـه لاړل او بوټو تـه ننوتـل. د سکانو د غـرۍ پـه اوربېدو سره دراني قوماندان (سردار جهانخان او یا یو شمېر نورو افسـرانو ) څلور سوه سواره پوځونه په هغوی باندې د برید لپاره واستول. سکان د جنګ لپـاره راغلي نه وو او د برید لپاره یې تیاری نه درلود. سره لـه دې هم سوخاسنګ خپل افراد سره راغونډ او په افغانانو یې سخت یرغل وکـړ خو د دوی لپـاره دا ناممکنه وه چې د افغانانو د ډېر لوړ پوځ په مقابل کې مقاومت وکړي او د رود لور ته په شا وتمبول شول.

سوخاسنګ فکر وکړ چې ددغو پوځونو قومانده پـه خپلـه شاه ورکـړې، نو ځکه یې سخت زیار وایست چې هغه ته ځان ورسوي، خو شـاه هلتـه نـه و او سوخاسنګ په دغه نابریالۍ هڅه کې ووژل شو.

سکانو بیا پـه ببړۍ کې ځانونه واچول او د ښار لور ته ستانه شول، خو هلتـه دوی د ښـار لـه دېوالونـو څخـه غالباً د یـوې اشـتباه لـه مخـې تـر ډزو لانـدې راغلل. سکان چې د لاهور د دفاع لپاره راغلي وو ددغه ځای لـه خلکو څخـه بېزاره وو او زیات شمېر یې پـه ماجا majhaa کې خپلې دېرې Dera تـه پـه شټ لاړل[11].

## د جګړې پیل:

(۱۱ ) رتهان سنګ، پراچین پانت پراکاش، ۴۰۷- ۱۱، جیان سنګ پانتڅ پراکاش، ۶۹۳-۹۹ شمشیر خلسه ۴۷۴- ۷۵. د جیان سنګ پـه حواله سوخاسنګ د محمود بوتي په جګړه کې ووژل شول، خو زه رتهان سنګ تاییدوم او زما په فکر ډېر باوروړ بریښي. په دغه وخت کې دده پلار او د ترور مېړه (د عمه مېړه) حاضر وو.

کله چې جهان خان له فیض باغ څخه په شا شو ، نو د شپې له خوا معین الملک په راوي واوښت او د لاهور له ښار څخه بهر یې یو سنګر لرونکې ځای ونیو. د سهار په لسو بجو ځینو افغانانو د لاهور د والي د خوراکي شیانو په یوه پلټونکې ډله برید وکړ. سید جمیل الدین خان، ادینه بیک خان، مهدي علي او کورامل له هغوی سره جګړې ته ور ووتل. درې ساعته د دوی ترمنځ د غشو او د پلټه ییز ټوپک ګوزارونه مبادله شول. په پای کې افغانان پرته له دې چې تعقیب شي خپلو کمپو ته په شا وګرځېدل. دوی د میر منو لس تنه له ځان سره د بندیانو په حیث بوتلل، په داسې حال کې چې له هغو څخه اووه تنه یې د دفاع کوونکو په لاس کې کېوتل. ورپسې د ښار تر شاهوخوا د څو میلو په واټن سره مورچلونه تاو شول او لارې یې په کلکو پوځي پوستو سره څارل کېدلې. د عمدة التواریخ مولف سوهن لال وایي چې د میر منو سنګرونه د نږدې دولسو کوسو په یوه ستره ساحه کې خواره شوي وو. دی وړاندې څرګندوي چې (( د ښار یو باوري سپین ږیري مو ړ ته وویل دا وخت لاهور له ښونو او مېوه لرونکو ونو څخه ډک و چې د پایتخت زوړ برم یې را په یاد اوه خو هغه ټول د سنګرونو د جوړولو لپاره پرې شول او په ختیځ کې له حضرت ایشان څخه نیولې د سویل لور ته تر کوټلي شاه kotlishah او شمال لویدیځ ته د راوي تر رود ) پورې پراته ټول ښونه په سپېرو خاورو برابر شول او ټول ځایونه یې په سنګرونو ډک شول. ) ) د سترو او درندو توپونو د نشتوالي له امله احمد شاه ته ګرانه وه چې په ښار برید وکړي او یا د عمومي عملیاتو خطر له منځه یوسي. له بلې خوا معین هم یوه پیاوړې سیاره قوره نه لرله چې وکولی شي له افغانانو سره په ډګر کې

مخامخ وجنګېږي او هغوی مصروف وساتي پر دې اساس جګړه له رکود سره مخامخ وه، خو سره له دې هم احمد شاه ارام کېنناست او له خپلو مشرانو سره یې سلا وکړه. پرطکړه وشوه چې شاوخوا سیمه دې تړوله ویجاړه شي. د افغانانو ډلې بهر لاړې او د ځلوېښتو کوسو په شعاع شاوخوا کلي یې وران کړل. معین هم خپل افراد د افغانانو د تعقیب لپاره بهر ته استول او لکه چې طهماس خان مورږ ته وایي هره ورځ یو یا دوه نیول شوي کسان به له خپلو اسونو سره د منو حضور ته راوستل کېدل. ((خو د ورانکاریو له امله د دربو مزلونو په واټن د یوه ځراغ رڼایي لیدل کېدلی نه شوه او غلې په ډېره زیاته اندازه ګرانې وې.))(۱۲)

د دوو لاهوري منونو په اندازه اټا (اوړه) ata په یوه روپۍ خرڅېدله، په داسې حال کې چې واښه او بوس حتی په دغه بیه هم نه پیدا کېدل. واښه دومره کمیاب و چې کورونه او څپرې رنګ شول، چې د اسانو او نورو ځارویو خوراک ته د بامو له کاه ګل څخه بوس وباسي.(۱۳)

## منو له ډیلي څخه کومه تقویتي قوه ترلاسه نه کړه:

مشکوک حالت تر یوې نیمې میاشتې روان و(۱۴). میر منو له ډیلي څخه د نوې قوې د رارسېدو په هیله و. د احمد شاه د حملې د خبر په رارسېدو سره

(۱۲) طهماس نامه ب، ۱۴، فرحت الناضرین، ای اوډي، درېیم ټوک، ۱۶۷، تاریخ علي ۲۱۹-۲۰. عمدة التواریخ، لومړی ټوک، ۱۳۳.

(۱۳) جیان سنګ، شمشیر خلسه، ۴۷۴- ۷۵، فرحت الناضرین، ای اوډي، درېیم ټوک، ۱۶۷، خوش وقت رای، تاریخ سکان، ۷۰- ۷۱، پرنسیپ رنجیت سنګ، ۱۱.

(۱۴) هري رام ګوتپا د سکانو په باب خپل تاریخ (۱۷۳۹- ۶۸) کې وایي: ((کلا بندي ځلور میاشتې دوام وکړ)). دی ظاهراً د سیرة المتاخرین او تاریخ مظفري پیروي کوي، چې هغوی د احمد شاه په مقابل کې د منو جګړه ځلور میاشتې ښیي، نه دا چې د لاهور کلابندي ځلور میاشتې ونیولې، دغه راز طهماس نامه وایي: ((ځلور میاشتې کېږي چې له دواړو خواوو څخه مسلمانان له منځه ځي.)) دغه خبره د احمد شاه له

مغولي امپراتور خپل وزیر ته په وارو وارو ولیکل چې د احمد خان بنګښ او د علي محمد خان روهیله زوی سعد الله خان په مقابل کې خپل عملیات بس کړي او مرکز ته راستون شي. خو لومړی وزیر (صدراعظم) د میر معین الملک یو ستر دښمن و. ده دا غوښتل چې له هغه سره د مرستې پرځای به دا ښه وي چې د دراني په مقابل کې یې پر ښوتلی وګوري. پر دې اساس ده کوم عمل ونه کړ او له احمد خان بنګښ او سعد الله خان سره له سولې کولو وروسته یې خپل مرهټه متحدین پر ښسودل او خپل ځانګړي ولایت او دهـ oudh ته د هغه د اداري چارو د سمون لپاره ولاړ. خپل دولت ته په وظیفه کې دا شان مرجمانه غفلت په داسې حالت کې چې یو بهرنی دښمن له وره ځخه راوښتی وي او غواړي چې د یوې غوره برخې د نیولو ګواښ وکړي، صرف د مغولي اشرافو او لویانو عمومي سپک خوی ځرګندوي چې یوازې شخصي دښمنیو ته متوجه وو او په مجموع کې د امپراتورۍ او ملت ښېګڼې یې له پامه غورځولې وې[۱۵].

## په لاهور کې د جګړې شورا:

کله چې میر منو له ډیلي ځخه د نوې قوې او مرستې له پلوه نا امیده شو، نو د جنګي عملیاتو د پلان جوړولو لپاره یې د جګړې شورا دایره کړه خو دی

---

راتګ ځخه تر ستنېدو پورې د جګړې او عملیاتو دوام ښیي. حسین شاهي، ۲۵، په لاهور کې د احمدشاه تم کېدل یوه نیمه میاشت بولي او شاهنامه احمدیه، ۱۴۵ - ۱۶۱ هغه د یوې او دوو میاشتو ترمنځ بولي. خوش وقت رای، (تاریخ سکان، ۷۲) وایي چې احمدشاه په لاهور کې ځلوېښت ورځې پاتې شو. سرجادونات سرکار (د مغلي امپراتورۍ زوال، لومړی ټوک، (۴۳۰) په دې خبره کې رښتیاني دی چې وایي ((عملیاتو پوره ځلور میاشتې وخت ونیو)). جام جهان نما، ۵۰۱ ب وګورئ.

(۱۵) تاریخ احمد شاهي، ۲۹ ب ای او ډي، دریېم ټوک ۱۲۱، سرکار د مغولو د امپراتورۍ زوال، لومړی ټوک، ۳۵۹ - ۶۰، د علي الدین عزت نامه، ۲۴۲ صفدرجنګ (میر مقیم منصور علي خان) له عماد الملک غازي الدین (شهاب الدین) سره چې د لومړي کس پرځای په ۱۷۵۳ کې صدراعظمۍ ته ورسېد، اشتباه کوي.

ژر هغه وخت له شور او شوق څخه ولوېده چې پوه شو نه یوازې مرکزي حکومت د مایوسۍ له امله په خپلو مسوولیتونو کې غفلت وکړ، بلکې دده دوستان او ملاتړ هم په خپلو منځو کې سره بې اتفاقه شوي او له هماغه غفلت څخه پرته کوم نور مقاصد په پام کې نه لري. موزي او محیل ادینه بیګ خان د کورامل د زیاتېدونکي قدرت او اهمیت له امله رخه درلوده او د داسې وخت په انتظار و چې هغه له پښو وغورځوي او خپل بادار ددې لپاره تخریب کړي چې د لاهور حکمراني لاس ته ورووړي. دی (معین- م) د مومن خان کاسور په ګډون د سولې او جنګ ترمنځ زړه نا زړه و او کوم تصمیم یې نیولی نه شو. د خبرو اترو په جریان کې بیکاري خان په ټول قیمت د سولې ملاتړ وکړ، په داسې حال کې چې ((ادینه بیګ د خپلې نظریې په حیث دا اعلام کړه څرنګه چې له ډیلي څخه د معاونت او نوې قوې هیله کېدلی نه شي، نو مخکې له دې چې خوراکي موادو ټول خلاص شي (لکه چې احتمالاً که محاصره دوام وکړي) په یو څو ورځو کې به همداسې حالت موجود شي، باید د یوه اقدام او جګړې خطر پر غاړه واخلو.

راجا کورامل له دغه مصلحت سره مخالفت وکړ، ده عقیده څرګنده کړه چې د والي پوځونه زیاتره بې تجربې او په زور نیول شوي سرتېري دي چې د دراني له سخت سرو او پخو جنګیالیو سره سیالي نه شي کولی دغه راز شاوخوا سیمه تر ډېرې فاصلې ویجاړه او لوټ شوې ده او د خوراکي شیانو لږ والی په دراني کمپ کې هم هماغسې چې په موږ کې دی، موجود کېدلی شي او ضمناً د سلو ورځو په تېرېدو سره سخته تودوخي لګېږي، دغه تودوخي او لمر د شمالي سیمو د پوځونو لپاره په پرتو ځایونو کې د زغملو

وړ نه ده او دوی مجبور دي چې په شاتګ لاړ شي او یا داسې جنګي اقدام وکړي چې د دوی د لیکو په زیان تمام شي.))

## منو یرغل پیلوي:

د کورامل پیشنهاد په یقیني ډول عاقلانه و، خو د ادینه بیګ خان نظریه د زلمي والي له جدي او بې پروا حالت سره ډېره زیاته برابره وبرېښېده او ده سملاسي په ورپسې سهار کې د یرغل د پیل کولو تصمیم ونیو[۱۶].

لاهوریانو پرېکړه وکړه چې خپله ټوله توجه د جهان خان وژنې ته واړوي، دوی فکر وکړ چې ددغه افغان جنګیالي قوماندان په مرګ سره به درانیان په ګونډو شي او د جګړې له ډګر څخه به وتښتي، منو له خپلو سردارانو سره یوځای سهار د وخته د برید د لارښوونې لپاره بهر ته سور شو. ((مدارالموهام، بیکاری خان))، میر مومن خان او خنجر خان ته د مخکنیو لیکو قوماندانی ورکړل شو کینڼې خواته ادینه بیګ او دده افسران وګومارل شول. د پوځ ښي اړخ د هندوستاني سردارانو لکه سید جمال الدین او محمد خان تر هدایت لاندې ورکړل شو، د شا لوری مهدي علي خان، راجا بیها رامال بوندیلا او میر امان الله خان پر غاړه واخیست. شاه هم د یرغل له ګوابن څخه د خبرېدو سره سم له دښمن سره د مقابلې تیاری

---

(۱۶) سیرة المتاخرین، ۸۸۹ (انګریزي ترجمه، کامبري او کوه) درېیم ټوک، ۳۲۵- ۲۶، پرنسیپ، رنجیت سنګهـ، ۱۱-۱۲، د پنجاب تاریخ، (الن او کو، ۱۸۴۶) لومړي ټوک، ۱۹۸-۱۹۹.

تاریخ احمد شاهي موږ ته وایي چې ادینه بیګ خان د مومن خان په شان کومه غوڅه رایه نه درلودله، (۳۱ب) د تاریخ علي، ۲۲۲، په حواله ادینه بیګ د نورو سردارانو په څېر له سولې ملاتړ کاوه، په داسې حال کې چې کورامل سوله یو جبن وګاڼه او د جنګ په خوا یې رایه ورکړه ما د پرنسیپ او سیر المتاخرین د مولف پیروي وکړه. محمد لطیف (د پنجاب تاریخ، ۳۲۳ او کانیالان (د پنجاب تاریخ، ۷۵) هم دا نظر منلی دی. کننګهم، (د سکانو تاریخ، ۱۰۳) په دې نظر دی چې که ((منو په دفاعي حالت کې پاتې وای ښایي ابدالیان به مات شوی وای.))

ونیو او خپل پوځ یې په حرکت راوست. د لاهور د مخکې (پیش قراول) پوځ د مقابلې لپاره یې بهادر خان دیوان بیګې او عبدالصمد خان خټک وړاندې ولېږل. کینه خوا شاولي خان او نورو سردارانو ته ورکړل شوه. په داسې حال کې چې د شا خواته د اورکزیو مشرانو محمد سعید خان او اله یار خان تر قوماندې لاندې وه. جګړه د مخکنیو پوځونو او له ادینه بیګ سره د افغانانو د ښي خوا د ښتلو له امله پیل شوه. د بهادر خان او عبدالصمد خان تر قوماندې لاندې افغانانو د بیکاري خان او نورو د پرمختګ مخه بنده کړه او هغوی یې په شا وتمبول. کله چې عملاً دی له زور ځخه ولوېد ، نو د شا لور ته یې مهدي علي خان ته پیغام واستاوه او له هغه ځخه یې وغوښتل چې دده مرستې ته په چټکۍ ځان ورسوي. وروستی کس (مهدي علي) د شا له خوا قومانده خپلو ملګرو ته وسپارله او په بیړه له څلور سوو چورلکیانو (جازیل) سره د مخ لور ته دده (بیکاري خان- م) د مرستې لپاره وخوځېد. دغه حالت د درانیانو په مقابل کې د هغوی (لاهوریانو- م) د وضعې ښه والی تامین کړ. د صالح قدرت په حواله ددغو چورلکیانو د یوه لومړني ډز په وسیله یو پنځه افغان سردار ولګېد او سملاسي په ټولو دربو خواوو کې جګړه ودرېدله. د شپې په راتلو سره درانیان خپل کمپ ته ستانه شول. احمد شاه دا ښه وبلله یوه مصوون ځای ته لاړ شي چې د تیاریو لپاره وخت پیدا کړي. ده په راوی پورته دولس کوسه وړاندې خپل کمپ وټاکه. میر منو د شپې په یوولسو بجو خپلو خېمو ته راستون شو او د بریالیتوب ډنډوره یې وغږوله. په ورپسې سهار اووه

چورلکیان، اووه راهکالا کان، څو کچر، خېمې او نور شیان دده په لاس ورغلل[۱۷].

د میر منو افرادو لس ورځې د شاه د پوځ کومه نښه نښانه ونه لیدله. په یوولسمه ورځ دده د اتکلي ځای خبر راورسېد او دا راپور خپور شو چې دی د نوي برید لپاره تیاری نیسي. خو په عین حال کې شاه د جهان خان پیرغلام محمد فاروق پیرزاده او مفتي عبدالله پېښوري په ځینو دلایلو چې له ده سره وو، ظاهراً د سولې د خبرو، اترو په مقصد معین ته واستول، خو اصلي هدف دا و چې منو د فعالیت لټه ونه کړي او غافلګیر شي او یا دا چې دده د زېرمو او تیاریو په باب موثقه اطلاع ترلاسه کړي له بلې خوا معین دا وخت د سولې د خبرو په خیال کې نه و او د جګړې سرنوشت یې د توري خولې ته پرېښود[۱۸].

## وروستۍ جګړه:

د **۱۱۲۵**هـ کال د جمادی الاول په لومړۍ نېټه او د جمعې ورځ سهار وختي (چېترا سوری) شوکلا ۲، (۱۸۰۸) بیکرامی، د **۱۷۵۲** کال د مارچ له شپږمې

---

(۱۷) تاریخ علي، دوه سوه یوویشتم – دوه سوه دوه ویشتم مخونه.

(۱۸) د تاریخ علي په حواله د جګړې شورا چې پورته یاده شوه په همدغه مرحله کې جوړه شوه. دا به احتمالي نه وي چې بیکاري خان دا وخت چې شاه عملاً د سولې به خوا ګام کېښود، د سولې په طرف رایه ورکړې وي. ما د نوروزیاتو لیکوالو په حواله دغه شورا د لاهور په شاوخوا کې د سختې جګړې له کېدو څخه مخکې وښودله، خو د ((تاریخ علي)) په حواله د جنګ په باب د اوږده بیان پر اساس چې پېښې په کې په منظم ډول راغلي، له دغه وینا څخه ستر ګې هم پټېدلی نه شي. دا هم ویل شوي ښایي دا به دویمه شورا وه چې په هغې کې کورامل د اوښتل شویو حالاتو پر بنا یانې هغه وخت کې د احمدشاه پوځ ماتې وکړه د سملاسي تهاجم او حرکت طرفداري کړې وي، په داسې حال کې چې بیکاري خان او ادینه بیک خان د سولې ټینګار وکړ.

سره برابر[(۱۹)] معین د جګړې د نغارې وهلو دستور ورکړ او په درانیانو باندې د برید لپاره له خپل کمپ څخه بهر ووت، ده د شالامار د باغ شمال لوېدیځ ته په یوه جګه برخه چې د خښتو د یوې پخوانۍ بټۍ ځای و، موقعیت غوره کړ او خپل توپونه یې هلته ځای پرځای کړل. د ښي خوا لارښوونه د ادینه بیګ خان، مومن خان، خنجرخان کابلي، له خوا کېده او کینه خوا د بیکاري خان، سید جمال الدین خان، فرید الدین خان او خلف محمد خان تر قوماندې لاندې وه. منځنۍ برخه په خپله د معین په لاس کې وه او د ښځې لوری د مهدي علي خان او راجابیهار امال بندیلا او د جمو، جاسروتا، کانګرا او هریپور د غرنیو مشرانو له خوا څار کېده. کورامل د هغه پوځ لارښوونه کوله چې د جهان خان په مقابل کې استول شوي وو. په عین حال کې شاه د روډ پرغاړه د لاهور خواته ښکته لاړ او د محمود بوټي د کلي په میدانو کې یې کمپ ودراوه.

له مورچلونو څخه د معین د راوتلو د خبر په رارسېدو سره شاه په بیړه د هماغه مورچلو ځای ته خپل یوه ډله افراد واستول او د استحکاماتو ساحې ته له ننوتلو وروسته یې توپونه ونیول. ورپسې ده ((اوښ چورلکیان)) مخ ته راوړل او د معین د پوځ په منځ باندې یې ډزې وکړې. دا حالت تر غرمې وروسته پورې روان و. شاه د ورځې عملیات دومره تنظیم کړي وو چې د دښمن په څلورو خواوو یې پرله پسې یرغلونه سرته ورسول او ده ته دا

---

(۱۹) خوش وقت رای په خپل اثر، د سکانو تاریخ، ۷۰ کې ((بیساخ وادی ۱، ۱۸۰۸ بیکرامی)) د دغې جګړې نېټه ښوولې ده، دا د **۱۷۵۲** کال د مارچ له نولسمې سره برابره ده. پرنسیپ (رنجیت سنګ) او د هغه په تایید محمد لطیف (د پنجاب تاریخ، **۲۲۳**، لاهور، **۱۲**) وایي چې دغه جګړه د **۱۷۵۲** کال د اپریل په دوولسمه نېټه پیښه شوه. ما د تاریخ احمدشاهي، **۳۱**ب او عمدة التواریخ، **۱۳۴۵** پیروي وکړه ځکه د لومړي هجري نېټه د وروستۍ نېټې له بیکرامي قمري حساب سره سمون خوري.

ممکنه نه وه چې په خپلو استحکاماتو کې تمرکز ولري. سره له دې هم د معین د اعتبار لپاره دا ویل شوي چې نوموړی د خپلو افرادو حرکت په ارامۍ سره رهبري کاوه. ده ادینه بیګ خان ته درې سوه چورلکیان، درې سوه نور کورامل او پاتې درې سوه یې د خواجه میرزا تر مشرۍ لاندې په مرکز کې د خپل ځان لپاره وساتل. کله چې شاه د دښمن په پوځ کې وارخطایي مشاهده کړه نو یې خپل یوه ډله انتخابي سواره د یوې پخې حملې د اجرا لپاره واستول د دوی یرغل دومره بریالی و چې معین یې په شا وتمباوه او مجبور یې کړ چې خپلو استحکاماتو ته پناه یوسي[۲۰].

په دغه پړاو کې ادینه بیګ خان پیشنهاد وکړ چې کورامل دې د خپل پوځ یوه برخه راولېږي چې په درانیانو یو ډله ییز یرغل وشي. کورامل په ځواب کې وویل که دی د جهان خان په خلاف خپل موقعیت پرېږدي نو دا به د افرادو په منځ کې د ګډوډۍ سبب شي او په نتیجه کې به ماتې وکړي. سره له دې هم دی بالمقابل د معین حضور ته د ژر حاضرېدو د اوامرو په رارسېدو سره حیران شو.

کورامل د لښکرو اداره خپلو مربوطو مرستیالانو ته وسپارله چې تر پایه پورې په خپلو پوستو کې ځای پرځای اوسي او په خپله په هاتي سپور شو چې واکمن ته ځان ورسوي، خو دی لا یو کوس وړاندې تللی نه و، چې د درانیانو د سخت یرغل خبر ورته ورسېد او دا اطلاع ورته ورکړل شوه چې

(۲۰) طهماسنامه، ب، ۱۵، تاریخ علي، ۲۲۳.

دده متردد افسران او افراد تښتېدلي دي. دی بیا خپل پوځ ته ژر په څټ لاړ او خپل له لاسه وتلی موقعیت یې دوباره حاصل کړ[۲۱].

خو دی مجبور و چې ژر خپل واکمن وګوري. سید جمال الدین خان قایم علي خان یاقوت خان خواجه سرا کورامل او شېږو نورو افسرانو ته امر وشو چې د شاه په قواوو ورتوی شي. مهدي علي خان په خپلو قوې سره د دغو افسرانو ملاتړ وکړ. دوی یو شمېر درانیان په شا وتمبول خو یوې وړې پېښې د هندیانو پاڼه واړوله او د شاه له بریالیتوب سره یې زیاته مرسته وکړه.

کله چې هندي سردارانو د مخ لور ته زور واچاوه په دغه وخت کې د کورامل هاتي د خپل زیات دروندوالی له امله ناڅاپه په یوه زاړه قبر پښه کېښوده او لاندې په کې ننوتله. دغه حالت ادینه بیګ خان ته یوه مناسبه موقع په لاس ورکړه ځکه ده له پخوا راهیسې د کورامل سره رخه درلوده او په دې لټه کې و چې په هغه باندې په یوه موقع کې وژونکې ګوزار وکړي. په داسې حال کې چې کورامل د نعمت خان د هاتي انبالی (د هاتي دپاسه د یوه یا څو کسو د ناستې ځای) ته ځان ورساوه او هلته د ناستې په حال کې و چې ادینه بیګ د بایزید خان په نامه یو تن افغان موظف کړ چې کورامل د پلټه یې ټوپک په ګولۍ ووژني[۲۲].

---

(۲۱) سیرالمتاخرین، ۸۸۹ (انګرېزي ترجمه، درېیم ټوک، ۳۲۶).

(۲۲) علي الدین، عبرت نامه، ۲۴۲، فرحت الناظرین، ای او ډي درېیم ټوک ۱۶۸، احوال ادینه بیګ خان، ۸، تاریخ علي، ۲۲۴، طهماسنامه، ۱۵.

دا وخت سید جمال الدین خان هم په زنه باندې ټپي شو او د سکانو د کنډک مشر سردار سنګاټ سنګ ووژل شو. په دې ځای کې درانیانو ناڅاپي یرغل وکړ او د کورامل او ((یاقوت خان خواجه سرا)) سرونه چې په جګړه کې وژل شوي وو، له ځان سره یوړل. دا وخت ادینه بیګ خپل پوځي مرکز پرېښود او ښار ته وتښتېد[۲۳].

اوس نو معین الملک او بیکاري خان مجبور و چې د افغانانو د برید ضربه وزغمي، دوی خپلې پوستې کلکې نیولې وې او ترپایه یې جګړې ته دوام ورکړ، خو د دوی زیاتر شمېر پوځیان مړه او ټپیان شول او زیات تلفات یې ورکړل. فرید الدین هم ووژل شو. دا وخت شاه د ښمن یوې متزلزلې لیکې خواته د سپرو یو ټولګی ولېږه. هندیانو تر ډېر وخت د افغانانو په مقابل کې مقاومت ونه کړلی شو او د دوی په منځ کې د وېرې یو احساس منځته راغی، خو د ماښام تیار غونی چې ډګر یې تور تیاره کړ، هغوی له عام قتل څخه وژغورل. احمد شاه دراني د ورځې له خوا فاتح و، ځینې افغانان ښار ته ننوتل او په لوټ یې پیل وکړ، خو د شپې تیاره (له اما واسیا څخه دربیمه ورځ کېدله) دومره زیاته وه چې څه شی لیدل کېدلی نه شو او دوست له دښمن څخه نه جلا کېده. دوی په ګډه وډه توګه خپل کمپ ته ستانه شول.

(۲۳) تاریخ علي ۲۴۲، طهماس نامه، ب ۱۵. په دغه ډګر کې د خښتو یوه څوڅنډیز ستر زیارت نښې نښانې شته، د دغه ځای ګاونډي کلیوال وايي چې دغه زیارت د منو د پوځ د یوه عالي شخصیت عزیز بیګ د پاتې زوی له خوا ودان شوی دی. عزیز خان او دده پنځه زامن په جګړه کې یوځای ووژل شول او پاتې زوی یې په دې قادر نه و چې د پلار او وروڼو مړي وپېژني. د هغوی هډوکي یې له هغه ځایه راټول کړل چې هلته جګړه سخته وه او د زیارت لاندې په یوه ستر طاق کې یې خښ کړل. د میدان په شاوخوا کې اوس هم د بنیادمانو هډوکي خواره دي. د لاهور د سیمې ګزیټر (۱۸۸۳ - ۱۸۸۴)، ۲۷ وګورئ ګولډنګ، لاهور، ۷۴.

معین الملک د جګړې په هماغه ډګر کې د ماښام او ماخستن لمونځ ادا کړ ده هېڅکله امیدواري له لاسه ور نه کړله. که څه هم دده توپخانه د احمد شاه لاسته ورغلې وه او د هغه د چورلکیانو وسایل موجود نه و، دده د جګړې یوه لس زره کسیزه قوه لرله. دی ددې طرفدار نه و چې د جګړې ډګر پرېږدي، خو دده سردارانو په ده ټینګار وکړ چې د عیدګاه لور ته حرکت وکړي. دوی په دې هیله وو چې هلته به ادینه بیګ خان ومومي خو ادینه بیګ خان بې له دې چې د خپل واکمن مصوونیت په پام کې ونیسي، ډېر مخکې د خپل ځان د ساتلو لپاره ښار ته تښتېدلی و. په عیدګاه کې سلا مشورې پیل شوې او ځینو پیشنهاد وکړ څرنګه چې د جګړې نتیجه جوته ده، نو باید ډیلي ته ستانه شو، په داسې حال کې چې ځینو دا غوره ګڼله چې غرونو ته وتښتي. معین دا ډول ټول پیشنهادونه ونه منل او سملاسي دا پرېکړه وشوه چې د لوپو کي او اجنالا Lopki- Ajnala ترمنځ د سوریان کلي ته (د لاهور په شمال ختیځ کې) وخوځېږي او له هغه ځای څخه په درانیانو یرغل وکړي. خو کله چې د ښار دروازو ته ورسېدل، معین دا ونه منله چې وړاندې لاړ شي او ویې ویل: ((هغه ملګري چې غواړي لاړ شي کولی شي، خو زه به د جګړې له ډګر څخه ونه تښتم. خلک به وایي چې معین الملک د جګړې له میدان څخه تښتېدلی دی. زه باید چوڼۍ ته لاړ شم او هلته جګړې ته دوام ورکړم. هر څه چې د خدای رضا ده هغه به پېښېږي.)) دا خبرې یې وکړې او له هغې وروسته یې امر وکړ چې د ښار او چوڼۍ دروازې بندې شي او د هغوی د دفاع لپاره پر دېوالونو توپونه وخېژول شي[۲۴].

(۲۴) تاریخ علي، **۲۲۵**، طهماس نامه، ب، **۱۵**، جام جهان نما، **۲۰**.

## د میر منو کتنه له شاه سره:

بله ورځ سهار شاه ښار کلابند کړ او د هغه مضافات یې ولوټل، خو کله یې چې د هغه استحکامات کلک ولیدل او په دې پوه شو چې دفاع کوونکي دجګړې د دوام تصمیم لري، نو شاه، شاه ولي خان، جهان خان، شاه غلام محمد پیرزاده او مفتي عبدالله پېښوري له یوه لیک سره معین الملک ته واستول او هغه یې دې ته راوباله چې خپل یو باوري استازی یې د سولې د خبرو اترو لپاره واستوي. طهماس خان وایي شاه داسې ورته لیکلي وو: (( تر اوسه څلور میاشتې کېږي چې له دواړو خواو و څخه مسلمانان قتل کېږي. اوس بیا تاسو د جګړې د لا دوام لپاره د چونۍ استحکامات کلک کړي دي. ایا دا کار چې نتیجه یې د دواړو خواوو د مسلمانانو وژل دي، د خدای(ج) او پیغمبر خوښ وي، یقیناً دا به د دوی رضا نه وي، ډېره د سلا وړ موضوع به ستا لپاره دا وي چې یو باوري او د پوره صلاحیت لرونکې استازی راولېږې چې ستاسو له قناعت سره سم د سولې د شرایطو په باب تصمیم ونیسو. که په دغو خبرو رضایت لرئ کېدلی شي، په خوږه ټنډه له ما سره ځانګړې کتنه وکړئ. هېڅ شک دې په ذهن کې مه پیدا کوه. )) پیغام داسې دوام کوي: (( زه یوازې له کورامل سره د خپل حساب تصفیه کوم. ته کولی شې په هوسایۍ سره په چونۍ کې واوسې. زه له تا او ستا له ښار سره کوم کار نه لرم. هغه پیسې چې زما درنه طلب دي له خپلې خزانې او یا له خلکو څخه د ټولولو له لارې یې راولېږه او زه به بېرته ستون شم. ))[٢٥]

(٢٥) تاریخ احمدشاهي، ٣١ب، تاریخ علي ٢٢٥، طهماس نامه، ب١٦.

کله چې دغه لیک معین الملک ته ورسېد ، سملاسي دده په تصمیم کې بدلون راغی او هوډ یې وکړ چې شخصاً له شاه سره وګوري. دده افسرانو او ملګرو ډېره هڅه وکړه چې دی له دغه خیال څخه واړوي، خو بریالي نه شول. د تاریخ حسین شاهي په حواله دده له خپلو لښکرو سره لکه بیکاری خان، خواجه مراد خان، محمد تقي خان داروغه او د نواب جان نثار خان د زامنو د دراب خان او میر احمدي خان او یوه مریي، محبت سره له کوم ډار پرته د شاه استازی د شاه د کمپ لور ته بدرګه کړل. دی د محمد زي عبدالصمد خان او شاه پسند خان له خېمو سره پلی شو او له هغې وروسته د صدراعظم شاه ولي خان او ستر قوماندان جهانخان له خوا د شاه حضور ته بوتلل شو.[۲۶]

احمد شاه دده په لیدو سره ډېر خوشاله شو او په ښکاره یې دده روحیه او زړورتوب تقدیر کړ: (( شاباس ډېر اعلی معین الملکه ! که زه ستا واکمن وای ما به له کندهار څخه تر لاهور پورې د سرتېرو پل (استحکامات) جوړ کړي وو. ))

لاندې هغه په زړه پورې خبرې اترې راغلې چې د شاه او معین الملک ترمنځ وشوې:

احمد شاه: ولې پخوا نه تسلیمېدې؟

معین الملک: ځکه هغه وخت ما یو بل واکمن درلود چې ورته خدمت وکړم.

(۲۶ ) تاریخ علي ۲۲۵، عمدة التواریخ، لومړی ټوک، ۱۳۴، وګورئ خوش وقت رای، ۷۱-۷۲ او نور.

احمد شاه: ولې ستا نېک واکمن د مرستې لپاره له ډیلي څخه درته رانه غی؟

معین: ځکه هغه په جګړه کې زما په قوت ډاډه و او دې ته اړتیا نه وه چې ما ته لښکر ولېږي.

احمد شاه: فرض کړه که زه ستا په لاس کې لویدلی وای څه به دې راسره کول؟

معین: ما به ستا سر پرې او خپل امپراتور ته به مې لېږلی وای.

احمد شاه: اوس چې ته زما په لاس کې یې زه باید څه درسره وکړم؟

معین: که ته سوداګر یې نو په پیسو مې خرڅ کړه او که عادل او مهربان پاچا یې نو په ما مرحمت وکړه او و مې بښه[27].

احمد شاه د خپل زړور دښمن له زړورتوب او استقامت څخه ډېر خوشاله شو. ده هغه د یوه رښتیاني سربښندونکي په توګه په خپل غېږ کې ونیو، هغه یې خپل زوی وګاڼه او د فرزند خان بهادر لقب یې ورته ورکړ، افتخاري چپنه، جیغه او خپله لونګۍ یې ورته وبښل او خپل یو آس او یوه توره یې د سوغات په توګه ورکړل. دا وخت معین له شاه څخه هیله وکړه چې د جګړې هندي زندانیان خوشې کړي او د لاهور ښار ته سوله وبښي. د لاهور ښار تر

---

(27 ) تاریخ علي ۲۲۵، طهماس نامه ب ۱۶، حسین شاهي ۲۵، عمدة التواریخ، لومړی ټوک ۱۳۴ - ۱۳۵. د لاهور د سیمې ګزټیر (جغرافیایي قاموس) (۱۸۸۳ - ۱۸۸۴) ۲۸، شمشېر خلسه (ګورموخي، سیالکوټ، ۱۸۹۲)، ۴۷۵-۷۶. د خوش وقت رای د تواریخ سکان، ۷۱ - ۷۲ او د علي الدین د عبرت نامې ۲۲۳ په حواله ویل شوي چې منو یوازې د احمدشاه یوې پوښتنې ته ځواب ووایه. ((ما به ته په یوه قفس کې اچولی او ډیلي ته به مې لېږلی وای)) وګورئ امر نات، ظفرنامه رنجیت سنګ، ۱۱۱ - ۱۳. د همدې مولف په حواله د معین ځواب دا و: ((که ته سوداګر یې نو خرڅ مې کړه که قصاب یې حلال مې کړه او که پاچا یې زما په برخه کې مهرباني وکړه.))

عام قتل او لوټماری لاندې راغلی وو. ویل شوي چې د جګړې په ډګر کې د مړيو شمېر صرف دوه زره تنه و، په داسې حال کې چې په ښار کې په ډله ییزه توګه د وژل شویو کسانو شمېر له جګړې وروسته پنځو زرو ته ورسېد (۲۸).

شاه د معین غوښتنه په خوشالۍ سره ومنله او خپل نقچیان یې ټول ژر خبر کړل چې افغانان وخاري چې کوم اوسېدونکي لوټ یا ونه ځوروي. دغه راز ده امر وکړ چې زندانیان ازاد شي. د علي محمد خان زامن عبدالله خان او فیض الله خان ته هم اجازه ورکړل شوه چې روهلکنډ ته بېرته وګرځي (۲۹).

د خبرو اترو په ترڅ کې شاه کله کله په هند باندې د خپل یرغل مرام ته اشاره کوله، خو معین دی ددغې مفکورې له عملي کولو څخه راګرزاوه او ویې ویل: ((که چېرې ته هندوستان ته توجه واړوې، نو ښایي ټول به دې د یوه خیانت کار په حیث محکوم کړي. اوس چې تا ماته ژوند وباښه او زه دې زوی وبللم، نو لطفاً تر څو چې زه ژوندی یم په هندوستان باندې د برید فکر مه کوه یا دا چې هغې خواته له تللو څخه مخکې ما ووژنه)) د معین غوښتنې د شاه په زړه ولګېدې او هغه یې ومنلې او د ډیلي په لور د تګ له مفکورې څخه یې لاس واخیست.

ورپسې له معین څخه درې ورځې د یوه سلطنتي مېلمه په توګه پذیرایي وشوه او سردار مصطفی خان د هغه مېلمه په توګه وټاکل شو. په څلورمه ورځ د ۱۷۵۲ کال د مارچ لسمه احمد شاه معین الملک ته وویل: ((دا ټولې

(۲۸) طهماسنامه، ب ۱۷، خوش وقت رای، تواریخ سکان ۷۱.

(۲۹) تاریخ علي ۲۲۶-۲۷، حسین شاهي ۲۶، بخت مال، خلسه نامه، ۳۴، ګلستاون رحمت، ۵۱-۵۲، حیات حافظ، ۶۶، د ځینو لیکوالو په حواله معین ته پر فرزندخان بهادر برسېره د رستم هند لقب هم ورکړل شو، خو د معاصرالامرا، لومړی ټوک، ۳۶۰، رساله نانک شاه، ۱۲۳ او نورو په حواله د معین الملک او رستم هند لقب معین ته په ۱۷۴۸ کې د هند د مغولي امپراتور له خوا د هغه د منوپور له بري وروسته ورکړل شوی دی.

ورځې ته زما مېلمه وې او س نو زه ستا مېلمه یم. زما د خدای پامانۍ لپاره تیاری و نیسه. د رانږدې کېدونکي اوړي تودوخې د زیاتېدو په حال کې ده.))

**معین وویل:** ((که ماته د ښار لور ته د ستنېدو اجازه راکړل شي، زه به ستا سو د خدای پامانۍ لپاره لازم ترتیبات ونیسم.)) شاه امر وکړ چې یو څه نور سوغاتونه معین ته ورکړي او شاه ولي خان، جهانخان او شاه پسند خان یې له ده سره تر ښار پورې د بدرګې لپاره واستول او افغاني ډولونه ووهل شول چې ښار ته دده د تللو اعلان یې کاوه[۳۰].

## د میر منو او احمد شاه ترمنځ تړون:

په څلورو ورځو کې څو لکه روپۍ ټولې شوې او په پنځمه ورځ معین الملک او بیکاري خان د شاه کمپ ته لاړل او دغه پیسې یې ده او دده پوځ ته د مېلمستیا په توګه ورکړې. ټول سرداران په ((دریخانه)) کې سره راټول شول او دلته مفتي عبدالله یوه ټوټه کاغذ د معین په لاس ورکړ چې خپل مهر هلته ولګوي. ددې خبرې په اورېدو سره بیکاري خان وویل چې دا سپین کاغذ دی او څه ورباندې لیکل شوي نه دي. مفتي وویل: ((تاسو دلته د بندیانو په حیث یاستئ تاسو صرف دلته خپل مهر ولګوئ او شاه ته یې یوسئ. دا په ده پورې اړه لري چې هلته څه لیکي)) بیکاري خان وویل: ((هو

(۳۰) تاریخ علي، ۲۲۶، طهماس نامه، ب ۱۷، په حواله معین الملک یوازې یوه شپه د شاه په اردوګاه (کمپ) کې پاتې شو. د ((ډېلي پېښې)) (د سرجادونات سرکار ترجمه) کې دا بیان راغلی دی:
((په شپږم د مارچ کله چې دیوان کورامل د جګړې په ډګر کې تباه شو، معین الملک د شاه یو زنداني شو او پوځ لاهور ته ننوت))، ایرز ته خبره په ښکاره شاه په اردوګاه کې د معین تسلیمي او پاتې کېدلو ته اشاره کوي.

صاحب ! دا نه شي کېدلی په دې ډول مهر شي. حقیقت دا دی چې شاه له موږ سره درې مهربانۍ وکړې: لومړی دا چې که څه هم موږ څلور میاشتې دده پر خلاف جګړه وکړه بیا هم زموږ ژوند یې معاف کړ. دویم ده موږ ته اجازه راکړه چې د ملتان او په هزاره پورې مربوط د اباسین ګاونډي سیمې د خپلو اداري مقصدونو لپاره په لاس کې ولرو. درېیم دا چې ده زموږ په غوښتنه ټول هندوستان ته سوله وبښله)). کله چې عرض بیګي برخوردارخان دا خبرې شاه ته ورسولې ده بیکاری خان خپل حضور ته راوغوښت او هغه ته یې دا واک ورکړ چې په کوم ډول غواړي هغه په کاغذ ولیکي بیکاري خان په کاغذ ولیکل چې معین الملک له شاه سره دا موافقه وکړه:

۱- دوی ته د ژوند بښلو لپاره لس لکه روپۍ.

۲- لس لکه د هغو سیمو په بدل کې چې ده ته ورکړل شوي.

۳- لس لکه افغانۍ هند ته د سولې بښلو په مقابل کې.

دغه راز شاه وغوښتل چې سکه دې دده په نامه ضرب او خطبه دې هم دده په نامه وویل شي.

خو معین په ډېر درناوي شاه ته وویل چې لا تراوسه پورې په ډیلي کې مغولي امپراتور د واک خاوند دي او دده زیات سرداران او امیران دده د وفادارو خدمتګارانو سره یوځای له ده سره مخلصانه علاقمندي لري، نو ځکه دا ویره شته چې د نوې سکې خپرېدل او د خطبې بدلون به لوېې ستونزې او کړکیچونه رامنځته کړي چې دده د بدنامۍ سبب به وګرځي.

معین په دغه لهجه سره شاه ته عرض وکړ او شاه په اوضاع پوه شو او نور زيات يې په دغو بدلونونو ټينګار ونه کړ[۳۱].

## مغولي امپراتور تړون لاسليک کړ:

د لاهور د حکمران معين الملک د تسليمېدو په څلورمه شپه احمد شاه د لاهور چارې تنظيم کړې او ورپسې يې خپل يو استازی قلندر بيک خان په ډيلي کې مغولي امپراتور ته د هغه تړون د لاسليک لپاره ولېږه چې دده او معين ترمنځ شوی و. نوموړی استازی له خپلو اوو يا اتو سورو او د معين له يوه جمعه دار او دوو يا درېو سوو سورو سره د **۱۷۵۲** کال د اپريل په لومړۍ نېټه ډيلي ته ورسېد او هلته د شالامار په بڼ کې د محی الدين علي خان له خوا چې د مېلمه پال په توګه ټاکل شوی و، ورته هرکلی وويل شو. لکه چې پوهېږو امپراتور صدراعظم، وزير الممالک (محمد مقيم عبدالمنصور خان) صفدر جنګ ته عاجل امر کړی و چې د پايتخت لور ته په بيړه راشي او دا خبره راسېدلې وه چې دی د **۱۱۲۵**هـ د جمادالاول په نولسمه (د **۱۷۵۲**م کال د مارچ څلېرويشتمه) د ډيلي خواته راروان شوی او د درانيي په خلاف يې د مرهټيانو مرسته جلب کړې وه[۳۲] پر دې اساس

---

(۳۱) تاريخ علي ۲۲۷-۲۸، حسين شاهي ۲۶، سيرالمتاخرين ۸۸۹ (انګرېزي تجرمه، درېيم ټوک، ۳۲۶-۲۷) تاريخ احمد، ۱۹، جلم جهان نما ۲۱، د پنجاب تاريخ (الين او کو، ۱۸۴۶، ۲۰۱ سرکار د مغولو د امپراتورۍ زوال، لومړی ټوک، ۴۳۴.

(۳۲) دا خاصتاً له هغه وخت وروسته و چې د امپراتور له خوا وزير ته د رابلل کېدو قارجمن خبر راورسېد. نوموړی وزير په کنوج کې له سنديا او هولکار سره په دې باب چې د کن ته لاړ شي خبرې اترې وکړې او د اپريل په دوولسمه، کال **۱۷۵۲** کې له هغوی سره يوې رسمي موافقې ته ورسېد، په دغه موافقه کې دا لاندې شرايط داخل وو:

۱- پيشوا بايد د ننيو دښمنانو لکه پټانانو، راجپوتانو او نورو ياغيانو او بهرنيو دښمنانو لکه افغان ابدالي پاچا په مقابل کې له امپراتور څخه دفاع او ملاتړ وکړي.

پرېکړه وشوه چې دده (صدراعظم) تر راستنېدو پورې د دراني له استازي سره خبرې وځنډول شي، خو صفدر جنګ ډیلي ته خپل راستنېدل په دې پلمه چې د اود udh په مساله کې بوخت دی وځنډول. څرنګه چې دده ژر راګرځېدو هیله موجوده نه وه، قلندرخان د سملاسي ځواب ویلو هیله وکړه. مغولي امپراتور او دده افسرانو نه شول کولی د دراني شاه د توهین او خفه کولو سبب شي.

د ۱۷۳۹ کال د پایتخت د نیول کېدو وېره د دوی سترګو ته ودرېدله او دوی یې وبیرول. بالاخره موافقه وشوه چې د دوشنبې پر ورځ د جمادی الثاني په دویمه (د اپریل شپږمه ۱۷۵۲ کال) نېټه دې له افغاني استازي سره مصاحبه وشي. په همدغه نېټه په لومړي سر کې نواب جاوید خان بهادر له هغه سره وکتل او ورپسې د چهلستون په بنګله کې د امپراتور حضور ته لاړ. د احمد شاه دراني مکتوب د شاهي پیغامونو په دود په زیات درناوي سره واخیستل شو او استازي ته یې وویل شول چې ځواب به یې په یوه اوونۍ کې ده ته ورکړل شي. مغولي امپراتور او دده وزیرانو په پټه موافقه وکړه

---

۲-امپراتوربايد ددغې مرستې په مقابل کې پنځوس لکه روپۍ مرهټانو ته ورکړي چې له هغې څخه دېرش لکه يې د ابدالي په مناسبت او شل لکه يې د کورنيو دښمنانو په حساب.

۳- په دې سربېره پيشوا ته له پنجاب، سند او دواب څخه د

۴- پيشوا ته دې د اګرې او حق ورکړل شو.

جوت ماليې ټولو لوا جمير صوبه دارې ورکړل شي او هغه يې بايد د مغولو په عنعنوي دود اداره کړي.

۵- که چېرې پيشوا شخصاً امپراتور خدمت ته رانه شي، دی بايد د همدغه مقصد لپاره خپل سرداران راولېږي. لکه چې موږ پوهېږو دا خبرې ټولې ناوخته وې او امپراتور افغان پاچا ته د معين الملک له تسليمېدو سره موافقه وکړه. په دې سبب ده رنه کړلی شول له مرهټيانو سره موافقه لاسليک کړي، خو مرهټه سرداران ډېر ژر ډيلي ته راورسېدل او د دوی رخصتول يوه معضله شوه. سره له دې هم د پيشوا له خوا په دغه وخت کې سنديا او هولکار ته يو عاجل دستور راغی چې سملاسي سويل ته ستانه شي او دغه کار نوموړې معضله او حالت له منځه يووړ. سار ديسای، د مرهټانو نوی تاريخ، دويم ټوک، ۳۶۵-۳۶۷.

چې د لاهور او ملتان صوبې په رسمي توګه احمد شاه ته وسپاري ((یا په رښتیاني توګه. په کال کې د دوی د اضافي مالیې پرځای پنځوس لکه روپۍ ده ته ورکړي.))

د جمادي الثاني په نهمه (د اپریل دربیمه، **۱۷۵۲** کال) قلندرخان ته په ((دیوان خاص کې)) د شاه په عنوان له یوه مکتوب سره چې له معین سره د شاه د تړون تصدیق یې کاوه، رخصت ورکړل شو.

د خپل ظاهر او برم د ساتلو په منظور مغولي امپراتور افغاني استازي ته وویل: ((زه په خپلو ژمنو پوره ولاړ یم خو که ستا واکمن له خپلې موافقې څخه سر وغړوي زه جنګ ته تیار یم)) قنلدر خان د مغول د سولې مکتوب په سر کې وتړومبه او هغه ته یې په ځواب کې داسې وویل: ((هغه څوک چې دغه د خدای برابر کړی حالت ته په بده سترګه وګوري، د خدای په غضب به ککړ شي.)) له رخصت کولو وړاندې استازي ته درې ټوټیز خلعت، د لونګۍ لپاره یو مرصع سرپیچ او پنځه زره نغدې روپۍ ورکړې. په داسې حال کې چې دده دربو تنو بدرګه والو ته درې درې ټوټیز خلعتونه ورکړل شول[۳۳].

## د افغانستان پر لور د شاه تګ:

(۳۳) تاریخ احمدشاهي **۳۲** الف- **۳۳** الف، د ((ډیلي پېښې)) د اپریل د لومړۍ او دیارلسمې نېټې اسناد **۱۷۵۲**، سیرة المتاخرین، **۱۸۸۹** (انګرېزي ترجمه، دریم ټوک، **۳۲۷**) سرکار د مغلو د امپراتورۍ زوال، لومړي ټوک، **۳۴۵**، له مرهټانو سره د صفدر جنګ خبرې اترې او په ډیلي کې د احمدشاه دراني په ارتباط د مغولي امیرانو د فعالیتونو د تفصیل لپاره سار دیسای، د مرهټانو نوی تاریخ، دویم ټوک، **۳۶۴**- **۶۷**، سرکار، لومړی ټوک، **۳۵۹**-**۶۹**، د پیشواله دفتر څخه انتخابات (اس. پي. ډي) **۵۳**- **۵۵** وګورئ.

تقریباً د اپریل په شلمه قلندرخان لاهور ته راورسېد او له هغې وروسته شاه ډېر ژر یانې په یوویشتمه یا دوه ویشتمه[۳۴] نېټه خپل هېواد ته د تللو په غرض له لاهور څخه وخوځېد. ددې لپاره چې معین خپلې اړیکې له شاه سره ښې ټینګ کړي، نو د هغه له روانېدو څخه دمخه یې خپله لور عمده بیګم دده زوی شهزاده تیمور ته کوژده کړه، خو واده یې په دیني مراسمو سره ونه نمانځل شو. لکه چې وروسته به په خپله څېړنه کې وګورو، عمده بیګم د خپل پلار له مرګ وروسته د یوې سیاسي کشالې او ناندرۍ موضوع وګرځېدله او بالاخره شاه په هند باندې د څلورم برید پر وخت هغه عمادالملک غازي الدین ته واده کړه.

## د کشمیر نیول:

کله چې شاه لا په لاهور کې و د کشمیر د ګډوډو حالاتو خبرونه یې ترلاسه کړل. دغه ولایت د وروستیو مغولو د سلطنت په دوران کې د ظلم غضب او چل ول مرکز و او یو ارام حکومت په کې چا نه لیده. له ډیلي څخه بهر د ډیلي حکومت د کمزورتیا له امله په هغه غرنۍ سیمه واکمني کولی نه شوه او والیان د دوی ملګري او سیالان تل په خپل سر روان وو. هغه چا چې به زیات ملاتړ او پیروان راغونډ کړل کولی یې شول د مخکیني غاصب ځای له کومې وېرې او ممانعت پرته ونیسي او یوازې له ده څخه بل زورور او غاصب دده ځای لاس ته راوړلی شو. کله چې احمد شاه د لومړي ځل لپاره

(۳۴) له لاهور څخه د شاه د روانېدو خبر د اپریل په اته ویشتمه نېټه په ډیلي کې امپراتور ته ورسېد. د ((ډیلي پېښې)) وګورئ. څرنګه چې ډیلي ته معمولاً په شپږو یا اوو ورځو کې خبرونه رسېدل نو د شاه د خوځېدو نېټه یوویشتمه یا دوه ویشتمه ورځ په اطمناني توګه سمه ګڼل کېدلی شي.

قدرت ته ورسېد او به هند یې برید وکړ نو دا وخت د کشمیر نایب یا وکیل افراسیاب بیګ خان و ( ۱۱۲۱هـ ۱۷۴۸م ) هغه وخت چې خلک د افراسیاب خان له جبارېو څخه په تنګ شول د ۱۷۴۸ کال په پای کې یې د احمد شاه یو امیر عصمت الدین خان ته بلنه ورکړه چې د هغه پر ځای د حکومت واګې په لاس کې واخلي. په لومړۍ جګړه کې افراسیاب خان عصمت الدین ته ماتې ورکړه خو د یوې کړېکېنې لارې په وسیله یوې درې لور ته رهنمایي شو. که څه هم په پندج pandaj کې د دویمې جګړې په ترڅ کې عصمت الدین بریالی شو خو د دښمن د یوه عسکر د ګولۍ په لګېدو سره ووژل شو. په دې ډول افراسیاب خان وکولی شول د یو څه مودې لپاره حکومت ته دوام ورکړي، مګر د ۱۷۵۱ کال په پیل کې د زهرو ورکولو له امله مړ شو او پرځای یې زوی احمد علي خان د یوې نیمې میاشتې لپاره حکومت وکړ، خو څرنګه چې دی وړوکی و، نو یوه نایب دده په نامه تر درېو نورو میاشتو پورې حکومت وچلاوه. له دغه شان کار سره د سرینګر غوره کسان خوښ نه وو او یو استازی یې په ډیلي کې مغولي امپراتور ته ولېږه. نو موړي له میر مقیم کنت څخه هیله وکړه چې د لنډ وخت لپاره د هغه ځار رسمي چارې ترسره کړي. ده د پنځو میاشتو په موده کې د هغه حکومت اداره وکړه او په پای کې د ابو القاسم له خوا ( چې پلار یې ابوالبرکت خان په ۱۱۵۸هـ (۱۷۴۵م ) کې د کشمیر نایب و او سیمې ته له راتګ دوه میاشتې وروسته مړ شو، لیرې کړل شو. میر مقیم خان لاهور ته پناه یووړه او له احمد شاه دراني څخه یې وغوښتل چې ( د ځمکې په مخ جنت ) ) ته د خپل ملاتړ لاس وغځوي.

کله چې دی د کور په لور د روانېدو په ترڅ کې له راوي څخه واوښت، څو ورځې یې د جهانګیر په زیارت کې تېرې کړې او د میر مقیم په غوښتنه یې یوه اعزامي قوه د عبدالله خان اسحق اغاسي په مشرۍ د کشمیر لور ته ولېږله. لږ نامتو غاصب ابو القاسم مقاومت ونه کړلی شو حتی په تنګو درو کې هم د دراني قوماندان په مخکې خنډ رانغی، دی له کوم مقاومت پرته پایتخت سرنیګر ته ننوت او حکومت یې پیل کړ. ابوالقاسم غرونو ته وتښتېد خو ډېر ژر توقیف او د یوه زنداني په توګه راوستل شو. په دې ډول د کشمیر ښکلې ناوړه د احمد شاه په قلمرو کې علاوه شوه. ددغه جنت په لاس ته راوستلو سره د احمد شاه ورځ په ورځ پراخېدونکې امپراتورۍ خپل مطلوب وسعت ته ورسېدله[۳۵].

## د ملتان الحاق:

کله چې شاه عبدالله خان کشمیر ته ولېږه، نو په خپله د ملتان له لارې کندهار ته روان شو. د سولې د تړون له شرایطو سره سم د ملتان ولایت د پخوا په څېر د میر معین الملک تر اداري لاندې پاتې و. لکه چې موږ ته جوته ده دا ځای د سدوزیو د بدمرغیو په دوران کې ډېر په زړه پورې او غوره برخه ګڼل شوې ده. پر دې سربېره دا سې عقیده شته چې دا د احمد شاه

---

(۳۵) کیرپارام، ګلزار کشمیر، ۲۳۰-۳۲، هرګوپال کال، ګلدسته کشمیر، دویمه برخه (تواریخ کشمیر)، ۱۴۹-۵۱، پرنسیپ، رنجیت سنګ، ۱۳، د پنجاب تاریخ (الین او کو، ۱۸۴۶) لومړی ټوک، ۲۰۱.

د غلام محمد غبار ((احمدشاه بابا)) په حواله له احمدشاه د ۱۷۵۱ کال په اکتوبر کې اسحق اغاسي عبدالله خان له لسو زرو پوځیانو سره په پېښور کې د خپل تم کېدو په ترڅ کې د کشمیر نیولو ته ولېږه خو دا خبره له دې امله چې شاه ته په یوه وخت کې د دوو غوره عملیاتو سرته رسول ناممکن و، احتمالي نه برېښي. ما د هغو منابعو پیروي وکړه چې په دغه برخه کې ډېرې باوري دي او د هغو بیان د احمدشاه له حالت او د پېښو له عمومي جریان سره توافق کولی شي.

د زېږېدو ځای دی، په دې سبب ده د هغې له مقداراتو سره ډېره علاقمندي پیدا کړه. ددې لپاره چې د راني په ملتان کې زیات شي، نو ده د خپلې قبیلې یو شمېر سدوزیو کورنیو ته په دغه ښار کې په سخاوتي توګه د مځکې سوغاتونه او دفترونه ورکړل او هغوی یې هلته ځای پرځای کړل. راجا کورامل هغه وخت چې د راني پر خلاف د جګړې لپاره لاهور ته روانېده، نو ده ددغه ځای حکومت د خپل نایب شاکر خان په لاس کې ورکړ چې د نواب زاهد خان سدوزي مشر زوی و. دا کار هم د احمدشاه خوښ نه و، نو دغه ځای ته یې له رسېدو وروسته امر وکړ چې د هغه پرځای دده نماینده ((علي محمد خان کوانی)) چې د دیره غازي خان اجاره دارو، مقرر شي[۳۶].

## په بهاولپور باندې لښکر ایستل:

داسې برېښي چې علي محمد خان تر دیره غازي خان پورې له شاه سره بدرګه وکړه. ده تر څه وخته د بهاولپور د ((داود پوترا یانو)) په لور ورې ترتیبات نیولی نه شول. ده د هغوی په خلاف د احمدشاه غوږونه کاڼه کړل او د کندهار په لور تر روانېدو دمخه یې په هغه زور واچاوه چې د دوی د تسلیمولو لپاره یوه قوه ولېږي. سردار جانخان پوپلزي ته ددغې قوې قومانده ورکړل شوه د دیرې د نواب جان نثار خان په ګډون دغه سردار له پنجناد څخه واوښت او په اوچ کې یې ځای ونیو. جان نثار خان له داود

(۳۶) تاریخ حسین شاهي، ۲۶، احمد یادګار، تاریخ سلاطین افغانان، ۲۵۱.
دا هم په زړه پورې ده چې پوه شو لاهور ته د مهاراجا کورامل له راستنېدو سره سم د یوې ناپېژندل شوې کورنۍ یوه سړي خپل ځان نواب شاه نواز خان وباله او یو څه قوه یې په ځان راغونډه کړه او په زین پور کې یې چې له ملتان څخه پنځه کوسه واټن لري، خپله واکمني پیل کړه او ددغه ولایت د والیتوب ادعا یې وکړه. د مهاراجا نایب ددغه شیطان او ریاکار د ټکولو لپاره وروخوځېد او نوموړی یې په جګړه کې وواژه او د هغه قوه یې تارومار کړه. د مولانا شېرمحمد خان زبده الاخبار وقایع ملتان، ۳۰.

پوترایانو څخه وبیربد او په پټه یې مبارک خان د پوپلزي سردار له مرامونو څخه خبر کړ. مبارک خان ددې پرځای چې د افغان په خلاف ور ودانګي د ((موج ګارهـ) د چونۍ لور ته چې د بهاولپور په سویل ختیځه ثلو ښت میلۍ کې په یوه ځنګله کې پرته ده، په څټلاړ. د داود پوترایانو یوه بل مشر ((وادیره محمد معروف)) خپل ځان د ماروت چونۍ ته چې د ((موج ګارهـ) په شمال ختیځ کې ده، ورساوه، په داسې حال کې چې نورو مشرانو د ماروت ختیځ ته پولرا phulra ونیوله. د داود پوترایانو نورو مشرانو ته هدایت ورکړل شو چې د خیرپور په ښارګوټي کې ژر راغونډ شي او هلته به له دوی سره مبارک خان یوځای شي. دوی د خپل مشر غوښتنه ومنله او د نوموړي مشر د کورنۍ پېغلې یې په موج ګارهـ کې پرېښودلې او په خیرپور کې یې خپل افراد د درې زره انتخابي سورو په راس کې ورګډ کړل او د خپلو سردارانو لکه احمد خان، بالاوال خان، فیروزانی، ودیره جان محمد خان نور محمد خان معروفاني، ملا علي، ملا طایب او نورو له خوا بدرګه شو. سره له دې هم د سردارانو په منځ کې د نظریو اختلاف راغی او له ثلیرویشت ساعتونو انتظار وروسته یو شمېر یې خپلو چونیو ته ستانه شول. په همدغه وخت کې جهان خان بهاولپور ته راورسېد او په داود پورترایانو باندې د برید لپاره نږدې اته زره افراد د خیرپور لور ته واستول. له بلې خوا مبارک خان هم د جهان خان برید ته بیدار و. دی په خیر پور کې له خپل کمپ څخه د هغه د مقابلې لپاره ور ووت او دواړه پوځونه په خاتیاله khatiala کې چې دغه ښارګوټي ته نږدې د لویدیځ لوره یو کوس واټ لري، سره ونښتل او یو خونړی اخ و ډپ پېښ شو چې په هغه کې افغانانو ماته

وموندله او جهان خان تېښتې ته اړ شو. فراریان او تېښته کوونکي تر لال سوها نرا پورې چې د لویدیځ لور ته لس کوسه واټن لري، تعقیب شول او دغه تعقیب همدلته پایته ورسول شو.

خو څرنګه چې بهاولپور لا هم د جهان خان په لاس کې و او دا ښه نه وه چې نور زیات د تعقیبولو په اثر د احمد شاه غضب وپاروي، نو د دوی جنرال مبارک خان د سولې خبرې پیل او موج ګارهـ ته وګرځېد. جهان خان د سولې د پیشنهاد هرکلی وکړ او د یوه وکیل په وسیله د سولې په زړه پورې شرایط حل و فصل شول. جهان خان د فتح بور په ګودر کې له ستلیچ څخه واوښت او د خپل وطن لور ته د تګ لپاره یې د ملتان لاره ونیوله[۳۷].

(۳۷ ) دولت رای، تاریخ مرات دولت عباس، ۹۸ الف– ۹۹ ب، شهامت علی، د بهاولپور تاریخ (په هند کې په زړه پورې طرحې) ۳۸–۳۹.

# يوولسم فصل
# ځينې کوچنې مسايل

د احمد شاه د ژوند نور څلور کلونه نسبتاً هوسا او ارام وو او ده د پنځو کلونو د جګړې او فتوحاتو د سخت دوران له تېرولو وروسته په زړه پورې استراحت وکړ. ده ستره امپراتوري جوړه کړې وه او له دغه خوښ وخت څخه يې د هغې د ثبات او ادارې لپاره کار واخيست[1].

## د ازاد خان افغان ويره ليرې شوه:

په دغې خبرې پوهېدل په زړه پورې دي چې څنګه د غلزيو د قبيلې دازاد خان افغان قدرت چې د افغانستان د پاچاهۍ لپاره يې خپل مقاصد اعلان کړي وو شنډ شو او د احمد شاه د امپراتورۍ پر خلاف وېره له منځه لاړه. لکه چې موږ پوهېږو ازاد خان افغان د نادر شاه يو پخوانی جنرال و او د اذربايجان پارسي ولايت يې تر تسلط لاندې راوستلی و. دا سمه ده چې له پارس نه جلا د خراسان د خپلواک دولت له جوړېدلو څخه چې اداره يې ميرزا شاه رخ ته سپارل شوې وه د احمد شاه مقصد د پارس او افغانستان

(۱) د احمدشاه د ملکي او پوځي ادارې تفصيل د کتاب په پای کې په لومړۍ او دويمه ضميمه کې وړاندې شوی دی.

ترمنځ د یوه حایل (بفر buffer ) منځته راوړل وو چې د هغه له مخې کېدلی شول د شمال لویدیځ لوری مغرور او جاه طلب مشر ازاد خان افغان له پلانونو څخه ځان وساتي. فیریر وایي: (( ازاد خان افغان د خپل ملت له نورو افرادو څخه ډېر سخت سر، زړور او منور سړی و. دده عدالت، د برابرۍ افکار او له شیعه ګانو څخه دده پلوي ددې سبب شول چې زیات شمېر پارتیزان کسان دده په شاوخوا راغونډ شي. کله چې ده خپل زیاتېدونکي قدرت ولید نو په ښکاره یې د عراق خراسان او حتی د افغانستان د نیولو مرام اعلان کړ او ویې ویل چې احمد شاه له دې امله باید خلعه شي چې یو غاصب دی او په دې خیال و چې پاچاهي د غلزیو د قبیلې په یوه مشر پورې اړه لري. )). خو د ختیځ لور ته دده حرکت د کریم خان زند له خوا چې د پارس د سلطنت له درې هیله مندانو څخه یو تن و، بند شو. د پارس د سلطنت نور دوه تنه مینه وال محمد حسین خان قاجار او په خپله ازاد خان وو.

د کریم خان زند او محمد محسن خان قاجار ترمنځ د مازندران په پولو باندې د درې اړخیزې سیالۍ لومړنۍ جګړه ونښتله او په نتیجه کې وروستی کس بریالی شو، خو ده ونه کړای شول خپل دښمن له دې امله چې ازاد خان په ګیلان باندې برید کړی و، تعقیب کړي. البته ازاد خان د محمد حسین خان له بریالیتوب څخه د خبرېدو وروسته په پټه په شا لاړ. ماتې خوړونکي کریم خان ډېر ژر قوه برابره او په ازاد خان باندې یې برید وکړ. ازاد خان دا وخت په قزوین کې چې د تهران په شمال لویدیځ کې دی، ځان غلی کړی و او له هغه ځای څخه یې زند په شا وتمباوه. کریم خان اصفهان ته په ځټ شو او د افغان پر خلاف یې یوه بله هڅه هم وکړه. په دغه وخت کې (

**۱۱۲۵**هـ- **۱۷۵۲**م) کریم خان ماتې ومونده او د پارس په امتداد پسې واخیستل شو او له اصفهان څخه شیراز ته واوښت ددغو ماتو په سبب کریم خان د هند لور ته د تېښتې په فکر کې ولوېد، خو د ((خشت)) مشر رستم سلطان چې دده دوست و، نوموړی له دغه پلان څخه واړاوه او هغه ته یې وویل: ((کله چې ستاسو په تعقیب د خشت په لور د ازادخان پوځ (د کتل کاماریج) تنګې ته ننوځي نو دا به ډېره اسانه وي چې پوځ تباه کړو. دا مفکوره په عینې ډول رښتیانې ثابته شوه.

د کارماریج غاښي دوه میله اوږدې. هغه سړک یا غالباً لار چې ددغه ځای د غرونو په لمنو کې کږه کېښه ختلې ډېره تنګه ده (په ځینو ځایونو کې له دوو فوټو څخه نه اوړي) نو پر دې اساس پوځ کولی شي د یوې نرۍ کرښې په توګه حرکت وکړي. ددغه کندو یا غاښي صعب المرور څوکې رستم سلطان نیولې وې او د ناوې په لاندې برخه کې کریم خان د دښمن په انتظار ناست و. د افغانانو قوه غاښي ته له کوم تهدیدونکي خطر پرته ننوتلو ته ازاده پرېښودل شوه، خو ډېر ژر هغوی د رستم سلطان د کریم خان په لومه کې پرېوتل او نوموړی د زخمي شویو زمریانو د شدت په څېر د هغوی په ټوله کرښه ورتوی شول. د ازاد خان پوځ تقریباً تباه شو او کریم خان د ځینو عربي مشرانو په مرسته شیراز ته په څټ وګرځېد. دا پېښه په (۱۱۶۶هـ- **۱۷۵۳**م) کې وشوه. له محمد حسین خان قاجار سره په (۱۱۷۱هـ **۱۷۵۷**م) کې د اخري تېښتې په ترخ کې ازاد خان بېوزلې ته ورسطد، د واکمنې د داوطلبانو له لست څخه ولوېد او بالاخره له کریم خان زند څخه چې دا وخت یې پارس نیولی و، د ترحم غوښتنه وکړه. کریم خان زند لنډ پایدونکې

سلسله پر انستله خو د همد غې پېښې په پای کې يې خپل ځای قاجاريانو ته پرېښود.

احمد شاه ته د ازاد خان افغان د ماتې خبرونو يو دوه ګون او مخلوط احساس ياني له يوې خوا ببغمي او له بله پلوه بېقراري ورکړه. د زند زياتېدونکې زېرمې او سترې قوې دده د شمال لويديځو قلمرونو لپاره ستر خطر پيدا کولی شو، خو پارسيان په خپل کور کې له سختو کارونو سره اخته و چې په هغې کې د خپل سلطنت د جوړولو خيال هم شامل و، نو هېڅکله يې هڅه ونه کړه چې افغانستان ونيسي او افغانان زور ازمايلو ته وپاروي[۲].

## په ډيلي کې د صفدر جنګ د سيسې:

د **۱۷۵۲** کال په منې کې د ډيلي په دربار کې داسې يو حرکت برېښېده چې غوښتل يې د خراسان په شمال لويديځ افغاني ولايت کې بلوا واچوي. دا وخت څرنګه چې د امپراتور او وزير ترمنځ صميميت له منځه تللی و، نو دغه حرکت واضحاً د صفدر جنګ له خوا د يوه غرضي حرکت په توګه و، چې غوښتل يې امپراتور او دده ملګري، د لاهور والي، معين الملک په يوه کشاله کې وغورځوي. وزير الممالک صفدرجنګ د امپراتور په غوښتنه د احمد شاه پر خلاف د **۱۷۵۲** کال په مارچ کې د مرهټانو مرسته جلب کړې وه، خو دی ډيلي ته ډېر ناوخته راورسېد ( د **۱۷۵۲**کال د اپريل پنځه ويشتمه ) او دده ناوخته ستنېدل ددې سبب شول چې د نواب جاويد

(۲ ) مالکم د پارس تاريخ **۴۳-۴۴** سايکس د پارس تاريخ **۳۷۳- ۷۴** فيرير د افغانانو تاريخ **۸۲- ۸۳**.

خان له لاري افغاني استازي قلندر خان ته د سپارل شوي تړون له لا سليک کېدو څخه مخنيوی وکړي ( د **۱۷۵۲** کال د اپريل د يارلسمه ) څرنګه چې دی د معين ستر دښمن و ، نو د سولې تړون او د هغه په نتيجه کې د لاهور او ملتان د ولايتونو د والي په توګه د معين پاتې کېدل يې د خپل ځان سياسي ناکامي وګڼله او په خواشينۍ کې سوزېده. د دې لپاره چې د معين الملک پر خلاف د شاه غضب وپاروي نو يوازينۍ لاره دا وه چې د ميرزا شاه رخ په لمسولو سره د ستر افغان او مغولي امپراتور ترمنځ مناسبات خراب کړي. په دې ډول ده په يوه غشي دوه مارغان ويشتلي شول ياني معين به د پاربدلي افغان تر لومړي ضربې لاندې راشي او مغولي امپراتور به ورپسې د هغه قرباني وګرځي. امپراتور ته په دغه شان د ستونزو برابرولو له امله وزير ته دا اسانه کېدله چې په هغه باندې خپل نفوذ زيات کړي.

د جيپور ساوای مادوسنګ د صفدر دوست و ، وايي چې مادوسنګ ته له کابل څخه داسې مکتوبونه راغلي وو چې د هغو پر اساس ويل شوي وو د خراسان د دغه وخت والي کندهار ته رسېدلی او د احمد شاه په خلاف يې د مرستې غوښتنه کړې ده[۳].

په څرګند ډول هر يو دغسې مکتوب چې امپراتور ته ښوول شوی په جعلي توګه د دې لپاره ترتيب کېده چې امپراتور وغولوي او د شاه پر خلاف شاه رخ ته وليکي. په يوه مرهټي مکتوب کې داسې ليکل شوي وو: (( امپراتور د نادرشاه لمسي ته وليکل چې له هغې خوا څخه رادمخه شي او ژمنه يې

(۳ ) له جاګانات کرشنا څخه بهګوانت راوا متياو شيوارام پانت ته مرهټي مکتوب د **۱۷۵۳**م د جنوری په دوولسمه نېټه راورسېد. اس. پي. ډي ۷۱۱ (ضميمه) ۶۸.

ورسره وکړه، چې دده قواوې به د کابل پر لور وخوځېږي چې دغه پست مجازات شي.)) په عین حال کې میر معین الملک ته اوامر ولېږل شول چې ډیلي ته راوګرځي او د کابل لور ته د پوځ د استولو ترتیبات ونیسي. دا خبر هم خپور شوی و چې ((منو د امپراتور د امر د اطاعت پر اساس ډیلي ته راغلی دی.))

د صفدرجنګ مرهټې متحدین هم چې په مطروحه هیات کې د غوره نقش لرلو هیله ترې کېده، د پنجاب له والي، منو سره په تماس کې وو او په ډیلي کې د مرهټانو د وکیل او په لاهور کې د میر منو ترمنځ مکتوبونه سره تبادله کړل[۴].

## د هند لور ته د شاه له تللو څخه مخنیوی وشو:

احمدشاه په پټه له ډیلي څخه په دغه موضوع خبر کړل شو او یا دا چې د هغه توطیې له امله وپوهېد چې هلته روانه وه. د ۱۱۶۶هـ کال د محرم په میاشت کې (د ۱۷۵۲ کال نوامبر) کې دی جلال اباد ته چې د کابل په یو سلو شپاړس میلۍ کې دی، راورسېد او جهان خان یې د اباسین لور ته ولېږه. دغه کار په لاهور کې وېره او په ډیلي کې ناکامي منځته راوړه، داسې برېښي چې په دغه رښتیاني حالت او موضوع پوه کړ ځکه چې دوی ورنډې نه لاړل او یوازې ډیلي ته د یوه استازي په لېږلو سره قانع شول[۵].

---

(۴) اس. پي. ډي، ۲۷، ۷۸- ۷۷- ۸۳.

(۵) د افغاني استازي د لېږلو مقصد د هغه کال د باج غوښتل وو، چې ظاهراً د ۱۱۶۶هـ کال د محرم په لومړۍ نېټه پیل شوی وو. سار دیسای، د مرهټانو نوی تاریخ، دویم ټوک، ۳۶۷.

کله چې صفدر د احمد شاه له راروانېدو څخه خبر شو، نو امپراتور ته یې سلا ورکړه چې له ډیلي څخه لاهور ته وخوځېږي. امپراتور داسې ځواب ورکړ: (( زموږ حکومت نه جنګي وسایل لري او نه کوم چمتو سرتېري. که زما له تګ څخه پرته د مسایلو تنظیم ممکن نه وي زه حاضر یم په یوازې توګه لاړ شم. تاسو په خپله د دولت د چارو تنظیم په لاس کې لرئ. د هېواد ټوله بودیجه او لګښتونه ستا په لاس کې دي. پیسې برابرې کړه چې له هغو څخه سرتېرو ته معاش ورکړو او جنګي وسایل لاس ته راوړو. ))

دغو خبرو وزیر غلی کړ. د ۱۱۶۲هـ د صفرې په لومړۍ نېټه ( د ۱۷۵۲ کال د دسمبر اتمه ) صفدرجنګ امپراتور ته پیغام ولېږه چې احمد شاه درانی غواړي په لاهور برید وکړي او دا د امپراتور لپاره ضروري ده چې هغه ځای ته لاړ شي او منجمینو له ډیلي څخه د امپراتور د حرکت لپاره د صفرې نهمه، ( د دسمبر شپاړسمه نېټه ) نېکمرغه ورځ ټاکلې ده. سره له دې هم که دی غواړي چې خپل تګ وځنډوي د استوګنې لوازم به واستول شي او دی به وروسته په هغه نېټه حرکت وکړي چې د منجمینو له خوا ټاکل کېږي. امپراتور په دغه باب له خپلې مور سره چې ملکه صاحبه الزماني یا په عامه توګه ملکه زماني بلل کېده سلا وکړه، هغې داسې ځواب ورکړ: (( نه موږ کومه خزانه لرو او نه وزیر الممالک. دی په خپله د هېواد خزانې او د پوځ حالت ویني. سره له دې هم دی هیله کوي چې امپراتور دې په تش لاس وخوځېږي، پرېږده چې همدا خبرې وکړي. ممکن دی به په خپله ډاډ ولري او

د تنگ لپاره به چمتو وي)). دغه ځواب د وزير په شونډو مهر ولګاوه او نور نو له ده څخه هېڅ داسې خبرې بيا وانهورېدلې[۲].

## افغاني استازي په ډيلي کې:

تقريباً د ۱۱۵۲ کال د دسمبر په نيمايي کې افغاني استازي لاهور ته ورسېد. مير معين الملک خپل درې تنه باوري مامورين له هغه سره ډيلي ته ولېږل او دوی د ۱۷۵۳ کال د جنوري په دويمه اوونۍ کې ډيلي ته ورسېدل. استازي ته له (تکيه مجنون) سره نږدې د کامګار خان په بڼ کې ځای ورکړل شو او امپراتور احمدشاه امر وکړ چې ديوان عام دی د هغه د هرکلي لپاره تزيين شي. له درېو نور شيان يې ليرې کړل او ويې ويل چې استازی، دومره د برم خاوند نه دی چې په چوڼۍ کې په ديوان عام کې ورته هرکلی وويل شي او کېدلی شي په ديوان خاص کې ورته هرکلي وشي. دی نږدې يوه مياشت تر څارنې لاندې وساتل شو او د رسمي ليدنو کتنو لپاره دده په پرله پسې غوښتنو سترګې پټې شوې.

بالاخره د ۱۱۶۲ کال د ربيع الثاني په لسمه (د ۱۳۵۷ کال د فبروري څوارلسمه) وزير امپراتور ته پيغام ولېږه چې بله ورځ په ديوان خاص کې د استازي د هرکلي لپاره ټاکلی شوې ده، ترتيبات د شپې له خوا ترسره شول او د پنجشنبې ورځ د ۱۷۵۳ کال د فبروري پنځلسمه (د ۱۱۶۲هـ کال د ربيع الثاني يوولسمه) په لسو بجو د وزير الممالک او نورو اميرانو په رارسېدو سره شپو ګوتی علي قلي خان افغاني استازی شاهانه حضور ته

---

(۶) تاريخ احمدشاهي، ۴۳ب، ۴۴ب.

بوت. ده پنځه اشرفۍ د نذر په توګه وړاندې کړې او د احمد شاه دراني لیک یې امپراتور ته وسپاره. امپراتور هغه د شاهي ماڼي داروغه، بختیار خان ته تسلیم کړ او د افغاني اعلیحضرت پوښتنه یې له استازي څخه وکړه. استازي وویل: ((زما شاه سلامونه ویل)). وروسته د درې توتیز خلعت په ورکول کېدو سره د هغه درناوی وشو او ورته چېنې د میر معین الملک مامورینو ته د انعام په توګه ورکړل شوې. استازی له چونۍ څخه له وتلو وروسته د صفدرجنګ کور ته لاړ او نوموړی د هیات د هدف په باب له هغه سره خبرې وکړې. د غرمې پر مهال امپراتور وزیر ته پیغام ولېږه چې ده استازي ته د تګ رخصت ورکړی دی، نو وزیر دې ځوابیه مکتوب هغه ته وسپاري. په شپږمه ورځ د ربیع الثاني په اوومه (د فبروري یوویشتمه) استازي ته لیک ورکړل شو او وروسته نوموړی خپل هېواد ته وخوځېد [۷].

(۷) تاریخ احمدشاهي، ۴۵ب- ۴۶ب، ۴۸الف.

په همدغو ورځو کې پانت پرادان ته Pant pradhun له ډیلي څخه د انتا جي منکشوار Antaji Manakeshwar په واسطه یو مکتوب لیکل شوی چې د پیشوا په دفتر کې شته او د ډیلي حالات د ماګ Magh د نیمه رڼا میاشتې تر پنځمې ورځې چې د فبرورۍ له اتمې سره سمون خوري، هغه ته بیانوي. د تاریخ احمدشاهي په حواله استازي ته د ربیع الثاني په یوولسمه نېټه (د فبروري پځلسمه) هرکلي وویل شو. دا ورځ چې د مګ وادیا magh wadya د پنځمې پر ځای د مګ شود magh shudh پنځه یاده شوې، دوه اوونۍ توپیر ښکاره کوي، د مګ وادیا پنځمه د فبرورۍ له دوه ویشتمې سره چې له ډیلي څخه د استازي له روانېدو څخه وروسته دویمه ورځ کېږي، سمون لري. دانتا جي منکشوار مکتوب په لاندې ډول وړاندې تللی او ترتیب شوی دی: ... اوس پښتون یا پټان له اټک څخه اوښتی او سرحد ته نږدې دی او خپل سفیر یې استولی دی. په غونډه کې هغه دا څرګنده کړه چې ((د نواب بهادر له خوا د پنځوسو لکو روپیو تادیه د وروستي کال لپاره وه، هر کال باید پنځوس لکه موږ ته راکړل شي. که په روان کال کې پنځوس لکه موږ ته راکړل شي، نو د پیسو په رسېدو سره به له اټک څخه واوړو او هېواد ته به ستانه شو. که داسې نه وي نو موږ ډیلي ته راځو او د جنګ لپاره تیار اوسئ.))

په دغه ورځ استازي ته افتخاري جامې او مېلمستیا ورکړل شوه او ورته وویل شول چې ځواب به په اتو ورځو کې ده ته ورکړل شي. وروسته پاچا وزیر او امیران جرګې ته راوبلل او له هغو څخه یې پوښتنه وکړه چې ((د ابدالي استازي ته به څنګه ځواب ورکړو هغه یقیناً ډیلي ته راځي. که هغه ډیلي ته رانه شي، نو یقیناً هغه به درې صوبې لکه لاهور او نور چې درې کروړه ارزښ لري ونیسي ایا ټول سرداران حاضر دي چې د هغه په خلاف اټک ته د جګړې لپاره لاړ شي؟)) ټولو په ګډه داسې ځواب ورکړ: ((مرهټیانو د ابدالي په مقابل کې جګړه په غاړه اخیستې ده او ددغه کار په بدل کې هغوی ته اجمیر او اکبراباد د دوه ویشتو صوبو د چاټ په شمول ورکول کېږي، کېدی شي په دغه باب هغوی ته مراجعه وشي. وروسته نواب وزیر ټول په دې خبر کړل ((چې له مرهټانو څخه تېر کال د جمنا ګنګا دواب کې ګټه اخیستل شوې ده. په دوو میاشتو کې به د هغوی څلوېښت زره

دا چې د وزير د کور په غونډه کې څه وشول او د ځواب محتوا څه وه، کوم معلومات نه لرو، خو سره له دې هم دا سې معلومېږي چې مغولو به د شاه په خوښه د تېر کال د تړون له شرايطو او موادو سره سم د وفا دارۍ او د متقابلې دوستۍ په باب ډاډ ورکړی وي. همدا سبب و چې شاه بېرته کندهار ته ستون شو او سردار جان خان يې د اباسين له غاړې څخه وروغوښت[8].

## په مشهد کې د امير خان قارايي ماتې:

خپل پايتخت ته د شاه د راستنېدو بل دليل ده ته په خراسان کې د نارامیو د خبرونو رارسېدل وو، لکه چې موږ پوهېږو د دغه ولايت له نيولو وروسته شاه نورمحمد له رانده شاه رخ سره په اداري چارو کې د مرستې لپاره پرېښود. سره له دې هم دی ژر راوښتل شو او پرځای يې د دولت اباد امير خان قارايي ته دغه دنده ورکړله. د نورمحمد له روانېدو سره سم ميرزا شاهرخ خپل يو خدمتګار فريدون خان د خپل نايب په توګه وګوماره. اميرخان د ميرزا د مامورينو ترمنځ حسد څخه استفاده وکړه او د امام علي رضا د زيارت په پلمه ښار ته ننوت. کله چې يې په دروازو کې خپل افراد ځای پرځای کړل، نو درې يا څلور برجونه يې ونيول او کله چې د ښار د

---

پوځ راورسېږي. نن ورځ دوی په ډيلي کې پنځه زره تنه پوځ لري. يوه يا دوه اوونۍ وروسته به پنځه زره تنه نور هم دوی ولري چې لس زره تنه په مجموعي ډول چمتو شي. د برش زره تنه زه په واک کې لرم، نو په دې ډول د مرهټانو په شمول به څلوېښت زره کسه پوځ چمتو په لاس کې ولرو.))
دغه ليک نيمګړی برېښي خو هغه له احمدشاه دراني سره د صفدرجنګ د معاهدې په باب ښه رڼا اچوي چې په ۱۷۵۲ کال کې لاس ليک شوه. اس. پي. ډي، ۲۱، ۵۳.

(۸ ) د مرهټانو د نوي تاريخ، دويم ټوک، ۳۶۷- په حواله ((وزير په ډېر زيار او کړاو سره وکولی شول هغه له يو څه قسمي ناديا تو سره بېرته ولېږي.

نیولو ډله ورته پیدا شو، نو د ښاریانو په ځورولو یې لاس پورې کړ. دغه عمل شاهرخ په غضب کړ او یو سترګی میرحسین خان افشار او فریدون خان یې د هغه د شړلو لپاره واستول. دا کار له کوم تکلیف پرته ترسره شو. حسین او فریدون د چار باغ له دروازې ور ووتل او له باغ څخه بهر یې د افغانانو یو وړوکې ټولګی له چړو وایست او قارایان یې بې وسلې کړل. ښاریان هم له دروازو او برجونو سره د امیرخان د افرادو پر خلاف راپورته شول او له خپلو ځایو څخه یې وشړل.

په دې ډول بې قدرته شوی امیرخان خپل کور ته چې په دولت اباد کې و، راستون شو څرنګه چې د امیرخان بې مهارتي دده د ماتې مسووله وه، نو ځکه شاه دغې ناوړه پېښې ته په جدي توګه توجه ونه کړه[۹]. فریدون د نایب په توګه تر هغو خپله دنده ترسره کړه څو چې د شاهرخ د زوی نصرالله میرزا له خوا ووژل شو. څرنګه چې د شاهرخ د زامنو فعالیتونه ددغې پېړۍ په شپږمه لسیزه پورې اړه لري او زموږ د بحث وړ ولایت سره په بشپړه توګه اړیکه نه لري، نو موږ به په لنډ ډول په خپلو مربوطو ځایو کې هغو ته اشاره وکړو.

## په نیشاپور کې عباس قلي خان:

عباس قلي خان بیات په خپل ټول ژوند کې احمد شاه ته وفادار پاتې شو. دی ډېر نرم او عادل حاکم و او د ښار او د نیشاپور د سیمې په اصلاح سره

(۹) مجمل التواریخ، ۱۱۴-۱۱۶.

يې زياته مرسته وکړه. دی په خپل ولس کې ډېر محبوب و او ويل کېږي چې دده پر وخت پايتخت خپل لرغونی برم ته ورسېد.

په پنجاب کې د ځينو نااميو پرته چې د هغو په باب به په راتلونکو پاڼو کې څه ولوليو د احمد شاه امپراتورۍ د يوې لسيزې په اوږدو کې په سوله او امنيت کې پاتې شوه، خو په ۱۷۶۳-۶۴ کلونو کې د سکانو له خوا د سرهند، لاهور او ملتان د ولايتونو په لاسه ورکولو او په بلوچستان او خراسان کې د ځينو وړو اله ګولو څخه پرته د ده په ژوند کې نورنو دده امپراتورۍ ته څه زيان ونه رسېد.

# دولسم فصل

# په پنجاب کې بدلونونه

# د میر منو مړینه او له هغې وروسته

**د میر منو مړینه:**

په ۱۷۱۰ کال کې په پنجاب کې د بندا سنګ له اقتدار حاصلولو او د هغه د لنډ پایدونکي راج له ټینګېدو وروسته سکان د یاغیانو په حیث شمېر شوي وو او په هره ممکنه وسیله تر تعقیب او کړاو لاندې نیول کېدل. یو وخت کله چې معین له لاهور څخه د اوو یا اتو ((کوسو)) په واټن د ملک پور په کلي کې اړولي وو، د هر کاره وو (څریو) له خوا ورته خبر ورسېد چې د ګنیو په نږدې پټیو کې سکان پټ شوي دي. معین الملک بې ځنډه ښکار ته ووت او سکان یې کلا بند کړل، خو ناڅاپه دده اس وبیرېد، په وروستیو پښو ودرېد او له کنټرول څخه ووت. منو یې له زین څخه وغورځاوه او له بده مرغه کله چې دی مځکې ته ولوېد، یوه پښه یې لا په رکاب کې بنده وه او په مځکه باندې په سختۍ د بېوشۍ په حال کې راوښکول شو. دا پېښه د

۱۱۲۷هـ د محرم په پنځمه (د ۱۷۵۳ کال د نوامبر ۲) کې وشوه. په دربیمه ورځ د محــرم اوومــه (۱۱۲۷هــ) (کارتیــک ســودی و kartik sudi ۱۸۱ب.ک ((بیکرامــی کــال.)) (نــوامبر ۴، ۱۷۵۳م) معــین الملــک د خپــل ژونــد وروستۍ سلګۍ ووهلې[1].

(۱) تاریخ احمد شاهي، ۸۵ب- ۹۲ب، خزانه امیرا، ۹۸، رتهان سنګ، پراچین پانت پراکاش ۴۳۵- ۳۶، جیان سنګ، پانت پراکاش، ۷۱، پوتي تاریخ سنګان ۷۱، عبرت نامه ۲۴۴.

طهماس خان په خپلو یادښتونو، طهماسنامه، کې یو جلا بیان ورکړی دی. دده په حواله معین یو څه وخت په ملک پور (تیلک پور هم لوستل شوی) کې دېره و او له هغه ځای څخه یوه ورځ د ښکار لپاره ووت. د راستنېدو پر وخت ده په خپله نوې چونۍ کې ډوډۍ وخوړله او د څو شپېو لپاره یې هلته دمه وکړه. له غرمې وروسته ساعتو کې خواجه میرزاجان د وژل شویو سکانو څو سرونه ده ته وړاندې کړل او خپل انعام یې ورڅخه واخیست. بیا دی د یو څه واټن لپاره په آس سور لاړ او د دمې په غرض له خپل آس څخه ښکته شو. غوښتل یې چې حرکت وکړي، خو په وجود کې یې دمه پاتې نه وه او پالکې (ښایي چیغې به وي) کې خپلې خېمې ته ولېږل شو. طبي مرستو ونه کولی شول ده ته نجات ورکړي. تر نیمې شپې په بېهوشۍ کې پاتې شو او په ستوني کې یې خرخر کاوه له نیمې شپې وروسته ده د ژوند وروستۍ سلګۍ ووهلې. (ب، ۲-۱۲) طهماس خان د میر منو خدمت ګار یا غلام بچه وا او ادعا کوي چې دا وخت دی هلته حاضر و. څرنګه چې دده بیان له تاریخ احمد شاهي، د علي الدین عبرت نامې او د سکانو له مورخینو څخه ډېر توپیر لري، نو ځکه په اسانۍ منل کېدلی نه شي. څرنګه چې تاریخ احمد شاهي په ورځني اخبار سره بنا دي او له عبرت نامې سره سمون لري، نو ښایي حقیقت ته به نږدې وي. د تاریخ احمد شاهي په قول داسې راغلي:

((د هر کاره وو له لیکنو څخه سملاسي امپراتور ته خبر ورکړل شو چې د لاهور ناظم چې له لاهور څخه اوه یا اته کوسه لرې دېره وا و تل یې د نانک له سکانو سره جګړې کولې، د محرم په پنځمه د ښکار لپاره ووت او له خپل آس څخه وغورځېد او بېهوشه شو او د دغې میاشتې په اتمه نېټه له دنیا څخه لاړ.))

علي الدین په خپله عبرت نامه کې موږ ته وایي: ((معین د سکانو د ستې ایستلو په منظور په اوان awan کې د یوې چونۍ د جوړولو لپاره لاړ او د پلان سره سم یې چونۍ تاسیس کړه.

سرکښ آس باندې د مرګ د ښکار میدان ته ورووت. آس نیل شو یانې په دوو پښو ودرېد. نواب هغه کنټرول نه کړلی شو او راولوېد. که څه هم دده د نجات هڅه وشوه، خو ګټه یې ونه کړه او دی له فاني دنیا څخه دارالبقا ته ولاړ.))

البته کوم ښکار چې پورته یاد شوی هغه د سکانو ښکار کول دي، چې د رتهان سنګ بهانګو په پراچین پانت پراکاش کې دا لغت (ښکار) استعمال شوی دی. د پوتي تاریخ سینګان Pothi Tarikh-i- singhan مولف دده د آس تورېدل هم هغه ډزې ګڼي چې سکانو د ګنیو له پټې څخه وکړې. رتهان سنګ په دې باب چوپ دی. د جیان سنګ په حواله دا د سړي خور تېښته وه. ((خزانه امیرا)) د خوش وقت رای (د سکانو تاریخ ۷۲، (ګلستان رحمت، ۱۰۳)، (احوال ادینه بیګ خان، ۱۰، (د سکانو د قوت عروج)، (پرنسیپ ۱۳) له آس څخه د رالوېدو نظریه تاییدوي، په داسې حال کې چې د قدرت الله صدیقي ((جام جهان نما)) هغه وبا یا کلورا ته منسوبوي. د شیو پراسد ((تاریخ افغانان)) او ((ساله نانک)) طهماس خان اقتباسوي، تاریخ علي، ۲۳۵، سیرالمتاخرین، ۸۹۵ وګورئ. د پېښې ځای خوش وقت رای باسین bhasin سره نږدې بولي او شیو پراسد هغه تاییدوي. دا ځای له هغه واټن سره سمون لري چې طهماس نامې او تاریخ احمد شاهي له لاهور څخه ښودلی دی.

دا وخت د معین کونډه سریا بیګم یا مراد بیګم چې مغولاني بیګم هم بلل کېده د پنجاب د تاریخ په پاڼه کې ښکاره شوه. هغه ډېره هوښیاره ښځه وه خو که په خپلو شهواني نیمګړتیاوو بریالۍ شوې وای، هغه به پنجاب ته یوه با استعداده او با انرژي ښځینه اداره چې ګرځېدلې وای.

## د مغولي امپراتور مقرري:

د معین الملک د مړینې خبر د نوامبر په دوولسمه نېټه (د محرم د میاشتې په پنځلسمه ډیلي ته ورسېد. بله ورځ امپراتور احمد شاه د لاهور او ملتان د ولایتونو اداره د خپل درې کلن زوی شهزاده محمود شاه په نامه کړه او په هماغه ډول یې د میر معین الملک دوه کلن زوی محمد امین خان یې د هغه د مرستیال په توګه وټاکه. سره له دې هم اصلي واک د کاسور د میر مومن خان په لاس کې و چې د معین الملک یو پخوانی انډیوال ګڼل کېده. په عین حال کې د کشمیر حکومت چې د افراسیاب خان له مړینې وروسته خالي پاتې و او د احمد شاه د یو استازي له خوا چې د سردار جهان خان له یوې قوې سره واستول شو، عصب شوی و، یو بل شهزاده طالع سعید شاه ته ورکړل شو او امپراتور خپل یو تروزی، عزت الدوله چې پنځلس یا شپاړس کلن هلک و، د هغه نایب وټاکه. د تاریخ احمد شاهي مولف د بې ځایه کرکې له مخې وایي: ((د دنیا د مشرانو په کړو وړو او وختونو کې څنګه عجیبه بدلون راغلی چې د غسې لوی مقامونه چې د باتجربه لویانو سره ښایي، دومره وړو ماشومانو ته ورکول کېږي! د خدای د قدرت تماشا ته ګوره چې په مستورو راتلونکو کې به د دنیا په مخ څه ښکاره کړي.))

سره له دې هم د ماشومانو لوبو يوازې څلور ورځې دوام وکړ او د محرم په شلمه، ( د نوامبر اولسمه ) وزير الممالک مير نظام الدين انتظام الدوله چې د ۱۷۵۳م د مارچ په مياشت کې د صفدرجنګ پرځای ګومارل شوی و، په غياب کې د پنجاب صوبه دار وټاکل شو.

انتظام الدوله له خپلې خوا څخه مير مومن خان او بيکاري خان د محرم په څلورويشتمه ( د نوامبر يوويشتمه ) خپل مرستيالان او ادينه بيګ خان يې د دوابه بست جلندر د ((نايب پوځدار ) ) په حيث وګومارل[۳].

## د احمدشاه له خوا د منو د زوی ټاکل کېدل:

خو دغه مقررې په دغو سلا مشورو او د ډيلي د دربار له خوا د افتخاري چېنو په ورکړه سره بيا هم نهايي ګڼل کېدلی نه شوې. هغوی يوازې هغه وخت تکميلېدلې چې د احمدشاه دراني له خوا تاييد شي، ځکه عملاً پنجاب د ۱۷۵۲ کال د اپريل د مياشتې د ترون له مخې هغه ته سپارل شوی و او هغه د تورې په حکم کولی شول په هر وخت کې د خپلې ادعا د تحقق لپاره دغې سيمې ته راودانګي. د نوامبر په وروستۍ اوونۍ او د محرم په پای کې د معين الملک ماشوم زوی په ملک پور کې له خپلې موقتي استوګنې څخه راوړل شو او د خان بهادر ذکريا خان د مړستون سره نږدې د حضرت ايشان زيارت ته يې يووړ. له هغې وروسته دوو تنو مرستيالانو مومن خان او بيکاري خان د محمد امين خان په مهر چې د پنجاب ماشوم والي و په کندهار کې ملا امام ته د شاه په عنوان مکتوبونه واستول او

(۳ ) تاريخ احمدشاهي، ۸۶ب- ۸۷ب.

حاجي بيګ يې سردار جهان خان ته ولېږه چې دا وخت يې په حسن ابدال کې چې ( پنجاب صاحب هم بلل کېده ) اړولي و. شاه په خوښۍ سره له خپلې خوا محمد امين خان د پنجاب په حکومت کې تاييد او مير مومن خان يې د هغه د مرستيال په توګه وګوماره. د افغان پاچا فرمان، افتخاري چپنه، جيغه او يوه توره د خلعت ورکولو په منظور د ۱۱۲۷ کال د ربيع الثاني په نهمه ( د ۱۷۵۴ کال د فبروري د رېيمه ) لاهور ته راورسېدل. فرمان او خلعت په شاهانه برم سره ومنل شول او د هغو په وياړ دولتي موزيک وغږول شو[۴].

## بيکاري خان د مغولاني بيګم له خوا بندي شو:

په عين حال کې د مغولي امپراتور واکمني د مغولاني بيګم له خوا تقريباً تر پښو لاندې شو. په ډيلي کې د صدراعظم انتظام الدوله له خوا ((روشن الدوله بيکاري خان)) ته د مقررۍ د دستور له رسېدو سره سم نوموړي هڅه کړه چې د پنجاب چارې په خپل لاس کې واخلي. خو ده خپل موقف د ښځينه حکومت د نزاکتونو په سيوري کې کمزوری او ستومانه کوونکې وليد او ده ته دا ناممکنه وه چې په هغه رضايت وکړي. کله چې په دې ډول بيکاري خان ناراشه شو، نو د ماشوم والي د دربار حضور يې پرېښود او په خپلې ماڼۍ يا حويلۍ کې يې ځان پټ کړ او د خطر د ورځې په منظور يې هغه په استحکاماتو سمبال کړ، خو مغولاني بيګم ډېر ژر مغولي افسران ځان ته واړول چې په هغو کې قاسم خان شامل و او د هغوی رتبې او

(۴) طهماس نامه، ب ۲۱، تاريخ احمدشاهي، ۹۲الف، ۱۱۲الف، سرکار د مغلي امپراتورۍ زوال لومړی ټوک، ۴۳۸-۳۹.

معاشونه يې زيات کړل. دغه ګډوډي تر څو ورځو روانه وه او هغه وخت پايته ورسېدله چې مغولاني بېګم د بيکاري خان پلوي ميرزا جان خپلې خواته جذب کړ او هغه ته يې د خان لقب او د امين اباد د ((پرګنې)) سرپوځداري يې ورته ورکړه.

ميرزا جان خپل پخواني بادار بيکاري خان د بېګم حضور ته راوست او بېګم هغه زندان ته ولېږه او امر يې وکړ چې دده ملک او دارايي دې چور او لوټ شي. دا پېښه د ربيع الاول د شپږمې او نهمې ترمنځ وشوه او په تقريباً اتو ورځو (د ربيع الاول ۱۴- ۱۷، جنوري ۹-۱۲) کې په ډيلي کې امپراتور ته ورسېدله[۵].

## د معين زوی د ډيلي له خوا هم تاييد شو:

بې زړه او راحت غوښتونکي وزير الممالک انتظام الدوله ددې توان نه درلود چې يو کلک ګام وړاندې واخلي او مغولي تاج او دده خپلې واکمنۍ ته يې په دغه سېکاوي باندې سترګې پټې کړې. له بلې خوا دی د خپلې يرغلګرې خښينې په مقابل کې عاجز و او له بيکاري خان سره يې د خپلې مخکنۍ ژمنې او مرستې په برخه کې د هغې تحقيروونکي واکمنۍ ته د غاړه ايښودلو پر اساس څه ونه کولی شول. د تاريخ احمد شاهي مولف وايي: ((کله چې خان خانان انتظام الدوله درک کړه چې د لاهور کنټرول او مالکيت ترلاسه کولی نه شي او دا چې هغه د معين الملک د زوی او کونډې په قبضه کې راغلی، نو ده د معين الملک ماشوم، ادينه بېګ خان

(۵) طهماسنامه، ۲۱-۲۲، خزانه اميرا، ۹۹، تاريخ احمدشاهي، ۱۰۶الف، ۱۱۰الف، تاريخ علي، ۲۳۸.

او مومن خان ته د ربیع الثاني په پنځمه ( د ۱۷۵۴ کال د جنورۍ د پرشمه ) یانې د احمد شاه دراني له مشابهه فرمان له رسېدلو څخه پنځه ورځې وړاندې افتخاري جامې واستولې. ) ) دا هم ممکنه وه چې دی د مغولاني بیگم د مخالفت پر وړاندې د خپلې مخکنۍ ورکړې او امتیاز د شرایطو او موادو د دوام مشکل اټکل کړی. دغه ورکړې (څوکۍ او القاب) د احمدشاه دراني د پیاوړي او ستر مقام له خوا تصویب شوي وي. پر دې اساس ده دا ښه وبلله چې د هغو له بطلان او ماتېدو څخه وړاندې په هغو کې اصلاحات راوړي.

## په لاهور کې ګډوډي:

کله چې مغولاني بیگم د افغان اعلیحضرت په فرمان سره خپل ځان سمبال او د بیکاري خان او انتظام الدوله له مخالفت یې دفعه کړ، نو د خپل ماشوم زوی د نایب السلطنه په حیث یې د لاهور په حکومت کې پښې ټینګې کړې، خو هغه ډېر ژر په ناوړه ژوند کې ډوبه شوه، خپل ټول اخلاق او حیا یې تر پښو لاندې کړل او د خپلو ناوړه اخلاقو له امله یې په بد نوم شهرت وموند [۶].

ښتیانی واک د غلام بچه ګانو لاس ته ورغی او دغه کسان په ټولو مواردو او مقاصدو کې د هغې باوري وو او د دولت چارې یې اداره کولې، خو پنجاب داسې یو ولایت نه و چې یوه بدکاره او فاسده ښځه وربانډې

(۶ ) دا بەضروري نەوي چې د مغولاني بیگم د پټو عشقبازیو تفصیل وړاندې کړو. د طهماس نامې مخونه له زیاتو خلکو سره د هغې د ناروا اړیکو په بیان ډک دي. همدا راز کنجکاو لوستونکي کولی شي خزانه امیر ۹۸۹ - ۹۹، د غلام علي شاه علم نامه ۲۶، حقیقت بنا عروج فرقه د سکان، ۳۱، تذکرة عماد الملک، ۱۲۰، ته مراجعه وکړي.

حکومت وکړي. د هغې احمقانه بد چلند او فسادونه د دې سبب شول چې د هغې غوره ملاتړ او فداکار خدمتګاران ورڅخه مخ واړوي او پر ضد یې ودریږي. قاسم خان چې د خان لقب او د ماجه یا منځنیو سیمو د پاتي patiti د پوځداری، ویاړ ورکړل شوی و، له سکانو سره دوستانه اړیکي پیل کړې، فکر یې وکړ چې د دوی په مرسته به په لاهور او بیا د زېرمو او قواوو په زیاتوالي سره په مغولي پایتخت ډیلي باندې برید وکړي او خپله واکمني به هلته تاسیس کړي[۷].

د دغه مقصد لپاره ده د سکانو په منځ کې پلټنه یې ټوپک، لندی، غشي او نور مواد چې ارزښت یې زرګونو روپیو ته رسېده، وویشل دا فعالیتونه ټول بې ګټې شول او دده سرتېري زیات وخت له معاش ورکولو څخه پاتې وو، نو پر دې سبب دوی اله ګوله وکړه او نو موړی یې بېګم ته وسپاره. هغې دی زندان ته واچاوه، کله چې خواجه میرزا خان د ایمین اباد په پوځداری کې خپل ځان پیاوړی کړ، نو په لاهور باندې د ژر برید کولو تیاری یې پیل کړ. دی یوازې د یوه چانس او فرصت په انتظار و چې هغه هم د **۱۷۵۴** کال په دسمبر کې ده ته لاس ته ورغی. د دوابه بست جلندر ادینه بیګ خان د پنجاب د حکومت یو بل لېوال ګڼل کېده. په هغو پسې سکان وو. د میر معین الملک له مړینې وروسته سکانو د سا ایستلو وخت بیا موند او خپلو کلیو ته چې په وروستیو څلورو لسیزو کې یو وخت او بل وخت ورڅخه شړل شوي وو، ستانه شول. دوی له **۱۷۱۰-۱۷۱۵** پورې د بندا سنګ تر مشرۍ لاندې د خپلواکۍ په خوند پوه شوي وو او د جماعت له لمانځه

(۷) طهماسنامه، ب۲۲-۲۳.

وروسته به یې هره ورځ د هغې راتلونکې ورځې سندرې ویل چې ((خالصه حکومت وکړي او کوم متمرد بریالیتوب ونه ګټي.))

په دغسې ګډوډو حالاتو کې مغولاني بیګم نږدې اووه میاشتې حکومت وکړ، خو د ۱۷۵۴ کال د مې د میاشتې په پای کې د هغې د زوی امین خان مړینې په هغې باندې یو سخت مصیبت راوست[۸].

د زوی په مرګ سره حتی د هغې پاتې شرم او احتیاط کاری له منځه ولاړل او د عیش او عشرت په لټه کې د نا امیدۍ له امله ډوبه شوه که څه هم د ۱۷۵۴ په سپتمبر کې د امپراتور دویم عالمګیر له خوا میر مومن خان د محمد امین پر ځای رسماً د پنجاب په حکومت وګومارل شو او افتخاري چپن ورته ورسېد له[۹]، خو بیا هم دی تش په نامه مشر او رئیس بلل کېده. اصلي حکمراني د بیګم په لاس کې وه. هغې د خپلو ټیټو اخلاقو غلام بچه ګانو (شنډ شویو کسانو) لکه میان خوش فهیم، میان ارجمند او میان محبت په مرسته چې تل په خپلو منځو کې سره په کشاله اخته او له یو بل سره مخالف و او د حکومت د چارو د ګډوډۍ او معطلۍ سبب ګرځېدل، د قدرت واګې په خپل لاس کې ونیول. د ۱۷۵۴ کال د دسمبر په میاشت کې له بخشي غازي بیک خان سره د مغولاني بیګم ناروا اړیکي دومره رسوایۍ ته ورسېدلې چې هغه د عام او خاص په ژبه د یوې جوتې بدګویي په توګه

(۸) طهماسنامه، ب ۲۳. د ((ډیلي پېښې)) په حواله د محمد امین خان د مړینې خبر د جون په دویمه ډیلي ته ورسېد. که په عادي توګه له لاهور څخه تر ډیلي پورې د خبر د رسېدو ورځې وشمېرو، نو هغه باید د مې د میاشتې په پنځه ویشتمه نېټه صورت نیولی وي.
(۹) د ((ډیلي پېښې)) دغه نېټه د سپتمبر شپاړسمه یا دویشتمه ښودلې ده او دا وخت شپږ ټوکیزیا ټوټیز خلعت (چې یو زرین او مرصع سرپېچ، یو آس، یو هاتي، مرصع چپنه، جنډه او نغاره په کې شامل وو) د مومن الدوله د لقب په ګډون هغه ته ورکړل شول. دویم پنځه ټوکیز خلعت د اکتوبر په پنځه ویشتمه نېټه ورته وبښل شو. امپراتور دویم عالمګیر د ۱۷۵۴ کال د جون په دویمه د عماد الملک شهاب الدین غازي الدین په وسیله چې په خپله د انتظام الدوله پر ځای د جون پر لومړۍ نېټه وزیر شو، د ډیلي په سلطنت کېناست.

وګرځېدلې. دا وخت بیکاري خان په لاهور کې بندي و ، دی د خواجه محمد سعید خان په وسیله خبر شو چې (( د خدای ښېلي نواب په کورني پت او عزت کې یو درز پیدا شوی ) ) دی او له هغه څخه یې وغوښتل چې په ایمین Eminabad کې خواجه میرزا خان ته په بیړه لیک واستوي چې په لاهور باندې راودانګي او دغسې سپکو وسایلو ته خاتمه ورکړي.

خواجه میرزا جان په څو ورځو کې لاهور ته راورسېد او د دغه ځای حکومت یې له کوم جدي مخالفت پرته لاس ته وروړ. بیکاري خان او قاسم خان ازاد شول او بیګم یې توقیف کړه. خو مغولاني بیګم داسې یوه ښځه نه وه چې په اسانۍ سره خپله واکمني تسلیم کړي، هغې په پټه سره په ډیلي کې نوی صدراعظم عماد الملک غازي الدین او په کندهار کې احمدشاه دراني ته مکتوبونه واستول. په عین حال کې هغې خپل ماما چې د خان بهادر نواب ذکریا خان کشر ورور و ، دراني ته د مرستې غوښتلو لپاره ولېږه چې هغه بیا خپل مقام ته ورسوي. خواجه په دې هیله له دغه اوږده سفر سره موافقه وکړه چې ګوندې د دغه ولایت حکومت خپل ځان ته وګټي[(۱۰)].

## ملا امان خان په لاهور کې:

شاه د زړه سوي له امله د هغې مصیبتونو ته توجه واړوله او د سردار جان خان ورور ملا امان خان ته چې په ملا امان سره په خلکو کې نامتو و امر وکړ چې ژر لاهور ته له لسو زرو پلیو او سورو سره لاړ شي.

(۱۰) طهماسنامه، ب ۲۵-۱۷ تذکرة عمادالملک ۱۲۲.

دغه پوځ د دراني او قزلباشانو د لښ شمېر په ګډون له کابل او پېښور څخه راغونډ شوي وو چې د مغولاني بېګم حکومت بیا جوړ او میرزا جان ژوندی او یا مړ د شاه مخ ته حاضر کړي.

ملا امان له خواجه عبیدالله خان سره یوځای په یوولسو ورځو کې د لاهور ګاونډ ته ځان ورساوه. میراجان د دغه خبر په اورېدو سره په وېره کې ولوېد، ده له وېرې د رېږدېدو په حال کې د بیکاري خان د پیشنهاد په پام کې نیولو سره د ځینو مغولانو په سلا خواجه عبیدالله خان ته یو استازی ولېږه او هغه ته یې داسې وویل: (( زه د معین الملک یو خدمتګار او حاضر باش یم. ما تر اوسه پورې د لاهور ښار له الهٔ ګولې څخه وژغوره اوس چې ته راورسېدې، ملک په تا پورې اړه لري، که چېرې ما ژوندی پرېږدې او په خپله دغه ژمنه وفا کوې، زه به ستا حضور ته راشم. )) خواجه دغسې یو خبر له خدای څخه غوښت او په خوښۍ سره یې له هغه سره دا ژمنه وکړه. سره له دې هم هغه دا ژمنه سرته ونه رسوله. دواړو له یو بل سره خبرې اترې وکړې او د هغو په پای کې عبیدالله میرزاجان ته وویل چې اوس په دغه حالت کې واک په ملا امان پورې اړه لري، کېدلی شي له هغه سره کتنه وکړې. بدمرغه میرزاجان د ملا امان لیدنې ته لاړ، هغه سملاسي دی بندي کړ. ورپسې ملا امان ښار ته ننوت او عملاً تر دوو میاشتو پورې یې د دغه ځای لوټولو او تالا کولو ته دوام ورکړ. مغولاني بیګم یې د هغه صوبداره او عبیدالله یې د هغې د مرستیال په توګه وټاکل او بیکاري یې د بیګم په لاس ورکړ. غېچ اخیستونکې بیګم بیکاري خان بیا زنداني کړ او هلته په زندان کې له ځورولو او په خېټه باندې د لغتو ورکولو وروسته یې وواژه او ویې ویل: ((

د دوارو (معین الملک او محمد امین خان) وینې ستا په غاړه دي او دا ده د هغې لپاره ستا جزا)) دا پېښه نږدې د **۱۷۵۵** کال په اپریل کې وشوه[۱۱].

## خواجه عبیدالله خان:

ملا امان خان خپل کلي ته ستون شو او د شاه له غوښتنې سره سم یې خواجه میرزا جان او دوه تنه نور یاغي مغولي سرداران د بندیانو په توګه له ځان سره بوتلل. خو بیا هم دغو ټولو په پنجاب کې سوله رانه وستله. ورپسې دلته د مرستیال او صوبه دار یا ماما او خورځې ترمنځ د جګړې اړ پېچ منځته راغی. بیګم زیاتره په خپلو رسمي کارونو کې د عبیدالله خان له واک څخه سترګې پټې کړې او هغه ته یې هېڅ ارزښت نه ورکاوه. له بلې خوا عبیدالله هڅه وکړه چې خپل دریځ پیاوړی کړي. ده نه شو کولی د هغې په لاس کې د یوې تسلیم شوې آلې په توګه وي، نو نږدې له پنځلسو زرو څخه تر شلو زرو تنو پورې لښکر یې برابر او د بیګم پر خلاف یې د جګړې تیاری ونیو، خو له بلې خوا بیګم هم له دغه څخه بېخبره ناسته نه وه او د خپل ماما زیات شمېر افراد یې ځانته راکاږل. دغه کشاله د **۱۷۵۵** کال په جولای کې منځته راغله، خو غلام بچه ګان او د دوی خدمتګاران په هماغه لومړني ټکر کې له خپلو ټولګیو سره یوځای په ماتې محکوم شول. مخکې له دې چې دغه مخالفت یوه پراخه بعد ته ورسېږي. د میر مومن خان او په لاهور کې د افغاني استازي هادي خان په منځګړیتوب سوله منځته راغله. خواجه عبیدالله خان ته اجازه ورکړل شوه چې حکومت ته ادامه ورکړي، په داسې

---

**(۱۱) طهماسنامه ب، ۲۷، تذکرة عماد، ۱۲۵، تاریخ علي ۲۴۰، خوشوقت رای، تاریخ سکان، ۷۲-۷۳، سیر المتاخرین ۸۹۶.**

حال کې چې بیګم له خپل موقف څخه وغورځول شوه او د خپلې مور کور ته بوتلل شوه[۱۲].

اوس نو خواجه عبید الله خان د لاهور خپلواک واکمن شو، خو دی ډېر ظالم ثابت شو. د پیسو سره د زیاتې مینې له امله ده خپل رعایا او د لاهور ښاریان په بېلابېلو پلمو لوټ کړل. سره له دې هم دده واکمني تر څو میاشتو اوږده نه شوه او پرځای یې د وزیر غازي الدین یو نومړی (نامزد) سید جمیل الدین وټاکل شو.

## له ډیلي څخه د مغولاني بیګم د مرستې غوښتنه:

د میرزا جان له عزل راهیسې بیګم له غازي الدین سره مکاتبه درلودله. ظاهراً هغې نه شول کولی له نوموړي سره د مرحوم مېړه د ژمنې پر اساس د خپلې لور عمده بیګم واده کول سرته ورسوي او همدا سبب و چې غازي الدین د بیګم له حکومت سره خپله مرسته بنده کړې وه. له بلې خوا په دغه برخه کې د بیګم ستونزه دا وه چې د عمده بیګم پلار د **۱۷۵۲** کال په اپریل او مارچ کې د عمده بیګم واده کول د احمد شاه درانی له زوی، شهزاده تیمور سره هم منلي وو، کله چې بیګم د میرزا جان پر خلاف د شاه مرسته ترلاسه کړه او د هغې له مخې بیا قدرت ته ورسېدله، نو پر دې اساس په سختۍ سره یې کولی شول احمد شاه ناراضه کړي، خو حالات بدل شول او عبید الله خان د شاه له خوا د لاهور د ولایت د مرستیال په توګه مقرر او په لاهور کې د درانی د استازي، هادي خان په وسیله د بیګم د هیلې پر خلاف

(۱۲) طهماسنامه، ب ۲۷-۲۸، خزانه امیرا، ۹۹، سیر المتاخرین، ۱۸۹۶. د میترسین mittar sen د داور نامې په حواله غازي الدین له بیګم څخه هیله وکړه چې د واده لپاره ډیلي ته لاړ شي، خو بیګم له غازي الدین څخه وغوښتل چې مقصد لپاره لاهور ته راشي. ۳۴ مخ.

په خپل مقام کې پاتې شو. له دې امله هغې د ډيلي دربار ته د مرستې غوښتنې لاس اوږد کړ او وزير ته د عمده بيگم د واده کولو موافقه يې سملاسي وښودله. دا وخت غازي الدين هم په ډيلي کې له سياسي مصروفيتونو څخه وزگار و او خپله توجه يې پنجاب ته چې زيات ورته لېوال و، واړوله. د ۱۱۲۹هـ کال د ربيع الثاني په دولسمه (د ۱۷۵۲م د جنورۍ ۱۵) غازي الدين له ډيلي څخه امبالي ته روان شو، له دغه ښارگوټي څخه واوښت او د فبرورۍ په اوومه نېټه د سرهند گاونډ ته ورسېد. په دغه ځای کې د دواب بست جلندر ادينه بيگ خان ده ته وليکل چې له سرهند څخه دې لور ته را نه شي، خو يوازې د يوه غلام بچه تر مشرۍ لاندې د دوو يا درېو زرو کسانو يوه وړه ډله له ځان څخه دمخه واستوي او په خپله د صادق بيگ خان په مشرۍ په يوه لس زره کسيزه قوه ځان سمبال کړي. دغه راز ده هغه ته ډاډ ورکړ چې د لاهور په نيولو کې به په چل ول سره دده مرسته وکړي. غازي الدين د حکيم عباد الله خان عطار[۱۳] له خدمتونو څخه گټه واخيستله او دغه وروستی کس په بري سره د ادينه بيگ موضوع ده ته وړاندې کړه او ويې ويل: ((په هغه شېبه کې چې ته له رود څخه اوړې بيگم به کندهار ته وتښتي او هلته به له ځان سره ټوله خزانه يوسي او د شتمنۍ په زور به احمد شاه دې ته وهڅوي چې دغه لور ته راشي.))

غازي الدين دا پيشنهاد ومانه او د لاهور عمليات يې ادينه بيگ خان ته ورکړل. د صادق بيگ خان او يوه غلام بچه نسيم خان په گډون ادينه بيگ خان د لاهور خواته ودانگل او خپل مرام ته له يوه ډز پرته ورسېد. دده قوه

(۱۳) دغه نوم حکيم عبدالله خان هم ذکر شوی دی.

په لاهور کې په بري سره تېره شوه او بیګم ته یې خپل احترامات تقدیم کړل، ورپسې دوی له خواجه عبید الله خان سره کتنه وکړه او نوموړي دوی ته د خپلو درجو پر اساس د درناوي سوغاتونه وبښل سره له دې هم عبید الله د ادینه بیګ له د سیسې څخه وبیرېده او فکر یې وکړ چې ښایي څه وخت وروسته به دی بندي کړي، د شپې پر مهال له ښار څخه ووت او د جمو خوندي غرونو ته وتښتېد. د ۱۷۵۲ کال په فبروري کې بیګم یوځل بیا د پنجاب واکمنه شوه او صادق خان د هغې د مرستیال په حیث و، خو دغه واک له یوې میاشتې څخه زیات دوام ونه کړ.

## بیګم او د هغې لور ډیلي ته ولېږدول شول:

د عالمګیر ثاني د تذکرې له مخې د مغولاني بیګم لور، عمده بیګم چې د وزیر سره یې کوژده شوې وه، دا وخت د خپلې مور له خوا له ادینه بیګ خان سره په جلال اباد کې اوسېدله چې د لاهور له خړ پړ او ګډوډ محیط څخه لیرې او خوندي اوسي. بیګم ډېر ژر د عمده بیګم د واده لپاره ترتیبات خلاص کړل او په سرهند کې د وزیر کمپ ته واستوله او نوموړې هلته د ۱۷۵۲ کال د مارچ په څلورمه نېټه ورسېدله(۱۴).

غازي الدین ډېر ژر د بیګم د خصوصي ژوند په باب معلومات ترلاسه کړل. هغه دده ترور وه او غالباً خوابښې یې وګرځېدله، نو دا ورته سپکاوی برېښېده، چې هغه په بې قیده او ازاد ډول په لاهور کې د خپل عمل د دوام

(۱۴ ) طهماسنامه، ۳۰-۳۱، تذکرة عمادالملک ۱۱۲-۱۶، تاریخ عالمګیر ثاني، ۶۶-۶۹، د ډیلي پېښې، مربوطې فقرې او اسناد، سیرالمتاخرین، ۸۹۷-۹۸، حقیقت بناعروج فرقه سکان، ۳۱، د خزانه امیرا په حواله د عبیدالله خان د تېښتې علت د لښکر او د پیسو کمبود و، ۹۹ مخ.

لپاره پربږدي. له هغه ځای څخه د هغې ډېر ژر لیرې کول یو حتمي کار وګڼل شو په دې سبب ده سید جمیل الدین خان، نثارمحمد خان، شیر جنګ حکیم عبادالله خان او خواجه سعادت یارخان یې ادینه بیګ ته ولېږل او له هغه څخه یې هیله وکړه چې بیګم هم دده کمپ ته واستوي. ادینه بیګ خان سملاسي د دوی له پیشنهاد سره موافقه وکړه. سید جمیل الدین او نثار محمد خان په چټکۍ سره لاهور ته ورسېدل او نابره یې په هغې (بیګم) برید وکړ. په داسې حال کې چې په هاتي سپره وه بیګم یې له ما چېوارا سره ږدې د وزیر کمپ ته ولېږدوله او دلته هغه د ۱۹۵۲ کال د مارچ په اته ویشتمه راورسېدله. میر مومن خان بیا د ولایت د صوبه دار په حیث وګومارل شو، خو له معمول سره سم دی یوازې تش په نامه مشر و او اصلي قدرت د وزیر د مطلوب شخص او مرستیال، جمیل الدین په لاس کې و. دا وخت و چې د راجا نګر مال په پیشنهاد لاهور باید ونیول شي او د بېلا بېلو مشرانو او راجاګانو همکاري د درانیي د برید د وېرې د دفعه کولو لپاره جلب شي. سره له دې هم دا پیشنهاد وزیر ته ونه رسېد او نوموړی ډیلي ته له روانېدو مخکې پنجاب ادینه بیګ ته د دېرش لکه کلني باج په مقابل کې وسپاره. وزیر د ۱۷۵۲م د مې په سر کې ډیلي ته وخوځېد او د ۱۱۲۹هـ د شوال په دوولسمه نېټه (د ۱۷۵۲ کال د جولای نولسمه) هلته ورسېد[۱۵].

(۱۵) طهماسنامه، ب، ۳۳-۳۵، تذکره عالمګیر ثاني، ۶۹ب، ۷الف، تذکره عماد، ۱۱۶-۱۸، ۱۲۶ د ((ډیلي پېښې)) مربوطې فقرې او اسناد، خزانه امیرا، ۵۲، معاصر الامرا، دویم ټوک، ۸۵۲، ګلستان رحمت، ۱۰۳، تاریخ مظفري، ۵۲، کلیان سنګ، خلاصة التواریخ، ۶۴.

# دیارلسم فصل

## په هند باندې څلورم برید

### د پنجاب او ډیلي حالات:

لکه چې پوهېږو خواجه عبدالله خان د ۱۷۵۲م کال په فبرورۍ کې لاهور ته د ادینه بیګ خان د قواوو په رسېدلو سره د جمو غرونو ته وتښتېد. په دغسې اوښتيو حالاتو کې د احمدشاه دراني له وسله والو مرستو پرته لاهور ته دده د بیا راستنېدولو امکانات موجود نه وو. په دې سبب دی په بیره د کندهار لور ته لاړ، احمدشاه دراني ته یې د پنجاب د حالاتو په باب معلومات ورکړل چې څنګه دده قدرت ته د وزیر غازي الدین له خوا سپکاوی وشو او څنګه د معین الملک لور عمده بیګم چې دده د زوی لپاره یې وعده شوې وه ډیلي ته ولېږدول شوه[1].

له بلې خوا د مغولاني بیګم عرضونه هم په دغه وخت کې ده ته ورسېدل چې د وزیر د ظلم په مقابل کې یې د مرستې غوښتنه کوله. دغه راز هغې سردار جان خان ته یو غمجن لیک ولېږه او دده د پت احساس ته متوسله شوه، په لیک کې داسې راغلي دي: ((دا د ډېر افسوس او هیښتیا وړ خبره ده چې د

(۱) تاریخ‌عالمګیر ثاني، ۷۹ب- ۸۰الف، تذکره عماد، ۱۱۳-۱۱۴.

زماني رستم او اسفنديار لکه تاسو لا ژوندي دي او زه دغسې ظلم او ناروا سپکاوي لاندې راغلې يم. زه هيله کولی شم د هغه زياتې خواخوږۍ په احساس چې تاسو يې زما په باب لرئ، د تل لپاره به هغه بې پته مشقت و نه زغمي چې زه يې تېروم. زما د خلاصولو لپاره به خپله نهايي هڅه وکړئ او دغه بې وجدانه او بد فکره سړی به په سزا ورسوئ.))[۲]

## د استازيو تبادله:

غازي الدين هم د سرهند په ګاونډ کې له خپل کمپ څخه ايليچ خان د يوه دوستانه هيات په مشرۍ د استازي په توګه شاه ته واستاوه، خو جهانخان هغه په کابل کې توقيف او د شاهانه رضايت انتظار يې وېوست. په دغه وخت کې شاه غزني ته راورسېد او مغولي استازی يې خپل حضور ته راوغوښت ايليچ خان ته د رسمي ملاقات اجازه د شاه له خوا ورکړل شوه او د عالمګير ثاني او د هغه وزير ليکونه يې ترې واخيستل او له يو څو رسمي پوښتنو وروسته يې رخصت کړ. همدا ځای و چې د مغولاني بيګم غمجن عرضونه ده ته ورسېدل او د هغه کينې اور يې تازه کړ چې شاه ته د خواجه عبيدالله خان د بيان پر اساس پيدا شوې وه. ايليچ خان ته چې په خپل کمپ يې نږدې دوې مياشتې تېرې کړې وې، د تګ اجازه لا ورکړ شوې نه وه. شاه دی خپل حضور ته وباله او ورته يې وويل: (( وزير تاسو د يوه دوستانه

---

(۲ ) تذکرعماد، ۱۱۴–۱۱۸، حقيقت بنا عروج، سکان، ۲۷، علي الدين، عبرت نامه، ۲۴۸، طهماسنامه ب ۳۵، ۶۲الف. د علي الدين په حواله ويل شوي چې بيګم شاه ته داسې وليکل: (( ما ته معلومه ده چې زما د مرحوم خسر د حويلۍ لاندې په ډيلي کې په کروړاوو نغدې روپۍ او جنس خښ دي او د چټونو ګوګونه يې له سرو او سپينو زرو ډک دي. غازي الدين، امپراتور عالمګير او وزيران ټول بې اتفاقه او اتحاد نه لري. که چېرې اعليحضرت په دې وخت کې د پنجاب او هند لور ته لاندې راشي نو د هند امپراتوري به د ټولو کروړاوو شتمنيو سره له کوم مخالفت پرته ستاسو په اختيار کې ولوېږي.)) ۲۴۸ مخ.

هیاست په مشرۍ را استولي یاست چې په هماغه ډول تړون تجدید کړئ ! اوس چې تاسو پخوانی تړون مات کړی دی، موږ حق په جانب یو )). له دې وروسته ده ته خلعت ورکړل شو او د ډیلي لور ته د ستنېدو اجازه یې حاصله کړه. په عین وخت کې شاه قلندر خان له ایلیچ خان سره یوځای ډیلي ته ولېږه چې له مغولي دربار سره وګوري. دواړه استازي د ۱۷۵۲م د اکتوبر په پای کې ډیلي ته ورسېدل[٣].

قلندرخان ته د شالامار په شاهي بڼ کې ځای ورکړل شو او امان الله خان او باقي بیګ خان بالاخي دده د مېلمه پالانو په حیث وګومارل شول. ده لومړی له وزیر سره د ۱۷۵۲ کال د اکتوبر په نهه ویشتمه سره مرکه وکړه او د (۱۷۵۲هـ) د سفرې په شپږمه (د اکتوبر یو دېرشمه) د عالمګیر حضور ته ومنل شو. د سفرې په نهمه قلندر خان امپراتور ته اوه آسان او وزیر غازي الدین ته څلور اسان د سوغات په توګه ورکړل. دی بیا د صفرې په نهه ویشتمه (د نوامبر درویشتمه) حضور ته ومنل شو او د ربیع الاول په شپاړسمه (د دسمبر نهمه) له کوم باوري ځواب پرته ورته تود یانې مراسم پرځای شول[۴].

## جنګ باز خان لاهور ته واستول شو:

شاه د خواجه عبید الله خان او مغولاني بیګم د تضرع او سوزناکو عریضو له امله وخوځېد او کابل ته له رسېدو سره سم یې د جنګ بازخان په مشرۍ یو

(٣) تذکره عماد، ۱۵۴-۱۶۶، د ډیلي پېښې.

(۴) تاریخ عالم ګیر ثاني، ۸۰الف-۸۱الف، تذکره عماد ۱۵۶-۵۷. وروستی منبع د قلندرخان کتنې له عالمګیر ثاني او غازي الدین سره د ۱۱۷۰هـ د محرم په اوه ویشتمه (د ۱۷۵۶ کال درویشتمه قلندرخان د شاه مکتوب نورو هندي نجباوو لکه نجیب الدوله ته ورکړ. ۱۵۶، ۷مخ.

پوځ لاهور ته ولېږه. خواجه میرزا جان چې د ملا امان الله خان په واسطه کندهار ته د زنداني په توګه راوړل شوی و، له هماغه وخت راهیسې یې د شاه په زړه کې ځای ونیو او اجازه ورکړل شوه چې له استول شوې قوې سره بدرګه وکړي. د جنګ بازخان دراني پوځ چې د اشنغر د محمدزي عبدالصمد خان په وسیله تقویه شوی و، له اباسین څخه واوښت او پنجاب ته ننوت. له دوی سره کوم مخالفت ونه ښودل شو او له یوه دېز پرته د لاهور ګاونډ ته راورسېدل. سید جمیل الدین له ادینه بیګ څخه د مرستې غوښتنه وکړه، خو نوموړی له درانیانو سره د جګړې خطر ته د لاس اچولو جرائت ونه کړ. له بلې خوا ده سید جمیل الدین ته عرض وکړ چې د بست جلندر دوابې ته له لاهور والي او میرزا جان د هغه د مرستیال په توګه وګومارل شول. دا وخت په ښار کې ډېره وېره پیدا شوې وه او د دغه ځای شتمن خلک په غرونو کې خوندي سیمو ته وتښتېدل. ادینه بیګ خان خپل قیمتي شیان او خزانه د صعب العبور (د نه تېرېدو وړ) لاخې ځنګله ته واستول او دې ته چمتو و چې د فرصت په موندلو سره فرار وکړي. د غرونو راجاګان د ادینه بیګ خان له بې زړه توب څخه خواشیني شول او په پټه سره خوندي غرنیو سیمو ته وتښتېدل[۵].

## شاه د هند لور ته وخوځېد:

له کابل څخه د جنګ بازخان له روانېدو څخه لږه موده وروسته احمد شاه هم د هند خواته روان شو. مغولاني بیګم له عریضو څخه علاوه د نجیب خان

(۵) تاریخ عالمګیر ثاني، ۸۰ الف، تذکره عماد، ۱۷۱، سرکار د مغلو امپراتورۍ زوال، دویم ټوک، ۶۲، ۸۲ مخونه وګورئ. د سرکار په حواله لاهور د ۱۷۵۶ کال د اکتوبر په څلورمه ونیول شو.

(نجيب الدوله) او حتی په خپله د امپراتور عالمګير ثاني له خوا په دې باب ده ته درخواست راورسېد. ملکه زماني او د مغولي شاهي حرم نورې مېرمنې د وزير غازي الدين له لاسه په ډېرو بدمرغيو او غالباً په تدريجي مرګ اخته شوې وې. کله چې د دوی عريضو او التماسونو په ده څه اغېزه ونه کړه، نو هغوی د نجيب الدوله د مرستې په لټه کې شوې. له زياتو سلا مشورو وروسته تصميم ونيول شو چې افغاني پاچا ته دې اسره وشي. نجيب الدوله له خپل ورور سلطان خان شاه ته ولېږه او هغه يې دعوت کړ چې هند ته له يوې سترې قوې سره راشي[6] نجيب الدوله ده ته وليکل: (( دلته په دې هېواد کې ما پنځه ويشت زره افغانان په ځان راغونډ کړي دي. دغه راز ما د ګنګا د سيند هغې خوا ته څلوېښت زره نور افغانان هم ستا د خدمت لپاره هڅولي دي. ته کولی شې له کومې وېرې پرته راشې. عمادالملک دومره پياوړی نه دی چې له تا سره کوم مخالفت وکړي. زه دده (عماد الملک) ستر ملاتړ وم. اوس چې زه له تاسو سره وفادار شوی يم، نو بل کوم داسې څوک نه شته چې له هغه سره مرسته وکړي[7].

شاه له پېښور څخه د سردار جهانخان په مشرۍ او د شهزاده تيمور په عمومي قومانده يو مخکنی پوځ واستاوه چې ادينه بيګ خان له مخې ليرې او سيمه دده له ملاتړ څخه پاکه کړي. شهزاده تيمور له اباسين څخه د تېرېدو وروسته په حسن ابدال کې واړول او خپل افراد يې ګجرات ته د مخکنيو پوځي ټولګيو د اړتيا وړ خوراکي شيانو او علوفې د برابرولو

(۶) سارديسای، د مرهټانو نوی تاريخ، دويم ټوک، ۳۸۷.
(۷) نورالدين، احوال نجيب الدوله، ۱۴ب، فرانکلن، شاه علوم، ۵، تذکره عماد، ۱۶۶-۶۸، تاريخ علي، ۲۲۵-۵۶.

لپاره واستول. له حسن ابدال څخه جهان خان د ایمین اباد په شتمن ښارګوټي ورودانګل او د هغه ځای پوځدار یې لیرې او ښار یې تر لوټولو لاندې راوست. ورپسې بټلا batala ته ولاړ او هغه یې ونیو، په داسې حال کې چې دده یوه بل ټولګی ادینه بیګ خان ځانته تسلیم کړ[8].

## کوم مخالفت او مقاومت ونه شو، شاه په لاهور کې:

په پېښور کې له څو ورځو دمه کولو وروسته شاه خپل تګ د نوامبر په پنځلسمه بیا پیل کړ. اباسین ته له رسېدو سره سم د خان خانان انتظام الدوله، مغولاني بیګم، عبدالاحد خان او له شاه فنا فقیر څخه چې عملاً په ډیلي کې د شاه د ځري وظیفه اجرا کوله نور عرایض هم شاه ته راورسطدل. شاه د اټک په برخه کې له اباسین څخه د اوښتلو وروسته د ۱۱۷۰ هـ د ربیع الاول په اووه ویشتمه نېټه (د ۱۷۵۶ کال د دسمبر شلمه) لاهور ته روان شو. ادینه بیګ خان دا وخت په جلال اباد کې چې د بیس د رود په غاړه او د (امرتسر په سهیل ختیځه دوه ویشت میلي او دویرو وال د ګودر په شمال ختیځه درې میلۍ کې پروت دی) تمرکز کړی و. کله چې جهانخان په بټلا او ادینه ناګر کې د ادینه بیګ خان او جمیل الدین افراد له منځه یووړل، نو د سویل لور ته یې د جلال اباد په خوا هڅه وکړه. ادینه بیګ له ده سره د جګړې جرئت ونه کړ او په پټه سره مخکې له دې چې جهانخان ورسره مخامخ شي، له بیس څخه واوښت او نور محل Nur mahal ته لاړ. څرنګه چې په دغه ځای کې د جهانخان د تېرېدو لاروه او له همدې ځای څخه یې په

(۸) تذکره عالمګیر ثاني، ۸۴ب– ۸۵الف، تذکره عماد، ۱۷۲، سرکار، دویم ټوک، ۶۳.

سرهند وردانګل، نو له همدې امله ادینه بیګ خان سویل لوېدیځ لور ته وخوځېد او له تیهارا Tihara سره نږدې له ستلج څخه واوښت او د هانسي Hansi او حصار Hissar وچې او بې اوبو بیدیا ته یې ځان ورساوه[۹].

په لاهور کې شاه ته راپور ورکړل شو چې د جمو راجا رنجیت د یو Raja Ranjit Dev نانو په مقابل کې جګړې ته ځان تیار کړی دی او نوموړی هغه وخت له لاهور څخه په ځټ شو چې سید جمیل الدین خپل ځان د هغو په دفعه کولو کې ناتوان ولید. له دې امله شاه دده د ځپلو لپاره لس زره لښکر ته د تګ امر ورکړ. رنجیت دیو ونه کولی شول د هغوی په مقابل کې مقاومت وکړي. په همدغه وخت کې جهانخان جلندر دواب ونیو او د نور محل ښار ګوټی یې ولوټه او د هغه اوسېدونکې یې له تېغه تېر کړل. شاه د لاهور حکومت خواجه میرزا جان ته او د جلندر دواب یې خواجه عبیدالله ته ورکړ. په داسې حال کې چې د راوي او ستلج ترمنځ سیمه د کانګرا kangra راجا ګوماند چند Raja Gumand Chand ته وسپارله[۱۰].

## شاه د ډیلي لور ته وخوځېد:

د **۱۷۵۲** کال د دسمبر په پای کې د سردار حسن خان په نوم یو کس د شاه له خوا د سرهند لور ته واستول شو او له هغه سره یوځای یې سردار جانخان ته دستور ورکړ چې د نوموړي سردار د شالوری ټینګ او د اړتیا پر وخت هغه

---

(۹ ) راجوید، ماراتین چپا اتهاسا چېن سا دانین، شپږم ټوک، **۳۶۵** ګڼه لیک، تاریخ عالمګیر ثاني، **۸۵** ب، خزانه امیرا، **۵۲**، **۹۹**، معاصرالامرا، **۷۵۲**، د ډیلي پېښې، تاریخ مظفري، **۵۴۱**.

(۱۰ ) تاریخ عالمګیر ثاني، **۸۸** ب، راجوید. ځلورم ټوک **۳۵۶** پرسر، د جلندر د پاکولو راپور، **۲۹**، تذکره عماد، **۳۶۶**، د ګانګرا د سیمې ګزیټر، (جعرافیایي قاموس)، (**۱۸۸۳** - **۸۴**) **۳۸**، د ښاغلي برنس د راپور ژباړه د پولو رام په واسطه، پاراګراف **۵۳**.

ته قوه ورکړي. حسن خان له ستليج څخه واوښت او مخامخ د سرهند لور ته لاړ او دغه ځای يې چې له خلکو څخه خالي شوی و، ونيو. جهان خان د **۱۷۵۷** کال د جنورۍ په پنځمه د دغه ښار نږدې برخې ته ورسېد او ورپسې يې د ډيلي لور ته لاره په مخ يووړه او د کارنل او پاني پت له منځ څخه تېر شو. شاه په خپله د جنورۍ په سر کې له لاهور څخه وخوځېد او د نومړې مياشتې په لسمه له ستلج څخه پورې شو او د ډيلي لور ته لاړ[11].

## د ډيلي حالات:

له هغه وخت راهيسې چې د مغلي امپراتورۍ پايتخت ته د هند په لور د احمد شاه دراني د راتګ خبر د **۱۷۵۲** په اکتوبر کې دده د استازي قلندرخان له کتنې وروسته راورسېد، دلته ډېره ستره ګډوډي او هيښتيا پيدا شوې وه. وزير غازي الدين عماد الملک له وېرې څخه په لړزه شوی و او نه پوهېده چې څه وکړي. ((د سنداګ رسالې Sindagh risala په انحلال سره وزير په بشپړ ډول له پوځونو څخه بې برخې و، يوازې د بهادرخان بلوڅ تر اداري لاندې څو سوه تنه ليدل کېدل.)) ده له انتظام الدوله څخه د مرستې لټه کوله نه شوه ځکه ده په خپله هغه عزل کړی و. د صفدرجنګ زوی شجاع الدوله هم د وزير په مقابل کې ښه نيت نه درلود. روهيله نجيب الدوله په پټه له احمد شاه سره اتحاد کړی و او وزير ته يې د هغو افرادو د درېو مياشتنيو معاشونو د نه ورکړې له امله اند ښننه پيدا کړې وه چې دی ورته

(۱۱) سرکار د مغلو د امپراتورۍ زوال، دويم ټوک، **۶۴**، **۸۲-۸۳**، راجويد، شپږم ټوک، **۳۶۵**، تاريخ عالمګير ثاني **۷۶**ب، د شاهنامه احمديه **۱۸۴-۸۸** په حواله شاه په خپله جمو ته لاړ او د هوشيارپور له لارې يې امبالا ته ځان ورساوه په دغه لار کې يې هر کوم سک چې پيدا کاوه له تېغه څخه به يې ايستل. ((دغه سيمه داسې له دوی (سکانو) څخه پاکه شوه چې د هغوی هډونه هم ايرې شول، د نانک له پالونکو څخه يو تن هم ژوندی پاتې نه شو، ټول نارينه تباه شول يوازې ښځې پاتې شوې.))

پوروړی و. په دې موضوع باندې د دواړو ترمنځ د ۱۷۵۲ د نوامبر په درېیمه سختې خبرې یو بل ته وشوې (د ۱۱۷۰هـ کال د صفرې نهمه)، د صفرې په څوارلسمه (نوامبر اتمه) نجیب الدوله له یوې سترې قوې سره د وزیر خواته ولاړ او د ستنېدو پر وخت کې یې د وزیر په اردوګاه پورې مربوط درې دوکانونه لوټ کړل او کوم چا ورسره مخالفت ونه ښود.

ورپسې وزیر د بهارت پور سورج مال جټ ته مخ واړاوه خو د جټ له پیشنهادو سره یې موافقه ونه شوه. جټ ده ته وویل چې لومړی به په مرهټانو ورودانګو او هغوی به له ((ناربادا)) څخه سویل ته ایسار او تم کړو او ورپسې به د جټانو، راجپوتانو، روهیله وو او نورو په ګډون له یوې ګډې قوا سره پنجاب ته لاړ شو او افغانان به له هغه ځای څخه وشړو. وزیر د مرهټانو سره دوست و، ده نه شول کولی په داسې وخت کې چې درانې دده دروازه په لغته وهي، دوی له ځان څخه جلا کړي. خو په عین حال کې ده نه شول کولی د یرغلګر پر خلاف د ډارنتوب له امله دوی عملاً جلب او د پوځونو لپاره یې پیسې ولګوي[۱۲].

## د غازي الدین دیپلوماتیکي مذاکرې:

کله چې غازي الدین د مدافعې تنظیم د احمد شاه پر خلاف ونه کړلی شو او ځان یې له هغه څخه کمزوری ولید، نو له ده سره یې د سیاسي خبرو اترو اسره وکړه. د ۱۱۷۰هـ کال د ربیع الاول په اووه ویشتمه (د ۱۷۵۲م کال د دسمبر شلمه) یې آغا رضا خان شاه د دوو لکو په ارزښت سوغات سره

(۱۲) تاریخ عالمګیر ثاني، ۸۱ب، ۸۳ب، سرکار، دویم ټوک، ۸۴-۸۵.

واستاوه او هغه يې دې ته وهڅاوه چې په ډيلي باندې د بريد مفکوره پربږدي. په دغه وخت کې دا خبر راورسېد چې افغانانو پنجاب نيولی او د ادينه بيگ خان او د هغه ملاتړي يې شړلي دي. هم دا شاه د ډيلي پر لور د جهان خان د حرکت اوازه خپره شوه. د ډيلي ښاريان په وېره کې ولوېدل او خوندي ځايونو ته يې کډې وکړې، د سورج مال جټ سيمه د هندوانو لپاره په زړه پورې پناه گاه شوه(۱۳).

د ربيع الثاني په دويمه ( د دسمبر پنځه ويشتمه ) وزير خان خانان انتظام الدوله، ضياءالدوله خانه سامان، جلال الدوله، بابو پنډت مارا ته او ځينې نور اميران د غونډې لپاره خپل کور ته راوبلل. دوی ټول په دې نظر شول د امپراتور په مشرۍ د احمد شاه دراني پر خلاف حرکت وکړي او امپراتور دويم عالمگير ته يې جلال الدوله واستاوه چې د خپلې ((پيش خېمې )) د استولو لپاره تياری ونيسي. د دسمبر په شپږويشتمه، د يکشنبې ورځ د يوولسو هاتيانو او يوولسو اوښانو په بار سره د ((پيش خېمې )) او سامان کاترا مهالدار خان Katra Mahaldar khan ته چې له ښار څخه درې کوسه واټن لري واستول شول. د غونډې په مازيگر ياني د شنبې ورځ، ( د دسمبر پنځه ويشتمه ) غازي الدين په خپله د نجيب الدوله کمپ ته لاړ او له هغه څخه يې د مرستې غوښتنه وکړه. له ده څخه يې هيله وکړه چې د خپل پلان په مطابق د سهارنپور Saharanpur لور ته د خوځېدلو څخه ډډه وکړي. سره له دې هم د پوځونو او توپخانې د راغونډولو په برخه کې هېڅ کوم کار سرته ونه رسېد. په دې سبب له شاه سره په اغېزمنه مقابله کې کوم شک پاتې نه

(۱۳) تاريخ عالمگير ثاني، **۸۵**الف، ب، د ډيلي پېښې.

و. د ربیع الثاني په شپږمه (د د سمبر نهه ویشتمه) غازي الدین امپراتور عالمګیر ته د احمد شاه د وزیر شاه ولي خان د تره یو زوی یعقوب علي خان حاضر کړ چې په هند کې او سېده او د یوه ((شپږ هزاري)) په توګه یې اعزاز وشو او احمد شاه ته یې د شاه فنا ملنګ په ګډون واستاوه چې هغه د مغولي امپراتور په پایتخت باندې له برید څخه واړوي او د خپل تاوان په مقابل کې د یو څه پیسو په اخیستلو سره خپل هېواد ته ستون شي. ((که دی بېرته لاړ نه شي نو د امپراتور محمد شاه لور به دده زوی ته په ناکاح ورکړي.)) [۱۴]

خو په همدغه ورځ ددغه خبر په رارسېدو سره چې افغان سردار، حسن خان سرهند نیولی، د ډیلي وضعه نوره هم خرابه شوه او حتی سترو مامورینو لکه ضیاءالدوله هڅه وکړه چې خپلې کورنۍ لیرې ولېږي. وزیر یوه مرتبه افسرانتا جي منکشوار ته امر وکړ چې د وېره اخیستیو خلکو فرار بند کړي او د ډیلي د سویل لور ته د دوی لاره وتړي. دغه کار ددې سبب شو چې پناه وړونکي نور هم په بد مرغیو او خواریو اخته شي او په زیاتو مواقعو کې مرتبه سربازانو دوی له خپلو مالونو او پیسو څخه خلاص کړل. مشکلات یوازې همدا نه و، جتهانو له بادار پور څخه تر ماتوراپورې د مالیې اخیستلو ځانګې جوړې وې. په دغو ټولو ځانګو کې په خوارو مهاجرینو او کډوالو باندې سخت مالیات وضعه شوي وو. ددې سره سره ماتورا دومره له خلکو ډکه شوې وه چې راحت ګران و او غلاوو عمومیت موند [۱۵].

## مغولاني بیګم د شاه د استازي په حیث:

(۱۴) تاریخ عالمګیر ثاني ۸۶الف-ب، راجوید، شپږم ټوک ۳۶۵.
(۱۵) تاریخ عالمګیر ثاني، ۸۷الف، د ډیلي پېښې.

داسې معلومېده چې غازي الدين د ۱۷۵۷ کال د جنورۍ تر نهمې (ربیع الثاني اوولسمې) پورې دا هیله درلوده چې دده استازی په تېره بیا یعقوب علي خان او شاه فنا به احمد شاه په ډیلي باندې د برید له هوډ څخه واړوي. خو کله چې ده په هماغه ورځ (د جنورۍ نهمه) واورېدل چې شاه له لاهور څخه د ډیلي لور ته حرکت کړی او له بیس څخه د تېرېدو وروسته ستلج ته رانږدې شوی دی، دغه راز دده مخکنی پوځ د سردارجانخان په مشرۍ تر سرهند پورې لیرې تللی دی، نو سخت وارخطا شو او د راتلونکي لپاره په اندېښنه کې ولوېد. په دغه وخت کې ده ته پیشنهاد وشو چې د شاه د برید علت ټول له لاهور څخه د مغولاني بیګم په لیرې کولو پورې اړه لري، ځکه ده هغې ته د لور خطاب کړی او دی به هغه وخت له دغه کار څخه واوړي چې نوموړی په ځانګړو او خاصو ژمنو سره راضي شي او شاه ته د یوه استازي په حیث ولېږل شي. تر دغه وخته پورې ده له هغې سره په سپکه چلند کړی و او د هغې لور یې له پامه غورځولې وه او هغه یې تر سخت نظارت لاندې نیولې و. کله چې په دې ډول دی اړ شو، نو یې په عجز سره له هغې څخه هیله وکړه چې د یرغلګر کمپ ته لاړ شي او په خپلو ټولو امکاناتو سره هغه دې ته وهڅوي چې له خپل ویروونکي برید څخه لاس واخلي. د ربیع الثاني په نولسمه (د جنورۍ یوولسمه) دا خبر خپور شو چې نوموړې بیګم د جنورۍ په لسمه د سولې په مواردو باندې د خبرو اترو لپاره پنجاب ته استول شوې وه[۱۶].

---

(۱۶) طهماسنامه، ۶۲الف- ۶۳الف، تاریخ عالمګیر ثاني، ۸۹الف، د ډیلي پېښې، د ډیلي د پېښې په حواله هغه د جنورۍ د لسمې شپې په نیمایي کې له ډیلي څخه وخوځېدله. ما طهماسنامه په دې باب اقتباس کړه.

هغه په همد غه نېټه سونيپټ Sonepat ته د شپې په لسو بجو راورسېدله او بله ورځ سهار يې د وختــه پــه څلـورو بجـو خپـل دوه تنــه پيغــام وړونکـي، طهماس خان، ( د طهماسنامې مولف ) او غلام شاه يې مخکې له مخکې لـه ليکونـو سـره شـاه دده وزيـر شـاولي خـان او سـردار جانخـان تـه واسـتول. ورپسې هغې خپلو پيغام وړونکو ته لارښوونه وکړه چې د جهانخان هر کاره (مخبران- م ) له ځان سره يوځاى کړي. دوى له لمر لوېدو څخه مخکې کارنـل ته ورسېدل. جهان خان ژر خپل څلور سرداران له يو سل سپرو سره دمخه د هغـې د هرکلـي لپـاره ولېـږل او نومـوړې بـل سـهار پـه لسـو بجـو کمـپ تـه راورسېدله. ( د ۱۷۵۷ کال د جنورۍ دولسمه ).

مغولاني بيگم له جهانخان سره لنډې خبرې اترې وکړې او ورپسـې نومـوړى خان په کارنل کې د شاه لپاره د ترتيباتو په منظور يو څو تنه پرېښـودل او پـه خپلـه د پـاني پت لـور تـه وخوځېـد. بـيگم لـه شـاه ولـي خـان سـره نـږدې د ډېـره وخت لپاره تاکلها او له نوموړي سره يې د هيات د هدف پـه بـاب خبـرې وکـړې. هغـه بلـه ورځ په پاني پت کې د شـاه حضـور تـه ومنـل شـوه. وروسـته لـه څـه خبـرو شـاه وويل: (( ته بايد لاهور ته راغلې واى او هلته به دې دا ټول څه ماتـه ويلـي وو او زه له هماغه ځاى څخه بېرته ستنېدلى شوم. اوس چې زه له شاه جهان اباد (ډيلي ) څخه څلوېښت کوسه واټن لرم دا به سمه نه وي چې بېرته وگرځم او د ډيلـي ښـار او د هنـد باچـا ونـه گـورم. ) ) ورپسـې شـاه يـو شـمېر نـرم ليکونـه وليکل او بيگم ته يې وسپارل او په هغو کې يو يې د شاه حضور ته د وزيـر د راتگ په باب و. هغې دغه مکتوبونه طهماس خان ته ورکړل او ضمناً يـې يـو خصوصي ليک وزير ته ورکړ چې د پيغام وړونکي په خولې کې گنډلى و او

وزير ته يې شخصاً دا ياده کړه چې که له شاه سره د جګړې قوت نه لري بهتره به دا وي چې له ډيلي څخه ووځې او يوه خوندي ځای ته لاړ شې له هغې څخه غير به خپل ځان په خطر کې واچوي[۱۷].

## د شاه شرايط:

شاه په سرهند کې د ډيلي استازی اغا رضا خان په لاندنيو شرايطو سره چې سوله پرې کېدلی شوه رخصت کړ:

۱- شاه ته بايد دوه کروړه نغدې روپۍ ورکړل شي.

۲- د امپراتور لور دې ورته په نکاح شي.

۳- د سرهند شمال لويديځ لور ته ټولې سيمې (د پنجاب، کشمير او ملتان په ګډون) دې ده ته وسپارل شي.

اغا رضاخان په دغو شرايطو سره د بيع الثاني په دوه ويشتمه (د جنورۍ څوارلسمه) نېټه ډيلي ته راورسېد. دا وخت امپراتور عالمګير ثاني او دده وزير غازي الدين په يوه بدمرغه حالت کې وو. دوی نه جګړه کولی شوه او نه يې د سولې شرايط منلی شول. ددغه باج راغوندول دوی ته ډېر زيات درون و. په دې اساس يې شاه ته بيا استازی ولېږه چې په ډيلي باندې د بريد مفکوره او قصد د پرېښودلو غوښتنه ورڅخه وکړي[۱۸].

## جهان خان په ډيلي باندې ورودانګل:

---

(۱۷) طهماسنامه، ۶۲الف- ۶۴ب.

(۱۸) تاريخ عالمګير ثاني، ۹ب.

خو دا ډېر ناوخته و او لکه چې موږ پوهېږو جهانخان د جنورۍ په دولسمه پاني پت ته وخوځېد. په داسې حال کې چې دده يو ټولګی د ډيلي خواته وړاندې شو او د شا لور ته يې شاه ولي خان ملاتړ کاوه. جهان خان په خپله له پاني پت سره نږدې له جمنا څخه پورې ووت او دواب ته ننوت. دده په شکاره توګه دا وويل شول چې په دغه سيمه کې د مرهټانو قوه پرته ده. پر دې اساس دده دا ضروري وبلله چې د رود ختيځه خوا کلکه وساتي او شاه د ځټ لوري د مرهټانو د مزاحمت او پرله پسې بريدونو په مقابل کې وڅاري. دده د جنورۍ په پنځلسمه پانې هغه وخت چې اغا رضا خان د دويم ځل لپاره شاه ته واستول شو د خيرانی khairana جهانجانا jahanjhana شاملي shamli او کاندلا kandhla تانې ونيولې او له دغو ځايو څخه يې مرهټي تحصيلداران وشړل او د شاملي والي يې چې مقاومت يې وکړ، له تېغه وايست. کله چې د جنورۍ په پنځلسمه جهانخان د جمنا په ختيځه غاړه کې اونی luni ته راورسېد، نو دا وخت شاه ولي خان سرای مهر پرور sarai mihr- parwar نږدې ته ځان ورساوه.

## له مرهټانو سره تيت پرک جګړه:

د ربيع الثاني په څلورويشتمه (د جنورۍ شپاړسمه) د جهانخان پوځ له لوني څخه وخوځېد او له غرمې وروسته د رود ترڅنګ پايتخت ته مخامخ څرګند شو او له خپلې ماڼۍ څخه امپراتور او په چونۍ کې له ديوان خاص څخه نورو خلکو وليد. د شاه او شاه ولي خان تر امر لاندې اصلي پوځ ناريلا Narela ته راغی او خپل کمپ يې دلته وټاکه. د ناريلا په شاوخوا کې يو مرهټی افسر منکشوار د شاه ولي خان د ړومبني ليکې له جنګياليو سره

ونښت خو په ډېره اسانۍ سره د سلو تنو پليو او سورو د تلفاتو په ورکولو سره په شا وتمبول شو[19].

## نجيب الدوله له افغانانو سره يو ځای شو:

غازي الدين د جنورۍ په پنځلسمه د لومړي ځل لپاره د ښار په شاوخوا د استحکاماتو او سنګرونو په جوړولو باندې ټينګار وکړ او بله ورځ يې له نجيب الدوله څخه هيله وکړه چې په ډيلي باندې د شاه د راختلو مخه ونيسي او لږ تر لږه له هغه سره يو وار جګړه وکړي. نجيب خان په ځواب کې له هغه څخه دوه کروړه روپۍ وغوښتلې او په پټه يې له جهانخان سره خبرې اترې پيل کړې. د جنورۍ په اوولسمه وزير د راجګهات په غاړه د جهانخان د لارې د بندولو لپاره څو پونه (راکهالا) ځای پرځای کړل، خو توپچيان پيدا نه شول. په همدغه وخت کې د لاهور د ديوان لخپات رای وزاره بابو رام کها تري له وزير سره وکتل او د شاه له خوا د اغا رضاخان د مخکينې پيغام په څېر يې يو پيغام ده ته وسپاره. دده ټولو ملګرو او سلاکارانو د عباد الله خان کشميري پرته ده ته دا مشوره ورکړه چې لږ تر لږه په يوه برخه کې د جګړې جرئت وکړي او له خپل تندي څخه د بې ننګۍ او ډارنتوب تور داغ ليرې کړي، خو له دغه بې ننګه او ډارن کالبوت څخه د هېڅ شي هيله کېدلی نه شوه. دی په پټه باغ سي هزاري ته په ښتې شو او د نجيب الدوله د سيسې ته په چورت کې لاړ چې په هماغه مازيګر په ښکاره ډول له

(۱۹) تاريخ عالمګير ثاني ۹۱ الف- ۹۲ ب، طهماسنامه ۶۵ الف.

جهانخان سره خبرو اترو ته ورغی او د خپلو وطن پلورونکو طرحو د عملي کولو لپاره بیا راستون شو[۲۰].

## د غازي الدین غاړه ایښودل:

لکه چې پوهېږو د شاه ولي خان قوه سرای مهر پرور ته ځېرمه چې له بادلي سره نږدې دی رارسېدلې وه، په داسې حال کې چې احمد شاه د څو میلو په واټن د هغه تر شاه خپل کمپ وټاکه. د ربیع الثاني په شپږ ویشتمه (د جنورۍ اتلسمه) شاه د ډیلي استازی اغارضا خان او یعقوب خان له پیغام سره رخصت کړل چې په هغه کې شاه له مغولي امپراتور عالمګیر ثاني او دده وزیر غازي الدین څخه هیله وکړه چې شخصاً دده حضور ته ځانونه ورسوي او په دې ډول به د سولې په موادو بحث وشي[۲۱].

د ربیع الثاني په اووه ویشتم سهار (د جنورۍ نولسمه) وزیر عماد الملک غازي الدین د خان خانان، بهادرخان بلوڅ او عبادالله خان کشمیري په بدرګه د شاه د لیدنې لپاره وخوځېدل. له سرای مهر پرور سره نږدې د وزیر شاه ولي خان له خوا یې هرکلی وشو او د دواړو وزیرانو ترمنځ دوستانه خبرو اترو صورت ونیو. ورپسې دواړه د شاه د کمپ پر لور روان شول او شپه یې په سونیپت sonepat کې تېره کړه. بل سهار د جنورۍ په شلمه شاه نیرالا ته ولاړ او هلته یې د ډیلي په استقامت خپل ځای غوره کړ. په همدې ځای کې شاه غازي الدین ته د رسمي خبرو اترو اجازه ورکړه.

---

(۲۰) تاریخ عالمګیر ثاني، ۹۲ب سمین، تاریخ در حالات احمدشاه درانی، ۱۲، د ډیلي پېښې.
(۲۱) تاریخ عالمګیر ثاني، ۹۲ب.

شاه له ده څخه وپوښتل: (( تاسو د هند صدر اعظم یاست څنګه تاسو جګړه ونه کړه )) غازي الدين ځواب ورکړ: (( نجيب خان اعلی قوماندان و او هغه له تاسو سره متحد شو. له ده څخه سیوا په پوځ کې کوم بل قوماندان نه و. ما ده ته وویل چې لږ تر لږه یو وار خو جګړه وکړه خو ده موافقه ونه کړه له ما څخه پټ ستاسو اعلیحضرت کمپ ته لاړ. نور نو څنګه کېدلی شو چې زه پوځ برابر او وجنګېږم. ))

ورپسې خبرې له عمده بیګم سره د غازي بې پامی ته واوښتې چې د جونا بیګم gunna begam په پرتله د معین الملک او مغولاني بیګم یوه پاک لمنې لور وه. جونا بیګم د شپږ ګوتي علي قلي خان لور وه چې وزیر د ناروا اړیکو په ترڅ کې واده کړه. غازي الدین وویل: ((بیګم له ما څخه د قران مجید په پوښ باندې لیکلی قول اخیستی چې له هغې څخه به وروسته له کوم چا سره واده نه کوم. د علي قلي خان له لور سره هم ما کوژده کړې وه. د علي قلي خان خپلوانو هغه شجاع الدوله ته ورکړې وه، له دې امله په خپل قول باندې وفا لپاره ما لومړی هغه واده کړه چې قول پرځای شي. )) [۲۲]

د حکومت له چارو سره د تماس نیولو په ترڅ کې شاه وویل چې خان خانان ژمنه کړې چې که د وزارت چارې هغه ته وسپارل شي نو د هغه په مقابل کې به په شلو ورځو دوه کروړه روپۍ شاه ته ورکړي او د هغه سند اوس تیار دی، خو که غازي (غازي الدین- م) د همدغه مقدار د نیمايي ژمنه وکړي، دی به په خپل ځای پاتې شي. غازي الدین ددغه مقدار پیسو د راغونډولو

(۲۲) تاریخ عالمګیر ثاني، ۹۲ب-۹۳الف، طهماسنامه، ۶۵الف-ب، سیمین، ۱۲.

په برخه کې خپله ناتواني وښودله او ويې ويل چې دی په ډيلي کې همدومره اندازه شګې پيدا کولی نه شي، پيسې خو لاپرېږده.

شاه ورڅخه پوښتنه وکړه: (( په خپل کور کې څومره خزانه لرې. )) غازي الدين وويل: (( څوارلس زره نغدې روپۍ او د ځلورو لکو جواهرات سامان، نقره يې پيشقابونه او نور )). شاه امر وکړ چې دا ټول افغاني خزانې ته وسپارئ او صدراعظم شاه ولي خان يې له ده سره يوځيا ولېږه. شاه ولي خان نوموړی دې ته وهڅاوه چې د شاه د غوښتنې په سرته رسولو سره د ځان لپاره دغه لوړ مقام خوندي وساتي، خو څرنګه چې غازي بيا په خپله وضعه باندې ټينګار وکړ، نو د وزارت سند انتظام الدوله ته واستول شو. په همدغه وخت کې شاه امر وکړ چې د غازي ماندينه جونا بيګم دې بلخ ته واستوله شي او د همدې مقصد لپاره هغه سملاسي د بادلي badly کمپ ته ولېږدول شوه. لږ وخت وروسته نجيب الدوله په وزير اباد کې له خپل کمپ څخه راووت او په رسمي توګه يې اطاعت وکړ. شاه په ډېره خوشالۍ سره ده ته هرکلی ووايه او يوه قيمتي چپنه يې د هغه د اعزاز لپاره ورته وړاندې کړه، دغه راز د پايتخت اداره يې په خپله ګټه ده ته وسپارله[۲۳].

د وزير له شرمناک تسليمېدو او د پايتخت د بې دفاع پاتې کېدو سره سم مغولي امپراتورۍ د ډيلي په چونۍ کې له يوه تش په نامه امپراتور پرته د افغان په پښو کې پړمخ ولوېده. وارخطا ښاريان له خپلو کورونو څخه د خوندي ځای د پيدا کولو لپاره په تېښته کې شول، په داسې حال کې چې د وخت زامن ماجرا لټوونکي د لوټ او چور په انتظار وو. له دې امله شاه په

(۲۳) ثمين، حالت احمدشاه ابدالی، ۱۳-۱۴، تذکره عماد الملک، ۲۰۸، تاريخ عالمګير ثاني، ۲۹ب-۹۳.

همدغه ورځ (د جنوری شلمه) پنځو نسقچیانو ته امر وکړ چې د ښار خواته لاړ شي. کوتوال فولادخان هغوی په یوه هسک ځای باندې کېنول چې غریب خلک وځاري چې څوک ضرر ورته ونه رسوي. دغه کار په زړه پورې نتیجه ورکړه او زیات خلک خپلو کورونو ته ستانه شول.

جهان خان د ربیع الثاني په نهه ویشتمه (د جنوری یوویشتمه) د جمعې ورځ په ((خضر اباد گهاټ)) فرید اباد معبر (نکه) وتړي واوښت. ده هڅه وکړه چې دکې له جمنا څخه د ډیلي خواته خو دده قوه د سورج مال د جټانو او د انتاچې منکشوار تر امر لاندې مرټانو له خوا په شا ووهل شوه. دا وخت د ډیلي گاونډ ته د شاه د رارسېدو راهیسې لومړنۍ جمعه وه.

د جمعې د لمانځه پر وخت ځانمني او خپل ځان غوښتونکي ځایي غوړه مالان، عبدالاحد خان، درېیم بخشي او سیف الدین محمد خان کشمیري د مرحوم روشن الدوله جومات ته لاړل او له قاضي صدارالصدور او مفتیانو څخه یې په خپل سر وغوښتل چې خطبه دې د احمد شاه په نامه ولوستله شي. همدغه کار په جامع جومات کې هم تکرار شو. د تاریخ عالمگیر ثاني مولف وايي چې (( هېڅ یو منور سړی او دیني عالم په دې عنوان له خطبې سره مخالفت ونه کړ چې ووايي امپراتور (د وخت پاچا) لا ژوندی دی او په خپله چونۍ کې اوسي او د چا له خوا شړل شوی نه دی.)) عالمگیر دا خبر په تسبیح خانه کې واورېده او دا یې د خپل قدرت د زوال یوه بده علامه او شگون وگاڼه او د عبدالاحد خان د پیغام په رارسېدو سره یې سلطنتي

خـونې پرېښـودلې او لـه خپلـې کـورنۍ او خپلـو خپلوانـو سـره محقـرو استوګنځيو ته وخوځېد[۲۴].

## احمد شاه عالمګير د ډيلي له تخت څخه ليرې نه کړ:

د چونۍ د نيولـو لپـاره شـاه د ۱۱۷۰هـ کـال د جمـاد الاول پـه لـومړۍ نېټـه ( د ۱۷۵۷م کال د جنور دوه ويشـتمه ) پـه جديت سره ترتيبات نيـولي وو. شـاه د جنورۍ پـه درويشـتمه وزيـر اباد تـه رارو سـېد او بلـه ورځ جهانخـان د ډيلـي چونۍ ته ننوت چې د شـاه د ننوتلـو لپـاره د ترتيبـاتو څارنـه وکړي. د مغـولي امپراتورۍ سترو اشرافو او لويانو افغاني فـاتح تـه د درېـو ورځـو پـه اوږدو کـې د جنـورۍ لـه درويشـتمې څخـه تـر پنځـه ويشـتمې پـورې خپـل درنـاوی څرګند کړ.

څرنګه چې ده په خپله د ډيلي د تخت هيلـه نـه درلـوده نـو د هنـد د راتلـونکي امپراتور د ټاکنې لپاره زيات شمېر پيشنهادونه ورته وشول. ځينو اميرانـو لکه خان خانان او عبدالاحد خان هيله وکـړه چـې مرحـوم امپراتـور احمد شـاه زوی دې په پاچاهۍ کېني. په داسې حال کې چې نورو دغه د عمر لږوالي لـه امله د محمد شاه د ورور اقچې صاحب نوم پيشنهاد کړ. سره لـه دې هـم شـاه وويل: (( دغـهټول پيشـنهادونه مـې پـه زړه نـه لګېـږي. همـدا اوس عـالمګير ثاني په تخت ناست دی او داسې کوم کار يې نه دی کړی چې له سلطنت څخه ليرې او پرځای يې بل څوک راشي. د حکومت واکې دده پـه لاس کـې نـه وو، په حقيقت کې دا وزير و چې له ما سره خبرو اترو اوتړون تـه يـې لاس واچـاوه

(۲۴ ) د ډيلي پېښې، تاريخ عالمګير ثاني، ۹۳- ۹۴الف.

او د امپراتور د هندوستان په سلطنت کې تاييدوم او ملاتړ يې کوم. دا پرېکړه د جنورۍ پر ۲۵-۲۲ شپه (جمادی الاول پنځمه) وشوه او شاه سردار جانخان او مير يحيې خان درويش (د لاهور د نواب ذکرياخان زوی) امپراتور عالمګير ثاني ته په دغه پيغام سره واستول: ((د هندوستان سلطنت مې تاسو ته وسپاره سباسهار په شاهانه وياړ سره زما دليدنې لپاره راشئ.)) جهانخان شپه له ناصر روز افزون خان سره تېره کړه، په داسې حال کې چې يحيې خان خپل کور ته لاړ. بل سهار وختي امپراتور د مير يحيې خان، سمسم الدوله مير بخشي او سيد نياز خان په ملګرتيا او د جهانخان په بدرګه په وزير اباد کې د شاه د کمپ لور ته روان شول. شاه ولي خان، اصفجه نظام الملک او خان خانان له کمپ څخه لر. څه هغې خواته دده هرکلی وکړ. افغان اعليحضرت مغولي امپراتور ته ښه راغلاست وويل او له خپل ځان سره نږدې يې په يوه مسند کېناوه. له معمولي پوښتنو وروسته يې هغه ته داسې مبارکي ورکړه: ((زما وروره تاسو ته دې د هند د امپراتورۍ تخت مبارک او نېکمرغه وي. زه يوازې ځو ورځې ستاسو مېلمه يم.)) ورپسې دواړو له يو بل سره دوستانه خبرې وکړې او د شپې ډوډۍ يې په ګډه وخوړله. د خبرو اترو په ترڅ کې عالمګير د عماد الملک غازي الدين د بد سلوک شکايت وکړ او له شاه څخه يې هيله وکړه چې هغه ووژني او يا يې بندي کړي او يا دا چې افغانستان ته يې له ځان سره بوځي. شاه وويل: ((اوس چې ده ښېنه غوښتې او دده ژوند ښېل شوی نو دا به د سترو پاچايانو لپاره غوره نه وي چې په خپلو خبرو پښېمانه شي. زه دده ژوند ته څه تاوان نه اړوم. انشاءالله دی به په راتلونکي کې ستاسو د ميل پر خلاف

څه ونه کړي. سره له دې هم که له بده مرغه ده له تاسو سره بېوفايي وکړه نو ژر به په خپل حق ورسېږي.))ورپسې دوا ړو د همېشنۍ ملګرتيا په هيله خپلې لونګۍ سره بدلې کړې او شاه عالمګير ته قيمتي افتخاري کالي ورکړل چې په هغو کې د زر تارو (زري) خولۍ او د هغې جوغه، د عقاب د بڼکو يوه بڼکه، يوه زري چپنه او له سرو زرو څخه يو ډک پتنوس شامل وو. په همدغه وخت کې نوی وزير انتظام الدوله ته چې په رسمي توګه د دولت د لومړي رسمي مامور په حيث ګومارل شوی و، يو خلعت ورکړل شو. عالمګير او دده درباريان په هماغه ماښام ډيلي ته ستانه شول[26].

## شاه د ډيلي شاهي چونۍ ته ننوت:

جهانخان د جنورۍ په اووه ويشتمه امپراتور ته لاړ او کوتوال فولادخان يې ځان ته راوغوښت او هغه ته يې وويل چې شاه به بله ورځ د ډيلي چونۍ ته راشي. خان زياته کړه چې بازار بايد زيات تنظيم شي او کوم يو هندو په بازار يا د خونو په برنډو کې بايد ونه ليدل شي. کوتوال دا د ډهل په وهلو سره اعلام کړه. د جمعې په ورځ د جمادی الاول په اوومه (د جنورۍ اته ويشتمه) احمد شاه په وزير اباد کې له خپل کمپ څخه وخوځېد او په ډيلي کې د مغولي چونۍ لور ته لاړ. عالمګير د فاتح پوري fateh puri په جومات کې دده هرکلی وکړ او ښار ته د ننوتل يې په ډزو سره اعلان کړل. ښاريان خپلو کورونو ته وځغستل او د مځکې لاندې خونو کې پټ شول. څوک نه وو چې ساه وباسي او له هېڅ کور څخه کوم غږ نه اورېدل کېده. د

(۲۶) تذکره عماد، ۲۱۱-۲۱۳، تاریخ عالمګیر ثاني، ۹۵الف، ۹۷الف.

هندوستان تر ټولو ګڼه ګوڼه لرونکې ښار د یوه متروک او وران شوي ښار ګوتې ښه غوره کړه. دا وه هغه وېره چې د خلکو په زړونو کې پیدا شوې وه، خو ورځ په کرارۍ سره تېره شوه او خلکو د ازادۍ اسویلي وایستل. پوځ پیاده شو او د چونۍ د خندق شاوخوا یې د خپل کمپ په توګه وټاکله. د افغان بدرګه وال په بازارونو او د ښار په کوڅو کې خواره شول زیات ځایونه یې لوټ کړل او د ماندې بدلپورا مستعمره یې په حومه کې ولګوله[27].

لومړی اقدام چې شاه بله ورځ د جمادی الاول اتمه (د جنورۍ نهه ویشتمه) سرته ورساوه، د ښار د ساتنې لپاره د یوې اعلامیې خپرول و. ده خپل نسقچي باشي زعفران خان ته وویل چې په دې ډول اعلان وکړي: ((ما د ښار خلکو ته سوله او امنیت وباښه هېڅ پوځي باید چاته ځور او اذیت ورنه کړي، د هېچا کور لوټېدلی نه شي او نه څوک اسیر کېدلی شي. هېڅ یوه جلۍ یا ښځه د هغې له رضا پرته څوک باید واده نه کړي. که چا له دغو خبرو څخه تېری وکړ سخته سزا به ورکړل شي.)) نسقچي باشي ډېر ژر د ښار په لور غزېدلیو واټونو باندې نسقچیان ځای پرځای کړل او د پایتخت د امن لپاره یې ضروري ترتیبات ونیول. وارخطا شوي ښاریان بیا خپلو کورونو ته ستانه شول او د خپلو خوړو لپاره یې وریجې، غوړي، مستې د پسو او وریو غوښه په خوندي ځایونو کې کېښودل. د دغو ټولو احتیاطي اقدامونو په ترڅ کې یوازې له ښار څخه په بهر کورونو کې شاه ته د مغولي لوټمارو له خوا د لوټمارۍ راپور راورسېد. په خپلې اعلامیې باندې د ثابت پاتې

(۲۷) تذکره عماد، ۲۱۴-۱۵، تاریخ عالمګیر ثاني، ۹۸الف، ۹۹الف، د ډیلي پېښې.

کېدو په منظور ده هغوی ته سخته سزا ورکړه. د ((ډیلي پېښې)) وایي: ((د دوو یا دربو مغولي سربازانو پـزې پرې، نسونه څیري او د پزې په سوري کې یې غشي ور ښخ کړل او په دغه ډول یې د خپل عمل په سبب په بې عزتۍ سره په ښار کې خلکو ته وښودل شول. له دغه کار وروسته په ښار کې کراري شوه.))[۲۸] او امنیت منځته راغی.

په همدغه ورځ امپراتور عالمګیر په دیوان عام کې چې دربار په کې جوړ شوی و، له شاه سره وکتل. عبدالاحد خان (د عبدالمجید خان زوی) د تان او خلصه tan khalsa دیوان وټاکل شو او د صرف خاص sarf khas (د خاص صندوق) پیشکاری (مرستیالی) بابو جعفر خان ته وسپارل شوه. امر وشو چې له مخامخ لوري سره د ارتباط ټینګولو په منظور د جمو د رود پر سر یو پُل وتړل شي. هندوانو ته هدایت ورکړل شو چې د مسلمانانو سره د توپیر په خاطر په خپلو ټندو سندور ووهي او که چا دغه کار نه و کړی له هغه څخه دې جریمه واخیستل شي[۲۹].

## له ډیلي څخه ولجه:

وریسې شاه د غراماتو د لاس ته راوړلو خواته خپل پام واړاوه.

پخوانی وزیر غازي الدین عماد الملک اصفجه ته امر شوی و چې د خپل وزارت په دوران کې له شاهي جاهر خانې څخه خپلې خونې ته وړل شوي جواهرات ټول افغاني خزانې ته تحویل کړي. غازي د شاه ولي خان زړه

(۲۸) تذکره عماد، ۲۱۵-۱۶، د ډیلي پېښې.
(۲۹) د ډیلي پېښې، تذکره عالمګیر ثاني، ۹۹الف.

لاسته راوړی و ، خو کله چې له ده څخه غوښتل شوي اندازې څخه ځه بود نه شول، نو غازي الدين ته په زياتې بې عزتۍ او سپکاوي سره جزا ورکړل شوه دده يو غوره ياور په لرګو ووهل شو او په نتيجه کې يې د يوه کروړ روپيو په اندازه جواهرات او درې لکه اشرفۍ ( د سرو زرو يوې اشرفۍ بيه شپاړس روپۍ وه ) دده له خونې څخه وايستل شوې. ورپسې د خان خانان انتظام الدوله وار راغی چې د وزارت د څوکۍ په مقابل کې يې د دوو کروړو برابر روپيو ژمنه کړې وه. خو خان خانان د لومړي قسط يانې يو کروړ روپيو په ورکړه کې د ځنډولو چل ول په کار اچولی و او دا يې هم منلې نه وه چې د مغولاني بيګم د راپور سره دده پلرونو کومه خزانه ښخه کړې وي. له دې امله جهانخان امر وکړ چې د خان خانان د کور افسران سنګي بيګ خان او عبدالرحمن خان او د شاهي حرم بسنت خان دې په چې مخکې يې دده (جهانخان) خدمت کاوه په لرګيو ووهل شي. خو دغه کار هم کومه نتيجه ور نه کړه په دې سبب خان خانان د شاه حضور ته ولېږدول شو او ده ته وويل شول چې که په همدغه ورځ يو کروړ روپۍ ور نه کړي په ((درې پايه)) باندې به د لرګي وهلو لپاره وتړل شي. مغولاني بيګم د خپل اوښي ددغه غمجن حالت په ليدلو سره ټکان وخوړ او غازي الدين ته يې د مرستې کولو لپاره يو پيغام واستاوه. غازي الدين په دې فکر کې ولوېد چې ښايي د نوي او پخواني وزير ترمنځ حسادت به ددې سبب شي چې په نوي وزير باندې ظلم او تېری ده ته نسبت ومومي له دې امله دی د شاه حضور ته لاړ او له شاه څخه يې وغوښتل چې په عامه محضر کې خان خانان د متروکو وهلو او سپکاوي څخه معاف کړي. شاه وويل: (( زه پيسې غواړم که په سختۍ يا په

نرمۍ کېدلی شي، زه باید دغه پیسې اوس همدلته ترلاسه کړم. ماته ویل شوي دي چې د وزیر قمرالدین په خونه کې شل کروړه نغدې او جنس شته. له دغې خزانې څخه پرته ماته دغه ځوان سړی دوه کروړه روپۍ منلي او ما ورته د وزارت څوکۍ ورکړه. ولې دی دغه پیسې نه ورکوي.)) خان خانان له عامه متروکو وهلو څخه د لړزې په حال کې شاه ته وویل چې یوازې زما مور ((شولا پوري بیگم)) په دغه راز باندې خبره ده. دغه زړه مېرمن چې د یوه وزیر نگور او د بل یوه کونډه او د دربېم مور وه د شاه حضور ته راوغوښتل شوه. شاه ورته وویل: ((زه پیسې غواړم که تاسو د قمرالدین د خښې شوې خزانې ځای راوښود تاسو به زما لپاره د مور او خور حیثیت ولرئ او که داسې نه و، نو د گوتو د نوکانو لاندې به دې او سپنې مېخونه ټک وهل شي.)) بیگم وویل: ((ماته د خزانې اصلي ځای معلوم نه دی زه یوازې دومره پوهېږم چې هغه په همدې حویلۍ کې خښه ده)) برخوردارخن او نور نقب وهونکي ((کلنگ وهونکي)) سربازان د قمرالدین حویلۍ ته ولېږل شول او تر غرمې پورې دوی په دې بریالي شول چې د شپاړسو لکو روپیو خزانه مونده کړي. د ((تذکره عماد الملک)) مولف په حواله د خونې د غولي کیندل او د چتونو ماتول تر درېو ورځو پورې دوام وکړ او د یو نیم کروړ په اندازه د نغد او جنس خزانه لاسته راغله. پورتنی مولف وایي: (( هغو کسانو چې د کیندلو پر وخت کې حاضر و موږ ته جوته کړه چې د حویلۍ د مځکې لاندې د سړي د ونې په اندازه دوه سوه طلایي شمعدانونه راوایستل شول. په دې سربېره به زیاته اندازه قیمتي الماس، زمرد، سره زر، یاقوت، مرغلرې، په خارج کې جوړې شوې غالۍ او پزي او په سروزرو

او سپینو زرو پوښ شوې امساګانې د شاه لاسته ورغلې. سبحان الله! د خلد مکان (اورنګزېب) له زمانې راهیسې د محمد امین خان او قمرادلین خان او یاکلنه خزانه په یوه ورځ کې د احمد شاه ابدالي په بخت ورسېدله او خان خانان ته له افسوس، آهونو او په کور کې له یوې ډېرې خاورې څخه سیوا څه پاتې نه شول. دا خو لا څه کوې چې افغانانو له حویلۍ څخه تر روانېدو دمخه له حرم سرای څخه سل تنه ښکلې ښځې خوښې او له ځان سره یې بوتلې. سره له دې هم په دویم انتخاب کې دوی یو ازې هغه ښځې له ځان سره وساتلې چې ډېرې ښکلې وې او پاتې یې بېرته خپل حرم ته ولېږلې[۳۰].

د نغدو پیسو او مال لپاره د شاه پلټنه په همدې ځای بس نه شوه.

د ښار د شتمنو اشرافو او لویانو په سترو ماڼیو کې د یوې منظمې پلټنې هدایت ورکړل شو. د سمسم الدوله حویلۍ په همدې شان د خزانې د موندلو لپاره وکیندل شوه. حتی د کوتوال فولاد خان خونه هم خوندي نه شوه او له خپلې ټولې شتمنۍ سره یې چور کړه. د هغو فراري کسانو خونې لکه خانه سمان سعدالدین خان، راجانګر دیوان خلصاو تن khalsa-o-tan او جواهرات خرڅوونکې هیرانند هم په همدغه سرنوشت اخته شول. دغه ټولې خونې ماتې او هر څه چې ورڅخه د افغانانو لاس ته ورتللی شول، ترې یې یووړل[۳۱].

د ډیلي په هره خونه باندې باج کېښودل شو او د لاهور د ذکریا خان زوی میر یحیې خان ته ددغه باج د راغونډولو دنده وسپارل شوه. ښار په یو شمېر

(۳۰) د ډیلي پېښې، تاریخ عالمګیر ثاني، ۹۹الف-۱۰۰ب، تذکره عماد، ۲۱۸، سمین، ۱۴-۱۶س. پ. ډ، یوویشتم ټوک ۹۶، ۹۸، ۱۰۰.
(۳۱) تذکره عالمګیر ثاني، ۱۰۰ب.

محلو وو بشل شو او په هر یوه برخه کې د راټولولو لپاره دفترونه خلاص شول چې کور په کور هغه لاس ته راوړي. د تاریخ عالمګیر ثاني مولف هغه بدمرغه حالت بیانوي چې د مغولي امپراتورۍ مرکز وربانديې په دغو ورځو کې اخته شوی و: (( یحیې خان له یوه (کلاه پوش) کاتب سره د کوتوال ترڅنګ د روشن الدوله په کترا مدرسه katra madrasa کې د ټولولو دفتر جوړ کړی و او شتمن خلک د مکاتیبو په وسیله په نامه راوغوښتل شول. د ښار په هره یوه کوڅه کې یو (کلاه پوش) سردار له خپلو پوځیانو سره ډېره و. د خونو په حسابولو سره دوی له هر یوه کور والا څخه د هغوی له توان څخه جګ باج غوښتل. وهل، ټکول او په زور اخیستل د ورځې باب و. د ځورولو له ډار څخه خلکو خپلې ګانې، سامان او جامې خرڅ کړل خو د اخیستلو څوک پاتې نه وو. یوه توله سره زر (۱۸۰ دانې لس روپۍ، سپین زر دوه تولې په یوه روپۍ او مخلوط سپین زر درې تولې په یوه روپۍ خرڅېدل. درې منه لوښو (ظرفونو ) یوه روپۍ بیه لرله. زیاتو خلکو د غربت له امله زهر وخوړل. ډېر خلک له دې امله چې په بدن باندې د اور لګولو له امله کړول شوي وو، مړه شول. حتی د هغو کسانو کورونه لوټ او وکیندل شول چې باج یې ورکړی و. له دغه مصیبت څخه هېڅوک په ښار کې خلاص نه شول. کورونه ویجاړ شول. دغه کړاو د جمادی الاول له څوارلسمې څخه تر پای پورې (۴-۲۰ د فبرورۍ) چې د شاه د تګ له اوازې سره برابره ده، دوام وکړ، د کوڅو له باج ټولونکو څخه وغوښتل شول چې عایدات تحویل کړي. باج ټولوونکو بیا له هغو کسانو څخه د ورکړې غوښتنه وکړه چې لږ

څه پخوا يې خپل باج ورکړی و. وهل او وژل يو ځل بيا څرګند شول. هغه کورونه چې لومړی ځل پاتې شوي و، لوټ شول[۳۲].

دا د يادونې وړ ده چې د ښار د نجباوو د لوټولو او له هغو څخه د پيسو د جبري تحصيلولو په دغسې شرايطو کې مغولاني بيګم د شاه د جاسوس په توګه کار کاوه او د دغه کار په بدل کې شاه هغې ته د سلطان ميرزا لقب وبانبه او څه موده وروسته ورته د ((بست جلندر دوابه))، جمو او کشمير سيمې دفيف (تيول) په توګه ورکړل شوې.

## د شاه په نامه سکه ووهل شوه:

د ۱۷۵۷ کال د جنورۍ په دبرشمه (د ۱۱۷۰هـ جمادی الاول نهمه) د ډيلي د افغاني اردوګاه په شرابخانه کې د احمدشاه دراني په نامه سکې ووهل شوې د دغو سکو په مخ دده د پخواني سکې سره يو شان ليکنه چې په کندهار کې وهل شوې وه، معلومېږي او په دې برسېره دده د سلطنت يوولسم کال او ۱۱۷۰هـ کال په هغو کې علاوه شوی دی[۳۳].

## له يوې شاهزادګۍ سره د شهزاده تيمور واده:

لکه چې مونږ پوهېږو شاه د خپل زوی شهزاده تيمور لپاره د يوې شهزادګۍ د واده غوښتنه کړې وه او په همدې سبب يې له سرهند څخه د اغارضا خان په وسيله يو پيغام استولی و. دا وخت د امپراتور عالمګير ثاني رضايت حاصل شوی و او شاه د امپراتور مانۍ ته شل زره نغدې روپۍ شل پتنوسه

(۳۲) تاريخ عالمګير ثاني، ۱۰۰ب- ۱۰۱الف، سرکار، د مغلو د امپراتورۍ زوال، دويم ټوک، ۱۰۱-۱۰۲.
(۳۳) د ډيلي پېښې، تاريخ عالمګير ثاني، ۱۰۱ب.

کالي او شل پتنو سه شیریني باب و استول ( د جمادی الاول دوریشتمه، د فبروری دیارلسمه ) د جمادی الاول په څلور ویشتمه نېټه شهزاده ته ګوهر افروزبانو بیګم د امپراتور عالمګیر لور چې محمدي بیګم یا زهرا بیګم هم نومېده واده شوه. د سرهند سیمه شاه ته د شهزادګۍ د جهیز په توګه ورکړل شوه[۳۴].

د شاه او امپراتور عالمګیر ثاني ترمنځ یو تړون لاسلیک شو او په هماغه ورځ شاه په کلکه توګه د جټانو په خلاف خپل تیاری ونیو او یو سترتوب یې بالا بهګر ballabhagarh ته ولېږه[۳۵].

## عمده بیګم غازي الدین ته واده شوه:

د جمادی الثاني په لومړۍ شپه ( د فبروری ۲۰-۲۱ ) د مغولاني بیګم لور عمده بیګم د شاه په خپل حضور کې عماد الملک غازي الدین ته واده شوه. د غازي الدین په خپل قول چې غلام حسین سمین راوړی دی شاه د مهربانۍ له مخې ډېر خوشاله شو چې د (خینه) او ((نکاح)) مراسم برابر کړي او هغه ته یې پنځه زره روپۍ او خپل یو شال ورکړ او ورته یې وویل: ((له دغې ورځې وروسته زه تاسو د خپل زوی په حیث شمېرم. په هر څه کې نېکمرغه او خوشاله اوسې.))[۳۶]

---

(۳۴ ) تاریخ عالمګیر ثاني، ۱۰۱ب-۱۰۲الف، تذکره عمادالملک، ۲۳۷، طهماسنامه، ۶۵ب ۶۶ب د ثمین په حواله چې غازي ورته بیان کړی دی، امپراتور په خپله خوښه د شهزادګۍ لاس ورور ړاندې کړ او شاه په تردد سره هغه ومانه، اوولسم مخ. د (ډیلي پېښې) د واده نېټه د جنورۍ له ۳۰-۳۱ پورې ګڼي.

(۳۵ ) د ډیلي پېښې.

(۳۶ ) تاریخ عالمګیر ثاني، ۱۰۲الف، ثمین ۱۶، طهماسنامه، ۶۶الف، تذکره عماد، ۲۳۸ خزانه امیرا، ۹۹-۱۰۰.

واده په مراسمو ترسره شو او شاه غازي الدين ته دوه لکه روپۍ، دوه هاتیان، څلور اسان ورکړل او د فرزند خان لقب يې وروباښه.

غازي الدين خپلې نورې ښځې طلاق کړې جونا بیګم (د علي قلي خان لور) د ((ډيلي پېښې)) په حواله مغولاني بیګم ته وسپارل شوه چې هغه ته د کنیزې په حیث کار وکړي.

# څوارلسم فصل

## د جټانو پر خلاف د قوي لېږل:

شاه په داسې يوه حالت کې د مرټه وو او جټانو د سرکشۍ روحيه درک کړه چې ستر مغول او غټ اشراف د افغان په پښو کې په بشپړه توګه پړمخ پرېوتل او د خپلې امپراتورۍ او خلکو د دفاع لپاره يې حتی يوه کوچنۍ ګوته هم ونه ښوروله او تر دې اندازې چې د خپلو ګرانو او نږدې کسانو پت يې هم خوندي نه کړ. همدا خلک وو چې دده له پوځ سره يې اصلاً لږ څه مخالفت وښود.

## له سورج مال جټ سره د غازي الدين مذاکرې:

کله چې ((اميرالامرا)) نجيب الدوله له غازي الدين څخه لاس واخيست، نو غازي د شاه پر خلاف له سورج مال جټ څخه د مرستې غوښتلو په لټه کې شو. د ۱۷۵۷ کال په نوامبر کې ډيلي ته په هند باندې د شاه د بريد خبر راورسېد. په دغه وخت کې د غازي يو نږدې باوري دوست عبادالله خان په دې نظر و چې نجيب الدوله د اتکا وړ کېدلی نه شي او ده (غازي) ته يې د مرټانو څخه د مرستې اخيستلو پيشنهاد وکړ.

خو څرنګه چې د مرهټانو پوځي مرکز ډېر لیرې و او د بهارت پور د جټانو مشر نږدې په لاس راتلی شو، نو د راجا نګر مال پیشنهاد چې ویل یې له بهارت پور څخه دې سورج مال او د ایتاوا څخه دې یو مرټی افسر انتا جي منکشوار راوبلل شي، د منلو وړ وګرځېد. د وزیر په خپل لاس یو شاهي فرمان او یو مکتوب ژر جټ ته واستول شو. انتا چې منکشوار هم راوغوښتل شو. سورج مال دعوت ته غاړه کېښوده او تیلپات ته چې د تذکره عمادالملک په قول (۱۲۱-۲۲) (تل کیشن داس) ورغی او دلته یې له نګرمال سره خبرې اترې پیل کړې. سورج مال په دې نظر و چې په لومړي پړاو کې د جود پور، جیپور او نورو راجپوتي راجاګانو په مرسته باید مرهټان د ((ناربادا)) د سیند سویل لور ته په شټ وو هل شي. کله چې په دغه کار سره د هېواد امنیت د دوی له لوټمارانو څخه تامین شي، نو ورپسې د احمدشاه دراني پر خلاف د وزیر قمرالدین د وخت په څېر یوه متحده قوه په کار اچول کېدی شي، خو غازي الدین د دې پلوی نه و چې مرهټان بند کړي. په دې ډول د دغه سیاسي اختلاف په سبب خبرې اترې له ناکامۍ سره مخامخ شوې او سورج مال د ۱۷۵۲ کال د نوامبر په دریمه اوونۍ کې خپل هېواد ته په خواشینۍ سره په شټ لاړ. په عین حال کې دا هم ویل شوي چې د نجیب الدوله له او سورج مال ترمنځ خبرې اترې تر یوې اندازې د ډیلي د وزیر او د بهارت پور د جټانو د مشر ترمنځ د اختلاف عامل ګڼل کېږي. د دغو ټولو سره سره بیا هم سورج مال خپل زوی د ډیلي ګاونډ ته ولېږه چې هلته د یوه خطر د پېښېدو لپاره چمتو اوسي[1].

---

(۱) تذکره عماد ۱۵۸-۶۲، تاریخ عالمګیر ثاني، ۱۲ب-۸۴الف.

## افغانانو مرهټانو ته ماتې ورکړه:

انتاجي منکشوار د ۱۷۵۲ کال د دسمبر په د برشمه نېټه د جمو له ختيځې خوا څخه شاهدرې ته نږدې راورسېد او د غازي له لارښوونې سره سم يې هڅه وکړه چې د جنورۍ په شپاړسمه د شاه ولي خان د درانيانو څپه ودروي. شاه ولي خان دا وخت د مغولي پايتخت لور ته د تګ په لار کې په ناريلا باندې د بريد په حال کې و. خو د استحکاماتو د نه درلودلو له امله دی (انتاجي) په شا وتمبول شو او د په ختې کېدو په وخت کې د روهيله وو له خوا چې مشر يې (نجيب الدوله) په پټه احمد شاه ته تسليم شوی و، تر يرغل لاندې راغلل. سره له دې هم منکشوار د جنورۍ په يوويشتمه نېټه د سرور خان په ماتولو بريالی شو، چې شاه ولي خان د فريد اباد د لارې د بندولو لپاره استولی و، سرورخان د جګړې په ډګر کې څلور سوه تنه له لاسه ورکړل او په همدغه شمېر سره اسان د فاتح لاسته ورغلل، خو د انتاجي مقاومت بالاخره د فبرورۍ په لومړۍ نېټه د سردار جانخان له خوا پای ته ورسېد. د روهيله وو په هدايت د دراني قوماندان يو شل زره کسيز پياوړی پوځ په مرهټانو يرغل وکړ او هغوی يې له ماتې سره مخامخ کړل او هغوی په ډېره سختۍ سره وکولی شول لاره ځان ته خلاصه او د سورج مال جټ په سيمه کې متورا ته وتښتي. انتاجي د جګړې په ډګر کې زر تنه مړي له ځان څخه پرېښودل. له هغو څخه دوه سوه تنه يې له عادي پوځيانو څخه په رتبه کې جګ وو. بريالي درانيان د جټانو او مرهټانو د شپږ سوو پرې کړيو سرونو سره ډيلي ته راستانه شول او شاه هر يوه دراني ته ددغه کار په بدل کې اته روپۍ انعام ورکړ. په دې غوڅې ماتې سره مرهټانو بيا تر هغو پورې

چې شاه په هند کې و له درانیانو سره توري وانه ازمایلې او د دوی مخالفت له شاه سره پای ته ورسېد[۲].

## جټ د شاه اطاعت ونه مانه:

خو په ځان غره جټ لا تراوسه پورې ماتې خوړلې نه وه او له قید څخه بچ پاتې و. دا هم سمه ده چې ډیلې ته د احمد شاه له رارسېدو سره سم سورج مال لکه چې سمین په خپل اثر (حالات احمد شاه ابدالی ۱۴) کې وایي د تسلیمېدو لیک لېږلی و او په لومړي سر کې یې د شاه پر خلاف د غازي ترڅنګ له جګړې سره موافقه کړې نه وه. ده هغه عرضپاڼه لاسلیک کړه چې شاه ته د خان خانان انتظام الدوله، نګرمال او نورو له خوا وړاندې شوه او له ده څخه یې د پنځوسو لکو روپیو د ورکړې غوښتنه کوله په دې شرط چې دی غازي د اندس هغې خوا ته د زنداني په توګه ولېږي او په دې ډوله هغه ته بیا د هغه لور ته د ستنېدو اجازه ور نه کړي، مګر دا چې مرتان له ده سره په دې کار کې مرسته کړې، شاه له ده څخه غوښتي وو چې حضور ته یې راشي او باج ورکړي او دده تر بیرغ لاندې خدمت وکړي. خو جټ نه یوازې دده غوښتنو ته اطاعت ونه کړ، بلکې له متوار څخه د خپلې پیاوړې او پخې چونۍ (کمهیر) خواته یې ځان وایست او خپل زوی جواهر سنګ یې د

(۲) تذکره عماد، ۲۰۱ – ۲۰۵، اس. پ. ډي، یوویشتم ټوک، ۹۵، ۹۹، ۹۶، ۱۰۳، د ډیلي پېښې، سرکار، د مغولو د امپراتورۍ زوال، دویم ټوک، ۱۱۰ – ۱۱۴، انتاجي له درانیانو سره د خپلې جګړې نېټه چهارشنبه د ماګهـ (د هندوانو میاشت – م) د لومړۍ نیمایي څوارلسمه نېټه ښودلې چې د فبروري له دویمې او درېیمې نېټې سره سمون خوري. اس. پ. ډي، یوویشتم ټوک، ۹۹.
په متورا کې انتاجي منکشوار هڅه وکړه چې سورج مال د شاه په خلاف جګړې ته وهڅوي، خو سورج مال دا رد کړه چې د هغو لپاره به ونه جنګېږي چې د ځان لپاره جنګېدلی نه وي او داسې یې وویل: ((ایرانی (افغانی) پاچا د هند امپراتورۍ په پنځوسو زرو لښکر سره ونیوله. هیڅا په هغه ډز ونه کړ او هېڅ سړي د خپل ژوند قرباني ور نه کړ. زه څه ته ارزښت ورکړم؟)) د انتاجي منکشوار لیک وګورئ. اس. پي. ډي، یوویشتم ټوک ۹۹– ۱۱۲ مخ.

متورا د دفاع لپاره واستاوه. نه یوازې په همدومره یې اکتفا وکړه، بلکې په دې برسېره هغو شتمنو خلکو ته یې پناه ورکړه چې له ډیلي څخه متورا ته تښتېدلي و او د ځینو غوره پنا وړونکو په سپارلو کې یې د شاه استازي ته د رد ځواب ورکړ. ده یوازې یو سیاسي او غلوونکې ځواب په دې ډول شاه ته واستاوه: ((کله چې لوی زمینداران د اعلیحضرت حضور ته راشي، نو دغه غلام به هم شاهانه درګاه مچ کړي، څنګه کېدی شي زه راجا نګر مال او نور چې ما ته یې پناه راوړې تاسو ته درولېږم.))[۳]

## له جواهر سنګهـ جټ سره تیت پرک جګړې:

شاه د غره جټ په خلاف د پوځي یرغل د کولو په باب له تصمیم نیولو سره سم ((ګاهي)) (د خوړو او وښو د برابرولو ډله) د فرید اباد لور ته ولېږل چې د پوځ لپاره خواړه او د څارویو واښه راغونډ کړي.

جواهر سنګهـ دا وخت تصادفاً د بالا بهګ په ګاوندي چونۍ کې و. ده له خپلو پنځو یا شپږو زرو سورو سره بهر ته ور ودانګل او ګاهیان یې تباه کړل او نږدې یو سلو پنځوس آسونه یې د غنیمت په توګه وتښتول[۴].

شاه ددغه خبر په اورېدو سره ډېر زیات په غوصه شو او په هماغه شپه یې محمدزی عبدالصمد خان ته امر وکړ چې ژر د پېښې ځای ته ځان ورسوي.

---

(۳) سمین، ۱۴، تاریخ عالمګیر ثاني، ۸۳ب- ۸۴الف، سرکار دویم ټوک، ۱۱۴- ۱۱۵، د ډیلي پېښې د امبار اوجود پور راجا ګانو خپل ځانونه د ابدالي خادمان وبلل او د مرتیانو څخه د خپلو ځانونو د خلاصون لپاره یې احمدشاه دعوت کړ او ددغه کار په بدل کې یې دده خدمت کول ومنل. دوی له ابدالي سره جګړه کولی نه شوه سورج مال جټ یوازې یوه استثني و، خو ده په یوازې توګه څه کولی شول ده کولی شول پیسې ورکړي او خپل ملک ته نجات ورکړي. که چاله ده سره مرسته کولی نو ده به ښایي جګړه کړې وه، خو دی له مرتیانو څخه بیرېده. اس. پي. ډي یوویشتم ټوک یو سلو یو–یو سلو شلم مخ وګورئ.
(۴) سمین، ۱۶ کننګوجټان، لومړی ټوک ۹۸-۹۹، تاریخ مظفري، ۵۴۲.

ده ته لار ښوونه وشوه چې د یوه یا دوو کاسو په واټن کمین ونیسي او سل سواره د دښمن سره د مقابلې لپاره ولېږي او ورپسې هغوی د دښمن د غولولو لپاره د جګړې له ځای څخه دغه کمینګاه ته راپه شا شي. دغه کار سرته ورسېد او جواهر سنګهه تقریباً په لومه کې کېوت او د غنیمت د لاسته راوستلو څخه سوا، د هغه زیات افراد ووژل شول. خو شهزاده جټ په هوښیارۍ سره له دغه لومې او ګرفتارۍ څخه ځان خلاص او بالابهګر ته وتښتېد.

افغانانو یو شمېر کلي رنګ او تر هغه اندازې چې ددوی په لاس ورتللی شول د هماغومره خلکو سرونه یې پرې کړل او د ډیلي لور ته د پنځه سوه پرې شویو سرونو سره راوګرځېدل[5].

## شاه د جټ مشر پر خلاف حرکت وکړ:

شاه د ۱۱۷هـ کال د ربیع الثاني په دویمه ( د ۱۷۵۷م کال د فبرورۍ ۲۲ ) نېټه د خپلې خزانې جواهراتو او مالونو له ترلو وروسته د جټ سیمې خواته روان شو. امپراتور عالمګیر ثاني، خان خانان انتظام الدوله، نظام الملک میر یحیی خان او نور دده د خدای پامانۍ لپاره هغې خواته لاړل او له ((تکیه غلام سعادت خان درویش)) سره هغوی ته د ډیلي پر لور د ستنېدو اجازه ورکړل شوه. شاه په خضر اباد کې دوه ورځې دمه وکړه (فبروري ۲۳-۲۴ ) عالمګیر د فبروري په درویشتمه (جمادی الثاني درېیمه ) له ده سره په دغه ځای کې وکتل او په ډیلي کې د پاتې شویو افغانانو د ظلم او تېري په باب

(۵ ) سمین ۱۶ کننګوجټان، لومړي ټوک، ۹۸-۹۹، تاریخ مظفري ۵۴۲.

يې ده ته شکايت وکړ. عالمګير وويل: ((تاسو دلته راغلئ خو ستاسو افرادو په ډيلي کې د ښاريانو وژلو ته دوام ورکړ)).

شاه له مغول سره دوه سوه تنه سواره د بدرګې په توګه ولېږل او هغو ته يې لارښوونه وکړه چې ((که هر کلا پوښ په ښار کې وليدل شو نو بايد ووهل شي او له هغه ځای څخه يې وشړئ)). دغه کار د کوتوال فولادخان د زوی عتيق الله خان او بسنت خان په وسيله عملي شو او په نتيجه کې يې ډېر ژر په ښار کې کراري رامنځته شوه. بله ورځ د فبرورۍ په څلورويشتمه غازي الدين له شاه سره د جټانو پر خلاف د جګړې لپاره افغاني کمپ ته راورسېد[۶].

د فبروري په پنځه ويشتمه شاه له خضر اباد څخه وخوځېد او په بدرپور کې تم شو او دلته ورسره مغولاني بيګم يوځای شوه. بل سهار شاه فريد اباد ته حرکت وکړ چې دا ځای د بالابهګر په شمالي شپږ ميلۍ کې پروت دی. په لومړي سر کې شاه دا تصميم نه درلود چې بالابهګر ونيسي، خو کله چې په هماغه ورځ محمدزي عبدالصمد خان د جټانو پر خلاف له عملياتو څخه راستون شو، نو ده ته خبر ورکړل شو چې جواهر سنګهـ له لومې څخه خلاص شوی او بلابهګر ته تښتېدلی دی. پر دې اساس شاه په خپل پروګرام کې بدلون راوست او ددغې چونۍ د ژر نيولو تصميم يې ونيو. دا د جټ يوه ډېره کمزورې چونۍ وه او د هغې په سقوط سره د دغو ياغي خلکو پر خلاف د يوه غوره پوځي بريد هيله کېدله[۷].

---

(۶) تاريخ عالمګير ثاني، ۱۰۲الف- ۱۰۳الف.

(۷) ثميم، ۱۶، ۲۴، سرکار دويم ټوک، ۱۱۶، کننګو، جټان لومړی ټوک، اته نوي يم–نهه نويم مخونه.

## د احمد خان بنګښ عرض او خواست:

د فرید اباد په کمپ کې شیر اندازخان یا په بل نوم سید محمد صالح د غلام حسین خان ثمین په ملګرتیا د شاه حضور ته ومنل شو او د فرخ اباد د احمد خان بنګښ خواست او عرض یې هغه (شاه) ته وړاندې کړ. شاه لا په ډیلي کې دی (احمد خان) خپل حضور ته غوښتی و، بنګښ زړه نا زړه و، خو د شاه او د هغه د وزیر شاه ولي خان له خوا د مصرانه او کلکو مکتوبونو په رارسېدو سره ده سملاسي جرګه راوغوښته او هغوی ته یې د اموضوع وړاندې کړه. شیر اندازخان پیشنهاد وکړ چې شاه ته به د استازي په توګه لاړ شي. دده پیشنهاد ومنل شو او دی د شاه دربار ته وخوځېد. شیر اندازخان تصادفاً د شاه ولي خان په خېمه کې د فبرورۍ په شپږ ویشتمه نېټه په فرید اباد کې له غازي الدین خان سره وکتل. د خبرو اترو په ترځ کې غازي د احمد خان بنګښ له خوا د شاه په عنوان عریضه ولیدله چې په هغې کې لیکل شوي وو چې که د شجاع الدوله سیمه ده (احمد خان) ته ورکړل شي، دی به شاه ته د بنګال د شپږو کروړو روپیو برسېره دوه کروړه روپۍ شاه ته ورکړي. غازي پیشنهاد وکړ چې مکتوب دې په دې ډول واړول شي: ((که شجاع الدوله زما لاس ته راغی زه به دوه کروړه روپۍ تاسو ته درکړم، خو که چېرې دی له خپلې شتمنۍ سره کومې بلې خوا ته وتښتېد، نو په کال کې به یو کروړ درولېږم. د بنګال لپاره به زه په دوو کلو کې پنځه کروړه روپۍ درته وسپارم چې دا اندازه په مکتوب کې شپږ کروړه ښودل شوې وه)) مکتوب په دې ډول اصلاح او بله ورځ د فبرورۍ په اووه ویشتمه نېټه هغه وخت وړاندې شو چې شاه داسې وفرمایل: ((ته یو سید یې، مطمین

او سه ستاسو غوښتنې به ومنل شي. زه دې هېواد او سلام د پیاوړتیا او د مرتانو غوندې کفارو د نابودولو لپاره راغلی یم. ما جنګ بازخان ته پیغام استولی دی. احمدخان ته ولیکه چې تیاری ونیسي.))[8]

## د جټ سیمه تر پښو لاندې شوه:

کله چې شاه پیشنهاد وکړ چې د بالابهکر د کلابندۍ لارښوونې به په خپله وکړي، نو په دغه وخت کې یې سردارجانخان او نجیب الدوله له دغو اوامرو سره د شلو زرو افرادو په بدرګه ولېږل: ((د لعنتي جټ سرحدونو ته لاړ شئ او هر هغه ښار او سیمه لوټ او ویجاړه کړئ چې دده په لاس کې دي، د متورا ښار د هندوانو یو سپېڅلی ځای دی کېدی شي هغه ټول له تېغ څخه وباسي. په دغه پاچاهۍ او هېواد کې هېڅ څه پرېنږدي. تر اکبرا اباد (اګرې) پورې هېڅ شی پرې نه ږدي چې ولاړ اوسي.)) دغه راز شاه د خپلو (نسقچیانو) په وسیله پوځ ته یو عمومي امر وکړ چې (( هر څېرې چې دوی ځي له ځان سره دې اوراو توره یوسي، هر څه ولجه چې د دوی لاس ته ورځي هغه دوی ته د انعام په توګه ورکول کېږي. هر څوک چې د کفارو سرونه پرې کړي او را یې وړي نو باید د وزیر اعلی د خېمې په مخکې یې واچوي. دغه سرونه به وشمېرل شي او د هر یوه په مقابل کې به له حکومتي بودجې څخه پنځه روپۍ ورکړل شي.))[9]

## شاه بالابهکر ونیو:

(۸) ثمین، ۳، ۱۰، ۱۷، ۹.
(۹) ثمین، ۲۳ سرکار دویم ټوک ۱۱۷، کننګو، جټان، ۹۹–۱۰۰.

ورپسې شاه د بالا بهګر چونۍ تر کلابندۍ لاندې راوستله. شهزاده جواهر سنګهـ دلتـه لـه دوو تنو مرهټي پناه وړونکو انتاجي منکشـوار او شمشـیر بهادر سره یوځای لـه منورا څخه راغلی و. جټ پـه زړورتیا سره لـه چونۍ څخه دفاع وکړه خو احمد شاه په خپله د کلابندۍ تنظیم په لاس کې نیولی و او دده پنځو جګ خولي هاوان توپونو داسې ډول ګولۍ ویشتلې چې لـه (دوو کوشیر شویو او سپنیزو نیم کرو څخه جوړې شوې وې او پـه مځکـه باندې له لګېدو وروسته چاودېدلې او په مځکه کې یې تخریبات خورېدل) ددغو توپونو زاویـه پـه پرلـه پسې ډول بدلېدلـه او پـه بالابهګر بانـدې یې ورانوونکي بمباردمان وکړ او چورلکي توپونه او پلتـه ییز توپونه یې چې ددفاع کوونکو یوازینۍ وسیله وه په داسې توګه له کاره وایستل چې په یـو څو ساعتونو کې یې ددغه ځای دفاع ناممکنه کړه. جټ شاهزاده نور نـو نـه شول کولی د افغاني برلاسې ډزو په مقابل کې مقاومت وکړي، نو د شپې لـه تیـارې (د مـارچ دربیمـه) څخـه پـه ګټې اخیسـتنې سره د قزلباشـانو کـالي واغوستل او خندق ته وروښوییدو او د شاه د پوځونو په منځ کې یې ځان تېـر کړ او جمنا خواته وتښتېد.

افغانانو پـه یوه نابېره برید سره چونۍ ونیوله او د هغې مسکونین یې ټول له تېغـه تېـر کـړل. دوولـس زره نغـدې روپـۍ، د سـرو او سـپینو زرو لوښـي، څوارلس اسان یوولس اوښان، د غلو او جامو یوه ستره زېرمـه ددوی لاسـته ورغله[١٠].

---

(١٠) د ډیلي پیښې تاریخ عالمګیر ثاني ١٠٣ب-١٠٥الف، تذکره عماد، ٢٤٠، شاهنامه احمدیه، ٢٠٣-٢٠٤ سرکار دویم ټوک، ١١٦-١١٧، کننګو، لومړی ټوک، ١٠٠-١٠١.

## د متورا لوټول:

له بلې خوا جهان خان د نجیب الدوله په لارښوونه خپل قتل و قتال او د سرونو د پرېکولو عملیات په ډېر زیات قوت او لویه پیمانه پیل کړل. دی نابېره د متورا په بېګناه ښار ګوډې باندې راننوت سره له دې چې جهانخان ناڅاپه په دغه ځای یرغل وکړ بیا هم شهزاده جوهر سنګهـ او دده ((پیرو جټانو تصمیم ونیو چې یرغلګر به یوازې د دوی په مړو جسدونو باندې وکولی شي د براجا سپېڅلی پایتخت ته ننوزي. دی د فبرورۍ په اتــه ویشتمه له پنځو زرو تنو سره راوخوځېد چې د چا موها د کلي په منځ کې د یرغلګر مخه ونیسي. دغه کلی د متورا په شمالي اته میلي کې پروت دی. خو سره له دې چې ده د افغاني جنرال په مقابل کې نهه ساعته سخت مقاومت وکړ، بیا هم د زړور افغاني جنرال سره یې برابري نه لرله او د درېو زرو تنو په له لاسه ورکولو سره په شا وتمبول شو. افغاني فاتحان د متورا خواته راوړاندې شول، په داسې حال کې چې جواهر سنګهـ بالابهګر ته

---

د تاریخ عالمګیر ثاني په حواله شاه امر وکړ چې ځینې توپونه دې له ډیلي څخه راوغوښتل شي، خو د کش کاږونکو څارویو د نشتوالي له امله دا ډېره ګرانه وه چې هغوی بالابهګر ته ولېږدول شي. بالاخره کله چې هغوی د بالابهګر لور ته کش کاږل کېدل، نو په دغه وخت کې د شاه له خوا د بالا بهګر د نیول کېدو خبر ډیلي ته راورسېد. کننګو د افغان بېرحمۍ چې ثمین په خپل حالات احمدشاهي ۲۳ - ۲۴ کې ذکر کړی، د بالابهګر له سقوط څخه وروسته ګڼي د ((حالات احمدشاهي)) په نوم اثر، هندي انتیګواری، شپږ د پرشم ټوک ته دایروین له خوا ترجمه شو.) په داسې حال کې چې سرجادونات سرکار هغه د اګرې له لوټ څخه وروسته شمېري (اف. ام. ای، دویم ټوک ۱۲۴ - ۱۲۵ وګورئ.) منځنۍ منبع (شاهنامه احمدیه) هغه د وروستۍ منبع په څېر تاییدوي فرانګلن په خپل (د شاه علوم سلطنت) کې په بالابهګر کې د جټانو پر خلاف د بریو یاړ غازي الدین ته ورکوي چې دغه وروستی کس ته احمدشاه د دغه خدمت په بدل کې د وزارت څوکۍ وبښله، ۶-۸، حسین شاهي ۳۰ - ۳۱ وګورئ.

وتښتېد یانې له تناره څخه د اور لور ته چې لږ څه مخکې مو وویل په څټ شو[11].

د مارچ په لومړۍ نېټه د جمادی الثاني نهه، جهانخان سهار وختي په متورا باندې راوغورځېد. ددغه ښار خندق ځوکۍ لرونکي دېوالونه او د خپلې دفاع لپاره ساتونکي نه درلودل. دا زیاتره د روحانیونو او زیارت کوونکو ښار و چې د پسرلي په وخت کې له بهر څخه د هولي د دیني جشنونو لپاره دوه ورځې دلته راتلل. جهانخان د خپل بادار د امر د ښېخي پرځای کولو لپاره ((چې ویل یې ووژنه او لوټکړه)) کافي فرصت درلود.

د تېرې شپې مقاومت دده غضب او ځوږلا زیات کړی و او د ترحم هېڅ کوم حالت په کې نه لیدل کېده. ده د عامه وژنې او د خلکو د تباهۍ امر ورکړ. هالي د هندوانو په تکو سرو وینو رنګ شوه، پر دې سربېره ښار ته اور واچول شو او هغه د سترې اور اخیستنې په ترخ کې وسوځېدو.

ډاکتر کننګو وایي: ((د مخ په زوال ویشناویزم زاهدانو چې د جمنا د رود ترڅنګ ځپریو کې مېشته وو د ((غوبه الهي)) د نڅا او د هغې د زړه وړونکې شپېلۍ د غږ خوبونه لیدل چې له مجازاتو سره یوځای وو)) د غازیانو د کوچنیو تبرونو په وسیله سترې او درندې مجسمې او بتان مات

(۱۱) تاریخ عالمګیر ثاني، ۱۰۶ الف، تذکره عماد، **۲۵**، علي ابراهیم، تاریخ بهاووجانکو ۱۶. د هغه راپور پر اساس چې په راجوید، لومړي ټوک، دري شپېتمه ګڼه مکتوب کې اقتباس شوی، د جټانو پنځه زره او شپږ سوه کسیزه قوه له متورا څخه بهر ته ووتله او له ابدالي پوځ سره یې سخته جګړه وکړه خو د مقابلې خوا د زیات شمېر له خوا یې ماتې وموندله. درې زره جټان مړه او دوه زره وتښتېدل، سرکار دویم ټوک، ۱۱۸ (لمن لیک). د تاریخ عالمګیر ثاني په حواله د دواړو خواوو تلفات له لسو څخه تر دوولسو زرو تنو افرادو پورې ګڼل شوي دي، یو سلو شپږم الف مخ.

او ټوټه ټوټه شول او د ماشومانو د چوګان د توپ په څېر په کوڅو او واټونو کې په لغتو ووهل شول[۱۲].

د دغه ښار زیاتره وګړي هندوان وو خو د هغې لړ شمېر مسلمانانو هم په دغه ستر مصیبت کې ونډه واخیستله او له هغې څخه خلاص نه شول. غلام حسین ثمین د یوه مسلمان زرګر مثال راوړی دی، چې ور څخه څلور زره روپۍ په زور واخیستل شوې او ژوند یې یوازې په دې نجات وموند چې د افغانانو سره د ورته دینداری مدارک یې ورته وښودل. ورپسې یو بل افغان راغی او دی یې په خېټه باندې ژوبل کړ، نو په دې ډول دده خپل ژوند د ژغورلو لپاره تېښته وکړه او په یوه کونج کې پټ شو.

جهانخان په هماغه شپه له منورا څخه روان شو او روهیله شغالان یې په دې ځای کې پرېښودل چې په هغه څه باندې جشن جوړ کړي چې له افغاني ببرانو څخه پاتې شوي وو. نجیب ښایي د دې لپاره درې ورځې شاته پاتې شوی وي، چې د دغه ځای له پاتې خلکو څخه د یوه لک افغانیو هغه باج ټول کړي چې جهانخان ورباندې ایښودلی وو. دغه راز نوموړی نجیب د شتمنو خلکو د شتمنۍ او پټو خزانو د لوټولو لپاره تم شو او یو زیات شمېر ښکلې ښځې یې د غنیمت په توګه له ځان سره یووړلې. ثمین وایي د ((بیراجي)) او (سنیا سي)) زاهدان په خپلو څپریو کې حلال شول او ((په هره یوه څپري کې یو پرې کړی سر او د هغه له خولې سره متصل د مړې شوې غوا یو سر پروت و چې د هغې د غاړې د پرې په وسیله یې د سړي هماغه سر

(۱۲) تاریخ عالمګیر ثاني، یو سلو پنځم - یو سلو شپږم الف مخونه، ثمین، تذکره عماد، ۲۴۱ - ۴۲. حسین شاهي، ۳۰، غلام علي شاه عالمنامه، ۲۸، شاهنامه احمدیه، ۲۰۱-۲۰۲، سرکار، دویم ټوک، ۱۱۸-۱۱۹، کننګو لومړی ټوک، ۱۰۳.

تړلی و ) ). دا و هغه چلند چې په متورا کې وشو او د مسلمان زرګر د وینا له مخې ((له عام قتل وروسته اووه ورځې د دریاب او به سرې بهېدلې او وروسته یې رنګ زیړ واوښت[۱۳].

## د برنداابان عامه وژنه:

جهانخان په برانداابان کې چې د متورا په شمالي اووه میلۍ کې دی د مارچ په شپږمه د توري او راجونی حالت او لوبه بیا تکرار کړه. د ثمین په خاطرو کې دا راغلي دي:

(( هرې خواته چې تاسو وګورئ د مړیو ډېرې وینې تاسو د توی شویو وینو او مړیو د جسدونو په منځ کې په سختۍ سره لاره موندلی شئ. یوه ځای ته چې موږ ورسېدو دلته مو د دوه سوه ماشومانو د مړیو یوه ډېرۍ ولیدله. هېڅیوه جسد سر نه درلود... په هوا کې دومره زیاته بدبویي وه چې د خولې خلاصول ګران و او حتی سا ایستل په سختۍ کېدل[۱۴].

## ګوکول:

د بالابهګر له سقوط وروسته شاه په دمه سره په جهانخان پسې وخوځېد. متورا ته د مارچ په پنځلسمه نېټه راورسېد او په هوښیارۍ سره د جمنا هغې غاړې ته واوښت او په مهابان کې یې چې د متورا په سویل ختیځه شپږ میلۍ کې دی واړول. له دغه ځای څخه ده د ګوکول د ښار د لوټ لپاره

---

(۱۳ ) نورالدین، احوال نجیب الدوله، ۱۵ ب، ثمین، سرکار، دویم ټوک، ۱۱۹-۱۲۰، شاه عالمنامه د غلام علي ګوري ۲۸.

(۱۴ ) ثمین، حالات احمدشاه ابدالي، د ایروین ژباړه، هندي انتیکواری، ۷۱، ۳۶ ټوک، دوه شپېتم مخ، کننګو، ۱۰۴-۱۰۵، سرکار، دویم ټوک، ۱۲۰-۱۲۱.

چې د دوو میلو په واټن دد هله اردوګاه سره نږدې پروت و ، یوه قوه ولېږله. د بیرا جي د مذهبي فرقې سرسخت ((شمالي هندي نانکا - سدهو سیانو )) د جنګیالیتوب پټه روحیه وپارېدله او ددغه مذهبي ښارګوټي او صومعې د دفاع په منظور د ثلور زرو تنو په حدودو کې په ((خاورو لړلي لوڅ جنګیالیان )) د افغانانو د پرمختګ د بندولو لپاره راووتل. یوه خواشینوونکې جګړه پېښه شوه او د هغوی دوه زره تنه د جګړې په ډګر کې له پښو وغورځېدل، په همدغه شمېر افغانان هم مړه شول.

د بنګال وکیل ((جوګل کیشور )) چې دا وخت د شاه په اردوګاه کې و ، شاه ته وویل چې ګوکول یوازې د لوڅو مرتاضانو یو ګوښه ځای دی او دومره زیاتې پیسې په کې نه شته. په دې ډول شاه لېږل شوی کنډک راوغوښت او ګوکول په امن کې پاتې شو[۱۵].

## جهانخان په اګره کې:

د شاه بل هدف اګره (اکبر اباد ) له ورانو شویو سیمو څخه د شتمنو پناه وړونکو د ګڼ شمېر تګ دده حرض تحریک کړ. ده جهانخان او نجیب الدوله له سرګردانوونکو عملیاتو څخه په ځټ راوبلل او هغوی ته یې امر ته راورسېد. د برندابان او متورا د ورودانګې. جهانخان له پنځلس وکړ چې د لوی اکبر په ښار باندې یوویشتم سهار ددغه ښار دروازو زره سورو سره د مارچ په عام وژلو خبر باید دده له رسېدو څخه مخکې دغه ځای ته

(۱۵ ) ثمین، هندي انتیکواری، شپږویشتم ټوک، ۶۱، سرکار، دویم ټوک، ۱۲۱- ۱۲۲، راجوید، لومي ټوک، دري شپېتم مخ. د کرشنا جوشي د ۱۱۷۰ کال د رجب د دولسمې نېټې مکتوب له مخې احمدشاه له متورا څخه ګوکول ته قوه ولېږله. په دغه برخه کې ثمین ډېر باوري دی. دغه رازوګورئ سرکار، دویم ټوک، ۱۲۱، لمن لیک. مرتهي مکتوب وايي: (( ټول بیرا - جیان تباه شول، خو ګوکول نات بت ته نجات ورکړل شو.

رسېدلی وي. ددغه ښار مخور او سېدونکي دده مخې ته ور ووتل او ژمنه يې وکړه چې پنځه لکه روپۍ د باج په توګه ده ته ورکړي، خو څرنګه چې دوی ته په دغه وخت کې د دومره پيسو ټولول لږ څه ګران و، نو افغانان ښار ته ننوتل او په لوټ او وژنه يې پيل وکړ. سره له دې هم جهانخان د چونۍ په نيولو کې بريالی نه شو. ده زياته هڅه وکړه چې چونۍ ونيسي، خو د چونۍ توپچي ميرزا سيف الله خان چې د اوربل رهنمايي يې کوله، په ډېره مېړانه له چونۍ څخه دفاع وکړه او افغانانو ته دا ګرانه وه چې هغه په ناڅاپي يرغل سره ونيسي. جهانخان په اګره کې د منل شوي باج د لاسته راوستلو په هيله تم شو، خو دده مامورينو په ډېر زحمت سره د بنګال له جګټ سيټ له ګماشته يا استازي ((سملداس)) څخه يو لک روپۍ حاصلې کړې. د مارچ په درويشتمه دی د شاه له خوا د يوه عاجل امر له مخې د هغه حضور ته وغوښتل شو، په دې ډول ده نور نه شول کولی د پاتې باج د اخيستلو لپاره په اګره کې پاتې شي او په څليرويشتمه نېټه يې له هغه ځای څخه حرکت وکړ او له متورا سره نږدې له شاه سره شاه تصميم ونيو چې ډېر ژر خپل هېواد ته ستون شي. په مهابان کې دده په اردوګاه کې کلورا خپره په حدودو کې افغاني سربازان له دنيا څخه تېر بدل. سخت طبيعي محيط په ده باندې په غضب شو.

يو ځای شو[۱۶].

## د شاه په اردوګاه کې کلورا:

(۱۶) تاريخ عالمگير ثاني، ۱۰۹الف، لومړي ټوک ۱۶۳، اس. پي. ډي. يوويشتم ټوک، يو سلو يوولسم مخ، اووه ويشتم ټوک، ۱۴۶، ۱۵۲، ۱۵۵، تاريخ مظفري، ۵۴۲.

مهابان له برندابان څخه دیارلس میله لیرې د رود په کښته خوا کې پروت دی. سرجادونات سرکار وایي: (( د دریاب اوبو دا وخت د وچ موسم ارتفاع لرله او ډېرې لرې او کښته وې او د نیم سویو او یانا سویو وژل شویو کسانو او د هغو مړیو د جسدونو له امله بندې وې چې ځانونه یې په خپله وژلي وو. هندي لمر د درېو اوونیو په موده کې خپل کار وکړ. هغه اوبه چې د شاه په امر له ((ورینداوان)) او متورا لور ته ددغو ځایو د مسلخونو د مینځلو لپاره اړول شوې وې او ټول ځایونه یې نیولي وو، د ابدالي اردوګاه ته راورسېدلې)) کلورا په حتمي توګه پېښېدونکې وه. ((دلته چاره حصر وه، درمل موجود نه و، د یوه من تمر (املي) بیه سل روپۍ وه. د تمر اوبه او یا شربت ددغه ناروغۍ لپاره ګټور ګڼل کېږي.

د افغاني پوځ د اسانو ډنګرېدل هم په همدې اندازه یو مصیبت و. پاتې سربازان خپل هېواد ته د ستنېدو لپاره په فریاد راغلي وو.))[(١٧)]

په دې سبب شاه د کور خوا ته له ستنېدو څخه غیر کومه بله چاره نه لرله.

## عالمګیر ثاني ته د شاه پیغام:

د **١٧٥٧**م د مارچ په شپږویشتمه (د **١١٧٠**هـ د رجب پنځمه) خپل استازی قلندر خان په ډیلي کې امپراتور عالمګیر ثاني ته واستاوه چې هغه ته په جتانو باندې د خپل برید د مفکورې د پرېښودلو معلومات ورکړي او هم امپراتور ته ووایي چې دی د ډیلي خوا ته راروانېږي. په همدغه وخت کې وزیر شاه ولي خان امپراتور ته یو زړه دردوونکې لیک ورلاندې کړ چې په

(١٧) د مغولو امپراتورۍ زوال، دویم ټوک، **١٢٥** - **١٢٦**.

هغه کې شاه د متوفي امپراتور محمد شاه له پېغلې لور حضرت بیګم سره د خپل واده پیشنهاد کړی و. دا خبره د کونډو تولو اکمنو ملکه الزماني او صاحب محل لپاره سخته دردناکه وه او د دواړو د اوښکو او چیغو په ترڅ کې وویل: (( مونږ به حضرت بیګم او خپل ځانونه مړه کړو خو هغه به افغان ته د واده لپاره پرېنږدو )) دا کار ټول بې فایدې و ځکه امپراتور څه وس نه درلود [۱۸].

## شاه ته د سورج مال ځواب:

((شیرګړهـ)) ته په رارسېدو سره شاه د وروستي ځل لپاره بې نتیجې هڅه وکړه چې له سورج مال جټ څخه په ګواښ سره حتی المقدور څه حاصل کړي. ده هغه ته دوه استازي، د بنګالي جوګل کیشور او یو افغاني افسر له یوه ګواښوونکي لیک سره واستول. په هغه کې لیکل شوي وو چې که دی د باج په ورکولو کې پلمې ته دوام ورکړي، نو دده د دیک، کمهیر او بهار تیپور بندرونه به ړنګ او له خاورو سره برابر کړي او ددغه کار مسولیت به د متورا او برندابان په شان دده او دده د هېواد پر غاړه وي. خو جټ په دغه ګواښ سره ونه بیرېد او شاه ته یې په ګستاخانه غوړه مالۍ سره داسې عبارت ولیکل: (( زه د هندوستان په امپراتورۍ کې کوم پیاوړی مقام نه لرم. زه د بیدیایي سیمو یو زمیندار یم. زما د بې ارزښتۍ له امله د زمانې هېڅ یوه امپراتور دا لازمه نه بلله چې په کورنیو چارو کې مې مداخله وکړي. اوس چې ستاسو اعلیحضرت غوندې یو زورور امپراتور له ما سره

(۱۸) تاریخ عالمګیر ثاني، ۱۰۹ب- ۱۱۰الف.

د مخالفت او د مخامخ جګړې تصمیم نیولی او له ما خوارکي سره خپل پوځونه جنګوئ دا کار به زما د حیثیت د لوړېدو سبب شي او دا به د دغه خوارکي لپاره د غرور یوه موضوع وي. دنیا به وایي چې د ایران او توران امپراتور له زیاتې ویرې څخه په یوه مفلس شپانه او کوچې برید کړی دی. دا سې خبرې به په خپله د اعلیحضرت لپاره ډېر شرم وي، چې د تاج بښونکې دی. په دې برسېره نهایي نتیجه هم معلومه نه ده. که چېرې تاسې په خپل ټول قوت او وسایلو سره زما غوندې یو کمزوری مغلوب کړ، نو تاسو ته به څه ویاړ وي زما په هکله به خلک وایي چې (( دغه خوار سړی څومره قوت درلود )) خو که د خدای په حکم چې څوک یې درک کولی نه شي حالات واوړي نو نتیجه به څنګه وي. هغه ټول قوت او منزلت چې د اعلیحضرت زړورو سربازانو د یوولسو کلو په موده کې ترلاسه کړی په یوه شېبه کې به خاورې ایرې شي.

(( دا ډېره د هیښتیا و ړخبره ده چې ستاسو اعلیحضرت په څېر صاحب نظر شخص د غې وړې موضوع فکر کړی نه دی او له خپلې ټولې ډلې او لوی پوځ سره مو د دا سې یوه کوچني برید زحمت په ځان منلی دی. له هغه ګوابښ او ظالمانه چلند څخه چې تاسو د عامه وژنې، زما او زما هېواد د تباهۍ لپاره په کار اچولي جنګیالان کومه وېره نه لري دا یوه منل شوې خبره ده چې هوښیار سړی په دغه فاني ژوند باندې زړه نه تړي، ما د ژوندانه پنځوس پټې وهلي او د خپل پاتې عمر په هکله هېڅ نه پوهېږم. د شهادت جام څخه هېڅ بل ستر نعمت نه شته چې ژر یا ورو به یې له خپلو زړورو او جنګیالیو سربازانو سره یوځای د جګړې په ډګر کې وڅښم خپل او د خپلو پلرونو نوم

به د زمانې ( د کتاب ) په پاڼو کې پربېږدم او دا به ياده شي چې يوه کمزوري بزګر له يوه داسې زورور امپراتور سره يوځای په يوه شان په جګړه کې ووژل شول. همدغسې يو پاک نيت زما د وفا دارو پيروانو او ملګرو په زړونو کې موجود دي. حتی که زه وغواړم ستا د اسماني دربار په درګاه کې د حضور تصميم ونيسم زما د ملګرو پت به ما ته اجازه رانه کړي. په دغسې حالاتو کې که تاسو اعليحضرت د بوس په څېر دغه خوارکې وبښئ او خپله پاملرنه با ارزښته عملياتو ته واړوئ، ستاسو شان او شوکت ته به کوم زيان ونه رسېږي.

(( زما د هغو دربو چوڼيو حقيقت به چې تاسې ورته د غڼو جال ويلې او ستاسو د غوصې مقصد دې له يوې عملي مبارزې وروسته معلوم شي. که خدای کول هغوی به د ((الکسندر رامپارت په شان نه ماتېدونکې وي. ))[19]

خو شاه د کلورا د زيات خپرېدو او د هندي اوړي د ورځني لمر د زياتېدو له امله د زياتو ځاني تلفاتو په زغملو سره نور نو نشول کولی د جټ په مقابل کې خپل ګواښ ته عملي جامه واغوندي. ده د ډيلي خوا ته خپل پرمختګ ته دوام ورکړ، څرنګه چې د شاه اصلي مقصد سورج مال ته معلوم نه و، نو دده

(۱۹ ) تذکره عماد الملک ۲۴۳ - ۲۴۵ قدرت الله، جام جهان نما، لومړی ټوک، ۵۰۳، دويم ټوک ۱۱۸.

قدرت الله په خپل اثر جام جهان نما مکې د سورج مال جټ او احمدشاه دراني ترمنځ مکالمه داسې خلاصه کوي: سوچ مال د شتمنې خزانې پنځو چوڼيو بې شمېره لښکر او زياتو جنګي وسايلو د لرلو له امله خپل موقعيت ته بدلون ورنه کړ او د جګړې تياری يې ونيو. ده د شاه استازي ته وويل: (( تاسو تراوسه پورې هندوستان نيولی نه دی. دا خو کوم ويار نه دی چې تاسو د ډيلي واکمن بې تجربې ماشوم غازي الدين ته ماتې ورکړه )). که تاسو کوم مرام لرئ نو په ما باندې بريد مو ولې تراوسه ځنډولی دی که شاه له خپل عزم څخه اوړي، نو دا به د جټ ويار او غرور زيات کړي. ده وويل: (( ما په دغه چوڼۍ باندې ډېرې پيسې لګولې دي. شاه به له ماسره د جنګ کولو په سبب خواخوږی شي ځکه د دنيا خلک به په راتلونکې دارا په يادوي چې پاچا له (ولايت) څخه راغی او ډيلي يې ونيو خو د يوه خوار زميندار په مقابل کې ناتوان شو. )) د جټ د چوڼيو د کلکوالي له وېرې څخه شاه په شټ لاړ او د مترقي امپراتور احمدشاه لوريې خپل ځان ته او د دويم عالمګير لوريې خپل زوی واده کړه او کندهار ته ستون شو.

استازی له شاه سره خپلو خبرو اترو ته ادامه ورکړه او د لسو لکو روپیو د ورکولو په ژمنې سره یې هغه سر ګرم وساته. سره له دې هم په ډیلي کې دا جوته شوه چې شاه خپل کور ته روانېږي. د چټک تګ او ښ لرونکو په وسیله دا خبر سورج مال ته ورسېد او هغه د دغه خبر په اورېدو سره د شاه استازی له کومو مراسمو پرته او بې له دې چې هغه ته کومه ټنګه ورکړي، وشاړه.[20]

## د اودهـ لور ته برید ناکام شو:

لکه چې موږ ته معلومه ده شاه د احمد خان بنګښ له استازي شېر اندازخان سره د ((اودهـ)) د شجاع الدوله پر خلاف د یوه پوځ د لېږلو ژمنه وکړه. ده له ډیلي څخه خپر جنرال جنګ بازخان او دوه شهزادګان متورا ته نږدې خپلې اردوګاه ته راوغوښتل. شاه د ۱۱۷۰هـ کال د ربیع الثاني په اووه ویشتمه د ۱۷۵۷م د مارچ په نولسمه هغوی په رسمي توګه د نښانو په ورکولو سره مفتخر کړل او بله ورځ یې د فرخ اباد له لارې د ((بنګال))، او ((اودهـ)) لور ته واستول. جنګباز خان د یوې درې زره کسیزې څو نژادي قوې په مشرۍ له هغو سره بدرګه وکړه. د امپراتور عالمګیر ثاني زوی محمد هدایت بخش او دده وراره او زوم میرزا بابا په ترتیب سره د بنګال او ((اودهـ)) د والیانو په توګه وټاکل شول. دا باید ووایو چې د شهزادګانو اعزامي قوه له بده مرغه له ماتې سره مخامخ شوه. څرنګه چې دا موضوع به په دغه کتاب کې

(۲۰) اس. پي. ډي. دویم ټوک، ۷۲، سرکار، دویم ټوک، ۱۲۶، کننګو، لومړی ټوک، ۱۰۶.

نه شامليږي، نو هغه دلته پرېږدو او په ډيلي کې احمد شاه ته راګرځو چې د افغانستان پر لور خپل کور ته د ستنېدو لپاره تياري نيسي.[۲۱]

د ۱۱۷۰هـ د رجب په لسمه د **۱۷۵۷**م د مارچ په يو د يرشمه شاه د ډيلي په حومه کې سراى بسنت خان، او ((سراى سهيل)) ته نږدې وا ړول او د خواجه قطب الدين بختيار کاکي زيارت يې وکړ. د رجب په يوولسمه، د اپريل لومړۍ شاه خپله اردوګاه د وزير اباد او بدلي خواته ولېږدوله او درې ورځې هلته تم شو. د مقصود اباد له مخزن سره امپراتور عالمګير ثاني دده مشر زوى شاه عالم، نجيب الدوله او مجيد الدوله له شاه سره د خداى پامانۍ لپاره د رجب په دوولسمه، د اپريل په دويمه وکتل. شهزاده تيمور د وزير شاه ولي خان په ملګرتيا د خپل خسر د ښه راغلاست لپاره بهر ته ووت. د خبرو اترو په ترځ کې امپراتور له شاه څخه د هغو بنديانو د خوشې کولو هيله وکړه چې افغانانو په ډيلي، متورا او نورو ځايونو کې نيولي وو. شاه دده دا غوښتنه په خوښۍ سره ومنله. په زرګونو نارينه او ښځينه بنديان خوشې او له امپراتور سره ډيلي ته ستانه شول او بل سهار خپلو خپلوانو ته وسپارل شول. نا اشنا بنديانو ته اجازه ورکړل شوه هر چېرې چې غواړئ لاړ شئ. د شاه له لاړښوونې سره سم صدارت بيا عماد الملک غازي الدين ته ورکړل

(۲۱ ) د مغولي شهزادګانو د عملياتو لپاره وګورئ تاريخ عالمګير ثاني، ۱۰۶ب، ۱۰۹الف، ۱۱۷ب، ۱۱۸ب، ۱۲۷، اس. پي. ډي، يوويشتم ټوک، دريم ټوک، ۱۳۸، اووه ويشتم ټوک، ۱۴۶، ۱۶۰، ۱۹۰، نهه ويشتم ټوک، ۷۱، تذکره عماد، ۲۴۶، ۴۹، ۲۸۵-۲۹۷، سرکار، دويم ټوک، ۱۳۰- ۱۳۶، تاريخ مظفري، ۵۴۲-۵۴۳، مونالال، شاه عالمنامه، ۱۱-۱۳، خزانه اميرا، ۵۳-۵۴، جام جهان نما، دويم ټوک، ۷۵-۷۷، هار شارن داس، چهار ګلزار شجاعي، ۲۱۷-۱۸. د ګلشن رحمت په حواله شاه حافظ رحمت خان ته چې دده استازى يعقوب عليخان دا وخت د شاه په اردوګاه کې و، وليکل چې په دغه عملياتو کې له جنګ بازخان او غازي الدين سره مرسته وکړي.

شو، په داسې حال کې چې نجيب الدوله په هند کې دده د فوق العاده استازي په توګه وګومارل شو[۲۲].

کونډو ټولواکمنو ملکه لزماني او صاحب محل له حضرت بيګم سره د شاه د واده په باب شديده کرکه څرګنده کړه خو دوی دده د امر په مقابل کې چاره نه لرله، له بلې خوا دوی د حضرت بيګم د جدايۍ زغم هم کولی نه شو، نو دوی تصميم ونيو چې له هغې سره يوځای افغانستان ته لاړې شي. دوی له بيګم سره يوځای د اپريل په پنځمه د شاه اردوګاه ته راورسېدلې. د حضرت بيګم مور صاحب محل له خپلې مور سره د خدای پامانۍ او د خپلو کاليو او متعلقاتو د راوړلو لپاره ډيلي ته لاړه او د اپريل په لسمه د شاه اردوګاه په لور چې په همدې ورځ سونييت ته لېږدېدلې وه، روانه شوه[۲۳].

د دوو شهزادګيو (حضرت بي بي بل نامه بادشاه بي بي چې شاه خپل ځان ته او د عالمګير ثاني لور ګهرافروز بيګم چې يې خپل زوی ته واده کړه) ټولواکمنو کونډو عفت النسا (د دور بخش لور او د اورنګ زېب کړوسۍ چې په ۱۸۳۹ کال کې د نادر زوی ته واده شوه او شاه د نادر له مرګ وروسته خپل حرم ته راوستله) او محرم النسا (د دايي په وسيله د ملکه الزماني روزل شوې لور) ترځنګ د شاه په اردوګاه کې د ډيلي د حرم نورې شپاړس کسې ښځې موجودې وې. دغه راز دلته څلور سوه وينځې هم له خپلو بي بي

(۲۲) تاريخ عالمګي ثاني، ۱۱۱الف-۱۱۲ب، ۱۱۵ب وګورئ، تذکره عماد، ۲۵۴، سرکار، دويم ټوک، ۱۲۹-۱۳۰، تاريخ مظفري ۵۴۳-۵۴۴.

(۲۳) تاريخ عالمګير ثاني، ۱۰۹ب، ۱۱۲الف، ۱۱۳الف، ۱۱۴ب، ۱۱۵الف-ب. وګوئ تذکره عماد، ۲۵۳-۵۵، تاريخ مظفري، ۵۴۳.

ګانو سره راوستل شوي وې، خو د هغوی زيات شمېر د لارې له سر څخه وتښتېدې او خپلو کورونو ته ستنې شوې.[۲۴]

له دغه غنيمت څخه سيوا شاه له هند څخه د درېو کروړو څخه تر دوولسو (حتی د پرشو) کروړو روپيو پورې (د معاصرو ليکوالو په حواله) ولجه وکړه، اته ويشت زره هاتيان، اوښان، اسان، کچر، مېښې او کراچۍ د شاه په مالونو بار شول. دده اتيا زره پياده او سورو افرادو هر يوه د خپل غنيمت ترلاسه کړې ونډه له ځان سره لېږدوله. ((دده سواره په پښو ستانه شول او خپل غنيمت يې په خپلو جنګي اسانو بار کړ.)) په دغو سربېره دوو سوو اوښانو د کونډو ټولوا کمنو مالونه لېږدول[۲۵].

## د کور خوا ته تګ:

د شاه اردوګاه د ۱۷۵۷م د اپريل په ديارلسمه له سونيپت څخه تاروری ته راورسېدله. د قنوج پورا عنايت خان د شلو لکو باج ورانديې کړ. دلته جهانخان له بلوڅي زميندارانو څخه د يوه هيات په مشرۍ د باج ټولولو په برخه کې ناکام راستون شو او ده ته امر وشو چې له شهزاده تيمور سره مخکې له مخکې لاهور ته وخوځېږي[۲۶].

---

(۲۴) تاريخ عالمګير ثاني، ۱۱۱ب، ۱۱۲الف، ۱۱۳الف- ۱۱۵ب.

(۲۵) اس. پي. ډي. دويم ټوک ۷۱، دلکشمن اپا جي په حواله (اس. پي، ډي، يوويشتم ټوک، ۹۸) شاه له درېو څخه تر څلورو کروړو په ارزښت نغدې روپۍ، جواهرات او نور شيان لاسته راوړل. ((شيورام نايک بهيد)) وايي چې شا په ډيلي کې لس کروړه حاصل کړل (اس. پي. ډي. يوويشتم ټوک ۱۱۸) د خان خانان په کور کې د څلور کروړو په ارزښت شتمني موجوده وه، د غازي الدين کور يو کروړ شتمني لرله، اووه کروړه د ډيلي د بانک لرونکو يا پور ورکوونکو څخه واخيستل شوې. ټولې دولس کروړه د ابدالي له خوا تر ګوتو شول. (اس. پي. ډي، اووه ويشتم ټوک، ۱۵۲). شاکرخان په خپل تاريخ کې وايي چې احمدشاه يوازې د خان له کور څخه له ۱۲-۱۵ کروړو پورې نقد او جنس ضبط کړل. کريشان جوشي (راجويد، لومړی ټوک ۶۲) ټوله ولجه د پرش کروړه روپۍ اټکل کړې ده.

(۲۶) سرکار، د مغولو د امپراتورۍ زوال، درېيم ټوک، ۱۲۷ مخ.

## د مغولاني بیګم خواشیني کېدل:

د شاه د عملیاتو پر وخت د مغولاني بیګم د زیاتو خدمتونو د تقدیر لپاره شاه هغې ته د دواب بست جلندر، جمو او کشمیر سیمې وسپارلې، بیګم ادینه بیګ خان چې دا وخت په غرونو کې اوسېده، د دوابې د والي په توګه وګوماره. د جمو راجا ((رنجیت دیو)) یې په خپل ځای پرېښود او خپل یو خپلوان خواجه ابراهیم خان یې کشمیر ته ولېږه. خو مغولاني بیګم ته دا سوغات ورکول یا ددغو ځآیو تسلیمي ورکول ډېر ژر باطل شول. په خپلو هندي سیمو کې د دوی تنظیم او ترتیب پر اساس چې په هغو کې سرهند (د کارنل په برګانه کې له ګارندا څخه پیل کېدلې) دوابه بست جلندر، لاهور، کشمیر، تاتا او ملتان شامل وو، ده خپل زوی د نایب الحکومه په توګه وګوماره او د شاه لقب یې ورته ورکړ. سردار جانخان یې په لاهور کې دده د نایب په توګه وټاکه. محمدزي عبدالصمد خان هشت ناګرۍ د سرهند والي، سرفراز خان د دوابست جلندر او سدوزي بلند خان د ملتان او کشمیر د والي په حیث مقرر شول. دا کار بیګم ته چې شاه یې تر جهلم پورې بدرګه کړ نا مطلوب و او له ده څخه یې هیله وکړه چې هغې ته د خپل ژمنه شوي فیف (جاګیر) د په لاس کې لرلو اجازه ورکړي، خو په پنجاب کې دده زوی تیمور په ګټه د یوه پاخه حکومت جوړېدل د مغولاني بیګم غوندې یوې ښځې ته دا اجازه ورکولی نه شوه چې د جلندر دواب کنټرول ولري او په دې ډول د لاهور او سرهند ترمنځ جلا والی رامنځته کړي او ((دا هم نه شول کېدلی چې پنجاب له شمالي غرنیو سیمو، جمو او کشمیر څخه بېل کړي.)) شاه هغې ته وویل: ((اوس چې ستا ورور تیمورشاه ددغه ځای واکمن دی نو ته

په ولایتونو څه کار لري ته په لاهور کې د پره شه او د تیمور شاه حکومت به په کال کې د پرش زره روپۍ معاش درکوي.)) بیګم له دغه ورکړې سره موافقه ونه کړه، شاه له شاه ولي خان او جهانخان څخه وغوښتل بیګم وهڅوي خپل جاګیر په نغدي توګه ومني او خپل ژوند په هوسایۍ سره پیل کړي. خو بیګم د تیرې په څېر کلکه وه او په خفګان سره لاهور ته ستنه او د غربت ژوند یې غوره کړ[۲۷].

کله چې د تیمور شاه او جهانخان په مشرۍ د شاه د پوځ مخکینۍ برخه له عملیاتو څخه لاسته راغلې ولجې سره د لاهور لور ته د تنګ په حال کې وه نو په دې وخت کې سکانو ته دا موقع پیدا شوه چې په هغې باندې برید وکړي. د پټیالي سردار الاسنګهـ چې په الاجټ مشهور و او یو شمېر نورو سکانو چې په سرهند کې سره راغونډ شوي وو په شهزاده تیمور باندې برید وکړ او دده خزانه یې وتښتوله.

بل برید په ماورکوټ کې ورباندې وشو او افغاني پوځ لوټ او زیانمن شو. د سکانو بریالیتوب دومره وېره پیدا کړه چې حتی وویل شول چې تیمور د دوی له خوا نیول شوی او وژل شوی دی البته دا اوازه دروغ وه[۲۸].

## د کرتار پور لوټول:

---

(۲۷) طهماس نامه ۶۶الف–۷۰ب، حسین شاهي، ۳۲، تاریخ سلطاني، ۱۳۲، خوش وقت رای، ۷۴.


(۲۸) اس. پي. ډي، یوویشتم ټوک ۱۱۶، اته‌ویشتم ټوک، ۱۴۸. وګورئ یوویشتم ټوک، ۱۱۱، سرکار دویم ټوک د پورتني موضوع په باب د خپلې منبع په توګه راجوید، لومړی ټوک، ۸۵مخ اقتباس کوي، که څه هم هغه ددې ذکر کړی نه دی.
د اس. پي. ډي، یوویشتم ټوک، ۱۱۶ (۱۳۵مخ) سند دې چې کله کله سرهند ته بېسواده خلک دا نوم اخلي نه سانا ور ماورکوټ د مالر کوټ لپاره نه راځي ځکه تیمورشاه په هغه لار تللی نه دی.

تیمور شاه د لاهور خواته د تګ په لاره کې هغه لومړی کار چې جلندر دواب ته په رارسېدو سره ترسره کړ، د سکانو د ښارګوټي او معبد کرتار پور لوټول وو چې د جلندر دوابه په شمال لویدیځه لس میلۍ کې پروت دی. د دغه ښارګوټي مخه خلاصه او هېڅ ډول استحکامات او خندق نه لري. د هغه ارزښت ((په ګردوا رانو)) یا د سکانو په عبادتګاوو پورې تړلی دی. دغه معبدونه د سکانو د پنځم او شپږم ګورو، یانې ارجون او هارګوبند په یاد وقف شوي دي. د دغه ځای روحاني مشر سودهي واد بګ سنګ چې د ډېر زیات قدرت او نفوذ خاوند شخص دی، دا وخت په کرتار پور کې نه و. د جلندر د نصیر علي خان په لارښوونه افغانانو د دغه ځای په بې ګناه او سېدونکو باندې ناڅاپه یرغل وکړ او هغوی یې قتل او لوټ کړل.

ګردوارګانو ته اور واچول شو او د هغوی او سېدونکي یې عام قتل او لوټ کړل. ګردوارګانو ته اور واچول شو او د هغوی خونې د یوه تاریخي منار یانې تهام صاحب په نوم منار په ګډون ټول په خاورو او ایرو بدل شول او د حلال شویو غواګانو په وینو یې بې حرمته کړل[29].

(۲۹ ) نظام الدین، شاهنامه احمدیه، ۲۱-۲۲، بوتي شاه، تواریخ پنجاب، ۴۷۷، پرسیر، د جلندر د مسکوني سیمې راپور، ۲۹، پراچین پانت پراکاش، ۴۱۳، شمشیر خالصه، ۱۲۱، پانت پراکاش، ۷۲۱-۲۲.

د پراچین بانت پراکاش، ۴۱۳ په حواله سودهي وادبګ سنګ په غرونو کې اوسېده (د هوښیار پور د سیمې د مایري په کلي کې) په داسې حال کې چې د نورو منابعو پر اساس دی د عام قتل پر وخت غرونو ته وتښتېد او خپل ځان یې وژغوره. معمولاً پراچین پانت پراکاش تر نورو باوري برېښي.




PRINCE TAIMUR SHAH DURRANI

Son and Successor of Ahmad Shah

## د امرتسر لوټول:

کله چې شاه لاهور ته راورسېد نو دلته یو ازې د یوه لنډ وخت لپاره تم شو. ده امرت سر ته د سکانو د ټکولو لپاره یو ټولګی ولېږه، ښار لوټ او په خاورو برابر شو. د اوبو زېرمه ورانه او یو شمېر سکان له تېغه تېر شول.

## شهزاده تیمور په لاهور کې مقرر شو:

وروسته ده خپل زوی تیمور شاه د پنجاب نایب السلطنه په حیث وګوماره چې په هغه کې ټولې هندي مقبوضې شاملېدې. سردار جان خان دده د نایب وزیر او عمومي قوماندان په توګه مقرر شو. له لسو څخه تر پنځلسو زرو سواره او پیاده د توپخانې په ګډون د دوی په واک کې پرېښودل شو. پر دغو علاوه په خپله د سیمې څخه په خپل وار او موقع کې کنډکونه او ټولګي هم جوړېدل.

په دې منظور چې د جمو ((رنجیت دیو)) د تیمور ملاتړ وکړي او شمال ختیځو غرنیو برخو له اړو دوړ څخه ډاډه شي، شاه هغه ته د اوسني سیالکوټ د ظفروال، سنخاترا او اورنګ اباد (پرګانی)) وبښلې[۳۰].

## چړهټ سنګه په شاه برید وکړ:

(۳۰) حسین شاهي، ۳۲، تاریخ سلطاني، ۱۳۲، طهماسنامه، ۶۶الف-۷۰الف، خزانه امیرا، ۱۰۰ د سالکوټ د سیمې ګزیتر ۱۶.

له دغو ترتيباتو وروسته شاه د کابل له لارې کندهار ته د تللو په منظور پېښور ته روان شو. (( سردار چړهټ سنګ سوکار چاکيا )) چې د رنجيت سنګ نيکه و او په ((ګجرانواله)) کې يې ځان قدرت ته رسولی و، دا وخت په شاه باندې د بريد کولو په برخه کې ډېر فعال برېښېده. دی په له خپلو راغونډ کړيو سورو سره هغه وخت په افغانانو رانازلېده چې هغوی به د شپې د تېرولو لپاره په ماښام کې خپلې خېمې درولې. له څه وخت جګړې وروسته به دی له هغه څه سره په تياره کې غايب کېده چې لاسته ورتللی شو. شاه مجبور و چې ټوله شپه خپل افراد مواظب وساتي خو چړهټ سنګ به بيا د سهار په ساعتو کې راته، چې هغوی به د ورځې د مزل لپاره خپل بارونه تړل. د ورځې له خوا به دی له اردوګاه سره نږدې پټېده چې له مخامخ جګړې څخه ځان وژغوري. شاه ډېر زيات غوښتل چې له ده سره يو فيصله کن جنګ وکړي، خو چړهټ سنګ هېڅکله دا موقع شاه ته په لاس نه ورکوله او هره ورځ يې په دغه ازار رسوونکي توګه په هغه باندې تر هغو بريد کاوه چې د سند رود ته ورسېد او له هغه څخه واوښت[٣١].

(٣١) حقايق بنيادي عروج فرقه سکان، ٣٦.

# پنځلسم فصل

# تیمور شاه په پنجاب کې

## د ۱۷۵۷ له مې څخه د ۱۷۵۸ تر اپریل پورې:

هغه لومړنی کار چې تیمور شاه هغه ته باید پاملرنه وکړي د پنجاب په ناارام ولایت کې د سولې او نظم راوستل و. خواجه عبیدالله خان او دده مرستیال میرزا جان خان ته چې د ۱۷۵۲م د نوامبر په پای کې بیا د لاهور په حکومت کې مقرر شوی وو، پوځي ځوکۍ ورکړل شوه او د اداري مسایلو په منظور د شاهزاده په خصوصي ارکان حرب کې د سلا کارانو په حیث وساتل شول[1].

## د جلندر پوځدار ادینه بیګ:

(۱) تذکره عماد الملک ۳۶۶-۶۷.

دا سمه ده چې شاه د دوابه بست جلندر په حکومت کې د سرفراز خان د
ټاکنې هدایت ورکړی و ، خو جلباز ادینه بیګ خان لاهم د شیوا لیک په
غرونو کې کمې نیولی و او دې ته چمتو و چې په خپله د یوې موقع د
پیدا کېدو په صورت کې له سکانو سره په لاس یو کولو میداني مځکو ته
راواوړي. برسېره پر دې دی د مغولاني بیګم له خوا د دوابه په حکومت کې
تایید شوی و او دا ځای پخوا د شاه له خوا بیګم ته ورکړل شوی و. پر دې
اساس تیمور په دې شرط دده له مقرری سره موافقه وکړه چې له نوي
حکومت سره په یوه لیکه کې ودرېږي، تیمور ادینه بیګ ته داسې ولیکل:
((احمد شاه درانی په لومړي سر کې دا تصمیم درلود چې په دکن باندې برید
وکړي، نو دا ځای یې بیګم ته وسپاره خو د سویل لور ته د تګ تصمیم بدل
شوی او ددغه پاچاهۍ حکومت د سرهند تر پولې. (سویل ته) ماه سپارل
شوی دی. له دې امله ته باید زما دربار ته ځان حاضر کړې ددغه امر څخه د
سرغړونې په صورت کې به ټوله دوابه ورانه او ویجاړه شي او حتی جګړه به
غرونو ته هم وخېژي. ))

دا هغه وخت و چې بیګم له شاه سره تر جهلم پورې په دې هیله بدرګه وکړه
چې ګوندې دا سیمې به بیا ورته لاسته ورشي. د بیګم معتمد طهماس خان
چې ادینه بیګ ته یې ((خلعت)) سپارلی و ، دا وخت له ده سره په ګاټي
بلوان کې و. ادینه بیګ په یوه زړه نا زړه حالت کې و. طهماس خان ده ته
پیشنهاد وکړ چې د پورتني فرمان د یوه کاپي په ملتیا یوه عریضه بیګم ته
واستوي او له هغې څخه د ځواب تر راتلو پورې د تیمور شاه او جهانخان
ایلچیان دلته وځنډوي او ورته یې عرض وکړ چې شخصاً له بیګم سره کتنه

وکړي خو راوی ته په رارسېدو سره چې له ادینه ناګر (په عین حال کې ادینه بیګ هم خپله اردوګاه لېږدولې وه) څخه اته کوسه واټن لري. طهماس خان دا معلومات ترلاسه کړ چې بیګم د شاه له اردوګاه څخه سیالکوټ او بیا لاهور ته ناراضي او خواشینې راستنه شوې ده او هلته یې چوک ته نږدې په سرای حکیم کې په یوه زړه ښاري ناحیه کې استوګنه غوره کړه. د ادینه بیګ خان استازی د پلارام دلته په لاهور کې له تیمور شاه سره په خبرو اترو پیل وکړ او خبل خاوند ته یې د دوابې پوځداري لاسته راوستله او هم په لاهور کې د هغه (ادینه بیګ) د شخصاً حاضرېدو د معافېدو په بدل کې یې په کال کې د دېرش لکو روپیو د ورکړې ژمنه وکړه. دیلارام په لاهور کې د دغه باج د تامین په غرض پاتې شو. ادینه بیګ دا پرېکړې او ترتیبات ومنل او په منظمه توګه یې خپل میاشتني قسطونه استول[۲].

په دې ډول ادینه بیګ ملګرتیا نه راوبلل شو او په سیمه کې سوله راغله ((په مرکز او محلاتو کې عدل روان شو او لارې د زیات تګ او راتګ لپاره په امن کې شوې.))[۳]

## په امرتسر باندې برید:

ډېر ژر جهانخان ته خبر ورسېد چې په چاک ګورو (امرتسر) کې زیات شمېر سکان په سپېڅلي ډنډ کې د ځان مینځلو لپاره راغونډ شوي او ځورونې ته یې لاسونه اچولي دي او هم له سردار حاجي عطاخان او نورو سره د تیمور شاه پوځونه چې د سیمې په لاندې کولو او نورو مسایلو په حل لګیا وو، له

(۲) طهماسنامه، ۶۷ب– ۶۹، علي الدین ۲۵۳، خزانه امیرا، ۱۰۰، سرکار دویم ټوک، ۶۷.
(۳) سرکار، د مغلو د امپراتورۍ زوال، دویم ټوک، ۶۷.

دوی څخه ډېر تنګ شول. جهانخان حاجي عطاخان ته ولیکل چې په یوه ټاکلې ورځ له خپلې ټولې قوې سره په چاک ګورو باندې برید وکړي او ورته یې وویل چې دی به هم په هماغه ورځ د سکانو د ټکولو لپاره ځان ورسوي. ده په افغانستان کې د دود له مخې د لاهور په ښار کې د نغارې په وسیله د سکانو په مقابل کې جهاد اعلان کړ او له هر یوه اس والا څخه یې پرته له دې چې د دولت خدمتګار دی او که نه وغوښتل چې له ده سره د جګړې تر میدان پورې بدرګه وکړي. حتی بیګم هم مجبوره شوه چې د خپل خدمت لاندې پنځه ویشت سواره د طهماس خان تر مشرۍ لاندې ولېږي. قاسم خان هم له هغوی سره یوځای شو. ددغې قوې شمېر دوو زرو سورو ته رسېده. دوی له غرمې وروسته له لاهور څخه روان شول او د شپږو کوسو د واټن له وهلو وروسته سرای خان خانان ته راورسېدل او شپه یې دلته تېره کړه. بله ورځ هغوی له امرتسر څخه دوه کوسه لیرې ځای ته ځانونه ورسول. جهانخان سره له خپلو جدي او امرو بیا هم هلته په دې حیران شو چې حاجي عطاخان لا تراوسه ځان رسولی نه و.

په همدغه وخت کې سکانو ته د دوی پر خلاف د لاهوري قوې د رارسېدلو خبرتیا حاصله شوه دوی له هرې خوا څخه راټوی شول او جګړه ونښتله. د لاهور قوه محاصره او نابېره وربانديې یرغل وشو. د سکانو د یرغل فشار دومره قوي و چې لاهوري پوځ په وېره کې ولوېد او د تېښتې لاره یې غوره کړه. جهانخان په ډېر شدت او غضب سره وړاندې چپاو وکړ او د اوضاع د کنټرول لپاره یې سخته هڅه پکار واچوله. دا وخت طهماس خان له دوو سوو سورو سره دده په حضور کې و، خو څرنګه چې سکانو د فراریانو لپاره

لاري ترلې وې، نو هغوی مجبوراً بېرته خپل اصلي پوځ ته ستانه شول. جهانخان خپله توره له تيکي څخه راوکښله او ځينې خاينان يې له ډېره قهره ووهل او چېغه يې وکړه: (( ولې تاسو فرار کوئ )). سره له دې هم ټول تښتېدلي بيا راوګرځېدل او جګړه په شدت پيل شوه خو دوی ډېر ستومان شول همدا وخت چې حاجي عطاخان د جګړې له مهماتو سره راڅرګند شو او د سکانو پر خلاف يې د خپل پوځ حالت ته بهبود وباښه. سکانو ته دا ناممکنه وه چې د توپخانې بېرحمه ګوليو په ډګر کې له تازه دم قوې او د توپخانې په مقابل کې مقاومت وکړ، له دې امله له قرار څخه فرار ته ترجيح ورکړه. بريالي پوځ سکان تر چاک ګورويا (امرتسر) پورې پسې واخيستل او د سکانو د معبد انګړ ته ورننوتل دلته يې د دروازې سره پنځه پلي ساتونکي سکان له تېغه وايستل. د لاهور يو مشر مير نعمت خان له دفاع کوونکو سره په جګړه کې له منځه لاړ. فاتحانو خپله اردوګاه په امرتسر کې وټاکله او جهان خان له څو ورځو دمې کولو وروسته لاهور ته راستون شو[۴].

## د کوټ بودار مداس پېښه:

د سکانو په سپېڅلي معبد او ښار باندې د تيمور د قواوو دغه بريد د افغانانو پر خلاف د سکانو د قهر او غضب په لمبو باندې تېل واچول. ورپسې يوه بله پېښه منځته راغله چې دغه حالت يې نور هم پسې خراب کړ دوه افغاني سواره چې له سرهند څخه راتلل تصادفاً د کوټ بودار مداس په

(۴) طهماسنامه، ۷۶الف- ۷۷ب.

سیمه کې وو‌ژل شول. ددغه خبر په اورېدو سره جهانخان څو تنه سواره ناظران د هماغه سیمې چاودرې ته ولېږل هغه هم ددې لپاره چې نوموړی جبراً تورن کسان په لاس ورکړي. دوی د خپل هېواد د دود سره سم چاودرې تر تعذیب لاندې ونیو تر دې اندازې چې نږدې ومړ شي. ددې سره سره دی په دې بریالی شو چې وتښتي او خپل ځان وژغوري. څرنګه چې دی د سکانو یو نامتو سردار او پېژندل شوې څېره وه ((نو په دغه بې حرمتۍ باندې د سکانو ټول ولس د سپکاوي احساس وکړ)). طهماس خان وایي: ((چې منځته راغلې سوله او نظم په سیمه کې بیا له منځه لاړه او سکان په هرو څلورو خواوو کې اله ګولې ته راپورته شول.))[۵]

## له ادینه بیګ سره د کړو وړو بدلون:

خو دغه حالت د جهانخان د بې سیاستۍ او له سیاست مدارۍ څخه لیرې چلند پر اساس چې د جلندر دواب د پوځدار ادینه بیګ په مقابل کې یې غوره کړ، لا پسې خراب شو. جلندر دا وخت د سکانو د نیاو غوښتلو او امیدوارۍ ځای و. لکه چې پوهېږو ادینه بیګ د تیمور شاه په دربار کې د خپل حضور او خدمت کولو څخه د بچ کولو په غرض په کال کې د شپاړسو لکو روپیو د ورکړې ژمنه او موافقه وکړه هغه دا ومنل چې په منظمه توګه ددغه باج قسطونه تسلیم کړي او د دوابه د سیاسي چارو د ادارې لپاره

(۵) طهماس نامه ۷۷ب – ۷۸الف.

خپل استازی او وکیل، دیلارام په دایمي توګه په لاهور کې پرېږدي او د پیسو د ورکړې څارنه وکړي.[۲]

خو ددې سره سره دا معلومه وه چې ځینو مغرضو خلکو تیمور شاه دده په مقابل کې د وقار ګټلو په ناسم خیال او د هېواد د اداري لپاره د اړتیاوړ پیسو د فشار پر اساس ولمساوه. دوی تیمور شاه ته وویل: ((ادینه بیګ خان په لکهاوو شتمني لري او نوموړی قصداً نه غواړي په شاهي دربار کې حاضر شي. که چېرې دی دلته راوبولي بیا به هم هغه یقیناً رانه شي، نو ددغې بې اطاعتۍ او ګناهکارۍ پر اساس کېدلی شي هغه توقیف او زنداني کړي او په دې توګه به بېحسابه پیسې ورڅخه واخلي او د هېواد لپاره به ډاډه نظم برابر کړي.)) دغه پیشنهادونه بې تجربې او محتاج شهزاده په زړه برابر راغلل او هغه جهانخان ته لازمي اوامر صادر کړل.

جهانخان خپل پیغام وړونکي ادینه بیګ خان ته واستول او له هغه څخه یې وغوښتل چې په لاهور کې ځان حاضر کړي. خو له بلې خوا ادینه بیګ د تیمور په اصلي نیت او مقصد باندې پوره پوه شو نو ځکه یې دده استازی او پیغام رسوونکې د تګ لپاره د تیارۍ په تېر ایستونکي پلمه وځنډول او په عین حال کې یې د شیوا لیک د ډېرو ننیو او له لاس څخه وتلي خواوو ته د تېښتې ترتیبات بشپړ کړل، کله چې جهانخان د ادینه بیګ خان له خوا وړ ځواب ترلاسه نه کړ نو د هغه استازی دیلارام یې بندیخانې ته واچاوه. مغولاني بیګم د شپږو لکو روپیو د ورکړې لپاره شخصاً ضمانت وکړ او د دیلارام خوشې کولو ته لاره هواره شوه او د یوې نقشې له مخې یې د خپل

(۶) طهماسنامه، ۷۸الف، علي الدین عبرتنامه، ۲۵۳-۲۵۴.

خاوند ځای ته د هغه د تېښتې کار په بریالیتوب ترسره کړ. بیګم د دغه استازي په وسیله له ادینه بیګ څخه د پیسو د ورکړې لپاره د ژر تیاري غوښتنه وکړه. د دغه مقصد لپاره هغې سملاسي خپل یو څه جواهرات ده ته واستول چې په هغو باندې لازمي وجه چمتو کړي. بیګم په دې توګه غوښتل خپل ځان له خصوصي ژمنو څخه خلاص کړي. جهانخان د دغه خبر په اورېدو سره ځښت زیات په قهر شو او امر یې وکړ چې بیګم دې توقیف شي. خو بیګم سملاسي دده د مېرمنو خونو ته لاړه او دلته غضب شوی خان په خپله هغه په لرګي ووهله. بیګم ژمنه وکړه چې د دغه مبلغ په جواهراتو سره تادیه کړي. خو جهانخان قناعت ونه کړ دده په امر سره د بیګم استوګنځی تلاشي او ټوله شتمني یې ضبط شوه.[۷]

جهانخان وروسته ادینه بیګ ته پاملرنه واړوله او یوه ټګي یې پیل کړه. ده میرزاده غلام حسین چې ادینه بیګ ورته زیات درناوی کاوه ادینه بیګ ته ولېږه چې هغه د لاهور خواته د تګ لپاره وهڅوي په داسې حال کې چې په خپله خان په جنګي تیارۍ لاس پورې کړ چې ناڅاپه په هغه باندې برید وکړي. ادینه بیګ په لاهور کې د خپل حضور د معاف کولو په منظور د استازي په لاس شهزاده ته سوغاتونه واستول. ده په دغه وخت کې د خپلې سیمې څخه د تګ په برخه کې د خپلې ناتوانۍ غرض هغه ته ورساوه. ده وویل چې سکان دې ته تیار دي چې په دوابه برید وکړ. که چېرې دی له خپل استوګنځي څخه وخوځېږي ښایي سکان به داسې ګډوډي جوړه کړي چې غلي کول به یې ناممکن شي دا خبرې ټولې بې فایدې وې او شهزاده په

(۷) طهماسنامه ۷۹ب – ۸۰الف.

ټینګه سره په لاهور کې دده د حاضرېدو غوښتنه وکړه. په دغه وخت کې د ادینه بیګ تل ځیرکو هرکاره وو هغه ته خبرتیا ورکړه چې په ده ناڅاپه برید کېږي، نو له همدې امله دی د نالګر غرو ته وتښتېد.

## میرزا جان له ادینه بیګ سره یو ځای شو:

په دغه وخت کې میرزا جان هم له جهانخان څخه کډه وکړه او له ادینه بیګ سره یو ځای شو. میرزا جان ته دا ګرانه وه چې له افغاني وزیر سره سازش وکړي ځکه دغه وزیر په ښکاره توګه میرزا له سکانو سره په د سیسه جوړولو باندې تورن کاوه. دا ښکاره شوې چې جهانخان له میرزا جان سره په دې فکر چې هغه یې په ښکاره توګه تحقیر کړی دی، شخصي حسادت درلود. له میرزا څخه وغوښتل شول چې د ((دیوان)) په دفتر کې حاضر شي او د هېواد د هغه وخت حساب ورکړي چې شاه په هندوستان کې غیابت درلود. میرزا جان په ځواب کې دا پیغام ولېږه: ((که چېرې له دغو مقدمو څخه د خان (جهانخان) مقصد زما د ملکیت قبضه کول وي، زه ورته تیار یم. زه په هغه باندې دومره ترلې او زړه بایلونکې نه یم. همدا اوس کېدلی شي هغه راڅخه واخلي. خو که مقصد مو دا وي چې په دغه کار سره دغه د دولت خیر خوا سپک او بې عزته کړي، نو زه هېڅ وخت دغه کار ته غاړه نه ږدم.)) په عین حال کې دی د خان په حریضانه خوی خبر و له همدې امله یې د خطر د بچولو لپاره هغه ته یوه جوړه ترکي اساس چې د سرو او سپینو زرو په یراق (ګانه) سمبال وو له یو څو ټوټو ښایسته وریښمین ټوکر او یوه اندازه پیسو سره د سوغات په توګه واستول. خو دغه کار د جهانخان رضا حاصله نه کړه سوغاتونه یې واخیستل او خپلو ناظرانو ته یې امر وکړ چې د

میرزا جان استوګنځي ته لاړ شي او نوموړی په رضا یا زور سره د دیوان دربار ته راولي.

میرزا جان د موضوع جدیت احساس کړ، نو ځکه یې په زیات زیار سره د ناظرانو رضا ترلاسه کړه او دوی په دې ژمنه سره بېرته واستول چې دی حاضر دی، بل سهار د دیوان دربار ته ځان ورسوي. ده د خپل ژوند د ژغورلو لپاره له تېښتې څخه بله چاره نه لرله. ده ته دا ممکنه وه چې په کشمیر کې سکجیون یا په شیوا لیک کې ادینه بیګ ته لاړ شي. څرنګه چې دا وخت سکجیون د احمد شاه یو وفادار خدمتګار ګرځېدلی و او هم مسلمان نه و، نو ځکه دا چانس د ادینه بیګ په برخه شو او میرزا جان په نیمه شپه د شیوا لیک لور ته روان شو. دغه محال ادینه بیګ ته بل هېڅ شی دومره زیات له افغانانو څخه د میرزا جان د رابللېدو او دده اردوګاه ته د رارسېدو په شان خوندور نه وو[۹].

## مرادخان د ادینه بیګ پر خلاف یوه پوځي ټولګي ته حرکت ورکړ:

کله چې میرزا جان د ادینه بیګ اردوګاه ته وتښتېد او هغه ورته پناه ورکړه نو دا کار ددې سبب شو چې جهانخان د ادینه بیګ پر خلاف یو لښکر واستوي. احمد شاه په پنجاب کې د نارامیو له خبرېدو سره سم د ملتان والي، مرادخان ته امر وکړ چې له لس زره سپاره پوځ سره لاهور ته ولاړ شي او هلته د سکانو پر خلاف له جهانخان سره مرسته وکړي. جهانخان د ادینه

(۹) تذکره عماد، ۳۷۲.

بیګ پر خلاف د اعزامي لښکر قوماندہ مرادخان ته ورکړه او د دوا به نامزد پوځدار سرفرازخان او بلندخان د هغه د مرستیالانو په حیث وګومارل. افغانان له بیس څخه تر اوښتلو وروسته د سویل ختیځ خوا ونیوله ځکه دا وخت دا معلومه شوې وه چې ادینه بیګ د ستلج د سین په شاوخوا کې د هوښیارپور په سیمه کې له جایجون سره غلي شوي دي[10].

په عین حال کې ادینه بیګ خان له سودي وادبکسنګ او سردار جسا سنګ الو والیه سره خبرې اترې پیل کړې. له څه وخت راهیسې سکان په امرت سر او کارتارپور کې د عامه وژنې او د دوی د ګوردوارا ګانو د بې حرمتۍ کولو له امله د افغانانو په مقابل کې د سختې کینې په اور سوځېدل. د دوی په نظر دا یو خدای ورکوونکې فرصت و چې له هغه څخه دوی په زیات زړورتوب باید استفاده وکړي. دغه راز ادینه بیګ د سرهند حکمران صدیق بیګ او راجا بوپ سنګ د ځان پلوي کړل[11].

## افغانانو د مهیلپور په جګړه کې ماتې وموندله:

ادینه بیګ له خپلو پنځه ویشت زره سپرو سره له غرونو څخه دده پر لور د مخ پر وړاندې کېدونکې افغانانو د مقابلې لپاره راووت. دواړو لښکرې د هوښیارپور په سیمه کې مهیلپور ته نږدې له یو بل سره ونښتلې او یوه خونړۍ جګړه پېښه شوه. څرنګه چې د سکانو لپاره د ادینه بیګ او د افغانانو د مسلمانو لښکرو ترمنځ توپیر ګران و، نو داسې ترتیب ونیول شو چې د ادینه بیګ د لوري پوځ دې په خپلو سرونو کې د وښو ګېډۍ

(۱۰) تذکره عماد، **۳۶۵**، خزانه امیرا، ۱۰۰، غلام علي، شاه عالم نامه، **۵۵-۵۶**.
(۱۱) شاه عالم نامه، **۵۵-۵۶**، شاهنامه احمدیه، **۲۳۷**.

وتښتېدلو پۍ سره تېښته وکړه. افغانانو په لوټ او تالا ګواښ سره پخنه وکړه، او ډېره سخته انتقاله وکړه.

وتومبي سره له دې چې افغانان په سپکه توپخانه سره مجهز وو خو بیا هم هغوی د قهرېدلیو سکانو د سخت برید په مقابل کې مقاومت ونه کړ او تېښتې ته اړ شول. د پیجګر کرم سنګ چې د شام سنګ په دېره (لښکري ډله) پورې مربوط و، په دغه جګړه کې د خپلې زړورتیا د ښودلو له امله خپل ځان ممتاز کړ. بلندخان د جګړې په ډګر کې د جنګېدو پر وخت مړ شو، مرادخان له وېرې څخه ټول اسباب او سامان سکانو ته پرېښود او د لاهور لور ته وتښتېد. بریالي سکان ورپسې د جلندر په ښار ورتوی شول او له هغه څخه یې خپل غچ واخیست. سعادت خان افریدي په تیت و پرک جګړو کې ماتې وخوړه او ښار د دوی پر وړاندې مغلوم شو. سودي وادبګ سنګ سکان عامه لوټ ته وهڅول او شخصاً د هغو تېریو مسوول و چې د دوی له خوا ترسره شول. د ناصرخان مړی یې په ((کرتارپور)) کې د عامه وژنې او د تام صاحب ګرداورا په سوځولو تورن و، له قبر څخه وایستل شو او تر سپکاوي لاندې یې راوست. په دغه عمومي الهګوله کې د دوګرې د کلي او هغه د شاوخوا خلک هم په جلندر باندې راوختل او په ولجه کې یې ونډه واخیستله، خو ادینه بیګ د هغه د نجات لپاره راورسېد او د سکانو د رضایت د حاصلولو لپاره یې هغوی ته یو لک او پنځه ویشت زره افغانۍ باج ورکړ[۱۲].

## سکانو جلندر دواب لوټ کړ:

(۱۲ )خزانه امیرا، ۱۰۰، طهماس نامه، ۷۸الف، احوال ادینه بیګ، ۱۹، حسین شاهي، ۳۳، تاریخ مظفري، ۵۴۷، سیرالمتاخرین، ۹۰۸-۹۰۹، شاه عالم نامه، ۵۵-۵۶، علي ابراهیم، ۱۸، چهار ګلشن پنجاب ۱۳۲، پراچېن پانت پراکاش، ۴۱۳-۴۲۲، پانت پراکاش (جیان سنګ) ۷۲۱-۷۳۰، پرسر د جلندر د سیمې راپور ۲۹.

له دغه بري څخه د غره توب له امله سکان نور هم پسې زړور شول. دوی ټوله دوابه لوټ کړه او د لاهور تر شاوخوا یې ځانونه راوړاندې کړل، په داسې حال کې چې ادینه بیګ خپل مرکزو ته بېرته ستون شو. طهماس خان خپل د سترګو لیدلی حال داسې بیانوي: (( په زرګونو سکانو هره شپه په ښار(لاهور) برید کاوه او د هغه لیرې حومې یې ولوټلې خو هېچا دا جرئت نه شو کولی چې د هغوی مقابلې ته له ښار څخه راووځي.

زیاتره به د شپې په لسو بجو د ښار د دروازو د بندېدو امر صادرېده. حالت ورو ورو خراب شو او د دولت اداره ټ،له ګډه وډه وه. ))[۱۳]

د ۱۱۷۱هـ کال د ربیع الاول خرد جنوري (شپږمه) نېټې د یوه مرټې پیغام له مخې چې ادینه بیګ او د بلارام د مکتوبونو پر اساس برابر شوی و، سعادت خان افریدي په جلندر کې له خپلې ماتې وروسته غرونو ته وتښتېد او سکانو د دوابې له خلکو څخه کار براسد په نامه (یوه ټاکلې اندازه خوږ پودین چې له اوړو، زېړو غوړیو او شکرې څخه جوړ شوی و) باج ټولاوه. د لاهور صوبه دار یو پنځه ویشت زره کسیز سواره لښکر د خواجه عبید (اله) خان په مشرۍ له سکانو سره د جګړې لپاره ولېږه. پورتنی پیغام داسې ادامه مومي ((نوموړی خان په جګړه کې ماتې وخوړه. دده زیات شمېر کپتانان ووژل شول او د هغه اردوګاه او مالونه لوټ وشل. هغه ټوله توپخانه چې تر خپل شا پرېښودلې وه، وتښتول شوه. ))

(۱۳) طهماسنامه، ۷۸الف، احمدشاه بټلیه، تاریخ هند، ۸۷۲(۳۲۶).

ورپسې سکان د بري دواب لور ته واوښتل او د باټالا او کالا نار او همدارنګه لکه چې پورته مو وويل د لاهور تر حومې پورې يې خپل لوټ ته پراختيا ورکړه.(۱۴)

جهانخان د مراد خان د دردوونکې ماتې او د سکانو د قدرت د پراخېدو په اوربدلو سره ډېر په قهر و. دی په ډېره بېړه له لاهور څخه وخوځېد او په باټالا کې له ماتې خوړلې قوې سره مخامخ شو. د شمشېر خان له تل اب (ډنډ) سره يې په مراد خان باندې له سترګو لګېدو سره سم له غضب څخه تاو راتاو شو او امر يې وکړ چې نوموړی په ښکاره توګه په متروکو ووهي. خو دا کار ټول بې فايدې و ځکه هغه دريځ چې په جلندر دواب کې له لاسه ووت هېڅکله بېرته رانه وستل شو.(۱۵)

په عين حال کې د زعفران خان د ماتې خبر رارسېد چې د کشمير د حکومت د ادارې لپاره استول شوی و.(۱۶)

دا هم لا اخري خبره نه وه. تر ټولو بده نتيجه دا وه چې د جهانخان او شهزاده تيمورشاه له تېښتې څخه رامنځته شوه. دا د سکانو او مرټانو ګډه ناوړه چور و چې هر څه يې له ځان سره بور کړل.

## د ادينه بيګ وېره:

---

(۱۴) اس. پي. ډي. دويم ټوک، ۸۳، احمدشاه بټليه، تاريخ هند، ۸۷۲.

(۱۵) احمدشاه بټليه، تاريخ هند ۸۷۲. ددغه ليکوال په حواله مراد خان زړه نا زړه جګړه وکړه. دی د شاه ولي خان په خوا دربدلی وا و د جهانخان د دښمن په توګه ګڼل کېده. ده له کومې جدي هڅې پرته د جګړې ډګر خوشې کړ. مولف وړاندې وايي چې حتی ګډوډي چې په دوابه بست جلندر کې د ادينه بيګ له خوا پېښه شوه، د شاه ولي خان په لمسون وه. نظام الدين عشرت په خپله شاهنامه احمديه کې د مراد خان د زړه نا زړه توب په هکله چې له سرفراز خان سره يې تعصب لاره، د احمدشاه نظر تاييدوي. (وګورئ ۲۳۹-۴۱ مخونه.)

(۱۶) طهماسنامه، ۷۸الف.

دا يقيني ده چې ادينه بيگ خان په جلندر دواب باندې د سر فرازخان او مرادخان بريدونه په شا وتمبول. خو دی په دې پوهېده چې د جهان خان له پياوړې قوې سره مخامخ کېدلی نه شي، له اعليحضرت احمدشاه دراني سره به چې ښايي کوم وخت په پنجاب کې دده د زوی او استازي پر وړاندې د توهين د غچ اخيستلو لپاره دغه خوا ته راښکته شي، ډېر لږ برياليمقاومت وکړي. سکانو خپل ځانته جلا هيلې په زړه کې لرلې دوی تل دا ارزو نه درلوده چې دده (ادينه بيگ) په شخړو کې په جګړو بوخت شي. دوی د خپل خپلواک واکمن بندا سنگ ورځې لا هېرې کړې نه وې. دوی د هغې ورځې په ارمان وو چې ((خالصه)) به حکومت وکړي او کوم ياغي به موجود نه وي (راج کاريگا ياکي راشي ناکوی). دوی دې ته نږدې شوي وو چې بري ته به ورسېږي او ښايي کوم وخت به دده (ادينه بيگ) په مقابل کې ودرېږي او مقبوضات به يې په خپل لاس کې ونيسي(١٧)

او ورپسې به په پنجاب کې د افغاني دومنيونو په کنډوالو باندې د خپل خپلواک سلطنت وداني ابادکړې چې شپږ کاله وروسته(١٧٦٤) رښتيا هم دا خبره حقيقت ته ورسېدله. ادينه بيگ د خپلې سياسي هوښيارۍ او پاخه درک له امله يوه ډېره گټوره منبع مطرح کړه او هغه دا چې له مرټانو سره يې مذاکرې پيل کړې.

## ادينه بيگ مرټان راوبلل:

دا بالاجي راو پيشوا ورور راغونات راو، دا وخت له يوه ستر لښکر سره د ډيلې په گاونډ کې دېره و. دی د ١٧٥٧م کال په اگست کې له ملهارراو

هولکار سره یوځای دلته راورسېد او له هماغه وخ وروسته یې نجیب الدوله له ډیلي او سهرانپور څخه وایست. دغه کار د سرهند والي محمدزي عبدالصمد خان په وېره کې واچاوه او د هغوی د مقابلې لپاره یې یوه ستره قوه راغونډه کړه، خو مرهټان د سرهند لور ته ونه خوځېدل او کومه جګړه پېښه نه شوه. د جنوری له شپږمې (۱۷۵۸) څخه وړاندې ورځو په اوږدو کې د ادینه بیګ دوو تنو استازیو هر لال او صدیق بیګ له راغونات راو سره خبرې پیل کړې او مرهټان یې پنجاب ته راوبلل او ژمنه وشوه چې کله دوی په سفر کې وي په ورځ کې ورته یو لک روپۍ او په حضر کې پنځوس زره ورته ورکړي[۱۸].

## د سرهند لوټول:

راغونات راو دغه پیشنهاد په اسانۍ سره ومانه او د مرانو له لښکر سره د سرهند خوا ته روان شو (د ۱۷۵۸م. د فبرورۍ پای). دی له امبالا، ((مغل دی سرای))، راجپورا او سرای بنجاره څخه تر تېر بېدو وروسته د سرهند شاوخوا ته راورسېد (د پګن د پرشمه ۱۸۱۴ ب. ک (۱۷۵۸م. مارچ نهمه) د مخکیني ترتیب پر اساس دلته ادینه بیګ خان او دده متحد سکان له مرهټه وو سره یوځای شول. سکان مخصوصاً د سرهند په ښار باندې ډېر په قهر

(۱۸) طهماسنامه، ۷۸ب- ۷۶الف، خزانه امیرا، ۱۰۰، سیرالمتاخرین، ۹۰۹، تذکره عماد ۷۳۳-۷۴، تاریخ عالمګیر ثاني ۱۶۴ب احوال ادینه بیګ ۱۱.
کرم سنګ، مهاراجا الا سنګ ۱۷۴-۱۷۶ (الاسنګ ته د لادامال لیک د پګن نهه ویشتمه ۱۸۱۴ب. ک. د عبدالصمد خان قوې د ۱۷۵۸ کال د جنورۍ په نیمایي کې د ملهار راو مېرمنې چې د تانیسار او کورو کشترا په کتنه په شاه اباد کې لګیا وې کلا بند کړې، خو مرهټانو نه یوازې مېرمنې له کلابندۍ څخه خوشې کړې، بلکې افغانان یې په شاه ووهل او د هو یو شمېر اسونه یې ونیول.
تاریخ عالمګیر ثاني، ۱۵۰ب- ۱۵۱الف.

وو. په دې ځای کې د ګورو کوبند سنګ کشر زوی په قتل ورسېد. له همدې امله دوی له ادینه بېګ څخه دا ژمنه واخیستله چې له هر څه دمخه ښار ته د ننوتلو اجازه ورکړي او هغه ولوټي.[19]

عبدالصمد خان د پټیالي سردار الاسنګ په سیمه کې د سونام له یرغل وروسته د **۱۷۵۸** کال د جنورۍ میاشتې په دویمه اوونۍ کې خپل استحکامات پیل کړل، خو سرهند د کلابندۍ په مقابل کې یې مقاومت ونه شو کولی او د **۱۷۵۸** کال د مارچ په یوویشتمه نېټه ونیول شو. د لومړي ځل لپاره سکان ښار ته ور ننوتل او هغه یې په عمومي ډول تر لوټولو لاندې راوست. عبدالصمد خان او جنګباز خان هڅه وکړه چې وتښتي خو دوی محصور او له څو تنو نورو افغاني کپتانانو سره ونیول شول. سره له دې هم راغونات راوله. هغو سره ښه رویه وکړه. ورپسې مرهټان ښار ته ننوتل. دربیمه ورځ حتی د شاوخوا کلیو خلک په ښار راتوی شول او هر څه چې لاسته ورتلل هغه یې له ځان سره یوووړل. ((حتی د شتمنو خلک مانۍ ړنګې او د هغوی لرګي(دستک ) یوووړل شول، د هغوی غولي وکیندل شول هر څه چې ورڅخه لاسته راغلل ورڅخه ولېږد بدل.[20]

(۱۹ ) پراچین پانت پراکاش، ۴۲۲-۲۳، کرم سنګ، مهاراجا الاسنګ، ۱۷۶-۱۷۷.

(۲۰ ) تاریخ عالمګیر ثاني، ۱۶۴ب- **۱۶۵** الف، تذکره عماد ۳۷۶-۳۷۹، طهماسنامه، ۱۷۹ الف ۸۱ الف، تاریخ مظفري، **۵۴۷** کننګهم دسکانو تاریخ، ۱۰۶.

د عبدالصمدخان د سونام د یرغل د تفصیل لپاره وګورئ، تذکره خاندان مهاراجا کرم سنګ، ۶۱-۶۲ کرم سنګ، مهاراجا الاسنګ، ۱۷۲-۷۳. الاسنګ په دغه وخت کې د مرهټانو په اردوګاه کې یو وکیل درلود. خپل بادار ته د دغه وکیل په یوه لیک کې چې تاریخ یې د ۱۸۱۴ ب. ک د پګن نهه ویشتم دی، د سرهند پر لور د مرهټانو د حرکت په باب تفصیلات شته، وګورئ د کاغزا تی بګوانت رای په باب د کرسنګ مهاراجا الاسنګ، لمن لیک، ۱۷۶.

الاسنګ دا وخت په انند پور کیسو کې و. راغونات راو هغه راوغوښت، خو الاسنګ هغه ته خپل یو استازی بیرام دیلون لا د مال وکیل تـه د ګډو مذاکرو لپاره راواستاوه.

مرتټان له سکانو سره چې د سرهند په ولجه کې یې د ((زمري)) ونډه لرله، طبعاً کینه ناک و، د دوی ترمنځ یو څه تیت و پرک اخ و ډب وشو خو ادینه بیګ ژر د هغوی ترمنځ روغه وکړه. څرنګه چې د دواړو جنګي ډلو ترمنځ هر ایینه د تصادم وېره موجوده وه، نو پرېکړه وشوه سکان چې شمېر یې پنځلسو زرو ته رسېده له مرټانو څخه دوه پړاوه مخکې د لاهور په برید کې ونډه واخلي.[۲۱]

## جهانخان ته د ادینه بیګ لیکنه:

دا هم په زړه پورې ده چې پوه شو ادینه بیګ حتی د خپلې رابلنې له ښکاره راز او له مرټانو سره د خپل یووالي سره سره بیا هم هڅه وکړه چې دوه مخی چلند وکړي. ده په لاهور کې جهانخان ته ولیکل چې مرټانو ناڅاپه له دکن څخه په پنجاب برید وکړ او دا چې دی له هغو سره یوځای شو دا به د وخت د ایجاب د پالیسۍ په سبب و، ده وویل د جهان خان د یوه وفادار خدمتګار په توګه مې غوښتل چې تاسو د دکنیانو له هغه حرکت څخه خبر کړم چې په ډېره چټکۍ (سل کوسه په یوه ورځ کې!) وړاندې ځي. دی (جهانخان) له ډېر لږ ځنډ پرته باید د هغو د مقابلې لپاره رادمخه شي. جهانخان ته د ادینه بیګ په دغه لیکنه کې مقصد دا و چې هغه افغاني حکومت ته د خپلې وفادارۍ په خیال وغولوي او د مذاکرو او خبرو اترو لاره پرانیستلې پرېږدي.[۲۲]

---

(۲۱) تذکره عماد، ۳۷۹-۸۰، پراچین پانت پراکاش، ۴۲۳-۲۴.
(۲۲) طهماسنامه ۱۱-۱۲.

## جهانخان د سکانو او مرهټانو د مقابلې لپاره وخوځېد:

د سرهند د کلابندۍ د خبر په اورېدو سره جهانخان د عبدالصمد خان د ملاتړ لپاره خپل ټول پوځ تجهیز او د لاهور له ښار څخه بهر وخوځېد. مغولاني بیګم په چونۍ کې د تیمورشاه په مانۍ کې بندي شوه او د هغې معتمد طهماس خان ته امر وشو چې دده له اردوګاه سره پیوست شي. ټول پوځ د باټالا لور ته روان شو. له همدې ځای څخه د شهزاده د دربار رئیس او مباشر (داروغا دیوان خانه له یوه ړومبي ګارد سره ظاهراً ددې لپاره ولېږه چې د ستلج ګذرګاوې نظارت کړي. جهانخان ته پیشنهاد وشو چې دده مخکنی ګارد مرهټانو او سکانو د مجهزو عسکرو سره سیالي نه شي کولی او همدارنګه هغوی په ښه توګه خوراکي شیان نه لري. په ځواب کې دی راتاو شو او ویې ویل: (( په سیمه کې د غنمیو، جوارو او اوربشو پاخه شوي فصلونه پرېمنه دي، دوی نور نو څه لګښت او مصرف غواړي، که د خدای رضا وه دوی به لسو یا پنځلسو ورځو کې بیا سوله ییز حالت راوستل شي.)) مخکښ ګارد د هوښیار پور سیمې ته ولېږد بېد او دلته دوی څو ورځې ګشت و ګذار وکړ. په دې وخت کې سرهند ونیول شو. دوی د راهیلا په جاله کې له بیسا څخه تر اوښتلو دمخه دا خبر ژر ترلاسه نه کړلی شو، ورپسې جهانخان له خپلې ټولې قوې سره د جلال اباد د ښارګوټي لور ته وخوځېد چې د یرغلګرانو مخه بنده کړي. دی اته ورځې دلته پاتې شو،

---

د علي الدین د عبرتنامې په حواله ادینه بیګ خان دغه پیغام جهانخان ته واستاوه: ((مرهټانو د ټول هندوستان له لاندې کولو وروسته په پنجاب برید وکړ. که چېرې ته له دوی سره د مقابلې توان لرې، نو خپل لښکر دې راوباسه او ورسره وجنګېږه. که چېرې دا کار کولی نه شې، نو زه به ستاسو د یوه خادم په حیث دوی د غرنیو سیمو په بندوبست کې اخته وساتم او ته په عین حال کې کولی شې په سوکالۍ سره شهزاده او مېرمنې د افغانستان لور ته ولېږدوې. نور نو به بیا ما له دې امله چې ته مې په لازم وخت کې له دغه کړاو څخه خبر کړی نه یې نه ملامتوې)). وګورئ **۲۵۴ – ۵۵** مخونه.

خو په دغه وخت کې یرغلګران د دوابې لور ته راواوښتل او په جلا جلا لارو روان وو. جهان خان په جلال اباد کې خپل موقف خطرناک وشمېره او ژر د لاهور لور ته راوګرځېد.[۲۳]

## شاهزاده تیمور او جهانخان له لاهور څخه روان شول:

د لاهور ښاو خوا ته د ادینه بیګ خان او سکانو د ګډې قوې په رارسېدو سره جهانخان ته دا ناممکنه وه چې په لاهور کې تم شي. چونې ورانه او ویجاړه وه، د لو کولو وخت رارسېدلی نه و، دغه ښار د اوږدې مودې کلابندۍ لپاره په بشپړه توګه خوراکي شیان او تجهیزات نه درلودل. له بلې خوا جهانخان درانه توپونه نه لرل چې کلابند کوونکي د زیات وخت لپاره لیرې وساتي. دې د اشرافو په منځ کې ډېر لږ متحدین او دوستان درلودل او په مقابل کې یې دښمنان زیات وو دې د سکانو همدردي او خواخوږي له لاسه ورکړې وه او هغوی تل په دې هیله ناست وو چې یو چانس پیدا او دی وشړي. د افغاني او پوځي لښکرو شمېر یوازې څو زره کېده او د شاه له خوا چې په خپله په هېواد کې دننه په کورنیو لانجو بوخت د کومې مرستې هیله نه کېدله. په دغسې حالاتو کې شهزاده تیمور له خطر څخه بچ نه شمېرل کېده. په دې ډول جهانخان د یرغلګرانو د رارسېدلو څخه دمخه یوازې د افغانستان لور ته د تېښتې چاره لرله.[۲۴]

(۲۳) طهماسنامه، ۸۰الف– ۸۱ب.

(۲۴) حسین شاهي، ۳۴–۳۵تاریخ عالمګیر ثاني ۱۶۵الف، سیرالمتاخرین۹۰۹، تذکره عماد ۳۱۸ – ۸۲سرکار، د مغلو د امپراتورۍ زوال، دویم ټوک، ۷۳–۷۴، سراج التواریخ۲۰.

د ۱۸۵۷ کال د اپریل په اوولسمه یا احتمالاً په همدغه ورځ یاني لاهور ته د جهانخان د راستنېدو څخه په بله ورځ هغه د راوي په بله غاړه کې خپله موقتي اردوګاه ودروله او له ټولو څخه لومړی د شهزاده تیمور مور او خپل خپلوان یې په ښځ ولېږل. د لښکر نورو سردارانو هم خپل مایملک اردوګاه ته ولېږدول. څرنګه چې لېږدوونکي ښاروي لږ وو، نو ځکه دا ضرور وه چې د رود پر لور د مالونو او بارونو لېږدول په دوو یا درېو بېړیو کې ترسره شي. کله چې جهانخان ته خبر ورکړل شو، چې دده ځیني سپاهیان په ښار کې پټ شوي دي، نو ده هغوی راوایستل او په چوک کې یې اعدام کړل.(۲۵)

مغولاني بیګم په دې اوامرو سره له چونې څخه خوشې شوه چې خپل ټول سواره او پیاده په پوره سمبالښت سره اردوګاه ته واستوي.

په داسې حال کې چې د هغې سپرو د خپل نیستمنې خوا ستونه او څرګندونې کولې جهانخان د خپلو ((سزاولانو)) په وسیله په عاجلانه توګه له بیګم څخه وغوښتل چې له خپلې کوچنۍ لور صاحب زادې سره دده حضور او استوګنځي ته راشي. په دغه خبره سره بیګم سخته اند ښمنه شوه

(۲۵ ) تاریخ مظفري، ۵۴۷، طهماسنامه، ۸۱ب، تذکره عماد، ۳۸۱.

دا معلومه نه ده چې د تیمور او جهانخان د راوانېدو سمه نېټه دې په غوره پارسي او مرتبي اثارو کې ذکر شوې وي. تاریخ مظفري هغه د شعبان الاعظم په لومړنیو لسو ورځو کې (۱۱۷۱هـ د ۱۷۵۸م د اپریل په نولسمه کې پایته رسېږي.) ښودلې ده ( درعشر اول شعبان اعظم) د شعبان وروستۍ لسمه ورځ (د اپریل نولسمه) په دې ترتیب د روانېدلو ورځ شمېرل کېږي. د عماد ملک د تذکرې، ۳۸۱، سره سم مرتبان د شعبان په (دویمه او درېیمه) یاني د شعبان په سر کې له ستلج څخه په لودیانه کې دوابې ته واوښتل، ( د اپریل یوولسمه یا دولسمه) جهانخان باید په جلال اباد کې د اپریل په دیارلسمه نېټه دا خبر اورېدلی وي. طهماس خان په (طهماسنامه، ۸۱ب) کې وایي چې جهانخان په څلورو ورځو کې لاهور ته راورسېد. یاني داپریل په شپاړسمه نېټه. په دې اساس د اپریل اوولسمه نېټه د یوې باوري نېټې په توګه شمېرلی شو چې په هغې کې جهانخان خپله اردوګاه د راوي پورې غاړې ته ولېږدوله. د اپریل نولسمه نېټه د افغانستان پر لور دده د روانېدو وروستۍ نېټه کېدلی شي. له لاهور څخه د هري راغونات لیک چې یوه ورځ وروسته (چېتراسوید ۱۳، ۱۸۱۵ بیګرملی ۱۷۵۸م اپریل، ۲۱) (اس. پي. ډي، ۲۷ ټوک، ۲۱۸) لیکل شوي دي، په ختیځ چناب کې د پېښو په باب تفصیلات لري، داسې برېښي چې دغه کرونولوژیکي تصنیف یې لږ څه معکوس کړی دی. سره له دې هم په دې تصور دا لیک منلی شو چې دغه لیک د ژر استوونکو سپرو د خبرونو په ترلاسه کولو سره لیکل شوی دی.

او له طهماس خان څخه يې وغوښتل چې جلی د افغان له غوښتنې سره سم هلته بوځي. کله چې ده له بيګم سره په دغسې بې غيرتی د جلی د لېږلو په سلا مشورې په ترڅ کې په هغې اعتراض وکړ، نو هغې وويل: ((لور مې زما تر ژوند راته ګرانه نه ده)). طهماس خان وويل: ((دا سمه ده خو تر هغه ځايه چې زه پوهېږم له دغه پيغام څخه د دوی مقصد دادی چې تاسو تر هغو پورې چې دوی له رود څخه تېر شوي نه وي تر خپلې ادارې او نظارت لاندې وساتي ځکه چې ته د سيمې صوبه داره يې او دی اوس له دې سببه له تا څخه وېرېږي، چې دده لښکر تېښتې ته نږدې دی. ته بايد خپلې دروازې د افرادو په مقابل کې وتړې او هغوی پرې نه ږدې چې خپل مالونه ولېږدوي، له دغه څخه پرته دې کوم مقصد نه لري.

د ساتونکي خدای رحمت ته سترګې په انتظار ولره ته بايد سپره او لاړه شې.)) بيګم سملاسي دده په پښو کې ولوېده او داسې يې ورته وويل: ((زه اوس په دې پوهېږم چې ته په دغو غولوونکو خبرو سره غواړې ما واستوې.)) سره له دې هم طهماس خان سملاسي په دې بريالی شو چې هغه وهڅوي. د طهماس خان او دوو نورو کسانو شيخ عظيم او علي قلي په ملګرتيا بيګم د جهانخان ((زنانه وو)) (حرامسرای) ته ولاړه او شپه يې هلته تېره کړه (ياني پرته له دې چې د جهانخان د غوښتنې سره سم يوازې خپله لور ولېږي. م) بل سهار د اپريل په اتلسمه دا خبرونه راغلل چې ادينه بيګ او د مانا جي بيګو د تر مشرۍ لاندې د مرهټانو پيش قراولان (مخکني پوځي ډلګۍ) او دوه نور کپتانان د بيس له رود څخه اوښتي او د لاهور دوولس ميلۍ ته رارسېدلي دي. په غرمه کې شهزاده تيمور خپل مرکز پرېښود او د

راوي پورې خواته واوښت، ورپسې جهانخان هلته لاړ. غير ضروري مالونه ولګول شول او د حرم مېرمنې له غلام بچه ګانو سره ولېږل شوې. بيګم او د هغې لور صاحب زادې لاهور ته بېرته راغلې او يوه ازاده ساه يې وايستله. د مياشتې په نولسم سهار تيمور او جهانخان هم روان شول او د خپلې شا د ساتنې لپاره يې د مي رخضر خان په مشرۍ يوه وړه قوه پرېښودله[۲۶].

## افغانان تر تعقيب او تر پرله پسې بريد لاندې راغلل:

جهانخان په ايمين اباد کې په کاچې سرای کې دمه وکړه، خو د مرټانو، سکانو او ميرزا جان له خوا تعقيب شو. د توپونو او نورو لوازمو د نشتوالي له امله دی کلابند نه کړلی شو او په لاس کې ونه لوېد. دی په بري سره د دوی له لاسه ووت او په مصوونيت سره د خپلو دراني قبيلوي خلکو په ملتيا له وزير اباد سره نږدې له چناپ څخه واوښت، څرنګه چې رود ډېر سيلابي و، نو تعقيب کوونکي نور په دې قادر نه وو چې دی پسې واخلي، خو دوی د درياب په ختيځه غاړه باندې بشپړ تسلط وموند. ميرزاجان له راوي څخه تر تېرېدو وروسته مير خضرخان ته ماتې ورکړه او هغه يې وشاړه او ورپسې يې د جهانخان په پاتې قوه باندې بريد وکړ. دده زيات شمېر قزلباش ازبک او افغان سپاهيان خپمې او مالونه ټول د مرټانو او سکانو لاسته ورغلل. هغه غوره سکان چې د سکانو په دغه لس يا پنځلس زريز سواره پوځ کې يې ونډه لرله چرټ سنګ سوکار چاکيه، تاراسنګ چېبا، جساسنګ الو واله، چناسنګ رمګاريه، هری سنګ، لنها سنګ،

(۲۶) طهماسنامه، ۸۱ب - ۸۲ب اس. پي. ډي. ۲۷، ۲۱۸، چتراسودی، ۱۳، ۲۱ اپريل ۱۷۵۸.

ګوجر سنګ او چندا سنګ بهنګي وو. سکانو افغاني یرغمل له ځان سره امرتسر ته بوتلل او هلته یې هغه مقدس ډنډ ورباندې پاک کړ چې احمد شاه او جهانخان په مردارو شیانو ډک کړی و[٢٧].

(٢٧ ) تاریخ عالمګیر ثاني، ١٦٥الف، طهماسنامه، ٨٣ب، تذکره عماد ٣٨٢، حسین شاهي، ٣٥، تاریخ سلطاني، ١٣٤، رساله تانک شاه، ١٢٨ب، واقعات درانی، ١١، الفنستن، کابل، ٢٩٠ تاریخ ګجرانوالا، ١٩، حقایق بنا و عروج فرقه سکان، ٣٧.

# شپاړسم فصل

## د کلات میر نصیر خان بلوا (۱۷۵۹م)

احمد شاه په هند باندې د خپل څلورم برید څخه له راستنېدو وروسته د خپل دولت په اداري چارو ځان بوخت کړ. له سکانو سره د ادینه بیګ د یووالي او یا دده په اشاره د هغوی له خوا د پیدا شویو ناراميو اوازې د ۱۷۵۷ کال په پای کې راڅرګندې شوې. خو دده سوله ییز ژوند هغه وخت ګډوډ شو چې دده زوی او نایب السلطنه په مقابل کې د سکانو په مرسته د ادینه بیګ له خوا بې حرمتي وشوه. هغوی نه یوازې د دوابه بست جلندر نامزد شوی والی سرفراز خان ته ماتې ورکړه او د مهیلپور په جګړه کې یې بلند خان وواژه، بلکې همدا شان د جلندر ښار ګوټي یې لوټ کړ. په دې سربېره په پنجاب باندې د مرټانو د راختلو خبر خور شو. په دغه وخت کې چې احمد شاه غوښتل د هند لور ته د تګ تیاری ونیسي، په بلوچستان کې د نصیرخان د الهګولې نارامه کوونکې خبر رارسېد.

## د نصیر خان تاریخچه:

نصیر خان په تاریخ کې د بلوچستان د کلات یو نامتو براهوی مشر ګڼل شوی دی. نوموړی له بي بي مریم څخه د میرعبدالله خان براهوي کشر زوی دی. دده مور د التازي له خېل څخه وه او د ده سکه ورور التازخان یا په بل نامه حاجي محمد خان او محبت خان د جتګل له نس څخه د هغه بل ورور دی. د میرعبدالله خان له مړینې وروسته میر محبت خان د پلار پرځای کېناست او په کلات کې یې قدرت ترلاسه کړ او مستونګ یې محمد خان ته ورکړ، خو دا ثابته شوه چې حاجي خپل ورور ته وفاداري نه لري. دوه کاله وروسته نوموړی حاجي د کلات د دروازو ساتونکو ته بډې ورکړې او د یوه عید په لومړۍ شپه ښار ته ننوت. ده میر محبت خان بندیخانې ته ولېږه او خپل ځان یې د کلات واکمن کړ. ددې سره سره محبت خان په دې بریالی شو چې له بند څخه وتښتي، څه وخت یې لټه وکړه چې د ځینو بلوڅي مشرانو په مرسته خپل له لاسه وتلی قدرت او موقف بیا ترلاسه کړي. کله چې له هرې خوا څخه نا امیده شو، نو سملاسي په کلات کې خپل ورور ته راوګرځېد او مستونګ ورته ورکړل شو. کله چې د پیرمحمد په مشرۍ د نادر قواوې د بندر عباس او د مکران د ساحل له لارې په بلوچستان باندې رادمخه شوې، نو په دغه وخت کې محبت هڅه وکړه چې د دوی مخه ونیسي، خو ماتې یې وخوړه. په همدغه وخت کې نادرشاه کندهار ونیو. میر محبت خان او حاجي محمد خان (میر التازخان) د مقاومت له لاسه ورکولو وروسته کندهار ته لاړل او نادر ته تسلیم شول. څرنګه چې حاجي محمد خان یو جابر شخص معلوم شوی و او د ډېر فاسد ژوندانه لاره یې نیولې وه، نو له دې امله د

براهوي مشرانو په نظر او طبعیت برابر نه شو او ټولو په یوه لاس د میر محبت خان په ګټه خپله رایه څرګنده کړه او له پارسي فاتح څخه یې وغوښتل چې نوموړی د کلات په حکومت کې تایید کړي یا د هغه ځای حکومت ورته ور وسپاري. نادرشاه جابر حاجي محمد خان زنداني کړ او محبت خان یې د هغه پرځای وګوماره. د محبت خان د ښه سلوک د تضمین په خاطر نصیرخان چې دا وخت ماشوم و، دده مور بي بي مریم د حاجي محمد خان زوی مراد علي د یرغمل په توګه یوړل شول.[1]

د نادرشاه په مرګ سره نصیرخان ازاد شو او احمدشاه یې تر کندهار پورې بدرګه کړ. ده د افغانستان په خپلواک سلطنت باندې د احمدشاه د ټاکل کېدو پر وخت د خپلې قبیلې نمایندګي وکړه او د احمدشاه په ګټه یې رایه ورکړه او په دې ډول هغه یې د خپل حامي په حیث ومانه. د نصیر خان ورور محبت خان د لقمان خان په بلوا کې د برخې اخیستلو له امله د دراني پاچا باور له لاسه ورکړ او په دې ډول د هغه پر ځای د احمدشاه په امر په ۱۷۴۹ کې نصیرخان وګومارل شو. نصیر خان له جهانخان وروسته د احمدشاه یو منلی جنرال شو او خپل نایک (حامي) یې د جګړې په ډګر کې ملاتړ کړ. ده له احمدشاه سره د خراسان په عملیاتو او د هند په لومړنیو دریو بریدونو کې ملګرتیا وکړه او خپله ونډه یې په صداقت او زړورتیا سره واخیستله. هېڅ دده په حالت او سلوک کې داسې څه ونه لیدل شول چې د هغې له مخې

(۱ ) اخوند محمد صدیق، چې رای بهادر ها ټورام په خپل اثر د بلوچستان په تاریخ کې راوړي دي، ۱۸۷ - ۱۹۳، لاهکارت نادرشاه، ۱۱۷، الفنسټن کابل ۲۹۰، د الفنسټن په حواله د لقمان خان د اله ګولې پر وخت حاجي خان په کلات کې واکمني درلوده او نوموړی حاجي د نصیرخان له خوا له کاره لیرې شو. سره له دې هم پوتنجر یو جلا بیان راوړی دی د نادرشاه په هڅونه او د کلات د ناراضي ښاریانو په استقبال سره ((یوه ورځ نصیرخان د حاجي محمد خان استوګنځي ته ننوت او په زړه یې خنجر ورننه ایست.)) د پوتنجر سفرنامه، ۲۸۰-۲۸۱ وګورئ.

دې د شاه د حمايت او واکمنۍ په مقابل کې دده نارضايتي وګڼل شي. مالسن وايي: ((احتمالاً په دغه ټول وخت کې هغه د يوه فرصت د موندلو په انتظار و.)) يقيناً په دغسې يوه موضوع کې نصيرخان بايد يو ډېر هوښيار او ځيرک سړی وای. ده په اسانۍ او ارامۍ سره احمدشاه د خپل نايک په توګه تاييد کړ. د هنري پوتنجر په حواله ((داسې معلومېده چې ده د افغان سلطنت په اعتبار سره د خپلو مستملکينو لپاره هڅه په کار واچوله او هيله مند و چې له جګړې څخه ځان بچ کړي.))[2] خو اوس چې په هند کې د احمدشاه لښکرو ماتې خوړلې وه او دده زوی او نايب السلطنه شهزاده تيمور شاه له پنجاب څخه شړل شوی و او دده پياوړی جنرال جهانخان ناتوانه او تېښتې ته اړ شو. دغه راز د هغه لوړ رتبه افسران لکه عبدالصمد خان او جنګ بازخان د مرتانو په لاس کې د زندانيانو په توګه ولوېدل او مرتان او سکان دده د هندي امپراتورۍ خپلواک څښتنان شول، نو په دغه وخت کې نصيرخان هم کولی شول چې د درانيانو د واکمنۍ جغ ليرې کړي او د خپل استقلال نغارې وغږوي يا دا چې د خپل ازادۍ دعوا وکړي.

## نصيرخان خپله خپلواکي اعلان کړه، شاه دده پر خلاف يو لښکر ولېږه:

دا کار ترسره شو او نصيرخان خپل ځان خپلواک اعلان کړ. له دې امله احمدشاه مجبور شو چې په هند باندې د خپل بريد تياری موقتاً وځنډوي. خو ده نه غوښتل چې په اسانۍ سره د نصيرخان پر خلاف پوځ واستوي،

(۲) مالسن، د افغانستان تاريخ، ۲۸۴-۸۵، فيرير، د افغانانو تاريخ، ۸۴، الفستن، کابل، ۲۹، پوتنجر سفرنامې ۲۸۲.

ځکه ده هغه ته د یوه ښه ملګري، فداکار متحد او زړور سرباز په حیث کتل. ده هڅه وکړه چې د روغې جوړې په هره ممکنه وسیله سره نوموړی بیا یو والي ته راواړوي او باج ورکول پیل کړي. نصیرخان د احمدشاه پیشامد ته په سپکه سترګه وکتل او په ځواب کې یې د بلوڅي پوځ یو ثبت نام ولېږه چې د احمدشاه پر خلاف جمعاً د دوه سوه پنځوس زرو بلوڅانو له خوا د وسلې په لاس اخیستلو تیاری یې څرګنداوه. احمدشاه چې بله چاره ونه لیده نو مجبوراً یې د خپل صدراعظم شاه ولي خان په مشرۍ یو لښکر د نصیرخان په مقابل کې ولېږه.

د دولت رای ((تاریخ مرات دولت عباس)) (د بهاولپور د داود پوتراس اریخ) بیا هم دا پېښه په بل ډول بیانوي او د نصیرخان پر خلاف د افغاني قواوو خوځېدلو ته بل دلیل ورکوي. د نوموړي مورخ په حواله نصیرخان په سند کې د شاه د حاکمیت پرخلاف کلهورا له مړینې وروسته دده زوی مرادخان د هغه پرځای کېناست او نږدې پنځه کاله یې له مطلقې واکمنۍ څخه ګټه واخیستله. څرنګه چې نوموړی د تند مزاج خاوند و، نو لویانو او اشرافو هغه توقیف کړ او پرځای یې دده ورور میان غلام شاه راوباله او پر تخت یې کېناوه. په همدغه وخت کې د دوی درېیم ورور عطارخان چې د احمدشاه له خوا د سند حکومت ته نامزد و د حاجي عطایي خان په مشرۍ له یوه افغاني لښکر سره شکارپور ته راورسېد، نوموړی حاجي دغه نامزد (عطارخان) د سند پر تخت کېناوه او په خپله کندهار ته راوګرځېد. میان غلام شاه په راجپوتانه کې جیسلمیر ته وتښتېد. نوموړی فراري ورپسې د بهاولپور له مبارک خان عباس سره په خبرو اترو پیل وکړ او د هغه مرسته

يې د خپل له لاسه وتلي سلطنت د بيا ګټلو په ترخ کې وغوښتله. د بهاولپور مشر د خپل ورور محمد فتح خان په مشرۍ يو لښکر د ميان غلام شاه د بيا واکمن کولو لپاره ولېږه. عطارخان او دده ورور احمد يارخان د ((داود پوترا)) له لښکر سره د مقابلې لپاره ووتل، خو ماتې يې وخوړه او پسې واخيستل شول. دوی د احمد شاه دراني پايتخت ته د تګ په لار کې ګنجابا او کلات ته وتښتېدل. کلات ته په رارسېدلو سره دوی د نصيرخان له خوا ونيول شول او د نامعلومو علتونو له مخې چې په تاريخ کې معلوم نه دی، زندان ته واچول شول. د احمد شاه په دربار کې د سند سفير ديوان ګيد و مال چې د ميان خدايار خان له وخته يې دلته دنده لرله، د نصيرخان دغه کار چې د شاه نامزد ته يې په سپکه وکتل او په هغه يې تېری وکړ، د شاه پرخلاف وګڼه. ددغه لمسون په نسبت د احمد شاه پوځونه د نصيرخان مقابلې ته دده د وزير شاه ولي خان په مشرۍ وخوځېدل[۳].

## شاه ولي خان ماتې وخوړه:

د افغاني پوځ په رارسېدو سره نصيرخان ونه بيرېد. ده خپل فيوډالي پوځونه راغونډ او د شاه ولي خان د رارسېدو د خبر په اورېدو سره ژر له مستونګ څخه د هغه مقابلې ته ور ووت.[۴]

د پرنګويز له کلي سره نږدې (دا نوم د پوتنجر په سفرنامه کې پرنګود ليکل شوی) جګړه ونښتله. د شاه ولي خان لښکرو ماتې وموندله او مجبوراً د جګړې له ميدان څخه د برش ميله په څټ وتمبول شول.

(۳) تاريخ مرات دولت عباس، ۴۶-۵۱ (۱۰۷-۱۱۰) وګورئ شهامت علي، په هند کې په زړه پورې طرحې (د بهاولپور تاريخ) ۴۳-۴۵.
(۴) مستونګ د کلات د دولت دويم ستر ښار دی چې د کوټې په لور سړک د پاسه د کلات څخه نږدې او يا ميله د شمال خوا ته پروت دی.

## شاه، نصیرخان ته ماتې ورکړه:

د شاه د خبرولو لپاره پیغام وړونکي سپاره سملاسي شاه ته واستول شول او هغه یې د بلوڅي مشر له خوا د افغانانو له ماتې څخه خبر کړ او ورڅخه هیله وشوه چې د ماتې خوړلي لښکر د تقویې او ملاتړ لپاره ژر تیاری ونیسي. که څه هم دغه اندېښنه او مانع په خپله دومره اغېزناک نه وو خو سره له دې هم شاه له دې څخه وبیرید چې مبادا هغه به تبلیغي او مبالغه امیزه بڼه غوره او په دې توګه به داسې لوړ ارزښت پیدا کړي چې نورې قبیلې به همدې لارې ته راوبولي او هغو ته به سرایت وکړي. په همدې سبب ده د پاتې لښکرو مشري پرغاړه واخیستله او د خپل ماتې خوړلي صدراعظم د مرستې لپاره یې په چټکۍ سره ورودانګل. د شاه د قواوو له رسېدو سره سم سملاسي حالت بدل شو او له مستونګ سره نږدې جګړه کې چې د جګړې له لومړي ځای څخه یې درې نیم میله واټن درلود، نصیرخان ماتې وموندله او په بیړه یې په کلات کې خپل پاخه سنګر ته ځان ورساوه، دغه ځای ده په ډېره ښه توګه د دفاع لپاره برابر کړی و، چې افغاني برید کوونکي تم کړي. د نصیرخان پرخلاف شاه خپل بري ته ادامه ورکړه او بلوڅي مشر یې تر خپلو سنګرونو پسې واخیست او کلابند یې کړ.

## د کلات کلابندي:

ډګروال مالسن وایي: ((که افغانان په ښه توګه رهنمایي شي نو د جګړې په مخامخ ډګر کې ډېر زړور او جنګیالي سپاهیان ګڼل کېږي، خو د کلابندیو پر وخت کې تل بل ډول معلوم شوي دي. کلابندي داسې یو کار نه دی چې

په هغې کې سواره پوځیان او غرني خلک څه برتري ترلاسه کړي. دا خبره په همدغه وخت کې هم ثابته شوه او لکه چې پخوا هم همدا سې شوي و او ورپسې هم دغسې یو حالت لیدل شوی دی، د توپونو د پرله پسې ډزو په نتیجه کې په دېوالونو کې چاودونه پیدا شول او پنځه بېل بېل یرغلونه په بري سره ورباندې وشول، خو ټول په شا ووهل شول او ناکام شول. په دغه وخت کې برخوردار خان په کلات باندې یو یرغل وکړ او په هغې کې دوه غوره بلوڅي یا براهوي مشران قاسم خان او امیرخان چې د محمد حسن د قبیلې وو، ووژل شول. دا پنځم یرغل و او معمولاً لکه چې پاس مو وویل د نصیرخان په سنګرونو څه اغېزه ونه کړه او ناکام شو. د افغانانو د دغو ماتو لپاره په دغه دلیل باندې اصرار شوی چې د شاه په پوځ کې افغاني مشرانو ډېر نه غوښتل چې کلات رنګ کړي. بلوچستان د ناراضي افغانانو لپاره دا ګولان غار معنی ورکوله چې د دوی لپاره د غم راوړونکې اړتیا پر وخت کې یوه خوندي پناه ګاه برابروله. د اخوند محمد صدیق په حواله شاه ولي خان په ښه توګه له هغه (نصیرخان) سره تمایل پیدا کړ او تل دغه موقع ته په انتظار و چې د شاه او نصیر خان ترمنځ روغه وکړي. له برخوردار خان څخه پرته نور ټول افغاني مشران د صدراعظم په نظر وو او د الفنسټن په حواله نوموړي صدراعظم (له نصیرخان سره په خاصه توګه مفاهمه ټینګه کړه او هغه یې دې ته وهڅاوه چې د دراني خانانو تمایل ته ښه راغلاست ووایي او هغه ته یې پر وړاندې موسم کې د شاه له ستونزو څخه یادونه وکړه.))

## خبرې اترې:

هنري پوتنجر په خپله ((سفرنامه)) کې وايي: ((د نصير خان د پوځي مهارتونو او همدا شاه د کلابندۍ د پای ته رسولو لپاره د يوې کيسې په څېر راغلي چې يوه ورځ ده احمد شاه د خپلې خېمې پر وړاندې د لمانځه د اداکولو په ترځ کې په يوه غالۍ باندې ولید، له هغې سره سم يې سملاسي د چونۍ يو توپ ډک کړ او هماغه ځای يې په نښه ونيو او هغه نقطه يې په ګولۍ وويشتله چې شاه لږ څه وړاندې خپله سجده ايښې وه. وايي چې شاه ډېر ژر د خبرو اترو لپاره پيشنهادونه وړاندې کړل او ورپسې يې خان د هماغه دليل او اثبات له مخې د توپ ويشتنې د مهارت په برخه کې وستايه.)) پرله پسې کلابندۍ له دې سببه چې شاه په هغې باندې د بريد له پلوه عاجز شو، تر څلوېښتو ورځو دوام وکړ. له بلې خوا نصير خان هم له دغسې ازادۍ څخه چې په خپل پايتخت کې يې قيد کړی و، په تنګ راغی. په دغه وخت کې شاه ولي خان نصيرخان ته يو ياد داشت ولېږه چې په کې داسې راغلي وو: ((که تاسو راشئ او شاه ته درناوی وکړئ، زه به د يوه وزير په حيث ستاسو د امن دفاع وکړم ځکه چې تاسو ته مې د زوی خطاب کړی دی. خو که تاسو رانه شئ نو دا به د يوه وزير په حيث ماته ګرانه وي چې باچا چې ضل الله (د خدای سيوری يا استازی) دې واړوم. نصيرخان له دغه وخت څخه د خبرو اترو لپاره استفاده وکړه او خپل استازی اخوند محمد حيات خان يې افغاني وزير ته ولېږه.

وزير نوموړی استازی اخوند شاه ته وړاندې کړ او هغه ورڅخه دا پوښتنه وکړه: ((ولې خان سلام ته رانه غی؟)) اخوند ورته ځواب ورکړ: ((هغه د خپل سر امن او يو قدرمن ښه راغلاست غواړي)). شاه وويل: په څه ډول

هغه ډاډه کېدلی شي او د څه شان درنښت غوښتونکې دی؟)) محمد حیات په ډېر احترام او تواضع سره عرض وکړ: ((د تېرو عملونو معافي)) شاه په مهربانۍ سره اعلان وکړ: (منظور ده). اخوند بیا خواست وکړ: په قران کې اطمینان، او داسې درنښت چې صدراعظم په خپله خان راوبولي او ستاسو اعلیحضرت حضور ته یې راولي.)) شاه د اخوند محمد حیات خان پیشنهادونه ومنل او د قران مجید په یوه ټوک کې یې ګوته ولګوله او هم یې د ډاډینې لیک په کې وکیښل او له دغه قران سره یې شاه ولي خان نصیرخان ته ولېږه. بلوڅي مشر د قران د وړونکي په بدرګه شاه ته راغی او شاه دده د مقام او پخواني اشنایۍ له مخې هغه ته په ډېر عزت ښه راغلاست وویل. د خبرو اترو په ترځ کې کندهار ته د شاه له خوا د خان د وراره سلطان قیوم خان، ادم خان وجوهاتي او ددغه وروستي کس یو نامبردار (یو نامتو فرد) د لېږدېدو له امله ګیلې رامنځته شوې. شاه دا دواړه خان ته په لاس ورکړل.

نصیرخان په ډېره تواضع سره عرض وکړ: ((ما کوم داسې کار کړی نه دی چې د دوی شکایتونه زما په باب وړ وبرېښي. په راتلونکي کې حتی که زه دوی ته د خپلو ناوړه اعمالو له امله نصیحت وکړم او هغوی ته خپلې تېروتنې ورپه ګوته کړم، بیا هم د دوی دا طبیعي خوی دی چې تاسو ته هر ډول چوغلي وکړي. زه ستاسو اعلیحضرت د غوسې تاب او توان نه لرم. له دې امله دغه غلام دې ته ترجیح ورکوي چې په کندهار کې ستاسو په خدمت کې واوسي او اعلیحضرت کلات هغه چاته وسپاري چې د اعزاز وړ یې ګڼي، ته واکمن یې)). شاه هیله نه درلوده چې د کلات سیمې ملحق او یا

په خپله خوښه د نصیرخان پرځای بل څوک وګوماري. دی د بلوڅي مشر له تواضع او شکسته نفسۍ څخه ډېر زیات راضي شو او ویې ویل: لوی خدای کلات تاسو ته غوره کړی او سپارلی دی. ))[5]

## د احمدشاه او نصیرخان تړون:

وروسته د احمدشاه دراني او نصیرخان براهوي ترمنځ په لاندې شرایطو سره یو تړون وشو:

۱- نصیرخان باید احمدشاه د خپل نایک او خاوند په حیث ومني.

۲- نصیرخان باید د افغانستان له سرحدونو څخه بهر د افغاني پاچا د جګړو پر وخت د پوځونو یوه برخه برابره کړي په دغه حالت کې هر وخت چې د نصیرخان پوځ د جګړې په ډګر کې قایم مقام شي نو په دغه وخت کې شاه باید هغه ته یو مقدار پیسې او جنګي تجهیزات ورکړي.

۳- د افغانستان پاچا د کلات خان او دده ځای نیوونکې دی ته باید اړ نه کړې چې ((ددغه یا هغه سدوزایي مشر د دوی ځای نیوونکو یا کومې یوې قبیلې)) د ملاتړ لپاره بلوڅي ډله پوځ چمتو کړې. په دې برسېره د کلات خان دا مجبوریت باید ونه لري چې د افغانانو په منځ کې په ننیو جګړو کې ونډه واخلي.

---

(۵) د اخوند محمد صدیق کتاب چې ها تورام په خپل ((تاریخ بلوچستان)) کې اقتباس کړی دی، ۱۹۳-۹۴، فیریر، د افغانانو تاریخ، ۸۴-۸۵، مالسن، د افغانستان تاریخ، ۲۸۴-۲۸۷، الفنستن، کابل، ۲۹۰-۲۹۱، پوتنجر، سفرنامه، ۲۸۴-۸۳، ۲۹۴، عطارخان او احمدیارخان له بند څخه خوشې شول. وروسته د سند سیمې د وروڼو د روغې جوړې لپاره وویشلې شوې. خو دا کار تر ډېره وخته دوام ونه کړ او میان غلام شاه سملاسي د خپلو پلرنیو سیمو خاوند شو. مرات دولت عباس ۵۱- ۵۴ (۱۱۰-۱۱۲).

۴- په راتلونکي کې د کلات خان باید د افغانستان پاچا ته کوم باج ور نه کړي.

د دې لپاره چې تړون ښه اغېزمن او الزام اور شي احمد شاه د نصیر خان ترله واده کړه دا کار ترسره او احمد شاه له خپلې نوې مانديېنې او د هغې له خپلوانو سره یوځای کندهار ته ستون شو. له دغه ذمه وارۍ د خلاصېدو سره سم چې نصیر خان هغې ته احتمالاً پاملرنه کوله دی تل اعلیحضرت ته وفادار پاتې شو.[۶]

امام الدین حسیني په خپل ((تاریخ حسین شاهي)) کې په دغه وخت کې یو بل اغتشاش راوړی دی. میر خوش دراني چې د احمد شاه یو خپلو د یوه ملنګ په لمسون خپل ځان د افغانستان پاچا اعلان کړ. سره له دې هم د هغه اله ګولې د دومره زیاتې قوې استول ونه غوښتل او د احمد شاه له خوا په ډېرې لږې هڅې سره له منځه لاړه. اله ګوله کوونکي دستګیر او ړوند کړل شو په داسې حال کې چې دده مریې درویش یا ملنګ تر چړې لاندې ولوېد.[۷]

---

(۶ ) فیریر د افغانانو تاریخ ۸۵ پوتنجر سفرنامې ۲۸۲ - ۸۳ الفنستن ۲۹۱ مالسن د افغانستان تاریخ ۲۸۷.

(۷ ) تاریخ حسین شاهي ۳۶. د میر خوش دراني د اله ګولې په باب نور زیات معلومات په لاس کې نه شته. دا چې دغه میر خوش څوک او په کوم ډول یې له احمدشاه دراني سره قرابت درلود هم معلومه نه ده. هغه باید بیا هم له لقمان خان سره چې ( د احمدشاه د مشرورور ذوالفقار خان زوی و) او پر ۱۷۴۸ کې یې په هند باندې د شاه د پنځم برید پر وخت په افغانستان کې اله ګوله جوړه کړه غلط نه کړو.

# اوه لسم فصل

## د پنجاب لور ته واړه عملیات

پخوا له دې چې د احمدشاه د زوی او په پنجاب کې دده نایب السلطنه تیمورشاه او د هغه د جنرال جهانخان له تېښتې وروسته د احمدشاه دراني عملیات د دغه ولایت خوا ته بیان کړو دا به ضروري وي چې لوستونکي له هغو حالاتو سره اشنا کړو چې د دوی (تیمورشاه او جهان خان. م) له روانېدو وروسته په هغه ځای کې منځته راغلي دي. لکه چې پوهېږو مرټانو او سکانو پنجاب ونیو او د ۱۷۵۸ کال په اپریل کې لاهور ته راورسېدل.

دوی ونه کولی شول تیمور او جهانخان د چناب د رود هغه خوا ته تعقیب کړي، ځکه رود دا وخت ډېر سېلابي و، خو دغه رود د تل لپاره د مهاراشترا د هغو سرسختو مرټې سپاهیانو لاره بنده نه کړه چې له خپلو کورونو څخه د یونیم زرو میلو په واټن دلته راغلي و او له یو شمېر زیاتو رودونو څخه اوښتي وو.

په پنجاب کې د دوی د داخلېدو په لومړنیو اوو میاشتو کې مو ړ د مرهټانو یو مشر توکوجی هو لکارد ۱۷۵۷م په نوامبر کې د اندس تر شا په پېښور کې مو مو[1].

## ادینه بیګ د پنجاب د والي په توګه مقرر شو:

د پیشوا ورور او د اعزامي قوي قوماندان راغونات راو په لاهور کې له یوې میاشتې څخه لږه موده په لاهور کې پاتې شو. ده دا ژر درک کړه چې د مرهټانو لپاره به د سکانو د زیاتېدونکي قدرت په مقابل کې دا ناممکنه وي چې په دکنې لښکر سره پنجاب وساتي، ځکه سکان له خپلو خوندي ځایونو څخه راوتلي وو او په سیمه کې هرې خواته خورېدل او هره ورځ د دوی له لیکو او ډلو سره د جټانو بزګران چې په کلیوالي نفوس کې یې برخه زیاته وه، یوځای کېدل. په پونه کې د مرهټانو مرکزي حکومت په مالي لحاظ دومره پیاوړی نه و چې د ولایت په لیرې برخو کې خپلې چونۍ خوندي وساتي. په دې برسېره د کنیان په یوه نرم اقلیم کې زېږېدلی او لوی شوی و. له دې امله راغونات په ډېره هوښیارۍ ادینه بیګ ته په کال کې د پنځه اویا لکو روپیو د باج په مقابل کې دغه خطرناکه سرحدي سیه وسپارله.

(۱) د ب. ای. اس مندل درې میاشتنۍ مجله، پنځه ویشتمه ګڼه (۹۳)، جولای ۱۹۴۳، شپږم مخ.
خزانه امیرا، ۱۰۱، اوورپسې جام جهان نما، ۱۲۰ وایي چې د غنیم (غلیم. م) قراولانو (مخکینی پوځ) افغانان د جهلم د رود تر غاړې پورې تعقیب کړل. ظاهراً دا خبره ځو استول شویو ټولګیو ته راجع کېږي. اصلي پوځ د اس. پي. ډي ۲۷، ۲۱۸، د ۱۷۵۸م. د اپریل لومړۍ نېټه، په حواله له چناب څخه وانه وښتل شو ځکه رود ډېر سیلابي او د تېرېدوو ړ نه و. سره له دې هم وروسته د مرهټانو کنډکونه د سند تر غاړې لاړل ځینې د توکوجي هولکار، نارسوجي پنډت او ساباجي پاتیل په مشرۍ د پېښور سیمې ته ننوتل. وګورئ حسین شاهي ۳۵، تاریخ سلطاني ۷۴، سراج التواریخ ۱۳۴، تاریخ احمد ۲۵، چهار ګلشن ۱۳۳، علي الدین ۴۵۵، احوال ادینه بیګ خان ۱۲، بخت مال، خالصه نامه ۴۱، عماد السعادت ۷۴، سراج التواریخ ۲۰، ب. ای. اس. مندل درې میاشتنۍ مجله ۲۴، ۲۶ (۹۳)، جولای ۱۹۴۳ـ ۶، ۷، اووګورئ منازل الفتوح ۱۷.

په مقابل کې ادينه بيګ خان خواجه ميرزا جان خان د خپل نايب په توګه وګوماره او په خپله يې له معمول سره سم په دواب بست جلندر کې خپل مرکز وټاکه. راغونات راو د ۱۱۷۱ هـ کال د رمضان په دويمه د ۱۷۵۸ کال د مې لسمه له لاهور څخه روان شو او د ډيلي لور ته وخوځېد او د جون په پنځمه او د دوشنبې پر ورځ يې په کورو کشترا ، د سمواری اماو سيا حمام وکړ.[۲]

## د سکانو ځورونه:

ادينه بيګ خان د سکانو له ستنېدو وروسته يوازې څلور مياشتې ژوندی و چې د پنجاب له نايب الحکومه ګۍ څخه ګټه واخلي. په دغه لنډ وخت کې ده بې فايدې هڅه وکړه چې خپل پخواني متحدين سکان له پښتو وغورځوي څکه دی بيربده ، چې دوی به دده په مقابل کې ډېر قوت واخلي ، خو دوی (سکان) د څلو ښتو کلو پرله پسې ځورونو د شپني له کړاو څخه ډک ژوندانه سره روږدي کړي وو او د دوی د ځپلو په برخه کې د ادينه بيګ خان هڅې له ناکامۍ سره مخامخ شوې. دوی يوازې ددې لپاره غرونو او ځنګلونو ته په پټه لاړل چې د ادينه بيګ خان له مړينې وروسته چې د ۱۷۵۸ کال د سپتمبر په پنځلسمه نېټه پېښه شوه ، له خپلو جفاګانو څخه په ډېر شدت او زيات غضب کسات واخلي.[۳]

---

(۲) تاريخ عالمګير ثاني ۱۶۵ الف-ب، خزانه اميرا، ۱۰۱، تذکره عماد الملک، ۴۶۵-۴۶۶، تاريخ بهاوو جانکو، ۱۹، صولت افغاني، ۲۴۷، ((د ډيا پېښې))، سرکار، دويم ټوک، ۷۶، کاشيراج، ۱-۲.

(۳) احمدشاه بټاليا، تاريخ هند ۹۸۱-۸۲ (۴۱۵-۴۱۶)، عمدة التواريخ، لومړی ټوک، ۱۴۷-۱۴۹، علي الدين عبرت نامه، ۲۵۶-۲۵۷.

## مرهټان په پنجاب کې:

ډيلي ته د ادينه بيګ خان د مړينې د خبر په رسېدو سره وزير غازي الدين پيشنهاد وکړ چې سيد جميل الدين خان او عبيد الله خان کشميری لاهور ته واستول شي. دا وخت د اکتوبر په لومړي سر کې انتاجي منکشوار او يو شمېر نور مرهټي سرداران د راغونات او ملهار راو هولکار له لوري د يوه لښکر سره (د مالوا) له شاوخوا څخه د پايتخت (ډيلي) حدودو ته راورسېدل. دوی ادعا وکړه چې مرهټانو پنجاب له افغانانو څخه خلاص کړ او د دوی له خوا ادينه بيګ ددغه ځای لپاره نامزد و اوس دوی بيا هم غواړي د خپلې خوښې يو سړی د هغه ځای په حکومت باندې وګوماري.[۴]

انتاجي په ډيلي کې تم شو او دده ملګري توکوجي هولکار او نارسو جي پنډت د لاهور خواته وخوځېدل.

په داسې حال کې چې خواجه ميرزا جان د ۱۷۵۸ کال په اپريل کې په لاهور کې مقرر شو، راغونات راو د يوه ماموريت د سرته رسولو په منظور جانکو جي شنديې، د اندس اورام جي او شام جي د ملتان لور ته واستول. خو داسې معلومېږي چې جانکو چې ډېر ژر له هغه خوا څخه راستون شو. نږدې د

---

اس. پي. ډي، دويم ټوک، ۹۶، د ادينه بيګ د مړينې تاريخ د ۱۱۷۲هـ کال د محرم دولسمه نېټه ښودلې ده، (د ۱۷۵۸م د سپټمبر پنځلسمه) او د محم اسلم فرحت الناضرين (اليوت د هند تاريخ اتم ټوک، ۱۶۹) هغه يوه ورځ وروسته ذکر کوي. ((د ادينه بيګ خان احوال)) د بادون پنځلسمه بيکرامی ۱۸۱۵ کال را اخلي. د شمسي محاسبې له مخې هغه په تقريبي توګه د سپټمبر له پنځه ويشتمې سره برابرېږي، خو که قمري حساب وکړو او هغه د (سودي) د نيمه رڼا پنځلسمه وګڼو، نو هغه به د (۱۷۵۸ کال د سپټمبر له شپاړسمې يا اوه لسمې) سره تطابق ومومي. ما د وروستي مرهټي ليک او فرحت الناضرين پيروي کړې ده. تاريخ عالمګير ثاني، ۱۹۰ب– ۱۹۱الف، دا نېټه د صفرې لسمه ښودلې ده. څرګندېږي چې دغه ليکوال سهواً د محرم پرځای د صفرې ورپسې مياشت ذکر کوي. په دې حساب دغه ماخذ د ادينه بيګ د مړينې نېټه د فرحت الناضرين څخه يوه ورځ وروسته ښيي.

(۴) تاريخ عالمګير ثاني، ۱۹۰– ۱۹۱الف، بي، ای، اس د مندل درې مياشتنۍ مجله، جولای ۱۹۴۳، ۶.

د سمبر په پای یا د اکتوبر په سر کې (۱۷۵۸م) د ادینه بیگ له مړینې وروسته) یو شمېر افغانانو او کاکړانو د جهلم له شا څخه د گجرات پرگانه لوټ کړه. خواجه میرزا جان چې د ادینه بیگ له مړینې وروسته یې له سکانو سره روغه جوړه کړې وه، د هغوی یوه لویه قوه یې برابره او له لاهور څخه ووت. دی تر جهلم پورې ولاړ او کاکړانو او افغانانو ته یې ماتې ورکړه او په شا یې وتمبول، خو سره له دې هم دوی بیا یوه ډېره ستره قوه راغونډه او د میرزا جان د مقابلې لپاره ستانه شول او هغه یې په سخته توگه له ماتې سره مخامخ کړ. کله چې دا وخت د مرهټانو د وړاندې راتگ خبر په هغه هېواد کې خپور شو، د دوی د جهلم ختیځ لور ته په اوښتو سره خپل ځانونه غیب کړل.[۵]

توکوجي هولکار او انارسوجي لاهور ته له راستنېدو سره سم د شمال لویدیځ لور ته پرمخ ولاړل، ظاهراً د دوی مقصد دا و چې دا سیمه ترلاس لاندې راولي. دا سې بربښي چې دوی له اندس څخه واوښتل او پېښور سیمې ته ورننوتل او د ۱۷۵۸ کال د نوامبر په نیمایي کې د میرزا جان او میرحسن علي خان په بلنه له دغه ځای څخه بېرته ستانه شول.[۶]

د ۱۱۷۲هـ کال د ربیع الاول په پای کې (د ۱۷۵۸ کال د سمبر) هغه وخت چې راغونات راو او ملهار راو هولکار له ډیلي څخه د دکن لور ته ستنېدل،

---


(۵) تاریخ عالمگیر ثاني، ۱۹۱، علي الدین، عبرتنامه ۲۵۵.

(۶) (اخبار درباره معلا) چې نېټه یې د ۱۷۵۸ کال د دسمبر شلمه ده، د ۱۷۵۸ کال د نوامبر د دوه ویشتمې نېټې (بي، ای، اس د مندل درې میاشتنۍ مجله ۲۴-۲۶، ۹۳ گڼه، ۱۹۴۳، ۶-۷، د یوه مکتوب څخه چې د ۱۱۷۲هـ کال د محرم په لومړۍ، بهادر اپادشو د هـ ۳، ۱۶۸۰ شاکا، (۱۸۱۵ بیکرامي، سپتمبر پنځمه، ۱۷۵۸ (اس. پي. ډي، ۲۱ ټوک ۱۶۳، ۱۷۸-۱۷۹) نېټه لیکل شوې دا څرگندېږي چې مرهټان د ۱۷۵۸ کال په اگست کې تر اټک پورې لیرې ولاړل. د هیات نوم په مکتوب کې راغلی نه دی.

جانکو جي د جيپور له لارې له اجمير او مارور څخه وخوځېد او د پيشوا نه ورور سره يې مرکه وکړه او د مغولي پايتخت د مرکز شاوخوا ته راورسېد. وزير عماد الملک غازي الدين مرہټانو ته د افتخاري کاليو په ورکولو سره هغوی خوشاله کړل او دوی ته يې په دې شرط د اوو يا اتو لکو روپيو د ورکړې پيشنهاد وکړ چې لاهور ته لاړ شي او سوله او نظم په هغه هېواد کې ټينګ کړي. جانکو جي د ۱۱۷۲هـ کال د جمادی الاول په پنځمه د ۱۹۵۹م کال د جنورۍ څلورمه وزير اباد ته نږدې د باراري کلي ته راورسېد. د جانکو جي او وزير ترمنځ خبرې اترې نږدې يوه مياشت رواني وې او د دواړو خواوو ترمنځ د جمادی الثاني په دويمه، د جنورۍ يو د يرشمه يوه موافقه لاسليک شوه. د فبرورۍ په لومړۍ نېټه جانکو جي د شمال خواته وخوځېد او په مارچ کې مشيهوا راته چې د ستليج په سويلي غاړه پروت دی، راورسېد. دا سې برېښي چې ده ساباجي پاتيل مخکې له مخکې لاهور ته لېږلی وي، خو هغه دا درک کړه چې دا وخت سکانو په لاهور او د هغه شاوخوا قبضه کړې او زياته قوه په اختيار کې لري. څرنګه چې د هغه تسخير او اشغال اسانه کار نه و، نو ده تصميم ونيو چې بېرته له رود څخه واوړي. جانکو جي په مشيهوارکي د ادينه بيګ د کورنۍ غړي (احتمالاً د هغه کونډه مېرمن او زوی) او د دوابه بست جلندر نور او سېدونکي حضور ته ومنل او هغوی ته يې يو څه پيسې ورکړې. د سکانو مشر له ډيلي څخه تر روانېدو د مخه ساباجي پاتيل چې د پېښور سيمې ته وړاندې تللی و، بېرته راوغوښت او د لاهور چارې يې ناروشنکر ته وسپارلې. ساباجي د ۱۷۵۹ کال د اپريل په نيمايي کې له پېښور څخه لاهور ته راستون شو او له ((توکوجي

هولکار))، ((خاندو جي))، کادم او نورو سلاح دارو (سورو افسرانو) سره چې دلته دېره وو، یوځای شو. سره له دې هم له ډېر غور وروسته ساباجي ته اجازه ورکړل شوه چې په پنجاب کې پاتې شي، دلته له نومو ړي سره درېو تنو پنډتانو، باپوراو، دا دوراو او سینا مرسته کوله.[7]

(۷) اس. پي. ډي دویم ټوک، ۱۰۰ یوویشتم ټوک، ۱۷۱.
اخبار دربار معلا، د اپریل پنځلسمه، ۱۷۵۹ (بي. آی. اس د مندل درې میاشتنۍ مجله، ۲۴ - ۲۶، درې نوي یمه ګڼه، د جولای اومه. تاریخ عالمګیر ثاني، ۱۹۲ الف - ۱۹۸ ب، ۲۰۵ ب، عبرتنامه، ۲۵۵ - ۵۶، عمدة التواریخ، لومړی ټوک، ۱۴۶-۱۴۷. د درېو تنو پنډتانو بشپړ نومونه او د دوی لقبونه ورکړل شوي نه دي، چې نه شو تشخیص کولی.
تاریخ عالمګیر ثاني، ۱۹۳ الف، د درېو تنو پنډتانو نومونه، ناروجي شنکر، ګوپال پنډت او پارشوتم پنډت له وزیر عمادالملک غازي الدین سره د جانکو جي شندي د مذاکرو په ارتباط (جنوري، ۱۷۵۹) په ډیلي کې وي، لکه چې له احتمال څخه هم لیرې نه برېښي، یو شان وبولو.
د جیان سګ د (پانت پراکاش) په حواله صاحب راو اټک، بابو راو روتاس او جهلم او رام جي او شام جي ملتان ته واستول شول، په داسې حال کې چې ((مادوراو)) په لاهور او نارین راو په سرهند کې وساتل شول. وګورئ (۷۳۳ مخ)، او شمشیر خالصه عبرتنامه او عمدة التواریخ کې (دادوراو) ښایي د پانت پراکاش) (مادوراو) وي.



SARDAR CHARHAT SINGH SUKKARCHAKKIA

خواجه میرزا جان خان او دده وروړ خواجه سعید خان دا وخت په هېواد کې ډېر نامشهور وو. خواجه میرزا جان چې په عامه توګه میرزا جان خان بلل کېده زیاتره د پوځي عملیاتو او یا د لیرې پرتو سیمو د کرارولو لپاره بهر ته تلل. دده وروړ او مرستیال خواجه سعید خان په مرکز کې اداري چارې څارلې. سعید خان یو لوی جبار وبرېښېد او هره ورځ به یې یو یا دوه تنه په دې خیال ځړول چې ولس په پټه خوله اطاعت ته تهدید کړي. دی به زیاتره په دې هیله کې و چې له خلکو څخه په زور پیسې واخلي او هغوی په نه ویل کېدونکي توګه بې عزته کړي. د خواجه وروڼو ډېر کلک مخالفین او دښمنان د تیمور د پوځ افغاني قزلباش کپتانان وو چې هغوی د چناب په کینه خوا کې نیول شوي او د میرزا جان په خدمت کې شامل کړل شوي وو. دوی د مرته پنډتانو په ګډون توطیه وکړه او د پیسو په ورکړه او ژمنه سره یې خپل ځانته په دولت کې لوی مقامونه لاسه کړل: د لاهور صوبه داري د میرزا احمد خان او د ملتان د صالح خان میرزا جان خان زندان ته واچول شو په داسې حال کې چې خواجه سعید په خره سپور د لاهور په کوڅو کې وګرځول شو او خواشینو ښاریانو خاورې او خځلې دده پرمخ وروشیندلې. ورپسې نوموړی د جزا لپاره ساباجي پاتیل ته وړاندې شو. ساباجي ورته وویل: ((ته د خپلو ناوړو او سختو خلاف رفتاریو له امله د سختې جزا مستحق یې خو زه یو ازې تا ته دا جزا درکوم چې له دې هېواد څخه لاړ شې. له دې څخه پرته تا ته زه نور څه نه وایم.))[8]

(۸) طهماسنامه، ۹۰ب– ۹۱الف، د علي الدین عبرتنامه ۲۵۶، سوهن لال، عمدة التواریخ، لومړی ټوک، ۱۴۶، په حواله د خواجه میرزا جان او دده د وروړ او مرستیال خواجه سعید خان له شړل کېدو وروسته طاهر بیګ د لاهور د حکمران په حیث وګومارل شو.

## د سکانو د قدرت پراختیا:

د هېواد په دغو ناړامو حالاتو کې سکانو د فتوحاتو او د قدرت د پراختیا لپاره په زړه پورې موقع ترلاسه کړه. د دوابه جلندر بې خاونده سیمه د سردار جساسنګ اهلوالیه له خوا ونیول شوه، په داسې حال کې چې په باري اوریچنا - دوابز کې زیات ځایونه د سردار چړهټ سنګ سوکار چاکیا لاسته ورغلل.[9]

## د پنجاب لوره د نورالدین عملیات:

اوس د پنجاب خوا ته د افغانانو عملیاتو ته راګرځو. هغه وخت چې احمدشاه د میر نصیر خان پرخلاف د کلات په کلابندۍ بوخت و، نو په دغه وخت کې ده د نورالدین خان بامیزایي په مشرۍ یوه قوه د پنجاب خواته لېږلې وه. نوموړی له کوم مخالفت پرته له اندس څخه تېر شو او د ۱۷۵۸ کال د سپتمبر په پای کې د سند سګر دواب سیمې ته ننوت. که څه هم مرټانو دا سیمه لاندې کړې وه، خو هغوی دلته کومه داسې چونۍ او په هغې کې دومره پوځي قوه پرېښودلې نه وه، چې درانیان په ټټ وتمبول شي. په دې سربېره دغه برخه دا وخت د ختکو، کاکړانو، مسلمانانو، جټانو او نورو هغو قبیلو په لاس کې وه چې افغانانو ته یې تمایل درلود. دوی د چور او لوټ په هیله د بامیزي د بیرغ تر شا وخوا راغونډ شول. نورالدین په خوش آب کې له جهلم څخه چج دواب ته واوښت او د رود په ختیځه غاړه د بهیرا د شتمن ښارګوټي بهیرا لور ته مخ پورته وخوځېد.

---

(۹) سوهن لال، عمدة التواریخ، لومړی ټوک، ۱۴۷.

ځرنګه چې د دغه ښار خلکو غوښتل شوی باج هغوی ته په خپله رضا نه ورکاوه، نو ده امر وکړ چې ښاریان لوټ او ښار داور او توري په وسیله رنګ کړي. وروسته نو موړي د میاني او چک سانو خواته لاړ او له دغو ځایونو سره یې ورته رویه وکړه. ددغو وران شویو او سوځول شویو ښارګوټو له لوګي وهلیو کنډوالو ځخه له تللو وروسته نورالدین د ګجرات خواته وخوځېد او ((پرګانه)) یې لوټ کړه او له چناب ځخه ریچنا دواب ته واوښت.[10]

دلته دده وړاندې تګ د خواجه میرزاجان خان له خوا د سکانو په ملاتړ تم کړل شو. میرزاجان د ادینه بیګ له مړینې وروسته بیا د سکانو ملاتړ د افغانانو پرخلاف جلب کړ، ځکه سکانو د افغانانو له خوا ډېر ځورونه ولیدل، هغوی د افغانانو له خوا د دوی د ګور دواراګانو د سپکاوي او د هغوی د کرتارپور او امرتسر د ښارګوټو د رنګولو له امله زیات خپه شوی وو خواجه او دده متحد سکان د چناب خواته راوړاندې شول او نورالدین ته یې ماتې ورکړه او هغه یې په شا وتمباوه.[11]

---

(۱۰ ) تاریخ عالمګیر ثاني، ۱۹۱ ب الفنستن، کابل، ۲۹۱، اوسیلی او داویس، د شاهپور د سیمې د بیا مېشته کېدلو راپور (۱۸۶۶)، ۳۶، ویلسن، د شاهپور د سیمې ګزیتر، ۳۲-۳۳. د عالمګیر ثاني تاریخ د جهلم رود سهواله چناب سره غلط کړی او وایي چې افغانان او کاکړان د ګجرات د پرګانې له لوټ وروسته د لویدیځ له لوري جهلم ته راغلل. خو ګجرات د جهلم ختیځ خواته د چناب د رود پر غاړه دی نه د هغه لویدیځ ته.
د ((شاهپور د ابادۍ راپور))، ۳۶ مخ وایي چې (( ددغه سړي (نورالدین) اقدامات د داسې تېریو بنّ ګڼلی شو چې د یرغلګرو پوځونو له خوا ترسره شوی دی یو څه مفکوره په دې باب د دغو تېریو څخه د راپیدا شویو بدمرغیو په مقیاس کې حاصلولی شو... له دغو وران شویو ښارونو څخه دوه یې (بهیرا او میاني) په خپلو کنډوالو بیا ودان شول، خو بیا هم هغه خرابي او تاوان یې جبران نه شو ،چې ورته رسېدلی و. په داسې حال کې چې د درییم یې (جک سانو) یوازې تا داوونه برېښي))، دري د پرشم مخ هم وګورئ.
ددغه هېواد حالت چې د افغاني ډلو له خوا ویجا شو د هغه متل په وسیله ښکاره کېږي چې لا تراوسه مروج دی: (( څه چې مو ړ خورو او څښو زموږ او پاتې یې د احمدشاه دي.)) د ګجرات د سیمې ګزیتر (۱۸۸۳- ۱۸۸۴)، ۱۵-۱۶.
(۱۱ ) تاریخ عالمګیر ثاني، ۱۹۱ب.

خواجه ورپسې له رود څخه واوښت او خپل موقف يې پياوړی کړ. ماتې خوړلي نورالدين ډېر د کاکړانو او افغانانو يوه لويه قوه برابره او بيا راوګرځېد چې خپل له لاسه وتلی موقف بيا لاسته راولي. دی په دې بريالی شو چې د لاهور حکمران ته ماتې ورکړي. سره له دې هم ده په دوو دليلو سره خپل بريالیتوب او خواجه تر مرکز پورې تعقيب نه کړل. لومړی دا چې ده ته د شاه له خوا کوم امر رارسېدلی نه و او هم دده تر شاه په خپله شاه او يا د هغه کوم يوه جنرال ځای نيولی نه و. دويم دا چې د توکوجي هولکار او نارسوجي پنډت په مشرۍ د مرهټانو د يوې نوې قوې د راتګ اوازه په ملک کې خوره شوه او نورالدين دا سې يو قوت نه درلود چې د خواجه، د کنيانو او سکانو له ګډې قوې سره مقابله وکړي.(۱۲)

احمد شاه په دغو دوو وختونو کې د تېري خوشحال خان ختک ته لاربښوونه وکړه چې د مرهټانو مخه ونيسي دا هغه وخت و چې د ۱۷۵۸ کال د اکتوبر – نومبر په مياشت کې توکوجي هولکار او پنډت نارسوجي اندس ته راوړاندې شول او يا دا چې د ۱۷۵۹م کال د مارچ-اپريل په وخت کې کله چې ساباجي پاتيل له جهلم څخه تېر شو او د اټک لور ته وخوځېد او (يا بېرته د لاهور پر لور د ستنېدو په حال کې و.) د حسن ابدال (پنجه صاحب) په برخه کې جګړه ونښتله، خوشحال خان ووژل شو او دده افرادو ماتې وخوړله.(۱۳)

---

(۱۲) تاريخ عالګير ثاني، ۱۹۱ ب.

(۱۳) محمد حيات خان، حيات افغاني، ۳۲۴.

اخبار دربار معلا، د (دسمبر دوه ويشتمه نېټه، ۱۷۵۸) د هغه ليک يوه خلاصه لري چې تاريخ يې د ۱۷۵۸ کال د نوامبر شلم دی (بي. ای. اس د متدل درې مياشتنۍ مجله، ۲۴-۲۶ ټوک، درې نوي يمه ګڼه، جولای ۱۹۴۳) الفنسټن، کابل، ۲۹۱. مالسن په خپل ((تاريخ افغانستان))،

## د جهان خان د قوې ناکامي:

د **۱۷۵۹** کال د اګست په پای کې شاه یوه قوه د سردار جان خان تر مشرۍ لاندې پنجاب ته واستوله ساباجي پاتیل له دغې قوې سره د مقابلې لپاره ووت. یوه سخته جګړه ونښتله او په هغې کې افغانانو ماتې ومونده او د هغوی زیات شمېر د جهان خان د زوی په ګډون ووژل شول. په خپله جهان خان هم ژوبل شو او مجبوراً بیا له اندس څخه واوښت او د پېښور سیمې ته را په ځټ شو.[۱۴]

۲۸۷ کې وایي چې نورالدین دا غوره ونه ګڼله چې له خپلې وړې قوې سره وړاندې لاړ شي، بلکې په وزیر اباد کې تم شو او د خپل پاچا اوامرو ته یې انتظار وباسه.))

(۱۴ )((د ډیلي پېښې))، د **۱۷۵۹** کال د سپتمبر د نولسمې نېټې سند یا فقره. ساباجي پاتیل باید د اټک له چونۍ څخه چې هلته دېره و، باید وروتلی وي. د علي الدین عبرتنامه، **۲۵۵** (۱۱۸الف)، خزانه امیرا، ۱۰۱.

په تاریخ عالمګیر ثاني کې د دغې جګړې ذکر راغلی نه دی (۳۶۷مخ چې هري رام په خپل اثر د ((سکانو تاریخ))، ۱۲۸، دریېم لمن لیک کې را اخیستی دی، ناسم ګڼل کېږي.)

سرجادونات سرکار په خپل اثر ((د مغلو د امپراتورۍ زوال) دویم ټوک، ۷۰ کې وایي: ((راجوید، شپږم ټوک، ۳۷۸، سکانو ته د دغه بري په ترلاسه کولو کې کریدت ورکوي.)) د راجوید د شپږم ټوک، **۴۴۵** مخ، ۳۷۸ ګڼه لیک نېټه د ۱۶۷۹ (شاکا) له (مګ) سره چې د ۱۱۷۱هـ. د جمادي الاخر او د **۱۷۵۸**م کال د فبروري له نهمې څخه د مارچ تر نهمې پورې سمون خوري مطابق ښودل شوې ده. دا یوازې د **۱۷۵۹** کال د اګست د پای له پېښې سره په دې اټکل توافق لري چې ګوندي اصلي لیک نېټه نه درلودله او مولف له خپل ځان څخه هغوی ته یوه ناسمه نېټه ورکړې ده.

خو دغه متن د جهان خان په مشرۍ کومه منظمه قوه نه یادوي، بلکې هغه افغاني ناراضه ډلې ذکر کوي چې هغوی د خپل دوو یا څلورو میاشتو معاش د نه ورکول کېدو له امله جهان خان ترک کړ او همدا شان شاه ولي خان هم د هغوی د بیا هڅونې په برخه کې ناکام شو چې غوښتل یې دوی بېرته راوګرځوي.

# اتلسم فصل

# په هند باندې پنځم برید

# له مرټانو سره جګړه

# (۱۷۵۹-۱۷۶۱)

## شاه هند ته راوبلل شو:

د **۱۷۵۹** کال په اکتوبر کې احمد شاه تصمیم ونیو چې په پنجاب کې د خپلو مقبوضاتو د بیا ترلاسه کولو او په دغه ځای کې د شهزاده تیمور او جهان خان د تېښتې په نتیجه کې د لاسه ورکړی حیثیت د بیا حاصلولو او مرټانو د ټکولو په منظور په هند باندې د پنځم ځل لپاره برید وکړي. ده ته د څه وخت لپاره په هند کې د خپل استازي روهیله نجیب الدوله څخه عرایض رارسېدلي وو. نوموړی روهیله د مرټانو په وسیله له ډیلي څخه شړل شوی و او ورپسې په سوکارتال کې د هغوی له خوا په کړاو اخته و او ور باندې برید ونه یې کول. نجیب الدوله د اسلام په نامه شاه ته درخواست وړاندې کړ او له هغه څخه یې د برهمني کفارو په مقابل کې مرسته وغوښتله، په داسې حال کې چې هندي راجاګان لکه د جیپور مادو سنګاو د مرور بیجی

سنګ هغه (شاه) د دې لپاره را و باله چې د دکنی یرغلګرانو په مقابل کې خپلې سیمې وساتي. دغه راز امپراتور عالمګیر ثاني هم په پټه شاه ته لیکونه لېږلي وو چې په هغو کې یې له افغاني باچا څخه دا هیله کړې وه چې دی د خپل جابر وزیر عماد الملک غازی الدین له شرمناک جغ خلاص کړي.[1]

## په پنجاب کې اداري ترتیبات:

په داسې حال کې چې شاه سردار جهان خان لا دمخه لېږلی و، پخپله د ۱۱۷۳ هـ کال د صفرې په پای کې د بولان دغاښې له لارې په هند باندې ورښکته شو. د بنو په سیمو کې د تېرېدو پر وخت له ده سره د پښتنو دوه غوره مشران یو ځای شول. یو یې (بیګو) نومېده چې د مروتو د قبیلې د بیګو خېلو د پښې موسس و. ده د مروتو د یو سلو شلو تنو سورو ټولی له ځان سره راوست. دویم یې زمان ځکه خپل و چې شاه له هغه سره د هغه د بدن زیو او ما موخېلو د قوي سیالانو او جابرانو په مقابل کې مرسته کړې وه او دی یې د مشرتابه مقام ته راجګ کړی و. شاه د ۱۱۷۳ هـ در بیع الاول په دریم د ۱۷۵۹ د اکتوبر په پنځه ویشتمه له سند څخه واوښت او پنجاب ته ننوت.[2]

## مرهټانو مقابله ونه کړه:

۱ - احوال نجیب الدوله، ۱۹ ب، خزانه امیرا، ا.ا، ارجوید، لومړی ټوک ۱۳۸، اس.پ.ډی. دویم ټوک ۱,۶، ۸۴، یویشتم ټوک ۱۷۶، حسین شاهی ۳۸، تاریخ مظفري ۵۸۹، ډوو، د افغانستان تاریخ، دویم ټوک ۳۹۲ بیهاری لال په خپل اثر (احوال نجیب الدوله) کې وایي چې مرهټانو له نجیب الدوله څخه د هاردوار او جوالپول سیمې چې د هندو زیارت کوونکو ځایونه ووؤ وغوښتلي خو نجیب الدولهد هغه له سپارلو څخه ډډه کړه. دا د دوی ترمنځ د مخالفت یو ښه علت و. شپږم مخ وګوری.
۲ - مالسن، د افغانستان تاریخ، ۲۸۷، دبنو د سیمي ګزیتر، ۱۲۴–۱۲۶، وقایع شاه عالم، ۱۳۵ کننګو د جټانو تاریخ، ااا، لمن لیک)

په همدغه وخت کې جهان خان ساباجي له اټک څخه په داسې صورت کې وشاړه چې وروستي کس دغه ځای له کو ټکر پرته خوشې کړ. د جهان خان قوه د مرټې کوچنۍ ساتو نکې ډلې ته ډېره زوروره او ستره وه. سره له دې هم افغاني جنرال دی (ساباجي) په روتاس کې را ایسار کړ. دلته هغه جګړې ته اړ کړل شو خو ځان یې تېښتې ته برابر او پرته له دې چې په لاهور، باټاله، جلندر یا سر هند کې تم شي، د ډیلي لورته یې فرار وکړ. په مرټانو باندې یو بل مصیبت د ستلج په غاړه کې راغې یعنې دلته دوی د دوابه بست جلندر د کلیوالو له خواتر برید لاندې راغلل، ځینې مرټان د رود سویلي غاړې ته تېر شول، په داسې حال کې چې نور یې لاهم په شمالي غاړه کې تر برید لاندې وو. د دوی څلور زره اوښان چې هر اوښ یې څلویښت روپۍ بیه لرله، د سرو زرو مهرونه او روپۍ او نړدې زر آسان، و تښتول شول، زیات شمېر یې دلته ووژل شول. دغه کار د دې سبب شو چې مرټان په یوه ناوړه حالت کې را ګیرشي. پر دې سربېره د مرټانو یو جنرال او زیات شمېر افراد چې تر شا پاتې وو، له لاهور سره نږدې کلابند او د افغاني مخکني پوځ له خوا له منځه لاړل. سره له دې هم د مرټانو یو شپږ زره کسیز سواره او پلی پوځ له کومو تلفاتو پرته د لاهور ختیځ خواته په شټ شو. [3]

## له سکانو سره جګړه:

[3] -راجوید، لومړی ټوک ۱۳۹، ۱۴۱-۴۳، ۱۴۶، شمشېر خالصه، ۱۳۰ (۴۹۲)، سرکار دویم ټوک ۸۰ ګویند بالال په خپل لیک کې (راجوید لومړی ټوک، ۲۳۲ مخ) داویلي نه دی چې داروستایان او کلیوال څوک وو او د ستلج په غاړه کې چا په مرټانو بریدو کړ.

سره له دې هم سيکانو خپل ځانونه ښه معتبر وښودل. شاه له خپل څلوېښت زره کسيز پوځ سره دلاهور ګاونډ ته په رارسېدو سره له هغوی (سکانو) سره يوه ستره جګړه وکړه.

په دغه جګړه کې شاه خپل دوه زره تنه افراد له لاسه ورکړل او سردار جان خان ټپي شو. [۴]

## په پنجاب کې اداري ترتيبات:

څرنګه چې دا وخت پنجاب بې خاونده پاتې و، نو جهان خان خپل افراد هرې خوا ته خواره کړل او درې يا څلور تنه يې لا د مخه له وزيرآباد څخه په لاهور کې ديوان صورت سنګ ته ولېږل او هغه ته يې هدايت ورکړ چې په لاهور کې د تيمورشاه په نامه خطبه ولولئ او س سکه يا پيسې د ده په نامه ووهل شي او هم دا نغاره ووهئ چې هيڅ يو ښاري تر څو روني لاندې رانه شي. لاهور ته د شاه په رارسېدو سره د وزير شاه ولي خان وراره او د تيمورشاه عرض بيګی حاجی کريم داد خان د چهار محل يعنې ګجرات، اورنګ آباد، پسرور، ايمين آباد د پوځدار په توګه منځ ته راغي. امير خان د کريم داد خان د مرستيال په توګه وټاکل شو. [۵]

---

۴ - راجويد، لومړی ټوک ۱۴۶

۵ - تاريخ عالمګير ثاني، ۲۱۱ الف، ب، عبرت نامه (علی الدين) ۲۵۹، عمده التواريخ، لومړی ټوک، ۱۴۷، کنهيالال، تاريخ پنجاب، ۸۲ مير غلام علی آزاد (خزانه امير ا.ا) او ورپسې قدرت الله په خپل جام جهان نما، دويم ټوک، (۱۲۰-۱۲۱) او محمد علی انصاری په خپل تاريخ مظفري، ۵۸۹ کې موږ ته دا ښماره کوي چې شاه له لاهور څخه جمو ته لاړ او هلته يې د هغه ځای له راجا رنجيت د يو څخه باج واخيست او ورپسې يې خپل تګلوری د ډيلي خوا ته غوره کړ.

نجيب الدوله مهاراجا ساوای -مادو سنگ ته د ۱۷۵۹ کال د ډسمبر په لسمه ليکلي وو: "دا وخت شاه صرف د هند د مسايلو د حل په مقصد دې خوا ته پاملرنه اړولې او د دغه هېواد د لويانو او نجباوو په سلا او همکارۍ غواړي د دکن سيمې لاندې کړې او شرير کفار له منځه يو سي. دستور ورکړل شو چې د شاه بدرګه وال سرادارا ن او خادمان دې له خپلو کورنيو او ماشومانو سره لاهور ته راشي چې دلته په دغه ښار کې يې نفوس زياتوالی ومومي"

په لاهور کې د افغانانو مېشت کول يو ضروري کار بلل شوی و او دا د دې لپاره چې ښار د سکانو د يرغلو نو او بريدونو څخه وساتي، سکانو احتمالا په کومه يوه موقع دا ويره پيدا کوله چې ښار ته به راننوزي او په پنجاب کې به د شاه پوځي اردوګاه ماته او د سويل په خوا کې به د هغه د ناتوانۍ سبب شي.

## غازي الدين امپراتور عالمګير ثاني وواژه:

شاه له پنځلس زره افرادو سره جهان خان د سرهند لورته د مخه ولېږه او په خپله په کراره له ستر ځلو ښنت زره کسيز پوځ سره په هغه پسې ور وخوځېد او د ۱۱۷۳ ربيع الاول په نهه ويشتمه نېټه ( د ۱۷۵۹ کال د نوامبر شلمه ) د بيس له رود څخه د ګويندوال په برخه کې واوښت. د ربيع الثاني په نهه ويشتمه (د سپتمبر لسمه ) شاه په خضرآباد کې د روپر په کيلوالي سيمه کې واړول او له هغه ځای څخه سرهند ته روان شو. له لاهور څخه د ډيلي پر لور د شاه --- خبر په ډيلي کې صدراعظم بعماد الملک غازي الدين دومره

وارخطا کړ چې لېونتوب ته يې ورساوه او ډېر غضب او قهر يې عالمګير ثاني ته راوپارېد ځکه هغه د ده پر خلاف شاه هندوستان ته را وباله، نو په همدې سبب ده هغه (امپراتو عالمګير ثاني) د **۱۱۷۳** هـ کال د ربيع الثاني په اتمه ـ د نوامبر نهه ويشتمه – **۱۷۵۹**) وواژه. د ده د **۱۷۵۷** کال پخواني سيال انتظام – الدوله يې هم بله ورځ(د نوامبر د ېرشمه) زندی کړ. دغو وژنو شاه د غازي الدين پر خلاف ولمساوه.[٦]

## مرټانو په تاراوري کې ماتې وموندله:

د اتاجي چې د يوڅه وخت لپاره يې په نجيب الدوله باندې بريدونه کول، سو کارتال کلا بند کړ او په خپله يې د شاه د مقابلې لپاره ځان چمتو کړ. سره له دې هم خوش باور داتاجي مجبوراً رو هيله خوشې کړل چې له يرغلګر(احمد شاه.م) سره يو ځای شي ځکه هغه له دغه کار پرته کومه بله چاره نه درلوده. شاه د سويل لورته روان و، ده په يقيناً د سوکارتال خواته مخه کوله چې هلته نجيب الدوله له ډيلي له تګ څخه مخکې آزاد کړي. په همدغه وخت کې شجاع الدوله هم موافقه وکړه چې له نجيب الدوله سره متحد شي. په دې ډول داتاجي هوډ وکړ چې به له دراني سره د مقابلې لپاره وروداننګي او د ډيلي پر لور د هغه تګلاره بنده کړي. نوموړي د **۱۷۵۹** کال د دسمبر په شلمه نېټه له پاني پت سره نږدې په رامرګاټ کې د جمنا له رود څخه واوښت، خپل غير ضروري مالونه او کورنۍ يې له ګوبندلال او

٦ - تاريخ عالمګير ثاني، **۲۱۴** الف–ب، مراسلات احمد شاه دارنی، لومړی ګنه ليک.
د اس.پ.ډی اوه ويشتم ټوک، **۲۴۵**، په حواله شاه د ربيع الاخر په شپږمه، نوامبر **۲۹** مه سرهند ته ننوت. ظاهرآ دا نيټه د شاه ننوتل د سرهند هغه سيمي ته ښيې چې په کې خضرآباد پروت دی، نه دا چې شاه په خپله د سرهند ښار ګوټي ته ننوزي.
د سکانو تاريخ يا کال (سنه)

جانکوجي سره واستول او په خپله یې له کنج پورا څخه د سردار جهان خان د مخکني پوځ په سمت حرکت وکړ. مرهټانو مخکیني پوځ د بهوتي په مشرۍ د ۱۷۵۹ کال د دسمبر په څلیرویشتمه پاش سودي ۵، ۱۲۸۱ (شاکا) (۱۸۱۲ ب.ک) له افغانانو سره د تاراوري له تاریخي میدان سره چې تانیسار ته نږدې دی، مخامخ شو. داسې معلومېده چې (داتاجي) دا لومړنۍ جګړه له درانیانو سره دومره جدي نه ګڼله. د دې پر ځای چې دې په خپله خپل پوځ رهنمایي او عملیات رهبري کړي، د یوه مرټي لیک( اس. پ. ډی دویم ټوک ، ۱۰۹، ۱۲۲ مخ )په حرړوا لـه ده یوازې دا غوښتل چې د افغانانو تا کټیک وګوري په داسې توګه وي. دا کار خطرناک ثابت شو.۸

مرټانو په امید وارکونکي دورنما سره جګړه پیل کړه، د افغانانود ډېر رومبنی تیت او پرک بریدونو شمېر زیات وو او د مرټانو د پنځه زریز پوځ او د وزیر غازي الدین د ترکی مرستیال پوځ له خوا په شاه ووهل شول. خو د دوی (افغانانو ) موقعیت سملاسي د دښمن په مقابل کې ښه والی وموند. کله چې شاه له لومړنیو علمیاتو څخه خبر شو، نو جنرال شاه پسند خان ته یې هدایت ورکړ چې له څلوروزرو سورو سره لاړ شي. کله چې د وزیر مصلی پوځونو ( چې درانیانو ته هغوی څه نوی نه برېښېدل ) د شاه پسند خان راتګ خپل لور ته ولید ، خپل ځانونه یې یوې خواته را اوکاږل. افغاني جنرال په دوی باندې د پلتنه ییزو توپکونو د ګولیو اوربل کړ. په همدغه وخت کې شاه د هغوی پر خلاف یو بل کنډک ولېږه. کله چې مرهټان د مخ او دواړو اړخو څخه د یوه ستر ځورور شمېر په منځ را ایسار شول او د شا لـه

---

۸ – اس.پ. ډی، دویم ټوت، ۱۰۹، راجوید، لومړی ټوک. ۱۵۷، حسین شاهي، ۱۳۸احوال نجیب الدوله، ۲۶ الف– ۲۷ ب.

خوا ورته هم مرسته ونه رسېدله، نو احمد شاه له خوا يې ماتې ومونده او تيت او پرک شول. بهوتي د څلور سوو تنو په له لاسه ورکولو سره په شا و تمبول شو. دا وخت داتاجي دجګړې ډګر ته ور ودانګل خو ډېر ناوخت و، ورځ په ختمېدو وه او د دواړو لښکرو تر منځ د تورې تيارې پرده خوره شوه او د جګړې د بيا تازه کولو امکان يې له منځه يووړ.[۹]

## شاه د جمنا – ګنګا دواب ته ننوت:

د احمد شاه پوځونو ته له مرهټانو سره په لومړي بر خورد کې سوبه ور په برخه شوه. نور يې نه غوښتل بې ځايه ځان تاواني کړي. د شپې له تيارې څخه استفاده وکړه او په داسې حال کې چې داتاجي خپلې اردوګاه ته د سبا ورځې د جګړې لپاره د تيارۍ نيولو په منظور په څټ شو، دی (احمد شاه) د دبوريا له يو ګودر سره نږدې له جمنا څخه واوښت او انتارود ياد جمنا – ګنګا دواب ته ننوت. نجيب الدوله د شاه حضور ته راغی او د سهارنپور سره نږدې يې هغه ته بيعت وکړ او د جمنا په ختيځه غاړه يې دی د ډيلي لورته رهنمايي کړ، په څو ورځو کې د هند نور روهيله افغاني سرداران لکه حافظ رحمت خان، دوندی خان، شاه دو لاخان، فيض الله خان، فتح خان خان سامان، اوملا سردارخان بخشي هم له شاه سره يو ځای شول. شاه د جمنا په بله غاړه کې د ډيلي ګاونډ ته په رارسېدو سره په لوني کې خپله

۹ –منازل و فتوح ۱۴–۱۵، اس.پ.ډی، دويم ټوک، ۹,۱، ۱۱۲، ۱۱۴ يوويشتم ټوک ۱۷۸، احوال نجيب الدوله ۲۸ الف–۲۹ الف.

اردو ګاه ودروله، دا ځای د ډیلي په شمال ختیځه شپږ میلي کې پروت دی او له دغه ځای څخه دوی د پښنو د بدلون ننداره پیل کړه.[10]

## د باراري ګاټ جګړه:

داتاجي هم په تاراوري کې له خپلې ماتې وروسته د ډیلي لورته وخوځېد. له کنج پورا څخه له روانېدو وروسته (د سپتمبر اووه ویشتمه) کارنل او پاني پت ته راغی او د دسمبر په نهه ویشتمه نېټه سونیپت ته راورسېد. داتاجي دا درک کړه چې له شاه سره چې له پایتخت څخه د دوو ساعتو په مزله یې اردو ګاه درولې وه، دویمه جګړه باید ډېره زیاته و نه ځنډوي. په همدې سبب ده د ۱۷۶۰ کال د جنورۍ په څلورمه نېټه د باراري لورته لاندې وروډانګل په دربیمه ورځ دی ډیلي ته ولاړ او هلته یې خپله کورنۍ او د نورو افسرانو کهولو نه ریوواری په واستول او ورپسې په خلاص زړه خپلې اردوګاه ته ستون شو او له شاه سره جګړې ته یې ځان چمتو کړ. د جمنا ختیځه غاړه په بشپړه توګه د شاه او د ده د متحدینو په لاس کې وه او لویدیځې غاړې ته چې هلته مرټان ځای پر ځای و، هیڅ ډول اطلاعات د ده د فعالیتونو په برخه کې را رسېدلی نه شول. د ۱۷۶۰ کال د جنورۍ په نهمه (۱۱۷۳ هـ جمادی الاول شلمه، پاش وادي، ۸ (۱۸۱۲ ب.ک) نجیب خان او د ده روهیله وو له رود څخه د تېرېدو پیل وکړ او په هغه کوچنی ټاپو باندې یې ځانونه ښکاره کړل چې له رود څخه د رابېلو شویو ویالو په اثر جوړه شوې وه.

---

۱۰ –اس.پ.ډی ۲۴، احوال نجیب الدوله، ۲۹ الف تاریخ مظفري، ۵۹۰، سرکار ټوک ۲۱۹ – ۲۲۰ الف، عماد السعادت، ۷۵ بیهاری لال ۸

د نجیب خان د شالوري درانیانو نیولو ، کله چې دوی هلته ښکاره شول، نو ساباجي چې (باراری ګاټې) یې په لاس کې و ، د دوی د مقابلې لپاره ووت، خو نوموړی ډېر ژر د ګڼ شمېر پوځ او وژونکو وسلو له امله کمزوری شو. ده توپخانه نه درلوده او د ده افرادو په نیزو او تورو سره د زیاتې مودې لپاره د افغانانو د پلټنه یېزوتوپکونو د ډزو په مقابل کې مقابله کولای نه شوه او باراری ته په شاتې و تمبول شو او زیات تلفات یې ور کړل. په قوماندان (داتاجي) د جګړې ډګر خبر داتاجي ته ورسول شو. د مرهټانو خپل له لاسه وتلی موقف بیا لاس ته راولي. ده په وړاندې راتلونکو روهیله وو باندې برید و کړ او هغوی یې د ویالې بلې خوا ته په شاتې وشړل. خو تقدیر بل څه پېښ کړل او سوبه د افغانانو په برخه شوه. په دغه وخت کې شاه توپچبانو او سوارو ته امر وکړ چې درهیله پیاده وو د مرستې لپاره وروداننګي. افغاني چورلکیانو د مرهټانو په نیزه لرونکو لیکوباندې وژونکی اوربل کړ. کله چې داتاجي د افغانانو لورته خپله نیزه ورو غورځوله او وړاندې لاړ په دغه وخت کې یوه ګولۍ د ده په سترګه ونښتله او دی له آس څخه مړ را ولوېد. په دغه حالت کې کله چې نجیب الدوله له مرهټانو شواره ولیدل چې د افغانانو پیاده پوځ او د روهیله لیکو خوا ته راورسېدل نو ده په تازه دم پوځ سره تم کړل. ماتې خوړلیو مرهټانو خپلې بدې را ونغاړلې او د خپل ژوند د ژغورلو لپاره یې د تېښتې لاره غوره کړه.

جانکو جي دا وخت له خپلو افرادو سره راپورته شو او هڅه یې وکړه چې جګړه نوې کړي، خو ده څه ترلاسه کولای نه شول. دی په مټ باندې ټپي شو او د خپلو تښتېدونکو ملاتړو په وسیله له میدان څخه کش کړل شو. د

جانکوجي په لیرې کېدو سره مرټان هر لوري ته په وار خطايي سره وتښتېدل او د بریالیو افغانانو له خوا تر ډېرو ښتو میلو پورې تعقیب شول. (د داتاجي سر د میان قطب شاه په وسیله پرې شو او نجیب الدوله ته ولېږ دید هغه د نوموړي سر په خپل وار سره شاه ته ولېږه. په دغه جګړه کې په داتاجي برسېره زیات شمېر مرټي سرداران ژوبل یا ووژل شول.[11]

## د ډیلي حالات:

شاه په لوني کې یو څو ورځې تم شو. په دغه وخت کې ځینې افغانان د ډیلي ښار ته ننوتل او د هغه څو محله یې لوټ کړل. د مغلو د امپراتورۍ مرکز اوس له هر لحاظه بې خاونده و. دا سمه ده چې غازي الدین د امپراتور عالمګیر ثاني له وژلو (د ۱۱۷۳ هـ کال د ربیع الثاني اتمه، ۱۷۵۹ د نوامبر نهه ویشتمه) وروسته د محي السنت زوی محی الملت چې د کام بخش (د اورنګزېب کشر زوی) لمسی و، د (شاه جهان ثاني) په نامه په تخت کښېناوه. خو د سرجادونات په قول (دغه د پاچایانو نوی پاچا د مخکېني بد مرغه پاچا په پر تله بې ارزښته او حتی د هغه سیوري ته هم نه رسېده) د ده وزیر غازي الدین دیاراری ګاټ له جګړې وړاندې له ډیلي څخه ووت او د سورج مال جټ د کمهیر چونې ته وتښتېد.

11 -راجوید، لومړی ټوک، ۱۵۳، ۱۵۶، ۱۶۵، دریم ټوک، ۵۱۶اس.پ.ډی. دویم ټوک، ۱۱۴، یوویشتم ټوک، ۲۷، ۱۸۵، ۱۸۲، ۱۸۱ ټوک، ۲۴۷، حسین شاهي، ۳۹-۴۰، احوال تجیب الدوله، ۳۰الف- ۳۱الف، طهماسنا مه، ۹۵الف، تاریخ مضفري، ۵۹۰، عمده التواریخ، لومړی ټوک۱۴۸، تاریخ شاکر خان، ۸۰-۸۱دباراری ګاټ په جګړو کې د وژل شویو مرټانو د لست د کتلو لپاره راجوید، دویم ټوک، ۱۵۴مخ وګورې.

جټ د شاه نشاهي پايتخت د ساتلو لپاره هغه وخت خپل پنځه زره تنه افراد واستول چې له لاهور څخه د ډيلي په لور د احمد شاه له تګ څخه خبر شو، خو دغه افراد د مرېټانو په تېښته سره ډېر ژر د خپل خاوند خوا ته ستانه شول. دا وخت دا آوازه خوره شوه چې احمد شاه خپل زوی د ډيلي په تخت کېنولی دی. خو دافغان پاچا دا خيال نه و چې د ډيلي تخت د ځان او يا د خپل زوی لپاره قبضه کړي. شاه نوي امپراتور ته اجازه ورکړه چې د ډيلي په چوڼۍ کې خپل کارته ادامه ورکړي او يعقوب علی خان يې چې د وزير شاه ولي خان يو خپلوان و په ډيلي کې د يوې اوږدې مودې استوګنې لپاره وټاکي چې د ډيلي د حکمران په توګه فعاليت وکړي.[12]

په دغه ورځو کې له بهار څخه د امپراتور شاه عالم ثاني له خوا يو ليک راورسېد. نوموړي امپراتور له افغان شاه څخه وغوښتل چې ده ته د هند د سلطنت تاج و تخت ورکړي. هغه وويل: "له دغه کار پرته به عماد الملک او جټ تش په نامه سره يو بل څوک پاچاهۍ ته ورسوي او سلطنت به تر پخوا سل ځله نور پسې خراب کړي او هم مرېټان به خپل قوت زر ځله لوړ کاندي او په دغه هېواد کې به د خلکو ژوند د بد مرغۍ او خوارۍ خوا ته بوزي". ده دغه راز له شاه څخه هيله وکړه چې اکبر آباد (اګرې) ته ولاړشي او خان خانان (ښايي نوموړی امپراتور به د خان خانان له ويل کېدو څخه لا خبر نه و) او نجيب الدوله ده ته ولېږي، ورپسې ده دا وويل چې هندي لويان به ټول د ده حضور ته راشي، مالوا او ګجرات به د ده په لاس کې ولوېږي او مرېټان به يا تسليم او يا وټکول شي. د بهارت پور د جټ په هکله ده په تحقير

12 - تاريخ عالمګير ثاني، ۲۱۴ الف، طهماسنامه، ۹۵–۱ ب، ۹۵ الف، اس.پ.ډی ۱۱۴ الف ارجويد، لومړی ټوک ۱۶۵.

آميزه توګه داسې وويل (خلک تا سو اعليحضرت ته جټ د هند د کلي په توګه څرګندوي ! کله نوموړي آشنا ( ددغسې واک ) څښتن يو سړی دی چې هغه ته د (کلي ) اصطلاح لازمه وي؟ ) دا ټول د نګر مال (بندوبست ) دی. کله چې په (امپراتوری ) باندې بدې ورځې راغلې، دغو خلکو د سيمو له ماليا تو څخه چې د پادشاه د ټينګتيا او معاش لپاره وو، ناوړه استفاده وکړه او خزانه يې لوټ کړه، په (دې ډول ) دی (نګرمال ) د لويانو په قطار کې راغی !( پيشو د موږکانو په نيولو کې پړانګ دی، خو په خپله د پړانګ سره په جګړه کې د موږک حيثيت لري ) کله چې موږ د هېواد ادارې ته پاملرنه را وګرزو او ډګر ته راشو، دی (نګرمال ) به ډېرې پيسې را کړي او نيول شوې سيمې چې ماليات يې په لکهاوو کېږي، خوشې کړي او زموږ په خدمت کې به ځای ونيسي. که داسې نه وي نو دی به له ستونزو سره مخامخ شي.[13]

# د دېګ کلابندي:

احمد شاه وروسته له دې چې د ډيلي مسايل يې حل کړل، د بهارت پور سور جمال جټ په مقابل کې يې په پوځي تياري لاس پورې کړ. پرته له دې چې دی (احمد شاه.م) د ډيلي ښار ته ننوزي د سويل لورته وخوځېد او پنځو ميلو په واټن يې د هغه د سويل خواته په خضرآباد کې خپله اردوګاه ودروله. له دغه ځای څخه د سورج مال جټ، د جيپور مادو سنګ او د مرور بيجي سنګ ته پيغامونه ولېږل. دوی شاه هند ته د دې لپاره رابللی و چې د

۱۳ – مراسلات احمد شاه درانی، يوويشتمه ګڼه، امپراتور شاه عالم ثاني احمد شاه درانی ته.

ده درناوی وکړي او د ده حضور او دربار ته لاړ شي. د جنورۍ په شپاړسمه نجیب خان، عبدالاحد خان او په اووه لسمه سعدالله خان، حافظ رحمت خان او نورو روهیله سردارنو د شیخ نظام الدین اولیا زیارت وکړ. له غرمې وروسته په یوویشتمه ورځ شاه دغه مقدس زیارت ته لاړ او لوی پیرته یې د دوعا لاس پورته کړ.[14]

## د مرهټانو غلچکي بریدونه:

اوس نو مرهټانو د پټ پټاني لوبه له شاه سره پیل کړه. په داسې حال کې چې جټ دد یک په چوڼۍ کې کلابند شوي و، د مرهټانو یو ټولي د ریواړي له لوري را دمخه شو. شاه د دوی پر خلاف یو زورور افغاني ټولګی ورولیږه. مرهټانو د فبرورۍ په یوولسمه نېټه د شپې د یو برید په نتیجه کې متې وموندله. شاه ته دا خبر راورسېد چې ملهار راوهو لکار له باراری ګاټ څخه تر تېښتې وروسته په کوټ پټلي کې چې د راوی په سویل لوید یځ پنځه د برش میلۍ کې پروت دی، له جانګو چې شندی سره یو ځای شوی دی. شاه د ده سره د مقابلې په غرض د ډیک کلابندي خوشې کړه او د دې لپاره چې نوموړی د دکن له لوري بیا پیاوړی نه شي، د هغه دماتولو په فکر کې شو. د مرهټانو مشر په پټه سره د شمال بدیا کې ځان ورک کړ څو چې د فبرورۍ په دوه ویشتمه په بهادرګړ کې بیا راڅرګند شو. شاه د ریواړی لور ته و خوځید (دفبرورۍ اتلسمه). له دغه ځای څخه دی د ډیلي خوا ته روان

---

۱۴ -(د ډیلي پیښې)، مربوطی فقری، حسین شاهي، ۴۰-۴۱ اس.پ. ډي دویم ټوک، ۷۸.
د حسین شاهي ۴۰ په حواله شاه مرکز ته په هماغه ورځ یعنی (د ۱۷۶۰ کال د جنورۍ نهمه-لسمه) نېټه ننوت او د ری ورځې افغانانو په هغې کې ولجه وکړه. دغه راز دا نظریه (د احوال نجیب الدوله یو درشم مخ) له خوا هم ملاتړ شوی ده. طهما سنامی په حواله مغلانی بیګم چې پخوا د شاه کمپ ته راغلی وه، د شار له لیدلو وروسته بیا له هغه سره یو ځای شوه. (۹۵ ب مخ پیدا کړی).

شو ، ښايي ددې لپاره چې دهولکار له خوا د دغه پايتخت د نيولو د مخه د هغه لاره وتړي. د فبروري په دوه ويشتمه دا خبر ورکړ شوی چې ملهار لهولکار په ګالکا د يوې (له قطب منار سره نږدې ) کې و. ملهار بايد خپل لور ته د شاه د خوځېدلو خبر تر لاسه کړی وي. په دې سبب دی د فبروری له شپږويشتمې -اووه ويشتمې پورې د جمنا له رود څخه د ګنګا د ورابه خواته پورې وت. شاه د ډيلي خواته خپل تګ تعقيب او د دهن کوټ له منځ څخه تر تېرېدو وروسته په نهه و يشتمه نېټه خضر آباد ته راورسېد. [16]

## مرهټان په سکندر آباد کې و ټکول شول او ماتې يې وخوړله:

دا وخت د ګنګا په ختيځ کې د نجيب الدوله له سيمو څخه د لسو لکو روپيو يوه خزانه د شها د اردوګاه خواته راروانه وه. په عين حال کې ملهارا و هولکار سکندر آباد ته راورسېد ( د فبروری اته ويشتمه ) او هغه يې (سکندر آباد ) لوټ کړ. نوموړي خپل ځارندويان ولېږل چې د انوب شهر سره نږدې له ګنګاه څخه د يوه ګودراو تېرېدلو د ځای لټه وکړي.

دا وېره پيدا شوه چې مبادا دغه خزانه د مرهټانو لاس ته ورشي. شاه پسند خان، قلندر خان او جهان خان ته امر وکړ چې د پنځلس زرو له يوې قوې سره سکندر آباد ته په بيړه لاړ شي او په مرهټانو باندې نابېره بريد وکړي او هغوی مخکې له دې چې د ګنګا ختيځ ته ځانونه ورسوي او هلته د شاه د روهيله متحدينو سيمې وارنې کړي، له هماغه ځای څخه و شړي. د هداياتو سره سم افغاني قوماندانان له جمنا څخه واوښتل او د ملهار او په مخکې پوځ

۱۶ -( د ډيلي پيښې)، سرکار، دويم ټوک، کننګو، جټان، لومړی ټوک، ۱۱۷ -۱۱۸

باندې چې ګنګا د هاريا شوانت تاتيا يې اداره په لاس کې درلوده، نابېره را توی شول. نوموړی (تاتيا) له اصلي اردوګاه څخه نږدې اته ميله ليرې و.

مرهټې کنډک د افغانانو او روهيله وو د قوې په مقابل کې ډېر مقاومت ونه کړل شو او له درېو يا څلورو ساعتو کمزوري مقاومت وروسته هر خوا تـه تيت و پـرک شـول او د هغـوی زيـات شـمېر د بريـاليو او فاتحـانو تـر تـورې لاندې ولوېدل. د هغو کسانو په لړ کې چې د تېښتې پر وخت ووژل شول دغه درې مرهټـې لـوړ افسـران، اننـدرام، شـيتاجي خـارادی او د زوی فقيـر جـي خارادی هم شامل وو چې د جګړې په ډګر کې ووژل شول. د تېښتې په لارکې دومره وارخطايي وه چې ځينې مرهټان په نازين شويو آسانو سواره شول. دغه ناڅاپي تندر د مرهټي قوماندانان زړه مات کړ. ددې پر ځای چې دی د خپلو لاس لاندې مېله (څلوښت کوسه) وا ټن يې شپه ورځ په سخته چټکتيا سره د اګرې پر لور وواهه.[17] دغه مصيبت د ۱۷۶۰ کار د مارچ پـه څلورمـه نېټـه پـه مرهټانو را نازل شو او په دوی يې ډېرې ناوړې اغېزې وکړې. له جانسي څخه پيشوا بالا جي راو، ته را جا کېښاوراو د ۱۱۷۳هـ د رجب د پنځـه ويشـتمې (د ۱۷۶۰ کال د مارچ ديارلسمه – څوارلسمه) نېټې ليکنه يو خواشينوونکې سند ښکاره کوي. کېښـاوراو ليکلی وو: ((لنډه دا چې ابدالي (احمد شاه دارنـي) او روهيلـه ټـول سـره يـو شـوي دي. دوی يـوه ډېـره سـتره قـوه او د توپخانې فوق العاده تجهيزات لري. دا ممکنه نه ده چې لـه دوی سره غوڅه جګړه وشي. زموږ وس او لاسونه دوی ته رسېدلی نه شي. مـوږ د غولوونکو

17 - اس.پ.ډی، دويم ټوک، ۱۲۱، ۱۲۰، يوويشتم ټوک، ۱۸۸، ۱۸۷، طهماسنامه، ۹۷الف د ډيلي پيښې تاريخ مظفری، ۵۹۱-۹۲، جام جهان نما، ۱۲۳، سيره المتاخرين، ۲۲، سرکار، دويم ټوک، ۲۲۸ - ۲۹

تاکتیکونو په ترڅ کې د دکن له لوري د نوې قوې د رار سېدو لپاره سترګې په لار یو.

د غسې یو قوه راورسېږي موږ به ټول سره یو ځای دښمن ته ماتې ورکړو. نجیب خان او د مراد آباد او باریلي د ناحیو نرو قبایل سره یو شوي او د ابدالي سره یو ځای شوي دي. داسې ویل کېږي چې له کابل څخه نوره قوه دراني ته راروانه ده. که چېرې ستاسو د کهول کوم څوک دې خوا ته راځي، نو لطفا له هغه سره یو څه اروپایي ټوپک او وسایل راولېږئ جنټ مادو سنګ او شجاع الدوله ټول له دښمن څخه وېره کوي. جنګیالي داتاجي شندی د اس تېښتې ته اړ شوی و (چې د افغانانو له خوا ووژل شو) له دې امله ابدالي او ورهیله ډېر مغرور دي. دویم دا چې زموږ خپل پوځ هم د دوی په مقابل کې مقاومت کولای نه شي. ملهار راو هڅه کوي چې په خپلو چلونو سره په دوی برید وکړي، خو روهیله او ابدالیان د (هندي) مغولو په څېر نه دي. دوی په برید او جګړه کې سخت زړور او جنګیالي دي. په ډیلي کې د مغولو امپراتوري د دوی له خوا بې وسه شوې ده. د مغولو رول عملاً پای ته رسېدلی دی. سرجادو نات سرکار وایي: ((حتی د مرټانو د یوه با استعداده سواره مشر ملهار هولکار د سپکو یرغلیزو او لوټ کوونکو عملیاتو پلان د ابدالي پر خلاف په غوڅه توګه ناکام شوی دی. ملهار له بهارت پور څخه تر ستنېدو وروسته د حافظ رحمت خان استازی وغوښت او د دغه مشر له خوا د سولې پیشنهاد شوی خیر یې بیا پلی کړی.[۱۸]

۱۸ –اس.پ.ډی، یوویشتم ټوک، ۱۸۸

## شاه د عالمګیر چونۍ ونیوله:

په داسې حال کې چې جهان خان تر متورا پورې ګنګا دهار پسې واخیست، شاه د ۱۷۶۰ کال د مارچ په پنځمه کول (علیګر) ته راورسېد. علیګر دا وخت د سورج مال جټ په لاس کې و. د دغه ځای چونۍ اصلاً ثابت خان جوړه کړې وه او د ثابت ګړ په نوم یاده شوه. کله چې جټانو د سورج مال په مشرۍ سر پورته کړ نو دا ځای د دوی لاس ته ورغی او هغه یې په هندي نود درامګر په نام ونوموله. هغه وخت چې شاه هغه کلا بند کړه. نو دلته د درجان سال په مشرۍ د جټ یو ه ساتونکې ډله پرته وه. دغه چونۍ ډېره استحکام لرونکې او مجهزه وه. خو شاه ډېر ژر په دې بریالی شو چې د هغې ارتباط له دیګه او بهارت پور سره پرې کړي دفاع کوونکې ته د کومې مرستې د رسېدو ځخه واټن درلود. له بلې خوا د جمنا روی هم د هغې په مخ کې خنډ شو چې هغې ته څېرمه سیمې د افغاني غلچکیو ډلو له خوا نیول شوې وې. په دې ډول کلابند شوی درجان سال د یوه تړون په ترڅ کې تسلیم او رامګر شاه ته وسپارل شو.[19]

دلته نجیب دوله شاه ته دا پیشنهاد وکړ، څرنګه چې د جانکو چې شندی او ملهار راو هولکار قدرت عملاً شنډ شوی او دوی خپلو سیمو ته ستانه شوي دي او مخکې له دې چې دوی ته له دکن څخه نوې قوه ورسېږي، شاه سره د مخامخ کېدو توان نه لري، نو له دې امله دا به غوره وي چې اوړی او بارانی میاشتې په کو کې تېرې کړي. نجیب وویل څرنګه چې مرتهان لا آزاد

---

۱۹ – طهماسنامه، ۹۷الف،ب، احوال نجیب الدوله، ۲۲الف،ب، د ډيلي پيښې، عماد السعادت، ۷۶، حسين شاهی ۴۱

دي او په بشپړه توګه له منځه تللي نه دي نو د ده په څېر خلکو ته به دا ګرانه وي چې په هېواد کې ژوند وکړي. ده د پوځ د لګښتونو د ورکړې بشپړ مسوولیت په غاړه ومانه. دا آوازه خوره شوه چې د مرهټانو پوځ د پېشوا د ورور سادا شیوبنهاو په مشرۍ د دکن له لوري راروان دی، نو ده له شاه څخه وغښتل چې خپل متحدین د دوی د دښمنانو منګولو ته خوشې نه کړي. دا خبره ومنل شوه او پرېکړه وشوه چې په علیګړ کې اردوګاه ودرول شي. شاه نجیب ته هغه ټولې سیمې وبښلې چې د خاین وزیر غازي الدین په لاس کې وې، څو د هغو له لارې د افغاني پوځ لګښت په دغه سیمه کې پوره شي.[20]

## احمد خان بنګښ د شاه حضور ته وبلل شو:

د ۱۱۷۳ هـ کال د شعبان په لومړیو ورځو کې د شاه ولي خان په پیشنهاد شاه نواب احمد خان بنګښ ته یو لیک ولېږه او هغه یې خپل حضور ته را وباله. شاه ورته دا سې لیکلي وو: ((زموږ صدر اعظم وايي چې احمد خان بنګښ یو پاک نیته ملګری، یو قدرمن ښاغلی او یو خیر خواه سړی دی، بل دا چې دی د هر ډول اجراآتو وړتیا لري. په همدې سبب موږ دغه سند په لاسلیک سره مزین کړ، انشاالله دغه د لوړ شان او شوکت خاوند مشر به په دې باور ولري چې د ده صداقت موږ ته ښځي جوت دی.

زموږ دغه پاچايي د خدای ورکړه ده او د افغاني ټولنې لپاره د غرور یوه موضوع ګڼل کېږي. بنګښ افغانان زموږ په مشرانو کې ځای لري او موږ

---

۲۰ -احوال نجیب الدوله، ۳۱ب–۳۲، د ډیلي پیښې، اس.پ. ډی دویم ټوک، ۱۲۱، طهماسنامه، ۹۷الف، منزل وفتوح ۱۵.

هغوی ته په خپل منځ کې په ډېره منلې توګه ګورو. زموږ له لوري د دغو خاطر جمعیو پر اساس دې باید ډېر ژر زموږ حضور ته راشي. که د خدای رضا وه د دغسې لوړ او شا لرونکې مشر کړه وړه به چې د ده شکوه زموږ لپاره برکت او نېکمرغي ده په نورو افغانانو لوړ تیا ولري)).

په همدغه وخت کې شاه ولي خان هم په خپل مهر او لاسلیک د ډاډ ګېرنې او موافقې دغه لاندې لیک ده ته واستاوه.

((د پاک قرآن په ضمانت سره د افغان پاچا د شاهي دربار د دغه خدمتګار بنده د نواب احمد خان بهادر (غالب جنګ) سره یو داسې ورور په څېر تړون کوي چې زما د ژوند غوندې راته ګران دی او د خپل سر لوړي اعلیحضرت له لوري دا په ځان فرض ګڼم چې دغه سند ولیکم دا په دې منظور که نوموړی نواب شاهي کمپ ته راورسېږي، ده ته به تر نورو درانو په زیات درنښت، سر لوړی او تودوالي ښه راغلاست وویل شي او په ده به داسې مهرباني و شي چې ترا او سه پورې په هند کې په هیچا باندې یې لورینه شوې نه ده. د ده دښمنانو هیڅ ډول خبرو ته به غوږ و نه نیول شي. هغه لقبونه، جاګیرونه او سیمې چې پخوا د ده په لاس کې وې او اوس یې هم په واک کې دي هماغسې به په خپل حال پاتې وي او نور منصوبونه به هم ورسره علاوه شي. په هند کې د نیول شویو سیمو اداره به د ده په لاښوونه او سلا وړاندې ځي د ده دښمنان به د خپلو دښمنانو په توګه وبلل شي. خدای (ج) او رسول الله (ص) به د دې شاهد وي. هر ډول انحراف چې په دې کې پېښ شي هغه به د خدای (ج) او د هغه د پیغمبر له خوا وګڼل شي.))

احمد خان بنگښ د دغو لیکونو په رارسېدو سره خوشحاله شو او د ۱۱۷۳ هـ کال د شعبان په دیارلسمه (د ۱۷۶۰ کال د مارچ یود برشمه) د دوشنبې پر ورځ د شاه لیدنې ته راغی. لاندنی بیان د جېپور د وکیل رای هارپراساد ، د سترګو لیدلی حال دی چې د مهاراجا ساوای مادو سنګ د اطلاع لپاره یې یاد داشت کړی دی:

((د نواب (احمد خان) کمپ د کول په ختیځو باغونو کې پروت دی. د شاه کمپ د یونیم کروه (نږدې درې میله) په واټن په لویدیځو بڼونو کې موقعیت درلود. نواب د آتشبازۍ د موزیک باندو او په هاتیانو بر سېره د لاس ځراغونو په منځ کې د هاتي په سپرلۍ له لمرخا ته څخه ځلور ګړۍ وړاندې له خپل کمپ څخه و خوځېد او د شاه داستوګنځي دروازې ته راغی. په دغه ځای کې معمولا صدراعظم او نور لوړ رتبه مامورین ناست وو. د شاه له دستور سره سم د شاهي ماڼۍ له دروازې څخه د لښکر تر لیکو پورې مځکه ټوله پاکه جارو او اوپاشي شوه. د لارې دواړو خواوو ته ټول پوځ په لیکه ودرېد. جدي لارښوونه وشوه چې هېڅوک باید د نواب د کوم سواره یا پلي خدمتګار په مخ کې څه خنډ او ستونزه پیدا نه کړي.

له (درې خانۍ) څخه نواب د خپلو سردارانو او یاورانو په ګډون چې شمېر یې سل تنه وو ، د شاه حضور ته لاړ او لاندني سوغاتونه یې وړاندې کړل:

له خپلې خوا څخه:

هاتیان ۲

اشرفۍ ۱۰۰۱

روپۍ **۵۰۰۰**

د زر تارو ټوکران (ګلدوزي او زري ټوکران) کمخاب (بېلابېلو رنګو لرونکې ګلدار ټوکران)، مشرو (دنخ او وربښمو ګډ تار لورنکې ټوکر) **مخمل**، بنات (ارت ټوکر) سفید بافت (سپینې لیکې لرونکې ټوکر) چنت (رنګه چېټ په بیلا بیلو رنګو) او نور.

له خپلې خزانې څخه د بدرګه والي له لوري:

اشرفۍ **۵۰۰**

شهزاده تیمور ته: له خپلی خوا:

هاتي ۱

د خپل زوی له خوا:

اشرفۍ ۱۰۱

(شاه د ده په ویاړ د څلورو ټوټو یوه ممتازه قبا، یوه لنګۍ، د یوې جیغې او امرصع زیوراتو سره یو آس، یو توره او د سروزرو او جواهراتو لرونکې یو خنجر وړاندې کړل. په عین حال کې شاه د مرحمت له مخې ده ته وویل چې په راتلونکې کې به د هند چارې د ده په سلا مشوره وړاندې لاړې شي.

((نواب له شاه سره د خدای پامانۍ پر وخت د معمولي تعارف او مننې وروسته درې خانې ته راغی، څو ګړۍ یې له صدراعظم سره خبرې اترې

وکړې. د نواب د پوښتنې په ځواب کې صدر اعظم وویل: (مونږ په هندوستان کې دوه دښمنان لرو: لومړی مرټان چې مونږ جرړی ور وایستلې، دویم سختیه تودخي چې د خدای په فضل په خلاصېدو ده. اوس اعلیحضرت غواړي چې د هند چارې په سلا پر مخ یوسي))

ورپسې نواب له صدر اعظم سره خدای پاماني وکړه او د درې خانه په دروازه کې په خپل هاتي سپور شو. په داسې حال کې چې د موزیک باندو غږول کېدل نواب په خپله په خوارانو پیسې وویشلې او د شاهي پوځ د لیکو له منځ څخه تېر شو او خپل کمپ ته د لمر ختو څخه درې ساعته وروسته راورسېد.

د شاه په پوځ کې نظم په ډول دی چې هیڅ یو وزیر، دورکړي (د پیسو.م) افسران او لو مامورین په هاتي نه سپرېږي. هېڅوک دا جرئت نه کوي چې موزیک وغږوي او یا ډهل ووهي. نواب احمد اخان چې له خپل کمپ څخه د ډهلونو پر وهلو او د موزیک په غږولو سره روان شو او په هماغه ډول بیا خپل کمپ ته را وګرزېد. د شاه ټول پوځ چې له ټیټو رتبو څخه تر لوړو پوړیو پورې هلته (د تماشا) یا ننداري لپاره راغونډ شوي وو د شاه له خوا د احمد خان د دغسې عزت کولو او درناوي په لیدلو سره هک پک شوی و ځکه شاه تر اوسه پورې له لویانو او اشرافو څخه بل هېڅوک په دې ډول په هندیا (ولایت) (افغانستان.م) کې تر اعزاز لاندې راوستلی نه وو.

د خپلې اردوګاه لور ته د نواب تر ستنېدو وروسته شاه په خپل لښکر د نغارې او ډهل په وهلو سره دا اعلان کړه چې له دې وروسته د افغانستان هیڅ یو تن هندي مسلمانانو او هندوانو ته په هیڅ ډول مذهبي کرکه ښکاره

نه شي. دغه راز زورور په کمزوري باید تېری و نه کړي او هیڅوک باید د خلکو د مذهبي مراسمو او نورو مراسمو په تر سره کولو کې هیڅ ډول مداخله و نه کړي.[٢١]

## له شجاع الدوله سره بریالۍ خبرې اترې:

شاه په علیګړ کې نږدې دوه میاشتې تم شو او کله چې باراني فصل په جولای کې له خپل زیات اوربښت سره پیل شو، ده خپله اردوګاه د ګنګاه دلو دیځ لوري ته په انوپ ښهر کې یوه جګ ځای ته ولیږدوله یو خو دی په ټوله دغه موده کې وزګار ناست نه و، د ده استازي د متحدینو د موندلو لپاره په فعالیت بوخت وو چې له مرېټانو سره د راتلونکې جګړې په منظور تیاری ونیول شي. له دغو متحدینو څخه یو یې شجاع الدوله و چې داری مرکز یې لکنوه ګڼل کېده، ده د شمالي هند له ټولو لویانو او اشرافو څخه ستر پوځ او پیاوړې توپخانه لرله. ((د ده ګوسیني لښکرې د هندوانو په منځ کې ډېرې تکړه جنګیالۍ ګڼل شوې او د ورونو په څېر یو یو ولس زره کسیزه پلی او سور پوځ یې جوړ کړی و. په دې سر بېره ده په خپل خدمت کې یو شمېر فداکار شیعه افسران درلودل. هر یو لوری (احمد شاه او وروسته به ده ته د ډیلي وزارت ورکړي)). شاه په پر له پسې توګه ملکه زماني (د امپراتور محمد شاه کونډه)، سردار جهان خان( د ده لوی قومندان) او نجیب الدوله له ( د روهیله وو غوره مشر) هغه ته ولېږل. په عین حال کې مرېټانو هم له نوموړي شجاع سره مذاکرې جاري وساتلې، خو نجیب الدوله

---

٢١ –مراسلات احمد شاه دارانی، دوه ویشتمه، درویشتمه او څلیرویشتمه ګڼه.

سملاسي په دې بريالئ شو چې هغه د شاه لورته راوا ړوي. مرهټانو جاه –
طلب خلک وو دا خيال يې درلود چې په ټول هند باندې واکمني او تسلط
ټينګ کړي د (اود. م) مصوونيت لپاره په دوی باندې اعتماد کېدلی نه شو.
دا احتمال موجود و چې د دراني له وېرې په له منځه تلو سره به دوی کوم
وخت کې ددې لېوال شي چې د ده (شجاع الدوله.م) په سيمو بريد وکړي او
دی (شجاع) له قدرت څخه وغورځوي. له بلې خوا احمد شاه دراني د
پنجاب له ګاونډ ولايت پرته د نورې پاتې مغولي امپراتورۍ په هکله څه
نقشې په فکر کې نه درلودې. دی به کله کله د خپلو دښمنانو څخه د کسات
اخيستلو او د خپل حيثيت د تامين او يا دا چې له دغې سيمې څخه د زياتې
ولجې د لاس ته راوړلو په منظور ښکته راته. له احمد شاه څخه د شجاع
مذهبي وېره چې دی شيعه او شاه سني و او هم د کسات له پلوه وېره د هغې
مينې له مخې چې ښايي شاه به د ده د پلار صفدر جنګ په باب د ۱۷۴۸ کال
د منوپور په جګړه کې په خيال کې ساتلې وي ډېر ژر د نجيب الدوله د
شخصي ډاډ او تسليت له مخې ليرې شوه او نوموړی نجيب ده ته د شاه له
خوا ديوې تودې پذيرايۍ او هر کلي ضمانت وکړ. محض په درخواست سره
شاه ژر په تحريري توګه له ده سره ديوې ښې رويې او د وزارت ژمنه تضمين
کړه. ورپسې شجاع الدوله شاه سره په نواب شهر کې د ده په کمپ کې
وکتل. افغاني وزير شاه ولي خان د ۱۱۷۳ هـ د ذيلحجې په څلورمه (د ۱۷۶۰
کال د جولای اتلسمه) له کمپ څخه د ده د هرکلي لپاره ديو څو ميلو په واټن

بهر لاړ. شاه په ډېره مهربانۍ له ده سره ښه راغلاست وکړ او ډېر عالي افتخاري کالي يې ده ته وبښل. او د ((فرزند خان)) لقب يې ورته ورکړ[22]

## د راج پوت له مشرانو سره اړيکي:

په دغه برخه کې له راج پوتانو سره د شاه د اړيکو په برخه کې بايد يو څه وويل شي. په هند کې د شاه له سروکار سره سم د جودپور او جېپور مهاراجاګانو د ده له سيالانو څخه ځانونه ليرې ساتلي وو د جيپور راجا ايشري سنګ د ۱۷۴۸ کال د منوپور په جګړه کې عملاً کومه ونډه وا نه خيستله. دا سيمه ده چې دغه راجا د مغولو په ليکه کې ځان درولی و، خو د جګړې په هماغه لومړي سر کې له ميدان څخه و تښتېد او په دې ډول يې مغولو په پوځ کې د يوه لمسوونکي استازي او ايجنټ په توګه له شاه سره مرسته وکړه. په ۱۷۵۷ کې کله چې د متوارا او براندابان هندو ښار ګوټي او معبدو نه لوټ او وسوځول شول او حتی په کوڅو کې يې د وينو ډندونه جاري شول، نو په دې وخت کې راجپوتانو ځانونه غلي ونيول. په اوسني او وروستي بريد کې د جيپور اوجودپور را جاګانو عملاً له روهيله افغانانو سره د شاه د رابللو او پدغه هېواد کې د هغه د پاتې کېدو د هڅونې په برخه کې پيوستون درلود. دوی د مرهټانو له خوا سخت ځورول شوي وو، نو د شاه سره د مرهټانو پر خلاف عملياتو کې ګډون يې خپل مصوونيت وليد. له بلې

---

۲۲ -راجويد، لومړی ټوک، ۲۰۴، ۱۹۱، ۲۱۵، ۲۱۷الف، ۲۱۹، ۲۲۲، ۲۲۶، ۲۳۳، ۲۳۶، تاريخ حسين شاهی، ۴۲، تاريخ مظفری، ۵۹۵-۵۹۶، سير المتاخرين، ۹۱۰-۹۱۱ کله چې شاه شجاع ته د ډيلي د وزارت افتخاری قبا ورکړه شجاع ورته وويل: ((پاچا څوک دی زه به د چا وزير يم. تاسو په تخت کښينی او زه ستاسو وزير يم ولی ما پدغسی بی هدفه قباګانو مسخره کوی)) راجويد، لومړی ټوک، ۲۳۶ شجاع الدوله په عين حال کې مرهټان دهغه ليک له مخی چې له درانی سره به د ده دوستی دوی ته زيان ونه رسوی له ځان څخه خوښ ساتلی وو. راجويد، لومړی ټوک ۲۲۷

خوا شاه د دوی بې طرفي په جګړه کې د عملاً ونډې اخستلو په پرتله و ستایله ځکه دا بې طرفي په جګړه کې داخل شوی وای، نو کېدلی شو چې د مرهټانو په مقابل کې د دوی د سیمو دفاعي حالت کمزورتیا مومي. هغوی د مرهټانو حملو ته مخامخ کېدل. پدغه حالت کې د دوی عقب نشیني د شاه له لیکو څخه کېدلی شول چې د شاه د نورو متحدینو په مورال باندې اغېزه وکړي.

داسې معلومېده چې شاه د دغو حالاتو په باب پوره درک درلود. په همدغه دلایلو ده هغوی ځان ته راونه غوښتل چې د ده طرفدار د مرهټانو یا له جټ سره وجنګېږي. خو ددې په څنګ کې ده له هغه سره پر له پسې مفاهمه ټینګه کړې وه او د ده په خوا کې د ټولو پر مختیا وو انکشافاتو څخه یې دوی ته خبرتیا ورکوله او په بدل کې ده هیله درلوده چې د دوی په سیمو کې د ټولو پېښو په باب ده ته معلومات ورکړي. ده هغوی ته زیاته پاملرنه درلوده.

مهارا جاساوای مادو سنګهـ ته شاه په یوه لیک کې اطمینان ورکړ چې د دورو په څېر له هغه سره او د راجپوتانو له ټولې ټولنې سره د پخوانیو نېکو اړیکو او د دغه (خدای ورکړې پاچاهۍ سره د دوی د نږدېوالي پر اساس ژوره مینه او علاقه لرم). شاه، شاه ولي خان او همدا رنګه نجیب الدوله د افغاني لښکرو د ۱۱۷۳ هـ د جمادل الاول دویمې نېټې د یکشنبې ورځې (۱۷۵۹ د دسمبر دېرشمه) د هغه په باب چې د غازي الدین او جانکو چې د شل زره زړورو سورو په مقابل کې حاصل کړ د جیپور مشر ته د اطلاع ورکولو په ترڅ کې هغه ته وویل چې په روانو عملیاتو کې به ددغې سیمې د

اداري لپاره بشپړ ترتيبات ونيول شي او همدا رنګه د شاه لښکرې به د مرهټانو د ايل کولو لپاره د دکن سيمې ته حرکت وکړي.

له راجا څخه و غوښتل شول چې خپل افراد په داسې ځايو کې واچوي چې د دوی سيمې ته د فراري مرهټانو لاره و تړل شي او هم له ده څخه هيله وشوه چې خپل يو وکيل شاه ته واستوي او هغه د ده غوښتنې او اړتياوې شاه ته وړاندې کړي. شاه او شاه ولي خان د ۱۷۶۰ کال د فبروري په اتلسمه نېټه په خپلو ليکونو کې يو ځل بيا ده ته اطمينان ورکړ چې (د باراني موسم په تېرېدو سره به د خدای په فضل دوی د دکن لورته لاړ شي او د هغه ځای بد کاره خلک لکه شرير ملهار به د خپلو اعمالو په سزا ورسوي. راجاګانو له خپل لوري څخه د پاني پت له جګړې څخه وړاندې بحراني ورځو کې له شاه سره په ټولو عملياتو کې وفاداري وساتله او په خپلو ژمنو باندې ټينګ ولاړ وو.

## سورج مال جټ د (بلور) د تېرېدو په خبر کلک پاتې شو:

بيا هم د بهارتپور له راجا سورج مال سره د شاه خبرو کومه نتيجه ور نه کړه. په ځان غره جټ له يو بهرني سره د يووالي او پيوستون پيشنهادونه رد کړل او وسلې ته يې لاس يوور سره له دې چې ده له د کنيانو سره اختلافونه لرل او هغوی د ده د مقبوظاتو لپاره د يوه خطر منبع ګڼل کېدل، بيا هم ده له هم کېشانو سره په يوه ليکه کې درېدلو ته تمايل ښکاره کړ. ده ملهارراو هولکار او جانکوجي شيندی ته سره ښېره د دوی په دوست غازی الدين او يو شمېر کم ارزښته خلکو په ګډون پناه ورکړه.

جتې د سادا شیو بهاو په مشرۍ د یوې مرتېي قوې په ملګرتیا له لس زرو جتهانو د ډیلي لور ته مخه وکړه او د دغه ځای په نیولو کې ستر مرستندوی واقع شو. خو د ساداشیو په بې کفایتي او غرورله مخې غازي الدین ته د سورج مال پیشنهادونه او هیلې په پام کې ونه نیول شوې او نوموړی په دې ډول له هغو سره د خوشبینۍ څخه لاس واخیست او خپل قلمرو ته ستون شو. [23]

## د مرتهانو سره مذاکرې:

په عین حال کې شاه په خپله له مرتهانو سره د جګړې د سوله ییز حل په غرض مذاکرې درلودې. لکه چې پوهېږو ملهار راو هولکار د سکندرآباد له مجاورت څخه تر تښتېدو وروسته د ۱۷۶۰ کال د مارچ په اوایلو کې بهارتپور ته په رسېدو سره د حافظ رحمت خان له استازي سره وکتل. پارشو تام مها دیو هنګنی د بایانا سره نږدې له سارو تا څخه ۱۱۷۳ هـ د رجب

۲۳ - تاریخ مظفری، ۵۹۳-۵۹۶ سیر المتاخرین، ۹۱۱-۹۱۲ راجوید، ۱۸۷-۱۹۱، کننګو، جتهان لومړی ټوک، ۱۲۴-۳۸.
دغه راز شاه له غازی لادین سره په دېفکر خبری وکړی چې هغه له مرتهانو څخه راواړوی. کننګووه یې چې غازی الدین زړه نازړه و. دی داسې وړاندې ځی: ((خو ډیلي ته د فبروری په نولسمه، ۱۱۷۳ هـ (د رجب دویمه) خبر راورسید چې د شاه او غازی الدین عماد الملک تر منځ سوله ټینګه شوی او ورستی کس ته د وزارت څوکې منلی شوی ده)) لیکن له د کن څخه د ساداشیو بهاو په مشری د مرتهانو رارسیدلو یو ځل بیا هم مشوش ذهنه غازی د دوی لومی ته وغورځاوه او له دوی سره د ډیلی لور ته وړاندې راغی چې د هغه له نیولو وروسته د وزارت څوکې تر لاسه کړی. دی هغه وخت خواشینی شو چې په ژمنه باینند دساداشیو بی وفایې درک کړه، دا هغه یو علت و چې د هغې له مخی جتې له مرتهانو څخه ځان را بېل کړ، که څه هم د تیرو ترخو تجربو سره سره یې د درانی په خلاف له دوی سره اتحاد کړی و. جی. اس. سار دیسای د جتهانو د ګوښه کېدو لپاره څو دلیلونه راوړی:
۱- د مرتهانو کورنی ګوالیور ته استول شوی نه وی.
۲- وزارت میر شهاب الدین (غازی الدین عماد الملک) ته ورنه کړل شو.
۳- د دربار د خونی د سپینو زرو چت لوټ شو.
۴- د ډیلی اداره د دوی په واک کې ورنه کړل شوه. د کننګو د جتهانو په تاریخ، لومړی ټوک، ۱۳۶-۳۷ لمن لیک کې اقتباس شوی دی. دغه راز سرکار، دویم ټوک ۲۵۵-۵۸ وګوری.

په څلور ویشتمه، ( د مارچ دیارلسمه ) د یوه لیک په ترځ کې سادا شیو بهاو ته خبر ورکړ چې د حافظ رحمت خان او ګنګا دهاریاشوانت تا تیا تر منځ مرکه شوې او پرېکړه وشوه چې حافظ به په خپله له سردار ملهار راو هولکار سره وګوري او خپل هېواد ته به د شاه د ستنېدو لاره پرانیستل شي. حافظ به وروسته ددغې ژمنې له مخې چې مرهټان به دده په سیمه غرض نه کوي، د ملهار راو له پوځ سره ګډ ېږي او نجیب الدوله ته به ماتې ورکوي، خو ظاهراً دا نه شو کېدلی چې حافظ رحمت خان به د خپل یوه قومي روهیله پر خلاف له مرهټانو سره یو ځای شي او یا دا چې شاه به په هند کې د خپل وزیر مختار له مسالې څخه تېرېدو ته وهڅول شي. له بلې خوا د سادا شیو په مشرۍ د مرهټانو د یوې نوې سترې قوې په را رسېدو سره حالت بدل شو او مذاکرې له ماتې سره مخامخ شوې. [24]

## مرهټانو ډیلی ونیو:

دا زموږ د موضوع په ساحه کې نه راځي چې له دکن څخه د سادا شیو راتګ په زوره توکه بیان کړو.

دومره بس ده چې ووایو د ده په مشرۍ د مرهټانو لښکر د مې په دېرشمه نېټه (ګوالیور) ته را روسېد او د دهلپور په ګاونډ کې د جون په اتمه د سویل لویدیځ لورته د لسو میلو په واټن د چمبل له رود څخه واوښتل. سادا شیو د چېمنا جي اپا جي د لومړي باجي راو کشر ورور زوی دی. دی له راغونات

24 - اس. پی، ډی دویم ټوک، ۱۲۴-۱۲۱ راجوید، شپږم ټوک ۵,۹

راو څخه په ټولو پوځي او ملکي افسرانو کې د ډېر اعتبار لرلو، مالي او اداري مسایلو کې د ژورې پاملرنې او د نظام پر خلاف د بریالیو عملیاتو د تنظیم د استعداد لرلو له امله انتخاب شو. له ده سره (ویشواس راو) چې د پیشوا بالاجی راو اوولس کلن زوی و، د یو تش په نوم لوی قوماندان په حیث بدرګه کوله. د چمبل د رود په پاسنۍ غاړه کې ملهار راو هولکار او سورج مال جټ له ده سره یو ځای شول. دلته دی نږدې پنځه اوونۍ تم شو او ورپسې د شمال لورته لاړ او له شلو میلو واټن وروسته اګرې ته ورسېد (د جولای څوارلسمه). د دو ورځو په اوږدو کې ده دا تصمیم ونیو چې ډیلی و نیسي او یوه زوروره قوه یې د ملهار راو هولکر، جانکو جې شینډی او باوات ګانش مهندال په مشرۍ او د غازی الدین او سورج مال جټ په رهبرۍ واستوله. یعقوب علي خان په خپلو ټولو هلو ځلو سره ونه شول کولای مقاومت وکړي ځکه د مرټانو شمېر او تجهیزات زیات وو او ډیلي د جولای په دوه ویشتمه نېټه د دوی په لاس کې ولوېد. چونيي( د ډیلي چونې. م) لس ورځې نوره سره سختي وښودله، خو څرنګه چې په دغو ورځو کې د زیات اورښت له امله د شاه مرسته راوانه رسیدله، نو یعقوب علي خان د سلامت وتلو ژمنې پر اساس له هغې څخه د وتلو پیشنهاد وکړ او دا ځای یې خوشې کړ او د ۱۷۶۰ کال د اګست په دویمه نېټه یې هغه د ساداشیو بهاو منګلو ته وسپاره.[۲۵]

۲۵ -راجوید، لومړی ټوکۍ ۲۲۳-۲۲۴، ۲۲۶ احوال نجیب الدوله، ۳۳ حسین شاهی، ۴۴ تاریخ مظفری، ۵۹۵-۵۹۳ خزانه امیرا ۱۰۵-۱۰۳ سیر المتاخرین ۹۱۲-۹۱۱.

مغولو امپراتوري دلوټ په برخه کې فاتح مرټانو ته څه ګټه ورنه کړله، د هغې شتمني نادرشاه، احمد شاه او وزیر غازي الدین وځبېښله ساداشیو یېسو ته سخته اړتیا درلودله، د ده افرادو ته له ډېرې مودې راهیسې معاش ورکړل شوی نه و.

په ډیلي کې دوی له لوږې څخه د مرګ په حال کې وو هیڅ مالیات حاصلېدلی نه شول. د دغو ورځو په ګډوډو حالاتو کې چې شتمن خلک یا تښتېدلی او یا لوټ شوي وو او یا دا چې د پور د ورکړې باور یې نه کاوه، د تحصیل دارانو لپاره دا نا ممکنه وه چې پورونه راټول کړي. ددغه حالت په موجودیت سره ساداشیو بهاو امر وکړ چې د شاه جهان د دیوان خاص د سپینو زرو پاتې چت را جلا او له هغو څخه سکې جوړې کړي. د دغه چت یو څه برخه لا دمخه د غازي الدین له خوا وړل شوې وه خو په دغو پیسو سره بیا هم دی له یو میاشتې څخه زیات له سخت مشکل څخه خلاصېدلی نه شو. په عین حال کې چې بهاو (ساداشیو) د ډیلي حکمراني د نارو شنکر پنډت په واک کې ورکړه او هغه یې د دغه ځای حکمرانانو ټاکه له دغه ځای څخه ووت او د بادلي سره یې نږدې واړول. د بارا ری ګودر یې د روهیله په مقابل کې وتاړه په دې منظور چې له هغوی څخه ددې وېره کېده چې له هغه څخه د جمنا لویدیځ ته تېر شي او په مرټانو به برید وکړي. دی دوه میاشتې دلته پاتې شو او ورپسې د شمال لور ته په دې خیال وخوځېد چې د روهیله وو د کنج پورا ښارګوټی لاندې کړي. دغه ځای د احمد شاه درانی د

خوراکي موادوو او علوفې د چمتو کولو مرکز او له دغو خواوو څخه ډېر غني و.[٢٦]

## مرهټانو کنج پورا ونيو:

بهاو د خپلو افرادو او آسونو د سختې لوږې له امله دا ښېخې ضروري وګڼله چې د کنج پورا ګودامونه او زېرمې لاندې کړي. دی د اکتوبر په لسمه له خپلې اردو ګاه څخه روان شو او په شپاړسمه نېټه دلته راورسېد. د بل سهار په لومړنيو ګړيو کې بريد پيل شو. له کنج پورا څخه نږدې لسو زرو تنو د دفاع کوله، له هغو څخه دوه زره تنه يې له ښار څخه بهر د ېره وو چې قومانده يې په سرهند کې د شاه د حکمران هضتفری عبدالصمد خان محمدزي او ميان قطب شاه په لاس کې وه. مرهټانو دفاع کوونکې ته ماتې ورکړه. عبدالصمد خان له تېري کوونکو سره د جګړې په حال کې ووژل شو او قطب شاه د بندي په حيث د دوی په لاس کې ولوېد.٢٧

مرهټانو د فرار په حال کې افغانانو او روهيله ووسره يو ځای ښارګوټي ته ننوتل د بهاو په لاس کې لويدلی ولجه ډېره زياته وه. ((د غنمو او نورو شيانو دو زره من يابوجيو سر ببره چې ټوله بيه يې لس لکه او شپږ نيم لکه

---

٢٦ -خزانه اميرا ١٠٥ -١٠٦ سير المتاخرين ٩١٢ احوال نجيب الدوله، ب٣٣ - ٣٤ الف، تاريخ مظفری ٥٨٦ - ٥٩٧ اس.پ. ډی دويم ټوک ١٣٠ -١٣١ ، يوويشتم ټوک ١٩٣ اووه ويشتم ټوک ٢٥٥، ٢٥٧ -٢٥٨ ، راجويد، ٢٨١ تذکره شاکر خان، ٧٢ سرکار دويم ټوک ٢٦١ - ٢٦٧.

٢٧ -خزانه اميرا ١٠٦ کاشی راج، احوال جنګ بهاو، احمد شاه درانی، ١١، عماد السعادت، ١٨٦، سير المتاخرين، ٩١٢ تاريخ حسين شاهی، ٤٤ - ٤٥ تاريخ مظفری، ٥٩٧، احوال نجيب الدوله ٣٤ - ٣٥ راجويد، لومړی ټوک، ٢٥٥، ٢٥٩، ٢٦٠، ٢٦٥ دريم ټوک ٥٠٧ څلورم ټوک ٤٠٥ اس. پ. ډي يوويشتم ټوک منازل و فتوح ١٩٣، ١٦، ١٩٨، ١٩٧ سرکار، دويم ټوک ٧١ - ٢٦٧

روپۍ کېدله، دوه زره آسان، يو زيات شمېر اوښان او يو شمېر توپک د دوی لاس ته ورغلل. ښار لوټ او کورونه د سپاهيانو او د کمپ د پلويانو له خوا چور شول))

د نيول شويو موادو اندازه دومره وه چې مړتې سپاهيانو ته د اوونۍ معاش په غنمو سره ورکول کېده. د ښار مشر نجيب خان او قطب شاه بنديان شول. لومړنی تن يې د پرهارونو له امله په بنديخانه کې مړشو په داسې حال کې چې دويم يې د بازاري په جګړه کې د داتاجی شيندی د سر د پرې کولو پر اساس اعدام شو. د عبد الصمد خان او قطب شاه پرې کړل شوي سرونه د نېزو په څوکو ټومبل شول او مړتانو د کمپ په بازارونو کې د بريالیتوب په عنوان وګرزول شول.

## شاه عالم ثاني د هند د امپراتور په توګه اعلان شو:

مخکې له دې چې په ډيلي او د هغه په شاوخوا کې د سادا شيو بها د فعاليتونو دغه بيان پای ته ورساوو او د پاني پت جګړې ته ورننوزو دا بايد ووايو چې نوهودي په بدلي کې له خپل کمپ څخه تر روانېدو وروسته په خپل لومړي پړاو کې خپل دوه تنه باوري افسران ناناپوران داری او اپاجی جادا –وراو ډيلی ته د دغو دستورونو سره واستول شول چې ګوډاګی امپراتور شاه جهان ثاني معزول او پر ځای يې شاه عالم ثاني د پاچا په حيث اعلان کړي. دا کار د اکتوبر په لسمه تر سره او ميرزا جوان بخت د امپراتو شاه ثاني مشر زوی د خپل پلار په غيابت کې د حکومت د

چارو د تر سره کولو وارث وټاکل شو. د وزارت مقام شجاع الدوله ته په دې هیله و سپارل شو چې ګوندې هغه به د مرهټانو په خوا کې ودرېږي. شاه عالم ثاني د عالمګیر ثاني زوی و او د ۱۷۵۹ کال د دسمبر په ۲۱ نېټه یې د بهار په ګوتاول کې د سن ایست بانک داورګاډي د پټلۍ په شمالي پنځه میلۍ کې د خپل پلار د قتل آوازه واورېدله. دلته ده د دسمبر څلېرویشتمه د ډیلي د امپراتو په توګه خپل ځان اعلان کړ، خو په ډیلي کې دا وخت وزیر غازي الدین شاه جهان ثاني په تخت کېناوه. که څه هم نوموړی شاه عالم د ۱۷۶۰ کال د اکتوبر په لسمه په ډیلي کې د ساداشیو بهاو له خوا په داسې حال کې چې‌بیوازی زوه یې په پایتخت کې حاضر و، د امپراتو په توګه وټاکل شو، خو دی د پلرونو او نیکونو دغه ښار ته لس کاله او څه کم درې میاشتې وروسته د ۱۷۷۱ کال د جنورۍ پر شپږمه نېټه راستون شو.[28]

28 - د ډیلي پیښې، مونالال، شاه عالم نامه، ۷۴ -۷۵، سیر المتاخرین، ۹۱۲ راجوید، لومړی ټوک ۲۵۹ -۲۵۸ سرکار دویم ټوک ۲۶۹ - ۵۵۵

# نولسم فصل

## د پاني پت جګړه

(د ۱۷۶۱ کال د جنوری ۱۴)

### شاه د جمنا لوید یځ لوري ته واوښت:

کله چې ساداشیو ډیلی ونیو، احمد شاه دراني په انوپ شهر کې اړولي وو. د شجاع الدوله په منځګړ توب د سولې خبرې جاري وې، خو د مرهټانو مشر د خپلو بریالیتوبونو له امله دغره توب په سبب په داسې یوه حالت کې نه و چې کوم ډول معقول شرایط ومني. دی د اکتوبر په پیل کې له ډیلي سره نږدې شاهدرې ته وخوځېد، خو د جمنا د سیلابي کېدو له امله یې ونه شول کولی پورې خوا ته تېرشي. شاه د (کنج پورا) په لوټېدو او د خپلو خوراکي زېرمو په چور کېدو سره خپله حوصله له لاسه ورکړه. شاه کله چې واورېدل کنج پورا لوټ او د مرهټانو په لښکر کې د عبدالصمد خان او میان قطب شاه سرونه په بې عزتۍ سره ګرزولی شوی دی. نو خپل افغاني سرداران یې

حضور ته را وبلل او هغوی یې داسې مخاطب کړل: ((تر هغو چې زه ژوندی یم د افغانانو د غسې سپکاوی زغملی نه شم)). ده په رود باندې د پورې کېدو د گودرونو د پلټلو او موندلو لپاره افراد واستول او د اکتوبر په شلمه د شمال لور ته وخوځېد. په دینداری او عبادت باندې د پخې عقیدې د لرلو له امله ده دوه ورځې روژه ونیوله او نفلونه یې وکړل او هغه وخت چې له باغ پت سره د یوې گذرگاه په کشفېدلو او پیدا کېدو سره ده یو غشی د څو دیني شعرونو په زمزمه کولو سره ده دریاب لور ته وویشت، نو دده له او امرو سره سم افغانان د اکتوبر په پنځه ویشتمه نېټه په جمنا ور گډ شول. دی په خپله په شپږ ویشتمه نېټه له هغه څخه پورې وت او د بلې ورځې په مازیگر ټول افغان لښکر په لوید یځه غاړه کې ځای ونیو(۱).


## د مرټانو گزمې د افغانانو له خوا په شاوتمبول شوې:

په عین حال کې سا داشیو مذهبي غسل کولو له لپاره له کنج پورا څخه د گورو کشترا خوا ته وخوځېد. ده د زر کسیزې قوې یوه گزمه او ساتونکې ډله له سوني پت سره ځای پر ځای کړه، خو هغوی دومره زیات جنگیالي او هوښیار نه وو. شاه پسند خان ددوی مقابلې ته واستول شو او نوموړي په هغو باندې نا ببره برید وکړ او د اکتوبر په اووه ویشتمه نېټه یې هغوی تر تورو تېر کړل. بله ورځ د مرټانو د یوې څارونکې قوې او د افغانانو د یوې قوې تر منځ سرای سمبالکا سره نږدې یوه جگړه و نښتله او په هغې کې مرټان په شا وتمبول شول او افغانان خپل کمپ ته ستانه شول. شاه گانار کې درې ورځې تم شو(۳-۲۸) او سمبالکا به په یو د برشمه نېټه را ورسېد. له بلې خوا سا داشیو کله چې په تاراوری له جمنا څخه د شاه په تېرېدو

باندې خبر شو ، نو سملاسي دده د مقابلې لپاره راوګرزېد او د اکتوبر په نهه ویشتمه پاني پت ته را ورسېد ، شاه دلته د نوامبر په لومړۍ نېټه راغی او د مرټانو له اردو څخه یې پنځه میله لیرې ځای ونیو([2]).

## افغانانو او مرټانو خپل مورچلونه وټاکل:

بلاخره احمد شاه دراني او سادا شیو بها د پاني پت د جګړې په تاریخي میدان کې سره مخامخ شول چې د اوږدې راتلونکې لپاره د هندوستان سرنوشت وټاکي.




له دغه ځای سره نږدې په کور کشترا کې د پاندوراس او کاوراواس ترمنځ د مها بهارتستره جګړه پېښه شوه. په پاني پت کې د هند سرنوشت په **۱۵۲۲** کې د مغولو په ګټه معلوم شو او همدا وخت و چې بابر د ډیلي پر تخت

---

۲.اس.پی.ډی ، احوال نجیب الدوله، ۳۷ب–۳۸الف، کاشی راج، ۱۴ .

کېناست او د مغولو د امپراتورۍ تاداو يې کېښود . دلته په **۱۵۵۲** کال کې لوی اکبر هيمو بانيا ته ماتې ورکړه. بيا هم دلته د احمد شاه دراني او ساداشيو ترمنځ د زماني يوه قاطع جګړه پېښه شوه. دغې نښتې د مرهټانو قدرت تر دوو لسيزو پورې شنډ کړ. مارسن وايي((د اتلسمې پېړۍ د پای په حدودو کې دغه واکمني او قدرت د مها ديجي سندهيا په هڅو سره تر زياتې اندازې خپل پخوانی برم تر لاسه کړ. انګريزانو دومره ځانونه کلک کړي وو چې نه يوازې دغه ګوابښ يې وزغمل، بلکې هغه يې په ښه خپل دښمن ته ور حواله کړ. ))

احمد شاه ددې لپاره چې د مرهټانو قوت معلوم کړي او ددوی په جنګي پلان پوه شي، له خپل سنګر سره ځان ځای پر ځای وساته او خپلو افرادو ته يې ددې اجازه نه وه چې بهر ووزي او هلته يې په آسانۍ سره ملاتړ ونه شي کېدلی. دغه حالت مرهټانو ته د شاه کمزورتيا ور په ګوته کړه او دوی اميد وار شول چې په آسانۍ سره تګ او را تګ وکړي.

دوی دا فکر هم کاوه چې دده (شاه) د هندي متحدينو په وفا دارۍ کې د ډيلي او کنج پورا د ناکاميو او ماتو له امله تزلزل راغلی او شاه به ښايي له خپلو دښمنانو سره د کومې يوې جګړې پرته خپل هېواد ته په پټه سره ښه ولاړ شي. خو دوی هغه وخت ډېر ژر خواشيني شول چې دی يې خپل سنګر کې په پياوړتيا سره وليد او په هغه بريد کول دوی ته آسان نه وو([۳]).

## د دوارو خواوو تيت و پرک جګړې:

---

۳-سرکار، دويم ټوک، ۳۰۰-۲۸۹

دښمنو خواوو د مخکښنیو ډلو او څارونکو ګزمو تر منځ دوه میاشتې له متاوتو نتیجو سره جګړې روانې وې. د نوامبر په نولسمه نېټه د ابراهیم خان ګاردي ورور فتح علي خان چې د مرهټانو په خدمت کې و، هڅه وکړه چې د شپې په محال د شاه په کمپ برید وکړي او نوموړی په دې بریالی شو چې د شاه یو څو توپونه له ځان سره په غنیمت یوسي. درې ورځې وروسته د سندهیا پوځونو لخوا په شاه ولي خان برید وشو او که څېرې وروستي کس ته وخت په وخت مرسته رسېدلای نه وای نو به افغانانو ته زیات تاوانونه او تلفات اوښتي وو. څلورمه شپه له کومې غوره پېښې پرته تېره شوه([4]).

د دسمبر په اوومه نېټه مرهټانو خپل یو څو توپونه یوه سنګر ته یوړل او له هغه ځای څخه یې په رو هیله ډزې پیل کړې.

متقابلې ډزې دا وخت دومره ډېرې نه وې او مازیګر پرته له دې چې کومه خوا د سرلوړی او بریالیتوب ادعا وکړي را ورسېد. روهیله هیله من وو خپل چانس د شپې د تیارې په رارسېدو کې تر لاسه کړي. تر ټولو لومړی د نجیب ورور سلطان خان له زرو تنو سپرو او پنځه زرو پلیو افرادو سره په مرهټانو پسې ووت او په هغوی یې خپل اصل سنګر ته د عقب نشینۍ په حال کې وو، برید وکړ. درو هیله وو پلتنه ییزو ټوپکونو سختو ډزو د مرهټانو هغه سپاره خواره واره کړل چې د توپونو څارنه یې کوله. خو په عین حال کې د مرهټانو اصلي لښکر په وسایلو او وسلو سمبال وو. ورپسې روهیله سپاره خپل کمپ ته را په څټ شول په داسې حال کې چې د برید وکړ. درو هیله وو پلتنه ییزو ټوپکونو سره تعقیبوونکې په شا ووهل او د هغوی یو شمېر

۴-دډیلی پېښې، حسین شاهي، ۵۲.

پر ښنو دل شوي تو پونه يې تر لاسه کړل. دا وخت ابراهيم خان ګاردي د خپلو پلټه ييزو ټوپک والاوو سره وړاندې ودانګل له ده سره بالوانت راو مهندل هم ملګري وو. په دغه لويه نښته کې مرهټانو ډېر تلفات روهيله وو ته ورکړل او دهغوی درې زره تنه يې ووژل د مرهټانو قوماندانان بالوانت راو مهندل په جګړه کې ووژل شو. دی د ساداشيو بهايو ډېر باوري افسر واود ضايعه ده ته جبران نه کېدونکې وه. دا د مرهټانو لپاره يو ډېر لوی شکست و(5)

## مرهټان د شاه لخواه را ايسار شول:

وريسې شاه تصميم ونيو چې مرهټان را ګير کړي. ((هره شپه پنځه زره تنه دراني سپاره د مرهټانو د کمپ پر لور د شپې په محال تر هغه ځايه تلل چې دوی ته په امن کې ممکنه وه او هلته به ټوله شپه يې پاتې کېدل چې يو نا ببره بريد ته په اختيار کې اوسي. دده (احمد-شاه) دوه نورې ډلې سپاره د مرهټانو د کمپ ښي او کيڼې خواته په نيم دايره توګه را چاپېره کېدل. د شپې له دغو ګزمو څخه د هرې يوې شمېره پنځه زره تنو ته رسېده چې په پياوړو ترکي آسونو سپاره وو او قومانده يې د سپرو افرادو د ډېرو با تجربه کسانو لکه شاه پسند خان او جها ن خان په لاس کې وه. دغو ګزمو د تجهيزاتو او خوراکي موادو هر هغه قافله اړوله چې د بهاود کمپ لور ته په پټه تلله، دغه راز هغوی به دمرهټانو د کمپ پيروانو هر هغه ډله بندوله چې د شپې له تيارې څخه په استفادې سره به له پاني پت څخه را ولاړېدله او په ګاونډيو ځنګلونو کې به يې لرګي او واښه را ټولول. دډيلي لور ته سويلي سړک

---

5-سرکار، دويم ټوک، ۳۰۶-۳۰۴، احوال نجيب الدوله، ۴۲ب-۴۳الف، دډيلي پيښې، حسين شاهي، ۵۲، سير المتاخرين، ۹۱۳، تاريخ مظفرى، ۵۹۹-۵۹۸را جويد، لومړی ټوک، ۲۷۲

لومړی ځل د افغاني لښکرو د استقرار لـه املـه چې یوه خوا او بلـه خوا یـې راغونډ وو بند شو. ) ) دلیر خان روهیله په دغه وخت کې د کنج پـورا دغلـو ګدامونه ونیـول اوس مرټـانو یـوازینی، هیلـه د پټیـالی سردارالسـنګ و او هغـه د شـمال لویـدیځ لـه لوري دوی تـه پـه دغـو بحرانـي شـېبو کـې خوراکي شیان رسول. د پاني پت د ښارګوټي، د غلو دانو، پـه ګدامو کـې ذخیرې نـه وې او د هغه د قبضه کوونکو له لاسه د تشېدو خوا ته رسېدلي وې.(٦)

## افغانانو په ګویند بالال باندې برید وکړ:

د دسمبر پـه دویمـه اوونـۍ کـې دا خبـر را ورسـېد چـې د مرټـانو یـو مالیـه ټولوونکي ګووېند بالال بـه ایتـا وا کـې لـه خپـل مرکـز څخـه راروان شـوی او دنجیب الدوله املاک یې لوټ کړي دي. دا وېره موجـوده وه مبـادا د دښـمن دغه حرکت به دشاه په روهیله متحدینو کې وېره او ګډوډي خپره کړي او پـه نتیجه کې به د یو شمېر د تښتېدو سبب شي. پر دې اساس ده د حـاجي عطا خـان او کریمـداد خـان (چـې نـوی لـه لاهـور څخـه رارسـېدلی و ) پـه مشـرۍ د نجیب په خدمت کې شـامل روهیلـه ، کـریم خـان ،لارښـوونه د درانیـانو یـوه نوې پنځه زره کسیزه قوه د ګووېندا بالال په مقابل کې واستوله. له باغ پت سـره نـږدې دوی پـه جمنـا پـورې وتـل او د ډیلـي پـه حـدودو کـې پـه شـاهدره بانـدې نـابېره ورښـکته شـول او د دسـمبر پـه شپاړسـم مـازیګر یـې د مرټـانو پوستې له منځه یوووړلې. بل سهار هغوی په غازي آباد کې یوه پـوځي ډلـه لـه پښو وغورځوله او بیا یې په جلال آباد کـې پـه ګووینـد بـالال بانـدې نـا ببـره

---

۶-منازل و فتوح، ۱۹، سیرالمتاخرین، ۹۱۳، تاریخ مظفری، ۶۹۸، خزانه امیرا ،۱۰۷-۱۰۶، تاریخ جانکو و بهاو (علی ابراهیم خان)۴۱، جام جهان نما، دویم ټوک، ۱۲۷، سرکار، دویم ټوک، ۳۰۶

برید وکړ. بالال یوه یادوه ورځې وړاندې دا ځای لوټ کړی و. مرهټان د ستاینې له کوم وړ مقاومت پرته وتښتېدل. گووېند بالال ووژل شو او دده سر پرې او شاه ته یوړل شو. په زیاته اندازه غنم او مهمات د افغانانو په لاس کې ولوېدل او د روهیله وو له سیمې څخه د ضروري شیانو د رارسېدو د بندولو ډار له منځه لاړ. له دغې نېټې وروسته د شاه په کمپ کې د خوراکي شیانو او نورو لوازمو کمبود هیڅ کله احساس نه شو (۷)

## د مرهټانو یو کنډک وځپل شو:

د گوپال گانش باروی او کرشنانند هڅې چې غوښتل یې د تېلوی دراجا بالبها درا او نورو یاغي مځکه والو په مرسته کښتنیږدوابولونی، د شجاع الدوله د پوځونو لخوا شنډې شوې او نوموړی شجاع له نواب گنج سره نږدې نا ببره په هغوی برید وکړ او دغه لوټماران یې تیت و پرک کړل(۸ ).

بهاو دخپلو افرادو یو ټولی ډیلي ته ولېږه چې نا رو شنکر پنډت ته د گووېندا بالال لخوا څو لکه استول شوې روپۍ ترلاسه کړې. د پیسو لومړۍ برخه په خوندي توگه د مرهټانو کمپ ته ورسېدله، خو دویمه یې سملاسي د درانیانو په لاس کې ولوېدله. نارو شنگر یو نیم لک روپۍ د پاراشر داداجي په مشرۍ درې سوو تنو افرادو ته ورو سپارلې او هر یوه تن له خپلې ملا څخه درې سوه روپۍ وتړلې او له ځان سره یې ولېږدولې. له

---

۷-دډیلي پیېښی، کاشي راج، ۱۶-۱۵، احوال نجیب الدوله، ۴۵ب، ۴۶ب، بهاری لال، ۹-۸، حسین شاهی ۵۱-۵، سیرالمتا، خرین، ۹۱۳ خزانه امیرا، ۱۰۸-۱۰۷، تاریخ مظفری، ۶۰۰-۵۹۹، راجوید، لوړی ټوک، ۲۷۲-۲۶۴ دریم ټوک ۵۱۱ منازل و فتوح ۱۸-۱۷، سرکار ۳۱۳-۳۱۰، احمد شاه بابا، ۲۷۲.

۸-اس، پی، ډی دویم ټوک ۱۳۴، راجوید، دریم ټوک، ۵۱۱ سرکار، دویم ټوک، ۳۱۴-۳۱۳. وگوری د اود گزیټر، دویم ټوک ۴۸۰-۴۷۹

.

درانیانو څخه د ډاربدو له امله دد غو افرادو شپږ تنه ببرته ډېلي ته ستانه شول او خپلې پیسې یې تحویل کړې، په داسې حال کې چې پاتې کسانو خپل تګ ته دوام ورکړ او د ۱۷۶۱ کال د جنورۍ د شپږمې نېټې په لومړیو ساعاتونو کې پاني پت ته ورسېدل.

څرنګه چې شپه تپه تیاره وه ، نو هغوی خپله لاره ورکه کړه او ددې پر ځای چې د خپل کمپ خوا ته لاړ شي، د درانیانو کمپ کېنې خوا ته ولاړل. دلته خپلې ژبې دوی رسوا کړل یعنې کله چې دوی په مرهټي ژبه له کوم یوه څخه پوښتنه وکړه چې دا د کوم یوه جنرال کمپ دی، نو درانیان د دوی په ژبه پوه شول او په هغوی نا ببره برید وکړ او ټول دوه سوه درې تنه یې له تېغه وایستل، یوازې یو تن ډېلي ته وتښتېد او هلته یې د خپلې بد مرغۍ کیسه نورو ته وکړه.(۹)

## ساداشیو د سولې غوښتنه وکړه، شاه غوښتنه رد شو:

دغو بد مرغیو او د شاه د شپې د سختو او ځیرکو ګزمو له امله چې په مرهټانو باندې یې له هر لورې څخه خوراکي او ضروري مواد بند کړل سا داشیو له شوق او ځوږ څخه وغورځاوه. ده په وېره او خواشینۍ سره له شجاع الدوله څخه هیله وکړه چې (( په هر قیمت د شاه او دده تر منځ د سولې لاره هواره کړي او نومو ړي ته یې په یوه سپین کاغذ کې د زعفرانو په اوبو

۹-حسین شاهی ،۵۲-۵۱، راجو ید، ولو مړی ټوک ، ۲۷۱ ، منازل و فتوح ۱۹-۱۸ ، احوال نجیب الدوله ۴۱ب، کاشي راج، ۱۶ ، سرکار ، دویم ټوک، ۳۱۵-۳۱۴.

کې خپله لنډه کړې غته گو ته مهر کړه چې دده له خوا د مختار وزیر په حیث د اعتبار نامې په توگه یې له ځان سره ولري. ورسره یو ځای یې د هندوانو هغه قسمونه ولیږل چې هغوی د یوې پربکړې په ترځ کې په دغسې قسمونو باندې خپل قول ثابت ساتي )). د شاه له وزیر شاه ولي خان څخه هم وغوښتل شول چې د سولې مذاکرې وکړي او شاه په خپله له دغه پیشنهاد څخه گټه اخیستلې شوه خو کینه کښ نجیب الدوله او وینو ته تږي افغانانو او روهیله وو چې د کفارو پر خلاف جهاد ته د قاضي او رئیس د احساساتي خواستونو له امله تحریک شوي وو د جگړې ټینگار وکړ. شاه وویل:(( د جگړې دوعا وکړه د سولې فکر پرېښودل شو ))[10]

## ساداشیو د جگړې نیت وکړ:

دا وخت له جگړې څخه بله کومه چاره پاتې نه وه. د مرټانو په کمپ کې دخوراکي شیانو او وښو کمبود او نشتوالي مرټان له سختو مضیقو سره مخامخ کړل او دلته ژوند کول له زغم ووت. دجنورۍ په دیارلسمه نېټه یو شمېر غوره افسران او سربازان د ساداشیو خېمې تر شاو او خوا را غونډه شول او ده ته یې د خوراکي شیانو د کمبود له پلوه د سربازانو د حالت د ویجاړتیا په باب عرض وکړ. دوی ورته وویل: (( په دوو ورو ستیو ورځو کې موږ هیڅ څه خوړلي نه دي. په دوو روپیو یو سېر غنم پیدا کېدلی نه شي .ددې پر ځای چې له لوږې څخه په خوارۍ کې مړه شو ، دا به ښه وي چې له دښمن سره و جنگېږو هر څه چې مو په تقدیر کې وو هغه به پېښ شي )).

---

۱۰- کاشی راج ،۲۱-۲۰ احوال نجیب الدوله ،۴۳ب-۴۵ ، سرکار دویم ټوک ، ۳۱۷-۳۱۶ .
۱۱-کاشی راج ۲۳-۲۲ احوال نجیب الدوله ، ۴۶ خزانه امیرا ، ۱۰۸ ،بهاری لال ، ۹ ، سیر-المتاخرینؤ۹۱۴ .

په دې توګه د شرایطو له غوښتنې سره سم سا داشیو پرېکړه وکړه چې ورستی ورځې په سهار په افغانانو باندې برید وکړي او خپلو افسرانو ته یې امر وکړ چې د بلې ورځې لپاره تیاری ونیسي(۱۱).

ساداشیو د وروستي ځل لپاره په خپل قلم شجاع ته یو لیک ولېږه او په هغه کې داسې لیکل شوي وو:((اوس نو وروستی شېبه راغلې ده، که دې څه په وس کې وي نو ژر یې تر سره کړه او یا ماته منفي ځواب راکړه. له دې وروسته به نور نود لیک یا خبرو د مبادلې لپاره کوم فرصت پاتې نه وي)). شجاع الدوله ژر شاه ته ولاړ او هغه یې له خوب څخه راویښ کړ او د جګړې لپاره د مرټانو د ګوابښ څخه یې خبر کړ. شاه د هماغه خوب په خپل یوه غوره آس چې ((چوکې)) نومېده، سپور شو او خپل پوځ ته یې امر وکړ چې د جګړې لپاره تیار شي. دی د لښکر څخه یو میل وړا ندې لاړ چې دوی رهنمایي او ترتیبات یې وګوري([۱۲])

ساداشیو ظاهرا د جګړې لپاره کوم پلان جوړ کړی نه و، یوازې په ټوله جبهه کې جنګي عملیات یې په پام کې لرل. ده د خپل قوم هغه عنعنوي تاکتیک تعقیب نه کړلی شو چې په پاني پت کې یې په کار اچولی و.

ده په یوه داسې ښارګوټي تکیه کړې وه چې هلته زیاتې مرټي کورنۍ او دده د کمپ پیروان او سیدل او په دې سربېره دلته هغه درنده توپخانه او نور مهمات ځای پر ځای وو چې په تېرو اوو میاشتو کې لاس ته راغلي وو. ده د ماتې په صورت کې په آسانۍ سره نه شول کولی په ښټ لاړ شي او ټولې

---

۱۲–کاش راج، ۲۳، حسین شاهی، ۵۵.

ښځې او شتمنۍ د دښمن ترحم ته وسپارې. ((بهاو د وښورول )). د منځ برخې قومانده ده په خپله په لاس کې ونیوله، کیڼې خواته یې ابراهیم خان ګاردی او ښي خوا ملهار راو هو لکار او جانکو جي شندی په غاړه واخیسته ([13]).

## متقابلې لښکرې:

له بلې خوا احمد شاه په ډېر زیات دقت او تفصیل سره خپل پلان تیار کړی و. سر جادو نات سرکار وایي چې ((ده دیوه ذاتي جنرال په حیث د خپل ملي پوځ نیمایي برخه (اتلس زره تنه ) په منځ کې د خپل وزیر تر مسوولیت لاندې واچوله ، په داسې حال کې چې دوه ثوری ډلې سپاهیان چې هر یوه یې پنځه زره کسه کېدله او زیاتره په پارسي غوره آسانو سواره پوځیان وو ، خپل ډېر وړاندې کینې او ښي اړخ ته ولیږل. په دې ډول د شاه هندي متحدین د پیاوړو دراني پوځونو په منځ کې راغلل او د څنډو په خوا کې د دوی له کوم غفلت، چل ول او تېښتې څخه مخنیوی کېدلی شو. له بلې خوا د څنډو ( دښي او کیڼې خوا لیکې ) دراني پوځیان د دې لپاره هم غوره شوي وو چې هغوی کولی شول د مرهټانو له خوا په اړخونو (ښي او کیڼه) باندې برید هم نا ممکن شي او په دې ډول به د شاه هندي متحدین په منځ کې د مرهټانو له برید څخه خوندي وي او د هغوی زړور توب ته به زیان ونه رسېږي)).

---

۱۳-سرکار، دویم ټوک، ۳۲۶-۳۲۴.

نجیب الدوله او شجاع الدوله د شاه پسند خان تر قوماندې لاندې کیڼې خواته ولېږل شول په داسې حال کې چې د (( ماورای گنگاه روهیله )) لکه حافظ رحمت خان او دوندی خان په ښي اړخ کې ځای پر ځای شول شاه خپله لیکه اووه میله اوږده کړه او په مرتهانو یې د لیکې ژۍ ورتېرې شوې ((دده د ښي او کیڼې خوا صفونو د ننه خواته داسې انحنې درلودله لکه د نوې میاشتې ښکر چې انحني لري او په دې توگه یې له اړخو څخه په مرتهانو برید کولی شو او ددوی د کرښې حدودیې تر تهدید لاندې راوستل. دمتقابلو لښکرو ترتیب او ددوی مربوطه قواوی او شمېر په لاندې ډول وو:

درانیان

کیڼ اړخ:

شاه پسند خان ۵۰۰۰ تول سواره.

نجیب الدوله ۱۵۰۰۰ تول پیاده له آسونو کښته شوی سواره.

شجاع الدوله ۳۰۰۰ یو پر دری پیاده پلته یېز توپک لرونکې.

## منځ:

شاه ولی خان ۱۹۰۰۰ افراد او زرتنه چورلکېان.

## ښي اړخ:

احمد خان بنگښ ۱۰۰۰ پیاده

حافظ رحمت خان او دوندی خان ۱۴۰۰۰ یو پر ثلور او یا له دی څخه لږ سواره.

امیر بیگ او بر خوردار خان ۳۰۰۰ کابلی پیاده پارسي سوارکاران (داسې سربازان چې سواره سفر کوي او پلي جنګیږي)

ټول۲۰۰۰۰

## مرټان

## کیڼ اړخ:

ابراهیم خان کاردي ۸۰۰۰ ټول پلي پلته ییز ټوپک لرونکي.

داما جي گیکوار ۲۵۰۰ سلواره

وتیتال شیویو ۱۵۰۰ سواره

منځ: ځینې کوچني کپتانان ۲۰۰۰ سواره

ساداشیو بهاو او ویشواز راو ۱۳۵۰۰ کورني پوځونه (هغه پوځیان چې پاچا ساتي)

## ښي اړخ:

انتاجي منکشوار ۱۰۰۰ سواره.

ساتو جي جاداو ۱۵۰۰ سواره.

کوچني کپتانان ۲۰۰۰ سواره.

جسوانت راو پاور ۱۵۰۰.

شمشېر بهادر ۱۵۰۰.

جانکو جي شندي ۷۰۰۰.

ملهارراو هو لکار ۳۰۰۰

۴۵۰۰۰ ([14])

## د ګاردي په برید سره جګړه پیل شوه:

د مرټانو د توپو په ډزو سره جګړه و نښتله او لومړی برید د ابراهیم خان ګاردي له خوا چې په یوه لاس کې یې بیرغ او په بل کې یې پلته یيز ټوپک و، رهنمايي شو. خپلو دوو ډلو جنګیالیو ته یې امر وکړ چې د برخوردار خان په مشرۍ د افغانانو مخه وتړي او په خپله یې د شاه د ښي اړخ په روهیله وو ور ودانګل. جګړه ډېره سخته وه او په لومړي سر کې داسې بربښېده چې ګوندې کار په روهیله تیت و پرک کړي او هغوی به په شا وتمبوي، خو هغه په مخامخ جګړه کې ډېر ژر خپله لوړتیا او فوقیت له لاسه ورکړ. دا وخت د شاه له لوري نوې قوه را ورسېدله او د ګاردي جنګیالانو ماتې وخوړه او تباه شول. داماجی ګیکوارد ابراهیم خان ملاتړ ته راغی، خو په ده باندي د مقابلې خوا شمېر زیات وو.

۱۴-احوال نجیب الدوله، ۴۶ب-۴۷الف، خزانه امیرا، ۱۰۷منازل و فتوح، ۲۱-۲۰، کاشی راج، ۲۶-۲۵، سرکار، دویم ټوک، ۳۲۲-۳۲۱
.

د ګـارډي د تالنګيـانو او د دامـاجي د مرټـانو د پـاتې کسـانو د افغـانـانو او روهيله و په مقابل کې ونه کولی شو او د تېښتې لاره يې ونيوله. پـه دې ډول د مرټانو د کيڼ اړخ بريد له ماتې سره مخامخ شو([15]).

## ويشواز راو او ساداشيو په جګړه کې ووژل شول:

د افغانانو په ښي اړخ باندې د ابراهيم خان ګاردي له بريد سره سم ساداشيو بهاو د افغانانو د لښکر د منځ په برخه کې چې مشر يې شاه ولي خـان، ور ودانګل. ددواړو خواوو څخه ډزې پيل شوې. د افغانانو د سپکې توپخانې پـر لـه پسې ډزې د مرټـانو تـر درنـدی توپخـانې ډېرې وژونکې وې، ځکـه د هغوی انتقال آسانه او په اغېزمنه توګه په لاس چلېدلی شو . ورپسې سـادا - شـيو د پـوځ افـراد د جګـړې لپـاره د ((هرهـر ماهـا ديـو )) پـه کڼوونکو نـارو سورو سره د شاه ولي خان په درانيانو د خپل ځان لـه وېرې ور تـوی شـول او دجبهې په تيت او پرک ډلو کې يې ځانونـه ور ننـه ايسـتل. پـه افغـاني ليکو کې ګډوډي راغله او د حاجي عطايي خان يو شمېر افراد په ښټ لاړل.

شجاع نه شول کولی د ګډوډ شـوي مـنځ لـور تـه د مرسـتې لاس وغـزوي. کـه چېرې دی دغې خواته د مرستې لپاره راغلی وای، نو د جـانکو جـي شـينـدي او ملهار راو هولکار په مقابل کې کېڼه خوا کمزورې کېدلـه. سره ددې هم بهاو د پياوړو سپرو لښکرو د نشتوالي له امله چې ګډوډ شـوي افغـانـان تـر يرغـل لانـدی ونيسـي او هغـوی پسـې واخلي و نـه شـول کـولی لـه خپـل دغـه ګټور موقف او حالت څخه استفاده وکړي. دشاه افسـرانو را پـه ښټ شـوي

١٥-احوال نجيب الدوله، ١٤٧الف، کاشي راج، ٢٧-٢٦

افغانان بیا د جګړې لور ته راغونډ کړل او هم د شاه د محافظو لښکرو د یو کندک په ګډون یې د کمپ تکړه پوځیا ن راټول او د شاه ولي خان د ملاتړ لپاره یې وروړاندې کړل. دغو نویو پوځونو په ستومانه مرتبانو باندې خپل حالت ته ښه والی ورکړ او هغوی چې په غیرت راغلي وو، په شا وتمبول.

خو شاداشیو د یوه زړور سپاهي په ځبر جګړې ته دوام ورکړ. په دغه بحراني شېبه کې د پیشوازوی ویشوا زراو د مرټې قوي لوی قوماندان په سخت ترینه مرحله کې د خپل ساتونکې ډلې په ملتیا ودانګل، خو دا حرکت په افغانانو باندې دومره زیات اغېزمن نه شو ځکه ددوی زیرک شاه هغوی د خپل خدمتګارانو په دریو تازه دم پوځي ډلو سره ملاتړ کړل. د خپل بادار په لارښوونو سره دوی ځان هغوی له درې خوا و څخه مرټان نګړی تاکتیکونه په کار واچول. را ایسار کړل. یوه ډله پوځیان له ښي خوا څخه را پورته او په دښمن یې خپل پلټه ییز ټوپک و چلول او بله له کېڼ اړخ څخه راووتله او په مرټانو باندې یې ډزې وکړې او په چټکۍ سره ښي اړخ ته ولاړه. دریمه ډله له مخ څخه ووتله او د دښمن په مخکنۍ ډله یې اور بل کړ او بیا د شا خوا ته ولاړه. دغو حرکتونو دښمن ته د ځان د تیارولو موقع ور نه کړه، پخوا له دې چې هغوی ځان چمتو کړي، دغو پوځي ډلو به خپل توپونه او ټوپک له ځان سره اخیستل او هماغه شان کار او جګړه به یې تکرارول. په دغو ټولو عملیاتو برسېره مرټانو د شاه ولي خان په منځنې لښکر باندې درې واره بریدونه وکړل، خو دده افرادو بیا خپل مور چلونه وساتل او د تیګې په ځبر یې ځانونه کلک کړل. پاو باندې دوه بجې وې چې ویشواز راو په یوه ګولۍ ولګید او مړ شو. دده مړینه د ساداشیو لپاره یوه

ډېره لویه ضربه وه . ده خپل ځانګړي پیروان او په هماغه شمېر د نورو له پوځونو څخه د توان تر حده راټول او په افغانانو باندې یې د وروستي ځل لپاره ډېر کلک برید وکړ. دی په نیزه زخمي کړل شو او په ورانه باندې د یوې ګولۍ په لګېدو سره له آس څخه را ولوېد . په داسې حال کې چې ده د نېزې په لګولو سره تنګ کاوه د پنځو درانې سپرو لخوا چې غوښتل یې د ده قیمتي جواهرات او کالي وتښتوي جګړې ته اړ او راوبلل شو.دی د یوه ټپي زمري په څېر په یرغلګرو او حمله کوونکو باندې برید وکړ او د هغوی د تورو تر ګوزارونو لاندې ووژل شو. د ده سر پرې او یوړل شو . (( په دې ډول ساداشیو بهاو د خپل شهرت په اوج او د خپل قوم لپاره د امپریالیستۍ خوبونو په لیدلو ځان له لاسه ورکړ ))([16]).

## د مرهټانو په ماتې سره جګړه پای ته ورسېدله:

د شاه د کیڼ اړخ پوځ او د مرهټانو د ښي اړخ ترمنځ عملاً کومه جګړه پېښه نه شوه. ملهار راو هولکار او جانکو جي شندي د افغانانو د توري خوند لیدلی و ، دوی تر پایه پورې له خپلو مور چلونو څخه ونه وتل. نجیب الدوله د دغو مشرانو د بې زړه توب څخه په استفادې سره د ورځې په محال د مرهټانو د ضربتي لیکو تر منځ یوه ځای ته ځان په غلچکي توګه ورساوه ، خو دوی پیشقدمي ونه کړه. د ورځې په پای کې چې د ښي او منځ اړخ لاره خلاصه شوه ، شاه پسند خان او نجیب الدوله په دوی باندې نا ببره برید وکړ. ((ملهار راو )) لومړی ځل وتښتېد ، له ده سره یو ځای د جانکو جي

---

۱۶-احوال نجیب الدوله ،۲۷ الف- ۵۰ب منازل و فتوح، ۲۳-۲۱ کاشي راج ، ۳۱-۲۸ ،۳۹، کاشی راج ، ۳۱-۲۸ ،۳۹، حسین شاهی ،۵۷-۵۴ ،سیرالمتاخرین، ۹۱۳ .

زيات شمير لښکر هم په لاره ولاړ جانکو جي ټپي شو او د زياتو تلفاتو په ورکولو سره په شا وتمبول شو. په دې ډول د پاني پت جګړه پای ته ورسېدله (۱۷).

## د دښمن تلفات:

د احمدشاه د قواوو له خوا د مرهټانو تلفات دومره زيات وو چې د دوی د کمپ د شاو خوا خندقونو کې د پرتو مړيو برسېره بله ورځ په دوو د پرشو انبارونو کې د مرهټانو اته ويشت زره مړي حساب شول. له هغو څخه په زرګونو يې د درانيانو له خوا تعقيب کېدو په ترڅ کې ووژل شول او په سلهاوو ټپيان د شپې د سړو له امله مړه شول ددوه ويشت زرو په شمېر نارينه، ښځې او کوچنيان د مشرانو او مامورينو د زامنو او نورو نورو خپلوانو په ګډون د يرغمل په توګه ونيول شول. ښايسته برهمنې ښځې د افغانانو له خوا په روهيله وو او يا نورو هندي سپاهيانو، هر يوه د يوه تومن په بيه، (نږدې لس روپۍ) وپلورل شوې. نغدې پيسې او جواهرات له حد څخه وتلي وو، اوښان او آسونه شمېرل کېدای نه شول(۱۸).

شاه د مريانو، نغدو پيسو، جواهراتو، هاتيانو اوښانو، آسانو او نورو مالونو څخه سيوا چې په افغانستان کې يې خپل خلک ورباندې ماړه کړل، له دغې لويې او غوڅې فتحې څخه کومه سياسي ګټه تر لاسه نه کړه.

---

۱۷-احوال نجيب الدوله، ۵۱الف، منازل و فتوح، ۲۳، کاشي راج،۲۹، حسين شاهی، ۵۷.

۱۸-احوال نجيب الدوله، ۵۰الف-۵۰ب، منازل و فتوح. ۲۳-۲۱، خزانه، اميرا، ۱۰۹-۱۰۸، بهاری لال، ۱۰، کاشی راج، ۳۷، سير المتاخرين، ۹۱۴.

د ۱۷۶۱ د جنورۍ په پنځلسمه یعنې یوه ورځ له بري وروسته شاه چې یوه شان لرونکې چپنه یا (قبا)، د کوه نور د الماس په ګډون ځلېدونکي جواهرات یې په تن وو، د پاني پت ښار ته ننووت او د شیخ بو علی قلندر زیارت یې وکړ. دی دلته یوازې څو ورځې پاتې شو او بیا د ډیلي لور ته وخوځېد. له مغولي پایتخت څخه شپاړس میله لیرې په نیرا لاکې د کونډې امپراتورې زینت محل او د هغې لمسی میرزا جوان بخت له خوا شاه ته هر کلی وویل شو. شاه د جنورۍ په نهه ویشتمه نېټه خپل مقصود منزل ته راورسېد. د مرټانو والي نارو شنکر پنډت د زینت محل په مرسته وتښتېد (۱۹).

## دهند د تاج و تخت په باب د شاه نظریه (طرز دید):

په شمالي هند کې د مرټانو په زیاتېدونکي قدرت باندې د پاني پت جګړې یو رېز مرېز کوونکی ګوزار وکړ. دا وخت د مغولو ټوله امپراتوري د شاه په پښو کې پرمخ پرته وه. خو ده د وطن مزیت تر پښو لاندې نه کړ. د دې لپاره ده دلایل هم لرل دی د افغان له هډه و او له خپلو خلکو او خاورې سره یې سخته مینه درلوده. دی دبابر به څیر نه و چې د تل لپاره په هند کې پاتې شي او دهغه ځای سلطنت قبضه کړي او دی په دې پخبر و چې له خپل پایتخت کندهار څخه د دومره یوه ستر هیواد ملک ټولو تسلیمولو ته په د کلونو کلونو پرله پسې جګړې پکار وې او دغه جګړې په افغانستان کې دده له

۱۹-احوال نجیب الدوله، ۵۱ب، کاشي راج، ۴۱-۳۷، د ډیلي پیښې. شاه په پاني پت کې د ابراهیم خان کاردی په شمول د یو شمیر یرغملو د اعدام حکم ورکړ، ورکړوګورې چهار ګلزار شجاعی، ۲۸۵، کاشی راج ۳۷-۳۶، راجوید لومړی ټوک ۱۵۸، ۲۸۶، تاریخ مظفری، ۶۰۱، خزانه امیرا، ۱۰۸، حسین شاهی، ۵۸.

مرکزونو څخه چې په مخکې يې د پنجاب مو اصلاتی لويې لاری هم خنډوی او سکانو دلته په ټولو برخو کې زياتيدونکې قدرت پيدا کړی و او دده سر پرستی ته يې پدی ملک کې گو ابن کاوه، نا ممکن بربنسيدلی. په هند کې دده هلې ځلې ټولې ددې لپاره وې چې ځرمه او ځربه (شتمنه ) سيمه را گډه کړي او دهغې د سرحداتو امنيت په دې مفکوره تامين کړي چې د خپل خوار هېواد اړتياوې له هغه څخه پوره کاندي. د دغه هدف په پام کې نيولو سره ده غوښتل چې د ډيلي په تخت داسې يو څوک کيني چې په خپله له ده سره دوست وي. لکه چې پوهېږو امپراتور عالمگير ثاني د غازي الدين له خوا ووژل شو. دده زوی شهزاده علي گوهر د ۱۷۵۹ کال په دسمبر کې د شاه عالم ثاني په شاهانه لقب سره د بهار په گوتاولي کې خپل ځان د امپراتور په حيث اعلان کړ. له دغه ځای څخه ده شاه ته منيرالدوله د خپل استازي په توگه واستاوه او د ملاتړ هيله يې تري وکړه. شاه د ۱۷۶۱ کال د جنوری په ۲۹ نېټه ډيلي ته په رارسېدو سره په ډېرې خوشحالۍ شاه عالم ثاني د ډيلي په تخت ومانه او منيرالدوله او کونډې ملکې زينت محل ( د شاه عالم مور ) شاه دې ته راواړاوه چې د هند ټولو واکمنو شهزادگانو او په بنگال کې ډگروال کليو ته فرمانونه ولېږي او هغوی شاه عالم د ربښتياني او حقدار امپراتور په توگه وپېژني. شاه شخصاً له شجاع الدوله او نجيب الدوله سره وغږېد او شهزاده جوان بخت ( د شاه عالم زوی ) يې د شاه جهان آباد (ډيلي ) په ارگ کې د خپل پلار د نايب په توگه وټاکه او امر يې وکړ چې پيسې دده په نامه ضرب او خطبه دده په نامه وويل شي (۲۰)

---

۲۰-سرکار دويم ټوک، **۵۴۳**، ساردېساى، د مرېټانو نوی تاريخ، دويم ټوک، **۴۶-۴۴۵**، مرتضى علي خان، (منير الدوله) ۱۶-۴۱.

په عین حال کې شاه د خپل سفیر منیر الدوله په وسیله له مغولي امپراتور څخه خپل پایتخت او د پلرونو د سلطنت د اداري لپاره د ستنېدو غوښتنه وکړه.

## له مرتهانو سره خبرې اترې:

که څه هم مرتهانو ماتې خوړلې وه خو لا هم دوی دومره زورور وو چې د یوه قوت په توګه ورته وکتل شي. شاه په آسانۍ سره له دغسې یوه واقعیت څخه سترګې پټولی نه شوې. څرنګه چې امپراطور شاه عالم د مرتهانو له خوا هم د منلو وړ کېدلی شو، نو له دې امله په دغه برخه او ترتیب کې شاه له دوی څخه کومه اندېښنه او وېره نه درلوده. خو ګوالیار ته له یوې سترې قوې سره په خپله د پیشوا را رسېدلو دی په فکر کې واچاوه. ده امید درلود چې نور نو له خطرونو سره ځان مخامخ نه کړي. د یوه هوښیار فاتح په توګه ده د مرتهانو د استازي باپوجی مهادیو هینګنی له پیشنهاد څخه چې دده او پیشوا تر منځ یې یوه مفاهمه غوښتله استفاده وکړه. له هینګنی سره له خبرو وروسته ده یعقوب علي خان ته امر وکړ چې ګوالیار ته وړاندې لاړ شي او له پیشوا سره د سولې یو تړون لاسلیک کړي.

خو د پیشوا د روغتیا ناسم والی او د ځینو مرتهې سرادارانو لکه ملهار راو هولکاو او نارو شنکر پنډت – شکمنی له شاه سره خبرې اترې او مذاکرې شاته وغورځولې.

شاه د پیشوا بالاجی راو د غمجنۍ احساسات په ښه توګه درک کولی شو، ځکه نوموړی د پاني پت په جګړه کې خپل مشر زوی (( ویشواز راو )) د تره

زوی سا داشیواراو د **خپل** ستر لښکر یو شمېر سرداران له لاسه ورکړي وو او ده په دې سبب له پیشوا سره په دغه غمجنوالي کې زړه سوی او همدردي ښکاره کړه.

شاه له ده سره د پخلاکېدو د اصلي محرک د څرګندولو په ترڅ کې هغه ته داسې ولیکل :(( داسې دلیل نشته چې ولې باید زموږ او تاسې تر منځ بد نیتي موجود وي. دا رښتیا ده چې تاسو **خپل** زوی او ورور په دغه بد مرغه جګړه کې له لاسه ورکړ، خو دا کار کاملا د بهاو صاحب په لمسون وشو او موږ له **خپل** ځان څخه د دفاع پرته کومه چاره نه درلوده.

سره له دې هم موږ په دغو تلفاتو سره سخت خواشیني شو. موږ دې ته تیار یو چې د ډیلي د شاهي اداري مساله ستاسو په واک کې پرېږدو په دې شرط چې تاسو پنجاب د ستلج تر رود پورې موږ ته خوشې کړئ او د امپراطور په توګه د شاه عالم ملاتړ وکړئ. تاسو به ضرور هغه خواشیني کوونکې پېښې هېروئ چې پېښې شوې او له موږ سره به یوه دوامداره دوستي ټینګوئ، داسې دوستي چې موږ په ډېره لېوالتیا د هغې غوښتونکي یو )). وزیر شاه ولي خان د ښه نیت همداسې لیکونه ولیکل او د هغوی ( له شاه او د وزیر وکیل.م )( ګلراج ) په وسیله یې د رواجي افتخاري قباګانو په ګډون ور واستول )).

ګلراج د فبرورۍ په لسمه نېټه له پېشوا سره وکتل او د شاه غوره پیغام یې هغه ته وسپاره. پېشوا هم په هماغه شان د سولې لپاره علاقه وښوده او ګنګا د هارچادرا چودبي موظف کړ چې ډیلي ته لاړ شي او هلته د سولې مسایل او موضوعات برابر کړي. په دې ډول د سولې د شرایطو په ټولو

اصلي نکاتو خبرې وشوې او د مارچ تر نیمایي پورې حل و فصل شوې، یوازې همدومره پاتې وه چې په رسمي توګه په کاغذ ولیکل شي. خو څرنګه چې د پېشوا روغتیا ښه نه وه او ویې نه شول کولی چې هغه پای ته ورسوي او د مارچ په شلمه د دکن لورته روان شو. د سفر په اوږدو کې درې ورځې وروسته پېشوا خپل وکیل هنګنی ته ولیکل: (( زه د شاه ابدالي او دده وزیر هغو لیکونو ته ځوابونه استوم چې ماته راغلي او ددوی د وکیل ګلراج لخوا راسپارل شوي دي. زه انور الله خان او حسین محمد خان شاه ته د سولې د خبرو لپاره لېږم. ما ملهار راو هولکار ته ددغې موضوع د پرېکړې صلاحیت ورکړی دی. تاسو به اوس له هولکار سره مستقیما تماس ونیسئ او دده تصمیم ته به غاړه کېږدئ. له تاسو څخه غواړم چې ددغو دوو تنو سلا کارانو انورالله او حسین –محمد شاه سره به پوره ملا مشوره وکړئ او د مذاکرو له پرمختګ څخه به ما په پر له پسې توګه خبر وساتئ )).

په عین حال کې شاه هم د مارچ په شلمه د وطن لورته روان شو.

ګنګا د هار پاشوانت د ۱۷۶۱ کال په مې کې د ملهار راو هولکار لخوا پېشوا ته لیکي: (( سره له دې هم شاه له روانېدو د مخه د هنګني په حضور کې شجاع الدوله او دده روهیله متحدینو ته په کلکه توګه لارښوونه وکړه چې ده له پېشوا صلاحیت او واک ته غاړه کېږدي.

لـه دغـه واک څخـه پـه خپلـه دوی ډېره ګټـه اخیسـتلی شـي. )) دغـه راز شـاه یعقوب علي خان ته امر وکړ چې په پونه کې د پېشوا حضور ته د معاهدې د لاسلیک لپاره لاړ شي (٢١).

د سورج مال جټ په خلاف له عملیاتو څخه لاس واخیستل شو:

شاه د فبروري په میاشت کې چې په ډیلي کې وو، د بهارتپور لـه جټ سورج مـال سره خبرې اترې پیـل کړې وې. د فبروري پـه یوویشتم ماښام نجیب الدوله د جټ دوه تنه استازي نګرمال او مجلس رای حضور تـه راوستل او هغوی هیله درلوده چې په جټ باندې د شاه د غوښتنو پېټی د نورو کسانو په اوږو واچوي. خو زینت-محل لـه جټ سره د خبرو کولو طرفداري ونـه کړه، ځکه نوموړی جټ د هغې د مېړه (عالمګیر ثاني) قاتل غازي الدین تـه پناه ورکړې وه. زینت محل په حق سره جټ پېژندلی وو چې هغـه تـر څو چې ښه په تنګ نه کړل شي یو قیران یا شانزده پولي به ورنـه کړي پـه دې سبب شاه یوه عملیاتي ډله برابره او خپل وزیر شاه ولي خان تـه یې امر وکړ چې د زینت محل شهزاده جوان بخت او میرزا بابر په ملګرتیا د جټ پـه چوڼۍ ور وخیږي. د مـارچ پـه اوومـه دوی د اګرې لورتـه وخوځېدل خـو درانیـانو د متورا په لور د تللو څخه سر وغړاوه، ځکـه دوی شـپاړس میاشـتې لـه خپلو کورونو څخه رالیرې شوي وو او دوی ډېره آرزو درلودله چې خپلو کـورو تـه ستانه شي. دوی تـه پـه هند کـې لـه را ننوتلو څخـه وروسـته معـاش ورکـړل شوی نه و، هغوی د زیاتې و لچې هیله درلودله، خو هغـه ټول دروغ وختـل. په پاني پت کې کوم څه دوی تـه و نـه رسېدل. پـه ډیلـي کـې هم دا وخت څه

---

٢١-سار دیسای، د مرهټانو نوی تاریخ، دویم ټوک، ۴۸-۴۲، سرکار دویم ۳۸۲-۳۷۸.

ولجه پاتې نه وه.په دې سبب د جټ خواري دا انتظار درلود چې د جټ له چونۍ څخه به سخت مقاومت او ډزې وشي. له بلې خوا دوی په شمالي هند کې د بل سخت اوړي د تېرولو څخه وېره درلودله، په تېره بيا د متورا په سيمه کې چې دوی د کلورا له امله د ۱۷۵۷ کال په مارچ کې هره ورځ په سلهاو انډيوالان له لاسه ورکړل. له دې امله شاه مجبور شو چې شاه ولي خان را وغواړي او خپل وطن ته ستون شي. دغه راز شاه د مهاراجا ساوای مادو سنگ او دده د صدراعظم تر منځ جرگه چې د راجپوت مشر رابلل شوی و، پرېښودله شوه(۲۲).

## شاه افغانستان ته روان شو:

د مارچ په ديارلسمه ده خپله ((پيش خيمه)) او سامان د مخه واستول او له ډيلي څخه په احمد گنج کې د خپل کمپ لورته روان شو. په دوه ويشتمه نېټه يې د کور خوا ته خپل سفر پيل او په اووه ويشتمه امبالاته راورسېد (۲۳).

سکان معمولاً د شاه څخه لا دمخه پنجاب ته رانغوتل چې دده دتگ په لار کې دی وځوروي. د سردار جسا سنگ اهلوا ليه په امر سکانو د گويندوال په گذرگاه کې چې د بيس د رود په ښي غاړه کې پرته وه په افغانانو ناڅاپه بريد وکړ او له دوی څخه يې دوه زره او دوه سوه تنه يرغمل ښځې خوشې

---

۲۲- مراسلات احمدشاه درانی ۲۵، ۲۷ گڼی.

۲۳- د ډيلي پيښی، نجيب الدوله ۵۲،ب- ۵۳ب، سرکار، ۳۷۶-۳۷۵ کننگو، ۱۴۳، وايي چې د شاه استازی ته جټ يو لک روپی ورکړی او ژمنه يې وکړه چې پنځه لکه به بيا وروسته ورکړی.

کړې او دوی دغه ښځې له خوشې کېدو وروسته خپلو کورونو ته رخصت کړې. لاهور ته په رارسېدو سره شاه وسله والې ډلې ددوی پر خلاف ولېږلې، خو څرنګه چې له ده سره په زیاته اندازه سامان او لوازم او ولجه بار و او مجبور و چې خپل وطن ته د اوړي تر راتلو دمخه ځای ورسوي نو ددوی پر خلاف يې لازم او اغېزمن تدبيرونه ونه نيول [۲۴].

## د ډيلي، سرهند او پټيالې لپاره تنظيمات:

له ډيلي څخه تر روانېدو دمخه احمد شاه شاه عالم ثاني د هند د امپراتورۍ په توګه او ميرزا جوان بخت د هغه د مسلم وارث په حيث تاييد کړل. غازي الدين عماد الملک د صدراعظم او نجيب الدوله د اعلی قوماندان په صفت وګومارل شول. خو دزينت محل په خوښه نجيب الدوله په ډيلي کې د ۱۷۶۱ کال د اپريل په اوومه د نايب السلطنه په توګه رامنځته شو. زين خان د سرهند د حکمران په توګه مقرر شو، په داسې حال کې چې د پټيالې سردار الاسنګ ديوه فرمان په وسيله چې د ۱۱۷۴ هـ کال (۱۷۶۱ مارچ نهه ويشتمه) د شعبان په دوه ويشتمه نېټه نافذ شو، د خپل لاس لاندې سيمې د واکمن په توګه وپېژندل شو. ميرزا تقي په پټياله کې پاتې شو چې د الاسنګ له خوا د پنځه لکه روپيو ژمنه شوې ماليات راغونډ کړي[۲۵].

## پنجاب له ۱۷۶۱-۱۷۵۹ پورې:

---

۲۴- تاريخ پنجاب کانهيالال، ۱۵۳-۱۵۲. شمشير خلسه، ۱۴۵-(۵۰۷).

۲۵- بهاری لال وايي چې نجيب الدوله د شاه له خوا د امير الا مرا لقب واخيست، لسم مخ. دغه راز تاريخ مظفری، ۶۰۲ مخ، طهماس نامه ۱۰۵ الف، ۱۰۷ ب وګوری.

کله چې شاه د ډيلي په لور د تگ په حال کې و ، کريمداد خان يې د پنجاب د والي په توگه مقرر کړ هغه وخت چې نوموړی شاه خپل حضور ته راوغوښت دده په بدل کې سر بلند خان د هغه ځای ته واستول شو . له سکانو څخه د ډاربدو له امله ده په جلندر کې خپل مرکز ونيو او سعادت خان يې په لاهور کې د خپل مرستيال په توگه نامزد کړ .څو مياشتې وروسته د يوان صورت سنگهه ته د لاهور د چارو واکې ورکړ شول.خو نوموړی ډېر ژر له کار څخه گوښه شو . دده پر ځای د کاسور د ميرمومن خان زوی، مير محمد خان راغی. خو دې سړي هم د سکانو په مقابل کې د مقاومت توان ونه موند .کله چې له (( گورماتا )) څخه وروسته په امرتسر کې د دېوالي د مذهبي جشن پر وخت د سکانو سرداران لکه جسا سنگهه اهلو والا ،جی سنگهه کانهيا ، هاری سنگهه، بانگی، گوجر سنگهه او لانا سنگ د ۱۹۲ په نوامبر کې په لاهور باندې ورتوی شول او يوولس ورځې هلته تم شول. مير محمود خان دوی ته د کارا پراساد په توگه د دېرشو زرو روپيو په ورکولو د هغوی د رضا کولو لپاره وړاندې کړې. په دغه کار سره دی زنداني شو او ير بلند خان دده په ځای يعقوب خان وټاکه چې د کريمداد خان وراره و. له ده سره عظمت خان درانی او گل محمد خان مرستيال شول. څرنگه چې سکانو ته د پسرور، چهار محل ، او رنگ آباد . او نورو ځايو له ماليا تو څخه پيسې ورکړل شوې وې او هغه بايد د شاه خزانې ته تللی وای، نو يعقوب خان او عظمت خان دغه موضوع شاه ته اطلاع ورکړه البته ښايي ددې لپاره چې بيا که کوم بل څه مسووليت پېښېده په هغوی کې به دوی گرمتيا ونه لري. شاه امر وکړ چې دغه پيسې بايد دلاهور له غوره ښاريانو څخه لکه شاه غلام

حسین پیر زاده سر – هندی میان تقی محمد ،میر ناتو شاه ، میر شاهار یار ، حافظ قادر – بخش او نورو څخه چې د هغو له لارې پیسې سکانو ته ورکړل شوې وې واخیستل شي. سره له دې هم دغو ښاریانو یعقوب خان ته عرض وکړ چې د سویل خواته د شاه له راستنېدو وروسته به دا موضوع شاه ته دوی تقدیم کړي او د شاه په لطف او مرحمت سره به دوی د دغې ورکړې څخه ځانونه وژغوري. که چېرې دوی




NAWAB NAJIB-UD-DAULA RUHILA

په خپل عرض کې ناکام شول په هغه صورت کې به دوی دغه پیسې په ښار کې ټولې او خزانې ته به یې وسپارې.

شاه دواب بست جلندر ته په رارسېدو سره له سر بلند څخه ددغو پیسو پوښتنه وکړه. نواب سر بلند خان خواجه عبید الله خان د خپل وکیل په توګه ولېږه او د وزیر شاه ولي خان له لارې یې شاه ته عرض وکړ چې دی د خپلې تصدۍ پر وخت د سکانو په ایل کولو لګیا و او دده زیاتې بودیجې د لښکرو د برابرولو لپاره لګېدلې دي او د پیسو بېلانس شاهي خزانې ته تحویل شوی دی. کله چې د لاهور ښاریان پوه شول چې شاه دغې خوا ته راروان دی او په یوه یا دوو ورځو کې امرتسر ته راورسېږي، دوی همدغه وروستي ځای ته دده حضور ته ورغلل او هغه ته یې د شاه ولي خان په وسیله پنج سورې ولېږلې او له دوی سره یې د شاه د خبرو اترو هیله وکړه. دده د اسلامی احساساتو د راجلبولو لپاره دوی هغه ته وویل چې سکانو ددوی ښار لوټ او په زرګونو ټوکه قرآن مجیدونه یې وسوځول او یو زیات شمېر یې له ځان سره یووړل. دوی وویل چې دی د دین حامی دی او دا به د افسوس خبره وي چې ددې مصیبت سره، سره هغه پیسې چې دوی د سکانو له لاسه د یو مومن دژغورلو او ساتلو په منظور لګولې دي، هغه بیا ترې وغوښتل شي. شاه په ډېره خوښۍ سره ددوی د پیسو له ورکړې څخه تېر شو او دوی ته یې په یوه شاهي مهر یو فرمان ورکړ چې هغه یعقوب خان او عصمت خان ته ددغو پیسو د بښلو په منظور له ځان سره یوسي.

شاه د ۱۷۶۱ کال د اپریل په شپږویشتمه لاهور ته په رارسېدو سر بلند خان ملتان ته تبدیل کړ او خواجه عبید الله خان یې د لاهور د والي په توګه

وتاكه، په داسې حال كې چې راجا گوماند چند كتهاوچ ته يې دوابه بست جلندر وركړاو سعادت خان او صديق خان افريدي يې دده د مرستيالانو په حيث وگومارل. وروسته بیا شاه د افغانستان لورته ستون شو او د لارې په اوږدو كې د اندس تر غاړو د سكانو له خوا په غلچكي توگه تر بريد لاندې راغى ([۲۶]).

۲۶ - دډيلي پيبنى، عمده التواريخ لومړى ټوک،۱۵-۱۴۹ ، على الدين عبرتنامه، ۲۶۴-۲۶ گانهيالال، تاريخ پنجاب، ۸۴-۷۲، شمشير خالصه، ۱۴۵-۱۴۴. ۱ -فيرير د افغانانو تاريخ ۹۱-۸۹

# شلم فصل

## کورني حالات

## (۱۷٦۰-۱۷٦۱ )

### د حاجي جمال خان ادعاوې:

کله چې شاه په هند کې له مرهټانو سره په جګړه کې و دا وخت دوو تنو جاه طلبو او ناراضي سردارانو یو په بل پسې د اله ګولې جنډې راپورته او خپل ځانونه یې دافغانستان د پاچایانو په توګه اعلان کړل.

لومړی یې حاجي جمال خان و چې زرګرانې په قبیله یې تعلق درلود.

داسې معلومېږي چې ده هغه وخت خپلې ادعاګانې وړاندې کړې چې مرهټانو ونیو او د ګنج پورا ښارګوټی یې لوټ او په یوه یا دوو ځایو کې یې په افغاني کنډکونو یرغل وکړ. حاجي جمال خان خپل ځان په کندهار کې پاچا کړ او سکه یې په خپل نامه ووهله خو په هند کې د شاه بریالیتوبونو بیا هم دی په سد راووست. ده خپل سلطنتي موقعیت چې اعلان کړی یې و لغو او عملاً د هېواد له سیاست څخه یې لاس واخیست.

### د عبدالخالق خان اله ګوله:

بل الـه گولـه كـوونكى د احمد شـاه خپـل وراره عبـد الخالق خـان و چې ډېر سرسخت او لنډ فكره سړى و. ده په گرشك كې خپل بيرغ اوچت كړ. لـه ده سره دوه افغاني سرداران دلاور خان اسحق زى او ذال بيگ پوپلزى يو ځاى شول. دوى د ۱۷۶۰ كال د اكتوبر په شپږ ويشتمه نېټه كله چې شاه د جمنا پـه رود پورې وت د شاه له خوا اعتماد له لاسه وركړ. په دغه وخت كې چې شاه خپلو افرادو ته د رود اوبو ته د ځان لاهو كولو امر وركړ، دغو سردارانو دده او امرو ته په سپك نظر وكتل. نو دا وخت شاه په خپله خپل آس اوبو ته لاهو او له رود څخه تېر شو.

دغو كسانو مجبوراً دا خطر پـه غـاړه واخيست ځكه ټولـو پوځيـانو دا كتـل چې د دوى شاه له مرگ سره پنجه وركړه او دوى هغـه خوا د نـاظر پـه توگـه د رود په غاړه عاطل ولاړ دي. دوى په دې سبب د شـاه د قهـر او غضب څخه د وېرې له امله په پټه له كمپ څخه ځانونـه وايسـتل او خپـل وطـن تـه راسـتانه شـول. پـه افغـانسـتـان كـې دوى پـه دروغـو دا آوازه خپره كړه چې شـاه پـه بد مرغۍ سره په پاني پت كې ماتې خوړلې ده او په هند كې لـه زيـاتو مصـايبو سره مخامخ دى. شاه پـه ډيلي كـې لـه دغـې الـه گـولې څخـه خبر شـو او خپـل نامتو جنرال عبيد الله خان ته چې په شاه پسند خـان ملقب و، امر وكړ چې د عبـد الخالق خـان او دده د جـرم د شـريكانو د الـه گـولې د شـنډولو لپـاره افغانستان ته لاړ شي.

لـه ټولـو څخـه ړومبى شـاه ده تـه دا دستور وركړ چې ژر كنـدهار تـه حركت وكړي او لـه گرشـك څخـه د عبـد الخالق تـر رارسېدو دمخـه پـه هـره ممكنـه وسيله چې كېدلى شي دغه ځاى ته ځان ورسوي.

شاه پسند خان د خپلې ټولې عجلې سره سره بیا هم ونه کولی شول چې دمخه کندهار ته ځان ورسوي او دغه ښار د الـه ګولـه کونکو پـه لاس کې لـه لوېدو څخه وژغوري. په دغه وخت کې عبدالخالق خان پایتخت ونیو او د شاه مشر زوی میرزا سلیمان یې چې د خپل پلار په غیاب کې یې د دغه ځای اداره کوله، وشاړه د دلاور خان او ذال بیګ خان د غلطو اوازو د خپرېدو لـه امله له یاغیانو سره یو شمېر نور سرداران هم یو ځای شول. خو کله چې دوی حقیقت درک کړ او هغه وخت چې د شاه پسند خان په مشرۍ بریالی افغـاني پوځ را ورسېد ، دغه سرداران د خپلې ناپوهۍ او غولېدو له امله ډېر زیات خواشیني شـول. د دغـه غولېـدنې او تېـر وتنـې د عـلاج او د شـاه د عفـو د حاصلولو یـوازنۍ لاره داوه چې دوی د اصلي محرکینو او یاغیـانو یعنـې دلاور خان او ذال بیګ خان څخه ځانونه جلا او شاه پسند خـان تـه ځانونـه تسلیم کړي. له یو لږ شمېر پرته نور ټول سرداران پـه بیـړه د شـاه پسـند خـان کمپ ته لاړل چې د پاني پت اتلانـو تـه ښـه راغلاست ووایي او د یاغیـانو د مشر عبدالخالق په ګډون د کندهار ښار هغه ته وسپاري.

کله چې شاه له ډیلي څخه د ستنېدو پر وخت پـه پېښـور کـې، د خپـل جنـرال پیغام وړونکی ورته راورسېد ل او دی یې د خپل جنرال (شاه پسـند خـان ) لـه بریالیتوب څخـه پـه کنـدهار کـې خبـر کـړ څرنګـه چـې شـاه وغوښـتل چـې د سلطنت مخالف او خیانت کوونکي سرداران په هره ممکنه وسیله نیسـي او تر تېغه یې تېر کړي. سلیمان دیوه چل له مخې د دوستۍ یو لیـک ذال بیـګ ته ولېږه او هغه یې په دې ډاډ چې ګسواکې دده تېر عمل ښنـل شوی کنـدهار ته راوغوښت. ذال بیګ پـه لومه کې راغی او حتی د کندهار ښار ته لاننو تلی

نه و چې د شهزاده په امر ونيول شو او تر تېغه يې تېر کړ. دلاور خان يو چالاک او هوښيار سړی معلومېده او په پټه هرات ته وتښتېد او د هرات د والي شهزاده تيمورشاه تر حمايت لاندې راغی. د تيمور او سليمان تر منځ مينه نه وه او په دې سبب تيمور په نسبتاً خوشحالۍ سره د هغه هرکلی وکړ او د هغه ساتنه يې تضمين کړه. دغه راز ده ته يې هر راز اعزاز او اکرام په پام کې ونيو([1]).

دا د افغانانو ملي کرکتر او صفت دی چې دوی د هغه چا ساتنه کوي چې پناه ورته وروړي (حتی د دښمن هم.م)

## د نوي کندهار د تاداو ايښودل:

له څه وخت راهيسې احمد شاه د کندهار د ښار د نوي جوړولو او ودانولو په فکر کې و. شاه نهايت يو وطن پرست سړی و، د نادرآبا د هغه ښار چې پارسي فاتح نادرشاه په ۱۷۳۸ کې ودان کړی و، د افغانانو لپاره يو د ننګ لوی داغ و او دغه ښار دوی ته د پارسيانو په لاس کې د هغه تسليمي او تحقير ښېښي ښېښاني ورپه يادولې چې دوی کلونه کلونه په هغوی (پارسيانو) باندې د فاتح په توګه حکومت کړی و ددې لپاره چې شاه عملاً له دغه شرمسارۍ ځخه ځان خلاص کړي او خپل پلان ته عملي بڼه ور وبښي نو يې وغوښتل چې د ګنډاو له کلي سره نږدې د ښار په ختيځ کې يوه ويالـه د دښتې خواته وکيندي او دا په دې فکر چې ددغې ويالې په لويديځه غاړه

---

۱ -فيرير د افغانانو تاريخ ۹۱-۸۹

نوی ښار را پورته او ودان کړي. څرنګه چې دا مځکې په الکوزي غني خان پورې تړلې وې او د هغه افرادو نه غوښتل چې هغه خوشې کړي، نو شاه دا مفکوره شاته واچوله. په عین حال کې دده مور هم مړه شوه چې په قام الکوزۍ وه. شاه هغه د الکوزیو په مځکو کې خښه کړه او یوه روضه یې پرې ودانه کړه.

د دغې روضې په شا و خوا کې ژر یو کلی ودان شو چې د روضې په نوم یادېږي.

وروسته ده د ښار لوید یځ لورته پاملرنه وکړه او پیشنهاد یې وکړ چې د مرو له کلي سره نږدې یوه چونۍ جوړه کړي. په دې برخه کې بیا بارکزیو موافقه ونه کړه.

شاه په زور سره په دغه برخه کې خپل مرام نه تر سره کاوه. دی د یو بل ځای په لټه کې و چې پوپلزایان په ګډه دده خدمت ته حاضر شول او خپلې مځکې یې دده په واک کې ورکړې او ورته یې وویل:(( شاه زموږ په مځکو کې هر یوه برخه چې ټوټه مځکه د پوپلزیو په مځکو کې چې د وولس قلبي پراخه وه خوښه کړه او د(( احمد شاهي کندهار )) په نوم یې دیوه نوي ښار تادا او پکې کېښود. دغه راز دغه ښار د اشرف البلاد په نامه هم ونومول شول.

ده د ټولو قبیلو خلک دې ته راوبلل چې دلته کورونه ودان کړي.

پداسې حال کې د ښار د راتلونکي توسعې لپاره یې زیاته ساحه خالي پرېښوده. ده امر وکړ چې ددغه ښار تر شاوخوا دېوال را تاو کړي. دغه کار په تېره بیا د برجونو جوړول یې هندي ماهرانو ته وسپارل. کله چې د

بازوګانو تاداوونه پیل شول، نو معمار باشي د څه وخت لپاره په دغه کار باندې شکمن بریښېده او کار ټال وخوړ. شاه له هغه وغوښتل چې د بازوګانو او برجونو په کار باندې بیړه وکړي. خو معمار باشي د شاه د هیلې پر خلاف ناڅاپه په کندهار کې غیب او د نیشاپور خواته وتښتېد. دا کار بیا یو بل انجنیر ته وسپارل شو. دنویو کسانو له خوا د هغه کار شپېږ میاشتې وروسته شروع کړ شو. سملاسي مخکینی انجنیر بیا کندهار ته راغی او شاه ته یې عرض وکړ چې دی ددې لپاره له خپل کار څخه غیب شو چې کافي وخت پیدا کړي چې په سمه توګه د تاداوونو د پیل لپاره سنجش وکړي او دا وخت اوس را رسېدلی دی چې د هغوی کار پیل کړو. په لازم وخت کې برجونه او ګنبدې پورته شول او شاه د خپل نوي ښار د کار ډېر پرمختګ په کتلو سره ډېر خوشحاله شو.

کله چې دفاعي دېوال او د هغه سنګرونه (مورچلونه) او دوولس برجونه او دشاوخوا خندق تکمیل شول شاه په دغه مناسبت شیخانو، سیدانو او د هېواد نورو پوهو او متبرکو کسانو ته خیراتونه او سوغاتونه ورکړل او له دوی څخه یې د دوعا کولو هیله وکړه(۲).

((کندهار د ارګند (ارغنداب.م) او ترنک د رودونو په منځ په یوه هواره ځمکه کې پروت دی چې په کروندو پټ شوی دی، شمال لویدیځ خواته یې

---

۲ -تاریخ سلطانی، ۱۴۴-۱۴۲ ، سراج التواریخ، لومړی ټوک، ۲۶-۲۵، تاریخ حسینی، ۲۶ اوورپسی تاریخ احمد، ۱۹، دا موضوع په هند باندې د دریم برید څخه وروسته یا دوی. زه د افغانی لیکوالو د نظر پیروي یم او هغوی باید د پېښو په تسلسل کې باوری وی. سراج التواریخ په ښکاره توګه د نوی ښار د تاداو ایښودلو نېټه، ۱۱۷۴ هـ کال ګڼی چې د ۱۷۶۱ کال د اګست په لومړی نېټه پای ته رسیږی.
شاه ۱۷۶۱ کال په می کې له لاهور څخه روان شو. په دېاساس ښایې د احمدشاهی کندهار، اشرف البلاد تاسیس به په سمه توګه د ۱۷۶۱ د جون او جولای ترمینځ وی.

يو ټيټ غردی چې ارتفاع يې زرو فوټو ته رسيږي. ښار يو غير منظم متوازي الاضلاع دی چې د درېو ميلو د محيط په لرلو سره له شمال څخه سويل ته يو زرو شپږ ياردو اوږدوالی لري). خندق يې څليرو شت فوټه سورور او لس فوټه ژور دی. د دېوال سور يې په تل کې شل نيم فوټه او په سر کې څوارلس نيم فوټه دی او ټول جګوالی يې اوه ويشته فوټه دی. د دېوال ختمه دلمر په وسيله له پخې شوې ختې څخه جوړه ده. (( څلور اصلي دروازې لري چې له هغو څخه اصلي واټونه تېرېږي او دوه فرعي دروازې لري. د بر دراني او کابل دروازه يې ختيځې خوا ، شکار پور يې د سويلي خوا د هرات او توپخانې دروازه يې د لويديځې خوا او د عيد ګاه دروازه يې شمال خواته وه. د بر دراني او توپخانه فرعي دروازې دي.

دغه دروازې د شپږو غبرګو مورچلونو په وسيله مدافعه کېدلې او کونجونه يې د څلورو دايروي برجونو په وسيله ساتل کېدل. د مورچلونو ترمنځ د دېوالونو څلور پنځوس واړه مورچلونه در لودل چې د څنډو په امتداد خواره شوي و. د هرات له دروازې څخه د ښار تر منځ د کابل تر دروازې يو واټ غزېدلی و. بل يې له شکارپور سره پيل کېده او مخکنی واټ يې د مرکز به برخه د ښې خوا کونجونو سره نږدې قطع کاوه او دهغې د ماښې خواته غزول شوی و )). چې د ښار په شمال کې پرته وه([3]).

---

۳ –ها ملتن افغانستان ۱۹.

# یوویشتم فصل

# په هند باندې شپږم برید

# چالو چهارا او له ده وروسته

# (۱۷۶۲)

سکانو خواجه میرزا جان ته ماتې ورکړه او هغه یې وواژه:

هغه ترتیبات او تنظیم چې شاه د ۱۷۶۱ کال په مې کې افغانستان ته د ستنېدو پر وخت د پنجاب د ادارې لپاره نیولی و، ټول د سکانو له خوا ګډوډ شول. دوی تر اندوس پورې په ده پسې لټه وکړه. د ستنېدو پر وخت خواجه میرزا جان چې دا وخت یې د چهار محل یا څلور ناحیو اداره په لاس کې اخیستې وه، له هغوی (سکانو) سره مخالفت وکړ، خو خواجه په دغه منازعه کې ماتې وموندله او ووژل شو او دده پوځونه د تباهۍ سره مخامخ شول.

## د نورالدین با میرزایي ناکام عملیات:

کله چې شاه کندهار ته راورسېد ، نو د خپل جنرال نورالدین بامیرزایي په مشرۍ یوه اعزامي قوه پنجاب ته واستوله. نوموړي جنرال بهیمرا میاني او چاک سانو په ۱۷۵۹- کال کې ولو ټل. او دا ځایونه یې وسوځل. له چناب څخه تر تېرېدو وروسته د ((سردار چهارټ سنګهـ سوکار چاکیا )) سره مخامخ شو. نوموړي سردار په ګوجران والا کې خپل خان قدرت ته رسولی و. نورالدین ماتې وخوړه او سیالکوټ ته یې تېښته وکړه او په دغه ځای کې پناهنده شو. د سوکار چاکیا سردار سیالکوټ کلابند کړ. نورالدین دوولس زره تنه لښکر درلود خو څرنګه چې شاو خوا سیمه ټوله د سکانو په لاس کې وه، نو ده خپلو افرادو او آسانو ته خوراک پیدا نه کړای شو او له ستونزې او خوارۍ سره مخامخ شو ، ده خپل افراد د تقدیر کارو ته پرېښودل او د شپې په تیاره کې له سیالکوټ څخه وتښتېد. افغاني پوځ سکانو ته تسلیم شو ، خو سکانو په سوله سره هغوی ته د تګ او تللو اجازه ورکړه. سردار چهارت سنګهـ ورپسې په ګجران والا کې خپل مرکز ته ستون شو([2]).

## سکانو خواجه عبید خان ته ماتې ورکړه:

۱- طهماسنامه، ۱۰۸ب

۲ -عمده التواریخ، دویم ټوک، ۷-۶، پانت پراکاش، ۷۶۲، کانهیا لال، تاریخ پنجاب، ۸۴، مخزن پنجاب، ۴۱۷.

خواجه عبید خان د دراني سردار له ناکامۍ څخه د خبرېدو سره سم یوه لویه قوه برابره او دلاهور څخه د سکانو د ټکولو په غرض راووت. دلاهور دغه حکمران په ایمین آباد کې څو ورځې دمه وکړه او ورپسې یې په گجران والا(د چهارت سنگهه مرکز) باندې ورودانگل، د سکانو زیات شمېر سردارانو لکه جسا سنگهه ، اهلو والیا ، هری سنگهه بانگی، جی سنگهه کانهیا ، لانا سنگهه ، سوها سنگهه ت او گوجر سنگهه د خپل بادار (چهارت سنگهه) د مرستې لپاره په گډه توگه ورودانگل او په کلا بند کوونکو (د خواجه پوځیانو ) باندې یې شبخون او یرغل وکړ. د خواجه په پوځ کې شامل سکان هم د خپلو وطندارانو او هم کېشانو سره یو ځای شول او د خواجه مخالفت یې وکړ. پدغسې حالت کې خواجه د لاهور خوا ته وتښتېد او خپل ټول اسباب او توپخانه ترې پاتې شول. د خواجه ټوپکونو او توپونو او دده لوازمو سردار چهارت سنگهه او دده ملگرو ته قوت وبانښه. په دې سبب هغوی په سیمه کې هرې خوا ته خواره شول او خپل قدرت ته یې پراختیا ورکړه. (۳).

## جسا سنگهه اهلو والیا خپل ځان د لاهور پاچا اعلان کړ:

۳ –طهماسنامه ،۱۰۸ب –۱۰۹الف، عمده التواریخ، لومړی ټوک، ۱۵۴، دویم ټوک، ۸–۷، عبرت نامه، ۲۶۶–۲۶۴. خوش وقت رای، ۸۰–۷۷، ۱۸۹–۱۸۸، احمد –شاه، تاریخ هند، ۳۴۱–۳۴۰ (۸۹۱–۸۹۰)، بوتی شاه، تاریخ پنجاب،ب ه، رتهان سنگهه ، پراچین پانت پراکاش، ۴۹۴–۹۶ ، جیان سنگهه ، پانت پراکاش، ۷۶۲، کانهیا لال تاریخ پنجاب، ۸۴.

سکانو د سردار جسا سنگهـ اهلو واليا په مشرۍ ددغو بريو څخه د زړور کېدو له امله خپله فتحه د لاهور تر دېوالو پورې وړاندې بوتله او ددغه ښار د ښاريانو په مرسته چې د دوی په مخ يې د ښار دروازې خلاصې کړې، په برياليتوب سره لاهور تـه ننوتـل. دوی پرتـه لـه بشـپړ کنټرول څخـه (ځکـه خواجه عبيد الله هم چونۍ په لاس کې درلوده ) سردار جسا سنگهـ د لاهور د پاچا په توگه اعلان او هغه يې سلطان القوم وباله. دوی په لاهور کې د خواجه عبيد الله د چونۍ د ځارلو لپاره يو کنډک پرېښود او ورپسې د جلندر دواب خوا ته وړاندې شول او ددغه ځای ((پوځدارانو ) ) سعادت خان او صديق خان افريدي ته ماتې ورکړه، په داسې حال کې چې د دوی دواړو مشر راجا گوماند- چند کناچ د سکانو په را نږدې کېدو سره د غرونو لورته په پټه پناه يووړه. په دې ډول پنجاب له اندس څخه تر ستلج پورې د سکانو لاس ته ورغی، يوازې هلته او دلته يو لږ شمېر سر کسان د افغانستان شاه ته وفادار پاتې وو([۴]).

## د سکانو له خوا د جنديالا کلا بندي:

سکانو د ۱۷۶۱ کال د اکتوبر په اوه ويشتمه نېټه په امرتسر کې د دېوالي په نامه خپله نامتو موسمي مذهبي مېله ونمانځله.

دلته د سکانو په (( ساريت خالصه ) ) ياد سکانو په عمومي غونډه کې يوه ملي پرېکړه د (گورماتا ) په نامه وشوه چې د شاه د طرفدارو متحدينو او

۴ –جيان سنگهـ، پانت پراکاس،۱۱۱–۸۰۹،طهماسنامه، ۱۰۹ الف–ب، خزانه اميرا، ۱۱۴

ملاتړو کلاوې او چونې ونیسي، ځکه د دغو کسانو وجود د بهرنیو تیري کوونکو لـه لاسه د سیمې خلاصول یو مانع ګڼل کېده. یو نړدې مخالف د سکانو د نیرانجاني د مخالفې مذهبي فرقې ((ګورو)) اکېل داس و چې څه نا څه د امرتسر په ختیځه دوولس میلي کې یې په جندیالا کې اوسېده (۵).

سردار جسا سنګهـ اهلـو والیـا او جسا سنګهـ را مګارهیـا دا پرېکـړه ((خالصـه)) تـه (چې سکانو خپل ځانونـه بلـل) دده تسلیمي پـه عنـوان وسپارله. اکېل داس سملاسي شاه ته پیغام ولېږه او یو چټک اوښ سپور یې د هغه مرستې د تر لاسه کولو لپاره واستاوه (۶).

# کلابندي خلاصه شوه:

پدغه وخت کې شاه د سکانو د فعالیتونو څخه خبر شو او د خپلو افسرانو د ژغورلو لپاره د پنجاب خواته روان شو. روتاس ته په رسېدو سره ده پیغام وړونکی حضور ته ومانه، دغه راز د اکېل داس یو بل لیک ورتـه راغـی چې پـه هغـه کې لـه شاه څخـه غوښتل شوي و چې دده (اکېل داس) د ژغـورنې لپـاره چټک شي. شـاه پـه روتـاس کې څو انتخـابي سواره لـه ځان سره واخیستل او دجندیالا ګاونډ ته یې ځان ورساوه. دده تر شا دده قوم هم ژر راورسېد.د شاه د نابېره برید له امله سکانو له کلابندۍ څخه لاس واخیست او پټ شول.

---

۵ –خوش‌وقت‌رای، ۷۸، علی‌الدین، عبرتنامه، ۲۶۷–۲۶۶.

۶ –علی‌الدین‌عبرتنامه ۲۶۷–۲۶۶، د امرتسر د سیمی گزیتر، ۱۶۵، کانهیا لال، تاریخ پنجاب ۸۵.

د شاه د راتلو د آوازې په خپرېدو سره جسا سنگهـ اهلو واليا کلابند کوونکو ته ويلي وو چې شاه غواړي په هغوی باندې يرغل او شبخون وکړي. اکېل داس پدې خيال و چې د سکانو له خوا د کلابندۍ پرېښودل به يو جال وي يعنې دوی به يوازې دا غواړي چې دفاع کوونکې په دې توگه وغولوي او هغوی به د خپل ځان د ځارنې ځخه واړوي او هغه وخت به بيا کلا بندۍ ته راستانه شي چې ځارنه او مراقبت سستوالی وکړي او د ښارگوټي دروازې خلاصې پرېښودل شي.

پر دې اساس ده ځارندويان د دوی د ځای د معلومولو لپاره واستول خو سکان له بيس ځخه اوښتي وو او په شاو خوا کې يې نښې نښانې نه معلومېدلې. سره له دې هم ځارندويانو اکېل داس ته خبر ورکړ چې دوی له جنداليا ځخه ځلور ميله وړاندې يو داسې سړی وليد چې د لونگۍ د پاسه يې ځلور جواهرات ټومبلي وو او د يوه ستر سايه وان لاندې ناست و او دده په مخ کې دوولس تنه پلنه ييز والا د رسم تعظيم په توگه ولاړ وو.

اکېل داس دا تصور وکړ چې نوموړی به شاه وي نو له دې امله په بيړه د شاه د درناوي او احترام لپاره لاړ. له معمولي روغبړ او ستړي مه شي وروسته اکېل داس شاه ته وويل چې دی د نوي زره سورو سکانو له خوا کلابند و او د اعليحضرت د راتگ د خبر په اورېدو سره دوی له جنداليا ځخه ولاړل. د مازيگر په محال شاه ولي خان هم د شاه کمپ ته راغی او نږدې درې زره

سپاهیان له ده سره یو ځای شول. شاه د اطلاعاتو د راغونډولو لپاره هر کاره (جاسوسان) واستول او لاهور ته راوګرځېد (۷).

سکانو د جندالیا کلابندي پرېښودله او په څو دلیلو سره د ستلج پورې خوا ته لاړل. دوی د شاه د راتګ په اورېدو سره خپلې کورنۍ د دوستانو او ملګرو په ګډون خوندي ځایو ته ولیږلې دا ځایونه یا د لاخي ځنګل په لور په سویل لویدیځه خوا کې د برار سکانو د سیمو په خوا کې وو او یا د سویل لورته د راییپور او ګوجروال په برخو کې پراته وو. دوی ته دا معلومه وه چې په څه ډول په ۱۷۵۷ کې متورا او برندابان او په ۱۷۲۱ کې پاني پت او د هغه شاو خوا د شاه د لښکر له خوا لوټ او ویجاړ شول او څومره ماشومان او ښځې یرغمل ونیول شوې او د مریانو په توګه له ځان سره یووړل شول. نو ځکه دوی نه غوښتل چې د ماتې په صورت کې همداسې کار پرې وشي. دوی کولی شول بې له دې چې مخامخ جګړه وکړي او د هغې بار او احتیاط په غاړه واخلي په تیت او پرک او غلچکیو جګړو سره د دښمن په شا او اړخه باندې نابېره برید وکړي او د شاه د لاس بري په صورت کې وتښتي او بیا کله چې د برید امکان او موقع راشي خپل یرغل له سره ونیسي، دریم دا چې دوی مجبور شي چې د سردار دیال سنګ برار د مرګ غچ واخلي. نوموړی سردار د سرهند د والي زین خان له خوا ووژل شو. د

---

۷ –علي الدین،عبرتنامه، ۲۶۸-۲۶۷، حسین شاهی، ۶۳-۶۱، عمده التواریخ، لومړی ټوک، ۱۵۷-۱۵۶، تاریخ سلطاني، ۱۴۵، جیان سنګهـ، پانت پراکاش، ۸۱۲. دا چې اکېل داس د کلابند کوونکې سکانو شمیر نوی زره ته ښودلی، ډېره مبالغه ښکاري. کانهیالال، (د پنجاب تاریخ، ۸۵-۸۴) وایې چې اکېل داس مسلمانانو یو لوی دوست او ملګری وا او کله چې شاه د ډیلي په عملیاتو کې و، ده هغه ته زیاته اندازه پیسې په پور ورکړې. دحسین شاهي مولف وایې چې د سکانو د زیات فشار له امله د اکېل داس پیروانو د چوڼې له دیوالو څخه د غوایه پښې را ځوړند کړې –و ګوري یو شپیتم مخ.

راجپور او گوجروال په سویلي کلیو کې چې له مالر کوټلا څخه د شپږو او لسو میلو په واټن موقعیت لري، د سکانو د راغونډېدو څخه د دغې سیمې د افغاني مشر بیگان خان د خبرېدو له امله نوموړی مشر، زین خان مرسته وغوښتله او شاه یې دهغوی له موجودیت څخه خبر کړ او کلابند له منځه یووړل شي ([8]).

## شاه د سکانو پرخلاف ور وخوځېد:

د دغه نېک خبر په اورېدو سره شاه د ۱۷۶۲ کال د فبروري په دریمه نېټه له لاهور څخه روان شو او په جندالیا او تالوان کې لاندې خواته په بیړه ولاړ. د فبروري په څلورمه شاه په بیړه چټک دراني پیغام وړونکی د زین خان د خبرېدو لپاره ولېږل چې نوموړی د سکانو په لیکو او اړخونو ناڅاپه برید وکړي او دغه راز زین خان بله ورځ بیا د خپلو ټولو لښکرو سره سکان د مخ له لوري تر برید لاندې راولي. د شاه د دغو اوامرو په رارسېدو سره زین خان بیگان خان (د مالر کوټلا)، مرتضی خان برایچ، قاسم خان ـ مرهال، دیوان لاچمی نارایان او نورو افسرانو دلې ورځې چپاو لپاره تیاری ونیو([9]).

---

۸ –جیان سنگه، پانت پراکاش ۱۶-۸۱۵، رتان سنگه پراچین پانت پراکاش، ۴۴۴.

۹ –طهماس نامه، ۱۱الف،ب، رتان سنگه، پراچین پانت پراکاش ۴۴۴، جیان سنگه، پانت پارکاش، ۸۱۵.

د ۱۱۷۵ هـ د رجب په لسمه (د ۱۷۶۲ کال د فبروری، څلورمه) شاه ولی خان په داسې حال کې چې د جیپور ساوای ما دو سنگهـ دوکېل راجا هرساهای د لیک د رارسیدو ډاډ یې هغه ته ورکاوه، ولیکل: (( ددغی خاوری له مخ څخه د پرکاله سکانو له لیری کولو وروسته به شاه سرهند او د هغه په شاوخوا کې د سپورتی چکر لپاره ولاړ شی. تاسو به کلک ثبات او کامل ډاډ سره په خپلی سیمه کې د انکشافاتو په باب موږ ته پرله پسی ولیکې)). په ځواب کې هرساوای څه وخت وروسته شاه ته ولیکل چې د دوستۍ او وفاداری په عنوان به دی له خپل لوری څخه بهیم سنگهـ راتور د افغانی پاچا حضور ته ولیږی او دهغه په وسیله به خپل احترامات هغه ته ولیږی او د شاه اوامر به له ځان سره ده ته راوړی. مراسلات احمد شاه درانی، شپږ – دیرشمه، نهه ـ دیرشمه گڼه.

## د عامه وژنې ورځ:

د **۱۱۷۵** هـ کال د رجب په یوولسمه فبروری، **۱۷۶۲** نېټه سهار وختي زین خان له خپلو لښکرو سره وخوځېد او قاسم خان یې د یرغمل د رهنمایۍ لپاره ولېږه. سکان نابېره تر برید لاندې راغلل. ددوی شمېر د برش زره وو چې په هغو کې یې زیات شمېر ښځې او ماشومان او غیر محارب ملاتړ کوونکي او پیروان شامل وو او د کمپ یا ((بار برداری)) لوازم هم د هغو په اوږه یو سرباری پېټي و. جګړه د قاسم خان له لوري د سکانو په ((بهیر)) یاد کمپ په غیر محارب پیروانو باندې د یرغمل له امله د کپ له کلي سره نږدې پېښه شوه چې د مالرو کوټلا له شمالي شپږ میلۍ سره نږدې پروت دی. سکان ډېر ژر سره راغونډ او په جګړه یې لاس پورې کړ. د لمر په را ختلو سره شاه په ډګر کې را ښکاره شو. د شاه پیغام وړونکي زین خان ته خبر ورکړ چې ده د برید د رهبرۍ لپاره ازبیکي کنډک لېږلی او هغوی ته یې امر کړی چې هر څوک په هندي کالیو کې وګوري هغه ووژني او په دې سبب د زین خان افراد باید د خپلو سرونو د پاسه شنې پاڼې یا واښه وتړي چې له سکانو څخه یې توپیر وشي (۱۰).

کله چې د سکانو سرداران پوه شول چې ددوی په ((بهیر)) ((کاروان.م)) باندې برید شوی، نو دهغه د ژغورنې لپاره یې ودانګل. قاسم خان له دوی سره مقابله و نه کولی شوه او وتښتېد او له خپلو ټولو افرادو سره د مالر کوټلا لورته غیب شو. ورپسې طهماس خان له مرتضی خان برایچ سره چې

۱۰ -خزانه امیرا، ۱۱۴، جیان سنګهـ، پانت پراکاش، ۱۶-۸۱۵، حسین شاهی، **۶۵**.

په یوه جګ ځای باندې له خپلو پنځو سوو تنو سره ولاړو یو ځای شو. په دغه وخت کې د احمد شاه پوځونه راغلل او د هغو شاو خوا یې په دې فکر چې دوی د سکانو دوستان دي ونیوله. طهماس خان چې یوه خولۍ یې پر سر وه، افغانانو ته ولاړ او دوی ته یې دا خبر ورکړ چې دوی د زین خان افراد دي. په دغه وخت کې شاه مرتضی خان ته یو (شال) یې د خلعت په توګه ورکړ او هغه ته یې وویل چې له شاه ولي خان او زین سره چې غوښتل یې له خپلو اتو زرو سورو سره په سکانو برید وکړي یو ځای شئ.

سکانو په دې حالت کې یوه جرګه وکړه او دا تصمیم یې ونیو چې خپل ((بهیر)) د مالوا له سردارانو سره واستوي. د کېتهال بهایس د سانګو سنګهـ د وکیل په توګه، سیکو سنګهـ همبل والا د پټیالې د سردار الاسنګهـ د استازي په حیث او د بهای بودا سنګهـ استازی دې ته را وبلل شول چې خوندي ځایو ته د بهیر رهنمایي په غاړه واخلي. خو هغوی په ډېره سختۍ سره وکولی شول درې میله لاړ شي خو ناڅاپه شاه ولي خان، زین خان، او بیکان خان وربان‌دې برید وکړي. خو دوی ونه کولی شول سکان تیت و پرک کړي. سکانو د بهیر د شاو خوا د سربازانو کتارونه ودرول او د جګړې په حال کې داسې وړاندې تلل چې په تګ یې هم جنګ کاوه کله کله به دوی په مها جمینو باندې داسې راتوی شول چې هغوی ته به یې ډېر تلفات ور واړول. کله چې د سکانو په کتار کې څه درز رانه وستل شو، نو شاه د سردار جانخان په مشرۍ زیات پوځ هغه خوا ته ولېږه. جهان خان هم څه ونه کولی شول، یوازې یې د دوی په لیکو کې څه وېره وغورځوله. نور زیات افغانان هم د دوی د دفاعي کرښې د ماتولو لپاره ولېږل شول، خو

ځرنګه چې سکان ډېر سخت وو د خپلو مورچلو ساتنه يې وکړه او خپل حالت ته يې ادامه ورکړه.

سردار جسا سنګهـ اهلو واليا او چهارت سنګهـ سو کارچاکيا د با تجربه سپاهيانو په توګه خپل آسونه له يو ځای څخه بل ځای ته په متروکو الوزول او د بهير لارښوونه يې کوله او هم اصلي پوځ يې چې د بهير حمايت يې کاوه، رهبري کاوه. ځرنګه چې له يوې منظمې جګړې پرته په سکانو ټکوو-نکې ګوزار کېدلی نه شو، نو شاه زين خان او لاچين نارايان ته پيغام ولېږه او هغوی يې په دې ګرم کړل چې ويې نه شول کولی د سکانو د مخ لوری راتم کړي شاه وويل: (( که چېرې تاسو ددې مخ راوګرځوئ او تم يې کړئ زه به دوی په يوه رپ کې نابود کړم. )) زين خان داسې ځواب ورکړ: (( دا ناممکنه ده چې دوی د مخ په برخه کې راتم کړو )). په دې ډول سکان د جګړې په حال کې د ګاهال کلي ته راوسېدل، خو دوی دلته کوم خوندي ځای پيدا نه کړ. د شاه د غچ اخيستلو له وېرې څخه کليوالو خپلې دروازې وتړلې او دوی ته يې ځای ورنه کړ. سکان په دې سبب مجبور وو چې تګ ته دوام ورکړي. له غرمې وروسته د قطبه او بهماني کليو ته راورسېدل او په دغو کليو کې يې په زور پناه وغوښتله. خو دغه کلی د مالرکوټلا په کلکو او دښمنو افغانانو پورې اړه لرله. ددوی د مشر په لارښوونه درانګهر کليوال له هر لوري له سکانو څخه راتاو شول او هغوی د لوټ او وژنې لاندې ونيول. کليوالو د ډهلونو په وهلو سره د باندې په پاتې بهير باندې يرغل وکړ. سر-دار چهارت سنګهـ د هغوی د ژغورنې لپاره وروداننګل او رانګهريان يې په ځټ ووهل. خو په دغه وخت کې د سکانو کتار او ځنځيري ليکه په څو ځايو کې

وشلېدله او افغانانو او ددوی هندي متحدینو په بري سره په دوی وژونکي گوزارونه وکړل، په تېره بیا په غیر محارب پیروانو، ښځو او کوچنیانو کې تلفات زیات وو او هغوی نږدې ټول تباه شول. ددې سره سره سکان د تعقیب کوونکو پرله پسې بریدونو ته په مېړانه ودریدل. دغه راز دوی د دښمنو کلیوالو په مقابل کې مقاومت وکړ چې د دوی چار چاپېره په ټولو خواوو کې راغونډ شوي وو. دوی په سخت ثبات او زغم سره د جگړې په ډگر کې مقاومت وکړ او له تېښتې او تیت و پرک کېدو څخه یې ډډه وکړه او بهاندې جگړې ته یې دوام ورکړ.

له قطبه او بهانې سره نږدې د اوبو یو ډنډ و، افغانانو او سکانو دواړو دغې خوا ته د تندې د ماتولو لپاره ځپاور راوړ. د لنډې مودې لپاره جگړه تم شوه، خو هغه بیا په هماغه شدت له سره ونه نیول شوه. د ماښام په شاوخوا کې شاه مجبور و چې بار نالا په گاونډ کې دمه وکړي. تعقیب کول نور وړاندې نه شول، دده افراد ستومانه وو ځکه دوی په شپږ د برش ساعتونو کې یو یو سلو پنځوس میله واټن وهلی و او د سخت دښمن په مقابل کې یې په پرله پسې توگه لس ساعته جگړه کړې وه. شک نشته چې شاه سکانو ته د سر زیات زیان رسولی وو او لس زره تنه یې ورمړه کړل، خو بیا هم سکان مات شوي نه وو او ددوی روحیه وژل شوې نه وه. له بلې خوا شاه په یوه وچه دښته کې لرې تللی و او کېدلی شول چې سکان د قوې په تجدید سره په تعقیب کوونکو را وگرزي. شاه نه غوښتل چې غیر لازمي تلفات او تاوانونه ووینې.

د سکانو دواړه جمعیت لپاره په یو ورځ کې دلس زرو تنو وژل کېدل چې زیاتره یې ښځې، ماشومان او سپین ږیري وو، دومره زیات ګڼل کېږي چې هغوی دغې جګړې ته دوا داکالو ګارا (ستري زوبلي) نوم ورکړی او هغه بېخي عام قتل و. لومړی کوچنی ژوبله د ۱۷۴۶ کال د جون په دویمه (د ۱۸۰۳ بیکرامي کال د جت دویمه) نېټه د لاهور د حکمران ذکریا خان د دېوان لخپات رای له خوا په همدغه شان سکانو ته ور په برخه شو[11].

## د برنالا لوټ او د پټیالې سردار الا سنګهـ

برنالا د سکانو د پټیالې سردار الاسنګهـ په سیمه کې موقعیت درلود. د شاه هندي متحدین د سرهند زین خان، دده دېوان لاچمي نارایان او د مالر کوټلا بیکان خان د الاسنګهـ سرسخت دښمنان وو. ددغو کسانو په لمسون شاه د برنالا په چونۍ او ښار ګوټي د برید، لوټولو او د هغه د شاو خوا د خرابولو امر وکړ. دا وخت الا سنګهـ د باواني ګر په چونۍ کې و. ناران شاه ته ډاډ ورکړ چې که دی ونیول شي دا امکان لري چې له هغه څخه به پنځوس لکه لکه روپۍ باج لاس ته راشي.

شاه لا د الا سنګهـ خوا ته تګ پیل کړی نه و چې نوموړی د هغه له راتګ څخه خبر شو او په پټه سره له ځایه وتښتېد. سره له دې هم الاسنګهـ د نجیب

---

۱۱ –طهماسنامه، ۱۱۱–۱۱۰، الف، خزانه امیر ۱۱۴، حسین شاهی، ۶۵–۶۴، رتهان سنګهـ، پراچېن پانت پراکاش ۴۵۸–۴۴۵، چیان سنګهـ، پانت پراکاش، ۸۶۷–۸۱۶، عمده التواریخ، ۱۵۷، علی الدین، ۲۶۸، بخت مال، تاریخ سکان، ۴۶، تاریخ سلطاني، ۱۴۵، تذکره خاندان پکلیان، ۱۷، کرم سنګهـ، الاسنګهـ، ۲۱۸، پلواري، ځلورم ټوک، ۹۲۷–۹۲۳، راجوید، ځلورم ټوک ۴۶۵. په دغه وخت کې د سکانو تلفات په بیلا بیلو ډولونو اټکل شوي یعنی له پنځو څخه تر دیرشو زرو ښودل شوي دي. مادر تهان سنګهـ پیروي وکړ. هغه د خپل پلار او تره په حواله چې په دغه جګړه کې حاضر و وایې چې دد پرشو زرو تنو څخه په مازدیګر کې شل زره تنه کمپ ته راستانه شول.
۴۵۷ مخ.

الدوله ملاتړ ترلاسه کړ او د هغه د منځګړتوب په سبب نوموړی سردار په سرهند کې د شاه حضور ته ورغی او شپږ لکه او پنځه د برش زره روپۍ یې تقدیم کړې، یو سلو پنځه ویشت زره د خپلې سلیقې په خاطر چې له وینبتانو سره (د سکانو یو دیني سمبول) دده په حضور کې د حاضرېدو اجازه ورته ورکړ شي. پنځه سوه زره د باج په توګه. ده ژمنه وکړه چې په راتلونکې کې یوه ټاکلې اندازه مالیه ورکړي. شاه په خوښۍ سره دا پیسې واخیستلې او دده سیمې یې خوشې کړې. سره له دې هم الا سنګهـ څو ورځې په کمپ کې نظر بند و او وروسته د شاه ولي خان په سپارښتنه خوشې شو. په سرهند کې له یو څو ورځو تم کېدو وروسته شاه د ۱۷۶۲ کال د فبروري په پنځلسمه وخوځېد او مارچ په دربمه لاهور ته راورسېد. زین خان یو ځل بیا د سرهند د والي په حیث پرېښودل شو او سعادت خان جلندر دواب ته مقرر شو (۱۲).

شاه کله چې په سرهند کې روهیله او افغاني مشران یې ځانته را وبلل له هغو څخه یو ازې نجیب الدوله دده رابلنې ته لبیک وو ایه او د اپریل تر لومړۍ اوونۍ پورې له ده سره پاتې شو. شاه د نجیب الدوله وفادارۍ څخه بې حده خوشحاله شو او په عام محضر کې یې وویل: ((دا یوازینی سړی دی چې په افغانانو کې د قدر وړ دی. ما ددغو افغانانو ډېر ملاتړ او خواخوږي

۱۲ –علی الدین، عبرتنامه، ۲۶۸، کرم سنګهـ، الا سنګهـ، ۲۲۲، طهماسنامه، ۱۱۱ب، تذکره خاندان پلکیان، ۱۷، بوتی شاه، تاریخ پنجاب، لومړی ټوک، ۶۲۷. ددغو دوو وروستیو منابعو په حواله د الا سنګهـ له خوا شاه ته د ورکړل شویو پیسو اندازه څلور لکه افغانی وه. کانهیا لال په خپل ((تاریخ پنجاب)) کې دا اندازه اووه لکه ښودلی ده.

کړې ده خو هيڅ يوه يې حتی شجاع الدوله زما لوري ته مخه راونه کړه )).
نجيب الدوله د اپريل په پنځلسمه ډيلي ته ستون شو([13]).

## امرتسر په باروتو کې والوزول شو:

دا وخت شاه سکانو ته مخ را واړاوه. ده لاهور ته د سکانو د پرېکړيو سرونو پنځوس گاډي او زيات شمېر يرغمل له ځان سره يوووړل. ده غوښتل په دغه عمل سره سکان وبيروي او هغوی اطاعت او غلي کولو ته راواړاوي. د بايسا کې د مذهبي جشن څخه يوه ورځ وړاندې ( د ۱۷۶۲ کال د اپريل لسمه ) شاه له يوې سترې قوې سره په امرتسر کې راښکاره شو او امر يې وکړ چې د هرماندير په نامه د سکانو معبد په باروتو والوزوئ، د هغه مربوط ساختمانونه او ښکلې مانۍ په خاورو ايرو بدلې کړې او مقدس حوض د بنيادمانو او غوايانو په وينو او هډوکو بېحرمته او د چټليو او د رنگ شويو ودانيو په ټوټو ډک کړې. کله چې هرماندير د باروتو په وسيله وچول شو يوه پخه خښته راوالوته او د شاه په پزه ولويده او هغه يې ټپي کړ.([14]).

## له سکانو سره روابط:

شاه د ۱۷۶۱ کال په مارچ کې افغانستان ته د تگ پر وخت خپل استازي يعقوب علي خان د مرټانو له استازي هنگنی سره په پونه کې پېشوا ته

---

۱۳ –دشعبان په لومړی اونی کې احتمالاً د ۱۳۶۲ کال د مارچ په اوومه شاه او شاه ولی خان شاه دولا خان روهيله ته ليک وليږه، مراسلات احمدشاه درانی، ۳۸-۳۷ گڼی.

۱۴ –علی الدين، عبرتنامه، ۲۷۰، عمده التواريخ، لومړی ټوک ۱۵۵، احوال نجيب الدوله، ۵۶ب- ۵۷الف، خوش وقت رای، تاريخ سکان، ۷۸، گانش داس، چهار گلشن پنجاب، ۱۷۱، فرقه سکان، ۳۹، فورستر، له بنگال څخه تر انگلند پوری سفر، ۲۷۸، گلشن رحمت، ۱۴۹، مفتی غلام سرور، تاريخ مخزن پنجاب، ۴۷۱-۱۹۸، تاريخ کاپور تالا ، ۱۸۰

ولېږه چې له هغه سره د سولې يو تړون ترتيب کړي خو د شاه له تګ وروسته يعقوب علي خان د تش په نامه وزير عمادالملک له خوا بې وسه او بې قدرته شو. وزير عمادالملک دا وخت د بهارت- پور د جټ سورج مال يو ګوډاګی او د لاس آله شمېرل کېده. د غازي الدين، سورج مال، نجيب الدوله، د ګنګاه د پورې غاړې روهيله وو، شجاع الدوله او مرهټانو تر منځ متقابل حسادت او سيالي دا وخت د هند سياسي فضا خړه پړه کړې وه او د ۱۷۶۱ کال د جون په درويشتمه نېټه د پيشوا په بالاجي راو په مرګ سره هغه نوره هم پسې ګډوډه او تياره شوه.

بالاجي راو دوم زوی، ما داوراو د اولسو کلو يو خام زلمی و چې د ۱۷۶۱ کال د جون په شلمه نېټه خپل مذهب او مقام ته ورسېد. د غه ځوان پيشوا د سويلي هند په مسالو او کشالو کې ډوب و او د شمالي هند په سياست کې يې کومه جدي ونډه وا خيستله. له بلې خوا شاه له دې سره علاقه درلوده چې له مرهټانو سره تړون وکړي او په دې وسيله خپله مستملکه په پنجاب کې بې له کوم درد سر ځخه تاسيس کړی. شاه په سکانو باندې د ګوزار کولو وروسته د مرهټانو وکيلان ((باپوجي مهاديوهنګنی)) او ((پر- شو تام هنګنی)) لاهور ته راوبلل. باپوجی د مارچ په نيمايي کې هلته راورسېد، په داسې حال کې چې پرشو تام په پونه کې د پيشوا ځخه د اجازې د تر لاسه کولو په غرض دوې مياشتې تېرې او وځنډېد کله چې خبرې پيل شوې، مرهټانو دا غوښتنه وکړه چې خبرې اترې له ساداشيو بهاو ځخه د راپاتې ټکو پربنا د برابرې په نويو شرايطو بيا پيل کړي. خو دا خبره عملي نشوه باپوجي د **۱۱۷۵** هـ. کال د ذيقعدې په دوه ويشتمه، د **۱۷۶۲** کال د جون په

ځوارلسمه په لاهور کې د شاه له کمپ څخه دادا صاحب ته خبر ورکړ چې ځرنګه چې د سادا شیوبهاو او شاه ولي خان تر منځ د خبرو اترو په باب د پاني پت له جګړې څخه وړاندې هېڅوک کوم معلومات نه لري، نو ځکه دا ډول خبرې اترې په هماغه طریقه بیا پیل کېدلی نه شي. سره له دې هم شاه ولي خان دا نه غوښتل چې د مرهټانو استازي خواشیني واستوي. د کېدار جی شندی په عنوان یو لیک (ښایي د پر شو تام له خوا به لیکل شوی و) مور ته دا جوتوي چې شاه ولي خان لخوا ((ماداوراو بالال)) په مقابل کې ښه تمایلات لرل. ددې لپاره چې د مرهټانو ښه نیت او پاملرنه وارول شي، ده (شاه ولي خان) شاه ته پیشنهاد وکړ چې د ماداوراو په مشرۍ دی د مرهټانو دولت په رسمیت وپېژندل شي. شاه په ډېرې خوښۍ سره د دغو وکیلانو یا استازیو (پرشو نام او با پوجی) له لارې نوې پیشوا ته د (راجا والی) (تکه) په زعفران کې لګول شوی مهر، قبا ګانې، جواهرات، آسونه او هاتیان د اعزاز لپاره واستول. په دغه کار سره شاه د پنجاب په مسایلو کې د مرهټانو بېطرفي تر لاسه کړه [۱۵]

## په کشمیر کې د سکجیون پر ځای نورالدین با میزی مقرر شو:

کشمیر د ۱۷۵۲ کال په مې کې د عبدالله خان اسحق آغاسي له خوا د شاه په مستملکو کې راوستل شو. خو دی له شپږو میاشتو وروسته له دغه ځای څخه افغانستان ته ستون شو او خپل یو نږدې خپلوان خواجه کېچک یې

۱۵ -راجوید، څلورم ټوک، ۴۲۵، ۳۸۲، ۳۸۴، ۴۲۳، سرکار، د مغلو د امپراتورۍ زوال، دویم ټوک، ۴۸۸، ساردیسای، د مرهټانو نوی تاریخ، دویم ټوک، ۴۴۸.

دلته د خپل نایب او سکجیون یې د ناظم په توګه پرېښودل. سکجیون لومړی خواجه کېچک بندي کړ او ورپسې یې له کشمیر څخه وشاړه. بیا دی له عمادالملک غازی الدین سره مذاکرو ته داخل شو او دهغه د منځګړیتوب له امله یې خپل ځان له عالمګیر ثاني څخه د کشمیر حکومت لاس ته راووست. سکجیون یو بشر دوست او منور حکمران معلومېده. دی په مذهبي خواکې لبرال و او په خوارا نو یې ترحم درلود. دی ده امر وکړ چې د کشمیر د مسلمانو والیانو زیارتونه او د کشمیر باغونه دې ترمیم شي او په بشپړه توګه دې د هغوی مراقبت وشي. د رسمي وظیفو د ترسه کولو وروسته به یې شخصاً په ورځ کې د دوو سوو مسلمانانو د مړولو چارې کتلې دی. په خوارانو او مسکینانو فوق العاده مهربان او سخي و او هغې ته به یې د کشمیر له ټولو ځایو څخه شاعران رابلل چې خپل شعرونه ولولي. ده دا پلان درلود چې د کشمیر د نوي تاریخ په لیکنه پیل وشي او د دغه مقصد لپاره ده د عمومي غونډې پنځه تنه لوړ شاعران انتخاب کړل او له دغو هریوه سره د مرستې په منظور لس تنه نور غوره پوهان وګومارل شول. محمد توفیق د دغو تاریخ لیکونو د تحریر هیات د رئیس په توګه او محمد علي خان متین، میرزا قلندر او محمد امین خان د دغه هیات د غړو په حیث وټاکل شول (۱۲).

خو څرنګه چې سکجیون افغاني حکمران وشاړه او د افغاني شاه قدرت یې سلب کړ او سکې او خطبه یې د مغولي امپراتور په نامه کړل، نو ځکه

---

۱۶ -خزانه امیرا، ۱۱۵-۱۱۴، ملخص التواریخ، ۴۱۴-۴۱۳، ګلاب نامه، ۷۹-۷۸۲، ګلزار کشمیر، ۲۳۳-۲۳۲، صولت افغانی، ۲۵۳، مجمع الاخبار، ۲۳۰ الف، تاریخ مظفری ۶۵۱-۶۵۰.

احمد شاه دده د بر کنارۍ امر وکړ او دهغه پر ځای یې نورالدین بامیزی وټاکه. د بامیزي په خواهش شاه ولي خان خپل زوی حاجي نواب خان جمو ته ولېږه چې دده (بامیزی) لپاره د راجا – رنجیت د یوه ملاتړ تر لاسه او هغه کشمیر ته د تگ په غرض د لازمو ترتیباتو لپاره لاهور ته راوبولي. کله چې شاه ولي خان راجا راضي ولید، نو خپل دویم زوی شیر- محمد خان یې هغه ته ولېږه چې د شاه د ښه نیت څخه دده ته اطمینان ورکړي. ((راجا رنجیت دیو)) بلاخره موافقه وکړه چې د وزیر شاه ولي خان د زوی په بدرگه لاهور ته راشي. شاه په ډېره خوښۍ سره دی حضور ته ومانه او د لومړۍ بیې افتخاري کالي یې هغه ته وبښل او له هغه څخه یې وغوښتل چې کشمیر ته د نورالدین په تگ کې له هغه سره ملگرتیا وکړي. رنجیت په علاقه سره دا پیشنهاد ومانه او خپل زوی بریج راج د یوې افغاني قواوو د رهنمایي لپاره ولېږه (۱۷).

له بلې خوا سکجیون د وړاندې راتلونکې افغاني قوې د مقابلې لپاره تیاری ونیو. دده د غرونو غاښې ورته ونیول، خو سره له دې هم درې یا څلور زره افغاني پوځیان او جمو یو شمېر دوگراسان، د توسا میدان له لارې کشمیر ته ور وخوځېدل دد ښو په ((پارگانه)) کې له چېرا- اودار سره جگړه ونښتله، خو د سکجیون افرادو کوم کلک مقاومت ونه کړ. دده یو خپلوان چې دده د قوې رهبري یې کوله د جگړې له میدان څخه وتښتېد، کله چې سکجیون خپل ځان بیچاری ولید، نو ده هم تېښتې ته مخه کړه او د یوه ژرند گړي په لاس کې ولوېد او نورالدین، ته یوووړل شو. بامیزي دده

۱۷ –علی الدین، عبرتنامه، ۲۶۹–۲۶۸، سیر المتاخرین، ۹۲۰، راجوید، شپېړم توک، ۳۸۴.

سترګې و کښلې او شاه ته يې ولېږه او شاه د هغه د اعدام حکم صادر کړ. شاه د راجا- رنجيت ديو د خدمتو د پاداش لپاره هر کال هغه ته له کشمير څخه د شپږو زرو خرو په بار وريجې لېږلې او نورالدين د ناوې (کشمير) په حکومت قايم مقام کړل شو.[۱۸].

## سکانو زين خان ته ماتې ورکړه:

د فبرورۍ د پنځمې نېټې عام قتل په سکانو باندې کومه ژوره اغېزه ونه کړه، د درېو مياشتو په موده کې دوی يو ځل بيا کله چې شاه لا په لاهور کې و، د سرهند د زين خان په مقابل کې وسله وال پاڅون وکړ او هغه ته يې ماتې ورکړه( بيساک، شاکا ۱۲۸۴، اپريل- می، ۱۳۲۲) د زين خان په نابېره توګه تر يرغل لاندې راتللو او ماتې هغه دې ته راضي کړ چې سکانو ته د پنځوس زرو روپيو برابر ستر باج ورکړي او له دوی سره سوله ومومي. خو دوی له سرهند څخه (لس يا دوولس کوسه( داوړدوالي يوه پيمانه.م) ليرې تللی نه وو چې دديوان لاچمي په لمسون زين خان بيا ددوی په څټ ليکه باندې بريد وکړ او د دوی اسباب يې لوټ کړ. په دغه وخت کې د سکانو اصلي لښکر بيا راوګرځېد او په زين خان او دده په ديوان باندې يې بريد وکړ او هغوی يې له سرهند څخه د پنځلسو کوسو په واټن په هرناګر کې يوه

۱۸ –خزانه اميرا، ۱۱۶-۱۱۵، علی الدين، عبرتنامه، ۲۷۰-۲۶۹، سير المتاخرين، ۹۲۰، راجويد، شپږم ټوک، ۳۸۴، ګلاب نامه، ۷۹-۷۸، ګلزار کشمير، ۲۳۳-۲۳۲، مخلص التواريخ، ۴۱۵، صولت افغانی ۲۵۳.

منظم او غوغ جنګ ته اړ کړل. او د هغوی( زين خان او دده ديوان ) مالونه او نوره شتمني يې لوټ کړه ([19]).

## د سکانو خپرېدل او توسعه:

د اوړي په مياشتو کې شاه د لاهور له سوځوونکي لمر څخه خپله کمپ د ګالانار ملايم او نرم اقليم لرونکې ځای ته چې د اکبر د تاجپوش ځای و ، او د ګرداسپور په ختيځه ناحيه کې پروت دی، ولېږداوه. په زين خان باندې ددوی د برياليتوب او د شاه لخوا د هغوی پر خلاف د نه اقداماتو له امله سکان زړور شول او په ټولو برخو کې يې پاڅون وکړ. په داسې حال کې چې سردار جساسنګهـ اهلو واليا او تارا سنګهـ ګاييا ، جلندر دواب لوټ کړ. سردار چهارت سنګهـ سو کارچاکيا او بهانګی سردارانو خپلې وسله والې ډلې شمال او شمال لويديځ لورته ولېږدولې. د سپتمبر په مياشت کې د دوی يو پياوړی لښکر د پاني پت او کارنل په شاو خوا کې د ېره شو. خو ځرنګه دد ېوالي مذهبي روژه را نږدې کېدله دوی ببرته کورونو ته ستانه شول او د ۱۷۶۲ کال د اکتوبر په دويمه اوونۍ کې د امرتسر لورته راورسېدل. د سکانو يوه شپېته زره کسيز پلې او سور پوځ په کالو کاراکې د تلفاتو د غچ اخيستلو په منظور د شاه سره د تورې ازمويلو تصميم ونيو ([20]).

## د امرتسر بې نتيجې جګړه:

---

۱۹ –راجويد، شپږم ټوک، ۳۸۴، (۴۵۳مخ)، سرکار، دويم ټوک. ۴۹، د مرټی، ۳۸۴ ګنې ليک کال بايد ۱۶۸۴ شاکاوی نه :۱۶۸ شاکاچې په کتاب کې ورکړل شوی دی.

۲۰ –عمده التواريخ، لومړی ټوک، ۱۶، د ډيلی پيښی، جيمز برونی، د سکانو د قيام او پرمختګ تاريخ، ۲۵.

په دغه وخت کې شاه لاهور ته ستون شوی و جیمز برونی وایي: ((احمد شاه درانی (د جیمز لیک دود. م) ته سلا ورکړل شو ه چې د یوه سفیر په سویه یو سړی د سکانو مشرانو ته د سولې د خبرو اترو لپاره ولېږي او د وینې تویولو مخنیوی وشي چې د پېښېدلو او توئیدلو ډار یې موجود و. خو د سکانو، (د جیمز په لیک دود .م) کمپ ته د دغه سړي په رسېدو سره د دې پر ځای چې د هغه پیشنهادونو ته غوږ ونیول شي هغې نوموړي او د ده بدرگه وال لوټ کړل او هغوی یې له ځان سره یوووړل. شاه کله چې د سولې له خبرو څخه نا امیده شو نو له لاهور څخه روان شو او د ۱۷۶۲ کال د اکتوبر په شپاړسمه نېټه مازیگر امرتسر ته (له د بوالي څخه یوه ورځ وړاندې) راورسېد. د اکتوبر په اولسمه نېټه سهار وختي سکانو د خپل لښکر لیکې برابرې او سملاسي په درانیانو باندې د برید لپاره را ووتل. افغانانو هم په هماغې شان او تصمیم له دوی سره جگړې ته ځان برابر کړ او د دوی برید ته یې لبیک ووایه. جگړه اوږده او خونړۍ وه او له سهار څخه تر مازیگر پورې په شدت سره وړاندې لاړه. او داماواسیاد ډېرې تیارې شپې د تیار غونې په رارسېدو سره پای ته ورسېدله. د سکانو ډېر زیات او لېواله زړورتوب شاه دې ته اړ کړ چې خپلې قواوې راوباسي او د شپې په محال لاهور ته ستون شي ([21]).

21 -جیمز برونی، د سکانو د قیام او پرمختگ تاریخ، ۲۶-۲۵، فور-ستر، له بنگال څخه تر انگلند پورې سفر، ۲۷۹-۲۸۰، مالکم، دسکانو لنډه شرحه، ۱۰۰۱-۱۰۱۰، ځینو لیکوالو دا پیښه تر پوښتنې لاندې نیولې ده، گوپتا فکر کوي چې ((د سکانو دغه شاهکار د امکان له حدود څخه بهر نه و)) د ۱۸۱۹-بیکرامي کال د کاتیک اما واسیا کې (د ۱۷۶۲ کال د اکتوبر پر اوولسمه) د ورځې په اتلسمه گړۍ کې لمر داسې تندر ونیو چې د ورځې په وخت کې په آسمان کې ستوري وبرېښېدل، عمده التواریخ، لومړی ټوک، ۱۶۰، د ډیلي پیښې.

مخکې له دې چې شاه بیا په سکانو ور ودانګي دوی امرتسر پرېښود او په ستلج ورپورې وتل او درخې ځنګل خواته وتښتېدل. سره له دې هم شاه له دوی سره کله کله په تیت و پرک ډول جګړې ته اړ کېده هغه هم کله چې به ده د ماجا په سیمه کې ښکار کاوه. یوه ورځ د سکانو د سورو یوه کوچنۍ ډله د ښکار په ځای کې را پیدا شوه شاه ددوی د نیولو امر وکړ. سملاسي یوه بله ډله ولیدل شوه او د شاه له افرادو سره یې ډغرې ووهلې. یوه تن په خپله په شاه باندې ور ټوپ کړل، خو پخوا له دې چې پرې ګوزار وکړلی شي په ټټر باندې په غشي ولګېد. ځینې د افغانانو له خوا ترتېغه تېر شول او پاتې سکانو تېښته غوره کړه او په ځنګله کې پناه شول (۲۲).

## د ډیلي حالات:

د افغانستان خواته تر روانېدو د مخه شاه وغوښتل، د مغولي امپراتورۍ د مسایلو حل ته هم اقدام وکړي. په همدې سبب ده نجیب- الدوله او د شاه عالم ثاني استازي لاهور ته را وغوښتل. نجیب دلته په اکتوبر کې راورسېد او له ده سره سملاسي له ډیلي څخه نواب یعقوب علي خان او د امپراتور له دربار څخه نواب منیر الدوله، آغا رضا او عبدالله خان یو ځای شول. څرنګه چې د کومو تغیراتو د راوستلو په فکر کې نه و ، نو په ډېره خوښۍ سره یې شاه عالم ثاني د هند امپراتور په حیث په رسمیت وپیژاند او هغه یې تاییډ کړ. ده دا موافقه هم وکړه چې د مکالمې له لارې په هندي شاهزادګان تر نفوذ لاندې راولي نه د وسله والې مرستې په ورکولو سره چې دی(

۲۲ –احمد یادګار، سلاطین افغانان ۱۷۳-۱۷۲.

امپراتور) په زور سره وربانديږ ور وپېژني او د امپراتورۍ په پايتخت ډيلي کې يې په تخت کښېنوي، له بلې خوا نجيب الدوله او منير الدوله د امپراتور له خوا په کال کې د څلوېښتو لکو روپيو د باج ورکړه په غاړه واخيستله (۲۳).

## د پنجاب د حکومت لپاره ترتيبات:

ورپسې شاه د پنجاب کشمير او سرهند د حکومتونو لپاره دا لاندې ترتيبات ونيول:

لاهور: کابلی مال د لاهور د نايب الحکومه په حيث چې مرکز يې د لاهور ښار و.

سرهند: پخوانی نايب الحکومه زين خان ته په دغه ځای کې د حکومت د دوام اجازه ورکړل شوه. د بيس او ستلج د رودونو تر منځ غزني سيمې د کانګرا، راجا ګوماند چند کا ټلچ ته ورکړل شوې.

په جلندر دواب کې سعادت خان ته د حکومت د دوام اجازه ورکړل شوه.

ګالانار: خواجه عبيد خان.

باری دواب: مراد خان.

ريچنار او سندسګر: جهانخان (د پېښور د ولايت په ګډون).

---

۲۳ –د ډيلی پيښبی، سرکار، دويم ټوک ۴۸۹.

کشمیر: نورالدین بامیزی (۲۴)


شاه د **۱۷۶۲** کال د دسمبر په دوولسمه نېټه له لاهور څخه د افغانستان لورته روان شو (۲۵) دی د بهاولپور لور ته په ستلج باندې لاندې خواته وخوځېد او ورپسې د گومل د غاښي له لارې د غزني خواته د تگ په لار کې د شمال په خوا ملتان او د ېره اسماعیل خان ته ولاړ. په **۱۷۶۲** کال کې د پنجاب د وادي تاوده او سوځوونکي اوړي دده په روغتیا باندې ناوړه اغېزه وکړه او غزني ته د رارسېدلو وروسته څو وخته بستري کړل شو.

په غمبورو باندې یې زیاتې دانې راوختلې چې دده د پزې د ټپ درد یې لا پسې زیات کړ. دده لښکر هم د پنجاب د تودوخې د تېرولو وروسته زیات دردونه او رنځونه ولیدل. په غزني کې له یوې لنډې مودې استراحت وروسته شاه د خپل پایتخت کندهار لورته و خوځېد (۲۶).

**۲۴** –علی الدین، عبرتنامه ۲۷۱، عمده التواریخ، لومړی ټوک، **۱۵۹**، خوشوقت رای، **۸۹**، گلاب نامه، **۷۹**، گلزار کشمیر، **۲۳۲**، صولت افغانی، **۲۵۳**.

**۲۵** –د ډیلي پېښې.

**۲۶** –غبار، احمد شاه بابا **۲۹۷**، **۲۸۹**–**۲۹۸**.


R. Oxus (Amu Darya)
Bijnard
Kalat-i-Nadiri
Sabzawar
Nishapur
Mashhad
Turbat-i-Haidari
Turbat-i-Shaikh Jam
Daulatabad
Andkhui
Balkh
Tash-qurghan
Shibargan
Mazar-i-Sharif
Mastuj
Daroah
Srinagar
R. Indus
Kabul
Herat
Ghazni
Tabbas
Birjand
Naiband
Farah
R. Arghandab
Kalat-i-Ghalzei
Girishk
Chaman
Quetta
Loralai
Sibi
Kalat
Kharan
Kirman
Baft
Bampur
Bela
Karachi
R. Indus
Sukkur
Hyderabad (Sindh)
INDIAN OCEAN
Jammu
Sialkot
Pathankot
R. Beas
R. Sutlej
R. Ravi
Lahore
Amritsar
Ludhiana
Sirhind
Ambala
Saharanpur
Multan
R. Chenab
Bahawalpur
Bhattinda
Panipat
Delhi
Chandausi
Aligarh
Mathura
R. Jamuna
Agra
Bikaner
Jaipur
Bharatpur
Jodhpur
Ajmer
Gwalior
Miles
Kilometres

# دوه ويشتم فصل

## په هند باندې اووم برید

## په پنجاب کې د تسلط لپاره هلې ځلې

**په پنجاب کې د سکانو فعالیتونه (۱۷۶۳-۱۷۶۴)**

په افغانستان کې د احمد شاه د دوو کلونو د فعالیتونو په باب یعنې د ۱۷۶۲ کال په دسمبر کې له پنجاب څخه د احمد شاه تر روانېدو څخه د ۱۷۶۴ کال تر اکتوبر پورې چې شاه د اووم ځل لپاره په پنجاب کې د خپلې تحت الحمایې د بیا تاسیس لپاره په هند برید کوي ډېر لږ څه پوهېدلی شو. د دغو دوو کلونو په موده کې سکانو پنجاب د شاه د مامورینو له لاس څخه په زور ایستلی و. له پنجاب څخه شاه لا روان شوی نه و چې سکان ژر له خپلو مورچلونو څخه په سیمه کې راووتل او په چټکۍ سره هر لوري ته تیت شول. دوی خپل ځانونه په دوو ډلو ووېشل: یوه ډله بودا دال په نامه چې د لویانو لښکر معنی لري او بله یې د تارو نادال یا د کشرانو د لښکر په نامه یادېدل. دغه وروستۍ ډله په دوولسو کوچنیو ډلو او ګروپو وېشل شوې وه چې د بارا مسلان په نامه یادېدلې په داسې حال کې چې بودا دال په هېواد کې له یوه ځایه بل ځای ته حرکت کاوه او خپلې تانې یې جوړولې او

دښمنانو ته يې جزا ورکوله ((تارو نادال)) په امرتسر کې د ېره شو او د سروار يا مقدس حوض چې له معبد سره نښتی و، په پاکولو يې لاس پورې کړ. دغه حوض د شاه له خوا ککړ او بې حرمته شوی و ([1]).

د ۱۷۶۳ کال د اپريل په لسمه سکان د بيساکې د مذهبي جشن د نمانځنې لپاره په امرتسر کې سره راټول شول. په دغه وخت کې د کاسور برهمنانو د هغه ځای د عثمان خان پر خلاف دوی ته دا عرض وکړ چې نوموړي په زور يوه ښځه له دوی څخه نيولې. سکانو تصميم ونيو چې سملاسي دغه خواره ښځه د جابر افغان څخه خلاصه کړي، نو هغه پر خلاف ور وخوځېدل. عثمان خان په دغه بلوا کې له خپلو پنځو سوو تنو افرادو سره ووژل شو او د هندو ښځه هغه ته بېرته ورکړل شوه، ښار گوټی په تېره بيا د افغانانو وداني په بشپړه توگه لوټ شوې([2]).

په عين حال کې په جلندر دواب باندې چې د سعادت خان په لاس کې و، د بوډادال له خوا بريد وشو. د دغه بريد امر د سردار جساسنگهـ اهلو واليا له خوا صادر شو.

نوموړی سردار چې د سکانو سر سخت مشر و د اورمرتاند په جگړه کې ديوان بيشا مبرداس لاسارنی ته ماتې ورکړه او يو شمېر کلي يې ونيول او د خپل ځان لپاره يې يو وړوکی قلمرو يا ((شهزاده نشين)) يا امارت تاسيس

---

۱ –طهماسنامه، ۱۱۳ب، عمده التواريخ، لومړی ټوک، ۱۶۰.

۲ –بوټی شاه، تاريخ پنجاب ۵۲۶–۵۳۵، احمد شاه بټياله، ۴۹۱–۴۹۲، رتان سنگهـ، پراچين پانت پراکاش، ۴۷۳–۴۸۱، جيان سنگهـ، پانت پراکاش، ۷۹۸–۸۰۷.

کړ. بېرېدلی سعادت خان په خپله چونۍ کې ځان بند کړ او جرات یې نه شو کولی له هغې څخه د جګړې لپاره را ووځي (۳).

## د جهان خان عملیات ناکام شول:

شاه د سکانو د فعالیتونو څخه د خبرېدو سره سم سردار جان خان د دوی په مقابل کې ور ولېږه. دی له ستلج جهلم او چناب څخه تر تېرېدو وروسته ریچنا دواب ته د ۱۷۶۳ کال د نوامبر په میاشت کې داخل شو او د سیالکوټ خواته مخامخ ولاړ، غالباً په دې فکر چې د ((راجا رنجیت دیو)) مرسته تر لاسه کړي. سردار چهارت سنګهـ دا وخت په ګجران والا کې چې تقریباً د سویل لویدیځ په د برش میلې واټن کې پرته وه، د بره و. ده د بهانګی سرداران جاندا سنګهـ او ګوجر سنګهـ د خپلې مرستې لپاره راوبلل او په یوه ستره قوه سره یې په جهانخان برید وکړ. په پېښه شوې جګړه کې د جهانخان تر سپرلۍ لاندې آس ووژل شو او جهانخان ور څخه په مځکه را ولوېد. سکانو په یوه غږ چیغې کړې: ((وهي ګوروجي کې فاتح))، (فتح د خدای لره) او داسې سرې شوې: ((موږ جهانخان وژلی دی)) ورپسې دوی توره په لاس د افغانانو لورته په تندۍ او غضب ور ودانګل او د زیاتو تلفاتو په ورکولو سره یې هغوی خواره واره کړل. په خپله جهان خان تېښته وکړه. د ده ټول مال او د کمپ لوازم خپلوان او متعلقین د سکانو په لاس کې ولوېدل.

۳ –عمده التواریخ، ۱۶۰

علي الدين وايي: (( خو ځرنګه چې پخوانيو سکانو په ښځو لاسونه نه اېښودل، نو هغوی يې جمو ته په خونديتوګه ولېږلې [۴] ).

## سکانو سرهند فتح او ونيو:

له دغه بري څخه د څو اونيو په ترځ کې سردار جسا سنګهـ اهلو واليا له ستلج څخه پورې ووت او له بودا دال سره يو ځای د بيکان څخه د غچ اخيستلو په نيت يې هغه په مالر کوټلاکې د دسمبر په مياشت (۱۷۶۳ کال) کې کلابند کړ. نوموړي بيکان خان د ګالو ګارا په جګړه کې ونډه درلوده. خان د دوی مقابلې ته ور ووت خو سکانو ورته ماتې ورکړه او په جګړه کې ووژل شو. [۵].

دال ورپسې شمال ختيځ لور ته وخوځېد او د ((موريندا )) ښارګوټی يې لوټ کړ چې د سرهند په شمال ختيځه څوارلس ميلې کې پروت و. دوی د سيمه ييزو رانګرانو (جاني خان او ماني خان) اولاده وه او د ۱۷۱۴ کال په دسمبر کې يې د ګورو ګووېند سنګهـ د ځوانو زامنو د نيولو او وژلو مسووليت درلود، تر تېغه تېر کړل [۶].

---

۴ -د ډيلي پيښې، عمده التواريخ، دويم ټوک، ۱۱، احمد شاه بټياليا، تاريخ هند، ۹۶۵-۹۶۴، ذکری ګوون او نور، د عمده التواريخ، ضميمه لومړی ټوک، ۱۱۴، علي الدين عبرتنامه، ۲۷۵، ۳۵۸-۲۷۴، وروستی منبع د جهانخان دغه ماتې له کابلی مال سره دده د اختلاف نتيجه بولي چې د لاهور والی وا و وايې سکان ده د هغه په خلاف لمسولي و.

۵ -عمده التواريخ، لومړی ټوک ۱۶۰

۶ -د (( تذکره خاندان پلکيان )) په حواله، ۱۶، د پټيالی کنډک د سردار الا سنګهـ د لمسی سردار همت سنګهـ له خوا رهبری کېده. علی خان په خپل اثر (د کوټلا) د غوره افغانانو په بيان کې) وايې چې بيکان خان له ماتې وروسته مالر کوټلا ته ستون شو (( د ستنيدو په لار کې د شا له خوا يوه کليوال وويشت او مړ شو. کليوال دا وخت دلاری پر سر يو کوهی څخه اوبه څښلی )).

زین خان دا وخت د خپلو رعایاوو په منځ کې د خپل ظلم او تېري کوونکي سیاست له امله ډېر بدنوم درلود. د طهماسنامې مولف طهماس خان وایي چې:(( ماته دا جوته شوه چې سردار زین خان ټول پخواني قوانین او دسپلین اړولي و. ده سربازانو ته معاش ورکول بند کړي وو او په خپل قلمرو کې یې د ټولو کلیو په لوټولو او چورکولو پیل وکړ. ده د لوټ شویو غنمو څخه خپلو سپاهیانو ته د معاش پر ځای غنم ورکول، دا ورکړه ددوی د اصلي معاش څلورمه برخه ارزښت درلود. ده له غرنیو مشرانو سره دوستانه اړیکي او مناسبات پدې خیال وساتل چې خپله شتمني ډېره کړي. ددغو غیر عادلانه او بېعقلانه عملونو څخه به چې تل یې عواقب ناوړه او چلوونکې ته یې بد مرغي او کور وراني ور په برخه کوي، زما په فکر دا به ډېره ناپوهي وي چې د ښې نتیجې هیله وشي. ما خپلو ملګرو او دوستانو ته وویل چې پوځ به ډېر ژر تباه او د سرهند ښارګوټی به له خاورو او ایرو سره برابر شي.)) د طهماس خان پیشګویي او اټکل ډېر ژر رښتیانی ثابته شوه(۷).

د موریندا له ټولو وروسته سکانو په سرهند باندې ور ودانګل. دوی دې فرصت ته کتل چې له زین خان څخه د **۱۳۷۲** کال د فبروري د پنځمې نېټې د عامې وژنې انتقام واخلي. دا وخت دال یا (بودادال) او (تارونا) دواړه متحد شوي وو. چهارت سنګهـ سوکار چاکیا، جندا سنګهـ او ګندا سنګهـ بانګی او دراهون تارا سنګهـ ګایبا هم را رسېدلي وو. د پټیالې الا سنګهـ کنډک هم د همت سنګهـ او چېن سنګهـ په مشری له دوی سره پیوست شو.

---

۷ –طهماسنامه، ۱۱۳ب– ۱۱۴الف.

زین خان له هیڅ کوم مرکز څخه د مرستې هیله کولی نه شوه. دده نایک احمدشاه ورڅخه لیرې په افغانستان کې و. سعادت خان (جلندر) ډېر وېرېدلی و. د لاهور کابلي مال کوم پیاوړی پوځ نه درلود. جهانخان له ماتې خوړلو سره یو ځای تښتېدلی و. دده خپل کپتانان مرتضی خان برایچ او قاسم خان له ده څخه د خپگان په سبب تللي وو (۸).

زین خان له سرهند څخه بهر د کلیو په لوټولو او مالیې راغونډولو لګیاو چې سکان دغه ښار ګوټي ته ورننوتل. د دغه خبر په اورېدو سره دی ژر ښارته ستون شو. خو د ۱۷۶۴ کال د جنورۍ په دیارلسمه نېټه مازیګر د بودلادا سره دده لاره بنده شوې وه. دی په دې هڅه کې و چې په راتلونکي سهار (جنوری، ۱۴، د ۱۸۲۰ بیکرامي کال د مګ د میاشتې څلورمه) کې سکان وغولوي، خو د مانهیرا له کلي سره چې د سرهند په تقریباً ختیځه اووه میلۍ کې دی، نوموړی زین خان د سردار جسا سنګهـ اهلو والیا له خوا کلابند شو او په جګړه کې له پښو وغورځېد. دده په وژل کېدو سره دده پوځ د تېښتې لاره غوره کړه. پارېدلي سکان ورپسې ښار ته ننوتل او په ظالمانه توګه یې هغه ترلوټ لاندې ونیو. زیات شمېر ماڼۍ ونړول شوې او په مځکه هوارې شوې. ددې لپاره چې په ګورو ګوبند سنګهـ پورې منسوب پیش ګویي عملي کړي، دوی یو شمېر خرې ولېږلې او غوره مشرانو په خپلو لاسو سره ځینې ځایونه یوې کړل او کېلې یې وایستلې. د سکانو لاس ته ورغلې ولجه بې حسابه وه د نورو ټولو شیانو سربېره د سرهند ټول ولایت چې نږدې دوه سوه شل میله اوږد والی او یو سلو شپېته میله سور

---

۸ –عبرتنامه، ۲۷۱، طهماسنامه ۱۱۹الف، دغه راز جیان سنګهـ اوړتان سنګهـ.

يې لاره او په شمال کې له ستلج څخه نيولې بيا په سويل کې ترکار نل او روتاک او په لوديځ کې د بهاولپور له دولت څخه پيل او په ختيځ کې تر جمو پورې پلن و، د دوی په پښو کې په سجده پروت و (۹).

بريالیو سکانو سملاسي دا سيمه په خپلو منځو سره وو بشله. په ۱۸۴۸ کې جوزف.ډی. کننگهم ليکلي دي: ((تر اوسه پورې روايات حاکې دي چې سکان د جگړې له گټلو سره څومره ژر تيت شول او شپه او ورځ به يې هر سواره خپل کمر بند او تيکې، د خپلو کاليو شيان او د کاليو د کميس او نورو برخو په گډون په لاس لاندې زيات شمېر او پرله پسې کليو او بانډو باندې غورځول او د خپل ملکيت په عنوان يې په ننبه کول تر هغو چې په بدن کې به يې کوم شی پاتې نه شو او لوڅ به شو)). خو هيڅا د سرهند ښار د هغه د ((شيطاني)) ټولنو له امله ونه مانه. د ښار غوره او سپډونکي د خپل بادار او مشر د ټاکلو لپاره، راوبلل شول. دوی بهای بودا سنگهـ تر ټولو غوره وگاڼه او ښار يې د يوه ديني سرود په ويلو سره هغه ته تسليم کړ. خو سره له دې هم هغه ورپسې د الاسنگهـ له خوا پنځه ويشت زرو روپيو په بيه راونيول شو (۱۰).

## سکان د جمنا او گنگاه په دواب کې:

۹ –طهماسنامه، ۱۱۹الف، علي الدين، عبرتنامه، ۲۷۱، عمده التواريخ، لومړی ټوک، ۱۶۱، دويم ټوک، ۱۱، تذکره خاندان پلکيان، ۱۷، رتان سنگهـ، پراچين پانت پراکاش، ۵۰۷-۵۰۲، ۵۰۵-۴۹۸، جيان سنگهـ، پانت پراکاش، ۸۵۰-۸۴۱، کننگم، ۱۱۰-۱۰۹، بوتی شاه، تاريخ پنجاب، ۵۸۴-۵۲۲، مقدمه چهارمين، تواريخ کاپورتالا، ۵۰۲، پرسر، جلندر ستليمنت ريپورت، ۳۳.
۱۰ –رتان سنگهـ، پراچين پانت پراکاش، ۵۰۷-۵۰۶، مقدمه چهارمين ۲۰-۱۶-۸-۴ مخونه، کننگهم، د سکانو تاريخ (۱۸۴۹)، ۱۱۰، کانهيالال، تاريخ پنجاب، ۸۶ تاريخ سکان، (لندن ۱۸۴۶) لومړی ټوک، ۲۲۱.

يـوه ميا شـت لا تېـره شـوې نـه وه چـې سـكانو دا سـيمه ونيولـه. دوى د كـار پرمختيا د هغو كليو د داوطلبانه تسـليمۍ لـه املـه تسـريع شـوه چـې د زيـن خان له لاسه يې ډېر كړاو ليدلى و او اوس نويـو فـاتحينو حمايـت يـې پـه دې منظور هم ترلاسه كـړ چـې د دوى د زيـاتې ويرانـۍ څخـه مخنيـوى وشـي. پـه داسې حال كې چې (( تارو نادال ) ) د ستلج شمال تـه سـتون شـو ، بـودادال د خپل بريالیتوب د سرور او غرور له املـه پـه جـوش كـې و او پـه بوريـا كـې لـه جمنا څخه پـورې شـول او د جمنـا او گنگـاه دواب تـه ورننوتـل. دوى د ۱۷۶۴ كـال د فبـرورى پـه شـلمه سـهار نيـور لـوټ كـړ او ورپسـې د (شـاملې) او ( گاندلا ) خواته را وراندې شول. نجيب الدوله چې د بهـار تيـور د جـټ سـورچ مال( د ۱۷۶۳ كال د دسمبر په پنځه ويشتمه نېټه ووژل شو ) پـه مقابـل كـې د خپلو عملياتو له امله ستومان شوى و ، ويـې نـه شـول كـولى پـه مخـامخ ډگـر كې له سكانو سره مخامخ شي نويې هغوى ته يوولس لكـه روپـۍ پـېش كـش كړې او هغوى يې دې ته راوا ړول چې په فبروري كې خپل هېواد او سيمو تـه ستانه شي([11]).

## جلندر دواب د سكانو پـه لاس كې ولوېد:

جلندر دوآب ته د تارونادال په رارسېدو سره افغاني حكمـران سـعادت خـان په پټه دا سيمه پرېښـودله او وتښـتېد. پـه دې ډول دواب پـه بشـپړه توگـه د سكانو پـه لاس كې ولوېدله او دوى هغه پـه خپل منځ كې ووېشله([12]).

---

۱۱ –اس . پـی . دی، ۵۳نورالدين، احوال نجيب الدولـه، ۷۲الـف، طهمسـنامه، ۱۱۹الف، ويليـامز، سكان پـه پاسنی دواب كې پنځلسـم ټوك(۱۸۷۵)، شپږویشتم مخ، سركار، دويم ټوك ۴۹۳.

۱۲ –گوپتا، د سكانو تاريخ، (۱۷۶۸–۱۷۳۹) ۱۹۹.

## سکان په لاهور کې:

دوی ورپسې په لاهور ور ودانګل او د ۱۷۲۴ په فبرورۍ کې يې هغه کلابند کړ. خواجه عبيد خان چې له کالانار څخه رارسېدلی و په دغه جګړه کې ووژل شو. له دغې شېبې څخه څه وخت وړاندې په ښار کې د برش غوايان په عامه توګه حلال شوي وو. سکانو له کابلي مال څخه چې د دغه ځای حکمران و وغوښتل چې ټول هغه قصابان په دار وځړوي چې د غوايانو او مېښو قصابخانې او مسلخونه لري او دغو ګټورو حيواناتو وژل منع کړي. کابل مال دوی ته په ځواب کې وويل چې دی د مسلمان پاچا خادم دی نو د غوايانو د حلالولو منع کول به دده په مقابل کې شاه په غضب کړي. سره له دې هم ده د دې لپاره چې د سکانو رضا حاصله کړي او ښار د دوی له قبضې څخه بچ کړي ديو شمېر غوره ښاريانو سلايې واخيستله او د دوو يا درېو تنو قصابانو غوړونه او پزې يې پرې کړل. دغه راز ده دا موافقه وکړه چې سکانو ته يو باج ورکړي او د سردار هري سنګهـ بانګی يو استازی د تيک چند په نامه په لاهور کې وساتي او د ورځې لس روپۍ هغه ته ورکړي (۱۳).

دا په لاهور کې د سکانو د قدرت او کنترول پيل ګڼل کېده. په دې ډول د جنوب ختيځ خواته په پنجاب کې د افغانانو مستملکه يوازې يوه تش په نوم حکومت باندې واوښتله چې عملاً د لاهور په ښار او د هغه په چونۍ محدوده وه. د هغه شاو خوا سيمه ټوله د سکانو په لاس کې ولوېده او هغه لږڅه کنترول چې د چناب او جهلم تر منځ په شمال لويديځ کې او په سويل

۱۳ -علی الدين، عبرتنامه، ۲۷۴-۲۷۳، کانهيالال، تاريخ پنجاب، جيان سنگهـ، شمشير خالصه، ۱۶۲، سرکار، دويم ټوک، ۴۹۴.

لویدیځ د ملتان په خوا د شاه د نماینده ګانو په لاس کې و، د ۱۷۶۴ کال په اوړي کې د سردار چهارت سنګهـ سو کارچاکیا او د بانګی سردارانو له خوا پای ته ورسېد.

## سربلند خان ته ماتې ورکړل شوه، ګرفتار شو او د چهارت سنګهـ له خوا خوشی شو:

د اوړي په سرکې سردار چهارت سنګهی د سردار ګوجر سنګهـ بانګی په ملګرتیا د شمال لویدیځ په لور د روتاس په افغاني پوځدار سربلند خان باندې د برید لپاره راووتل. ددغو سردارانو په غیاب کې سربلند خان له ستلج څخه واوښت او ګجرات یې ونیو، چاودرې رحمت خان او د بوان-شیونات یې د سکانو سره د دوستانه تمایلاتو په سبب ووژل. دواړه سرداران د چج دواب په لور له چناب څخه پورې وتل او افغاني مقاومت یې مات او ورپسې د جهلم خواته وړاندې لاړل. سربلند -خان د سکانو مقابلې ته ورووت، خو مجبوراً خپلې چونۍ ته د پناه لپاره په شا ولاړ. د سک سردارانو روتاس کلابند کړ. څلور میاشتې تېرې شوې، خو دهغې د نیولو څه امید واري پیدا نه شوه. ورپسې چارت سنګهـ دیوې پلمې له مخې د چونۍ د کلابندۍ د پرېښودلو آوازه خپره کړه او لیرې ولاړ، سربلند خان د دوی د تعقیب لپاره وو او په دې ډول د دوی په لومه کې یې ځان را ایسار کړ. سردار چهارت- سنګهـ سملاسي په شا راستون او په کلا یې برید وکړ او هغه یې ونیوله. سربلند خان دده په لاس ورغی او بندي شو. سره له دې هم دده له شان سره سم چې له یوې خوا یو لوړ افغاني مامور و او له بلې خوا د

احمد شاه ته و ، ډېره ښه رویه وشوه ده د سک د سردار له دغې مهربانۍ څخه ډېر خوشحاله شو او پېشبیني یې وکړه چې که سردار چهارت سنګهـ خپل ځان پاچا کړي، دده بر واک لاندې به د حکمران په حیث خدمت وکړي. سردار چهارت سنګهـ ورته وویل:((ګوروو موږ ته اوس پاچاهي رافرمایلې ده.))

موږ غواړو چې تاسو د زنداني په توګه وساتو چې دنیا پوه شي چې موږ د احمد شاه تره نیولی دی)). سربلند خان وویل چې ((زما په خوښې کېدو سره به له دې څخه هم ډېر ستر نامتو والی را منځته شي. ده زیاته کړه دوی به وایي چې چهارت سنګهـ د احمد شاه تره نیولی او ورپسې یې هغه خوشې کړ.)) ورپسې خان دوه لکه روپۍ سردار ته ورکړې او په مقابل کې سردار هغه ته اجازه ورکړه چې خپل هېواد ته ستون شي ([14]).

د سکانو د دغه بریالیتوب له امله د ستلج او اندس تر منځ ټوله سیمه ددوی په اختیار کې ورکړه او د هغې زیاته برخه سملاسي د سردار چهارت سنګهـ او د هغه د بانکې متحدینو په لاس ورغله.

## د سکانو قدرت ملتان او د ډېره جاتو ته پراخه شو:

په داسې حال کې چې چهارت سنګهـ او ګوجر سنګهـ په شمال لویدیځ کې لګیاو ، سردار هری سنګهـ بانګی، دده زامن جندا سنګهـ او ګندا سنګهـ او

۱۴ -عمده التواریخ،دویم ټوک، ۱۲-۱۱، ګانش داس، چهار ګلشن پنجاب،۱۷۹-۱۷۸، رتان سنګهـ ، پراچین پانت پراکاش، ۴۹۸-۴۹۶.
عمده التواریخ په حواله او ورپسی د ګویتا په تایېد سربلند خان له کشمیر څخه د شاه په امر راستون شو. خو د نورو منابعو له مخی چې د کشمیر تاریخونه یې تقویه کوی، په ۱۷۶۲ کې د هغه ولایت والی نورالدین بامیزایې و او سربلند خان هلته لا استول شوی نه و.
وګوری کرپارام، ګزار کشمیر، ۲۳۴، ګلاب نامه.

ناکای، سردار هیرا سنگهـ ددوه سوه پنځوس میلو په واټن د سویل لویدیځ لورته وخوځېدل، په ستلج پورې شول او د ېره جاتو ته یې نفوذ وکړ. لکه چې قاضي نور محمد موږ ته په خپله ((جنګنامه)) کې وایي:((دغو سک کفارو خپل ځانونه له لاهور څخه ترد ېرې پورې ورسول او د مسلمانانو جماتونه یې رنګ کړل... مسلمانانو ته یې ماتې ورکړه او د ملتان سیمې یې تر یرغل لاندې راوستلې.)) ([15]).

## د سکانو پر خلاف جهاد:

شاه د لاهور او ملتان په ولایتونو کې د سکانو د قیام او د سرهند او جلندر دواب لـه لاسـه ورکولـو او د سـکانو پـر خـلاف د سـربلند خـان او سـردار جهانخان د خپلو په برخه کې د ناکامیو څخه د خپرېدو سره سم پنجاب تـه تګ تصمیم ونیو. ده لـه خپـل بلوڅي متحد میر نصیر خان څخه وغوښتل چې د سکانو پر خلاف مقدس جهاد کې له ده سره یو ځای شي او نصیر خان ته یې ولیکل:((د ملتان او دغه راز د ډېرې په باب مې اورېدلې دي چې دغو ملعونـو سـپیانو او پلیـدو کـافرانو (دا نـوم سـکانو تـه ده اخیسـت) پـه مسـلمانانو لاس بـر شـوي او د ملتـان سیمې یې تـر بریـد لانـدې راوړې دي. دوی جوماتونه رنګ کړل او مومنان یې د بندیانو په حیث لـه ځان سره وړي دي. څه فکر کوې تر څو ددې فاسدې فرقې ویرانـي موجوده وي مکې تـه بـه لاړ شې؟ ته باید له هغه (د کلات لوري) او زه به له دغه لـوري حرکت وکـړم، په دې ډول به ددغو خلکو جرړې وباسو. یقین ولره چې د دغـو بت پرسـتانو

---

۱۵ –جنګنامه، ۳۸–۴۰.

پر خلاف جهاد به تر حج ډېر ثواب ولري. ته زما زوی او ديني ورور هم يې. راشه چې دغه بې دينان تباه کړو او ددوی ښځې او ماشومان د مريانو په توګه وګرزوو )). نصير خان دا وخت په ملتان او د ېره جاتو کې د سکانو او جهاد لپاره د علماوو فتوا يې د نفوذ او يرغل خبرې تر لاسه کړې ، ويې شاه ته پرېښودلې ده. دی يوازې اخيستی وه او د اجازې موضوع اعليحضرت او امروته په انتظار کې و چې په پنجاب باندې د را ښکته کېدو دستورونه کلات ته ورته راورسېدل (١٦).

## شاه د هند لور ته روان شو:

شاه د ١٧٦٤ کال په اکتوبر کې د اتلس زره تنو پياوړي پوځ سره له افغانستان څخه را وخوځېد او د لارې له سر څخه يې سواره پيغام وړونکي نصير خان ته ولېږل او له هغه څخه يې وغوښتل چې ژر د ده حضور ته ځان ورسوي.شاه په ايمين آباد کې اړولې و چې بلوڅي مشر له خپلو دوولسو زرو بلوڅانو په مشرۍ له ده سره يو ځای شو. شاه د روا ي درود څخه تر پورې کېدو وروسته لاهور ته راورسېد. دلته جهانخان د کابلي مال څخه ګيله ورته وکړه او هغه يې په دې تورن کړ چې له سکانو سره لاس لري، خو له تحقيق وروسته هغه بې ګناه ثابت شو. د قاضي ادريس په سپارښتنه د لاهور په ښار کې د قصابانو مساله عجالتاً د دولت د پاليسۍ په ګټه پرېښودل شوه. کابلي مال د لاهور په حکومت کې تاييد شو او هغه خپل حوريې امير سنګ د پوخ د (بحتسی) په حيث وګوماره. په لاهور کې يې د

١۶ -جنګنامه، ۴٠٠-۴۴.

امیر سنگ او دده اوښی جکن نات په پرېښودلو سره کابلی مال د شاه له کمپ سره یو ځای شو او په ټولو عملیاتو کې له ده سره پاتې شو.

## د جنګ شورا:

کله چې د شمال لویدیځ له لوري په راتګ کې و، نو په دغه وخت د سک سردارانو په پټه خپل ځایونه د کراند ترنک له سړک سره پرېښودل او دده له سترګو پناه شول. کله چې ده په لاهور کې د جګړې لپاره دښمن ونه موند، نو د جنګ شورا یې راوبلله او د مشرانو څخه یې د سکانو د تباه کولو لپاره د ښه میتود په باب یې پوښتنه وکړه.

کله چې ټولو افسرانو خپلې نظریې ښکاره کړلې، نو له هغې وروسته دوی میر نصیر خان ته مخونه ور واړول او هغه ته یې وویل چې دی به د شاه پوښتنې ته ځواب ورکړي. خان په ډېره شکسته نفسۍ سره داسې وویل: ((هرچېرې چې له موږ څخه د تګ غوښتنه وشي موږ حاضر یو هغې خواته لاړ شو او دښمن نابود کړو حتی که د غره په څېر تورې وي هم باید یې ټوټه ټوټه کړو، د بې ایمانه سکانو مقاومت خو چې زموږ سره په مخامخ جګړه کې څه تاب نه لري، کومه خبره نه ده. دوی د غلو په څېر په پټه راځي او د لېوانو په شان له کمین څخه برید کوي. که دوی په منظم ډول مخې ته راشي، نو به خپل ځانونه په تور جهنم کې ووینې. دوی له شاهي پوځ څخه منډې وهي او په جلبازۍ او غلا سره جګړه کوي. د غازیانو لښکر باید د دوی پر خلاف ورودانګي او دوی په ناڅاپي برید سره ګډوډ کړي. موږ باید

ددوی ولې او جرړې او لاسونه پرې کړو او هغوی په بشپړه توګه تباهۍ ته ورسوو.

د دوی ماشومان او ښځې ونیسو او هغوی بندیان کړو. )) شاه ناري کړې: (( ډېر شاباس ډېر ښه وایي. خو دغه اور پرستان له مونږ څخه لیرې شوي دي دوی په لاخي ځنګله کې پټ دي چې له دې ځایه څخه یو سلو پنځوس میله لیرې پروت دی. په هغه ځای کې اوبه او خواړه نه شته او زه وېرېږم چې هلته به د دوی ټول لښکر محوه نه شي. کله چې مونږ دغه ځنګله ته نږدې ور ورسېږو نو ناڅاپي به په دوی یرغل وکړو او دوی به ټول عام قتل کړو. ))[17]

په دې خبره موافقه وشوه او ټول سرداران او مشران خپلو ځایو ته ستانه شول او د لازمو ترتیباتو لپاره لاس په کار شول.

## له لاهور سره نږدې جګړه:

بله ورځ سهار چې د معمول په څېر نامتو افغاني رهبران د شاه په حضور کې حاضر و، یو سپور په ځغاسته د مخکیني پوځ له لوري له دې پیغام سره راغی ((چې د سپیانو یو بې شمېره لښکر رارسېدلی او د مخکني پوځ یا ګارد غازیانو ته یې ماتې ورکړې، نو که چېرې شاه ژر د دوی مدد ته لاړ نه شي هلته به بېخي ګډوډي راشي)) د شاه له اوامرو سره سم د ټولو اړخونو

(۱۷ ) علي الدین، عبرتنامه، ۱۷۵-۷۶، جنګ نامه، ۲۷۵ -۲۷۶، جنګنامه، ۷۷-۷۹. داسې کلمې لکه بت پرستان یا اورپرستان چې سکانو ته استعمالېږي، ادبي نه دي، بلکې هغه د اهانت اصطلاحات شمېرل کېږي. حقیقت دا دی چې سکان نه بت پرست دي او لکه چې د دوی د مقدس کتاب ((ګرو- ګرانت صاحب)) لومړنی ایت وایي په یوه واحد، بې جسمه، په خپله پیدا او هر چېرې حاضر خدای باندې ایمان لري.
سکان دا وخت په لاخي ځنګله کې نه وو. د دوی پنځلس زره تنه د نجیب الدوله پر خلاف د جټ راجا جوهر سګ (د سورج مال جټ زوی) د مرستې لپاره تللي و، وګورئ کننګو، د جټانو تاریخ، ۱۷۴-۷۶، سرکار، دویم ټوک، ۴۶۴، نورالدین احوال نجیب الدوله، ۸۲الف- ۸۵الف.

پوځونو د جګړې ډګر ته ورودانګل او نصیر خان هم د په زړه کې د جهاد په غرور سره وړاندې ورغی. سکان د سردار جهارت سنګ له خوا رهنمایي کېدل او د افغانانو په مخکښې لیکه باندې یې جې ګهرم خان ماګاسي او احمد خان بالیدي تر قوماندې لاندې وه، ناڅاپي برید وکړ. برید دومره وحشت ناک و چې احمد خان او دده زوی په لومړي اخ و ډب کې ووژل شول. میر عبدالنبي ریسایي او میر نصیرخان هم د ملګرو مرستې ته ور ودانګل. په نښته کې د نصیر خان اس د یوه سک د ضربې په واسطه ووژل شو او دی مځکې ته ولوېد. د خان دوو تنو زړورو خدمتګارانو محمد حسین خان او میر منګ په دغه وخت کې دده نجات ته راورسېدل، دوی سک او د هغه اس ووژل او دده ژوند یې وژغوره. د مظهر محمد غلام حسین بنګلزي، بهادر ساسولي، میر برفي فتوحي داروغا او ملا در له سکانو سره په دغه لومړنۍ جګړه کې د زړورتوب له امله یاد شوی وي. دا یوه سخته جګړه وه او یوازې د شپې په راتلو سره پایته ورسېدله. سکانو د ډزو له معمولي تاکتیک څخه چې له لیرې څخه ډزوی ګول او ورپسې د پلته ییزو ټوپکونو د بیا ډکولو لپاره ستنېدل و، کار واخیست. یانې یوې ډلې به ډزې وکړې او بیا به په شا شوه په دغه وخت کې به بلې ډلې له بل لوري څخه برید وکړ او په هماغه شان به غابیه شوه.

نورمحمد خان چې په خپله په جګړه کې حاضر و لیکي: (( څومره غټ تاسف دی چې له لیرې څخه د کافرانو په واسطه غازیان شهیدان کېږي ! کاشکې مخامخ جګړه وای نو د نیا به یو څه لوبه لیدلې وای )) کله چې میر نصیر خان د شاه لیدنې ته لاړ، نو شاه هغه ته د زړورتوب له امله مبارکي وویله،

په عین حال کې ده ته په دښمن باندې د یوازې دانګلو او د خپل ژوند په خطر کې اچولو له امله هغه ته یو څه نصیحت وکړ او ورته یې په زغرده خبرداری ورکړ.[(۱۸)]

## شاه په امرتسر کې:

په دې وخت کې شاه ته راپور ورکړل شو چې سکان د امرتسر یوه لور ته چې چاک ګورو نومېږي او د لاهور په ختیځه درویشت میلۍ کې پروت دی، خوځېدلي دي. شاه لږ وخت پخوا څو ځله د دوی ودانۍ ورانې کړې او هغوی (سکانو) بیا له سره جوړې کړې. شاه تصمیم ونیو چې یوځل بیا د دوی د کورونو ړنګولو ته ورشي، نو له دې امله د یوه واړه لښکر سره امرتسر ته وخوځېد او په څلورمه شپه دلته راورسېد، خو سکان یې هلته ونه موندل. یوازې د قاضي نورمحمد په حواله د دوی د برش تنه په یوه محوطه کې (دا کل تخت بنګهـ) ولیدل شول. کله چې د ۱۷۶۴ کال د دسمبر په لومړۍ نېټه شاه د سکانو معبد ته ورننوت دغه دېرش تنه چې د بهایي ګوربخش سنګهـ صاحب د جاتا جنګیالي وو، د کومې وېرې پرته د شاه له زړګونو افغانانو او بلوڅانو سره د لاس او ګرېوان کېدو لپاره ورړواندې شول.

قاضي وایي: ((دوی نه د حلا لېدو څخه باک درلود او نه د مرګ څخه وېرېدل او له غازیانو سره ونښتل او د ګورو په خاطر یې خپلې وینې توی کړې او خپل ژوند یې ترې قربان کړ)). ورپسې شاه څو تنه څارندویان د

---

(۱۸) جنګ نامه، ۸۰-۹۷.

سکانو د موندلو او پلټلو لپاره ولېږل، خو هغوی له کوم بري پرته راستانه شول. د امرتسر په شاوخوا کې د سکانو څه نښې نښانې موجودې نه وې، په دې سبب دی بیا لاهور ته را وګرځېد.[19]

ځرنګه چې شاه نه شول کولی د سکانو له اصلي پوځ ته ځان ورسوي او له هغوی سره منظمه جګړه وکړي، نو له دې امله ده مشران جرګې ته راوبلل او هغوی ته یې وویل: ((د ملعونو سکانو د محوه کولو لپاره به څه چاره او لاره ولټوو، هر چېرې چې لاړ شو دوی موندلی نه شو... دغه سپیان ځانته یو ټاکلی ځای نه لري.)) دا وخت پنځلس زره سکانو د سورج مال جټ له زوی سره د نجیب الدوله پر خلاف مرسته کوله او په دې منظور نصیر خان پیشنهاد وکړ چې افغاني پوځ باید امرتسر ته لاړ شي او د لارې په سر سکان وځپي او د ډیلي له لوري خبرونو ته انتظار وباسي.[20]

## د جلندر دواب له لارې د شاه تګ:

شاه خپل پوځ ته امر وکړ چې د جلندر دواب له لارې سرهند ته وخوځېږي. ځرنګه چې دا د سرسختو دښمنانو سیمه وه، نو مجاهدینو ته بشپړه ازادي ورکړل شوه چې هغه لوټ کړي دوی په کرار سره تګ کاوه او د ورځې یې نږدې څلور میله وهل. په پنځلسو ورځو کې باټالا ته چې شپږ پنځوس میله د شمال ختیځ لور ته ده، راورسېدل. ټوله سیمه ولوټل شوه. ((په هره خوا چې به لښکر تګ کاوه خلک به د ورځې په رڼا کې عام قتل کېدل. د سکانو او غیر سکانو ترمنځ توپیر نه کېده، خلک تښتېدل او په هر هغه ځای کې

---

(۱۹) جنګنامه، ۹۷–۱۰۰.

(۲۰) جنګنامه، ۱۰۱–۱۰۲.

به چې کېدلی شول پتېدل... هېڅوک دا په یاد راوړی نه شي چې څومره بې شمېره شیان د مجاهدینو لاسته ورغلل. دوی انسان او حیوان دواړو ته د قند نبات او جغندر څخه بل څه نه ورکول، د ټولو خېټې یې لویې او که وړې مریان وو او که د مریانو نجونې ټولې یې په دغو څلورو شیانو ډکېدلې: د غوایانو غوښې، جغندر، قندونبات او سیستم پوځ په دې توګه د کلیو او ښارګوټو له لوټ څخه وروسته د بیس خواته واوښت او د اوسنی ((هوښیار پور سیمې)) ته ورننوت.[21]

ناڅاپه یوه ورځ د افغاني لښکر د مخکینې پوځ پر وړاندې چې سردار جهانخان رهبري کاوه، سکان جوت شول او د پوځ لاره یې بنده کړه. څرنګه چې افغاني قوماندان څو ځله په بېلو بېلو وختو کې له دوی سره جګړه کړې وه او د دوی په تاکتیک او چال خبر و نو په خپل ځای کې ځای پرځای ودرېد او د مرستې د رسېدو په انتظار کې پاتې شو. سکان په منډو سره میدان ته ور ودانګل او ورانکاري یې پیل کړه. دوی په خپل لاس کې پلته ییز او لوخړې کوونکي پلته ییز ټوبک لرل او کله چې په ښي او بیا کله یې په کیڼ اړخ برید کاوه. د اصلي پوځ په رارسېدو سره چې نصیرخان رهبري کاوه دوی بیا خپل معمولي تاکتیک چې پتېدل و، پکار واچاوه او غایب شول. خان تر یوه وران کلي پورې په دوی پسې ولاړ. شپه راغله او کوم څوک د دوی نه لیدل کېده، نو نصیرخان بېرته د کمپ خواته راوګرځېد. دوی

(۲۱) جنګنامه، ۱۰۳-۱۰۴.

یو ځل بیا کله چې افغانان په ستلج پورې کېدل، ددغه رود په غاړه ښکاره شول، خو دوی کوم شي ته لاس ونه شول اچولی.[۲۲]

## شاه تصمیم ونیو چې د کور خوا ته ستون شي:

شاه سرهند ته تګ او د سکانو د تعقیب مفکوره پرېښودله، ظاهراً په دې منظور چې له نجیب الدوله سره مرسته وکړي، خو په عین حال کې د ۱۷۶۵ کال د فبروري په نیمایي کې د روهیله او جټ ترمنځ سوله ټینګه شوه. نو په دې سبب د سویل لور ته د شاه د تللو لپاره کوم دلیل نه و. میر نصیرخان ده ته دا سلا ورکړه چې ډیلي ته لاړ شي او اوړی او باراني موسم هلته تېر کړي او د شاه عالم ثاني مسایل هلته حل کړي. او هم دا چې که چېرې له سکانو سره د مخامخ جګړې د کولو چانس په ترلاسه کولو کې دوی (افغانان) بریالي نه شول، نو شاه ته یې دا پیشنهاد کړه چې په هغوی(سکانو) باندې د غوخ برې په منظور له بېلابېلو هندي شاهزادګانو سره په مغولي پایتخت کې دوستانه اړیکې ټینګ او بیا د هغوی په مرسته د سکانو پرخلاف یو بریالی حرکت سرته ورسوي. نصیر خان وویل: ((کله چې هر څه حل و فصل شي نو تاسو باید د نجیب، د شجاع، د ډیلي مشرانو، جټانو او مرټانو ګډه پوځونه له ځان سره ملګري او ددغو سپیانو په سرو یې راحواله کړئ او د دوی جرړې او سیمې په سپیانو پنا کېدلی شي.)) خو درانیان له نصیرخان سره موافق نه و، ځکه دوی د ۱۷۵۷ کال د لومړنیو میاشتو ترخه خاطره په یاد وه چې د دوی په سلګونو وطنوال د کلورا د وبا له امله او د ۱۷۶۰ کال د

---

(۲۲) جنګنامه، ۱۰۴-۱۱۱.

سخت او باراني موسم په سبب د سختو سېلابونو او رودونو د سيلابي کېدو سبب شو ، له لاسه ورکړل. دراني خانانو وويل: ((زموږ نظريه داده چې په دغه وخت کې خپل وطن ته لاړ شو. ځکه هلته به زيات هوسا او خوشاله وخت ولرو ، ددې پر خلاف به د باراني موسم په څلورو مياشتو کې زموږ زيات شمېر اوښان او اسونه له منځه لاړ شي. په ډيلي کې نه غله شته او نه واښه ، د لښکر شتمني به ټوله لوټ او د هندوستان په تودوخه کې به موږ درمند او مصيبت وهلی شو. که موږ دغه څلور مياشتې په کابل کې تېرې کړو ، نو کولی شو بيا پوځ تنظيم کړو )). شاه هم له دراني سره موافق و او د نصيرخان له مفکورې سره يې ډېر تباين لاره ، نو له دې امله د ډيلي خواته د تللو نظريه پرېښودل شوه او وطن ته د ستنېدو سورنا ووهل شوه. يو بل ټکې چې د شاه تصميم يې د کور خواته واړاوه د خپلې سيمې خواته د پنځلس زره سکانو بېرته تګ و چې د جټ او روهيله له جګړې څخه وزګار شوی وو او بېرته خپل وطن ته روان وو.[٢٣]

## د پټيالي سردار الاسنګهـ د سرهند په حکومت کې تاييد شو:

په درېو يا څلورو ورځو کې شاه سرهند ته راورسېد. قاضي نورمحمد وايي: (( ټول ښار وران و ، هېڅ بيادم او حتی يو مارغه له تونګ بوم پرته دلته ليدل کېدلی نه شو. که څه هم زه ډېر وړاندې وګرځېدم ، خو هېڅ شی نه ليدل کېدل. بازار او دوکانونه موجود وو خو د کانداران تر شاه دنيا ته تللي

(٢٣ )جنګنامه، ١١٩- ١٢٢، (۴٢-۴۴)، کننګو، د جټانو تاريخ، ١٧٧-٧٨، سرکار، دويم ټوک، ٣٨٩-٣٩١، ۴۶۶-۴۶٨.

وو )). دا وخت سرهند د پټيالي سردار الاسنګ په قلمرو کې و او د هغې په شاوخوا سيمه سکانو قبضه درلوده. شاه تصميم ونيو چې هغه دوی ته پرېږدي او الاسنګ د هغې په حکومت باندې ومني. دی په دې پوهېده چې له سکانو پرته نور څوک هغه کنټرول کولی نه شي او په همدې دليل الاسنګ هغه غوره شخص و چې دد غسې ويار لايق بلل کېده. الاسنګ يو لوی ((زميندار)) و غوره مشر ګڼل کېده او د يوه ستر لښکر خاوند و. په دې لحاظ شاه دی خپل حضور ته راوغوښت او په درناوي سره يې له ده سره چلند وکړ. ده ته يې د ((راجا)) لقب وباښه او ډهل او توغ يې د پاچاهۍ او سلطنتي امتياز په حيث هغه ته ورکړل. يوې پوښتنې ته د ځواب په ترڅ کې الاسنګ شاه ته اطلاع ورکړه چې سکانو ښار وران کړی دی. هغه وويل دوی له جګړې څخه لاس نه اخلي ځکه له هرې خوا څخه خلک له دوی سره يوځای کېږي او د دوی شمېر زياتوي. د پټيالي مشر ورپسې په ډېر احترام شاه ته وويل: ((که چېرې شاه د سرهند د يوه کال ماليه ماته وبښي يا وسپاري په لنډ وخت کې به دغه ښار تر پخوا هم له وګړو څخه زيات ډک کړم.))[۲۴]

که چېرې د سکانو نور مشران هم شاه ته تسليم شوي وای نو شاه به په ډېرې خوشالۍ سره په پنجاب کې هغوی د حکمرانانو په توګه پېژندلي وای او له دوی سره به مدام جنګ پايته رسېدلی و. قاضي نورمحمد وايي: ((د سيمې زميندارانو به پرېږدو چې د شاه له راتګ سره سم تښتېدلي وو، حتی که سکان هم د شاه اطاعت ته حاضر شوي وای شاه به دوی بښلي وو)). خو هغوی له بل ډول ختې څخه جوړ وو، دوی چې په تېرو شپږو لسيزو کې د

---

(۲۴) جنګ نامه، ۱۲۵-۱۲۸، رساله نانک شاه، ۱۳۵ب، تاريخ پټياله، ۶۲، کرم سنګ، الاسنګ، ۲۴۱.

پرله پسې جګړو له امله په مجربو او نه ماتېدونکو جنګياليو باندې تبديل شوي وو او قرباني يې منلې وې او د توري په زور د اخيستې خپلواکۍ خوند يې څکلی و، هېڅکله يوه بهرني ته تسليمېدلی نه شول، هغه هم داسې يوه چاته چې د دوی ورونه يې په ګالو ګارا کې په عام ډول قتل کړي وو او د دوی ډېر متبرک او سپېڅلي ځايونه او معابد يې رنګ کړي وو. له بلې خوا دوی دا وخت عملاً د خپلې سيمې څښتنان وو چې د هغې ځارنې ته شاه په موقتي توګه راته. له دې امله دوی د يوې بشپړې خپلواکۍ لپاره د يوه بې معنا درناوي کېدو په پرتله جګړه غوره او مبارزې ته يې دوام ورکړ.(۲۵)

## شاه د سکانو له خوا تر يرغل لاندې راغی:

سردار الاسنګ په کال کې د درېو لکو روپيو د باج په ژمنه سره رخصت شو او شاه د وطن خواته وخوځېد. دی د روپړ په ګذرګاه کې له ستلج څخه پورې شو او جلندر دواب ته ننوت. بله ورځ سهار چې افغانان په سختۍ سره نږدې يو ميل وړاندې تللی وو، د سکانو يوه ستره قوه په دوی باندې په دوی باندې راوختله او د دوی لاره يې بنده کړه. د دغه خبر په اورېدو سره شاه مسکې شو او له ځان سره يې وويل: ((عجيبه ده! زما د خپل سلطنت په دوران کې شاهي ډولي د سکانو له لاسه په لړزه ده. کله چې زما پوځ په جهاد کې عاطل و درېږي، نو دا ښځې سمه ده چې سکان بايد په هغوی راودانګي. دنيا به څه وايي چې په هر لوري کې بې دينه سکان زما په پوځ

(۲۵) جنګ نامه، ۱۲۷، کرم سنګ، الاسنګ، ۲۴-۲۴۱.

رادانګي)). ورپسې ده نصير خان راوغوښت او هغه ته يې د جګړې لپاره د تيارۍ امر وركړ. په داسې حال کې چې دی په خپله د پوځ په مركز کې و، شاه ولي خان او انزاله خان د دولس زرو تنو په مشرۍ په ښي اړخ او نصير خان له خپل دولس زره تنو بلوڅي پوځ سره په كين اړخ کې وټاكل شول.[۲۶]

باالمقابل سکانو هم د جنګ لپاره صف ارايي وكړه. جسا سنګ اهلو واليا د جسا سنګ توكا (رامګريه) او نورو سردارانو په ملګرتيا د پوځ مركز ونيو. د پوځ د ښي خوا رهبري سردار جهارت سنګ سوكار جاکيا، جندا سنګ، لانا سنګ بانګی او جی سنګ ګاهيا پر غاړه واخيستله. د کيڼ لوري رهبري هری سنګ (چې په پښو شل و رام داس ګلاب سنګ او د بانګی مسيل ګوجر سنګ ونيوله. د عنعنوي تاكتيكونو په كار اچولو سره چهارت سنګ له ليرې څخه ډزو ته دوام وركړ، په داسې حال کې چې بنګيانو د هرې سنګ په مشرۍ په شاه ولي خان او جهان خان باندې راتوی شول او بيا په شاه لاړل، چې افغانان دوی تعقيب كړي او بيا ژر وربانديې راوګرځي او بريد وربانديې وكړي. كله چې ښي خوا په دې ډول د سکانو تر فشار لاندې راغله نو شاه نصير خان راوغوښت او هغه ته يې د دغه حال په باب اطلاع وركړه.

شاه ورته وويل: ګوره ته، ځوانه سړيه. ته د نارينه وو په منځ د ډګر يو زمری يې، خو له سکانو سره به په جګړه کې وېره نه كوې. د غره په څېر ارام ودرېږه په داسې ډول چې ته په ډګر کې ولاړ وې نو دښمن ته موقع وركړه چې تا ته

(۲۶) تاريخ پټياله، ۶۲ کرم سنګ الاسنګ، ۲۴۱، جنګنامه، ۱۲۹-۳۴. د دوو لومړنيو ماخذو په حواله الاسنګه دوه لكه اته ويشت زره روپۍ نغدې شاه ته وركړې او ورپسې يې اويا زره روپۍ ځانته لږې كړې.

راشي او ستا غشي د دوی په تېر ونښلي. سکان ډېر سرتمبه دي او د جګړې په ډګر کې یو وار اور اخلي. حتی د دوی پلرونه هم په همدې عادت وو او د خپلو دښمنانو په پوځ باندې به په تش لاس راتوییدل. نو له دې امله زه تاته دا نصیحت کوم چې په کوم ځای کې ولاړ یې له ځای څخه مه خوځېږه )) خو ددې سره سره هم د بلوچستان بې پروا جنګیالیان په سکانو ورتوی شول او شاه ددې وېرې چې مبادا دوی د سکانو په لومه کې ونه نښلي هغوی راوغوښتل. کله چې بلوڅانو د سکانو د تعقیب لپاره خپل ځایونه پرېښودل نو بلې ډلې سکانو ژر د هغوی ځای ونیو او په دې ډول یې د شاه او نصیرخان ترمنځ فاصله پیدا کړه او هغوی یې له یو بل جلا کړل. ورپسې سکانو د راستنېدونکو بلوڅانو په شاوخوا څارونکې ډلې او ګزمې ودرولې. داړه خواوې پوځونه یو ځل بیا له یو بل سره ونښتل او یوه خونړۍ جګړه ونښتله او د شپې د تیارې په راتلو سره پایته ورسېدله.[۲۷]

بل سهار د لمر په راختلو سره بیا سکان د معمول په څېر په افغانانو باندې راتوی شول. په دې ورځ دوی د خپل لښکر تنظیم رنګ کړ او په ځغاسته د شاه د پوځ خواته راغلل او له هغوی سره ونښتل. سملاسي شاه د توقف امر ورکړ او په مخ کې یې یوه جنډه ودروله او له بلوڅي مشره یې وغوښتل چې یو ګام دده له امر پرته له هغې څخه وړاندې وانه خلي. شاه یو څه وخت انتظار وباسه او بیا یې د جګړې امر ورکړ. سکانو سملاسي د تېښتې خپل معمول تاکتیک په کار واچاوه او افغانانو تر درېو میلو پورې دوی پسې تعقیب کړل. کله چې دوی له نظره غایب شول افغانان خپلې اردوګاه ته

(۲۷) جنګنامه، ۱۳۴-۱۴۴.

راوګرځېدل. خو سکان ناڅاپه د دوی تر شاوخوا راتاو شول او هرې خواته یې ځانونه تیت کړل او په برید یې لاس پورې کړ. شاه نصیرخان ته چغې کړې: ((په خپل ځای د کوه قاف غوندې ځان ټینګ کړه او کله چې حقیقتاً دښمن رانږدې کېدل حس کړې نو هغه وخت یوازې د هغه پر سر ورټوپ کړه. ما ټولو غازیانو ته دا نصیحت کړی دی.)) د ماښام په راتلو سره سکان د معمول په شان غایب شول.[28]

## د چناب پر غاړه:

داسې معلومېده چې شاه به په لاهور کې تم نه شي. دی له راوي څخه په کراری پورې وت او د چناب د غاړې خواته وخوځېد. دلته شاه ځینت غټ تلفات ولیدل. کله چې شاه د یوې ګذرګاه د موندلو لپاره څو کسان ولېږل، په دغه وخت کې څو تنه راغله او ویې ویل چې د غره له تل سره چې د رود هلته اته ځانګیز شوی و، تېرېدل اسان دي. پوځ هماغه خواته وخوځېد او له شپېږو ښاخو څخه واوښت. خو دوه نورې څانګې یې ډېرې ژورې او اوبه یې ډېرې تېزې وې او سېلابي شوې او راپورته شوې وې. کله چې پوځ او مالونه دغو اوبو ته ورننوتل نو کلکو څپو د خپلې ورانکارۍ عمل پیل او په زرګونو بار اوښان او اسان، بې شمېره خره، مېښې، غویان، خېمې او خزانه، ښځې او نارینه اوبو یوړل. قاضي نورمحمد چې په خپله یې له څپو سره سخته مجادله کوله، وایي: ((چې څپې داسې راباندې راغلې لکه د حساب او کتاب ورځ چې وي.)) قاضي د سېلاب د وېرې او ورانیو د اورېده

---

(۲۸) جنګنامه، ۱۶۱ - ۱۶۴.

بیان څخه وروسته داسې وړاندې ځي: (( دا وخت زه په یوه اس سپور وم او په کتار خوځېدم. زما پاس (کېنې) خواته په زرګونو اوښان وو چې ښځې یې وړلې اوښان له ښځو سره په توپاني اوبو کې غورځېدل او څپو وړل. ناڅاپه له یوه اوښ څخه یوه پی مخې ښځه زما په مخ کې د اس په زین راولوېده. د هغې وجود له سر څخه تر ملا پورې زما په زین باندې او پښې یې په اوبو کې وې. زما خپل ژوند هم په خطر کې و، خو زه هغې له ملا څخه په دواړو لاسو ټینګ ونیولم او ما ونه شو کولی د هغې له منګولو څخه ځان خلاص کړم. بالاخره د هغې حامي راورسېد او زه د هغې له منګولو څخه وژغورل شوم. دا وه د دغې ورځې ګډوډي چې هېڅ له خپل ځان څخه بل یوه ته پام نه شو کولی. پلرونو خپل زامن خوشې کړل او میندو خپل ماشومان اوبو ته واچول. د سر او مال تلفات ډېر زیات وو. په یقین ویلی شم چې له سکانو سره په جګړه کې مو دومره تلفات ورکړي نه وو. )) [۳۰]

له چناب څخه تر تېرېدو وروسته شاه په کراره سره وخوځېد او په ورځې کې یې دوه پړاوه وړاندې تګ کاوه او جهان خان یې مخ کې ولېږه چې په جهلم باندې د یوه پله د جوړېدو ترتیبات ونیسي. د جهلم له غاړې څخه کابلي مال ته اجازه ورکړل شوه چې په لاهور کې د خپل حکومت د کارونو لپاره بېرته وګرځي. دلته یوه ورځ شاه خپل زړور متحد د کلات میر نصیر خان ته پیغام ولېږه او د عملیاتو په ترخ کې یې دده خدمتونه وستایل او هغه ته یې اجازه ورکړه چې خپل هېواد ته لاړ شي. نصیر خان په ډېر درنښت ځینې عرایض وړاندې کړل چې ټول ومنل شول، په دغو عرایضو کې د شال (کوټې) سیمه

(۳۰) جنګامه، ۱۶۸- ۱۷۲.

شامله وه. شاه وغوښتل چې د چناب، جنګ او ملتان او د بېره جاتو سیمې میر نصیرخان ته ورکړي، خو نه میر نصیر خان او نه کوم بل یوه بلوڅي مشر دغه ورکړه ومنله ظاهراً له دې وېرې څخه چې هغه به د سکانو د مخ په ترقۍ قدرت په مقابل کې ونه ساتل شي.[۳۱]

## شاه افغانستان ته راستون شو:

د جهلم له رود څخه د بېړیو په یوه پله باندې تېر شول او په روتاس کې شاهي کمپ ته په رارسېدو سره میر نصیرخان او دده بلوڅي ملګرو له شاه څخه رخصت واخیست او خپل هېواد ته روان شول، په داسې حال کې چې شاه افغانستان ته وخوځېد.[۳۲]

(۳۱) جنګ نامه، ۱۷۲-۱۷۵، علي الدین، عبرتنامه، ۲۷۶، خوش‌وقت‌رای، تاریخ‌سکان، ۸۰-۸۱.
(۳۲) جنګنامه، ۱۷۵-۱۷۶.

# دروېشتم فصل

# په هند باندې اتم برید

## د پنجاب له لاسه وتل:

د **۱۷۶۵** او **۱۷۶۶** کلونو په اوږدو کې شاه په خپلو کورنیو مسایلو او اداره باندې لګیا و او ویې نه شول کولی دې ته وخت پیدا کړي چې پنجاب ته پاملرنه واړوي. په عین حال کې سکانو په خپل وطن کې په بشپړه توګه ځانونه ټینګ کړي وو. شاه د **۱۷۶۵** کال د مارچ په پای کې لا له پنجاب څخه وتلی نه و چې سکان بیا خپلو مقبوظاتو ته راستانه شول.

## سکانو لاهور ونیو:

سکانو د اپریل په لسمه د بیساکي (ویساکي. م) په نوم خپل مذهبي جشن په امرتسر کې ونمانځه او دلته یې په یوه ((ګورماتا)) سره پرېکړه وکړه چې لاهور قبضه کاندي. د لاهور والي، کابلی مال، دا وخت په جمو کې و او د دورګا دوه زره پلټنه ییز ټوپک والا یې په لاهور کې د خدمت کولو لپاره راجلب کړل. سردار لینا سنګ او ګوجر سنګ د دوه زره سکانو په مشرۍ او

د باغیانو پورا[۱] د کلي د ځینو او سېدونکو په مرسته چې په چونۍ کې استخدام شوي وو، له رانګرواتیکي څخه روان شو لاو چونۍ ته د ۱۸۲۲ بیکرامي کال د وادي بیساک په یو ولسمه نېټه (د اپریل شپاړسمه ۱۷۶۵) د یوه مدخل له لارې ورننوتل او هلته یې خپل ځانونه کلک کړل. بل سهار د کابلی مال وراره امیر سنګ له خپلې ماڼۍ څخه ورووت او د هغه توپ په وسیله یې په سکانو ډزې وکړې چې د ښار یوه دېوال ته یې خېږولی و. د موزانګ تارا سنګ یوازې د خپلې پنځه ویشت کسیزې ډلې سره په برید لاس پورې کړ لاهور د بخشي بې زړه پیروان یې تیت و پرک کړل او نوموړی یې د کابلی مال د اوښې، جګن نات په ګډون ونیول. سوبا سنګ کانهیا هم د بانګي له سردارانو سره یوځای شو او دوی د لاهور ښار او د هغه مضافات په خپلو منځو کې سره ووېشل. په دې ډول د پنجاب پایتخت د سکانو لاس ته ورغی.[۲]

سکانو خپل دغه بریالیتوب د خپل ((ګورو)) یو سوغات وګاڼه او د خپل ګورو نانک کووبند سنګ په نامه یې له لاندې لیکنې سره سکه ووهله چې د دوی د لومړي واکمن مشر بندا سنګ له مهر څخه را اخیستل شوې ده. (۱۷۱۰-۱۷۱۲):

دیګ و تیغ و فتح و نصرت بید رنګ

یافت از نانک ګورو ګوبند سنګ

(۱) پرنسیبل سیتارام کوهلی په خپل یوه یاد داشت کې وایي: د باغبان پورا د میان کهول وریسې د بانګي سردارانو په خلاف د لاهور په نیولو کې له مهاراجا رنجیت سنګ سره مرسته وکړه. میان محمد شافی او میان شاه دین او د بیګم شاه نیواز د مسلم لیک د ډلې، وچې وریسې یې په لاهور کې د انګرېزانو د استقرار په برخه کې مرسته وکړه.

(۲) علي الدین، عبرتنامه، ۲۷۶-۲۷۷، عمدة التواریخ، لومړی ټوک ۱۶۳.

(چای جوش او توره- د خدمت او قدرت نښې، بریالیتوب او نصرت له ګورو نانک ګوبند یاګو وييند سنګ څخه لاس ته راغی).[3]

## د پټیالې پر خلاف عملیات، د الاسنګه مړینه:

یوه پخوانۍ او همېشنۍ دښمن ته د الاسنګ تسلیمېدل چې د سکانو په نظر هغه شاه و، د سکانو لپاره د یوې ملي بې عزتۍ په توګه وګڼل شوه او دوی د نوموړي الاسنګ پرخلاف د هرې سنګ بانګی په مشرۍ یوه اعزامي قوه رهبري کړه تقریباً د پټیالي په شمالي اته میلۍ کې د لنګ او چېلالی کلیو ته نږدې د دوی ترمینځ خورې ورې نښتې وشوې او په هغو کې له لومړي سر څخه هري سنګ بانګي ووژل شو. سره له دې هم د سردار جسا سنګ اهلو والیا په منځګړتوب ډېر ژر روغه جوړه وشوه او د پټیالي مشر له خپلو دیني ورونو سره پخلا شو. ډېر وخت لا نه و تېر شوی چې بابا الاسنګ د ۱۸۲۲ بیکرامی کال د وادی په شپږمه له دنیا څخه سترګې پټې کړې.

(اګست، ۷، ۱۷۶۵) او دده پرځای یې لمسی امر سنګ راغی.[4]

کله چې شاه په سرهند کې سکان تیت و پرک نه کړل شو لاو په پنجاب کې د دوی اغېزې شنډې نه شوې نو دوی هرې خوا ته خپل پوځونه ولېږل او خپل قدرت یې ټینګ کړ. دوی حتی د جمو او ګنګاه دواب ته نفوذ وکړ او د

---

(۳) ګانش داسې، چهار ګلشن پنجاب، ۱۷۷-۱۷۸.

(۴) تاریخ پټیاله، ۵۷-۵۹، کرم سنګ، الاسنګ، ۲۴۶-۲۴۷.

نجیب الدوله سیمې یې لوټ کړې او د بهار تپور د جوهر سنګ په ملاتړ یې له مرهټانو سره توري ووهلې.

## په هند باندې د شاه اتم برید:

احمد شاه د ۱۷۶۶ کال په نوامبر کې د اتم ځل لپاره په پنجاب باندې لکه چې د شاه ولي خان وینا ده ((د بدبخته سکانو د ځپلو او نابودولو په منظور رانښکته شو)) د منلو وړ دلایل هم موجود دي او هغه دا چې شاه د بنګال د میر قاسم خان له خوا ددې لپاره هند ته راوبلل شو چې د مرشد اباد تخت بیا ونیسي. انګریزانو له دغه تخت څخه دی محروم کړی و.[۵]

شاه د نوامبر په وروستیو ورځو کې له اندس څخه واوښت او له کوم مخالفت پرته بیګي ته چې له روتاس څخه لس کوسه واټن لري، راورسېد. بالام سنګ او یو شمېر نورو سکانو په دغه سیمه کې خپلې یو لړ چونۍ چې اوه یا اته زره ساتونکي او ګزمه کوونکي په کې وو، خوشې کې. دوی په خپل جرګو کې د یوه عمومي نظم د نه لرلو له امله ماتې وخوړه او په اسانۍ سره د افغانانو له خوا بې وسلې شول. د سکانو یو مشر جلال او نور زیات شمېر سکان ووژل شول او یو زیات شمېر یې بندي او د جهلم رود ته خوشې شول. سکانو د شاه د لښکر د مخې د بندولو لپاره بله هڅه هم وکړه چې په شا ووهل شول.[۶]

---

(۵) د فارسي مراسلې سالنامه (کالنۍ) دویم ټوک، ۱۲الف، دریم ټوک، ۲۶.
(۶) د فارسي مراسلې سالنامه، دویم ټوک، ۱۶الف.

لـه جهلـم څخـه تـر تېرېـدو وروسـتـه شـاه د دسـمبر پـه څلورمـه ګجـرات تـه راورسېد. دی له چناب څخه د شاه د ولاد پلـه لـه لارې واوښت او بری دواب ته ننوت او له هغه ځایه سیالکوټ ته روان شو. د دسمبر په لسمه له دغه ښار څخه ولاړ او پـه جـانګي کـې یـې چـې یـوولس میلـه د سـویل لویـدیځ خـواتـه موقعیـت لـري، واړول. دلتـه ده درې ورځـې تېـرې کـړې او د اورنـګ ابـاد ، بسرور، ګجرات او سیالکوټ لـه زمینـدارانو سره یـې مرکـې وکـړې داسـې ویل کېدل چې یو شمېر سکان په شاوخوا کلیو کې پټ دي، نـو د شـاه خزانـه دار سعادت خان پیشنهاد وکړ چې په زمیندارانو باندې یو نـیم لـک روپـۍ باج کېښودل شي. دغه راز دوی ته امر وشو چې لیکلی تعهد ورکړي چې (( ټول هغه کسان به په سختۍ سره توقیف او لوټ کړي چې د سکانو ننبـانونه ګرځوي. )) دوی نه یوازې دا تعهد ورکړ چې سـکانو تـه بـه پنـاه نـه ورکـوي، بلکې که چېرې کوم سک د دوی لاس ته ورشي هغه به شاه ته استوي چې پـه جزا ورسول شي.(۷)

شاه د دسمبر په پنځلسمه له جامکي څخه روان شو او په داسکا کې یې دمـه وکړه. دلته د پیرمحمد زوی، نورنګ د سترې مه شي او احتـرام کولـو لپـاره دده حضور تـه راغـی. نـور زمینـداران لـه وېرې څخـه وتښـتېدل. د شـاه پـوځ هغوی تعقیب او ونیول او بېرته یې دده حضور تـه راوسـتل. د شـاه ولـي خـان له خوا د دوی څخه د پوښتنې پـه وخـت کـې دوی پـه احتـرام سره وویـل چـې دوی د تېښتې نیت نه درلود. څرنګه چې د نصیرخان پوځ د دوی په بې دفـاع سیمه کې تېر شوي وو ، نـو هغـوی لـه خپلـو ځـایو څخـه تښـتېدلي وو او کلـه

---

(۷) د فارسي مراسلې سالنامه، دویم ټوک، ۱۶الف.

چې د شاه پوځ راورسېد نو بیا په دوی باندې و بري غلبه وکړه. د دې لپاره چې د دوی او د شاه خوا سیمې د خلکو راتلونکې وېره ورکه شي سعادت خان پیشنهاد وکړ چې د دې پرځای چې دوی ووژل شي له هغو سره په مهربانۍ او محبت رفتار وشي او که داسې نه وي، نو په راتلونکي کې به هېڅوک د شاه حضور ته زړه ښه نه کړي. شاه په خوښۍ سره دا مصلحت ومانه او یوازې درې لکه روپۍ مالیه یې په دوی کېښودله او په اطمینان سره یې دوی خوشې کړل.[٨]

## شاه په لاهور کې:

په ((داسکاکي)) له دوو ورځو تم کېدو وروسته شاه ایمین اباد ته روان شو. د شاه د رانږدې کېدو څخه د خبرېدلو له امله د سکانو سردارانو لکه سوبا سنګ، لینا سنګ، ګوجر سنګ، هیرا سنګ او عجایب سنګ چې دا وخت له اته زره افرادو سره په لاهور کې د ېره وو، چونې او ښار پرېښودل او هر لوري ته تیت شول. ګوجر سنګ او لینا سنګ کاسور ته ستانه شول، په داسې حال کې چې سوبا سنګ، هیرا سنګ او عجایب سنګ د ((بابا فرید)) پاک پټان ته ولاړل د سردار جهان خان، برخوردار خان عرض بیګي او درویش علي خان هزاره په مشري د افغانانو مخکیني پوځ (پیش قراول) د لاهور ښار ونیو. د دسمبر په یوویشتمه نېټه شاه له ایمین اباد څخه خپل

(٨) د فارسي مراسلې سالنامه، لومړی ټوک، ١٦الف.

تګ ته ادامه ورکړه. او فاضل اباد ته بله ورځ له راوی څخه پورې ووت او په محمود بوټي کې چې د ښار په شمال ختیځه خوا کې دی، واړول.[(۹)]

## سردار لینا سنګ د لاهور د صوبه دارۍ پیشنهاد رد کړ:

په محمود بوټي کې د لاهور د ښاریانو یو شمیر نماینده ګان د شاه حضور ته راغلل او هغه ته یې عرض وکړ چې لینا سنګ یو مهربان نیکخواه حاکم دی چې د قدرت او تسلط سره سره یې په مسلمانانو او هندوانو کې توپیر ونه کړ. ده د لوی اختر په ورځ د مسلمانانو د جوماتونو قاضیانو، مفتیانو او امامانو ته لونګۍ ورکړې او له نورو ټولو خلکو سره یې په مهربانۍ او درنښت رفتار وکړ. شاه وویل: ((که چیرې دی دومره عادل او نیکخواه حکمران وي، نو ولې دی باید تښتیدلی وای)). وروسته شاه هغه ته یو لیک ولیکه او هغه یې خپل حضور ته راوباله او نوموړي ته یې د لاهور د صوبه دارۍ د ورکولو وعده ورکړه. سردار لینا سنګ په ځواب کې د ماورا د کلي د رحمت الله بیګ په وسیله شاه ته وویل چې دی به ډیر خوشاله وای چې له شاه سره یې کتلی وای، خو څرنګه چې دده د خلکو ننګ دا اجازه ده ته نه ورکوي، نو له دې امله زه لا علاجه یم. یوه اوونۍ وروسته شاه د مولوي عبدالله ورور دادان خان د لاهور د والي په حیث وګوماره او رحمت الله خان روهیله یې د یو زرو پنځه سوه تنو سورو او پلیو په مشرۍ دده مرستیاله وټاکه.[(۱۰)]

---

(۹) د فارسي مراسلې سالنامه، دویم ټوک، ۱۶الف، ۲۰، ۳۶.

(۱۰) عمدة التواریخ، لومړی ټوک، ۱۶۵، علي الدین عبرت نامه، ۲۷۹-۲۸۰، د خوش وقت رای، تاریخ سکان، ۸۱، په حواله د مرستیال نوم داورخان و.

## د سکانو له خوا په شاه برید وشو:

شاه په لاهور کې د خپلو درندو سامانو له پرېښودلو وروسته په محمود بوټي کې له خپل کمپ څخه د دسمبر په نهه ویشتمه نېټه وخوځېد او د میاشتې په دېرشمه امرتسر (چاک ګورو) ته راورسېد.

جهان خان چې ددغې میاشتې په اووه ویشتمه نېټه دغه ځای ته د لاهور له شاوخوا څخه رالېږل شوی و، امر وشو چې همدلته پاتې شي په داسې حال کې چې د شاه د ۱۷۶۷ کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه د جندیالا په لور وخوځېد. له دغه ځای څخه شاه د جلال اباد په لور په دې نیت راروان شو چې دوایرو وال په شاوخوا کې واړوي. سید خان ده ته پیشنهاد کړی و چې خپل اصلي پوځ دلته ځای پر ځای کړي ((چې د سکانو د تعقیب، د دوی د عام قتل او تیت وپرک کولو په منظور بېلا بېلې ډلې او ګروپونه جوړ کړي)). او په همدغه وخت کې به د هغه (له پیشنهاد سره سم. م) جهانخان امرتسر ولوټي. شاه لا دلته خپل کمپ ټاکلی نه و چې ده ته احوال راورسېد چې چهار هټ سنګ، هبرا سنګ او لینا سنګ په لاهور کې د شاه په کمپ برید کړی او د هغه سامانانونه یې لوټ کړي او هم هغوی په لاهور باندې راروان دي. شاه سملاسي لاهور ته په ځټ بیړه وکړه خو سکان دده له رارسېدو څخه مخکې تر شا ولاړل. د معمول په څېر دوی له مخامخ او عمومي برخورد څخه ځانونه بچ کړل او دده د پوځ په شاوخوا کې یې په تګ

راتګ لاس پورې کړ او کله چې به موقع پیدا شوه، نو به یې برید وربانده وکړ او یو څه سامان او اسباب به یې چې لاس ته ورتللی شو، ولوټه.[11]

## سکانو له احمد شاه سره خبرې اترې کول رد کړل:

په دغه حالت کې شاه غوښتل چې د سکانو له سردارانو سره د سولې خبرې اترې وکړي او د شاه ولي خان، جهانخان، شاه پسند خان، فیض تالاب خان، بلوڅ نصیر خان او نور افغاني مشرانو په پیشنهاد ده جنداسنګ، جساسنګ اهلوواليا او د سکانو نورو سردارانو ته د نورالدین کوټ له شاوخوا څخه د ۱۷۲۷ کال د جنورۍ په پنځلسمه نېټه ولیکل چې ((که په دې اساس چې دوی وغواړي دده خدمت وکړي نو هغوی دې باید له ده سره د پیوستون لپاره ځانونه حاضر کړي که چېرې داسې نه وي نو دی به یوازې د جګړې په ډګر کې له دوی سره وغږېږي.)) د چامباراجابو وکیل ده ته ولېږه او ادینه بیګ خان له کورنۍ څخه سعادت یار خان ده ته پیغام ولېږه چې له ده سره به سوله وکړي. وروستي کس وویل له هغه ځایه چې شاه نه غواړي سکان له خپل ملک څخه بې برخې کړي، نو دی به هغوی دده حضور ته معرفي کړي او دا به ورسره وټاکي چې کومه سیمه دوی ده ته پرېږدي او څومره پیسې دوی باید ورکړي او لاهور دوی ته وسپاري، خو سکانو د خبرو اترو د کوم خیال څخه ځانونه وژغورل. دوی پوهېدل چې شاه به ژر

(۱۱) د فارسي مراسلې سالنامه، دویم ټوک، ۱۶الف، ۲۰، ۳۶، ۶۵، ۱۰۸الف.

خپل ملک ته ستون شي او هغوی به خپل مخکيني مقبوضات ترلاسه کړي.[۱۲]

## جهانخان ته له امر تسر سره نږدې ماتې ورکړل شوه:

د جنورۍ پر اولسمه نېټه سکانو د امر تسر په شاوخوا کې هغه وخت جهانخان ته ماتې ورکړه چې دی له خپلو پنځلسو زرو دراني سپرو سره د خپل مخکني پوځ له کمپ څخه د کليو د لوټولو لپاره ووت. جسا سنګ، هيرا سنګ، نينا سنګ او ګوجر سنګ سملاسي په دوی باندې يرغل وکړ. پنځه يا شپږ زره درانيان مړه، يا ژوبل شول او جهانخان عقب نشينۍ ته اړ شو. ددغې ماتې د خبر په اورېدو سره شاه په خپله د خپل قوماندان د مرستې لپاره ورغی، خو سکان سملاسي د لاهور خواته غايب شول. په دغه وخت کې شاه امر وکړ چې د امرتسر ودانۍ او د شاوخوا چونۍ ړنګې شي او په دغو ځايونو کې يې درې يا څلور زره سکان چې لاس ته ورغلل تباه کړل.[۱۳]

## د هندي مشرانو استازيو شاه ته احترامات وړاندې کړل:

شاه ورپسې د بيس له رود څخه واوښت او جلندر دواب ته ننوت او همدلته د هند د بېلابېلو واکمنانو استازيو دده حضور ته خپل احترامات وړاندې کړل. شاه دوی ته لارښوونه وکړه خپلو بادارانو ته وليکي چې دده دربار ته شخصاً راشي. د راجا امرسنګ وکيل او کانور همت سنګ (د راجا الاسنګ

---

(۱۲) د فارسي مراسلې سالنامه دويم ټوک، ۵۰، ۱۰۸الف.

(۱۳) د فارسي مراسلې سالنامه، دويم ټوک، ۶۵.

لمسیان) هم د هغه اطاعت ته ورغلل او پنځه زره روپۍ او دوه اسان یې د نذر په توګه ده ته سوغات ورکړل او هر یوه شاه ولي خان او جهانخان ته یې دوه دوه زره روپۍ ورکړې. لږ وخت وروسته راجا او کانور په خپله په ((نور محل)) کې د شاه کمپ ته راورسېدل.[14]

## سکانو خپل فعالیتونه له سره ونیول:

سکانو حتی په جلندر دواب کې هم شاه په کرار پرې نه ښود. په داسې حال کې چې دده اصلي پوځ پرله پسې تالا کېده، دده مال د نصیر خان بلوڅ د ساتنې په ترڅ کې ولوټل شو. ناڅاپه په شل زره سکان په ده ورتوی شول او د بې خبرۍ به حال کې یې شاه ته په یوه مخامخ جګړه کې ماتې ورکړه. دغه راز دوی په مېوو بار د درېو سوو اوښانو کاروان مخه ونیوله او د هغوی بدرګه وال یې تارو مار کړل.

د چمبا راجا له خوا هغه غنم چې شاه ته استول کېدل له تالا پور سره نږدې سملاسي سکانو د هغوی په بدرګه والو او قافله باندې برید وکړ. بدرګه وال یې ووژل او قافله یې تالا کړه.[15]

دا وخت د شاه حالت ډېر نامطمین و او د معاصرو ورځپاڼه لیکونکو په حواله ((د شاه حاکمیت یوازې په هغو ځکو او برخو محدود و چې صرف دده لښکر نیولې وې.

(۱۴) د فارسي مراسلې سالنامه دویم ټوک، ۶۵، ۷۹، ۱۳۹.
(۱۵) د فارسي مراسلې سالنامه دویم ټوک، ۱۶۱الف.

زمینداران په عمومي ډول د سکانو خیرخواه وو ، یانې سکان به کله چې د شپې کلیو ه په ښځ شول، نو هلته به یې ډېر قدر کېده او هر ډول هوسایې یې کېدله. د ورځې به دوی له هغو کلیو څخه د شاه په لښکر باندې د برید لپاره راوخوځېدل. که چېرې به شاه د بیس او ستلج د دوو رودونو په منځ کې و ، سکانو به دده شاوخوا ځانونه دېره کړل، خو کله چې به شاه سرهند ته واوښت نو دده تر شا پاتې شویو مځکو باداران به دوی شول.[16]

## په بنګال کې د شاه پر خلاف د انګرېزانو فعالیتونه:

شاه د ۱۷۶۷ کال د مارچ په سر کې له ستلج څخه پورې شو او سویل خواته د ډیلي پر لور وخوځېد. سکانو هغه بل لوري ته سملاسي ((لاهور او د راوی او ستلج د دوو رودونو ترمنځ سیمه قبضه کړه.))[17]

اسماعیل اباد ته د شاه په رارسېدو سره چې د امبالا په سویلي شل میلۍ کې پروت دی، نجیب الدوله د مارچ په نهمه شاه ته په ډېر درنښت خپل ځان ور وړاندې کړ. شاه ددې پرځای چې په قهر شي زیاتره په دې حیران شول چې له هندي مشرانو څخه هېڅ یو یې په داسې صورت کې چې دده سره یې د دوستۍ ادعا په ډاګه کوله دده د احترام لپاره شخصاً حاضر نه شو. دا به په زړه پورې وي چې پوه شو د شاه په کمپ کې د میر قاسم د استازي د حضور له امله انګرېزانو زیاته نا ارامي احساس کړه (( دوی وو ېرېدل او ددې لپاره یو سم دلیل هم و او هغه دا چې که چېرې وزیر (شجاع الدوله) او امپراتور (شاه عالم) د شاه له کمپ سره پیوست شي هغه اړیکي چې دوی له دغو

(۱۶) د فارسي مراسلې سالنامه، دویم ټوک، ۱۶۱الف.
(۱۷) همدغه اثر، ۲۱۳مخ.

دوارو سره ټینګ کړي ښايي ښېخي بله ښه ونیسي او ګډ وډ شي. له همدې امله دوی د وزیر او امپراتور څخه وغوښتل چې شاه ته د احترام څرګندولو او له هغه سره له کتلو څخه ډډه وکړي او ده ته کومې پیسې ونه لېږي او که چېرې هغه (شاه) د ډیلي ختیځ لور ته وخوځېږي د هغه مخالفت وکړي په همدغه شان نګریزانو له روهیله وو، جټانو او مرټانو څخه په کلکه وغوښتل چې د شاه په مقابل کې یوه اتحادیه جوړه کړي. د انګرېزي کمپنۍ د ملاتړ اطمینان دوی ته ورکړل شو. سره له دې هم په پاني پت کې د احمدشاه بری د هندي مشرانو په زړه کې وېره پیدا کړې وه. د دوی په نظر شاه نه ماتېدونکي برېښېده)) له دې امله دوی تر ډېره وخته شکمن وو چې له شاه سره پیوست شي او یا له هغه څخه ځانونه لیرې وساتي، خو په دغه وخت کې دده د نه ماتېدو خیال د سکانو له خوا دده په مقابل کې د سخت مقاومت او بري پر اساس له منځ تللی و. دغه مقاومتونه او بریالیتوب که څه هم دومره لوړ نه وو، خو دده د قدرت طلسم یې بل ډول وښود. دغه حالت هندي مشرانو په وضعیت کې یو بدلون راوست او دوی یې دې ته وهڅول چې په خپل چلند کې سرسخت واوسي.[۱۸]

## د نجیب الدوله خواست (غوښتنه):

((وایي چې پاچا په زیات شمېر وکیلانو باندې چې دده حالت او کار په ښو نتیجو باندې غږېدل په قهر شو او اعلان یې وکړ چې دی به ژر په ډیلي ور وخوځېږي.)) له بلې خوا نجیب الدوله ددغې خبرې په اورېدو سره

(۱۸) د ډیلي پېښې، د فارسي مراسلې سالنامه، دریم ټوک، مقدمه پنځم مخ.
دا چې د شاه عالم او احمدشاه ترمنځ د نږدې اړیکو په برخه کې څنګه له بنګالا څخه انګرېزان خنډ شول د کتاب څلورمه ضمیمه وګورئ.

سملاسي له یعقوب علي خان او راومګ راج سره مشوره وکړه او ورپسې شاه ته ورغی او ویې ویل: ((که اعلیحضرت د ډیلي پر لور د ورتګ خیال لري دا به سمه وي، خو له شک پرته هر چېرې چې تاسو تېرېږئ هلته به د سیمو اوسېدونکي په عمومي توګه فرار ولري او ټوله سیمه به د یوې دښتې په څېر وګرځي. لکه همدا حال چې مخکې له مخکې د دې سیمې په ډېرو برخو کې ولیدل شو. زه اوس ستاسو اعلیحضرت حضور ته راغلی یم او دا نهایي ارزو مې ترلاسه کړه چې له تاسو سره مرکه وکړم. که چېرې جناب اعلیحضرت په یقیني ډول ((د ډیلي لور)) ته ور وړاندې کېږي، نو په دغه برخه کې زه یوه هیله لرم او هغه دا چې لومړی ما ووژنه او بیا خپل دغه تصمیمونه او مرام وړاندې یوسه)). د شاه تېزبینو سترګو د ډیلي پر لور د تګ نه مصحلت سملاسي د هندي مشرانو د نادوستانه وضعې په تندي کې ولید او پرېکړه یې وکړه چې خپل وطن ته ستون شي. د مارچ په اوولسمه شاه له اسماعیل اباد څخه روان شو او په اتلسمه امبالا ته راورسېد او بیا د سرهند لور ته وخوځېد.(۱۹)

## شاه د پټیالې راجا امرسنګ درناوی وکړ:

نجیب الدوله د منل شویو پیسو له بابته دوه لکه روپۍ شاه ته ورکړې او شاه په ډېرې خوشحالۍ سره د سرهند حکومت ده زوی ظابط خان ته وباښه. راجا امر سنګ چې د دغه ځای خاوند و د دې لپاره احضار شو چې نهه لکه روپۍ یې ورکړې. داسې ویل کېدل چې دا پیسې په ده باندې د ده د

---

(۱۹) د فارسي مراسلې سالنامه، دویم ټوک، ۲۹۴، د ډیلي پېښې.

نیکه له وختـه چې پـه ۱۷۲۵ کـال کې پـه دغـه حکومـت باندې منـل شـوی و، پاتې وي. امر سنګ کله چې د شاه په کمپ کې و نجیب الدولـه یـو وار ده تـه داسې وویل: ((ستا د پټیالې دغه چوڼۍ څه ده، زه به تاته په نجیب اباد کې زما د پترګر چوڼۍ وښیم چې څومره پخه او پیاوړې ده.))

امر سنګ دغه اشاره داسې وګڼله چې ښایي دی به هغه نجیب اباد ته د بندي په توګه یوسي. د امر سنګ نیا، رانی فتو چې د الاسنګ کونډه وه په پټه سره له زړه سواند شاه ولي خان سره وکتل او له هغه څخه یې د خپل لمسي د خوشې کېدو په برخه کې چې روهیله مشر نیولی و، د پاملرنې هیله وکړه. هغې هم ده تـه یـو څو سوغاتونه ورکړل. شاه ولي خان د پټیالې د مشر لـه لوري منځګړتیا وکړه او بل سهار شاه نه یوازې امر سنګ خوشې کړ، بلکې د سرهند حکومت یې هغه تـه د (راجای راجګان) د لقب پـه ګډون وسپاره. ددغـو لورینـو پـه بـاب د مننـې د څرګندولو پـه خـاطر امـر سـنګ د افغـاني اعلیحضرت په نامه سکه ووهله او لـه خپـل مهـر سره یې د شـاه ولـي خـان د قبیلې ((بامیزي)) نوم علاوه کړ.[20]

شـاه د مـارچ پـه دویشـتمه نېټـه د سـتلج پـه غـاړه ماچېا وارا تـه راورسـېد د اپریل په سر کې ده تـه احوال راغـی چې یـو سلو شـل زره سـکان د ویسـاکي جشــن لپــاره پــه امرتســر کــې راټــول شــوي او جګـړې تـه چمتـو دي. شـاه د هوښـیارۍ لـه مخـې پرېکـړه وکـړه چې ژر پـه سـتلج پـوري نـه شـئ او دوه میاشتې هلته پاتې شو او د لښکرو کنډکونه یې د سکانو د ګوشمالۍ او ټکولو لپاره ورولېږل. څرنګه چې دا وخت د نجیب الدوله لـه روغتیا څه

(۲۰) د فارسي مراسلې سالنامه، دویم ټوک، ۳۱، حسین شاهي، ۶۷–۶۸، خوش وقت رای، تاریخ سکان، ۱۶۴.

موده ښه نه وه نو ده د مې په یوولسمه نېټه له شاه څخه رخصت واخیست او کور ته روان شو او خپل زوی ضابط خان او خپل نور خپلوان یې د شاه په کمپ کې پرېښودل.[۲۱]

## سکانو د نجیب الدوله پر سیمه برید وکړ:

د مې د میاشتې پر لومړیو ورځو کې یوه ډله سکان په پټه د شاه له کمپ څخه تېر شول او د نجیب الدوله سیمې ته ننوتل. څرنګه چې ده، دده وروڼو او زامنو د خپلو لښکرو په ګډون د سکانو پر خلاف په فعالانه توګه صفبندي کړې وه، نو سکانو مقصد له دغه راتګ څخه دا و چې هغوی د شاه له کمپ څخه راجلا او د سیمه ییزو مرستو څخه یې بې برخې کړي. دوی امبیتا، او ناناو تاو لوټل او میروت او شاملي ته ور وړاندې شول. ددغه چپاو څخه په خبرېدو سره نجیب الدوله له شاه څخه د مرستې غوښتنه وکړه او شاه جهان خان ته امر وکړ چې له اتو زرو تنو سره دواب ته وخوځېږي او سکان وشړي. جهانخان د نجیب الدوله د زوی ظابط خان په لارښوونه او پنځو زرو روهیله پوځونو سره شاملي ته په بیړه وخوځېد او په دریو ورځو کې یې یو سلو اتیا میله واټن وواهه. سکانو د هغوی د راتګ خبر څلور ګړۍ وړاندې ترلاسه کړ او د مې په نهه ویشتمه نېټه د جمنا پورې غاړې ته تېر شول. هغه کسان چې د دوی شاته پاتې شول افغانانو له تېغه وایستل. له سردار جانخان سره په تیت و پرک نښتو کې د سکانو یو سردار ووژل شو او سردار باګیل سنګ کارورسنګیا ټپ واخیست. جهان خان د دغو عملیاتو

(۲۱) د فارسي مراسلې سالنامه، دویم ټوک، ۳۲۳، - ۳۴۵، ۴۲۲، د ډیلي پېښې.

له بريالي سرته رسولو وروسته په اوو ورځو کې بېرته د شاه کمپ ته ځان راورساوه.[۲۲]

## د شاه په لښکر کې نارضايتي او د افغانستان پر لور دده ستنېدل:

افغاني پوځونو ه څه وخت د معاشونو ورکول ځنډېدلي وو. د هغوی يو ځلور سوه يا پنځه سوه کسيز کنډک ياغي شو او په خپل سر د افغانستان لور ته د کاسور، پاک پټهان او ملتان له لارې وخوځېد. د پنجاب سوځوونکي فصل او سخت باراني موسم چې رودونه په کې سېلاوي کېږي، په رانږدې کېدو وو. دا وېره هم موجوده وه چې ياغيان به په وطن کې نارضايتي زياته کړي او دا چې پاتې پوځ به ښايي په دغه ناروغۍ (بغاوت. م) اخته شي، له دې امله شاه د ملتان له لارې ظاهراً د دې لپاره چې له سکانو سره مخامخ نه شي، وطن ته ستون شو.[۲۳]

## سکانو بيا پنجاب ونيو:

که څه هم شاه دوه ځله نور هم هڅه وکړه چې په پنجاب کې خپل له لاسه وتلی موقف بيا حاصل کړي، خو دا (اتم بريد په هند.م) به په هند باندې دده وروستی بريد وشمېرو او په دغه يرغل سره په پنجاب کې دده مقبوضات (دومينونونه) پای ته ورسېدل. دده له ستنېدو وروسته سکان ډېر ژر د سند او جمنا ترمنځ د سيمې واکداران شول. د لاهور تش په نوم افغاني حکمران

---

(۲۲ ) طهماسنامه، ۱۲۱ الف-ب، نورالدين، احوال نجيب الدوله، ۱۱۱-۱۱۲، سرکار دويم ټوک، ۴۹۸-۴۹۹

(۲۳ ) علي الدين، عبرتنامه، ۲۸۰.

دادان خان په پټه لاهور او د هغه چونې خپلو مخکينيو بادارانو (سکانو) ته وسپارل او له عامه کار څخه په ورځ کې د شلو روپيو د تقاعد په اخيستلو سره ګوښه شو، په داسې حال کې چې رحمت خان روهيله خپل هېواد ته په شټ ولاړ. د سرهند سيمې د معمول په څېر د راجا امر سنګ او د پلکيان د نورو سکي مشرانو او نورو متحدينو په لاس کې پاتې شوی.[۲۴]

(۲۴) علي الدين، عبرتنامه، ۲۸۱، خوش وقت راى، تاريخ سکان، ۸۱-۸۲.

# ثلورویشتم فصل

## د بلخ، بخارا ، پنجاب او خراسان پر لور وروستي عمليات

(۱۷۷۰-۱۷۶۸)

### د بلخ او بخارا پر خلاف جنګي عمليات:

په شمال کې د بلخ خلکو او په شمال ختیځ کې د بدخشان وګړو له څه وخت راهیسې ستونزې پیدا کړې وې او په دغو ځایونو کې د جوتې سرحدي کرښې د نشتوالي له امله کله کله د بخارا له خلکو سره ټکر کېده. احمد شاه په دې فکر چې په دغو ځایو کې سوله او نظم ایجاد شي، شاه ولي خان د شپږو زرو انتخابي سپرو له یوه پوځ سره د ۱۱۸۲ل- ۱۷۶۸م کال، په پیل کې ولېږه. د افغاني وزیر د وړاندې راتلو څخه د خبرېدو له امله د بخارا واکمن مراد بای د بلخ د یاغي خلکو د امداد لپاره د یوه پوځ سره هغه لور ته راغی. شاه ولي خان احمد شاه د مرادبای په حرکت باندې خبر کړ. افغاني پاچا

سملاسي له کتمر څخه د يوه ستر پوځ په مشرۍ ووت او د شمال لويديځ پر لور هرات ته روان شو. له دغه ځای څخه شمال ختيځ ته وګرځېد او د مرغاب له رود (رود مروهم بلل کېږي) څخه واوښت او په ميمنه، شبرغان، اندخوی او بلخ کې يې خپل قدرت بيا ټينګ کړ. شاه ولي خان يې بدخشان ته ولېږه او په خپله د شمال لويديځ پر لور بخارا ته روان شو. له بلې خوا مراد بای هم له افغاني پاچا سره د جګړې لپاره ځان تيار کړ او د اکسوس (امو دريا) په لويديځه غاړه يې له اندخوی څخه څلور شپېته ميله د شمال خواته د قار شي په کلي کې کمپ غوره کړ. سره له دې هم د سولې خبرې پيل شوې او د دواړو هېوادونو ترمنځ د آمو د رود د يوې سرحدي پولې په توګه د ټاکل کېدو له امله دا خبرې په بريالي ډول پايته ورسېدې. دا موافقه هم وشوه چې خرقه مبارکه به چې څه وخت د حضرت اويس قاراني په ملکيت کې وه او دا وخت په بخارا کې ساتل کېده، مرادبای احمد شاه ته ورکړې. احمدشاه د حضرت محمد دغه مقدس يادګار يو لوی سپېڅلی ملکيت وګاڼه او په نهايي درنښت يې کندهار ته ورلېږداوه.[1]

## په هند باندې وروستی بريد:

(۱) سراج التواريخ، ۲۷. د خرقې مبارکې په باب زيات تفصيلات د همدغه اثر په ۲۷-۲۸ مخ کې وګورئ.
غبار په اخپل اثر ((احمدشاه بابا)) کې داسې کومه اشاره نه کوي چې احمدشاه بابا په خپله له مرادبای سره د مسالې د حل لپاره تللی وي. دده په حواله دا ټوله مساله د شاه ولي خان له خوا حل شوه دغه راز د نوموړي مولف په قول د بدخشان له فيض اباد څخه د خرقې مبارکې راوړل کندهار ته د شاه ولي خان له خوا سرته ورسېدل. خو عبار په دې باب کومه منبع يا معاصرين يا نور څه د خپل قول د تاييد لپاره نه راوړي. سره له دې هم ماته د سراج التواريخ بيان ډېر د باور وړ برېښي. د نوموړي (سراج التواريخ) مولف وايي چې د خرقې کيسه ماته خپل نايک اعليحضرت حبيب الله خان کړې ده (اووه ويشتم مخ.)

شاه د ۱۷۹۲ کال په پیل کې د وروستي ځل لپاره په پنجاب باندې خپل عملیات پیل کړل.

دی له اندس او جهلم څخه واوښت او د چناب تر کینې غاړې یې ځان ورساوه او د گجرات په شمال لوېدیځ کې له کنجا څخه شل میله لیرې په جوکالیان کې یې کمپ وټاکه. په دې وخت کې سکانو په دغه سیمه دومره زیات ټینګښت موندلی و، چې اوس یې تر هر وخت پخوا ماتېدل گران و. په دې برسېره د شاه د پیروانو ترمنځ اختلاف راغلی و او دی مجبور شو چې خپل وطن ته ستون شي. د پېښور او کابل ترمنځ لار کې دده په لښکر کې یوه بلوا پیدا شوه، دده په کمپ برید وشو هغه یې لوټ کړ او زیات شمېر مشران او سربازان یا مړه شول او یا تیت او پرک. شاه له کابل څخه کندهار ته ستون شو.[۲]

## د نصرالله میرزا پر خلاف عملیات:

وروسته شاه په خراسان کې د شاهرخ د زوی نصرالله میرزا بغاوت ته پاملرنه واړوله. نصرالله میرزا په پنجاب کې د شاه پرله پسې ماتو او د سکانو په ځپلو کې دده د ناکامیو له امله زړور شو او د مشهد او متحدو پارسي سیمو د خپلواکۍ دعوا یې وکړه، خو ده په خپل لاس کې کوم پیاوړی لشکر نه درلود. په ۱۱۸۱هـ (۱۷۶۷-۶۸م) کې ده د کریم خان زند دربار وکوت او له هغه څخه یې د مرستې غوښتنه وکړه، خو په دې ځای کې ده ته څه بود نه کړل او بریالی نه شو. وروسته ده کوردانو ته سترگې وروا ړولې او د هغوی د

(۲ ) علي الدین، عبرتنامه، ۲۸۲، عمدة التواریخ، لومړی ټوک، ۶۵، د فارسي مراسلې سالنامه، دویم ټوک، ۱۳۶۵، ۱۴۹۹.

یوه لښکر د برابرولو لپاره په ۱۱۸۲هـ کې هغې سیمې ته روان شو (۱۷۶۸م) په چېناران کې د جعفرخان، یوسف علي خان او نقد علي خان له خوا د شپږو زرو پارسي سورو په ګډون ده ته هرکلي وویل شو. دوی نصرالله ته یو څه هغه جواهرات پیش کش کړل چې د نادر د مړینې پر وخت کې د دوی لاس ته ورغلي وو، ځینې نور غوره مشران لکه محمد حسین زعفرانلو، رضا قلي خان (د محمد رضا خان خامپکلو زوی او ((دولت خان شادرلو)) هم ده په خدمت کې شامل شول. د قوچان واکمن د محمد حسین خان زوی اله وردی خان که څه هم په خپله خوښه له ده سره پیوست شو خو امر وشو چې هغه دی قصاصګاه ته بوتلل شي. د اله وردي خان په شان یوه مشر ته په دومره سپکه او ټیټه سترګه کتلو سره د کوردانو په شوق و شور باندې سرې اوبه توی کړې او دوی خپلو کورونو ته هغه وخت ستانه شول چې خبر راغی احمد شاه د خراسان پر لور د تګ په لار کې هرات ته رارسېدلی دی. نصرالله میرزا د قوچان مشر ازاد کړ او له خپلو متحدینو سره یې اختلافات یوې خوا ته پرېښودل.[۳]

د ړانده شاه رخ د زوی په ناوړه نیت باندې چې د هغه وجود په مشهد کې د شاه په بزرګوارۍ او مرحمت پورې تړلی و، د پوهېدو سره سم، شاه د هرات له لارې د خراسان پر لور وخوځېد (۱۱۸۳هـ، ۱۷۶۹-۱۷۷۰م) او تربت شیخ جام او لنګر یې ونیول.

دا وخت نصرالله له خپلې ټولې قوا سره په بیړه د مشهد خوا ته راروان شو او د شاه رخ په مشوره یې خپل کشر ورور نادر میرزا د کریم خان زند څخه د

(۳) مجمل التواریخ، ۱۳۶-۱۳۸، الفنستن، کابل، ۲۷۹، احمدشاه بابا، ۲۹۲.

مرستې د ترلاسه کولو لپاره ولېږه. د لارې په اوږدو کې ده (نادر) له تبس څخه چې د کخک په سویل لوید یځه یو سلو شپږ میلي کې پروت دی، کتنه وکړه. ددغه ځای مشر علي مردان خان خپلې ټولې منابع د شهزاده نادر په واک کې ورکړې او د شاه پرخلاف یې یو لښکر برابر کړ. په عین حال کې شاه هم مشهد ته راورسېد او هغه یې کلابند کړ. نصرالله د ښار دروازې وتړلې او د هغه مورچلونه یې کلک کړل. کله چې به ده د سلو څخه تر زرو تنو پورې د ښار څخه د باندې لېږل چې د کلابند کوونکو د پوځ په اړخونو (جناح) باندې برید وکړي او خپل پلټنه ییز ټوپک وربانديې تش او بیا په شا د ښار لور ته مخ کې له دې چې د افغانانو لاس ورسېږي، وتښتي.

ابن محمد امین وایي چې د کلابند شویو څخه په کلا بند کوونکو باندې د یوه برید په ترڅ کې اته سوه افغانان ووژل شول.[۴]

په داسې حال کې چې د مشهد کلابندي روانه وه، دا خبر راورسېد چې علي مردان خان د نادر میرزا په ملګرتیا له تبس څخه د قوې په تجدید سره راروان دی. احمد شاه قولر اقاسي، رسول خان د څلور زرو تنو په مشرۍ د دوی د مقابلې لپاره واستول، خو دی له ګونا باد سره نږدې د پارسیانو له خوا له ماتې سره مخامخ شو او نه سوه پنځوس تنه افغانان له منځه لاړل. شاه ورپسې خپل نامتو جنرال جهانخان او جنګیالی بلوڅ میر نصیر خان یې د اتو زرو سورو او شپږو زرو پلیو افرادو سره ور واستول. سلطان اباد ته د دوی په رسېدو سره ددغې سیمې مشر عبدل علي خان یوې بلې چونۍ ته وخوځېد او په هماغه شپه نادر میرزا او علي مردان خان ورسره پیوست

(۴) مجمل التواریخ، ۱۳۸-۱۴۰ احمدشاه بابا، ۲۹۲-۲۹۳.

شول. بل سهار علي مردان خان په افغانانو يو بريد وکړ، خو کله چې دی د افغانانو د ټوپک والاوو منځ ته ور ننوت د ګوليو تر باران لاندې راغی او ووژل شو. په دې وخت کې بې مشره پارسيانو د تېښتې لاره غوره کړه. ميرزا نادر سلطان اباد ته وتښتېد او د جهانخان او مير نصير خان له خوا تعقيب شو، خو دوی کولی شول مشهد ته وتښتي.[۵]

## شاه په مشهد کې:

سره له دې هم دا بده وګڼل شوه چې د مشهد ښار چې په کې د امام رضا زيارت دی، وسوځول شي. له دې امله شاه ولي خان له شاه رخ او نصرالله ميرزا سره خبرې اترې پيل کړې او د هغو په برياليتوب پای ته رسېدلو سره شاه ښار ته ننوت او له هغوی سره يې ډېر دوستانه اړيکې پيل کړل. شاه رخ خپله لور ګوهر شاد شهزاده تيمور (د احمد شاه زوی) ته په نکاح ورکړه او ژمنه يې وکړه چې د افغاني اعليحضرت د خدمت لپاره د پارسي لښکرو يو کنډک برابر کړي. د واده مراسم په مشهد کې د شاه په کمپ کې په ډېر درنښت ترسره شول. نصرالله ميرزا له خپل لوري څخه خپل يو ډېر ښايسته سپين آس چې ((غريب)) بلل کېده او پنځلس زره روپۍ يې بيه درلوده شاه ته د سوغات په توګه ورکړ او شاه په ډېره خوشالۍ هغه ته د ((فرزند خان)) لقب وباښه. احمد شاه دا نيت نه درلود چې خراسان تر خپل مخامخ کنټرول لاندې راولي، نو له دې امله ده دغه هېواد شاه رخ ته وسپاره چې د معمول په څېر يې ده ته اداره کړي. شاه رخ په راتلونکي کې د خپل ښه سلوک د

---

(۵) مجمل التواريخ، ۱۴۰-۱۴۲.

تضمین په خاطر خپل یو زوی یزدان خان شاه ته د یرغمل په توګه ورکړ. دا د احمد شاه وروستي عملیات وو چې له هغې وروسته د ۱۱۸۴هـ (۱۷۷۰م د جون نهمه) کال د سفرې په اتمه نېټه د کندهار خواته رارowان شو.[۶]

(۶) مجمل التواریخ، ۱۴۳-۱۴۶، الفنستن، کابل، ۲۹۷-۲۹۸، احمدشاه بابا، ۲۹۳-۲۹۶.

# پنځه ویشتم فصل

## د احمد شاه وروستۍ شپې ورځې او مړینه

### په ۱۷۷۱م کې په هند باندې د برید په برخه کې د شاه ناتواني:

میرقاسم چې د بنګال له دومنیون څخه بې برخې شوی و، پخوا یې د څه وخت لپاره هڅه وکړه چې په هند کې د انګرېزانو پر خلاف یوه اتحادیه تنظیم کړي. دی له مرټانو او سکانو سره په دې فکر په تماس کې ولوېد چې په بنګال باندې د برید لپاره د هغوی مرسته راوکاږي. خو هېڅ یو یې دده مرستې ته ورنه غی، ده یوازې احمد شاه ته د امید سترګې وروا ړولې. ده په خپله هغه لیکنه کې چې د ((حیدراباد دکن)) نظام ته یې د ۱۷۷۰ کال د مارچ په اوه لسمه نېټه کړې وه دا سې څرګند کړل. ((چې دی له احمد شاه ابدالي څخه پرته بل کوم دوست نه لري، خو هغه په خپله په افغانستان کې په خپلو کورنیو مسایلو بوخت دی.))

پـه همدغـه شـان روهیلـه وو هـم د ۱۷۷۱ پـه پیـل کـې د مرېټـانو پـر خلاف دده مرسـته وغوښـتله او دوی غوښـتل چـې د احمدشـاه د لګښـتونو وخت ددې توان نه لري چې د یوې اله ګولې پیش بیني وکړي او هغـه غلـې کـړي، ده پـه بېرحمۍ سره سردار زال بیګ وواژه. ((خو سردارانو ورتـه وویـل چـې دا کـار خو ستاسو په امر وشو.)) شاه ځواب ورکړ: ((مګر ما د دیلاور خان د اعدام امر تیمور ته نه و کړی، هغه څه وکړه، سیاسي ملحوظات او سیاست بـه دا ایجابول چې زه په دوو تورنو باندې د مـرګ حکـم وکـړم، خو مخفي دلایلو چې سلیمان ورباندې پوه و، دا حکم کاوه چې سلیمان پـه دې برخـه کـې ((د زال بیګ د وژلو. م)) زما اطاعت ونه وکړي. په دغو خبرو سره سرداران قـانع شول او د شاه اطاعت یې ومانه.

## د احمد شاه وروستۍ ورځې:

د ۱۷۷۲ کال په اوړي کې دده ناروغي دومـره یـوه خطرنـاک حد تـه ورسـېدله چې د پـزې پاسـنۍ برخـه او د پـزې او مـرۍ تـرمنځ خـوا یـې ونیولـه. لاروا او چنجیان په دغه برخه کې راپیدا شـول او تـر دې حده چې د خوړلو او څښـلو پر وخت به یې خولې ته راتویېدل. د کاچوغې له مرستې پرته یې پـه سـختۍ سره څه خوړلی شول. کله چې طبي علاج ناکـام شـو نو دی د سلیمان پـه غـرو کې یوه ځای تـه چـې تو بـه معـروف بلـل کېـده او لـه کندهار څخـه نهـه میلـه د ختیځ لور ته و، ولاړ. تیمور شاه د خپل پـلار د نـاروغۍ لـه سـختېدو څخـه د خبرېدو سره سم له هرات څخه راووت او کندهار ته راغـی. شـاه ولـي خـان لـه هغه سره دومره ښه تمایل نه درلود. ده د شاه غوښـتـه پـه دې وخـوړل چـې امـر وکړي دی ببرته خپل ولایت ته په ځپ ولاړ شي. ده (شاه ولي خان) بې فایدې

شاه ته ګيلې او عرضونه وکړل. بد مرغه شهزاده مجبور و چې د خپل پلار په مړينې کې د حاضرېدلو څخه پرته بېرته ولاړ شي.

## د شاه مړينه:

د شاه مرض ډېر ژر پسې سخت شو. د ژوند په اخر کې دده خبرې په سختۍ سره پوهېدل کېدلی شوې او دده بنګېدل يوازې دده د اشارو او ياقوت خان په مرسته درک کېدلی شول چې دده څنګ ته به ناست و، خو څه وخت وروسته دده دا هم نه شول کولی چې ياقوت خان پوه کړي. دا وخت شاه د خپل مطلب د پوهولو لپاره مجبور و چې وليکي. په دغسې يوه بېچاره او لاعلاجه حالت کې احمدشاه د ۱۱۸۲ هـ کال د رجب په شلمه (د ۱۷۷۲ کال د دسمبر درويشتمه) د جمعې په شپه له دنيا څخه سترګې پټې کړې.[۳]

## شاه په کندهار کې خاورو ته وسپارل شو:

ياقوت خان چې د شاه لوی خواجه (عقيم سړی. م) او باوري شخص و، د شاه مړينه يې پټه کړه او تيمورشاه ته يې وليکل چې چابک کندهار ته راشي او د سلطنت واګې په لاس کې ونيسي. په عين حال کې دی له شاهي جنازې سره پايتخت ته رارهوان شو او هغه يې په يوه تذکره (د ناروغانو په کټ کې) کېښود او اوازه يې خپره کړه چې شاه سخت ناروغ دی او هدايت يې کړی

(۳) مجمل التواريخ، ۱۴۷-۴۸، حسين شاهي، ۶۸-۷۰، تاريخ سلطاني، ۱۴۶-۱۴۷، فيرير د افغانانو تاريخ، ۹۱-۹۲، مالسن، د افغانستان تاريخ، ۲۹۱-۹۲، الفنستن، کابل، ۲۹۸.
الفنستن او ورپسې فيرير او مالسن د احمدشاه د مړينې تاريخ د ۱۷۷۳ کال د جون په مياشت کې ښيي. مجمل التواريخ دغه پېښه د ۱۱۸۵ کال د جمادی الثاني په پای کې بولي چې د ۱۷۷۱ کال د اکتوبر سره مطابقت لري. عمدة التواريخ، لومړی ټوک، ۱۶۶، وايي چې شاه د ۱۱۸۶ کال د ربيع الاول په دويمه (۱۷۷۲ کال د جون لسمه) مړ شو. ما افغاني منابع تاريخ سلطاني او سراج التواريخ تقليد کړل. حسين شاهي کومه نېټه نه ښيي.

چې څوک يې مزاحم نه شي. ده په دقت سره پر دې په جنازه راکش کړې او مړی يې داسې جوړ کړ چې هېڅوک يې ونه ليدلی شي ياقوت خان به کله کله تذکرې ته رانږدې کېده چې ګواکې له شاه څخه د اوامرو لپاره راځي او يا هغه ته ببوزي وهي.

دغه راز ده د جنازې له څنګ سره نږدې په کچرو باندې خزانه وړله دا ددې لپاره چې په هغو يې تل سترګې ولګېږي. په ټوله لار کې څوک په دې راز پوه نه شول يوازې کندهار ته يوه ورځ مزل پاتې و چې شهزاده سليمان د خپل پلا د ليدنې لپاره راغی او په دې وخت کې د شاه مړينه اعلان شوه. مړی په کندهار کې د ښار په لوديديځه څنډه کې په اته اړخيزه ساختمان کې خاورو ته وسپارل شو. دلته يوه کتيبه داسې لوستلی شو:

((احمد شاه درانی يو لوی پاچا و دده د عدالت داسې ترپ و چې ګوزنه او زمری په سوله کې يوځای سره اوسېدل. دده د بريو په غږ سره دده دښمنانو غوږونه پرله پسې کاڼه شوي وو.)) (۴)

(۴) فيرير، د افغانانو تاريخ، ۹۲، مالسن، د افغانستان تاريخ، ۲۹۲، هاملتن، افغانستان، ۱۹، محمد حيات خان، حيات افغاني، ۲۲.



Mausoleu of Ahmad sha at Kandahar

# شپږ ویشتم فصل

## د احمد شاه شخصیت او کارنامې:

لکه چې په تېرو مخونو کې مو ولیدل د احمد شاه نبوغ د هغه په غوره پوځي شهکاریو کې خپله بشپړه څېره څرګندوي. ده د خپل پوځي او سربازۍ د مسلک ترڅنګ ځینې لوی بشري صفتونه درلودل. لوی افغان چې د یوه سرباز په توګه خدای پیدا کړی و، په ذاتي ډول د خلکو لاربښود، رهبر، یو زړه سواند واکمن، یو توانمند اداره چې او د پوهې او ادبیاتو حامي و.

## د احمد شاه ونه او څېره:

ډاو وايي: ((په ۱۷۶۷ کال کې چې دی د پنځه څلوېښت کلو په عمر کې و، په ونه جګ، غښتلی او څورب والي ته مایل ښکارېږي. دده مخ په پوره او فوق العاده توګه ګردی دی. ږیره یې زیاته توره او څېره یې په زړه وړونکې توګه ښکلې ده. په عمومي ډول دده بڼه برم لرونکې او د فوق العاده شان او پاخه ذهن څرګندوونکې ګڼل کېږي.))[1]

دی چې طبعاً ډېر زړور او پیاوړی و، د افغاني مېړانې یوه مطلوبه او ایدیاله څېره یې ښکاره کوله. یوازې د خپل عمر په پای کې یې څېره د پوزې

(۱) (داو)، د هندوستان تاریخ دویم ټوک، ۴۰۸-۴۰۹.

په سر د ټپ او په غومبورو او ټنډه باندې د زخو د پيدا کېدو له امله لږ څه بې ډوله شوې وه.

ده يو ډېر لوړ، زړه راکښوونکې او جذاب شخصيت درلود. په رښتيا هم ده په خپل نوراني مخ او بېساري خوی کې داسې څه درلودل چې د ټولو محبت او تمجيد يې ده ته ور په برخه کړی و. دی چې له هلکتوب څخه ډېر با استعداده و، د نادرشاه پاملرنه يې ځانته واړوله او نوموړي دی د تل لپاره په خپل ځانګړي او شخصي ارکان حرب کې وساته او په نهايت زياته اندازه يې دده ستاينه کوله. يو وخت نادر په عام دربار کې وويل: ((ما په ايران، توران او هندوستان کې داسې کوم سړی چې د ابدالي احمد په څېر د ستاينې وړ استعداد ولري، ليدلی نه دی.)) (۲)

د نادر دغه خبرې په پيغمبرانه توګه رښتيانې شوې. د دکن نظام الملک اصفجه کله چې د ۱۷۳۹ کال په مارچ کې دی د ډيلي د ديوان عام چونې ته نږدې د جالې دروازې څخه بهر د لومړي ځل لپاره وليد، نو پاچاهۍ ته يې دده د لوړېدلو پيشګويي وکړه.

صابر شاه ملنګ په ده کې په نادرشاه ((پسې)) څرمه سړي نښې نښانې وليدې او کله چې ده (ملنګ) په ۱۷۴۷ کال کې د افغاني خلکو د سردار په توګه د انتخاب کېدلو په منظور دی د يوه کانديد په حيث پيشنهاد کړ، نو ټولو په يوه اتفاق د احمد شاه تود هرکلی وکړ. په هرکلي کوونکو او تاييدوونکو برخه والو کې حاجي جمال خان په خپله حاضر و، چې د جرګې

(۲) حسين شاهي، ۱۱.

زیاتې رایې یې ګټلې وې او د افغاني لویانو او نجیباوو په منځ کې ډېر زورور او متنفذ شخص و.

## شخصي کرکتر او ذوقونه:

الفنستن وایي: ((داسې برېښي چې دی خندان، مودب یا رون تندی او د ښه سلوک او طبیعت خاوند و. په رسمي او دولتي مواقعو او محافلو کې ده ډېر لوړ شان و شوکت غوره کاوه، خو په نورو وختونو کې دده کړه وړه ساده او عادي وو او له درانیانو سره هماغسې یو شان[۳] رواجي ولسي سلوک چلاوه چې د پاچا د لقب له غوره کولو څخه دمخه یې درلود. احمد شاه دینداره سړی او مذهبي فکر یې درلود. ده د علماوو، منورینو او روحاني (سپېڅلو) ډلو سره مینه لرله. ده له ملایانو او ملنګانو (دروېشانو) سره په ډېر درنښت رفتار کاوه او له صابرشاه سره دده علاقه خو ښېخي هر چاته څرګنده ده. ده به تل له کابل څخه د پنجاب پر لور لار کې تل د څمکنیو له شیخ عمر او د لاهور او باټالا د والیانو سره په دغو ځایو کې د تم کېدو پر وخت کې لیدنې کتنې کولې. په ۱۷۶۰ کال کې ده په ډیلي کې هغه وخت د خواجه نظام الدین اولیا زیارت وکړ چې د جټانو پر خلاف یې پوځي عملیات ترلاس لاندې ونیول. همدا شان د پاني پت له تاریخي جګړې وروسته دی د بوعلي قلندر زیارت ته لاړ. په داسې حال کې چې ټول لویان او لوړ رتبه مامورین به دده په حضور کې به درنښت ولاړ وو، سیدانو او ملایانو ته د ناستې اجازه ورکړل شوې وه. په همدې ډول ده به هره پنجشنبه

(۳) الفنستن، کابل، ۱۹۸ – ۲۹۹، تاریخ سلطاني، ۱۴۷.

علما ، فقرا او دینداره ملنګان د شپې ډوډۍ ته رابلل ((لـه هغـوی سره بـه پـه هغو علومو او مذهبي مسایلو غږېده.)) چې دی ورسره ډېر علاقمند و. (( دی په خپله هم یو متقي او سپېڅلی شخص و او تـل یـې د یـوه ولـي د کرکتـر لېوالتیا درلوده)).

دی په خپل قول ډېر ټینګ ولاړ و او د خپلو ژمنو په سرته رسولو کې یې تـل وفاداري ښودله. د نادر شاه له اولادې سره دده له زړه سوي او لـه هغـوی سره په داسې حال کې حوصله کول چې دده په مقابل کې یې پرلـه پسـې دښـمنۍ ته لاس واچاوه، دده د سخاوت او وفادارۍ روحیه څرګندوي.

یوه ورځ یو هندو درویز ګر راهب سوا مي پران پورې اردباهو د خپل چکر پر وخت له غزني سره نږدې څېرمه ساحه کې د شاه په لښکر وربرابر شو. شاه بـه حتماً د طبي بوټو په باب د هندي راهبانو پـه پوهـه بانـدې خبر و او د دوی د نسـخو پـه فـوق العـاده اغېزمنتـوب پوهېده. کلـه چې یـې خپـل کمپ تـه د سوامي پران پوري له راتګ څخه واورېدل، د خپلې پـوزې پـر سر د ټپ او زخې په بـاب یـې ورسره مشـوره وکړه او د هغـې د عـلاج پـه بـاب یـې د یـوې نسخې غوښتنه ترې وکړه. خو د شاه د نـاروغۍ عـلاج یـوه جراحي ایجابولـه چې سوامي د هغې په هکله کافي پوهه نـه لرلـه. لـه دې امله ده یـوازې خپلـې پوهې ته اسره وکړه او شاه یې په یوه رمز داسې پوه کړ: (( ستاسـو د سلطنت او ددغه ټپ ترمنځ یوه اړیکه شته او هغه دا چې دا به بې خطره نه وي چې لـه یوه ځان خلاص کړې مبادا د بـل یـوه ((وجـود)) د لـه منځـه تلـو لـه خطر سره مخـامخ شـې)). دغـه پیشـنهاد شـهزاده (احمد شـاه) د تاییـد وړ وګرځېـد.

یو ازې دده د ژوند وروستۍ ورځې وې چې دی په دې پوه شو دده ناروغتیا په یقیني ډول علاج کېدونکې نه ده.

فیریر وایي: (( دی له هغو زیات وجرایمو څخه چې په عمومي توګه د ختیځو ملتونو په افرادو کې رواج دی، لکه نشه ( د شرابو یا تریاکو څخه )، دوه مخی، حرص، ظلم، فارغ او لیرې و... دی تل د مذهب او دیانت سخت حامي ګڼل کېده. )) احمد شاه چې د یوه مهربان، زړور او د سخا خاوند یو سړی و، نو د خلکو په ټولو ډلو کې یې شهرت درلود. دی د نارینه سپورتونو، رسولي او ښکار شوقمن و او له اسونو سره یې زیاته مینه لرله. عماد الدین حسیني د تیمور شاه په حواله ویلي دي چې یو وخت چې شاه ولي خان له شاه څخه وپوښتل ولې دومره غمجن دی، هغه ځواب ورکړ: (( زما آس ترلان ناروغ دی )). وزیر په ډېر درناوي بیا عرض وکړ: ((په شاهي اصطبل (غوجل) کې خو په زرګونو اسان شته. )) شاه وویل: (( له زیاتې هڅې وروسته زه (دواسپه) ( د دوو اسو خاوند ) شوم (ترلان او همدان خو اوس یې یو ناروغ دی. زه ځکه خفه یم چې مبادا بیا به یو اسپه شم. ))[۴]

## دده کالي او خواړه:

احمد شاه ډېر زیات ساده کالي اغوستل او په سختۍ سره کېدلی شول په دغه برخه کې له نورو لویانو او اشرافو څخه یې توپیر وشي. په هغه یوه تمثال کې چې د لاهور په مرکزي موزیم (اتم مخ) کې ساتل شوی دی، داسې معلومېږي چې یوه پارسي خولۍ یې پر سر ده چې په هغې برسېره یوه جیغه

(۴) الفنستن، کابل۲۹۸–۲۹۹ مالسن، د افغانستان تاریخ، ۲۷۲–۲۷۳ فیریر، د افغانانو تاریخ، ۹۲، ۹۳، حسین شاهي، ۴۱، د پنجاب د تاریخ د ټولنې مجله (۱۹۲۳)، نهم ټوک.

او یو سرپېچ شته. د یو بې غوړو یا بې غاړې کمیس برسېره یې چې تنګ لستوڼي لري، یو پوستنین اغوستی دی. دده په خولۍ او مټو باندې د مرغلرو او جواهراتو ژی (مرصع څنډه یا پیڅه یا لیکه) نه لیدل کېږي او هم یط د نادرشاه په شان د مرغلرو کوم لاکت یا اوږۍ په غاړه کې نه برېښي. له افغاني شلوار یا پرتوګ سره په یوه نامزین او اوږده مستطیل ډوله تخت ناست دی.

دی به په خپل شاهي تخت ډېر لږ کېناسته او کالي یې له یوه لوی څادر (شال) (چې د لونګۍ په توګه په سر کېده) په نخي یا پومبه یي کمیس برسېره له یوه رنګه او یا ګلدار واسکټ (جاکټ) یا یوې چرمي کرتۍ او یوه ارت افغاني پرتاګه څخه جوړ شوي وو. دا ډول کالي د افغان ملت د دغه وخت کالي وو چې د اوسنۍ پېړۍ تر لومړیو لسیزو پورې لیدل کېدلی شي.

محمد حیات خان په خپل ((حیات افغاني)) کې موږ ته وایي چې د افغاني نجباوو کالي د یوې خولۍ برسېره د یوې ښایسته لونګۍ له یوه اوږده ګلداره کمیس چې چوګه (یوه ارته کرتۍ) ورباندې اغوستل کېدله یوه ارت څادر، یو کمربند (د تکي څخه جوړ او د کمیس برسېره د ملا څخه تاوېده، خو تر چوګې لاندې چې ورپورې به پیش قبضه ځړېدله او یوې تورې څخه وو چې به په یوه چرمي تسمه په کینه خوا په کمربند پورې به تړلې وه. په ژمي کې د یوه وړین پنډ جاکټ (بنیل) او یوې اوږدې تور رنګې نصواري کرتۍ په وسیله یې له سړو او باد څخه ځانونه ساتل. دوی داسې کلک چرمي بوټونه په پښو کول چې د مخ څوکه یې پورته او بیا د شاوخوا

ته د ژمي کې دوی د دغو بوټونو پرځای وه (ښایي د پڼو په بڼه به وي. م) په هاتي د شونډک په څېر راکږه شوې وه او بېده بوټونه (ښایي موزې. م) او د تنکي څرمنې جرابې (ماسې) په پښو کول.

احمد شاه په خوړو کې هم همدا شان ساده بڼه غوره کړې وه ده له څو ډولیزو او هوسۍ او غیر ضروري خوړو څخه ځان خلاص کړی و. د نورو افغانانو په څېر به ده پلو (چې تازه غوښه ورسره وه او کله کله به په هګیو او پیازو سره ښکلې کېده)، تازه یا وچه غوښه، کباب، پنېر او پېروی د خمیره شوې پخې ډوډۍ، مېوې او شربتو په ګډون خوړل.[5]

## دده روغتیا:

د یوې پېړۍ، د څلورمې برخې په خپل فعاله ژوند کې احمد شاه د یوې ډېرې ښې روغتیا خاوند و. یوازې په اوه څلوېښت کلنۍ کې د خپلو اوږدو او ناکراره اجراتو اغېزې یې حس کړې. په هغې برسېره دده د شکرې مزمنې ناروغۍ او په پرله پسې توګه دده انرژي تحلیل کړه. خو دده ناوړه ناروغي او شکایت د پوزې پر سر د ټپ او ((مردار دانې)) څخه عبارت و چې په پرله پسې توګه یې دده مخ د خپل عمر په وروستیو دوو کلونو کې تخریب کړ. دغو عواملو دده له جسمي کمزورتیا سره مرسته وکړه او په یو پنځوس کلنۍ کې د خپل سخت او ژوندي کار قرباني شو.

## زده کړه او د پوهېدلو سره مینه:

---

(۵) حیات افغاني، ۱۳۰، غبار، احمدشاه بابا، ۵۰-۵۲.

که څه هم داسې کوم مدرک نه شته چې وښيي احمد شاه د خپلې ښوونې او روزنې لپاره ښوونځي ته تللی وي، خو واقعیت دادی چې نه یوازې باسواده و، بلکې د هېواد په ملي ژبو ډېر ښه پوهېده. داسې برېښي چې د خپلې ځوانۍ په لومړیو وختو کې ده په مدرسه کې یو څه زده کړه وکړه او په پښتو او پارسي کې یې مهارت ترلاسه کړ. په شعر ویلو کې یې ډېر ښه استعداد درلود. دده اشعار د ژبې له مخې ساده او په جوړښت کې عنعنوي برېښي. بیا هم د احساس په لحاظ هغه ډېر پاخه او فوق العاده دي. په ۱۳۱۹هـ ق، ۱۹۴۰م کې دده د اشعارو یوه مجموعه په کابل کې خپره شوه چې عنوان یې ((لوی احمد شاه بابا)) و.

احمد شاه د باتالا د شاعر واقف ډېر ستاینکې و او هغه یې په کندهار کې خپل دربار ته راوباله. وایي چې واقف دا لاندې بیت ده ته وواېه:

ندیده هیچکس ظل پیغمبر

بحمدالله که ظل الله دیدم

له ده څخه کوم او او نو بیوګرافیکي، یاد ښتونه یا نورې لیکنې پاتې نه دي چې د هغو له مخې دده د نثر د سبک په باب قضاوت وکړو. د تاریخ احمد شاهي مولف محمود الموساني وایي چې احمد شاه د میر مهدي خان استرابادي ((د تاریخ نادري)) د ژبې او سبک زیاته ستاینه کوله او په دې لټه کې و چې یو څوک په همدغسې قدرت او بریالیتوبونو سره د خپل تاریخ د لیکلو لپاره راپیدا کړي.

په ((مراسلات احمد شاه دراني)) کې یو شمېر داسې رسمي مکتوبونه او فرمانونه شته چې احمد شاه دراني ته منسوب شوي دي. خو مکاتیب په عمومي ډول د شاهي اوامرو سره سم د منشیانو او کاتبانو له خوا لیکل کېدل، نو له دې امله دا ویلی نه شو چې دغه فرمانونه او مکاتیب به د شاه خپله انشا او لیکنه وي.

## احمد شاه او ارټ:

په داسې یوه زمانه کې چې توره تر قلم زوروره وه، د جګړې له هنر څخه کوم بل شی دومره ښه غوړېدلی نه شو. احمد شاه هر یوه بل څه ته دومره زیات وخت نه درلود. هغه لږ څه فرصت به چې ده د دوو پوځي عملیاتو ترمنځ وقفه کې بیاموند، هغه به یې د خپلو مفتوحه ځایو او فتوحاتو د استحکام او د بل پوځي برید لپاره د تیاري په برخه کې مصرف کاوه. په دې سرببره دی دې ته پاتې نه شو چې اوږد ژوند وکړي او د سولې کارونو ته پاملرنه واړوي.

احمد شاه د یو څه زده کړې او شعري ذوق په لرلو سره د شاعرانو او لیکوالو حمایت ته پراختیا ورکړه. لکه چې لږ څه وړاندې مو وویل د باتالا شاعر نورالعین واقف په ده ډېر ګران و او کندهار ته راوبلل شو او دلته هغه ته د یوه دولتي مېلمه په توګه ښه راغلاست وویل شو او پالنه یې وشوه. د مولانا محمد حسین ازاد په ((نګارستان فارس)) کې د دغه شاعر ذکر راغلی دی (له **۲۲۵** څخه تر **۲۳۲** مخ پورې.)

نظام الدين عشرت د احمد شاه یو بل ګران شاعر و. دی د سیالکوټ اوسېدونکی و، په ۱۷۵۷ کال کې له ډیلي څخه د شاه د راستنېدونکي سفر پر وخت دی له سیالکوټ څخه راغی او افغاني پاچا ته یې وروسته له دې چې هغه له چناب څخه واوښت، د احترام لپاره ځان ور وړاندې کړ او تر کابل پورې د هغه سره ملګری و. نظام الدین په ۱۱۲۲هـ کال کې د ((نادر نامې)) په نامه د نادرشاه یو شعري بیان ولیکه. داسې برېښي چې په شاه باندې د دغه شاعر کار اغېزه وکړه او له هغه څخه یې وغوښتل دده د خپل سلطنت یوه شرحه ولیکي. د شاه له اوامرو سره سم د دارالانشا رسمي مورخ او شاهي منشي میرزا محمود له خوا مواد او مدارک د شاعر په واک کې ورکړل شول او هغه سیالکوټ ته ستون شو. په ۱۷۲۲ کې دغه شاعر له بامیزي سردار نورالدین خان سره کشمیر ته په تګ کې ملګرتیا وکړه او په دغه ځای کې هغه د ((امین)) (قضایي مامور) په توګه وګومارل شو. نظام الدین ((شاهنامه احمدیه)) چې په شپږ سوه څوارلسو مخونو کې یوه مثنوي ده، تالیف کړه. د احمد شاه د سلطنت یو په زړه پورې شعري شرحه ده چې د شاه په مړینې او په ۱۷۷۲م کې دده د زوی تیمور شاه په تخت کېناستلو باندې پای ته رسېدلې ده.

په نثر کې احمد شاه د میرزا محمد مهدي استرابادي ستاینه کوله چې ((د تاریخ جهانکشای نادري)) یا په بل نامه ((تاریخ نادري)) مولف دی. له دې امله ده په ۱۱۲۷هـ کې په مشهد کې له میرزا مهدي سره د خپلې اوږدې دوستۍ پر اساس میرزا محمود الموساني انتخاب کړ او هغه یې په دارالانشا کې د یوه مورخ په توګه وګوماره چې له ((تاریخ نادري)) سره په

ورته سبک دده د سلطنت تاریخ ولیکي. میرزا محمود ددغه اثر د تاریخ احمد شاهي په نامه ولیکه چې د هغه یو لنډیز د ((مخلص تاریخ احمد شاهي)) نومېږي.[۷]

احمد شاه د ښارونو او ودانیو له جوړولو سره ژوره مینه درلوده. د نادر شاه له خوا د کندهار د زاړه ښار ورانولو په ده ژوره اغېزه وکړه. د پاني پت له بري وروسته افغانستان ته د ستنېدو پر وخت احمد شاه د کندهار د نوي ښار تاداو (کندهار احمد شاهي یا اشرف البلاد) کېښود چې د هغه شرحه لېږ څه مخکې په شلم فصل کې وړاندې شوه. ددغه ښار په شمالي برخه کې شاهي چونۍ جوړه شوې ده چې د هغې په څنډو کې د لښکر لپاره موقتي پوځي خونې، توپخانه، اسلحه خانه، جبه خانه، د وسلې جوړولو فابریکه او شاهي اصطبلونه ودان شوي دي. د شاه د بازار په پای او د چونۍ ترمنځ ((مسجد جامع شاهي)) جوړ شوی دی. خو په کندهار کې د احمد شاه له خوا تر ټولو ښکلې جوړه شوې ودانۍ د حضرت محمد (ص) د مبارکې خرقې د خوندي ساتلو لپاره په یادګار پاتې ده. داسې فکر کېده چې دا ودانۍ به دده تر مرګ وروسته دده خپله مقبره وګرځي.[۸]

په **۱۷۵۳**م (۱۱۶۲هـ) کې ده د کابل ښار ته په دې خیال منظمه بڼه ورکړه چې د هغه تر شاوخوا د یوال راتاو کړي. دلته هم ده په **۱۷۶۵**م (**۱۱۸۳**هـ) کې د شاه اسحق ختلاني زیارت جوړ کړ چې له بالاحصار سره نږدې د شاه شهید په

(۷) محمد حسین ازاد نګارستان فارس، **۲۲۵**-**۲۷**، محمود الموساني تاریخ احمدشاهي، عشرت، شاهنامه احمدیه.
(۸) غبار، احمدشا بابا، **۱۷۵**-۱۷۶، بیلیو، جورنال، **۸۲**، نادرشاه په **۱۷۳۷**م کې د کندهار د زاړه ښار د کنډوالو په سویل ختیځ دوه میله کې په خپل نامه د یوه ښار (نادر اباد) تاداو کېښود. لاکهارت، نادرشاه، **۱۱۵**، غبار احمدشاه بابا، **۱۷۶**-۱۷۷. دا داسې یو ځای و چې مهاجرو ته ورکول شوی و. د مستعمرې خاوندان په داسې حال کې چې د اصلي ملک او هېواد تابعیت یې درلود، دلته استوګن شوي وو. م.

نوم یاد ېږي. ددغه زیارت کار دده خواجه سرا یاقوت خان تر څارنې لاندې وشو. په ۱۱۷۰هـ (۱۷۵۶-۵۷م) کې ده محراب خان او عبدالکریم خان په مکه معظمه کې افغاني حجاجو لپاره د یوه رباط د جوړولو په غرض هغه ځای ته لېږل. د تاشقرغان او سنی ښار هم چې د مزارشریف په ختیځه ځلو ښت میلې کې پروت دی د احمدشاه له خوا د زاړه خلم پرځای کې چې ((ده فرعون)) یا ((د فرعون کلی)) نومېږي، ودان شو. د حیدراباد ښار دده پر وخت کې دده د نایب غلام شاه خان له خوا د هغه وخت د سند په ولایت کې تاسیس شو.

شاه د ګلکارانو (بنایانو) او لرګي کیندونکو یو ستر حامي ګڼل کېده. ده د افغانستان له ختیځو برخو او هند څخه د کندهار نوي ښار ته دا شان ماهران راوبلل او هغوی اوس هم په همدغه نامه شته چې ((د محله بنایان)) په نامه یادېده له او اوس هم په همدغه نامه شته چې د همدغو لومړنیو مهاجرو بنایانو اولاده په کې ژوند کوي.[9]

د احمدشاه خپله مقبره هم د هغه وخت د معمارۍ یوه ښه او په زړه پورې نمونه ده. د لرګي کیندلو او ګلانو جوړولو او سینګارولو مهارت وده وکړه او د هغوی نمونه په هغو کورونو کې لیدل کېږي چې په هماغه وختو کې جوړې دي. داسې برېښي چې شاه موسیقي او نقاشي ته ښه پاملرنه ونه کوله. د هغه وخت نقاشي ډېرې پاتې نه دي. د لاهور په مرکزي موزیم کې ددغو نقاشیو یوازې یوه نسخه شته چې د هغې یوه فوتو کاپي ددغه لیکوال په مولفه کې د قاضي نورمحمد خان له جنګنامې څخه (په ۱۹۳۹

(۹) غبار احمد شاه بابا، ۱۷۶-۱۷۷.

کې خپره شوه ) واخیستل شوه. دده یو بل رسم چې دده د عمر په پای کې کښل شوی، د میر غلام محمد غبار په ((احمد شاه بابا )) کې چې په ۱۹۴۴ کال کې په کابل کې خپور شو، درج دی.

## مهذب او زړه سواند واکمن:

احمد شاه د یوه مهربان واکمن په توګه هېڅکله بې دلیله او بې احتیاطه توره نه ایستله. ده هېڅ وخت دا میل نه درلود چې حتی خپل سخت دښمنان مجازات کړي او تل یې رحم کاوه ((دغه زړه سوی او ترحم دی دې ته اړ کاوه چې تل خپل یاغي مشران وبښي دا سې مشران چې دوی نه شول کولی د ته ته د اطاعت غاړه کېږدي، حتی د دوی ترمنځ دی تل په دې خوشاله و چې سوله او روغه وکړي. )) ده د هرې ګناه سره سره د مجرمینو د پوزې او غوږ پرېکول بند کړل او د مریي وژلو حق یې له خاوند څخه واخیست. ده خپل مشر زوی د یاغي سردار، زال بیګ خان، د وژلو له امله محکوم کړ. دده په نظر د مشر زوی دغه قتل د هغه د بد او تند خوی بې لزومه خیانت او دده په خته کې د زړه سوي نشتوالی وګڼل شو. کله چې لویانو شاه ته په دې باب عرض وکړ چې دا قتل خو دده په امر ترسره شو شاه په ځواب کې وویل: (( ښایي سیاسي محلوظاتو به دا حکم کولو چې دواړه مجرمین (زال بیګ او ) اعدام شي خو سلیمان باید د ځینو پټو او مرموزو دلایلو له مخې چې ده ته معلوم و، په دې برخه کې زما اطاعت کړی نه وای. )) په هند کې دده افراطي حرکت به احتمالاً دده پوځي او نظامي مشر سردار جانخان سخت زړه توب ته منسوب کړلی شو. سردار جانخان د خپل خوی په لحاظ په ډېرو مواردو کې د خپلو بهرنیو سیاسي دښمنانو پر خلاف چې د افغاني

دومنیون د پراختیا په لار کې خنډ کېدل، په خپلو پوځي غچ اخیستنو کې له شاه سره ببخي توپیر درلود.[۱۰]

## دده د حکومت ماهیت او بڼه:

څرنګه چې احمدشاه د خپلو خلکو له خوا شاهي جاه و جلال ته رسېدلی و، ده دا ثابته کړه چې په هر لحاظ د ډاډ او باور وړ دی. ده ډېر زیات شمېر غیر متجانسې او مخالفې جنګیالۍ قبیلې سره متحدې او یو متجانس افغاني ملت یې ترې جوړ کړ. دده ستر خدمت دا و چې خپل ولس یې د بهرنیو د تسلط له جغ څخه خلاص کړ او هغوی یې ((د تابعیت له غولي څخه د خپلواکۍ تخت ته راپورته کړل.)) ده بېلابېلې افغاني سیمې یوه سیاسي واحد (افغانستان) ته سره رامتحدې کړې. سرپرسي سایکس وایي چې ((هغه هېواد چې اوس یې افغانستان بولي، صرف د کوچنیو ولایتونو یا دولتونو له یوې مجموعې څخه جوړ شوی چې د جبارو مشرانو له خوا اداره کېدل. دغه مشران تل له یو بل سره په نښته کې و. ورپسې دغه دولتونه د یوې سترې امپراتورۍ ولایتونه شول چې د بهرنیو فاتحینو او د هغوی د اولادې له خوا پرې حکومت کېده. له هغې وروسته دا امپراتورۍ بیا ټوټه ټوټه شوه او د دربو ګاونډیو دولتو له خوا ونیول شوه. افغانستان اوس د لومړي ځل لپاره په خپل تاریخ کې یو خپلواک دولت شو.)) چې د یوه

(۱۰) فیریر، ۹۱-۹۲، الفنستېن، کابل، ۲۹۸.

افغاني پاچا له خوا پرې واکمني کېږي. دا احمد شاه و چې د دغې خارق العاده پېښې د منځته راتلو سبب شو.[11]

که د ق.م. د ۵۰۰ کال راپدېخوا د افغانستان تاريخ وسپړو ، وينو چې په دغه کال کې دا هېواد د هخامنشي داريوش د امپراتورۍ يوه برخه وه. په ۳۳۱ ق.م کې دغه هېواد د اسکندر په مشرۍ د يونانيانو له خوا ونيول شو ، سره له دې هم تر دوه سوه پنځوسم ق. م هغه تش په نوم دده (اسکندر) د ځای نيوونکو له خوا اداره کېده. په دغه کال کې اشوکا په هندوکش او د هغې تر شاه برخو کې بشپړ قدرت ټينګ کړ. ورپسې دا سيمه د يوچپانو لاس ته ورغله او ورپسې کوشانيان ډګر ته راووتل چې د هغو نامتو پاچا کنشکا له بوديزم او د هغې له کلتور سره مرسته وکړه. دا دين چې د اشوکا له خوا دلته معرفي شوی و ، د کنشکا پر وخت خپل لوړې پوړۍ ته ورسېد. د پارتيانو په باب چې د دريمې ميلادي پېړۍ په سر کې د اردشير له خوا راوغورځېدل، لږ معلومات په لاس کې لرو. او د شير د ساساني سلسلې يا کورنۍ موسس دی. څلورمه او پنځمه ميلادي پېړۍ د سپينو هونانو او مغولي ترکانو د سيالۍ او برترۍ لپاره د مبارزو شاهدي ورکوي چې په نتيجه کې يې د ساساني امپراتور ((خسروانو شيروان)) په مشرۍ د پارسيانو حکومت بيا ټينګ شو.

کله چې لوی چيني زاير هيون- تسنګ له بلخ څخه د افغانستان په منځ کې تېرېده، ده دا درک کړه چې دا هېواد د بودايي ترکانو له خوا اداره کېږي. په ۶۹۹-۷۰۰ م کې له بصرې څخه د عبدالرحمن په مشرۍ د عربي مسلمانانو

---

(۱۱) سايکس، افغانستان، ۳۶۷، فيرير، ۹۶.

لومړنی جنګي ټولګی د کابل رود ناوی ته راورسېد. مغلوب شوي ترک ته اجازه ورکړل شوه چې تر عربي حاکمیت لاندې خپله واکمني او سلطنت وساتي، خو سره له دې هم دا د قطیبه ابن مسلم (ابو مسلم) پر غاړه ولوېده چې د هېواد ترکي ولس مسلمان کړي.

د غزني یمیني کورنۍ په ۹۷۱ م کې د الپتګین له خوا تاسیس شوه. ددغې شاهي کورنۍ دریم پاچا سلطان محمود و چې دولس واره یې په هند باندې یرغل وکړ او په ۱۰۲۴م کې د سومنات بت او معبدوران کړ. په غزنویانو پسې غوریان راغلل او په دغو وروستیو پاچاهانو پسې د خوارزم د پاچا محمد خان په مشرۍ د ترکانو وار راغی. محمد خان چې په خوارمشاه نامتو و په ۱۲۲۱م کې د مغولي چنګېز خان له خوا له پښو وغورځېد. په داسې حال کې چې یو وخت (۱۳۳۲-۱۳۷م) په هرات کې د مغولي کنټرول د توقف په ترځ کې تاجیکي کورنۍ خپله اصلي خپلواکي ترلاسه کړه، کابل، غزني او د ختیځ افغانستان زیاته برخه د مغولو په کنټرول کې پاتې شوه. ګورګاني تیمور چې یو برلاس ترک او پایتخت یې سمرقند و، د څوارلسمې پېړۍ په پای کې ختیځې برخې ونیولې او حکومت یې پرې وچلاوه او ورپسې بابر راغی چې له سمرقند څخه شړل شوی و. بابر د ۱۵۰۴ کال په اکتوبر کې کابل ونیو او په ۱۵۲۲م کې یې کندهار تابع کړ.

بابر په ۱۵۲۲ کې په هند کې د مغولي امپراتورۍ تاداو کېښود او د افغاني ملک یوازې ختیځې برخې کله کله دده د اولادې له خوا د هند د امپراتورۍ د یوې برخې په توګه نیول کېدلې. ټول افغانستان هغسې چې نن ورځ جوړ

شوی، هېڅکله په کوم یوه وخت کې د یوې متحدې امپراتورۍ او پاچاهۍ جز نه دی ګرځېدلی. د هرات او مزارشریف ولایتونه او د فراه او امیمنې حکومتونه (ولسوالۍ.م) هېڅ وخت د مغولي امپراتورۍ په چوکاټ کې رانغلل. د بدخشان ولایت په **۱۵۸۴** کې د ازبکانو لاس ته ورغی. په **۱۲۳۹** کال کې مغولو ونیو، خو په **۱۲۴۷-۱۲۴۸** کلونو کې یې خپل اصلي خاوندانو ته وسپاره.

**۱۵۵۸** کال کې کندهار د پارسیانو لاس ته ورغی، خو په **۱۵۹۵** کې اکبر هغه بیا ونیو او تر **۱۲۰۵** کاله یې چې دده د مړینې نېټه ده، وساته. د کندهار پر سر د پارس او هند ترمنځ تر **۱۷۴۷** کال پورې چې کله کله به یې کنټرول د یوه او بل په لاس کې لوېده، مبارزه جاري وه. په دغه کال کې دا ځای بالاخره د احمدشاه دراني لاس ته ورغی. یوازې د کابل ولایت و چې تر **۱۷۳۸** کال پورې د مغولو د امپراتورۍ د برخې په توګه اداره کېده او په همدغه کال کې د نادر تر کنټرول لاندې شو.

احمدشاه په **۱۷۴۷** کې ډګر ته راووت د افغانستان د تاریخ ټول مسیر او تګلاره واړوله. دی چې د افغانانو په منځ کې پیدا او را لوی شوی او افغاني وینه یې په رګونو کې چلېده، وکولی شول د خپلو خلکو په نبض پوه شي او د دوی په ارواحو او احساساتو کې ورننوځي. له دې امله هغه د خپلو خلکو او رعایاوو په خوی او تعصباتو برابر خپل حکومت جوړ کړ. په داسې حال کې چې د قدرت اصلي مزي یې په خپل ځان کې متمرکز کړل، د قبیلو اداره یې خپلو مشرانو ته پرېښودله او په مقابل کې یې هغو صرف دا ژمنه

وکړه چې د خپل قوت په اندازه د سورو یو یو کنډک له ده سره په پوځي عملیاتو کې مرسته وکړي.

د فیریر په قول ((دده حکومت یو فدرالي جمهوریت ته ورته و او ده ددې پرځای چې مطلقه پاچاهي وکړي، ددغه جمهوریت مشر و.)) د هېواد په عمومي اداره کې له ده سره د لویانو او مشرانو یوې نهه کسیزې شورا مرسته کوله او هېڅ یو غوره اقدام د دوی له خوښې پرته کېدلی نه شو. ده هېڅ وخت په قبایلي مشرانو د خپل ستر والي او لوړتیا غوښتنه نه کوله، ځکه یو وخت دی له هغوی سره یو برابر و او دوی هغه پاچاهي قدرت ته راپورته کړ. دغه راز ده په افغاني ولس کې د خپلې خپلواکۍ د روحیې په ژوندۍ کولو سره د هغوی غرور او چت کړ او هغه د کورنش غلامډوله دود (د خپل ځان د ټیټولو او مځکې ښکلولو عادت) بند کړ چې چا به دده سلام ته د راتګ پر وخت کې ترسره کاوه او امر یې وکړ چې د سلام لپاره یوازې تندی ته د لاس پورته کول کافي دي.(۱۲)

## د احمد شاه مذهبي سیاست:

که څه هم افغاني هېواد زیاتره له مسلمانانو څخه ډک دی او په کلیو او بانډو کې هندوان یا سکان نه لیدل کېږي، خو بیا هم په ښارونو او ښارګوټو کې یوه ښایسته اندازه هغوی تیت او پرک شته. جارج فورستر چې په ۱۷۸۳ کې د احمد شاه له مړینې څخه یوازې یوه لسیزه وروسته په افغانستان کې وګرځېد، وایي: ((چې په ښارونو کې زیاتره هندوان او د پنجاب

(۱۲) تاریخ سلطاني، ۱۴۷، فیریر، ۹۳-۹۵، غبار، ۴۴.

ماهومتیان ژوند کوي.)) همدغه مسافر لیکي: (( په کندهار کې زیاتره ملتاني او راجپوتي هندي کورنۍ مېشتې شوې دي. دوی د خپلې صنعتي او تجارتي پوهې په لرلو سره خپله سوداګري او شتمني پراخه کړې ده. د بخارا او سمر قند ترکمني تجاران او سوداګر په وار وار غه بازار ته راځي او له دغه ځای څخه خپل هېواد ته په زیاته اندازه نیل لېږدوي. کندهار ته هر کال د پاسني هند له بېلابېلو برخو څخه دغه ماده رارسېږي. د هغوی د سوداګرانو له خوا د زیاتو هڅېو نیول چې په چلولو او لېږدولو کې یې اساني او هوسایي شته، په کندهار کې د دوی د ازادۍ او مصوونیت او خوندي توب شهادت ورکوي.))

مذهبي حوصله د افغاني ولس یوه غوره خاصه ده، که څه هم د خپل سلطنت په دوران کې احمدشاه او دده سوني هېوادوالو د خراسان د شیعه ګانو او د هند د هندوانو او سکانو پر خلاف عمل وکړ او غالباً یې د کفارو پر ضد له جهاد څخه د سیالانو د ځپلو لپاره د یوې سیاسي وسلې په توګه کار واخیست، بیا هم ده په ندرت سره په دغه برخه کې مذهبي تعصب په افراطي حد په کار وړی دی. شاه هغه وخت چې له مرټانو سره جګړې ته تیاری نیوله، د ۱۱۷۳ هجري کال د شعبان په دیارلسمه (۱۷۶۰م) یې د احمدخان بنګښ له لیدو وروسته د نغارې په وهلو سره دا اعلان کړه چې (( د ولایت (افغانستان) له خلکو څخه هېڅ یو د هندوستان هندوانو یا مسلمانانو ته باید مذهبي تعصب ونه ښیي او هم فاتحان (د شاه سربازان) به باید د کمزورو په مقابل کې د تېري، ظلم او ځورولو څخه کار واخلي،

هېڅوک باید دې ته مجبور نه شي چې د بل یوه مذهبي او ټولنیز مراسم په زور ومني.))

شاه له مرتهانو سره د خبرو اترو لپاره هندو وکیلان، انندرام او کلراج وګومارل او د کشمیر او لاهور د والیانو په توګه یې په ترتیب سره هندو سکجیون او کابلی مال وټاکل.

هندوانو او سکانو دلته د تجارت او سوداګرۍ د ((بشپړې خپلواکۍ او مصوونیت)) ترڅنګ د خپلو مذهبي عباداتو په برخه کې پوره ازادي درلوده او د دوی په معابدو او ګوردوارا ګانو کې هېڅکله مداخله نه کېدله. ځینو هندوانو او سکانو له پېړیو راهیسې په افغانستان کې له کومې وېرې او بدبینۍ پرته د افغاني ګاونډیانو سره ژوند کړی دی. ددغې خبرې ستر ثبوت دادی چې په ۱۹۴۷ کال کې هغه وخت چې د پاکستان نوی ګاونډي دولت جوړ شو په هغه کې هندوان او سکان د لیدل کېدو په صورت کې وژل کېدل او نارینه، ښځې او کوچنیان په عامه توګه ووژل شول یا وربړېدل، خو دا شان غیر انساني بڼه او پېښه هېڅکله په افغانستان کې ونه لیدل شوه.

د کابل له بالا حصار سره نږدې د ارمني عیسویانو یوه مستعمره (د مهاجرینو ټاټوبی) موجود و. دوی لومړی ځل د نادر شاه له خوا د هغه د ترکیې په جنګي عملیاتو کې نیول شوي و او په شمالي پارس کې مېشته شول، خو له دغه ځای څخه احمد شاه افغانستان ته راوستل. د فورستر د ۱۷۸۳ کال د بیان پر اساس دوی په خپلو منځو کې ودونه کول او د عیسوي دین د مراسمو په اجرا کې هغوی ته بشپړه اجازه ورکړل شوې وه چې د خپل

يو ه ملي مذهبي مشر تر رهبرۍ يې سرته ورسوي. دوی د مرحوم (احمد ) شاه په ګارد کې شامل و او دده په بېلابېلو پوځي عملياتو کې يې حضور درلود.

د سنيانو په مقابل کې د پارس د شيعه ګانو د ژورو تعصبونو سره سره احمد شاه چې په خپله سني و ، له هغوی سره په لبراله توګه چلند وکړ. فورستر وايي: (( شيعه ګانو زيات مذهبي تعصبات په ځان کې نغښتي وو او د مذهبي تعصب په اور کې سوځېدل او په نتيجه کې د سنيانو په نسبت د نورو مذهبي ډلو سره بې حوصلې و. په پارس کې دوی يوه سني ته ددې اجازه نه ورکوله چې له دوی سره يوځای ډوډۍ وخوري او په عامه اصطلاح دوی پرته له کوم قهر او غضب څخه په هغه د کافر حکم کاوه... د خراسان په برخه کې چې د افغاني امپراتور خبر و ، پارسيانو پوره کورنۍ او مذهبي ازادي درلوده او په ندرت سره کېدلی شول څوک ورته په سپکه وګوري ) ).[۱۳]

## د يوه ملت جوړوونکې:

د احمد شاه د کار ستره وړتيا په دې کې وه چې ده افغاني قبيلې سره متحدې کړې. کله چې دی په ۱۷۵۰ کې په هند باندې د دويم بريد څخه راوګرځېد ، امر يې وکړ چې د افغان ولس احصايه واخيستل شي. ده ته افغانان د پارسيانو او هندي بې شمېره خلکو په تناسب يو وړوکې ملت وبرېښېد. ده هيله وکړه چې افغانان هم همداسې وغوړېږي او قوت يې

(۱۳ ) فورستر، له بنګال څخه يو سفر، دويم ټوک، ۷۹، ۸۶-۸۷، ۱۰۳، ۱۳۰-۱۲۱، فيرير، ۹۳، الفنستېن، کابل ۲۷۷-۷۸، ۲۹۹، مراسلات دراني، ۵۰ سار ديسای، د مرتهانو تاريخ، دويم ټوک، ۴۴۸.

زيات شي. ددې لپاره چې د دوی شمېر زيات شي ده د افغاني مليت انګړ ته ټولې پښتو ويونکې قبيلې سره راټولې او حتی د ايماقو او بلوڅو ژبې‌بدلي پښتانه يې د خپل نوي دولت په بېلابېلو ولايتونو کې مېشته کړل. په تېره بيا د هلمند په غاړه او فراه کې يې خواره کړل. ده هيله لرله چې افغانان له يو بل سره کلک لاسونه ورکړي او پرديو خلکو ته خپلې لونې واده نه کړي.[١۴]

## دده ټولنيز اصلاحات:

احمد شاه د ښځو موقف اوچت کړ. ده د طلاق نابرابر دود ته چې په هغو کې نر تر ښځې زيات امتيازات لرل، له منځه يوړل. ده په جدي توګه د کونډو ودول منعه کړل. دده د مرګ پر وخت شاه ووېل يوازې د کونډې نږدې خپلوانو لکه پلار، زوی او سکه ورور کولی شول هغه واده کړي. که چېرې خپلوان يې نه وي نو د خپل متوفي مېړه په کور کې بايد ژوند وکړي او د هغه په شتمنۍ سره د مرګ تر وخته واوسي. کله چې واده شوې ښځه د کوم ماشوم له پيدا کېدو پرته مړه شي د هغې پلار ورور يا نور خپلوان د هغې له مېړه څخه يې ميراث غوښتی نه شي. سره له دې هم شاه ووېل چې ميراث يوازې د زوی برخه ده او لونې ترې څه غوښتلی نه شي. تر دغه وخته لوڼو د پلار په جايداد کې برخه اخيستله او کله کله به يې خپلو غير افغاني مېړو ته له خپل پلار څخه راشکوله.[١۵]

## پوځيانو ته دده پاملرنه:

---

(١۴ ) حيات افغاني، ٢٢۵، ۶٩٢، الفنستن، کابل، ٢٩٩، فيرير، ٩٣، مالسن، د افغانستان تاريخ، ٢٩٩.
(١۵ ) تاريخ سلطاني، ١۴٧، فيرير ٩٣.

احمد شاه د خپلو بهرنیو پوځي عملیاتو په نتیجه کې یوه ستره اندازه شتمني چې له ولجو څخه جوړه وه، راغونډه کړې وه، خو ((د افغانستان مالیات یا عایدات هېڅکله دده په شخصي صندوقچو کې نه اچول کېدل)). دی حریص نه و او د یوه زمري په شان یې ارت زړه درلود چې خپل دوستان پیروان به یې په لاس ته راوړي ښکار باندې سرګرم او خوشاله ساتل. دده هېڅکله د پیشو خاصیت نه غوره کاوه چې کوم وخت یوه ګوله پیدا کړي د خوړلو لپاره یې یوه کونج ته ځان له ننه باسي. دده به په ښکاره توګه د جنګ ولجه او غنایم په خپلو افرادو وېشل او دده به تل دوی د ولجې په برخه کې خپل برخه خور او یا شریکان شمېرل. د تاریخ سلطاني په حواله دده سربازان یو وخت د نیشاپور په کلا بندۍ کې په مضیقه اخته شول نو یې د شاه خزانې ته لاسونه ور اوږد کړل. ((خزانه چې)) یا خزانه دار دا موضوع شاه ته ورسوله، خو شاه هغې ته څه غوږ ونه نیو. کله چې دغه مامور بیا په تحمیلي توګه دده پاملرنه دغې موضوع ته ور واړوله، دی راتاو شو او ویې ویل: ((ته نادان په دې نه پوهېږې چې زه هم د دوی له جملې څخه یو تن یم او د دوی په هماهنګۍ او د هغوی په توره او همت سره زه دغه لوړ مقام ته را اوچت شوم. زه یقیناً خپل سربازان په دغه شتمنۍ کې باید شریک وګڼم. کله چې دوی له ما څخه زما شتمني چې په حقیقت کې د دوی د هڅو نتیجه ده وغواړي او زه یې هغوی ته ونه وېشتم زه د خلکو او خدای(ج) پر وړاندې مخ توری یم.)) (۱۶)

(۱۶) تاریخ سلطاني، ۱۴۷.

ده د یو سلو شلو زرو سورو په شمېر خپل پوځ برابر کړ چې په هغه کې دده د خادمانو او نوکرانو او قبايلي مشرانو کنډکونه شامل وو. ده باور درلود چې لټې او بې کاري به دده د جنگيالیو مشرانو او تابعينو (رعيت) باندې خواشيني کوونکې او بې زړه کوونکې اغېزه وکړي، نو له دې امله ده تل دوی په بهرنيو بريدونو کې اخته وساتل. دغو بريدونو ددې ترڅنګ چې دده پوځ يې په يوه نظم کې راوستلی و، د يوه ستر سرباز په توګه يې دده شان او شوکت زيات کړ او د نړۍ په نزد يې دده هېواد لوړ وښود دده د يوځ د ساتنې لپاره يې وسايل برابر کړل او د هغه د ولس د عمومي نېکمرغۍ او وياړ سره يې مرسته وکړه.

## افتخاري لقبونه:

شاه د خپلو سردارانو، لويانو، اشرافو، ملکي او عسکري ستر رتبه مامورينو د اعزاز او اکرام په منظور د افتخاري نومونو په ورکولو کې د زاړه افغاني او مغولي دود څخه استفاده وکړه، له دغو لقبونو څخه يو شمېر يې د مامورينو د صفاتو له امله لکه له شاه سره صداقت، يووالی، وفاداري او محبت او يا اداري استعداد د يوې مانا لرونکې وو. په دې ډول: (شاه ولي خان)، (شاه پسند خان)، (شاه دوست خان)، (جهانخان)، (جان نثار خان)، (فرزند خان)، (وفادار خان)، (کفايت خان)، (خان خانان)، (مشرف خان)، (نظام الدوله)، (مخلص الدوله)، (امين الملک)، (التفات خان)... او نور.[۱۷]

(۱۷) غبار، احمدشاه بابا، ۱۷۳.

فیریر وایي: (( هغه قوانین چې ده د خپل سلطنت په دوران کې جوړ کړل، په شدت او سختۍ سره یې عملي جامه واغوستله او خپلې اولادې ته یې امر وکړ چې هماغسې چلند وکړي. خو د احمد شاه استعداد د خپل سلطنت د زیاتو پراخولو او د بریالیتوبونو د ګټلو په نسبت په دې برخه کې زیات د ستاینې وړ دی چې بېلابېل افغاني قبایل یې خپل قانون ته تابع کړل. ))

دغه لیکوال وړاندې وایي: (( ده له خپل ځان څخه خواخوږی زړه سواندی او ښه والی نورو ته وښود. په عین مودبانه شان و شوکت کې دده ساده او نرم خوی د ټولو هغو کسانو په زړه کې له ده سره مینه پیدا کړې وه چې ورسره به شخصاً مخامخ کېدل. ده ته ورتلل ډېر اسان وو او په ډېرو عادلانه اصولو سره یې پرته له دې چې حتی د سختۍ خبرې وړ کس ته کومه یوه سخته او تونده خبره وکړي، عدالت چلاوه. دوی روغه کوونکي او هڅوونکي وو او هېڅا له هغه قضاوت څخه شکایت ونه کړ چې ده به کړی و. ))[18]

**نتیجه:**

د احمد شاه پوځي مېړانې، جګړه ییزو فعالیتونو او د هېواد په دننه کې کورني او ملکي اداري یوه داسې عقیده راپیدا کړه چې د هغې له مخې د هند یو معاصر مورخ الکزاندر ډاو (۱۷۶۷م) ویلي دي: (( که چېرې دی د ډیلي تخت غوره کړی... نو د امپراتورۍ د لرغوني قدرت راژوندي کولو لپاره به دی تر ټولو مناسب شخص وي. ))[19]

---

(۱۸) فیریر ۹۳- ۹۴.

(۱۹) د هندوستان تاریخ.

خو دا يوازې هغه وخت ممکنه وه چې ده د بابر يا د هغه وړاندې کسانو په څېر په دايمي توګه هند خپل وطن ګرځولی وای او له خپل اصلي هېواد څخه يې اړيکې شلولې وای. ډيلي ته له کندهار څخه يوازې د پايتخت لېږدولو کفايت نه کاوه، وخت او دوران بدل شوي و او سکان د يوه پياوړي پوځي قدرت په توګه ګرځېدلي وو.

((ډال)) يا د سکانو ملي لښکر له سرتېرو سربازانو او با استعداده رهبرانو څخه جوړ شوی و چې له هغو څخه يو شمېر په نړېدې وختونو کې د فوق العاده سياسي او پوځي هوښياری، ښښې ښښانې له ځانه وښودلې. دغه راز دوی د (راخي) په نامه يو اصل رامنځته کړ او هغه دا و: هغه کسان چې غواړي سکان يې ساتنه وکړي نو د خپل حاصل شلمه برخه تش په نوم مرسته به د ((ډال)) هغه پوځي کنډکونو د کس دانې (خس دان. م) لپاره تاديه کړي چې د همدغه منظور لپاره استول کېږي. دوی (سکانو) د ډيلي له مغولي پاچاهانو څخه د سختې مبارزې په ترڅ کې خپلواکي ګټلې وه او دې ته حاضر نه و چې د کابل د افغانانو واکمنۍ ته غاړه کېږدي. شاه به د ډيلي لور ته له ستلج څخه پورې وتلی نه و او يا دا چې دی به د خپل کور په خوا له چناب څخه اوښتی نه و چې سکانو به په خپله مورنۍ سيمه کې خپل ځانونه خپلواک کړل او هغه څه به يې بيا ترلاسه کړل چې د يوې شېبې لپاره يې له لاسه ورکړي و. د دوی (سکانو) شړل او په دايمي توګه تسليمول تقريباً ببخي ناممکن و. د ډيلي او افغانستان ترمنځ ددغسې نه ماتېدونکي زړورتوب او وطن پالونکو هيلو خاوند خلکو په موجوديت سره شاه ددې خطر سره مخامخ کېده چې که ډيلی د خپل شاهي پايتخت په توګه غوره

کړي، نو له افغانستان څخه به چې دده د قدرت اصلي منبع وه، جلا شي. شاه هېڅکله دد غه خطر منلو ته تیار نه و.

د ډیلي سویل خواته مرټهان پراته وو چې د هندوستان د سلطنت خیال یې په ذهن کې ساته که څه هم شاه د پاني پت په جګړه کې دوی ته ماتې ورکړه، خو بیا هم په هند کې لا دوی قوي وو او په ډیلي کې د خپل قدرت د ټینګولو لپاره یې یوې مناسبې موقع ته کتل. له هغوی وروسته ((د بهارتپور)) زړور جټهان په مخ کې خنډ وو چې د هغوی مشر سورج مال هغه وخت د ۱۷۵۷ کال په مارچ کې د شاه قوت ته ګوابښ وکړ چې لوی مغول عالمګیر ثاني دده پر وړاندې پړمخ په خاورو پروت و. احتمالاً دوی به د مذهبي یووالي او قومي غرور په وجه دا غوره ګڼلې وای چې له مرټهانو سره وحدت وکړي او د دښمن په مقابل کې د هغوی قوت ته پراختیا وبښي.

له بلې خوا شاه په هند کې داسې پیاوړي متحدین نه درلودل چې په پنجاب کې سکان غلي کړي او د ډیلي په شاوخوا کې له مرټهانو سره په بري مقاومت وکړلی شي. د مالر کوټلا افغانان دومره زورور نه وو چې له ده سره مرسته وکړي. په دې برسبره دوی خپله خپلواکي په خپل قوت ترلاسه کړې نه وه، بلکې له سکانو سره د نواب شېر محمد خان د احسان په لحاظ یې د سکانو په مرسته وګڼله. نوموړی نواب د ګورو ګو بند سنګهـ له زامنو سره هغه وخت احسان کړی و چې دی د ۱۷۰۴م کال په دسمبر کې د سرهند د وزیر خان له خوا مړ شو.

له بلې خوا ددغو افغانانو خپلواکي د پلکیان د مشرانو د خواخوږۍ محصول و چې د بدې ورځې پر وخت به هغوی ودرېدل. داود ((نواب وزیر

شجاع الدوله)) له پنجاب څخه ډېر لرې و او په مشکل سره ددې عهدې څخه وتلی شو چې په ښکاره له شاه سره وحدت وکړي او د مرېټانو او د ختیځ هند د انګرېزي کمپنۍ (چې دواړه په هند کې د افغاني نفوذ مخالف و) پر خلاف راپورته شي. دا چې له درېو خواوو څخه دې د هغوی (سکانو، مرېټانو، انګرېزانو. م) په منځ کې راګیر و نو وجود یې د دوی په اختیار کې و. د فرح اباد روهیله هم دومره زیات غوره نه و چې وربانديې تکیه وشي او له شاه سره د دوی همکاري هېڅکله فعاله وه. نجیب الدوله په یوازې توګه په هند بانديې د شاه د برید پر وخت خپل ځان له شاه سره تړلی و. خو نوموړی صرف یو وړوکې مشر و چې لږې منابع یې لرلې او د سکانو، جټانو او مرېټانو په مقابل کې یې یوازې په خپله هوښیارۍ سره ژوند کاوه. کله چې هند ته شاه راغی، نو دی غالباً دې ته مجبور نه و چې د نجیب په جګړو کې ونډه واخلي. په دې سبب نجیب الدوله له ددې په پرتله چې د هغه یو شریک واوسي یو متعهد ګڼل کېده.

په هند کې په دغو نامساعدو شرایطو برسېره کله کله په خپل وطن او خراسان کې هم ده ته اله ګولې پیدا کولې چې دده وجود ته یې اړتیا پیدا کولو او ددې سبب کېده چې دی سملاسي له هند څخه په څټ کور ته لاړ شي.

په دې ټولو علاوه په خپله د شاه نظر د ډیلي د تخت په باب د پاملرنې وړ دی. داسې برېښي چې ده هېڅ وخت دا تمایل نه درلود چې هند ونیسي او یا هغه خپل وطن وګرځوي او ډیلی د امپراتورۍ د مرکز په توګه انتخاب کړي. ده دا هیله درلوده چې په هند کې خپل فتوحات د پنجاب شاوخوا سیمې ته

محدود کړي. دا ځای ده په ۱۷۵۲ کال کې له خپلې امپراتورۍ سره یوځای کړ په ۱۷۵۷ کې ده خپل زوی تیمور په لاهور کې د خپل نایب په حیث پرېښود خو شهزاده له یوه کال څخه زیات ونه کولی شول هلته ژوند وکړي. ده بیا په ۱۷۶۱ کې د پاني پت له جګړې او په ۱۷۶۲ کې د لویې ((کالورګارا)) وروسته په سرهند او لاهور کې خپل والیان وګومارل، خو له زیات بریالیتوب سره نه وو. د ۱۷۶۴ کال په لومړیو وختونو کې سکانو د سرهند والي ته ماتې ورکړه او د ستلج لاندې سیمه یې عملاً ونیوله. په څو میاشتو کې دوی د همدغه رود شمال ته لاهور قبضه کړ او د ملتان سیمې یې ولوټلې او د اباسین څخه پورې وتل او د ډېره جاتو (د ډېره اسماعیل خان او د ډېره غازي خان) ته داخل شول. د شاه او دده ځای نیوونکو ورپسې هڅو ونه کولی شول سکان له مخې لیرې کړي او هغوی (سکان) د نولسمې پېړۍ تر نیمايي پورې د پنجاب مسلم او بې خلله خاوندان وو.

د ډیلي د تخت او سلطنت په ارتباط د شاه نا جاه طلبانه سیاست نتیجه دا شوه چې برتانویان د شمال لویدیځ لور ته د ډیلي په خوا پراختیا غوره کړي او له هغې وروسته سملاسي پنجاب او بیا د خیبر تر شاه افغاني سیمو ته ځان ورسوي.

خو هغه ډېر ستر کار چې احمد شاه ترسره کړ دا و چې افغانان یې د یوه ملت په حیث متشکل کړل او دوی ته یې یوه خپلواکه مځکه وبښله. دی له هر څه سوا په نړۍ کې زیاتره ((بابای افغان)) یا افغاني ملت د پلا په نامه او د اوسني او معاصر افغانستان د جوړوونکي په حیث نامتو دی.

د یوه افغان په حیث ده په سر او اخر او سراسر ژوند کې خپل ټول فعال ژوند د خپل هېواد د سرفرازۍ او جلال لپاره وقف کړ. ده یو سلو پنځوس کاله وړاندې له خپلو دنیایي کارو څخه سترګې پټې کړې خو لا تراوسه د هر یوه افغان په زړه کې، ځوان دی که زوړ دی، ژوندی دی او د یوه ستر فاتح، د مېړونو یوه رښتیاني او شریف مشر او د متحد او خپلواک افغانستان د بابا په توګه د ده خاطره نمانځي او په ډېر محبت سره دی د ((احمد شاه بابا )) په نامه یادوي.

# ضميمې

## لومړۍ ضميمه

### ملکي اداره:

احمدشاه د خپل ملکي حکومت د بشپړ تشکيل لپاره ډېر لږ وزګار وخت درلود. د خپلې پاچهۍ په لومړنيو يوولسو کلونو (۱۷۴۷-۱۷۵۸م) کې د افغانستان د ټينګښت او د امپراتورۍ د پراختيا په چارو بوخت و. په وروستيو دولسو کلونو (۱۷۵۹-۷۰.م) کې د خپلو ډومينيونو د ساتنې او څارنې لپاره سختې مبارزې ته اړ و.

د خپل ژوند په دوو وروستيو کلونو کې يې د ناروغۍ په وجه د هېواد په اداره کې فعاله ونډه نه شوه اخيستلی. دده د ادارې د کوم دستورالعمل يا تشريحي رپوټ د نشتوالي له امله د هغې د يوه رضايت بښونکي تصوير کښنه سخت کار دی. لانديني معلومات د بېلابېلو بيوګرافيو او تاريخي اثارو څخه ترلاسه شوي دي.

## مرکزي حکومت:

پاچا د دردران لقب په درلودلو سره د مرکزي حکومت په سر کې و. هغه د هېواد څخه د باندې او دننه د حکومت د سیاسي چارو په اداره کولو برسېره د دولت په ټولو ملکي او نظامي ادارو بشپړ کنټرول لاره. دده په نامه د سکې وهلو او خطبې لوستلو خاص امتیاز ورپه برخه و، دغه امتیاز په استثنایي حالاتو کې ولیعهد ته چې د نایب الحکومه په توګه به یې کار کاوه، انتقالیده. د سولې او جنګ او د تړون لاسلیک کولو حق په ځانګړې ډول په پاچا پورې اړه درلوده که څه هم پاچا په ټولو مهمو چارو کې د خپل مجلس سره مشوره کوله. د لوړ رتبه مامورینو ټاکنه هم د پاچا واک و.

## مجلس:

د رئیسانو یوه نهه کسیزه شورا چې د ملکي اداري او نظامي عملیاتو د عمومي سیاست په ټولو چارو کې یې مشوره ورکوله، د پاچا مرستندوی وه. د شورا غړی د افغاني مشرو قبیلو د رئیسانو له مینځ څخه ټاکل کېدل. د دوی د ټاکنې واک د پاچا سره و. دغو غړو د ټول عمر لپاره د شورا څوکۍ نیوله او یوازې د اعلیحضرت د ډېر خفګان په صورت کې یې د لاسه ورکوله. دوی د هغو مسالو په باب غور او څېړنه کوله چې د پاچا له خوا به ورته وړاندې شوې وې او خپلې فیصلې به یې پاچا ته وړاندې کولې. سره له دې چې پاچا د دولت مطلق رئیس و، په ټولو چارو کې د ټول واک څښتن و، د ملکي اداري رئیس د پوځ د اعلی قوماندان او د عقیدې ساتونکې و، تل یې مجلس له ځانه سره لاره او ډېر لږ داسې پېښېدل چې د مجلس سره

مخالف واقع شي. د مجلس غړو دده د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې له ده څخه د ننني اداري او باندني سياست په ټولو مسالو کې ملاتړ کاوه.

## صدراعظم:

صدراعظم د دولت د اجرائيه په توګه د پاچا نږدې مرستندوی و. دی د اشرف الوزرا په نامه يادېده. د صدراعظم وظيفه د پاچا د غوښتنې په صورت کې هغه ته مشوره ورکول، د پاچا د فرمانونو تطبيق، د حکومت د ټولو ادارو څارنه او په هېواد کې دننه او د باندې د حکومت د سياسي چارو اداره او لارښوونه وه. د احمد شاه د پاچهۍ په هغه موده کې چې صدراعظم د وزير اعظم، امير اکبر او مختار و مشير په نامه يادېده، دغه لوړه څوکۍ باګي خان باميزي نيولې وه چې د شاه ولي خان لقب يې درلود. دده په صفت کې ويل شوي دي چې د تورې او قلم په استعمال کې يو شان فصيح و.

## مالي اداره (د ماليې وزارت):

د احمد شاه په دوران کې مالي اداره له ټولو ملکي ادارو څخه ستره وه. په مستقيمو او نامستقيمو عايداتو برسېره، په کرنې پورې ټولې مربوطې چارې، اوبه لګول، پاچهي شته مني، د کرنې او سودا ګرۍ لپاره پورونه چې تقاوي بلل کېده، عامه چارې، د غلو ګدامونه، سکې وهل، خزانې او نور ټول په دغې ادارې پورې تړلي وو.

د بېلابېلو ادارو د رسيداتو او لګښتونو رسېدو ته (د تحويلاتو له ادارې پرته) او يا هغه پيسې چې د جنګ ادارې ته د حکومتي خريداريو لپاره

ورکول کېدلې، د مالیې د ادارې له خوا راټولې او تصنیفېدلې. د احمد شاه پر وخت د مالیې وزیر دیوان بیګي یا دیوان اعلی بلل کېده او دا څوکۍ عبدالله خان بامیزي نیولې وه. د فیض محمد د سراج التواریخ په وینا د دیوان اعلی څوکۍ د څه مودې لپاره علي رضا خان ته ورکړ شوې وه. ((خزانه چې)) یا خزانه دار د مالیې د ادارې یو مهم مامور و. ټولې نغدې پیسې او نور ارزښت ناک شیان، په حکومتي عایداتو پورې په مربوطو اسنادو او د پاچا په فرمانونو برسېره، د خزانه دار له خوا خوندي کېدل. د دولت د صلاحیت لرونکو مقاماتو په امر یې پیسې ورکولې او حساب یې له ځانه سره ساته.

ویل کېږي چې د احمد شاه عایدات د درې کروړو روپو په شاوخوا کې وو (نږدې دوه نیم ملیونه سترلینګ) چې دا د هغو ورځو د ګډوډ او بې ثباته افغانستان لپاره یو درونډ رقم و.

## قضایي اداره (شرعیه محکمه):

په مرکز کې د قانون او عدل اداره د یوه ستر قاضي په لاس کې وه چې قاضي القضات بلل کېده. د قانون دغه وزیر په خپلو عادي وظیفو برسېره د پولیسو د مامورینو د چارو څارنه هم کوله چې په هېواد کې د نظم او قانون د ساتنې مسوول وو. د احمد شاه په وخت کې ملا فیض الله خان د قاضي القضات وظیفه اجرا کوله.

په کندهار کې چې د حکومت پايتخت و، د نورو ولايتي مرکزونو په شان په يو شمېر کاتبانو برسېره اته نايب قاضيان او مفتيان د قاضي مرستندوی وو.

قاضيانو له اسامي قانون سره سم په ښارونو کې د عدالت تطبيق کاوه. په کليوالي سيمو کې د ثابتو جرمونو فيصله د کلي د مشرانو له خوا کېدله چې جرگه بلل کېده او د پنجاب د کليوالي ((پنچايات)) سره برابره وه. په هغو دوسيو کې چې جرم ثابت نه و، قاضيانو ته راجع کېدلې او هغه جزاوې چې د قاضي په واسطه ټاکل کېدې، د محتسب له خوا يې تطبيق کېده.

په ((قاضي خاني)) پورې مربوط يو مامور و چې د ((دارو غا بازار)) په نامه ياد ېده او وظيفه يې د بازار د نرخونو ټاکنه او د تول او تللو د کاڼو خارنه وه.

## پاچهي سکرتريت (دارالتحرير حضور پادشاه):

د ماليې تر وزارت وروسته پاچهي سکرتريت يا دارالتحرير حضور بادشاه چې د صدراعظم تر مستقيم کنټرول لاندې و، د اهميت وړ بلل کېده. دا په حقيقت کې په خپله د صدراعظم د کتابت اداره وه. د پاچا او صدراعظم د ټولو فرمانونو، امرونو او ليکونو ليکنه، کاپي او ثبت د دغې ادارې له خوا کېده او د ټولو رسمي اسنادو د ساتنې او خارنې مسووليت ور په غاړه و. هغه مامور چې په دغه سکرتريت کې موظف و، د منشي باشي يا سر منشي په نومونو ياد ېده. د سعادت خان سدوزي او ميرزا هادي خان نومونه د

دیوان انشاء او دارالانشاء (سکرتریت کله په دغو نومونو هم یاد شوي دي) د موظفو مامورینو په توګه ذکر شوي دي.

## کوچني مامورین:

په وزیرانو سربېره چې د لویو ادارو مسوول وو، یو شمېر کوچني مامورین هم وو چې په پاچهۍ دربار او کمپ پورې یې اړه درلوده.

اشک اغاسي باشی لوی لاربښوونکې و چې وظیفه یې د دربار د سالون په دروازه کې د خلکو سره لیدنه کتنه، تاکلو ځوکیو ته د دوی لاربښوونه او له پاچا سره پېژندګلوي وه. دا ځوکۍ د افغاني پاچاهانو د اوسني دربار وزیر له ځوکۍ سره سمون لري. د احمدشاه په دوران کې د عبدالله خان په نامه یوه سړي په دغه ځوکۍ کار کاوه. دا هغه ځوک دی چې چا په ۱۷۵۲م کال کې د کشمیر د فتحې لپاره استولی و.

## عرض بیګي باشي:

هغه مامور چې په جګ اواز یې پاچا ته ټول عرضونه (لیکلي یا شفاهي) اورول او عرض کوونکو ته یې د اعلیحضرت امرونه انتقالول. دا کار په دې خاطر سرته رسېده چې د هغو احتمالي اشتباهاتو مخه ونیسي چې ښایي له دربار سره نا اشنا کسان یې په رسمي ژبه کې وکړي او د هغه لیرې واټن څخه د راپیدا شوي زحمت مخنیوی وکړي چې د پردېسیانو د ناستې د ځای او پاچا ترمنځ موجود و.

د عرض بیګي ځوکۍ ځکه مهمه وه چې پاچا زیاتره دا خوښوله چې عرض بیګي یې نمایندګي وکړي او بیا طبعاً د هغه د رپوټ په لار ښوونه تصمیم ونیسي.

جارچي باشي او یو شمېر جارچیان یا ناري وهونکي چې عرضیانو، وسله والو قواوو او د دولت ملکي رعیت ته یې پاچهي امرونه اعلانول، په عرض بیګي باشي پورې تړلي وو. حاجي کریم داد خان چې وروسته د کشمیر د نایب الحکومه مرستیال وټاکل شو، تر ډېرې مودې پورې یې د جارچي وظیفه سرته رسوله.

مهماندار باشي د پاچهۍ مېلمنو د هرکلي او خوښ ساتلو او د مېلمنو د استوګنې د ځایونو د څارنې مسوول مامور و.

## ناظر خانه طعام:

د پاچهۍ اشپزخانو څارنه یې کوله او د پاچهۍ ډوډۍ او تفریح برابرولو لپاره یې ترتیبات نیول. د پاچا د کورنۍ لګښت له هغې بودجې څخه ورکول کېده چې ددې مقصد لپاره تخصیص شوې وه او د یوې ځانګړې ادارې له خوا چې د پاچا مخصوص خزانه دار او مشرف یا د حسابي تصفیې مامور یې په راس کې و، اداره کېده.

اردو باشي هغه مامور چې د پاچهۍ دربار د ټیټ رتبه مامورینو، مستخدمینو او کارد مسوول و. د اشک غاسي باشي نه وروسته مهمه ځوکۍ وه. عبدالله خان څوک چې په هند باندې د پاچا په لومړي برید کې (۱۷۴۷-۴۸م) د سرهند کلا په نیولو موظف و، په دغه ځوکۍ کار کاوه.

پیش خانه چې د پاچا د مسافرت په وخت کې د هغه د کمپ د لومړنیو ترتیباتو څارنه کوله. هغه د پاچا له بدرګه کوونکو څخه مخکې روانېده او کمپ ته د پاچا او د هغه د ملګرو د رسېدو په وخت کې د هغوی د استوګنې د ځای او خوراک مسول و.

نقچې باشي د باډي ګارډ صاحب منصب و. د هغه وظیفه دا وه چې تل د یو ټولي وسله والو عسکرو په شمول د پاچا سره وي او شخصاً د پاچا د ساتنې او حفاظت پاملرنه وکړي.

ندیم خاص یا مصاحب پادشاه د پاچا اعتمادي او محرم مشاور، خواجه سرا باشي د خصیانو (خواجګانو) رئیس و، چې یو شمې خصیان یې ترلاس لاندې وو او د پاچهۍ ماڼۍ او حرمسرای کورنۍ خدمتګاران وو. رئیس او د هغه مادون خصیان ډېر مهم خلک وو. دوی اجازه درلوده چې هر وخت پاچا ته ورشي او په ډېرو محرمو مشورو کې حاضر وي. یاقوت خان د احمد شاه له ډېرو صادقو او معتمدو خواجه سرا باشانو څخه و. د هغه بل خواجه سرا یوسف علي خان و چې د لکنو د نواب شجاع الدوله کورنۍ ته منسوب و. دی د پاچا لپاره منلی و، د التفات خان لقب یې ورکړی و او یو وخت د دولت د خزانه دار په توګه ټاکل شوی و.

## طبیب باشي، د اعلیحضرت ډاکتر و:

میراخور باشي د غوجلو څارونکې او د حکومت له مهمو مامورینو څخه و. د پاچهۍ او دولتي اسونو، کچرو، اوښانو او فیلانو په غوجلو برسېره د غواګانو او غویانو د فارمونو او ټولو بار وړونکو حیواناتو څارنه یې هم

کوله. د څرځايونو او وچو وښو د ګودامونو اداره هم د هغه په لاس کې وه. ميراخور باشي د بوودجې د تخصيص او حسابونو په خاطر د ماليې او جنګ له وزارتونو سره نږدې اړيکي درلودل.

## د اردوګاه دفتر اخبار او هرکاره باشي:

د افغانستان پاچا د ايران او هندوستان د امپراتورانو په څېر د خبريالانو او پوسته رسوونکو لپاره د پاملرنې وړ کار ځايونه په پام کې ساتل. هغه د پټو چارو خدمتونه هم درلودل چې په زيات مهارت او چټکۍ سره يې کار کاوه او پاچا يې د امپراتورۍ په ګوټ ګوټ کې د باوري مخبرانو په واسطه له تازه خبرونو څخه پوره خبراوه.

دغه خدمت يوازې په نارينه وو پورې محدود نه و، بلکې مخبرې ښځې هم په کې شاملې وې. د ښځو برخه ډېره مهمه وه ځکه چې زيات پټ خبرونه له هغو ځايو څخه چې د پام نه ليرې او پټ وو ددې نمايندګۍ په واسطه ترلاسه کېدل. د سراج التواريخ ليکوال وايي: ((احمد شاه د هغو کسانو په ډېرو پټو رازونو پوهېده چې د اسرارو سره يې نږدې اړيکي درلودل او دوی ته به يې د ضرورت په وخت کې وريادول. دده پراخ معلومات او په غير معمول ډول خو په خپل وخت د هغو څرګندول ددې سبب کېدل چې عام وګړي په ډېره حيرانتيا هغه د احمد شاه د معجزو په توګه بيان کړي.)) هغه د پټې استخباراتي اداري نوم نه څرګند اوه.

د مخبرانو رئیس هر کاره باشي بلل کېده، په داسې حال کې چې د خبري سرویس مرکزي دفتر په ((جامه خبر)) مشهور و چې ((داروغا دفتر اخبار)) یې په راس کې و.

ضبط بیګي باشي د عامه امنیت څارونکې او د ضبطي مالونو په څارونکي هم مشهور و. ددغه مامور اصلي وظیفې نه دي معلومې. د عامه امنیت د خوندي کوونکي په حیث باید د پولیس رئیس وي. په دې باب معلومات نه شته چې د احمدشاه په دوران کې د پولیسو اداره او د کوتوال څوکۍ په جلا توګه موجودې وې.

دده د زمانې په ثبت شویو اسنادو کې د داسې مامورینو یادونه شوې ده لکه امیر شورت (د پولیسو رئیس) شاهنا (د پولیسو مامور)، اساس (د شپې د ګزمو رئیس)، میر شب (د شپې واکمن)، میر شبګیر (د شپې د پیره دارانو رئیس)، کوتوال (د پولیسو پلټونکي یا قاضي) او داسې نور.


داسې ښکاري چې د پولیسو دندې هغو عسکري ټولیو ته ورسپارل شوې وې چې په لویو او کوچنیو ښارونو کې ځای پرځای وو.

برسېره پر دې ځینې نور کوچني مامورین هم وو لکه صندوقدار باشي (د پاچا د کالیو او ګېڼو ساتونکې)، پیش خدمتګار باشي (د کور د ساتونکو خدمتګارانو رئیس) قابچي باشي (د پاچا د اپارتمانونو د دروازو ساتونکې) او نور.

## محلي حکومت:

په **۱۷۵۷م** کال کې د سرهند تر یو ځای کېدو او د لاهور په حکومت باندې د شهزاده تیمور تر تاکل کېدو وروسته د بره پراخه سیمه د افغاني حکومت تر حاکمیت لاندې وه.

شمالي سرحد یې د آمو پر سیند او د کافرستان په غرونو محدود و ، جنوب خواته یې د عربو بحیره او عمان خلیج، لویدیز خواته یې خراسان، ایران او کرمان او ختیزې خواته یې سرهند او د تبت غرونه



R. Oxus (Amu Darya)
Bijnard
Kalat-i-Nadiri
Mashhad
Nishapur
Turbat-i-Haidari
Tubbas
Birjand
Naiband
Kirman
Saidabad
Baft
Bampur
INDIAN OCEAN
Herat
Farah
Girishk
Kabul
Ghazni
Jalalabad
Peshawar
Bannu
Chitral
Mastuj
Srinagar
R. Indus
Jammu
Sialkot
Pathankot
R. Beas
Jullundur
R. Sutlej
Sirhind
Ambala
Saharanpur
Panipat
Delhi
Chandausi
Aligarh
Mathura
R. Jamuna
Jaipur
Agra
Bharatpur
Gwalior
Jodhpur
Bikaner
Bahawalpur
Multan
Lahore
Amritsar
Ludhiana
Patiala
Ferozepore
R. Ravi
R. Chenab
Jhelum
Rawalpindi
Kalat-i-Ghalzei
Chaman
Quetta
Sibi
Kalat
Kharan
Bela
Sukkur
R. Indus
Dera Ghazi Khan
Dera Ismail Khan
Shibargan
Mazar-i-Sharif
Tash-qurghan
Andkhui
Daulatabad
Chiras
R. Helmand
R. Arghandab
Hyderabad (Sindh)
Miles

پراته وو چې دا ټوله سیمه د تړونونو یا فتوحاتو په واسطه له احمد شاه بې خطره وه. البته دده د ژوند په پای کې د سرهند، لاهور او ملتان ولایتونه سکانو ونیول او ختیز سرحد د لودیدیځ پر لور اباسین ته ورسول شو.

## سیمه ییز ویش:

د محلي حکومت په منظور هېواد په ولایتونو او اعلی حکومتونو وېشل شوی و. دا دواړه کلمې سره ورته اصطلاحات وو چې د ولایت په مانا وو. یوازنی توپیر یې په دې کې و چې ولایت د اعلی حکومت په نسبت د سیمې له پلوه لویه ساحه درلوده او ستر سیاسي اهمیت یې درلود. دغه اصطلاحات د زاړه هند په تشکیلاتو کې د ګورنر ولایت او کمېشنر ولایت سره پرتله کېدی شي. د هېواد وېش په لاندې ډول و:

| ولایت | اعلی حکومت |
|---|---|
| کندهار | فراه |
| هرات | میمنه |
| کابل | بلوچستان |
| مزارشریف | غزني |
| خراسان | لغمان |
| بدخشان | پېښور |
| پنجاب (لاهور) | دېره اسمعیل خان |

کشمیر　　　　　　　　　　　د ېره غازي خان

شکار پور

سیوی

سند

چچ هزاره

لیم

ملتان

سرهند

ولایت په محلونو وېشل شوی و او محلونه په ښارګوټو او کلیو باندې وېشلي وو. د یوه ولایت حکومت یا محل والي د حاکم په نامه یادېده چې د پاچهۍ فرمان لاندې د پاچا په واسطه ټاکل کېده او د پوځي قوماندان ټاکنه چې امیر لښکر یا سردار بلل کېده په همدې ډول و. نور مامورین د محلي حاکمانو یا د مرکزي وزیرانو او کله د پاچا تر فرمان لاندې ټاکل کېدل. د ولایت حاکم یو یا دوه مرستیالان درلودل چې نایب یا به یې پیشګار یې ورته ویل د ولایت حاکم ځینې وخت او په خاصه توګه درانې حاکم د ولایت پوځي قوماندان هم و. د ولایتي پوځ قوماندان په عادي توګه د حکومتي قواوو د سر قوماندان تر مستقیمې قوماندې لاندې و.

د ولایت والي چې د پاچا وایسرای یا نماینده بلل کېده او د نایب الحکومه په نامه یادېده په خپله سیمه کې عملاً خپلواک و. هغه څه چې مرکزي

حکومت له ده څخه انتظار درلود په ولایت کې د سولې او نظم ساتنه او د ولایت د لګښت وړ پیسو تر لګولو وروسته مرکزي خزانې ته د هغو پیسو منظم تحویل و چې د دولت غوښتنه وه. ده د مرګ د سزا ورکولو او یا د پوځ د هغه شمېر لېږولو واک نه درلود چې دده ولایت ته یې تخصیص ورکړ شوی و. والي په خپله خوښه برطرف کېدی شو، خو که د عایداتو ټیکه به یې کړې وه، نو د کال تر پایه په خپله وظیفه پاتې کېده. سردار یا د پوځ قوماندان هم په خپله خوښه لیرې کېدی شو، خو د پاچا معمول دا و چې دغه ډول څوکۍ یې په خاصو کورنیو پورې محدودې کړې وې، په هغه صورت کې چې شهزاده به د ولایت والي و، نو د خطبې او سکې وهلو پرته نور زیات واک یې نه درلود.

په ولایاتو کې پر امیر لښکر سربېره لاندنیو مامورینو د والیانو تر لاس لاندې کار کاوه: قاضي، د قانون ساتونکې، کلادار د کلا او د هغې د افرادو قوماندان، دفتري د ملي دفتر ساتونکې، باجګیر، مدیر ګمرکات او د عایداتو ټولوونکې، میر اخور مدیر نقلیه، د غوجلو سرمامور او د ترانسپورت مامور، میراب د بندرونو امر یا د سیندونو سر مامور، مامور خالصجات د پاچهۍ ملکیت مامور، مستوفي د حسابونو د تصفیې مامور، کلانتر شهر ښاروال.

مرکزي حکومت په ولایتي والیانو باندې ډېر لږ کنټرول کاوه یوازې د مالیې اداري کله کله د حسابونو په باب څرګندونې غوښتلې، د عایداتو او لګښتونو بېلابېل قلمونه یې تر ازموینې لاندې نیول، دا یې معلومولـه چې

د دولت غوښتنې په منظم ډول مرکزي خزانې ته تحویل شوي دي او د تو پیر په صورت کې یې توضیحات غوښتل.

په ښارګوټو او کلیو کې محلي رئیسانو د والي په نمایندګۍ اداره چلوله.

محلي رئیسان د خان، ملک، سر کرده یا سلطان په نامه یادېدل، خان د یوه فیوډال ارباب په شان په خپل ځای کې عملاً خپلواک و. هغه خپل عایدات په هره طریقه چې کېدی شو، راټولول. بېګار (جبري کار) او سیورسات (یو ډول همکاري) معمول وو. خلکو د خان له استبداد څخه د تېښتې درې لارې درلودې:

۱- خلکو کولی شول چې د خان فیصله رد کړي او د ولایت په مرکز کې لوړو قضایي مامورینو ته عرض وړاندې کړي.

۲- د خان سره د مخالفت په صورت کې د یوه بل سیال خان کلي ته کوچ وکړي.

۳- د اضافي مالیانو او استبدادي شو کې په صورت کې دوی کولی شول چې د ولایت والي، د مرکزي حکومت یو وزیر او یا په خپله پاچا ته شکایت وکړي.

انفرادي شکایت په خانانو باندې ډېره لږه اغېزه کړای شوه. ځکه چې دوی د ولایت په لوړ رتبه مامورینو کې زیات نفوذ درلود. یوازې هغه وخت چې د یوه خان پر ضد اعتصاب به د ولسي حرکت بڼه غوره کړه او ولایتي یا مرکزي حکومت به یې وښوراوه، نو د داسې اعتصاب نتیجه به د ګناه کار خان برطرفول او د هغه پر ځای د یوه بل سړي ټاکل و.

نوي ټاکنه البته د خلکو په تصویب او رضایت سره کېدله.

د احمدشاه په دوران کې د حکومتونو او ولایتونو ځینې والیان په لاندې ډول وو:

| | |
|---|---|
| درویش علي خان | هرات |
| شاهرخ میرزاد نادرشا لمسی | مشهد |
| عباس قلي خان بیات | نیشاپور |
| نصیرخان بلوڅ | بلوچستان |
| نورمحمد خان | سندهـ |
| شجاع خان ابدالي | ملتان |
| شهزاده تیمور | پنجاب (لاهور) |
| شهزاده سلیمان | کندهار |
| خواجه عبدالله خان | کشمیر |
| زین خان مومند | سرهند |
| موسی خان | دېره اسمعیل خان |
| اشرف خان غلجی | کلات |

# دویمه ضمیمه

## نظامي اداره:

د افغان ملت دودونو او نبوغ ته وفادار احمد شاه په اصل کې یو عسکر و. د هغه ډېره پاملرنه پوځ ته وقف وه چې دده د واکمنۍ ستنه وه. د خپلو عسکرو درناوی یې کاوه او هغوی یې په خپل ستر توب او ویاړ کې شریک بلل. احمد شاه یو وخت ویلي وو: (( زه هم د دوی له ډلې څخه یم زه د دوی په موافقه او توره دغه موقف ته رسېدلی یم. ))

## د پوځ د قوماندې مرکزونه:

### سپاه سالار:

د پوځ په راس کې لوی قوماندان سپاه سالار و چې د جنګ او دفاع د وزیر په توګه تر پاچا وروسته دویم مقام و.

سپاه سالار په سوله کې د قواوو د تشکیلاتي تجهیزاتي او تربیوي چارو او په جنګ کې د پلان جوړولو او عملیاتو د لارښوونې مسوول و. په جنګ او سوله کې د هغه زیاته علاقمندي د عسکرو د هوسایۍ سره وه، ځکه چې د پوځ وفاداري او دسپلین تر زیاتې اندازې پورې په هغې پاملرنې پورې اړه درلوده چې د افرادو ارامۍ ته کېدله.

سپاه سالار چې کله به یې ((سردار سرداران)) هم باله، یو شمېر مرستیالان درلودل چې د قوماندې په مرکز کې یې د پوځ د بېلابېلو څانګو او ادارو څارنه کوله او د ((دفتر نظام)) په نامه پېژندل کېده.

د وسلو او جنګي تجهیزاتو جوړول د کالیو او د خوراک د ګودامونو کنټرول، د معاشونو ورکول، د حسابي تصفیو څارنه او داسې نور د دفتر نظام له وظیفو څخه ګڼل کېدل.

## سورسات چې باشي:

((سیورسات چې باشي)) د اعاشې جنرال و چې د اخیستلو یا راټولولو، زېرمه کولو او د افرادو او نورو بار وړونکو حیواناتو لپاره یې د زېرمو برابرولو وظیفه درلوده.

## قرچې باشي:

د وسله تون مدیر، د جنګي وسلو مامور و چې اداره یې د کار خانې په نامه یادېدله. د وسلو او جنګي تجهیزاتو د جوړولو لپاره یې د فابریکو څارنه کوله او د هېواد په بېلابېلو برخو کې یې د هغو د زېرمو او ګودامونو لپاره ترتیبات نیول. احمدشاه د جنګي تجهیزاتو او وسلو د فابریکو په برخه کې شخصاً علاقمندي درلودله.

د کندهار په ښار کې یې په دې منظور یوه ځانګړې ساحه تاسیس کړې وه. د باروتو د مغازې ځای چې اصطبل شاهي او توپخانې ته نږدې واقع دی اوس هم د باروت خانې په نامه یادېږي.

پاچا په خپله د توپونو په جوړولو کې ښه مهارت درلود او په ۱۷۵۱م کې یې د نیشاپور د محاصرې پر وخت په رښتیا سره یو توپ جوړ کړ. ویل کېږي چې دغه توپ د کابل په تول دولس نیم سېره گولۍ واروليې او د ځای په فتح کولو کې یې اساسي مرسته وکړله. دوه نور توپونه د غټ گالیبر او اوږدوالي درلودونکي توپونه وو چې هر یو یې د ځلوېښت پاوه گولیو د ویشتلو قدرت درلود او په ۱۷۵۷م کې په لاهور کې د پاچا په امر د شاه نذیر په واسطه او د شاه ولي خان په لارښوونه استعمال شول. له دغو توپونو څخه یو توپ چې ((زمزمه)) نومېده او وروسته د هغه د نیوونکي سردار هري سنگهـ بهانګي د نامه له مخې (بهانګین ولي توپ) وبلل شو او لاهور د مرکزي موزیم په مخکې ولاړ دی. دغه توپ د مسو او زېړو د مخلوط څخه جوړ شوی و او اوږدوالی یې د کچوړې نه پرته څوارلس فوټه او حلور نیم انچه دی. دا توپ د پاچا له خوا په ۱۷۶۱م کې د پاني پت په جګړه کې استعمال شوی و او وروسته د مهاراجا رنجیت سنګ له خوا په یو شمېر جګړو کې استعمال شو. بل توپ د پاني پت تر جګړې وروسته کابل ته د وړلو په لاره کې د چناب په سیند کې ورک شو.

د ترانسپورت اداره، د پوځ په مرکزي قوماندې پورې تړلې، د میراخور باشي تر ادارې لاندې وه. د پوځي عملیاتو پر وخت اردوباشي هم په پوځ پورې تړل کېده او د سپاه سالار تر قوماندې لاندې راته.

## منظم پوځ (عسکر منظم):

د احمد شاه پوځ په دوو برخو منظم پوځ (عسکر منظم) او غیر منظم قبایلي پوځ (عسکر نامنظم) وېشل شوی و. منظم پو د ټول پوځ یو پر درې برخه جوړوله او نامنظم پوځ چې (فوج کشاده) یا (خانین سواران) یې هم باله پاتې یو پر درې برخې یې تشکیلولې. منظم پوخ په درېو برخو وېشل شوی و، سوار، پلی او توپچي. په داسې حال کې چې نامنظم پوځ زیاتره له اس سوارو او ډېر لږ شمېر پلیو څخه عبارت وو.

د منظم پوځ لپاره استخدام داوطلبانه او عمري و. یو منظم عسکر ته پیسې او جنس دواړه ورکول کېدل. وسلې، اس او ترانسپورتي تجهیزات د حکومت له خوا برابرېدل. یوازې د اس قیمت ورڅخه په لږو قسطونو اخیستل کېده. د خپل خوراک او د اس د وچو وښو لپاره لازم وو چې په خپله ترتیبات ونیسي. د جنګ له حالت څخه پرته د یوه عسکر لپاره درې میاشتې اجازه ورکول کېده چې کور ته ولاړ شي. نور پاتې وخت هغه په خپل کنډک کې په قطعه کې پاتې کېده او په پوځي تعلیم او تمرین به بوخت و. د منظم پوځ زیاته برخه په پایتخت کې مېشته وه، یوازې یوه کوچنۍ برخه یې ولایتونو او د حکومتونو مرکزونو ته د وظیفو د اجرا لپاره استول کېدله.

د پایتخت پوځونه به غلام شاهي (شاهي سواره) کشکچیان (باډي ګاردان)، کلاور (څارندوی) او داسې نورو وېشل شوي وو. غلام خانه (د شاهي سورو ډله) چې احمد شاه تشکیل کړې وه د بېلابېلو خارجیانو څخه چې په هېواد کې مېشته وو، د نادرشاه له پوځ او نورو پارسیانو او قزلباشانو څخه چې ځانونه یې دده په حکومت پورې تړلي وو، جوړه وه.

قزلباش عسکرو د غلام خانې يو پر دريمه برخه تشکيلوله او تر ټولو ښه برخه وه. په داخلي جګړو کې دوی له افغانانو څخه زيات وفادار وو ځکه چې دوی په هېواد کې قبيلوي اړيکي او د ګوندي يووالی نه درلود.

پيش خدمتګاران چې د پاچا نږدې شخصي خدمتګاران وو زياتره د غلامانو له مينځ څخه راوتل.

## سواره:

د احمد شاه د پوځ دريمه برخه سواره وو. د دوی وسلې ماشه يي ټوپک او تورې وې. که څه هم ځينو يې نېزې او سپکې ټوپکې له ځان سره وړلې. سوارو عسکرو د پاچا حضور ته د ورتلو پر وخت د زغرو په اغوستلو سره ځانونه له نورو څخه بېلول.

ټول سواره ازاد وو چې ډالونه، چړې او تبرونه له ځان سره يوسي. د اوښانو سواره چې شمېر يې لږ وو (جمازه)) سوار بلل کېده.

په اضطراري حالاتو او له سيندونو څخه د تېرېدو پر وخت سواره مجبور وو چې پلي له ځان سره يوسي.

## پلي:

د منظم پوځ يو پر څلورمه برخه پليو تشکيلوله. دوی په تورو او ماشه يي ټوپکو سمبال وو، خو د نورو وسلو په وړلو کې هم ازاد وو.

## توپچي:

د پاچا د پوځ ډېره غښتلې برخه له توپچې څخه جوړه وه چې د زياتو دلايلو په وجه په سورو کې شامله وه. د دوی دوه پر درېيمه برخه په درنو توپونو سمبال وه او پاتې يو پر درېيمه برخې يې سپک توپونه درلودل. د پاچا همدغه عالي درانه توپونه وو چې په پاني پت کې يې د ډېر زيات شمېر مرېټه وو پر ضد جنګ وګاټه. درانه توپونه د اسونو په واسطه کښول کېدل. سپک توپونه چې په زمبورک يا شاهين او شاهک باندې مشهور وو په يوه يا دوو اوښانو وړل کېدل. له يوه ځای څخه بل ځای ته ددغو توپونو وړل اسان وو او کېدی شول چې د اوښ له شاه څخه ځمکې ته له راکوزولو پرته په هر ځای کې چې ضرورت وي د دښمن په صفونو باندې اور بل اجرا شي. پاچا د خپلې پاچاهۍ په لومړي کال کې ددغو توپونو وړونکي اووه سوه اوښان درلودل چې په وروستيو پنځه ويشت کالو کې به دغه شمېر خامخا زيات شوی وي.

د توپچي قوماندان توپچي باشي بلل کېده او دا څوکۍ رحمان خان بارکزي نيولې وه. په کندهار کې د هغه د استوګنې ځای اوس هم د توپخانې په ساحه کې شته.

## د پيلانو قطعه:

پاچا د پيلانو يوه کوچنۍ قطعه هم درلوده. پيلان په عمومي ډول د ترانسپورت په مقصد په کار راتلل، خو په جنګ کې د دښمن د صفونو ماتولو او په هغوی کې د ګډوډۍ راوستلو لپاره هم ترې کار اخيستل کېده. کله به يې د توپچي توپونه هم وړل.

## تشکیل او قوت:

د پوځي واحدونو تشکیل او قوت په لاندي ډول و:

یو ډلگی = لس تنه، یو ټولی = لس ډلگي = سل تنه، یو کنډک = لس ټولي = زر تنه، یوه قطعه یا مفرزه (غونډ) = دوه یا زیات کنډکونه، صاحب منصبان، سواره او پلي.

ده باشي یا دلگی مشر = د ډلگي قوماندان

یز باشي یا ټولی مشر = د ټولي قوماندان

منگ باشي، بیگ باشي = د کنډک قوماندان

امیر لښکر، د غونډ قوماندان یا کنډک مشر

سپاه سالار یا سردار – سرداران

لوی قوماندان

## د توپچي صاحب منصبان:

زمبورکچي شاهنچي یا شاهنشگچي د توپچي افراد یا توپچي.

شاهنچي باشي یا جزیر چي باشي: د توپچي صاحب منصب.

توپچي باشي یا میر اتش: د توپچي لوی قوماندان

## د ترانسپورت قطعه:

د ترانسپورت قطعه له اسونو کچرو، اوښانو، غویانو او یو څو پیلانو څخه جوړه وه. دا قطعه د میر اخور باشي په واسطه قومانده کېده چې د ملکي اداري د کوچنیو مامورینو تر عنوان لاندې یې ذکر شوی دی.

## نامنظم پوځ (عسکر غیر منظم):

د احمد شاه ټول پوځ دوه پر دریمه برخې نامنظم پوځ تشکیل کړی و، چې د قبایلي عسکرو چې په فوج کشاده مشهور و (لکه په پنجاب کې د سکهـ سردارانو ګورچارها قوه) او خوانین سواران (قبایلي سواره) چې کله به لښکر قومي بلل کېده، څخه عبارت وو. د دغه پوځ درې پر څلورمه برخه سواره وو او یوازې یو پر څلورمه برخه یې پلي وو.

## نامنظم پوځ په درېو کټګوریو وېشلی شو:

۱- د افرادو وسله وال ټولي چې د جنګ په دوران کې د هېواد له ځانګړو سیمو څخه د هغه شمېر له مخې چې دغو سیمو ته تخصیص شوی و، د پاچا له پوځ سره یو ځای کېدل او د جنګ په پای کې خپلو کورونو ته تلل. د دوی د خدمت په بدل کې د یوه کال لپاره د یوې ټاکلې ټوټې ځمکې عایدات ورښنل کېدل. د مثال په توګه د مروتو قبیلې دغه شان یو کلن عایدات چې د سیند پر غاړه او سېږي، دوه سوه څلوېښت اوښان وو. د پورتني سیستم له مخې دوی مجبور وو چې د جنګ پر وخت د پاچا پوځ ته دوه سوه وسله وال سواره برابر کړي.

د قبایلي عسکرو ټولي چې د قبایلي مشرانو له خوا د جنګ پر وخت په ټاکلي شمېر وراستول کېدل، تر جنګ وروسته قبایلي عسکر خپلو

کورونو او پخوانیو وظیفو ته ورستنېدل. هغه وخت چې به دوی په خپلو وظیفو بوخت وو، له حکومت او حکومت له مامورینو سره یې هېڅ کار نه درلود. یوازې د دوی مشرانو د حکومت سره معامله کوله او د هغو کسانو لپاره یې کلنۍ نغدې پیسې او جنس اخیست چې پالنه یې ور په غاړه وه. قبایلي افسرانو یا قوماندانانو د خپل لګښت په بدل کې د ځمکې جاګیر او یا ټاکلی حکومت له خوا ساتل کېده. منظم حساب یې د مرکزي او ولایتي نغدي تخصیص ترلاسه کاوه او د خوانین سواران ټولی یا قبایلي سواره د حکومت د منظم پوځ په شان د سرحدونو د ساتنې او عایداتو د راټولولو لپاره استخدامېدل، د حکومت د زېرمو څارنه یې کوله او د محلي حکومتونو سره یې نورې څارندویي وظیفې اجرا کولې. دوی په منظمو لنومونه ثبتول، د دوی اسونه ټاپه کېدل او وسلې یې تر ټاکلې مودې وروسته په منظمه توګه معاینه کېدلې.

مالي ادارې د دوی د نغدي معاش او جنسي ورکړې حساب ساته او هغه یې د مشرانو او قوماندانانو د جاګیر له حسابونو سره تطبیقاوه.

## د نامنظمو عسکرو سازمان:

هغه وخت چې به د پاچا فرمان د یوه چا په برخه کې نافذ شو چې د پوځ قوماندان به وټاکل شو او یو شمېر افراد به تخصیص ورکړ شو، نو دغه سړی به (که شهزاده به و یا وزیر، رسمي مامور یا قبایلي خان) د خپلو خپلوانو، دوستانو ګاونډیانو او خدمتګارانو له منځ څخه د خپلو افرادو د

نومونو په ثبتولو اقدام کاوه. دوی یې په وسلو سمبالول او مادون قوماندانان او صاحب منصبان یې ټاکل.

د آس بیه په تدریجي توګه د سوار له معاش څخه کمېدله وسلې په پور ورکولی شوې او کله به د وسلو بیه هم په قسطونو ورڅخه ګرځېدله. حکومت لوی قوماندانان د هغه د رپوټ له مخې وسلې برابرولې او د هغو بیه یې د هغه جاګیر او بود جې څخه په قسطونو ترلاسه کوله چې ده ته به ورکړ شوې وه.

د نامنظمو واحدونو قوت له پنځه سوه څخه تر څو سوو پورې او کله به هم څو زرو ته رسېده. که د یوه واحد قوماندان به لږ شمېر افراد درلودل، د سوارو د سرکرده... په نامه یادېده. که متوسط شمېر به و د سوارو خان... او که زیات شمېر قوت به دده تر قوماندې لاندې و نو د سوارو سردار... بلل کېده. د سلو سورو د یوه واحد قوماندان د بیرغ پورته کولو او نغارې وهلو حق درلود.

د نامنظمو عسکرو داخلي تشکیل په بشپړ ډول د منظمو عسکرو په څېر و. دلګی په معمولي ډول لس افراد درلودل چې دده باشي تر قوماندې لاندې و. ټولی، بیرغ بلل کېده، لس دلګي یې لرل او د بیرغ دار په واسطه قوماندہ ورکول کېده او داسې نور.

د دلګي، بیرغ او نورو واحدونو د افرادو شمېر په ټاکلي اندازه همېشنی و. که څه هم د یوه واحد قوماندان به د تل لپاره و او تر ټولو به مشر و، خو د

معمـول عسـكري د سـپلين لانـدې و او مجبـور و چـې د هغـو مشـرانو قوماندانانو اطاعت وکړي چې دده دلګی به ورپورې تړلی و.

د سولې پـه وخت کـې د نـامنظمو واحـدونو قومانـدانان د ولايـت د نايـب الحکومه تر امر لاندې وو چې هلته به د وظيفو د سرته رسولو لپاره استول شوي وو. د کورنيو چارو او جنګ د وزيرانو په اړوندو ساحو کې د دوی تر امر لاندې وو.

د جنګ پـر وخت قومانـدانان د لوی قوماندان تـر حکم لاندې راتلل. هغـه وخت چې دوه يا زيات واحدونه د ځينو جنګي عملياتو لپاره سره يوځای کېدل، د ستر واحد قوماندان د مشر قوماندان وظيفه سرته رسوله.

## پوځي قوت:

هغه وخت چې احمد شاه په کندهار کې د افغانستان د پاچا پـه توګـه اعـلان شو، شپاړس زره پوځ يې لـه ځانـه سره درلـود. دده د پـاچهۍ پـه لـومړي کـال کې دغه شمېر څلو ېښت زرو تـه ورسـېد. هند تـه دده د مسـافرتونو پـر وخت دده د عسکرو شمېر له دوولس زرو څخه تر اتيا زرو پورې ښودل شوی دی.

په داسې حال کې چې د خراسان د عملياتو په ترڅ کې له اويا څخه تر يو سلو شلو زرو پورې يې شمېر څرګند ېږي. خو دغه ارقام پـه يـوه مرحله کـې هم لـه موږ سره دده د پوځ د رښتيني شمېر په راښـودلو کـې مرسـته نـه شي کـولای. دده امپراتوري ډېره پراخه وه. له دې امله يې نه شو کولای چې خپل ټول پـوځ د جنګ کوم باندني نندارتون ته بوځي، که څه هم ډېر مهم جنګ وي، خو کـه موږ په پورتنيو ارقامو کې مبالغـه ومنو او د ټول پـوځ پـه ګڼون يې چې د

کورني امنيت لپاره په هېواد کې پاتې و، وګڼو، نو د دغه تخمين په منلو کې به له واقعيت څخه ليرې نه يو پاتې چې د احمد شاه د پوځ ټول قوت د وروستيو جنګونو پر وخت يو سلو شل زره عسکرو ته رسېده.

د دغه شمېر دوه پر درېيمه برخه د اتيا زره په شاوخوا کې بايد فوج کشاده (نامنظم) وي او پاتې څلوېښت زره به عسکر منظم وي.

د ټول قوت درې پر دوه برخه د نوي زره په شاوخوا کې د توپچې په ګډون سواره او پاتې يې پلي ګڼل کېدای شي.

## د عسکرو معاش:

د نورو هر ډول ثبت شويو اسنادو د نشتوالي په وجه موږ مجبور يو چې د احمد شاه بابا په نامه د مير غلام محم دغبار په اثر کې وړاندې شوي دلايل او لاس ته راغلې نتيجې ومنو.

# دریمه ضمیمه

## ضرابخانې او سکې[1]

د احمدشاه له تاج پر سر کولو څخه ور وروسته په کندهار کې دده په نامه لومړی سکه ووهل شوه. په دغه سکه کې دا لاندې دوه بیتې کښل شوې ده:

حکم شد از قادر بیچون با حمد بادشاه

سکه زن برسیم و زر از اوج ماهی تابماه

دده د مقبوضاتو ـ دومنیو نونو ) په پراختیا سره په پایتخت کندهار سربېره د بېلابېلو ولایتونو په مرکزو کې سکې وهل کېدلې.

په هند او افغانستان کې شل ضرابخانې موجودې وې چې د احمدشاه په نامه سکې په کې وهل کېدې. له هرات پرته چې د احمدشاه له خوا د نیول کېدو تر وخت پورې یو پارسي ښارګوټی و، په نورو ټولو ځایونو کې یو یا بل وخت مغلي ضرابخانې وې. کندهار او کابل د افغانستان غوره ښارونه وو. کشمیر د شاه له خوا ونیول شو، بکر، پېښور، تاتا، دېره (دېره غازي خان) دېره جات (دېره اسمعیل خان، دېره فتح خان او نور) او سند به هغو سیمو کې شامل وو چې نادرشاه ته سپارل شوې وې، په پنجاب، لاهور،

(۱ ) په دغه ضمیمه کې ما زیاتره په لاهور کې د (آر.بي. وایټ هیډ دسکوله کتلاک، دریم ټوک) او ( د نادرشاه او د دراني د سلسلې سکې) اکسفورډ، ۱۹۳۴ څخه استفاده کړې ده. لوستونکي د زیاتو معلوماتو لپاره په بیلیوګرافي کې د سکې پېژندنې په باب په همدغه زیات ګټور اثر او د احمدعلي کهزاد، ام. لانګورت دیمز، سي. ام. فراهن، دوکتور وایټ کنګ مارسدن او ای. جی راجرز په اثارو حواله ورکول کېږي.

ملتان اټک او همدا راز د هندوستان یا هند په نهایي شمال لویدیځې خوا کې سرهند د احمدشاه په واسطه فتحه شول. پاتې ضرابخانې په خاص هند کې وې او کومې سکې چې دلته وهل شوې وې هغه ددې لپاره وې چې په هند باندې د شاه د بریدونو د یادګار په توګه پاتې شي.

احمدشاه د نادر په څېر په مغلي پایتخت ډیلي کې چې له یو وار څخه زیات دده په سجرو ولوید سکې خپرې کړې دي. هغه پنځه ضرابخانې چې له هغو څخه احمدشاه په خپل نامه سکې خپرې کړې د جمنا په لویدیځه خوا کې یې موقعیت درلود او په اونلا یا برلي، فرح اباد، مراد اباد او نجیب اباد کې پرتې وې چې په هند کې یې د شاه په مسلمانو متحدینو پورې اړه درلوده.

د تیمور شاه په نامه د ملتان په ګډون په پنجاب، دېره جاتو (دېره اسمعیل خان، دېره غازي خان، دېره فتح خان او نور) او سند کې د شاه نایب الحکومه با نظام و، هم سکې وهل کېدلې.

## دده لیکنه دا وه:

بعالم یافت سکه تیمور شاه نظام

به حکم خدا و رسول انام

د بیلابیلو ضرابخانو افتخاري او اعزازي لقبونه د دوی د نومونو سره یوځای د سکې په ټاکلي او مربوط ځای کې ښودل شوي دي. احمدشاه د خپل سلطنت په ټوله موده کې یوې دوبیتي ته وفادار پاتې شو، د سکې په یوه مخ یوه پارسي دوبیتي او یاد هغې یوه برخه تل د هجري سنې سره

يو ځای راوړل شوې، په داسې حال کې چې په بل مخ يې ضرابخانه له خپل اعزازي لقب (که يې لاره) او د شاهي سنې کله کله د مغولي نښان (سان جلوس ميمنت مانوس)(*) سره ځرګند ږي. د شاه په سکو کې نه کوم لقب ښودل شوی او نه کومه کنيه.(۲)

د ۱۷۲۷ کال په مارچ کې شاه په خوښۍ سره د شاه ولي خان په سپارښتنه د سرهند حکومت د پټياليي امر سنګهـ (راجای راجګان) ته ورکړ او نوموړی د هغه (شاه) د احسان د پرځای کولو لپاره د احمد شاه په نامه سکه ووهله او د هغې په مخ يې دده دوبيتي وکښله. امر سنګهـ په عين حال کې د احمد شاه د حامي شاه ولي خان د قبيلې نوم (باميزی) له خپل نوم سره په سکه کې علاوه کړ. د پټياليي، جند او (ماليرکوټلا) د ولايتونو په پيسو کې تراوسه پورې د احمد شاه دوبيتي ځرګند ږي.

د احمد شاه په زمانه کې د ولجې، باج او مرستو له لارې په افغانستان کې پرېمانه هندي سره زر او سپين زر راغونډ شوي وو، له دې امله د شاه سکې د ښه جنس فلزاتو او ښايسته وزن لرنکې وې.

معمولي طلايي سکې چې اشرفۍ يا مهر بلل کېدلې د ۱۲۸ معياري(*) دانو په وزن برېښې په داسې حال کې چې د سپينو زرو د روپيو تولې يو سلو اته

(*) د سان کلمه به په اصل کې –سال وي.م

(۲) د حسين شاهي، ۱۹ او د لطيف د (پنجاب تاريخ، ۲۱۵) په حواله د احمد شاه لومړنۍ هندي سکه چې د ۱۷۴۸ کال د جنورۍ او فبرورۍ ترمنځ په لاهور کې ووهل شوه بيا هم دا لاندې ليکنه يې درلوده:

در دران احمد شاه بادشاه

ضرب دار السلطنت لاهور

جلوسی ميمنت مانوس احد

(*) معياري دانه د يو پونډ اووه زرمه برخه ده. م

اویا داني وزن درلود. د احمد شاه مسي سکې تخميناً درې سوه اویا دانې (دامه[*]) کېږي، د ملتان او کشمير سکې لږ څه سپکې دي.

## احمد شاهي (کندهار) – اشرف البلاد:

د احمد شاه د سلطنت په دوران کې د افغانستان پايتخت کندهار و ده تل دغه ځای د ابداليانو د اصلي ټاټوبي په حيث ګاڼه. ابداليان کله چې له هرات څخه چې د دوی د تبعيد ځای و کندهار ته د نادر شا هله خوا راوستل شول، نو په دې کار دوی خوشالي وښودله. احمد شاه هم دلته خپل تاج په سر کړ او د ((احمد شاهي)) په نوم يې د خپل نوي ښار تاداو کېښود. دغه راز همدا ځای و چې ده د خپل ځان لپاره په کې مقبره جوړه او همدلته خاورو ته وسپارل شو. هغه سکه چې د لومړي ځل لپاره دده د تاج په سر کولو پر وخت ووهل شوه تراوسه لاس ته راغلې نه ده.

احتمالاً سکې به په ((شاهي کمپ)) ريکاب مبارک کې وهل کېدې چې تر نن پورې د لرغون پېژندونکو ډېر کار او زيار ته اړتيا لري چې له ځينو پخوانيو کنډوالو او يا د هغو خاورينو لوښو څخه يې راوباسي چې په کنډوالو کې ژور خښ دي. وايټ هيډ په دې عقيده دی چې احمد شاه تر لسو کلونو له کندهار څخه سکې خپرې کړې نه دي او د خپل سلطنت له لسو کلو وروسته يې د ((احمد شاهي)) په نامه ليکنه په پيسو وکښلې شوه. لومړنۍ سکه چې تاريخ يې ۱۱۷۱هـ (يوولسم سلطنتي کال) دی د پاني پت له جګړې څخه درې کاله وړاندې وه. لومړنۍ طلايي سکې له يوې نرۍ او پلنې ټوټې

---

(*) دام يو ډول کوچنۍ هندي سکې يا روپۍ وې چې اوس رواج نه لري.

څخه جوړې شوې وې چې د پارسي اشرفۍ غوندې يې درونو والی درلود، په نورو طلايي سکو کې سنې ((دده د سلطنت کلونه) دوه ويشت او درويشت کښل شوي دي. د سپينو زرو سکې ښځي هندي معيار لري او د سلطنت له يوولسم کال څخه تر اخري کال پورې دوام کوي.

## اونلا ر، انو الا:

اونلا په روهيلکنډ کې يو ښارګوټی دی (روهيلکنډ په خپله د بارلي په ناحيه کې چې د هند د اترا پرديش د ولايت سيمه ده موقعيت لري).

دلته د شاه د يوه نږدې متحد نجيب الدوله له خوا په ۱۱۷۳-۷۴هـ کې کله چې شاه په هند کې و او مرهټانو ته يې د پاني پت په جګړه کې ماتې ورکړه سکې وهلی شوې دي.

## اټک يا اټوک:

اټک د اندس په غاړه له پېښور څخه شپږ څلوېښت ميله ختيځ او د تکسيلا څخه دوه څلوېښت ميله لويديځ ته يو نامتو استحکامات لرونکې ښارګوټی دی. دلته له نهم سلطنتي کال څخه تر درويشتم پورې د سرو او سپينو زرو سکې په معمولي بڼه او بشپړ درونو والي وهلی کېدلې.

## بارلي:

د هند د اوتراپرديش په روهيلکنډ کې يو ناحيوي ښارګوټی دی. دلته د اونلا په څېر په ۱۱۷۳-۷۴ کې د نجيب الدوله له خوا د سپينو زرو سکې

وهلـی شـوی دي. ظـاهراً د دې لپـاره چـې پــه مرېـانو بانــدې د احمد شــاه دبریالیتوبونو یادګار شي.

## بکر:

بکر په اباسین سربېره د رو ری او سکر یا ساکر ترمنځ یوه ټاپو ییزه چونۍ ده. هغـه طلایـي سـکې چـې پـه بکـر کـې وهلـی شـوي، ډېرې لـږې دي، خـود سپینو زرو روپۍ پوره چلند درلود. دوا ړه ډولونـه سکې بشـپړ دروندوالی لري. د زیات دروندوالي لرونکې سکې هم دلته موجودې وې.

## ډیلی (شاه جهان اباد ):

ډیلی دا وخت د هند مغـولي پایتخت و. شاه پـه ډیلي کـې دوه واره حضـور درلود: لومړی په (۱۷۵۲-۱۷۵۷م) کې چې د مغولاني پـه تحریـک او لمسـون ښار وران او شاه یو مغولي شهزادګۍ واده کړه او وروسته له دې چې تیمـور یې د لاهور د نایب الحکومه په حیث وګوماره کابل ته ستون شو.

دویم: هغه وخت چې په ۱۱۷۳- ۷۴ هـ کې یې د مرېانو پر خلاف و، ودانګل او د ۱۷۶۱ کال د جنورۍ په څورالسمې نېټې د پاني پت پـه تـاریخي جګړه کـې یې هغوی ته ماتې ورکړه. په دغو دوا ړو وختو کې د شاه په نامه سکې وهلـی شوې دي، په ۱۷۵۹-۱۷۶۱م کې شاه د ډیلي پـه ګاونډ کـې پـنځلس میاشـتې تېرې کړې. په دغه وخت کې دوه ځله سکې ووهلی شوې د ۱۱۷۳هـ کال سکې د ۱۷۶۰ مـیلادي کـال پـه پسـرلي کـې او د ۱۱۷۴ هـ کـال سـکې د پـاني پت لـه بریالیتوب وروسته د ۱۷۶۱ م کال په سر کې وهلی شوي دي.

## دېره (دېره غازي خان):

د سلیمان د غرو او د اباسین ترمنځ سیمه د دېره جاتو په نامه نامتو ده. د دېرې لغوي مانا استوګنځی دی. دېره جات چې د دېرو جمع کېږي په کښتنۍ برخه کې د دېره غازي خان او په پاسنۍ سیمه کې د دېره اسمعیل خان او دېره فتح خان څخه خپل نوم اخیستی دی. د دېره جاتو سکې ډېرې لږې او د خوارۍ بڼې او جوړښت لرونکې دی. د سکې د څټ په لیکنه کې تو پیر شته. یوازې د سرو او سپینو زرو سکې په لاس راتللی شي. ددغې ضرابخانې مسي سکې تراوسه نامکشوفې پاتې دي.

## فرخ اباد:

فرخ اباد د هند په اترا پردېش کې یو ناحیوي ښار او مرکز دی. دا ښار په بنګښو افغانانو پورې اړه لري او د **۱۱۲۳**هـ څخه تر **۱۱۸۵**هـ پورې د احمد خان بنګښ په لاس کې و. نوموړی د احمد شاه یو متحد او د پاني پت په جګړه کې یې برخه واخیستله. ددغه ځای د سرو او سپینو زرو سکې دواړه ډېرې ښکلې او د مشخص سبک لرونکې دي.

## هرات (دارالسلطنت):

هرات په همدغه نامه د ولایت مرکز دی چې په شمال لویدیځه څنډه په افغانستان کې موقعیت لري. دا ځای ددغه هېواد لپاره د یوه ستراتیژیک او اقتصادي ارزښت لرونکې دی. هرات د خپل سمسورتوب او حاصل خېزۍ له امله د ((منځنۍ اسیا د غلو ګودام او بڼ)) بلل شوی دی. احمد شاه

هغه د افغانستان لپاره ونيو او د هېواد لپاره د يوه غوره ولايتي مرکز په توګه خپل موجوديت ساتي.

د سرو او سپينو زرو سکې دلته وهل شوي، خو په متناوب ډول ځکه د هرات سکې ډېرې لږې دي که څه هم د هغو دروندوالی سم دی، خو ښه يې خواره برېښي.

## کابل (دارالملک يا دارالسلطنت):

د افغانستان پايتخت د تيمورشاه له خوا له کندهار څخه کابل ته راولېږدول شو (د احمدشاه د کابل سکې ډېرې بېلابېلې او متنوع دي او د سکه پېژندونکو لپاره د دلچسپي وړ ګڼل کېږي. دلته د سرو او سپينو زرو سکې وهلی شوي دي. د لسم کال طلايي سکې دراني سبک ډېرې ښکلې سکې دي او د سپينو زرو سکې ډېرې پرېمانه او د ۱۱۷۰هـ څخه (د سلطنت لسم کال) د احمدشاه د پاچاهۍ تر پايه پورې د يوې عالي مجموعې په توګه موندل کېږي.

## کشمير (سرينګر) دارالسلطنت:

کشمير د احمدشاه له خوا فتحه او دده په مقبوضاتو کې شامل شو. هغه سکې چې د کشمير په نامه دي په سرينګر کې وهل شوي دي. د سرو زرو سکې يې ډېرې لږې دي د سپينو زرو يې هم په هېڅ ډول عامې نه دي او د دوی وزن د مغولي معيار له (يو سلو اته اويا دانو) څخه درې يا څلور دانې لږ دی. دغه راز د مسو سکې يې هم مروجې دي ځينې وخت له هغوی سره

بېلا بېل فلزات يو ځای شوي دي چې په دې ډول سکه پېژندونکو ته د هغو د معيار معلوموول ګرانېږي.

## لاهور:

په لاهور کې د مغولي والي شاه نوازخان له تېښتې وروسته او د جولای په دولسمه نېټه د احمدشاه په ننوتلو پسې په ۱۱۲۱هـ ، ۱۷۴۸م. کې د سرو او سپينو زرو سکې وهلی شوي دي. دويمه طلايي سکه چې په ۱۱۷۵هـ کال پورې مربوطه ده، بايد ۱۷۲۲م کال د فبروري پنځمې نېټې د (ګالو ګرا) له جګړې څخه وروسته په لاهور کې وهلی شوې وي چې دا وخت شاه ټول کال په پنجاب کې پاتې شو او د دسمبر د نيمايي څخه د افغانستان په لور وخوځېد. سره له دې هم د سپينو زرو سکې ډېرې زياتې رواج وې او له ۱۱۲۱هـ څخه تر ۱۱۸۰ هـ پورې يې لس شمارې او ګڼې (ډول) خپرې شوې دي. د ۱۱۲۲-۲۴هـ- ۲۹ هجري ، ۱۱۷۱-۷۲هـ کلونو کې کوم ډول خپرونې نه شته. په دغو وقفو کې په لاهور کې د مغولي امپراتور (احمدشاه)، شهزاده تميمور او سکانو سکې ليدل کېږي. د شهزاده تيمور په نامه سکې چې د لاهور د (نظام) (والي يا نايب الحکومه) په حيث و، ۱۱۷۰-۷۱ او ۷۳هـ کلونو پورې ارتباط مومي. د سکانو روپۍ چې نېټه يې ۱۸۲۳ سموت (بيکرامي) ۱۷۲۲م، ۱۱۷۹-۸- ده او په لاهور کې ووهل شوې. د ((وايټ هيډ)) په حواله د سکانو د کامنويلت يوه منظمه سکه ده.

هغه سکې چې په لاهور کې د احمدشاه له خوا وهلی شوې وې، لاسته راغلي دوه يې د سرو او اتلس يې د سپينو زرو دي.

## ملتان (دارالامان):

ملتان چې په ۱۱۲۵هـ او **۱۷۵۲**هـ کې د احمد شاه لـه خوا ملحق شو، یـوه ډېره پخوانۍ ضرابخانه لرله. اته طلايي سکې، نولس د سپينو زرو روپۍ او دوه مسي پيسې د احمد شاه په نامه ثبت او خپرې شوې دي. په دې برسېره د (نظام) په حيث د تيمور شاه پنځه طلايي مهرونه، د سپينو زرو اووه د بېرش روپۍ دلته ترلاسه شوي دي. ملتان په **۱۷۲۴**م کې د سکانو لاسته ورغـی خو داسې معلومېږي چې د لنډ وخت لپاره د دوی په لاس کې و. شهزاده تيمور تر شپاړسو کلو يانې د ۱۱۷۰-**۱۱۸۵** (**۱۷۵۲**-۷۱هـ) پورې ضرابخانه پـه واک کې لرله او پرته له کومې معطلۍ څخه دده په نامه پيسې چاپ شوې دي. پـه **۱۷۷۲**م کې بانګي سردارانو جنداسنګ او ګندا سنګ چې د سردار هري سنګ بانګي زامن وو، ملتان ونيو او هغه يې د سکانو پـه مقبوظاتو کې شامل کړ. له دې امله د ملتان ضرابخانه تر څه وخته د درانيانو پـه مخ وتړل شوه او د احمد شاه د سلطنت په دوران کې نورې زياتې سکې هلته وهلی شوې نه دي.

## مراد اباد:

مراد اباد د هند په (اتراپردېش) کې يوه سيمه ده. په **۱۱۷۳**هـ (۱۷۶۰) کې دلته د نجيب الدوله له خوا د احمد شاه په نامه د سپينو زرو روپۍ چاپ شوې دي. دا هغه وخت و چې احمد شاه د اوړنيو بارانو په وخت کې دلته اړولي و.

## نجيب اباد:

نجیب اباد د هند په اترا پردېش کې د بیجنور په سیمه کې یو ښارګوټی دی چې نوم یې د یوه نامتو روهیله مشر نجیب الدوله څخه نیول شوی دی. دلته په ۱۱۸۰هـ کې د احمد شاه په نامه سکې وهل شوي دي. دا هغه وخت و چې احمد شاه د اتم ځل لپاره په هند برید وکړ.

## پټیاله:

د پټیالې مهاراجا امر سنګ (داله سنګ لمسی) په ۱۷۶۷ کې هغه وخت د احمد شاه په نامه سکې ووهلې چې ده ته د راجای راجګان لقب ورکړ شو. دغه سکې زیاتې خورې نه شوې. البته د دوی د وهلو مقصد د چلند لپاره نه و، بلکې د پټیالې د موجود راجا تر سلطنت او واکمنۍ پورې د دېوالي او دوسیرا د خاصو مذهبي جشنونو لپاره ټاکلی شوې وې. وروستۍ لاسته راغلې سکې نېټه د بیکرامي ۱۹۹۴ (مارچ ۱۹۳۸م)(*) ده چې د مهاراجا دویند راسنګ د سلطنت او حکومت لومړی کال شمېرل کېږي. سره له دې د هغو سکو په شا چې په پټیاله کې وهلې شوي د سرهند نوم (ضرب سرهند) کښل شوی دی.

## پېښور:

د احمد شاه د پېښور سکې مغولي بڼه لري، خو ډېرې ښکلې او پاکې دي او لیکنه یې په مناسبه توګه په منځ کې راوړل شوې ده. (وایټ هیډ) دوه د سرو او شل د سپینو زرو او یوه مسي سکه ذکر کړې ده. د سرو زرو سکې یې د

(*) زما په نظر دا سنه به ۱۷۳۸م، وي. مترجم.

سلطنت په لومړي او نهم کال پورې تړلي دي په داسې حال کې چې د سپینو زرو یې د ۱۱۲۱هـ پورې چې د احمد شاه د مړینې کال دی، ارتباط لري.

## کندهار:

(وګورئ احمد شاهي، درې سوه دوه پنځوسم مخ).

ریکاب یاریکاب مبارک چې لغوي معنا یې (عالي کریب) دی، د احمد شاه د کمپ ضرابخانې ته ویل کېدل. د شاهي کمپ په ضرابخانه کې په ندرت سره سکې وهلی کېدلې. یوازې یوه طلایي سکه چې نېټه یې د ۱۱۷۳هـ د محرم لومړی ورځ ده ذکر شوې ده. د احمد شاه د ورځ په ورځ تاریخ او اسنادو د نشتوالي له امله دا ګرانه ده چې په هغې باندې کنبل شوې پېښه وټاکو. ایا هغه د بلوڅ نصیرخان په خلاف د احمد شاه بری دی او که د جهانخان په مشری په هند کې د مرټانو پر ضد د قوې لېږل دي، ښایي وایټ هیډ به رښتیا وایي چې ((دا سکه د ۱۱۷۳هـ کال د نوروز د ورځې په مناسبت وهل شوې وي.)) دا ډېره غیر عادي نه وه چې احمد شاه د سکو په وهلو سره د نوروز ورځی یادونه وکړی. د احمد شاه په سکو کې دا لومړنی سکه ده چې د میاشتی نوم لری. زه باور لرم چې دا سکه چې احمد شاه ۱۱۷۳ هـ کال د محرم په لومړی ورځ (د کلات په نواب نصیر خان بلوڅ باندې د ده له بری وروسته) د نوروز په ورځ وهلی ده او په همدغه ورځ سردار جانخان د مرټانو د ټکولو لپاره هند ته استول شوی دی. دی د ۱۷۵۹ کال د اګست په پای کې له شاهی حضور څخه رخصت شو.

اصلي نېټه یاده شوې نه ده ښایي دا به د ۱۱۷۳ هـ د محرم لومړۍ ورځ وي چې د ۱۷۵۹ کال د اګست له پنځه ویشتمې نېټې سره سر خوري.

## سر هند:

سره هند اوس د هند په پنجاب کې پروت دی. وایې هیڅ دلته پنځه طلایي مهرونه او اوه د سپینو زرو روپۍ په کتلاک کې ښودلی دي. سر هند څو ځله د احمد شاه په لاس کې هغه وخت ولوید چې ده به په هند باندې یرغل کاوه. هغه سکه چې ۱۱۲۱ هـ کال ښیي باید هغه وخت وهلې شوې وې چې د ۱۷۴۸ کال په مارچ کې ده په هند باندې دلوړې برې په وخت کې د سر هند جونۍ ونیوله. د ۱۱۷۲ هـ سکا په هند باندې د احمد شاه له شپږم برید سره سمون لري او دا هغه وخت و چې شاه د ۱۷۲۲ کال د فبرورۍ په پنځمه په یوه ستره خونړۍ ژوبله کې سکانو ته ماتې ورکړه او ټول کال یې په لاهور کې تیر کړ.

سرینګر (کشمیر)

(وګورۍ کشمیر، ۳۵۵ مخ)

## تاتا:

تاتا د سند یو پخوانی مرکز او چونۍ ده، دا د سپینو زرو د ضرب پاره یو غوره مغولی ځای و. هغه سکې چې دلته د احمد شاه په نامه وهلې شوې، ډېر خوار سبک لري.

# څلورمه ضمیمه

## احمد شاه او په هند کې د ختیځ هند انګریزی کمپنی:

له ۱۷۶۰ کال څخه دوراندې کلو په دوران کې د احمد شاه په باب د ختیځ هند انګریزی کمپنی نظر او انګیرنه څرګندنه وه. دوی د (انتظار کولو او مر(قب والی) یا (ورته ګوره چې څه کېږی م) پالیسی تعقیبوله او د پانی پت تر جګړی پوری په هند کې د ده د فعالیتونو په مقابل کې بی تفاوته پاتې شول. کله چې د بنګال میر جعفر علی خان د کمپنی له خوا تخته راو غورځول شو او په ځای یې د ده زوم میر قاسم د بنګال، بهاراوریسی (( نواب نظام ) ګومارل شو. (اکتوبر ۲۰ –۱۷۶۰ ربیع الاول لسمه ـ) د ګلونل کلف ځای نیوونکې و انسیتارتت افغان اعلیحضرت ته د دغه تغیر په هکله خبر ورکړی و. شاه له خپلی خوا څخه له ده او میر قاسم څخه هیله وکړه (چې د امپراتور شاه عالم ثاني اطاعت وکړی). دا وخت دوی داسې بریښیدل چې د هغه ( امپراتور ) په طرفداری به کار وکړی.

د ۱۷۷۱ کـال د جنـوری لـه څوارلسـمی یعنـی د پـانی پـت لـه جګـړی وروسته شاه عالم د شاه له خوا د هند د امپراتور په توګه تاییبد شو او د دغه هېواد بېلابېلو شهزادګانو او انګریزانو ته فرامانونه واستول شول چې نوموړی په همدی نامه (د هند امپراتور) په رسمیت وپېژنی. ښاغلی وانستارت د ۱۷۷۱ کال د مارچ په لومړی نېټه داسې ولیکل: (د علیحضرت دغه خدمتګار (مراد یې خپل ځان دی) چې د ثابت چنګ (کلونل کلف) په ځای ناست دی، د شاه عـالم او امـرړ او غوښـتنی تـه اطاعـت لـری (او ) لـه نـومړی (شـاه عـالم) سـره چې د پټنـی چـونی تـه راوستل شوی، هغه تیار دی چې تر (ډیلی بدرګه وکړی)[1]

په عین حال کې شاه عالم هم د ۱۷۷۱ کال پـه فبـروری کـې د بنګـال نایب الحکومه ته یو فرمان ولیږه چې خطبه د ده په نامه وویل شی او سکه د ده په نامه ووهی د دغه په ځواب کـې د مـارچ پـه پنځـمه وانسـتارت دا سی وویل:

((اعلیحضرت کولی شی د ده (وانسیتارت) احساس د میجر کارنـل د وفاداری له مخی وپیژنی چې دغـه پـه حقیقت کـې د ټولـو انګریزانـو د احساس نماینده ګی کوی. د ده لـه فرمـان څخـه ماتـه معلومیږی چې د

---

۱ - کلف د ۱۷۶۰ کال په جنوری کې د بنګال له حکومت څخه استعفی وکړه او په ځای موقتآ جان زیډ هولویل راغی (د جنوری له اتـه ویشـتمی نه د جولای تر اووه ویشتمی - ۱۷۶۰ (او ورپسی ښاغلی هنری وانستارت د ده په ځای په څوکې و ګومارل شو چې د جولای په اووه ویشتمه یې دا څوکې اشغال کړه. ((بو کلندر، د هندی بیوګرافی قاموس)، دوه سوه شپږم مخ. د مالسن د (لارد کلف) پـه حوالـه، لارد کلف دغـه مسـوولیت هو لویل ته د ۱۷۶۰ کال د فبروری په پنځلسمه وسپاره.

۲ - د فارسی مراسلی سالنامه، لومړی ټوک ۹۸۱ ګڼه.

هغه (امپراتور) په نامه د خطبی ویلو او سکې وهلو غوښتنه را څخه کوی. څرنګه چې دا موضوع ډېره زیاته غوره دهځ نو لومړی باید د هغې دا اجراآتو په باب پوښتنه وکړم. ددې پرته به د هغوی ښایې خواشینی شی. که چېری مخاطب شوی( ابدالی شاه او د ډیلي امرا م) په همدی توګه د دستور ورکړی، دغه وفادار خدمتګار به په بهار، بنګال او اوریسه کې خطبه ولولی او سکه به ووهی)) [3]

امپراتور د خطبی او سکې مساله

له د میر قاسم سره هغه وخت مطرح کړه چې ده د ۱۷۶۱ کال د مارچ په یوولسمه (شعبان ۱۱۷۴-۴ ) له هغه سره وکتل. قاسم په دغه ټکې باندې ښاغلی وانسیتارت ته اشاره وکړه چې د برتانوی نایب الحکومه په خوا هشاتو خبر دی. نایب الحکومه د مارچ په نولسمه میر قاسم ته داسې هدایت کړی و (کله چې د شاهنشاه له خوا د سکې وهلو او خطبی لوستلو فرمان راورسیږی نو هغه جناب (قاسم) باید هماغسی د فرمان مطابق عمل وکړی.

دغه راز د فابریکو او کارخانو ښاغلیو ته دی وویل شی چې نوی پیسی چلند ته وغورځوی.

وانسیتارت احمد شاه ته د مارچ د شپږو یشتمی نېټی په خپل لیک کې چې کاپی یې میر قاسم ته لیږلی و، شاه عالم ته خپله وفاداری او

۳ -د پارسی مراسلی سالنامه، لومړی ټوک، ۹۹۱ ګڼه. په داسې حال کې چې میر قایم شاه ته په خپل لیک کې د نایب الحکومه (وانسیتارت) د وفاداری څرنګندونه شاه عالم ته تصدیق کړه، د ۱۷۶۱ کال د مارچ د دوه ویشتمی نېټی په خپل لیک کې یې نایب الحکومه ته دا جوته کړه( چې شاهنشاه ته د ګورنر لیک په یوه بشپړه بڼه لیکل شوی نه دی) د پارسی مراسلی سالنامه، دویم ټوک ۱,۳۲ ګڼه

اطاعت بیا تکرار کړ او شاه ته یې ډاډ ورکړ چې (که شاهنشاه راضي وی، دی به شاه عالم تر ډیلی پوری بدرګه کړی) په عین حال کې نایب الحکومه ته څرنګنده کړه چې (شاه ته یوه عرض پاڼه او شجاع الدوله له ته یو لیک په وړاندې کړو چې به هغه کې د ملګرتیا د اطمینان څخه بل شی شامل نه وی) خو د غه ټول د انګریزی سیاسمتدار، د رسمیاتو او د موضوع د ټالولو څخه بل شی نه و. د اسې معلومیده چې ده په د پړول غوښتل امپراتور ته د هغه د موقف کمزورتیا وښیې چې د دوی څخه سواد نورو په لاس کې و. صدراعظم شاه ولی خان هم په د پلو به پوه شو. میر قاسم او ښاغلی وانسیتارت ته د شاه د څرګندو لارښوونو او دستورو نو سره سره چې د هغو له مخی به شاه عالم (امپراتور) ته اطاعت او وفاداری وکړی او د هغو ډاډینو څخه چې د ښاغلی وانسیتارت له خوا وړاندې او پورته وویل شول، بیا هم د خطبی او سکې په ارتباط د شاه عالم په نامه فرمان ته پاملرنه ونه شوه او هغه عملی بڼه غوره نه کړه زیات وخت په بی فایدی تخنیکې مسایلو ضایع شو. شاه ولی خان د می په میاشت کې وانسیتارت په خپل لیک کې دا خبر ورکړ چې په ډیلی او نورو ځایو کې د شاه عالم په نامه سکې خپری شوی دی او اعلیحضرت او لوی قوماندان (جهانخان) پدی خپه د بچې په بنګال کې (سکې نه دی خپری شوی) د غه خبری نایب الحکومه وانسیتارت ته یو خبرداری و او هغه نواب

نظام میر قاسم ته هدایت ورکړ چې د امپراتور او امر ومنی او سکه د ده په نامه ووهی او خطبه ولولی.[۴]

تر نورو شپږنیمو کلو پوری په احمد شاه پوری مربوطی اندیښنی څخه په هند کې انګریزان بی غمه وو. په ۱۷۶۲ او (۱۷۶۳ – ۶۵) کې دی په پنجاب کې له سکانو سره چاپیرو او نه یې د امپراتور شاه عالم مسالو ته د څه پاملرنی وخت درلود او نه روهیله وو، مرهټانو اوجټانو ته. په همدغه وخت کې میر قاسم د انګریزانو له خوا خلعه او په ۱۷۶۳ کې یو پخوانی نواب میر جعفر ته د بنګال، بهار او اوریسی صوبه داری ورکړل شوه.

په ۱۷۶۴ کې د بکسر د جګړی او د شجاع الدوله د تسلیمی په ترځ کې اوده د ختیځ هند انګریزی کمپنی په پښو کې وغورزاوه او مغولی امپراتور د انګریزانو کمپ ته د سوالګر په څیر بڼه غوره کړه. په ۱۷۶۵ کې د امپراتور شاه عالم له خوا د (دیوانی) دور کړی له خیالی کښی سره سم انګریزی سوداګران په دغه هېواد د بشپړ قدرت خاوندان شول او په هند کې د دوی د امپراتوری خوبونو حقیقت وموند.

اوس دوی د دغه ځای په سیاست کې غوره رول په غاړه واخیست. د دوی عاجل هدف دا و چې په یوه یا بله بڼه د ډیلی کنترول تر لاسه کړی. په د بسبب انګریزانو ته د احمد شاه، مرهټانو، سکانو او

۴ –د پارسی مراسلی سالنامه، ۱۰۴۲، ۱۰۴۷، ۱۰۹۳او ۱۱۸۳ ګڼې

انګریزانو قدرت پراختیا د دوی د پراختیا غوښتنې په پلانونو کښې یو ځنډ ګڼل کېده.

په ۱۷۶۷ کې د احمد شاه لپاره حالت لاهم ډېر خراب و. سکان عملاً د جمو او اباسین تر منځ د ټولې سیمې واکمنان شول او دوی له احمد شاه سره د هرانچ خاورې پر سر چې د ده وربانديې پښه ایښو له، مجادله او مبارزه کوله، ورپسې حتی ده (احمد شاه) په هغو سیمو کې هم په سختۍ سره نفوذ درلود چې د ده د پوځ تر پښو لاندې وې.

خو د دغو ټولو سره سره انګریزان ډېر زیات بیریدلي وو. دوی ته معلومه شوه چې میر قاسم هند ته شاه رابللی دی، نو موږی د انګریزانو سر سخت دښمن و. دغه راز دوی د امپراتور شاه عالم تر خنجر لاندې وو چې د شاه له خوا د هند د قانونی (امپراتور په توګه تاییدشوی و او هغوی (انګریزانو) د خپلې ټولې هغې وفادارۍ او صداقت سره سره چې هغه ته یې ښودلی وه. بیا هم نه یوازې د ده قدرت یې بې اهمیته ګڼلی و ، بلکې هغه یې په اله آباد کې صرف د یوه زندانی په توګه تر فشار او کنترول لاندې ساته. دوی د ۱۷۶۱ کال د مارچ په لومړي نېټه ژمنه کړې وه چې تر ډیلي به د دوسهر بدرګه وکړي. دغه ژمنه کال په کال تکرار شوه. حتی لارد کلف هم چې به ۱۷۶۵ کې بیا هند ته راغی او د ۱۷۶۷ کال په جنورۍ کې انګلند ته په شاتې ستون شو. دغه ژمنه په ۱۷۶۵ کې تکرار کړه. خو عملي نه شوه.

امپراتور هیلمند اولیوال و چې ډیلی ته چې د ده د سلطنت او واکمنی دلیدو وړ سمبول و، لاړشي. د ده باوری شخص او مشاور نواب منیز الدوله و. هغه له احمد شاه سره د دوستانه خبرو، اترو او ملګرتیا تمایل درلود چې د امکان په صورت کې هغه (احمد شاه) ډیلی ته د خپل نایک (امپراتور) په قانونی مسترد کېدلو او ستنیدول کې جدی مسرته وکړی. د شجاع الدوله وضعه معلومه نه وه او څه هم له هغه څخه دا ویره کېدله چې له شاه سره به بشپړ وحدت وکړی. دی د شاه (خپل سړی) و او په هند کې د ټولو مسایلو په باب یې ده ته معلومات ورکاوه. دا یقینی وه چې کله شاه د سویل په لور له ستلج څخه پوریوزی، دی به سملاسی هغه ته ورشی. بعه ډیلی کې د امپراتوری وارث او نایب شهزاده جوان بخت او د ده مور ملکه زینب محل د شاه را تګ ته سترګی په لار وو او دوی یوازی په هغه باور درلود چې امپراتور به د انګریزانو له لاس څخه آزاد کړی او ډیلی ته به انګریزانو د هند په لور د شاه راتللو په نتیجه کې چې ټول هندی شهزادګان، اشراف او امپراتور به ورسره اتحاد وکړی، د خپلو پلانونو بیخی شنډیدل ولیدل. نو دوی خپلی ټولی هڅی دی ته په کار واچولی چې امپراتور، منیر الدوله او شجاع الدوله له شاه سره د کتلو څخه واړوی او یا دا چې له هغه سره کومه بله معامله و نه کړی. ظاهرآ دوی له امپراتور سره د پیوستون او علاقمندی تظاهر ساته خو په حقیقت کې دوی د ده د تخریب او را پرزولو لپاره فعالیت کاوه.

وانسیتات د ۱۷۲۲ کال د دسمبر په دیارلسمه نېټه په خپل لیک کې امپراتور ته داسې اطلاع ورکړه[6]

(څرنګه چې لارد کلف ناروغ دی او ښاغلی سمر غواړي اروپا ته په ځټ وګرزي، نو له دی امله د مسایلو اداره دغه لیکوال (وانسیتارت) ته سپارل شوی ده.... اعلیحضرت پوهیږي چې لارد کلف څومره د قدر وړ خدمتونه کړي دي. هیله ده چې د دغه لیک لیکونکي هم د هغه (کلف) په څیر وشمیري. هر څومره چې زه دلته زیات پاتې شم هغو مره به د امپراتوری د مسایلو تنظیم او د تیمور د شاهانه کهول د لوړتیا او خوښی لپاره ځان وقف کړم).۷

د ۱۷۶۷ کال د جنوری تر لومړیو وختو پوری پنجاب ته د شاه د رارسیدنی او احتمالاً د هندوستان په لور د ده د تګ اوازی په ټول ملک کې خوری شوی وی. د مرهټانو مشر (راغونات راو) د بهارت پور جټ حکمران جو هر سنګهـ (د سروج مال زوی) سره روغه وکړه او د هندوستان نور مشران یې دا وده نواب وزیر یعنی شجاع الدوله په ګډون دی ته راوبلل، چې د درانی یرغلګر په خلاف سره متحد شی. داسې معلومیږي چې (راغونات راو) په عین حال کې شجاع الدوله ته پیشنهاد وکړ د مرهټانو، شجاع الدوله او انګریزانو د ګډی قوی په بدرګه سره امپراتور شاه عالم ډیلی ته بوزی. ښاغلی ورلست د مرهټانو

۶ –دلارد کلف په ځای چې د ۱۷۶۷ کال په جنوری کې انګلند ته ستون شو ښاغلی ورلست د بنګال د نایب الحکومه په حیث مقرر شو.
۷ –د پارسی مراسلی سالنامه، لومړی ټوک، ۲۷۷۱ ګڼه.

سره د شجاع الدوله په یووالی کې څه ویره نه درلوده، خو له دی سره موافق نه و چې ډیلی ته د امپراتور د بدرګې لپاره کومه انګریزی قوه د هغوی په واک کې ورکړی. ورلست د ۱۷۶۷ کال د جنوری په شپارلسمه نېټه شجاع الدوله ته ولیکل چې ( شجاع الدوله او راغونات راو تر منځ خبرو اترو کې څه خطر نه وینی چې ښایې له مرټانو سره به د ښو اړیکو د ټینګیدو سبب شی دا مساله بیخی په مخاطب (شجاع ) پوری اړه لری. که چېری دی او مرټان پاچا شاه جهان آباد ته رهنمایې کړی دا ښه خبره ده خو انګریزی قوی په دغه بدرګه او هیات کې خپلی مرستی ورکولی نه شی.... تر هغه ځایه چې په ابدالی پاچا پوری اړه لری ښایې تر شاه جهان آباد پوری نفوذ وکړی، خو دهغه پرمختګ له هغه ځخه نور باید وړاندې لاړ نه شی. که چېری هغه (ابدالی پاچا ) دی لاری ته راکوږ شی نو د انګریزانو ټولمه قوه به له مخاطب سره یوځای او هغه (ابدالی پاچا ) ته به غوڅه ماتې ورکړی.[۸]

داسې بریښی چې (راغونات راو )له جوهر سنګهـ جټ سره له روغی وروسته د جودپور او جیپور په راجاګانو باندې د برید پلان جوړ کړ. ده بیلسا ونیو او د کوټا لورته وخوځید.

په عین حال کې دا معلومیږی چې شاه داود د نواب وزیر او مرټانو او انګریزانو له اتحاد ځخه خبر شوی و او هم د ده د وفادارو او سر تیرو

---

۸ –کننکو، د جټانو تاریخ، ۱۹۰ –۱۹۱ د فارسی مراسلی سالنامه، لومړی ټوک ۲۸۰۲ ګڼه.

راجپوتي راجاګانو لورته د (راغونات راو ) په مقاصدو پوره خبر شو. ده راغونات راو ته له پنجاب څخه یو سخت لیک ولیږه (او هغه یې له جګړې او سولې څخه په هغه صورت کې وبیراوه چې د پاني پت د فاتح له دوستورنو په خلاف عمل وکړي ) دغه لیک مرهټې جنګیالي وارخطا کړ او هغه په پټه له صحنې څخه ووت او د شاه او راجپوتانو په خلاف یې خپل ټول پلانونه نا اجرا پریښودل او د اندور لور ته وران شو. د شجاع الدوله او انګریزانو ټولې هڅې په دې باب ناکامې شوې چې دی (راغونات راو ) بیا خپل څنګ ته راولي او له هغه سره یې د دوی ټولې پوځې مرستې او ډاډ یېنې بندې کړې.[9]

شاه تل له شاه عالم سره ښه تمایل درلود له دې امله د هغه (امپراتور ) وکیل تل په شوق او هڅه کې و چې د شاه حضور ته ورشي او د امپراتور په ګټه له هغه سره ملاقات وکړي. څرنګه چې لارډ کلف پرته له دې چې د هغه (منین الدوله ) لیک ته ځواب ووایې انګلند ته ستون شوی و ، نو منیر الدوله له د ده ځای نیوونکي ښاغلي ورلست ته د ۱۷۶۷ کال د فبروري په اووه ویشتمه نېټه ولیکل چې د شاه په باب د ختنطځ هند د کمپنۍ د سیاست په هکله ده ته معلومات ورکړي. منیر وویل: ( دا وخت په هندوستان کې د قدرت خاوند ټولو وکیلانو (عرایض ) عرض کوونکي شاه استولی ده. که څه هم د لیک لیکوال

9 –د فارسي مراسلي سالنامه، دویم ټوکۍ ۲۰۷ بنرجي ( پیشواما داوراو)، لومړی ټوک ۱۴۵ -۱۴۷

بشپړ یقین لری د شاه لپاره به دا ګرانه وی چې سرکال د سکانو د مخالفت په سبب ډیلی یا نورو ځایو ته ځان ورسوی. سره د دې هم که د هندوستان قدرتونه له ده سره مرسته وکړی، انګریزان به څه لاره ونیسی) کله چې منیر الدوله د لیک په مقابل کې د ځواب ویلو له امله خپه شو، نو یو ځل بیا یې د مارچ په دریمه (شاه د دوو رودونو تر منځ اړولی دی او د هندوستان ټولو قوتونو ده ته (عرایض) لیکې، یوازی اعلیحضرت (امپراتور شاه عالم) چوپ دی چې به دی باندې شاه زیاته هیښتیا وښودله. دی ته ډېر لیوال یم چې پوه شم پاچا (شاه عالم) په درناوی او ښه روش شاه (احمد شاه ته خطاب وکړی یا نه)[10]

ښاغلی ورلست ده ته د مارچ د اوومی نیټې په خپل لیک کې وویل (چې د پاچا (شاه عالم) لپاره به دا د سلاو نه وی چې شاه ته څه ولیکې یا مخاطب (مرسل الیه یا منیر الدوله له) هغه (شاه) ته ورشی ورلست ښکاره کړه چې له دغه کار څخه به ډېری بدی نتیجی راووزی) ده زیاته کړه: (زه فکر نه کوم چې جوهر سنګهـ جټ، نجیب الدوله او نور روهیله مشران به شاه ته لاړ شی او خپلی سیمی به هغه ته وسپاری... که چېری جټان او روهیله متحد شی او سکانو ته څه مرسته ورکړی دا ممکنه ده چې شاه به مات او سپک شی)[11]

---

۱۰ –د فارسی مراسلی سالنامه، دویم ټوک ۱۰۷، ۱۳۹
۱۱ –د فارسی سالنامه دویم ټوک ۱۴۵

ده منیر ته ډاډ ورکړ چې (انګریزان دی ته چمتو دی چې له امپراتوری څخه دفاع وکړی. د سپاهیانو پنځه بریګادو نه شیو راچپور ته استول شوی چې هلته د کورا په سرحدو کې پاتې شی. که ضرورت شی د دوی د تقویې لپاره به نور پوځو نه واستول شی)

ورلست په همدغه بڼه د مارچ په پنځه ویشتمه نېټه شجاع الدوله ته ولیکل او وړاندې یې داسې وویل: انګریزی پوځو نه داوس په څیر هیڅکله دومره ستر نه وو او دی ته چمتو دی چې و جنګیږی حتی دومره زورور دی چې که روهیله او جټان له شاه سره پیوست شی هغوی په ګډه ماتولی شی) سره ددې هم ده هغه ته وویل چې (څرنګه چې انګریزی پوځونه زیاتره پلی دی او په مقابل کې د شاه ټول سواره ګڼل کېږی نو له دی امله به جناب (شجاع الدوله) د سو رویو پوځ کنډک برابر کړی)[۱۲]

د مارچ په لسمه نجیب الدوله شاه عالم ته یوه عریضه هغه وخت ولیږله چې دی (نجیب) د شاهد کمپ لور ته په روانیدو کې و او له هغه څخه یې و غوښتل (چې منیر الدوله شاه ته د مذاکرو لپاره واستوی، ځکه نوموړی شخصاً د شاه په دربار کې رسوخ لری). شاه عالم د دغه لیک له ژوری مطالعی وروسته هغه له خپل لیک سره یو ځای په پاکټ کې کېښود او نایب الحکومه ته یې واستاوه.

---

۱۲ –د فارسی سالنامه دویم ټوک ۲۰۱

منیر الدوله هم د نجیب په ځیر فکر او نظریه درلوده او په لیوالتیایې دا غوښتله چې د امپراتور او شاه تر منځ یو اتحاد را منځته شی او په نتیجه کې شاه له خپل نفوذ څخه د ده د قدرت او واکمنی د ټینګولو لپاره په هند کې له هغه سره مرسته وکړی. د دغه مقصد په ذهن کې لرلو سره ده (منیر) مارچ په شپږویشتمه دا موضوع د ورلست تعقل ته محول کړه او هغه ته یې وویل: ((اعلیحضرت (امپراتور شاه عالم) له شاه سره کوم تفاهم او خبری اتری کړی نه دی او د ټولو لرو چارو پریکړه د نایب الحکومه تعقل ته بریږدی ... او که شاه لکه چې نجیب الدوله ویلی دوه یا دری کاله په هندوستان کې پاتې شی او که احمد خان (بنګښ) – م) او نور روهیله سرداران له هغه سره پیوستون ومومی نتیجه به ډېره خرابه او د هغې چاره به بیخی سخته شی. که نایب الحکومه او شورا د تعقل له مخی له شاه سره د یوه اتحاد فکر ورکړی چې د سلا وړیو کاردی، د غوښتنه شوی چې جناب (نایب الحکومه) دا موضوع اعلیحضرت (شاه عالم) ته ووایې او دغه لیکونکې (منیر)ته به لارښوونه وکړی چې په هغه پوری مربوطو اجراآتو او عمل ته لاس په کار شی... وخت ډېر لږ دی هیله ده نایب الحکومه به یو عاجل ځواب ورکړی.. میر قاسم هوډ کړی چې شاه ته ورشی. د هغه وکیل زیات وخت کېږی چې له شاه سره دی او زیاتی ژمنی ورسره شویدی، که نایب الحکومه له شاه سره د اتحاد خیال لری نو لیکونکې (منیر الدوله) دی ته چمتو دی چې د اعلیحضرت

(امپراتور شاه عالم) او د نایب الحکومه دا وامرو سره سم هغه (شاه) ته ورشی د خدای په فضل او کرم به په ډېره خوشحالی او وړموقع کې یوه کلکه اتحادیه او دوستی را منځته شی. زموږ د دښمنان سلا مشوری او بدنظر به شنډ او لیلکونکې به په سر فرازی او درنښت شره راوګرزی، که دغه پیشنهاد جناب له خوا تایید شو نو هغه به لیکونکې ته یو (عرض) درخواست وړونکې م) د شاه او د دوستی یو لیک د هغه وزیر شاه ولی خان لپاره له یوه هیات سره راواستوی [13]

امپراتور هم په همدی مفکوره و او ددې طرفدار و چې منیر شاه ته ولیږی. هغه د ده او د (کلونل سر رابرت بارکر) تر منځ د خبرو اترو او مفاهمی په باب په هماغه ورځ (د مارچ شپاړلسمه) بناغلی ورلست ته داسې ولیکل: (دغ راز له شاه ولی خان څخه دا مکاتیب راغلی چې دوندی خان،.ملا سردار، حافظ رحمت خان، فیض الله خان او احمد خان دی د شاه کمپ ته لاړشی. میر قاسم دغه کچه او بی عزته غوځ تصمیم نیولی چې شاه ځان ورسوی. له زیات وخت راهیسی د ده وکیل دلسولکو له سندو سره د شاه په پوځ کې دی او ستری ژمنی یې کړی دی. دی له زړه څخه د شجاع الدوله له سره ډېره لویه بد بینی او دښمنی لری.

۱۳ –د فارسی مراسلی سالنامه، دویم ټوک، ۲۱۴ –۲۱۶ مخونه

که شاه د ډیلی لورته راوخیږی او (خدای دی و نه کړی) که روهیله ورسره پیوستون ومومی، نو د شریرو او نادانو خلکو سلا مشوری به غلبه ولری او په نتیجه کي به دی (شاه) دی لورته راوړاندې شی. نو په دېډول د شر دفعه کول به ګران وی او خونړی جګړه به و نښلی. که له یوی خوا شاه په خپله په (اله آباد) راودانګی او په هغه بله خوا رو هیله په لکنهو او (اودهـ) برید وکړی، نو د دواړو پوځونو سره ډ غری وهل به ګران وی. په دېسبب دا به ډېره زیاته مصلحت منونکې خبره وی چې د دغه خطر مخنیوی په غرض له شاه سره د دوستی او ملګرتیا یو تړون وشی. خو که چېری له شاه سره د سولی په مناسبو شرایطو موافقه تر لاسه نه شی، نو فیض آباد په سیمه کې ځانونه اخته نه کړای او بیرته پټنی ته را په شا شی)[14]

نایب الحکومه د مارچ په اووه ویشتمه امپراتور ته په ځواب کې ولیکل: (د شاه د راتګ په باب اعلیحضرت د کومی اندیښنی اړتیا نه لری.... که چېری هغه (شاه) دی خوا ته نه راځی ، نو مذاکری ضروری نه دی ، خو که راغی تو هغه (شاه) تر هغو چې بیشکش وانه خلی قناعت نه کوی. یو داسې سړی ته سره زر ورکول چې په ناحقه په دېهېواد برید وکړی اعلیحضرت او د ده وفادارو متحدینو (انګریزانو) ته په یوه شاه سپکاوی ګڼل کېږی. د راتلونکې په باب

14 – د فارسی مراسلی سالنامه، دویم ټوک، ۲۱۷ ګڼه.

دی د اعلیحضرت زړه بیخی له اندیښنی څخه بیغمه وی. په پټه کي پوځونو ته هدایت شوی چې لکنهو ته و خوځیږی چې په د ډول ټول هندوستان له اعلیحضرت سره د انګریزانو د دفاداری په ټینګتیا باندې قناعت ومومی او هندوستانیان دا ومنی چې دوی (انګریزانو) د اعلیحضرت د دښمنانو د ځپلو تصمیم لری او یا هر هغه څه په مقابل کې تیار دی چې بیښید ونکې بریښی ) [۱۵]

دا د مکاتبو هغعه کړنلاره وه چې د څه وخت لپاره د امپراتور او انګریزانو تر منځ روانه وه. د دواړو د ګتهو تر منځ یو ټکر لیدل کېده. امپراتو په دې فکر کې و چې له شاه سره به د ده ترون او اتحاد په هند کي د ده د واکمنی او حاکمیت له ټینګیدو سره مرسته وکړی. خو ده څه چاره نه لرله او د انګریزانو په لاس کې بی وسیلی کښیو تلی و. ده خپلواک وسایل په اختیار کې نه درلودل او د ده معیشت هم د هغوی په خوښه و. په د ډول ده د هغوی د خوا هشاتو په خلاف څه خپلواک عمل کولی نه شو. له بلی خوا انګریزانو د دغسی یوه پیشنهاد طرفدار نه وو چې د امپراتور د قدرت او موقف د پیاوړتیا امکان یې برابراوه، د د دوی د ګتهو په خلاف ګڼل کېده (داود هـ) نواب وزیر شجاع الدوله له دوه مخی او دوه ګون رول لوباوه. ده (شجاع الدوله)

---

۱۵- د فارسی مراسلی سالنامه، دویم ټوک، ۲۲۷ ګڼه.

د خپل ځان لپاره دلایل درلودل اودی ته جوړ نه و چې له شاه سره د امپراتور اتحاد او پیوستون وهڅوی.

ځکه شاه د ده (شجاع) سره د انګریزانو په نسبت زیات آزادنه عمل کولی نه شو. په دې سر بېره د هغه کوله چې د روهیله وو په خلاف دخپلو نقشو د عملی کولو لپاره د انګریزانو مرسته تر لاسه کړي. خو بیا هم ده (شجاع) له امپراتور سره په ښکاره مخالفت کولی نه شو او هم یې له هغه (امپراتور) سره په موافقه کولو باندې انګریزان له ځان څخه خپه کولای نه شول. شجاع الدوله د اپریل په لومړۍ نېټه امپراتور ته په خپل لیک کې داسې څرګنده کړه: (د لیکونکي په نظر دا پیشنهاد ډېر معقول دی، خو دا به لازمه وي چې د انګریزای سردارانو رضایت حاصل شي))[16]

یو وخت داسې معلومیده چې د انګریزانو او امپراتور تر منځ یوه جوته خلا او درز راغلی دی. هغه وخت چې مقیم خان د شاه او د صدر اعظم شاه ولی خان لیکونه امپراتور شاه عالم ته ورسول او هغه ته یې احتمالا د ۱۷۷۲ کال د اپریل په وروستی اونی کې تسلیم کړل، امپراتور وویل: (که شاه - شاه جهان آباد ته را روان شوی وای او که په دغه وخت کې شاه د سلو زرو سورو یوه ډله را استولی وای زه به اوس هلته ورغلی وای او که شاه دا وخت صرف د شلوزرو سورو یوه

۱۶ - د فارسی مراسلی سالنامه، دویم ټوک، ۲۵۳ ګڼه.

ډله را ولیږی زه به هلته ورشم. زه په خپل دریځ کلک یم دلته می په جیل کې بند یوان ساتی ))[17]

خو حالات هغه وخت بدل شول چې شاه په شمالی خوا کې له سکانو سره لاس او ګریوان شو. هغه تاوانونه چې سکانو د ده مخکښنی لیکې ته ورسول او د هغه د پوځ په اړخونو او څنډ باندې د دوی له خوا د منظمو حملو په نسبت ده (شاه) ته دانا ممکنه وه چې ډیلی ته برته له دی چې خپل اصلی پوځی مرکزونه د مواصلا توپه ګډون. د دوی (سکانو) په لاس کې پریږدی، ولاړشی. رښتیاه هم کله چې دی (شاه) د ستلج له رود څخه سویل خوا ته پوری وت، د رود شمال خوا ته تر څنډ پاتې سیمی سملاسی د دوی (سکانو) له خوا بیا ونیول شوی. په دې ډول ده ته دا بیخی ضروری وه چې پخوا له دی چې د هېواد په لور د ده لار بیخی بند کړل شی، بیرته راوګرزی.


د اورستی ستره ستونزه او اندیښنه وه چې د احمد شاه له خوا انګریزانو احساس کړه او اوس دوی په سیاسی لحاظ پر له پسی ډېر غوره والی وموند او په هند کې یې د مغولی امپراتوری په کنډوالو د انګریزی قدرت او واکمنی تاداو کېښود.

---

۱۷ – د فارسی مراسلی سالنامه، دویم ټوک، ۳۷۷ ګڼه.

# پنځمه ضمیمه

## د احمد شاه دراني شجره



عمر

اسدالله یا سدو — صالح

خواجه خضر خان

شېرخان

سرمست خان

دولت خان

محمدزمان خان

احمدخان — ذوالفقارخان

(احمدشاه دراني)

پرویز — سکندر — تیمورشاه — سلیمان

اونور — شجاع الملک — زمانشاه — محمود شاه — همایون

په ۱۸۱۸م کې سلطنت بارکزو ونیو.

# شپږمه ضمیمه

## د احمد شاه اولاده او ځای نیوونکي
## (له تیمور څخه تر محمود پورې)

### احمد شاه څلور زامن لرل:

سلیمان، تیمور، پرویز او سکندر. ده تیمور د خپل ځای نیوونکي په حیث په نامه کړ، خو دده صدراعظم شاه ولي خان خپل زوم شهزاده سلیمان په کندهار کې د پاچا په توګه ولس ته وروپېژاند. سره له دې هم تیمور په بري سره کندهار ته ننوت او د افغانانو د پاچا تاج یې پر سر کېښودل شو. شاه ولي خان او دده شریکان له تېغه تېر شول. د کندهار د خلکو د پاڅون د روحیې په سبب چې د پاچاییۍ لپاره یې د سلیمان غوښتنې ملاتړ کولې، شاهي دربار او پایتخت کابل ته ولېږدېد. دلته حکومت بیا تنظیم او تر ممکنه حده یې له دراني قبیلوي مشرانو څخه قدرت واخیست. ده د یوه سدوزي په حیث په سدوزیو اعتماد کولی نه شو. څرنګه چې ده له دوی څخه ځینې هغه مقامونه بېرته اخیستلی نه شول چې پلار یې د هغو کورنیو

ته په میراثي توګه ورکړي وو ، نو يو شمېر نوي يې ايجاد کړل او د هغوی يو شمېر يې ورتبديل کړل. خپل شخصي ګارد يې له اسحق زيو څخه رامنځته کړ او د پارسي قزلباشانو له منځ څخه يې د سورو يوه دولس زره کسيزه اضافي ډله راويستله، ځکه دده په فکر تر افغاني رعاياوو هغوی زيات باوري بريښېدل. د فريزر تايتلر په قول: (( دا غوره تېروتنې وې، ځکه په بدګومانه او شاته پاتې خلکو کې د بې باورۍ د زياتېدو لپاره له دې څخه بله ډېره يقيني لاره نه شته لکه د دوی مشران چې له پامه وايستل شي او د هغوی ښه نيت او وفاداري شکمنه شي.

ننني بې اتفاقيو او په خپله د تيمور شاه نرم چلند او سوله ييز خوی ليرې پراته مقبوظات دې ته وهڅول چې خپله وفاداري او اطاعت ورته ونه ساتي.

خراسان د افغاني سلطنت لويديځه مقبوظه وه. د نادرشاه لمسی شاه رخ ميرزا د احمدشاه زوی او ځای نيوونکي ته خپله وفاداري وساتله. سره له دې هم کله کله ځايي مشرانو او خلکو هڅه کوله له افغاني جغ څخه ځانونه خلاص کړي. د دوی پر خلاف درې واره لښکرې واستول شوې چې تر اطاعت لاندې راوستل شي.

سند د تل لپاره له لاسه ووت. تيمور شخصاً د تالپورد مشرانو پر خلاف په ۱۷۷۹ کال کې يو لښکر ولېږه او مجبور شو چې په ۱۷۸۲ کې خپل عمومي قوماندان دلاورخان ورولېږي. له تالپوري فتح خان سره روغه وشوه او نوموړي موافقه وکړه چې د تيمورشاه سرپرستي ومني او يوه ټاکلې اندازه باج ورکړي خو دا پرېکړه تر ډېر وخته پرځای پاتې نه شوه او د دربو کلو په اوږدو کې اړيکي بېخي وشلېدې.

کله چې په افغاني ترکستان کې د بخارا د شاه مراد د اله ګولې د غلې کولو لپاره سوله ییزې هڅې ناکامه شوې، تیمور مجبور شو چې له یوه لښکر سره د هغه پر خلاف حرکت وکړي، خو اغېزه یې دوامداره نه وه. افغاني پوځ د شاه مراد په دې موافقه سره چې د تیمور سرپرستي به ومني، په شا شو. ژمنې دا مفهوم نه درلود چې وپرې وشي او شاه مراد اصلاً او اساساً خپلواک شو.

سره له دې هم په سیستان، کشمیر او بهاولپور کې اله ګولې غلې کړل شوې او ملتان بیا له سکانو څخه ترلاسه شو.

خو تیمور له ننني ستونزو څخه وزګار نه و. د محمدزیو د قبیلې ارسلاخان یو شمېر دسیسه کاران په ځان راغونډ او په ۱۷۹۱ کې یې په پېښور کې د تیمور شاه د وژلو لپاره هڅه وکړه چې په دې ډول دده ورور شهزاده سکندر په تخت کېښنوي. توطیه کامیابۍ ته نږدې وه، خو د شاهي پوځ په وروستي غونډونه کې وو چې برید کوونکي له پښو وغورځېدل. ارسلاخان په بري سره وتښتېد خو وروسته له ده سره د زړه له اخلاصه د ژمنې په کېدلو سره چې په قران کې کښل شوې وه، ځان تسلیم کړ. خو غچ اخیستونکي پاچا امر وکړ چې دده مرۍ پرې کړل شي. ددغې ژمنې او قسم ماتول په افغانانو ک بدده یاد او اعتماد لکه دار کړ.

تیمور شاه د ۱۷۹۳ کال د مې په اتلسمه (د ۱۲۰۷هـ کال د شوال اوومه) له دنیا څخه سترګې پټې کړې او دده ځای نیوونکې ((د اسې شهزادګان وو چې د افغاني سلطنت لپاره یې یوه پېړۍ جګړه وکړه، ناندرۍ یې ووهلې او توطیې یې وکړې. په دغه موده کې د دوی امپراتوري د دوی په شاوخوا کې

ټوټې ټوټې شوه.)) تیمور زیات زامن لرل خو د وارث په نومولو کې بریالی نه شو. زمانخان چې وروسته د زمانشاه په نامه نامتو شو، دده پنځم زوی و او تصادفاً به دده د مړینې پر وخت په پایتخت کې و او ځان یې د افغانستان پاچا اعلان کړ. د ورونو ترمنځ د اوو کلونو جګړو په نتیجه کې شاه زمان په ۱۸۰۰م کال کې د محمود له خوا ړوند کړل شو او محمود هم په ۱۸۰۳ کال کې د شاه شجاع له خوا وشړل شو.

په ۱۸۰۹ کال کې شاه شجاع د محمود له خوا له ډګر څخه وایستل شو. محمود په ۱۸۱۸ کال د سدوزیو د کورنۍ د پای ته رسېدو مسوول وګرځېد او ځای یې بارکزیو ته خوشې کړ.

# اوومه ضمیمه

## سکان:

د سک ( په سانسکریت کې شیشیه ) کلمه د یوه زده کوونکي او مرید معنا لري. سکان د شپاړسمې پېړۍ په سر کې د پنجاب د سرسختو خلکو له منځه څخه د ګرونانک د پیروانو او مریدانو په حیث راولاړ شول. ګرونانک (۱۴۶۹-۱۵۳۹) د سکانو د مذهب تاداو کېښود. دی به تالواندي رای بهو یي کې وزېږېد. دا ځای اوس په پاکستان کې د ننکانه صاحب په نامه یادېږي. ګرونانک د روحاني ډلو او د مسلمانو حکمرانانو له خوا د خلکو استثمار او په هغو باندې د ظالمانه پالیسۍ چلول وغندل. ده د خدایانو او الهو تعداد ونه مانه او د یوه واحد خدای چې د اسمانو، کایناتو او بشر خدای دی، تبلیغ یې پیل کړ. ده د کاست سیستم منعه کړ او د برهمن انګېرل شوی لوړتیا یې منسوخه وشمېرله. ده دا اعلام کړه چې د خدای پر وړاندې ټول انسانان برابر دي او د افرادو ترمنځ توپیر موجود نه دی.

ده ته دا معلومه شوه چې په پنجاب کې د خلکو د بدمرغۍ اساسي علت هغه بې اتفاقي ده چې د عقیدو له اختلاف څخه منځ ته راغلې ده. ده هڅه وکړه چې د افکارو او روحیې یووالی ایجاد شي. ده فکر وکړ دا هغه وخت ممکنه ده چې د دوی ترمنځ د ورورۍ او برابرۍ پر اساس یو ګډ نظم او

سازمان موجود وي. له دې امله دا د سنګټ (مختلطې ټولنې) بنسټ کېښود. دا د سک مریدان هره ورځ مازیګر د دیني ورونو په څېر د لته راغونډېدل، د ګورو مذهبي سندرې یې ویلې او د خپل ورځني ژوند لپاره یې خیالات روزل. دا د په لنګر کې چې دا د له خوا معرفي شو، ټول یوځای کېناستل او د ګاست عقیدې او د ژوند د سطحې د په پام کې نه نیولو پر اساس په یوه کتار او لیکه (بنګټ) کې په ګډه ډوډۍ خوړله.

ګروتانک په هند کې د نورو ولیانو او ریفارمستانو پر خلاف خپل ځان صرف مذهبي ژوند ته وقف نه کړ. دا د په دغسې بېطرفۍ کې کېناستل ونه منل چې ورونه او خلک یې د ظالمانه سیستم لاندې کړول کېږي او ځپل کېږي. دا د دوی د نوي اګاهۍ لپاره راوېښ کړل او د خپل وخت حکام یې داسې وغندل: (( باچایان قصابان دي، بېرحمي د دوی چاړه ده. د هر مه یا د وظیفې احساس وزر کړی او ورک شوی دی. )) دا د په حواله (( دا یوازې احمقانن او بې عقلان دي چې حکومت کوي پرته له دې چې د خلکو ښېګڼه په زړه کې ولري )). دا د وویل: (( چې پاچایان باید د برابرۍ او عدالت چلوونکي وي. ))

دا د خلکو لپاره د امیدوارۍ یو پیغام او دوی ته داسې یو الهام و چې خپل بې زړه توب ورک کړی او له تابعیت څخه ځانونه وژغوري او په خدای ایمان ولري. د سنګټ (د مختلطې ټولنې) او پنګټ (یوځای ډوډۍ خوړل موسساتو د خلکو ذهن ته یوه بې طبقو دموکراته ټولنه راوسته چې په کې به ټول د یوه برابر موقف ادعا کولی شي. ګرونانک، دا د خپلواکۍ او په خپل ځان اتکا یوه سمبول او عنعني ته ورسول او تر هغه ځایه چې تاریخ ته

پته ده دغسې خلکو په منځ ته راتلو کې يې مرسته وکړه چې په سوله او جګړه کې د دوی په ځبر سرسخت زړور او سخت اصولي ځوک ليدل شوی نه دی.

ګرونانک نه يوازې د سک په خپلو مريدانو کې نامتو و، بلکې د هندوانو او د سيمې په مسلمانانو کې چې ورته د احترام له مخې بابا نانک يا نانک شاه ويل، هم شهرت درلود. کله چې دی په **۱۵۳۹** کې د راوي د رود په ښي ځنډه په کرتار پور (اوس په پاکستان کې) مړ شو، دواړو خواوو (مسلمانانو او هندوانو) ادعا وکړه چې ((دی د دوی سړی دی)) او دده په ياد يې هرې يوې خوا په خپل سبک دده د مړستون له پاسه يو زيارت جوړ کړ چې د ډوال يې شريک دی. دا ښه د اديانو په تاريخ کې ډېسارې ده.

د ګرونانک ځاي دده نهو تنو مخلصو ځای نيوونکو رڼا وساته او هغوی په دې ډول دی:

| | |
|---|---|
| ۱- ګروناک | **۱۵۳۹-۱۴۶۹** |
| ۲-ګروانګد | **۱۵۵۲-۱۵۳۹** |
| ۳-ګروامرداس | **۱۵۷۴-۱۵۵۲** |
| ۴-ګرو رام داس | **۱۵۸۱-۱۵۷۲** |
| ۵- ګروارجن | **۱۶۰۶-۱۵۸۱** |
| ۶-ګروهارګوبند | **۱۶۴۵-۱۶۰۶** |
| ۷- ګرو هررای | **۱۶۶۱-۱۶۴۵** |

۸- ګروهر کریشان ۱۶۶۰-۱۶۶۴

۹- ګروتګ بهادر ۱۶۶۴-۱۶۷۵

۱۰- ګروګوبند سنګهـ ۱۶۷۵-۱۷۰۸

د سک ګروګانو خپلو پیروانو ته په سکیزم کې یو متحد سازمان (په امرستر کې یې د تولېدو ځای)، دا دی ګرنت په نامه یو مقدس کتا (چې دوی یې اهل کتاب کړل)، یوځي روحیه او د سرتېري طریقه وبښل چې د بابا نانک ملک (پنجاب) یې جاودان کړ او رابرت دان. کست په خپل اثر (او رينتېتال انډلينګويستيک ايايز) کې هغه (سک لند) يا (د سکانو وطن) بللی دی.

پنځم ګرو، ګرو ارجن د امپراتور جهانګیر په امر تر شکنجې لاندې مړ شو، په داسې حال کې چې اورنګزېب اووه کاله وروسته د ګروتک بهادر (نهم ګرو) د اعدام حکم صادر کړ. په دې ډول سکان دې ته اړ شول چې د ځاني دفاع او ځان ساتنې په ترخ کې یو وسله وال ژوند ومني. وروستی ګرو، ګرو ګوبند سنګ دغه روحاني او سپېڅلی سپاهيان د خالصه په نظم کې تنظیم کړل. ده کهندی پهول یا د دوه خولې توري د تعمید غسل معرفي کړ او سکان یې دې ته راوبلل امریتا (خاص شربت) چې د پولادي خنجر په واسطه ښوول شوی وي، وڅښي او کراپراسد (سپېڅلې ډوډۍ) وخوري چې له یوه د یګ څخه ټولو ته وېشل کېږي. ده په خپله هم د سکانو له خوا په هماغهشان جوړ شویو مراسمو کې ځان شامل کړ او نوی روحاني ډلې ته ورننوت دغه کار ددې سبب شو چې دخالصه لپاره نه یوازې د لوړ او ټیټ او

خوار او شتمن تو پیرونه باطل و شمېل شي، بلکې د ښوونکي او مرید ترمنځ لیرې والی یې هم له منځه یووړ. د ګروګوبند سنګ دغه تواضع او شکسته نفسي او له خپل خوا جوړ شوي نظم ته دخپلې خوښې غاړه ایښودنه چې ده په خپل پیروانو ومانه، ددیني ورو ګلوی بېسارې نمونه شمېرل کېږي.

د ګروګوبند سنګ نوی دیني دستور د شیوالیک د غرنیو مشرانو په منځ کې د لمسون او بلوا سبب شو، ځکه هغوی دغه حالت د خپل زاړه او متعصب دیني سیستم پر خلاف یو خطر وشمېره. دوی نه یوازې د مغولو له ظلم څخه د ژغورنې په غرض د دندې د سرته رسولو لپاره ده ته مرسته ورکړه، بلکې دده پرخلاف یې له حکمرانانو سره پیوستون وموند. کله چې دوی ګرو او سکان و په قوت کې کمزوري ولیدل، نو ددغه نوي ملت د ځپلو په برخه کې یې د سرهند او ډیلي مغولي قوې دخپلې مرستې لپاره راوبللې. ګرو مجبور شو چې د غرنیو مشرانو او مغولي قوو په مقابل کې څوارلس واره جګړه وکړي. د انند پور ((د هوشیار پور په سیمه کې) په وروستۍ جګړه کې (د۱۷۰۴ کال د دسمبر) دی مجبور شو چې خپل کور خوشې کړي او د برار سیمې ته چې د ستلج د رود په سویل کې ده، په ښتې شي. دده مور او دوه کشران زامن یې د سرهند د نواب وزیر خان په لاس کې کښېوتل او هغه د اوو او نهو کلو دغه تنکي هلکان له تېغه وایستل.

په ۱۷۰۸ کې ګرو د دکن په ناندر کې د سرهند د نواب دیوه ایجنت له خوا ووژل شو. دا وخت ده له نوې امپراتور سره د تېرو خبرو په دوام دغه ځای ته بدرګه کوله له ګروګوبند سنګ وروسته روحاني مقام د سکانو مقدس

کتاب ((ګرو ګرانت صاحب)) ته ولېږدېد، په داسې حال کې چې د ټولنې موقتي رهبري د خالصه د عمومي هيات په لاس کې پاتې شوه.

د لسم او اخري ګرو، ګوبند سنګله مړينې وروسته دده يو مريد بندا سنګ په پنجاب کې ديوه سياسي رهنبر په څېر سر ښکاره کړ، د ګرو ګوبند سنګ له خواپيل شوې مبارزې ته يې دوام ورکړ. د سيمې له هر ګوټ څخه زيات شمېر سکان ده ته راټول شول او د سرهند په سيمه کې يې د الهګولې جنډه پورته کړه او د غه ځای د ۱۷۱۰م کال په مې کې د دوی لاس ته ورغی. دا د سکانو لومړنی سيمه ييزه سويه وه چې د هغې په ترڅ کې د ډيلي تر ګاونډ پورې سيمه چې د ستلج سويل ته پرته ده د دوی په قبضه کې ولوېده. په دې کار سره د پنجاب د اوسنی پټيالي سيمه په پنجاب کې دلومړني خپلواک سلطنت مرکز وګرځېدله. سکانو ورپسې خپل فتوحات ژر د کنګاه دواب ته خواره کړل او بيا د پنجاب منځنی او شمال ختيځ لور ته ورسېدل.

کله چې د لاهور مغولي والي سيداسلم خان د خپلواکی د دغه غورځنګ په مقابل کې ځان خوار او لاچار وليد، نو د سکانو پر خلاف يې جهاد اعلان کړ، خو ماتې يې وخوړه په بهيلووال کې د سکانو نابېره بريالی يرغل په مجاهدينو داسې سخت ګوزار وکړ چې په لاهور پورې مربوطې برخې پرته د راوي د رود سويل خواته ټ، له سيمه په لويديځ کې تر کاسور پورې د دوی لاس ته ورغله.

خو د سکانو دواړه او نوې زېږېدلی قدرت په مقابل کې مغولي امپراتوري لاډېره پياوړې وه. بندا سنګ **۱۷۱۵** کال په دسمبر کې له اوږدې کلابندی وروسته ونيول شاو ډيلي ته ولېږدېد او هلته په **۱۷۱۶** کال کې ټوټه ټوټه شو.

له ده سره نور اووه سوه څلور اتيا تنه سکان هم اعدام شول. داسې چې په ورځ يې سل تنه په وار اعدام کړل. دا وخت د مفتاح التواريخ د مولف په قول د ((امپراتور فرخ سير له خوا يو فرمان نافذ شو او په هغه کې ويلی شوي وو چېرې چې د دغې فرقې څوک وموندل شي له کوم تو پير او تميز پرته بايد ووژل شي.)) او د مالکم په حواله (( د دغه فرمان او د ستور د اغېزمنتوب په غرض د هر يوه سک د سر لپاره يو انعام ورکول کېده)).
سکان د پرش کاله لږ تر لږه په همدغه شدت تر څور او تعقيب لاندې وو. د مير منو د حکمرانۍ دوران (۱۷۴۸-۱۷۵۳) به بنايي د دوی تر ټولو بد وخت وي. د لاهور له ولايتي مرکز څخه به لېږنده ټولګی د دوی تعقيب لپاره راوتل او د ځناورو په څېر به يې دوی ښکار کول نه ولي او نه دانشمند ترې بچ وو. حتی ښځې او کوچنيان په غير انساني توګه ربړول کېدل. دغه ځورونې د سکانو د نن ورځې په ورځنيو دوعاګانو او لمنځونو کې ياد يږي.
د دغه عامو وژنو له امله سکان مجبور کړل چې په ليرې ځنګلونو او د(بارنالا) او (بټندا) په وچو سيمو کې پناه ګاه غوره کړه، خو دا ناممکنه شو چې په دې ځای کې دومره ګڼ شمېر خلکو دوا ړه هدفونه ترسره شي له دې امله دوی په دوو دالو يانې بودا دال (د لويانو اتحاديه) او تارو نادال ( د کشرانو يا ځوانانو اتحاديه) وويشل شول او وروستی يې څه وخت وروسته په پنځو جتهاګانو کې بيا ترتيب شوه او هغه بيا په دوولسو فرعي برخو چې ميسل وبلل شوې، جلا شوې. د مغولي پانګوالو او بيا د بهرنيو اشغال کوونکو په مقابل کې د ميسل د سردارانو سرسختانه او د مرګ او ژوند مبارزې نه يوازې د دوی شهرت او عددي (د شمېر له مخې) قوت

زيات کړ، بلکې د هغو لويو او وړو امارتونو واکمنان يې کړل چې د محلي حاکمانو په مقابل کې د بري له امله ورته په لاس ورغلي وو. د پاني پت له جګړې څخه پوره درې کاله وروسته د ۱۷۶۴ کال د جنورۍ په څوارلسمه نېټه په سرهند کې د زين خان افغان پر خلاف سوبه دد ې سبب شوه چې سکان د ستلج سويل خواته سيمې خپلواک واکمنان شي او د ۱۷۶۵ کال د اپريل په شپاړسمه لا د هور نيول دوی د پنجاب حکمروايان وګرځول. د بنګيانو ميسل تر ټولو لوی و او پراخه سيمې يې لرلې، خو د سوکار چاکيا مسيل دبقا لپاره په مبارزه کې بريالی وبرېښېد او د هغه رهبر سردار (وروسته مهارارجا) رنجيت سنګ دبېلابېلو ميسلانو د سيمو په متحد کولو سره د پنجاب سلطنت په جوړولو بريالی شو. ده له ۱۷۹۹ څخه تر ۱۸۳۹ پورې نږدې څلوېښت کاله په پنجاب کې حکومت وکړ. دده له مړينې څخه لس کاله وروسته د سکانو سلطنت د برتانويانو له خوا فتحه او ضم شو.

د برتانوي رژيم په دوران کې د سکانو موقتي برتانوي ضد غورځنګ په بېرحمۍ سره وټکول شو او د مهاتماګاندي له خوا د ساتياګراد غورځنګ د هند د خپلواکۍ غورځنګ ته نوی حرکت وباښه چې په نتيجه کې يې په ۱۹۴۷ کې له هند څخه د برتانيې ټغر ټول کړ.

# اتمه ضمیمه

## کرونولوژي

**۵۰۰** ق م.

د افغانانو هېواد د داریوش د هیخامنشي امپراتورۍ یوه برخه جوړوله.

**۳۳۱** ق. م.

یونانیان د اسکندر په مشرۍ په افغاني هېواد مسلط شول.

**۲۵۰** ق.م.

اشوکا په ندوکش او افغاني هېواد غلبه وکړه.

**۶۹۰-۷۰۰**م.

د افغانستان لور ته لومړنی اسلامي تهاجم

**۹۶۱**م.

د الپتګین له خوا د غزني یمیني کورنۍ تاسیس.

**۱۰۲۴**م.

غزنوي محمود په هند يرغل وکړ او د سومنات بت او معبد يې ړنګ کړ.

۱۲۲۱ (تقريباً ) م.

د چنګېزخان مغولو په خوارزمشاه غلبه وکړه.

۱۳۷-۱۳۳۲

په هرات کې تاجکان خپلواک شول.

۱۴۶۹

د ګرونانک زېږېدنه.

۱۵۰۴

بابر کابل ونيو.

۱۵۲۲

بابر کندهار لاندې کړ يا کندهار بابر ته تسليم شو.

۱۵۲۶ بابر په هند کې د مغولي امپراتورۍ تادا کېښود.

۱۵۵۸ (ستمپر- اکتوبر )

پارسيانو کندهار ونيو.

۱۵۸۴ (تقريباً )

اکبر کندهار ونيو.

۱۵۹۵

اکتبر کندهار ونیو.

۱۲۱۵

کندهار بیا د پارسیانو له خوا ونیول شو.

۱۲۰۲

د امپراتور جهانګیر له اوامرو سره سم ګروارجن په زجر سره ووژل شو.

۱۲۳۹

مغولو بدخشان ونیو.

۱۲۴۷

ازبکانو بیا بدخشان ترلاسه کړ.

۱۲۷۰

ګروتک بهادر په ډیلي کې د اورنګزېب په امر اعدام شو.

۱۲۹۳-۱۲۹۴

(۱۱۰۵هـ) بیګیلر بیګي د کندهار د والي په حیث وګورمال شو.

۱۷۰۲

ګرګین خان کندهار ته د والي په توګه راورسېد.

۱۷۰۴ دسمبر ۲۷

د انند پور وروستی جګړه. د ګورو ګوبند سنګ دوه ځوان زامن (زورور سنګ او فتح سنګ) په سرهند کې د نواب وزیر خان په امر اعدام شول.

۱۷۰۷

اورنګزېب مړ شو. د ګورګين له خوا د غلزيو عام قتل. ميرويس قدرت ته ورسېد.

۱۷۰۸

ګورو ګو بند سنګ د دکن په ناندر کې ووژل شو.

۱۷۰۹

ميرويس په کندهار کې د غلزيو خپلواکي اعلان کړه.

۱۷۱۰

بندا سنګ په پنجاب کې خپل سلطنت تاسيس کړ.

۱۷۱۱

د خسروخان په مشرۍ پارسي لښکر د ميرويس په مقابل کې ور وخوځېد.

۱۷۱۵

ميرويس مړ شو.

۱۷۱۲-۱۷۱۵

د ميرويس پرځای مير عبدالعزيز (عبدالله) راغی.

۱۷۱۲ سپتمبر ۲

(رمضان ۲۲-۱۱۲۸هـ) اسدالله هرات د يوې خپلواکۍ امارت او يا د شهزاده ترلاس لاندې سيمې په توګه اعلان کړ.

مارچ

د میرویس زوی میر محمود عبدالله وواژه. په ډیلي کې د بنداسنګ پیروان عام قتل شول.

جون

بنداسنګ شکنجه شو او په ډیلي کې يې بند په بند پرې کړ.

۱۷۱۷

(۱۱۲۹هـ) (نصیر خان محمد امان) مړ شو او پرځای يې نصیر خان د کابل صوبه دار شو.

جولای ۲۵

(شعبان ۲۲-۱۱۲۹هـ) ابدالیان هرات ته ننوتل.

۱۷۱۹

اسدالله خان صفی قلي خان ته ماتې ورکړه.

۱۷۲۰

۱۱۳۲هـ اسدالله خان په دلارام کې ووژل شو. زمانخان قدرت ته ورسېد.

۱۷۲۲

په ملتان کې د احمد شاه زېږېدنه.

مارچ

میر محمود د پارس پر تخت کېناست.

**۱۷۲۲-۱۷۲۳**

(**۱۱۳۵**هـ) محمد خان د زمان خان پرځای راغی.

محمد خان مشهد کلابند کړ.

**۱۷۲۴-۱۷۲۵**

(۱۱۳۷هـ) د عبدالله خان زوی رحمن په ذوالفقار خان برید وکړ.

**۱۷۲۵-۱۷۲۶**

(۱۱۳۸هـ) اله یارخان له ملتان څخه راوغوښتل شو او د مشر په توګه انتخاب شو.

**۱۷۲۶ نوامبر ۳۰**

(ربیع الثاني ۱۲- **۱۱۳۹**هـ) نادرشاه مشهد ونیو.

**۱۷۲۹ اپریل ۲۲**

(شوال **۵**- ۱۱۴۱هـ) نادرشاه د هرات لورته راروان شو.

**۱۷۳۰**

نادرشاه پارس ونیو.

مارچ

ذوالفقار خان د نادر پرضد راپورته شو.

اپریل

ذوالفقار خان اله یار خان له هرات څخه وشاړه.

جولای ۱۸

(شنبه محرم ۱۳-۱۱۲۳هـ)

ذوالفقار خان د مشهد قوماندان ابراهیم خان ته ماتې ورکړه.

اکتوبر ۳۱

(شنبه، ربیع الثاني ۲۹- ۱۱۴۳هـ) نادر بیا مشهد ته راغی.

۱۷۳۱- مارچ ۱۳

(شنبه رمضان ۱۵- ۱۱۴۳هـ) نادر په هرات یرغل وکړ.

جولای ۱۱

(محرم- ۱۷، ۱۱۴۴هـ) ذوالفقار خان له هرات څخه سر راپورته کړ.

اګست ۱۱

(صفر ۱۸- ۱۱۴۴هـ) ذوالفقار خان فراه ته ستون شو.

دسمبر

اله یار خان د سولې پیشنهاد وکړ.

۱۷۳۲

ابدالي کورنۍ خراسان ته تبعید شوې.

فبروري ۱۲

(رمضان۱-۱۱۴۴هـ) د هرات ښار د الله یار خان له خوا نادر ته تسلیم شو. ذوالفقار خان په فراه کې د ابراهیم خان له خوا له ماتې سره سم کندهار ته پناه یوورِه.

۱۷۳۵-۱۷۳۴

(۱۱۴۷هـ) د نادر د داغستان عملیات.

۱۷۳۶

نادر د کندهار افغاني مقبوضه (دومینون) ونیو. نادر له ترکیې سره سوله وکړه او بختیاران یې وځپل.

اکتوبر ۴

(د جمادي الثاني ۹ - ۱۱۴۹هـ) نادر خپل پایتخت ته ستون شو.

نوامبر ۱۰

(رجب ۱۷-۱۱۴۹) نادر د غلزیو پر لور وخوځېد.

۱۷۳۷جنوري ۲۳

(شوال ۴-۱۱۴۹هـ) نادر د کندهار او سیستان له پولې واوښت.

فبروري ۷

نادر کرشک ته ورسېد.

اپریل

د کندهار کلا بندي پیل شوه.

نادر شاه له کندهار سره نږدې د نادر اباد په نامه د ښار بنسټ کېښود.

اپریل ۳۰

(محرم ۱۱-۱۱۵۰هـ) نادر په ډیلي کې امپراتور محمد شاه ته محمد خان ترکمن د یوه هیات په مشرۍ ولېږه.

۱۷۳۸ مارچ

نادرشاه فراه ونیوله.

۱۷۳۸ مارچ ۱۲

(ذوالحجه ۴-۱۱۵۰هـ) نادر کندهار ته ننوت.

جون ۱

نادر غزني ته ورسېد.

د جون پای

د کابل چونۍ نادر ته تسلیم شوه.

دسمبر ۲۲

(رمضان ۲۵-۱۱۵۱هـ) نادر په هند برید وکړ، له پېښور څخه ډیلي ته روان شو.

۱۷۳۹ مارچ ۹

(ذالحجه ۹-۱۱۵۱هـ) نادر شاه د ډیلي چونۍ ونیوله.

مې ۱

(صفر ۳-۱۱۵۲هـ) د نادر شاه او د ډيلي د امپراتور محمد شاه ترمنځ تړون.

مي ۵

(صفر ۷-۱۱۵۲هـ) نادر د ډيلي واټو کې د خپلو راستنېدو پر وخت د کابل تر دروازې سپرلي وکړه. د نادر زر بارونه (زر بار ښاروي) د لارې په اوږدو کې او د سيالکوټ په لور سفر کې د تانيسار سره نږدې د بزګرو سکانو له خوا لوټ شول.

مي ۲۵

(صفر ۲۷-۱۱۵۲هـ) نادر اخنور ته ورسېد.

نوامبر ۲۱

(رمضان ۱- ۱۳۵۲هـ) نادر له هند څخه د راګرځېدو پر وخت کابل ته راورسېد.

۱۷۴۵

عبدالقاسم خان د کشمير د نايب والي په توګه وګومارل شو.

جولای ۱

(جمادی الثاني ۱۲- ۱۱۵۸ هـ) ذکريا خان په لاهور کې وفات شو.

اګست ۲۲

(شعبان ۹-۱۱۵۸هـ) محمد شاه يحيې خان د لاهور او شاه نواز خان د ملتان د واليانو په حيث وګومارل.

۱۷۴۲ جون۲

(جت۲-۱۸۰۳بیکرامی) د سکانو عامه وژنه او قتل لومړی کالوګارا.

جولای۱

یحیې خان لاهور ته راورسېد.

نوامبر۲۱

(ذیقعده ۱۸- ۱۱۵۹هـ) نادر شاه له اصفهان څخه (یزد) او کرمان ته روان شو.

مارچ ۱۷

په لاهور کې د کورنۍ جګړې پای.

۲۱

شاه نوازخان لاهور ته ننوت.

اپریل

نادرشاه مشهد ته روان شو.

جون ۸

(شنبه، جمادی الثاني۱۱-۱۱۲۰هـ) نادر شاه فتح اباد ته راورسېد او د خپل ګارد د افسرانو د توقیف حکم یې وکړ.

جون ۸-۹

نادرشاه د شپې په مهال د فتح اباد په کمپ کې ووژل شو.

جولای لومړی سر

احمد شاه په کندهار کې تاج پر سر کړ.

جولای ۱۵

(رجب ۱۸- ۱۱۲۰هـ) ملک محمد هاشم اپریدیو د قبیلي د ملک په توګه وګومارل شو.

سپتمبر ۳

(رمضان ۹-۱۱۲۰هـ) محمد نعیم خان ډیلي ته ورسېد.

نوامبر

د احمد شاه اخطار ډیلي ته په هند باندې د برید په ارتباط راورسېد.

نوامبر ۱۵

(ذیقعده ۲۳- ۱۱۲۰هـ) نصیر خان لاهور ته ورسېد.

دسمبر

احمد شاه له پېښور څخه لاهور ته روان شو.

دسمبر ۱۵

(ذالحجه ۲۷ ) نصیر خان ډیلي ته ورسېد ، قمرالدین د تګ اجازه حاصله کړه.

۱۷۴۸ جنوري ۸

(محرم ۱۸-۱۱۲۱هـ) احمد شاه شاهدرې (لاهور) ته ورسېد.

۱۷۴۸ جنوري ۱۰.

(محرم ۲۰-۱۱۲۱هـ) افغاني پوځ له راوي پورې وت او په محمود بوټي کې يې واړول.

۱۷۴۸ جنوري ۱۱

(محرم ۲۰-۱۱۲۱هـ) درانيان د لاهور د ښار خواته وخوځېدل.

۱۷۴۸ جنوري ۱۲

(محرم ۲۲-۱۱۲۱هـ) احمدشاه د شاه نواز خان خېمې او پوځي مراکز ونيول.

۱۷۴۸ جنوري ۱۳

(محرم ۲۳) راجا ايشري سنګهـ له ډيلي څخه سرهند ته وخوځېد.

۱۷۴۸ جنوري ۳۱

(صفر ۱۱- ۱۱۲۱هـ) شهزاده احمدشاه له ډيلي څخه سرهند ته روان شو.

فبروري ۱۰

(صفر ۲۱) شهزاده احمد پاني پت ته ورسېد.

فبروري ۱۹

(ربيع الاول ۱) شهزاده احمد کارنل ته ورسېد او په دې پوه شو چې روهيله محمدعلي خان تښتېدلی دی. احمدشاه له لاهور څخه روان شو.

فبروري ۲۶

(ربيع الاول ۷ او ۸) شهزاده احمد سرهند ته راورسېد.

فبروري ۱۷

(ربیع الاول ۹ ) شهزاده احمد مچوا را ته وخوځېد.

مارچ ۱

(ربیع الاول ۱۲ ) احمدشاه سرهند ته ورسېد.

مارچ ۲

(ربیع الاول ۱۳ ) احمد شاه په لودیانه کې له ستلج څخه واوښت.

مارچ ۳

(ربیع الاول ۱۴ ) شهزاده احمد سرهند ته وخوځېد.

مارچ ۹

(ربیع الاول ۲۰ ) احمدشاه اوربل پیل کړ. د احمد شاه د پوځ دوو تنو له هندي وزیر سره مصاحبه وکړه.

مارچ ۱۱

(ربیع الاول ۲۲ ) په منو پور کې عمومي عملیات

مارچ ۱۲

(ربیع الاول ۲۳ ) مغولو هیله لرله احمدشاه له جګړې څخه لاس واخلي.

مارچ ۱۳

(ربیع الاول ۲۴ ) احمدشاه د دښمن د مصروف ساتلو لپاره پوځ ولېږه.

مارچ ۱۵

(ربیع الاول ۲۶ ) محمد تقي خان د سولې د خبرو لپاره ولېږل شو.

مارچ ۱۲

(ربیع الاول ۲۷ ) افغانان بیا د جګړې لپاره راښکاره شول.

مارچ ۱۷

(ربیع الاول ۲۸ ) د افغانانو د شاګارد غایب شو.

۱۷۴۸ اپریل ۱۱

(ربیع الثاني ۲۳ - ۱۱۲۱هـ ) نصیر خان بیا د امپراتور محمدشاه له خوا د کابل والي شو.

۱۷۴۸ اپریل ۱۵

(ربیع الثاني ۲۷-۱۱۲۱هـ ) امپراتور محمد شاه په ډیلي کې له دنیا څخه سترګې پټې کړې.

۱۷۴۸ نوامبر

(خلکو له عصمت الدین خان څخه وغوښتل چې د کشمیر حکومت وکړي.
احمدشاه د دویم ځل لپاره په هند باندې برید وکړ.

۱۷۴۸ د سپتمبر ۲۸

د احمدشاه مالونه چې د مهدي قلي خان له خوا له لاهور څخه ولېږدول شول، ډیلي ته ورسېدل.

۱۷۴۹ پسرلی

له میر منو سره د احمد شاه تړون نصیرخان محبت خان لیرې کړ. احمد شاه په هرات ور وخوځېد.

د ۱۷۵۰ کال لومړی سر

احمد شاه کندهار ته ستون شو.

د ۱۷۵۱ پیل

افراسیاب بیګ خان په زهرو مړ شو.

د ۱۷۵۱ لومړی سر

احمد شاه په نیشاپور ورودانګل.

د ۱۷۵۱سپتمبر ۲۱

(ذیقعده ۱۲-۱۱۶۴هـ) شاه پېښور ته روان شو.

د ۱۷۵۱ د نوامبر نولسمه

( د محرم یوولسمه–۱۱۶۵هـ) شاه په پېښور کې په هند باندې د دربیم برید په تکل کې.

د ۱۷۵۱ د نوامبر ۲۹

(محرم۲۱ - ۱۱۶۵هـ) میر منو په لاهور کې د ولیانو زیارتونه وکړل.

د ۱۷۵۱ نوامبر ۳۰

(د محرم۲۲-۱۱۶۵هـ) میر منو له راوی څخه پورې وت او سرای بلخیان ته راغی چې د احمد شاه په مقابل کې د لاهور دفاع وکړي.

د ۱۷۵۱ د د سمبر ۱-۲

(محرم ۲۳-۲۴-۱۱۲۵هـ) جهان خان ايمين اباد ته نږدې راورسېد.

د ۱۷۵۱ د د سمبر ۴

(محرم ۲۶- ۱۱۲۵هـ) احمد شاه وزير اباد تـه نـږدې ((پـه کوتلا سـيدان)) کـې واړول.

د ۱۷۵۱ د سمبر ۱۲

(سفر ۴- ۱۱۲۵هـ) له هارون خان سره د مير منو خبرې.

د ۱۷۵۲ د جنورۍ منځ

شاه له راوي څخه پورې وت.

د ۱۷۵۲ د مارچ شپږمه

(چېتراسودی ۲- ۱۸۰۸ بيکرامی جمادی الاول ۱- ۱۱۲۵ مير منو پـه درانيـانو بريد وکړ. کورامل په جګړه کې ووژل شو. منو ماتې وخوړه.

د ۱۷۵۲ د مارچ لسمه

مير منو د شاه له کمپ څخه لاهور ته ستون شو.

د ۱۷۵۲ د مارچ ځلورويشتمه

(جمادی الاول نولسمه- ۱۱۲۵) صفدر جنګ ډيلي ته روان شو.

د ۱۷۵۲ د اپريل لومړۍ

قلندر بيګ خان د استازي په توګه ډيلي ته راورسېد.

رر رر رر

امپراتور له استازي سره وکتل.

د ۱۷۵۲ د اپریل دوولسمه

صفدر جنګ له مرټانو سره تړون وکړ.

د ۱۷۵۲ د اپریل شلمه

قلندر بیګ خان لاهور ته ورسېد.

د ۱۷۵۲ د اپریل یوویشتمه- دوه ویشتمه

احمدشاه له لاهور څخه افغانستان ته روان شو.

رر رر رر

کریم خان ته ماتې ورکړل شوه.

د ۱۷۵۲ منی

په خراسان کې اله ګوله.

د ۱۷۵۲ نوامبر

(محرم ۱۱۲۲هـ) شاه په جلال اباد کې.

د ۱۷۵۲ د سمبر اتمه

( د صفرې لومړۍ- ۱۱۲۲هـ) امپراتور عالمګیر ثاني ته د صفدر جنګ پیغام.

رر رر منځ

لاهور ته د افغاني استازي رارسېدل.

**۱۷۵۳**

(**۱۱۶۶**هـ) کريم خان شيراز ته ستون شو.

د **۱۷۵۳** د جنورۍ درېيمه اوونۍ.

افغاني استازی ډيلي ته ورسېد.

(ربيع الثاني اوولسمه – **۱۱۶۶**هـ) افغاني استازی حضور ته ومنل شو.

د **۱۷۵۳** د فبرورۍ يوويشتمه

(د ربيع الثاني اولسمه – **۱۱۶۶**هـ) له ډيلي څخه د افغاني استازي راستنېدل.

د **۱۷۵۳** د نوامبر څلورمه

(محرم اوومه- ۱۱۶۷هـ) (کتيک شودی ۹-۱۸۱۰ بيکرامی) منو مړ شو.

د **۱۷۵۳** د نوامبر دولسمه

(د محرم پځلسمه ۱۱۶۷هـ) د مير منو د مرګ خبر ډيلي ته راغی.

د **۱۷۵۳** د نوامبر ديارلسمه

(د محرم شپاړسمه- ۱۱۶۷هـ) امپراتور د لاهور او ملتان حکومت شهزاده محمود ته ورکړ.

د **۱۷۵۳** د نوامبر اوولسمه

( د محرم شلمه- ۱۱۲۷هـ) میر انتظام الدوله وزیر الممالک په غیابت کې د پنجاب والي مقرر شو.

د ۱۷۵۳ د نوامبر یوویشتمه

( د محرم ځلورویشتمه- ۱۱۲۷ ) انتظام الدوله میر مومن خان او بیکاري خان د لاهور د والي مرستیالان او ادینه بیګ خان د دواب بست جلندر نایب پوځدار مقرر شول.

د ۱۷۵۴ د جنورۍ ۱-۴

(ربیع الاول ۲-۹ -۱۱۲۷هـ) بیکاري خان د مغولاني بیګم له خوا بندي شو.

د ۱۷۵۴ د جنورۍ دېرشمه

(ربیع الثاني ۱۱۲۷ هـ) د امپراتور عالمګیر ثاني له خوا د معین الملک ماشوم زوی محمد امین خان ادینه بیګ خان او مومن خان اعزاز شول.

د ۱۷۵۴ د فبرورۍ درېیمه

(ربیع الثاني نهمه- ۱۱۲۷هـ) د میر منو زوی محمد امین د پنجاب د والي په حیث وګومارل شو.

د ۱۷۵۴ د فبرورۍ ځلورمه

(ربیع الثاني لسمه- ۱۱۲۷هـ) د محمد امین په نامه د معین الملک د ماشوم زوی ادینه بیګ او مومن خان په نامه د احمد شاه د فرمانونو رسېدل.

رر د مې پای

د میر منو زوی محمد خان مړ شو.

رر سپتمبر

میر مومن خان د مومن الدوله لقب ورکړل شو.

د ۱۱۵۵ اپریل

بیکاري خان په لاهور کې په زندان کې له دنیا څخه سترګې پټې کړي.

رر جولای-۱۴ د مغولاني بیګم او عبید الله خان مخالفت.

د ۱۷۵۲ فبروري

عبید الله خان جمو ته وتښتېد. مغولاني بیګم یو ځل بیا د پنجاب واکمنه شوه.

رر د مارچ دویمه

عمده بیګم (د مغولاني بیګم لور) او مغولاني بیګم په سرهند کې د غازي الدین کمپ ته ورسېدلې.

رر رر اته ویشتمه

مغولاني بیګم له ((مچېوارا)) سره نږدې د غازي الدین کمپ ته راغله.

رر د جولای نولسمه

(د شوال یو ویشتمه- ۱۱۲۹هـ) غازي الدین بیا په ډیلي کې.

رر اکتوبر

ایلیچ خان د افغاني استازي قلندر خان په ګډون بیا په ډیلي کې.

رر رر ۲۹

( د صفر څلورمه- ۱۱۷۰هـ) له غازي الدين سره د قلندر خان لومړی مصاحبه.

رر رر ۳۱

( د صفر شپږمه- ۱۱۷۰هـ) عالمګير ثاني قلندر خان حضور ته ومانه.

رر د نوامبر دريمه

قلندر خان عالمګير ثاني او غازي الدين ته آسونه د سوغات په توګه ورکړل. د غازي الدين او نجيب الدوله ترمنځ ترخې خبرې وشوې.

د ۱۷۵۲ د نوامبر اتمه

(صفر څوارلسمه- ۱۱۷۰هـ) نجيب الدوله د غازي الدين په کمپ پورې دوکانونه لوټ کړل.

رر رر پنځلسمه

(صفر يوويشتمه- ۱۱۷۰هـ) احمد شاه دراني له پېښور څخه لاهور ته وخوځېد.

رر رر دريمه اوونۍ

سورج مال جټ له غازي الدين سره د خبرو اترو د ناکامۍ له امله بهارتپور ته ستون شو.

رر رر درويشتمه

(صفر نهه ويشتمه- ۱۱۷۰هـ) له عالمګير ثاني سره د قلندر خان دويمه مصاحبه.

رر رر پنځه ویشتمه

جنګ باز خان لاهور ونیو.

رر د سمبر دیارلسمه.

(ربیع الاول شلمه- ۱۱۷۰هـ) د ادینه بیګ له افرادو څخه ((باتهالا)) او ادینه نیګر پاک شول.

**۱۷۵۶** د سمبر شلمه

(ربیع الاول اوه ویشتمه- ۱۱۷۰هـ) احمد شاه لاور ته وخوځېد. اغا رضا د سیاسي مذاکرو لپاره شاه ته واستول شو.

رر رر پنځه ویشتمه.

(ربیع الثاني دویمه- ۱۱۷۰هـ) غازي الدین د ملګرو او امیرانو غونډه جوړه کړه. غازي الدین نجیب الدوله ته ولاړ او د مرستې غوښتنه یې ترې وکړه.

د **۱۷۵۶** د سمبر **۲۹**.

(ربیع الثاني شپږمه- ۱۱۷۰هـ)

یعقوب علي خان عالمګیر ثاني ته معرفي شو.

د **۱۷۵۶** د سمبر پای

(شاه په سرهند باندې د برید لپاره حسن خان ورولېږه.

د **۱۷۵۷** د جنورۍ پنځمه

(ربیع الثاني اتلسمه- ۱۱۷۰هـ) احمد شاه دراني له تسلج څخه پورې وت.

مغولاني بیگم له شاه سره د سولې د خبرو په غرض پنجاب ته روانه شوه.

رر رر دولسمه

(ربیع الثاني شلمه-۱۱۷۰هـ) مغولاني بیگم په کارنل کې د جهان خان کمپ ته راورسېدله.

رر رر څوارلسمه

(ربیع الثاني دوه ویشتمه-۱۱۷۰هـ) اغا رضا د سولې له شرایطو سره ډیلي ته راورسېد.

رر رر شپاړسمه

(ربیع الثاني دوه ویشتمه-۱۱۷۰هـ) جهانخان ډیلي ته ورسېد. د شاه ولي خان د مخې بندولو لپاره د انتاجي منکشوار هڅه.

رر رر اوولسمه

(ربیع الثاني پنځه ویشتمه-۱۱۷۰هـ) د راجګاټ په غاړه د جهان مخې د بندولو لپاره توپونه کېښودل شول.

رر رر اتلسمه

(ربیع الثاني اوه ویشتمه-۱۱۷۰هـ) غازي الدین د ځینو امیرانو په ګډون د شاه د ملاقات لپاره ووت.

رر رر شلمه

(ربیع الثاني اته ویشتمه-۱۱۷۰هـ) احمد شاه غازي الدین حضور ته ومانه.

رر رر یوویشتمه

(ربیع الثاني نهه ویشتمه-۱۱۷۰هـ) په ډیلي کې د احمد شاه دراني په نامه خطبه وویل شوه. انتاجي منکشوار سرورخان ته ماتې ورکړه.

رر رر دوه ویشتمه

(جمادی الاول لسمه-۱۱۷۰هـ) شاه د ډیلي د چونۍ د نیولو تیاری پیل کړ.

رر رر دویشتمه

(جمادی الاول لسمه-۱۱۷۰ هـ)

شاه ډیلي ته نږدې وزیر اباد ته ورسېد.

رر رر ځلیرویشتمه

(جمادی الاول دریمه-۱۱۷۰هـ) جهانخان د ډیلي چونۍ (ارګ) ته ننوت.

رر رر ۲۳-۲۴

مغولي اشراف شاه ته د احترام لپاره لاړل.

**۱۷۵۷ جنوري ۲۵-۲۶**

شاه د هند سلبنت عالمګیر ثاني ته وبابښه.

رر رر شپږویشتمه

عالمګیر ثاني په وزیراباد کې د شاه د کتنې لپاره ورغی.

**۱۷۵۷ جنوري ۲۶**

جهانخان له عالمګیر ثاني سره وکتل.

رر رر اته ویشتمه

احمدشاه ډيلي ته ننوت او د ډيلي په چونۍ کې تم شو.

رر رر نهه ويشتمه

(جمادی الاول اتمه- ۱۱۷۰هـ) د شاه د حمايې او مصوونيت لپاره د شاه اعلاميه. عالمګير ثاني له شاه سره وکتل او په ((دربار عام)) کې يو دربار جوړ شو.

رر رر دېرشمه

(جمادی الاول نهمه- ۱۱۷۰هـ) په ډيلي کې د احمدشاه دراني په نامه سکې ووهلی شوې.

فبروري

رر فبروري۱

(جمادی الاول يوولسمه- ۱۱۷۰) جهانخان انتاجي منکشوار ته ماتې ورکړه.

رر رر دويمه

جهان خان د فريد اباد د ښارګوټي له سوځولو وروسته ډيلي ته ستون شو.

رر رر ۴-۲۰

د ډيلي له اوسېدونکو څخه په زور پيسې واخيستل شوې.

رر رر څوارلسمه

(جمادی الاول څلیرویشتمه- ۱۱۷۰هـ) د احمد شاه زوی شهزاده تیمور د امپراتور عالمګیر ثاني د لور شهزادګۍ ګوهر افروز بانو بیګم سره واده وکړ.

رر رر اتلسمه

(جمادی الاول اته ویشتمه- ۱۱۷۰هـ) د احمد شاه دراني او عالم ګیر ثاني ترمنځ تړون لاسلیک شو.

رر رر شلمه- یوویشتمه شپه.

(جمادی الثاني لومړۍ- ۱۱۷۰هـ) عمده بیګم غازي الدین ته واده شوه. شاه د بهارتپور جټ سورج مال په مقابل کې وروخوځېد.

رر رر ۲۳-۲۴

شاه په خیر اباد کې تم شو.

رر رر درویشتمه

(جمادی الثاني څلورمه- ۱۱۷۰هـ) غازي الدین د جټانو پر خلاف له شاه سره یوځیا شو.

د ۱۷۵۷ د فبرورۍ پنځه ویشتمه

(جمادی الثاني پنځمه- ۱۱۷۰هـ)

مغولاني بیګم د جټانو پرخلاف له شاه سره یوځیا شو.

رر رر شپږویشتمه

(جمادی الثاني شپږمه –۱۱۷۰ ) شیر اندازخان له غازي الدین سره وکتل.

رر رر اوه ویشتمه

(جمادی الثاني اتمه- ۱۱۷۰هـ) جهانخان جوهر سنګ ته ماتې ورکړه.

رر مارچ لومړی

(جمادالثاني نهمه- ۱۱۷۰هـ) جهانخان (متورا ) ته ننوت او ولس یې ټول عام قتل کړ.

رر رر درېیمه

(جمادی الثاني څوارلسمه- ۱۱۷۰هـ) د جهانخان له خوا په برندابان کې عام قتل.

رر رر پنځلسمه

(جمادی الثاني درویشتمه- ۱۱۷۰هـ) شاه (متورا ) ته ورسېد.

رر رر یوویشتمه

(جمادی الثاني درویشتمه- ۱۱۷۰هـ) جهانخان اګرې ته ورسېد.

رر رر درویشتمه

( د رجب دویمه- ۱۱۷۰هـ) جهان خان ته د شاه له خوا عاجل اوامر راغلل چې دده حضور ته راشي.

**۱۷۵۷مارچ څلیرویشتمه**

(رجب دربیمه- ۱۱۷۰هـ) جهان خان له اګرې څخه لاړ چې په متوراکي له شاه سره یوځای شي.

رر رر شپږویشتمه

(رجب دربیمه–۱۱۷۰هـ) شاه عالمګیر ثاني ته پیغام ولېږه.

رر رر یو دېرشمه

شاه د ډیلي په حومه کې واړول (د رجب لسمه- ۱۱۷۰هـ).

رر اپریل لومړی

(رجب یوولسمه- ۱۱۷۰هـ) شاه بدالي ته خپل کمپ ولېږداوه.

رر رر دویمه

عالمګیر ثاني له شاه سره د خدای پاماني کتنه وکړه.

رر رر پنځمه

صاحب محل د شاه کمپ ته راورسېده.

رر رر لسمه

صاحب محل

د شاه له کمپ وروسته ډیلي ته روانه شوه.

رر رر دیارلسمه

شاه تاروري ته ورسېد.

رر اګست

(راغونات راو ) د ډيلي په ګاونډ کې.

**۱۷۵۸ جنوری شپږمه**

(ربیع الاخر پنځه ویشتمه- ۱۱۷۱هـ) د پنجاب په لور د مرتهانو اعزام. د ادینه بیګ خبرې اترې له راعونات راو سره.

رر رر دویمه اوونۍ

**عبدالصمد خان د سرهند په استحکاماتو پيل وکړ.**

رر فبروري پای

(راعونات راو ) له ډيلي څخه سرهند ته وخوځېد.

**۱۷۵۸ مارچ نهمه**

(پګن ۲۹-۳۰-۱۸۱۴ بیکرامي ) راعونات راو د سرهند ګاونډ ته ورسېد.

**د ۱۷۵۸ جنوري یوویشتمه**

سرهند د سکانو او مرتهانو له خوا ونیول شو.

رر **اپریل** شپاړسمه

**جهانخان د بیس د رود په غاړه د جلال اباد ښار څخه لاهور ته ستون شو.**

رر رر اوولسمه

د تیمور او جهانخان کمپ له راوي سره ودرول شو.

رر رر نولسمه

تیمور او جهانخان له لاهور څخه روان شول.

رر رر شلمه

سکانو او مرټانو لاهور ونيو.

رر رر

خواجه ميرزا جان لاهور ته وټاکل شو.

رر مې لسمه

(رمضان دويمه- ۱۱۷۱هـ) راغونات راو له لاهور څخه سويل ته روان شو.

رر جون پنځمه

راغونات راو په کرو کشترا کې غسل وکړ.

رر سپټمبر پنځلسمه

رر رر پای

جانکو جي شندي له اندسن څخه ستون شو.

رر رر

باميزي نورالدين خان سند سنګر دواب ته ننوت.

رر نوامبر

توکاجي هولکار په پېښور کې.

رر دسمبر څلورمه اوونۍ

(ربيع الاخر پای ۱۱۷۲هـ) راغونات راو او ملهار راو هولکار له ډيلي څخه دکن ته ستانه شول.

۱۷۵۹ جنوري څلورمه

(جمادی الاول پنځمه-۱۱۷۲هـ) جانکو جی شندی ډيلي ته نږدې باراری ته چې وزير اباد ته څېرمه دی، راورسېد.

رر رر يو دېرشمه

(جمادی الثاني دويمه-۱۱۷۲) د جانکوجی شندی او غازي الدين ترمنځ تړون وشو.

رر فبروري لومړۍ

جانکو جي شندي شمال خواته وخوځېد.

رر د اپريل منځ

ساباجي له پېښور څخه لاهور ته وکرځېد.

رر د اګست پای

احمدشاه د جهانخان په مشرۍ يوه قوه پنجاب ته ولېږله.

رر سپتمبر اکتوبر

(صفر ۱۱۷۳هـ) شاه په هند رابنکته شو.

رر اکتوبر پنځه ويشتمه

(ربيع الاول دريمه ۱۱۷۳هـ)

شاه په ګايندوال کې له بيس څخه پورې ووت

رر نوامبر نهه ويشتمه

(ربیع الثاني ۸- ۱۱۷۳هـ) عالمګیر ثاني ووژل شو.

شاه جهان ثاني د ډیلي په تخت کېنول شو.

**۱۷۵۹ د سمبر ۱۰**

(ربیع الثاني ۱۹- ۱۱۷۳هـ) نجیب الدوله مهاراجا ساوای مادوسنګ ته ولیکل. احمد شاه په خیر اباد کې واړول.

**۱۷۵۹ د سمبر ۲۰**

((داتاجي)) له جمنا څخه پورې ووت.

**۱۷۵۹ د سمبر ۲۱**

شاه عالم ثاني د خپل پلار د مرګ اوازه واورېده.

**۱۷۵۹ د سمبر ۲۴**

(پاش سودي ۵- ۱۲۸۱ شاکا، ۱۸۱۲ بیکرامي) مرهټان له افغانانو سره ونښتل. شاه عالم ثاني د ډیلي د امپراتور په حیث ځان اعلام کړ.

**د ۱۷۵۹ د سمبر ۲۷**

داتاجي له کنج پورا څخه روان شو او د ډیلي لور ته وخوځېد.

**۱۷۵۹ د سمبر ۲۹**

داتاجي سونیپت ته ورسېد. احمد شاه د جیپور راجا ته ولیکل.

**۱۷۵۹ د سمبر ۲۹**

د نصیر خان بلوڅ بلوا

۱۷۶۰ جنوري ۴

(جمادی الاول ۱۵- ۱۱۷۳هـ) داتاجي راري ته لاړ.

۱۷۶۰ جنوري ۷

(جمادی الاول ۱۸- ۱۱۷۳هـ) داتاجي ډيلی ولید.

۱۷۶۰ جنوري ۹

(جمادی الاول ۲۰- ۱۱۷۳هـ) نجيب خان له جمنا څخه پورې ووت.

۱۷۶۰ جنوري ۱۲

(جمادی الاول ۲۷- ۱۱۷۳هـ) نجيب خان او عبدالاحد خان د نظام الدين اوليا زيارت وکړ.

۱۷۶۰ جنوري ۲۱

شاه د نظام الدين اوليا زيارت ته لاړ.

۱۷۶۰ جنوري ۲۷

شاه له خضر اباد څخه روان شو.

۱۷۶۰ جنوري ۲۸

رابرت کلف د بنګال د حکومت مسوولیت جان، زيږ. هولويل ته ور په غاړه کړ.

۱۷۶۰ فبروري ۶

شاه ډيګ ته ورسېد.

۱۷۶۰ فبروري ۱۱

افغانانو مرتهانو ته ماتې ورکړه.

۱۷۶۰ فبروري ۱۸

شاه ريواړي ته وخوځېد. شاه د جيپور راجا ته وليکل.

۱۷۶۰ فبروري ۲۲

مرتهان بيا په بهادر ګړ کې جوت شول.

۱۷۶۰ فبروري ۲۸

(ملهار راو هولکار) سکندر اباد ته ورسېد.

۱۷۶۰ مارچ ۴

مرتهان د سکندر اباد سره نږدې د شپې پر مهال د افغانانو له خوا تر برید لاندې راغلل او تيت و پرک کړل شو.

۱۷۶۰ مارچ پنځمه

شاه عليګړ (کول) ته ورسېد.

رر رر

( د شعبان لمړی سر ) شاه احمد خان بنګښ راوباله.

رر رر يو د پرشمه

( د شعبان ديارلسمه – ۱۱۷۳هـ) احمد خان بنګښ له شاه سره وکتل.

رر د مې د پرشمه

د مرټانو لښکر ګواليار ته ورسېد.

رر جون اتمه

د مرټانو لښکر د هاولپور ته ورسېد.

رر جولای څوارلسمه

د مرټانو لښکر اګرې ته ورسېد.

رر رر اتلسمه

(ذیلحجه ۴ - ۱۱۷۳هـ) شاه ولي خان د شجاع الدوله د ښه راغلاست لپاره ووت.

رر رر دوه ويشتمه

ډيلی د مرټانو په لاس کې ولوېد.

رر رر اوه ويشتمه

جان. زيډ. هو لويل، د بنګال د حکومت مسووليت هنری وانستارت ته ور په غاړه کړ.

رر اګست دويمه

د ډيلي چوڼۍ د مرټي (ساداشيوراو ) له خوا ونيول شوه.

رر رر دولسمه

(شاه داشيوبهاو ) له ډيلي څخه روان شو.

رر اکتوبر لسمه

بهاو (کنج پورا ) ته وخوځېد.

شاه جهان ثاني خلعه او شاه عالم ثاني د ډيلي امپراتور شو.

رر رر شپاړسمه

بهاو کنج پورا ته ورسېد.

رر رر شلمه

(ربيع الاول لسمه- ۱۱۷۴هـ)

شاه شمال خواته وخوځېد ميرقاسم د مير جعفر پرځای د بنګال بهار او اوړيسې نواب نظام مقرر شو.

رر رر پنځه ويشتمه

افغاني پوځ له جمنا څخه تېر شو.

رر رر شپږويشتمه

شاه له جمنا څخه پورې ووت.

رر رر اوه ويشتمه

شاه پسند خان په (سونيپت) کې د مرهټانو ګزمه ماته کړه.

۱۷۶۰ اکتوبر ۲۸-۳۰

شاه په ګانار کې تم شو.

رر رر نهه ويشتمه

ساداشيو پاني پت ته ستون شو.

رر      رر      یو دېرشمه

شاه سمبالکا ته ورسېد.

رر      نوامبر

سکان په لاهور راتوی شول.

رر      رر      لومړی

شاه پاني پت ته ورسېد.

رر      رر      نولسمه

فتح علي خان د شاه توپخانه وتښتوله.

۱۷۶۰ نوامبر دوه ویشتمه

د سند یا سند هیا لښکرو په شاه ولي خان برید وکړ.

رر      ستمبر

مرټانو په روهیله وو د توپونو ډزې پیل کړې.

۱۷۶۱ جنوري شپږمه

د مرټانو پوځونه له پیسو سره پاني پت ته ورسېدل.

رر      رر      دیارلسمه

د مرټانو افسرانو له ساداشیو سره مشورې وکړې.

رر      رر      څوارلسمه

د پاني پت جګړه. احمد شاه مرهټانو ته ماتې ورکړه.

رر رر پنځلسمه

شاه پاني پت ته ننووت.

رر رر نهه ویشتمه

شاه ډیلي ته ورسېد. شاه عالم ثاني د هند د امپراتور په حیث.

رر فبروري لسمه

افغاني وکیل کلراج له پیشوا سره وکتل.

رر رر یوویشتمه

نجیب الدوله د جټانو استازي شاه ته معرفي کړل.

رر مارچ لومړی

ښاغلی وانستارت د انګرېزانو وفاداري شاه عالم ته څرګنده کړه.

رر رر اوومه

شاه ولي خان اکرې ته وخوځېد.

رر رر یوولسمه

(شعبان څلورمه- ۱۱۷۴هـ)

میر قاسم له شاه عالم ثاني سره وکتل.

رر رر دیارلسمه

شاه خپل وطن ته د ستنېدلو (بیش خیمه) ودروله.

رر رر شلمه

پیشوا دکن ته روان شو.

رر رر اوه ویشتمه

شاه له ډیلي څخه امبالا ته ورسېد.

رر رر نهه ویشتمه

(شعبان دوه ویشتمه- ۱۱۷۴هـ)

الاسنګ د پټیالې د حکمران په حیث اعلان شو.

رر اپریل اوومه

نجیب الدوله په ډیلي کې د شاه نماینده شو.

رر اپریل شپږویشتمه

شاه د ستنېدو په لارکې لاهور ته راورسېد.

رر جون درویشتمه

پیشوا بالاجي راو مړ شو.

رر جولای شلمه

ماداو راو د پیشوا په توګه ډګره راووت.

رر اکتوبر اوه ویشتمه

سکانو په امرتسر کې (د ېوالي) ونمانځله.

**۱۷۶۲ فبروري دریمه**

(رجب **۹** - **۱۱۷۵**هـ) شاه له لاهور څخه د سکانو پرخلاف ووت.

رر رر **څلورمه**

شاه د سرهند زین خان ته پیغام ولېږه.

**۱۷۶۲ فبروري پنځمه**

(د رجب یوولسمه- **۱۱۷۵**هـ) د سکانو دویم ستر قتل د احمد شاه له خوا (دویم ګالو ګرا).

**۱۷۶۲ فبروري پنځلسمه**

شاه له سرهند څخه لاهور ته روان شو.

رر **مارچ دریمه**

شاه لاهور ته ورسېد.

رر **اپریل لسمه**

شاه په امرتسر کې د سکانو معبد په باروتو کې والوزاوه. شاه خښتې د یوې هوایي ټوټې په واسطه په پزه ټپي شو.

رر رر **پنځلسمه**

نجیب الدوله ډیلي ته ستون شو.

رر **اپریل- مې**

(ویساک، شاکا ۱۶۸۲) سکانو د سرهند زین خان ته ماتې ورکړه.

رر اکتوبر شپاړسمه

شاه له لاهور څخه امرتسر ته ورسېد.

رر رر اولسمه

شاه د سکانو د برید له امله په شاتګ شو.

رر دسمبر دولسمه

شاه له لاهور څخه افغانستان ته روان شو.

۱۷۶۳ نوامبر

جهانخان رچنا دواب ته ننوت.

رر دسمبر

د سکانو له خوا د (مالر کوټلا) کلابندي. د مالر کوټلا بیکاري خان ووژل شو.

رر رر پنځه ویشتمه

سورج مال جټ ووژل شو.

۱۷۶۳-۶۴

د سرهند، لاهور او ملتان ولایتونه د سکانو له خوا ونیول شول.

۱۷۶۴ جنوري څوارلسمه

(مګ ۴-۱۸۲۰ب) زین خان له سکانو سره په جګړه کې ووژل شو.

رر رر شلمه

سکانو سهارنپور ونیو.

رر رر رر

سکان په لاهور کې، خواجه عبیدالله خان ووژل شو.

رر اکتوبر

شاه هند ته وخوځېد.

رر دسمبر

شاه د امرتسر معبد ته ننوت او د ګوباخش په مشرۍ سکانو دده مخالفت وکړ.

**د ۱۷۶۵** د فبرورۍ نیمایي

د روهیله وو او جټانو ترمنځ سوله وشوه.

رر د مارچ پای

شاه له پنجاب څخه ولاړ.

رر اپریل لسمه

سکانو په یوه (ګورماتا ) ) کې پرېکړه وکړه. چې لاهور ونیسي.

رر رر شپاړسمه

(سه شنبه، بیسا کي وادی، یوولسمه- ۱۸۲۲ب ) سکانو لاهور ونیو.

رر اګست اومه

(بادون وادی، شپږمه-۱۸۲۲ب) د پټیاله الاسنګ مړ شو.

**۱۷۶۶ نوامبر**

شاه د اتم ځل لپاره په پنجاب راښکته شو.

رر **دسمبر**

شاه ګجرات ته ورسېد.

رر رر **لسمه**

شاه له سیالکوټ څخه لاړ او په جانګي کې یې واړول.

**د ۱۷۶۶ د دسمبر پنځلسمه**

شاه له جانګي (جامکي) څخه ولاړ.

رر رر **یوویشتمه**

شاه له ایمین اباد څخه خپل تګ ته دوام ورکړ.

رر رر **دېرشمه**

شاه امرتسر ته ورسېد.

**۱۷۶۷ جنوري ۱**

شاه جندالیا ته وخوځېد.

رر رر

په هند باندې د شاه د برید اوازه خوره شوه.

رر رر پنځلسمه

شاه د سکانو سردارانو ته ولیکل چې دده په خدمت کې ځانونه شامل کړي. که نه د جنګ په ډګر کې به ورسره مخامخ شي.

رر رر اوولسمه

سکانو له مرتسر سره نږدې جهانخان ته ماتې ورکړه.

رر مارچ

شاه د سویل په لور له ستلج څخه پورې ووت.

رر رر اوولسمه

شاه هېواد ته د بېرته تللو په غرض له اسماعیل اباد څخه روان شو.

رر رر اتلسمه

شاه امبالا ته ورسېد.

رر رر درویشتمه

شاه د ستلج په غاړه مچېیوارا ته راورسېد.

رر مې یوولسمه

نجیب الدوله، له شاه سره خدای پاماني وکړه.

رر رر نولسمه

شاه له جمنا څخه تېر شو او د نجیب الدوله سیمې ته ننوت.

۱۷۶۸

(۱۱۸۲هـ) شاه ولي خان بلخ او بخارا ته د سولې د ټينګولو لپاره لاړ.

د ۱۷۶۹ پيل

شاه په پنجاب باندې د بريد لپاره وروستۍ هڅه وکړه.

۱۷۶۹-۱۷۷۰

(۱۱۸۳هـ) شاه خراسان ته ولاړ.

۱۷۷۰ مارچ اوولسمه

مير قاسم د حيدراباد نظام (والي. م) ته وليکل چې شاه له ده سره د مرستې فرصت نه لري.

رر جنوري درېيمه

(صفر اتمه- ۱۱۸۴هـ) احمد شاه له مشهد څخه کندهار ته ولاړ.

۱۷۷۱ جنوري شپږمه

شاه عالم ثاني ډيلي ته ستون شو.

رر اګست نولسمه

جنرال بارکر جنډاسنګ بانګې ته وليکل

۱۷۷۲ اکتوبر ۱۲-۱۷

(رجب شلمه- ۱۱۸۶هـ) احمد شاه دراني په توبا معروف کې د سليمان په غرو کې مړ شو.

د ۱۷۹۳ د مې اتلسمه

(د شوال اوومه- ۱۲۰۷هـ) تيمور شاه مړ شو.

۱۸۰۰

شاه زمان د خپل ورور شاه محمود له خوا ماتې وخوړه او ړوند کړل شو.

۱۸۰۳

شاه شجاع محمود ته ماتې ورکړه.

۱۸۰۹

شاه محمود شاه شجاع له افغانستان څخه وشاړه.

۱۸۱۸

بارکزيو د افغانستان سلطنت تر لاس کړ.

د ملتان نواب مظفر خان د سکانو سره په جګړه کې ووژل شو.

# نهمه ضميمه

## د افغاني، ايراني، هندي، انګرېزي، ٠عيسوي.م) او هجري مياشتو او ورځو مقايسوي جدولونه:

څرنګه چې په متن کې هجري (اسلامي)، هندي (بيکرامي) او عيسوي سنې څنګ په څنګ راغلي او ډېر ځايونه ذکر شوي دي، نو ددغو ټولو سنو او کليزونو مياشتې او ورځې د عاجلې مراجعې په منظور په يوه جدول کې ښودل شوي دي.

هجري سنه له مکې څخه د مدينې خواته د حضرت محمد (ص) د هجرت سره سمه پيلېږي چې د شپږ سوه دوه ويشتم ميأادي کال د جولای د پنځلسمې شپې په اوږدو کې يې صورت وموند. دغه سنه د هجرت په سهار يانې د جولای له شپاړسمې څخه شمېرل کېږي. هجري يا اسلامي کال اصلاً په قمري حساب دی چې دوولس مياشتې په کې راځي، هره يوه مياشت عملاً د مياشتې له نوي کېدو څخه ګڼل کېږي، خو د کرونولوژيکي او زماني تسلسل پر اساس مياشتې د ډېرش يا نهه ويشت ورځې پوره کوي چې په دې حساب کال درې سوه څلور پنځوس ورځې کېږي او دا له شمسي کال څخه يوولس ورځې کمې ښيي.

د هند بيکرامي سنه له عيسوي زمانې څخه اووه پنځوس کاله مخکې پيل شوې ده. ددغې سنې کلونه او مياشتې هم قمري دي او هم شمسي. شمسي بيکرامي کال د عيسوي کال په څېر درې سوه پنځه شپېته ورځې دی. د

۱۷۵۲ کال د سپتمبر تر دویمې پورې یانې له ریفورم څخه وړاندې (ددغه ریفورم په نتیجه کې د عیسوي کال په نېټو کې بدلون راغی) د بیکرامي شمسي کال میاشتې له انګرېزي کال سره څنګ په څنګ راتلې، یوازې یوه یا دوه ورځې یې توپیر کاوه. د ۱۷۵۲ کال د سپتمبر په درېیمه ورځ دا نېټه (درېیمه ورځ. م) د همدغې میاشتې څوارلسم ته یوړل شوه چې یوولس ورځې توپیر ښکاره کوي. په انګرېزي کلیز کې ددغه تغییر پر اساس هندي شمسي میاشتې تقریباً د انګرېزي میاشتو له نیمایي څخه پیل کېږي.

د ساکا یا شاکا سنه د سالیوا، هانا له سلطنت څخه چې په نهه اویا یم میلادي کال (انودو - مینی(*)) کې پیل شو، شمېرل کېږي، دا نېټه له وروستۍ نهه اویایم کال څخه د اته اویا صحیح یو پر څلور په یوځای کولو تشخیص شوې ده.

د هندي، قمري او شمسي میاشتې نومونه یو شان دي.د هندي قمري نیمه تیارې میاشتې:

کرشنا، بهولا، یا اندراپاکشا ته ودی، یابدي، او نیمه رڼا، شوکلا، یا چندا یا کشا، سودي یا شودا بلل کېږي. د شمسي او هجري قمري میاشتو نېټې یا ورځې په پرله پسې او منظم ترتیب سره تر پایه حسابېږي، خو هندي قمري میاشتې د پاکشا یا د میاشتې تر نیمایي تیارې یا نیه رڼا تر پایه شمېري د مثال په ډول په کرشنا پاکشا کې د لومړۍ څخه تر پنځلس

(*) دا لاتیني کلمه ده او مانا یې د حضرت مسیح د زېږېدو څخه وروسته کلونه یا سنه ده چې په اختصار سره یا میلادي کښل کېږي. م.

ودي پورې (اماوس یا تیار غونی) او د شوکلا پاکشا له لومړۍ سودي څخه تر پنځلسم سودي پورې پوران ماسي یا پنځلسم سپوږمۍ.

د هندي شمسي او قمري کلونو په منځ کې د یوولس ورځو توپیر په دریيم قمري کال کې د یوې میاشتې په زیاتېدو سره لیرې کېږي او دې ته ادیک یا لاند وايي.

افغاني کال شمي دی او د میاشتو نومونه یې د عربي او ایراني په څېر د منطقه البروج علامو نومونه لري.

افغاني، ایراني، هندي، انګریزي او هجري میاشتې او د منطقة البروج علایم

| د میاشتو نومونه | | | | د منطقة البروج علایم | | | | هجري میاشتې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| افغاني | ایراني | هندي | انګریزي | عربي او ایراني | هندي | لاتیني | انګریزي | |
| حمل | فروردین | بساک یا وشاکا Basakh, Vaishakha | اپریل | حمل | میشا یا میکش Mashamisk | Avies | Ram | محرم |
| ثور | اردي بهشت | جت یا جیشتا Jath, Jaishtha | مي | ثور | Vrishabha, Brikh | Tauras | Bull | صفر |
| جوزا | خرداد | هر یا اسار Her, Asharh | جون | جوزا | Mithun | gemini | Human Couple | ربیع الاول |
| سرطان | تیر | ساون یا شراوانا Sawan, Shrawana | جولای | سرطان | Karka | cancer | Crab | ربیع الثاني |
| اسد | امرداد | بهادن یا بادراپادا Bhaden, Bhadrapada | اګست | اسد | Singh | Leo | Lion | جمادی الاول |
| سنبله | شهریور | اسوج، کادر، اشوین Assuj, Kuar, Ashwin | سپتمبر | سنبله | Kannya | Virgo | Virgin | جمادی الثاني |
| میزان | مهر | کاتیک یا کارتیکا Katik, Kartika | اکتوبر | میزان | Tula | Libra | Scales | رجب |
| عقرب | آبان | مګر، آګن، مګاسرشا Maghar, Aghan, Margasirsha | نوامبر | عقرب | Vrischik | Scorpio | Scorpion | شعبان |
| قوس | آذر | پو، پوس، پاوشا Poh, Pos, Paushah | دسمبر | قوس | Dhanusthon | Sagitarius | Archer | رمضان |
| جدي | دي | مګ Magh | جنوري | جدي | Makar | Capricorn | Crocodile | شوال |
| دلو | بهمن | پالګونا Phalguna | فبروري | دلو | Kumbha | Acqaarius | Water-Pitcher | ذیقعده |
| حوت | اسفند | چت یا چیترا chet, chaitra | مارچ | حوت | Meen | Pisces | Fish | ذالحجه |

د لوستونکو د اسانۍ او عاجلې مراجعې په منظور د عیسوي، هندي او هجري میاشتو ترڅنګ ایراني نومونه او د منطقه البروج علایم هم په پورتني جدول کې راوړل شوي دي. څرنګه چې هجري میاشتې قمري دي او په هندي، قمري کلونو کې د یوولس ورځو توپیر پرېښودل شوی نه دی، نو

له شمسي میاشتو سره موازي وړاندې نه ځي، نو له دې امله هغوی د جدول په پای کې جلا ښودل شوي او د جدول له نورو میاشتو سره برابرې ګڼلی کېدلې.

| دویم جدول<br>د اوونۍ ورځې | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ګڼه | انګرېزي | افغاني | عربي | هندي |
| ۱ | Sunday | یکشنبه | یوم الاحد | ایتوار |
| | Monday | دوشنبه | یوم الثاني | سم وار |
| | Tuesday | سه شنبه | یوم الثلثه | منګلوار |
| | Wednesday | چهارشنبه | یوم الاربعه | بدوار |
| | Thursday | پنجشنبه | یوم الخمسه | دیرداریا |
| | Friday | جمعه | یوم الجمعه | شوکروار |
| | Satarday | شنبه | یوم السبع | شانیوار |

# لسمه ضمیمه

## د ماخذو (ببلیوګرافي) په باب ځینې یادښتونه.

تر هغه ځایه چې امکان یې درلود د احمد شاه د ژوند په بیان کې له معاصرو مدارکو (*) څخه استفاده شوې، دویمه درجه منابع یوازې د کره کولو په غرض استعمال شوي دي. کله چې معاصر مدارک او ماخذ لاس ته راتللی نه شول، نو په هغه صورت کې د متاخرو لیکوالو اشارو ته مراجعه شوې چې د مخکنیو اثارو څخه را اخیستل شوي دي، دغسې اثار چې اوس موجود نه دي او لاس ته راتلی نه شي او یا دا چې د معاصرینو په شفاهي روایاتو او د سترګو په لیدلي حال بنا دي، په دغه ضمیمه کې یو شمېر هغه غوره معاصرې قلمي نسخې او مدارک بیان شوي چې ورڅخه استفاده شوې ده. په نسبتاً کم ارزښته اثارو باندې په ببلیوګرافي کې لنډې یادونې کښل شوي دي.

## نظام الدین عشرت سیالکوټی:

نظام الدین عشرت د احمد شاه یو منلی شاعر و چې په پنجاب کې د سیالکوټ اوسېدونکې و. دی موږ ته په خپله (شاهنامه احمدیه) کې وایي

(*) له معاصرو مدارکو څخه مقصد په دې ځای کې هغه لیکنې دي چې د احمدشاه د معاصرو لیکوالو له خوا شوې دي. م.

چې د ۱۷۵۷ کال په اوړي کې له ډیلي څخه د احمد شاه د ستنېدو پر وخت دی له سیالکوټ څخه راغی او د چناب په کینه غاړه یې د افغاني اعلیحضرت احترام پرځای کړ او له هغه سره یې تر کابل پورې بدرګه وکړه ( د کتاب څلور شپېتم- شپږ شپېتم سکشنونه یا برخې ). شاه په مینه دی حضور ته ومانه او د (شاهنامه نادري) یا (نادرنامه) په نوم د نادرشاه په باب شعري اثر چې ده په ۱۱۲۲هـ کې بشپړ کړ، ورباندې اغېزه وکړه. له ده څخه یې وغوښتل چې دده د سلطنت یو بیان ولیکي. شاه دده د بدرګې او ملتیا زیات لېوال شو او هره شپه به یې خپل کور ته غوښت. سره له دې هم نظام الدین هیله وکړه خپل کور ته ستون شي چې هلته په کرارۍ سره خپل اثر بشپړ کړي. شاه دده په غوښتنه د دارالانشاء عمیرزا محمود ته امر وکړ چې ده ته ضروري مدارک او اسناد په واک کې ورکړي. نظام الدین د لازمو موادو په اختیار کې لرلو سره سیالکوټ ته راوګرځېد او شاهنامه یې ولیکله. دا د مثنوي په توګه لیکلی شوې ده. هغه نسخه چې زما په لاس کې ده، شپږ سوه څوارلس مخونه لري او په هر یوه مخ کې نولس کرښې او ټول د یو سلو پنځلسو فصلونو لرونکې دی. شاهنامه احمدیه د احمد شاه د سلطنت یو ځانګړی او بېساری شعري بیان ګڼل کېږي. دا کتاب د احمد شاه په مړینه او په ۱۷۷۲ کې دده د زوی تیمور شاه په تخت کېناستلو سره پای ته رسېږي.

نظام الدین نېټې نه دي ښودلي او نه یې خپله کیسه په ساده حکایتي توګه کښلې ده د صحنې زیاته برخه اټکلونو او مبالغې ته د احمد شاه په ګټه وقف کړې ده. خو ددغو نواقصو سره سره ((شاهنامه)) د یوه داسې چا ګټور

معاصر اثر دی چې شخصاً يې احمد شاه پېژانده او د رسمي او غير رسمي منابعو لومړۍ درجه موادو او اسنادو ته يې لاسرسی درلوده. د احمد شاه د شهکاريو هغه بيان په تېره بيا کشمير او پنجاب په باب چې ده په تفصيل راوړي په کوم بل کتاب کې لاس ته راتللی نه شي. دغه شا عرد ۱۷۶۲ کال په اوړي کې له باميزي سردار نورالدين سره کشمير ته بدرګه وکړه او د دغې ناوې له نيول کېدو وروسته د (امين) يا (قضايي مامور) په توګه وګومارل شو. پر دې اساس د کشمير د عملياتو په باب د بېلابېلو پېښو په برخه کې دی د يوه شاهد په توګه و او د هغو په باب د هغه شاهنامه د معلوماتو يوازينۍ منبع ده.

د دغې نادرې نسخې يوازې د درېو کاپي ګانو موجوديت معلوم شوی دی. يوه يې د دکن د حيدراباد د اصفيې په کتابخانه کې د فارسي تاريخ تر نامه لاندې دوه زره دوه شپېته ګڼه ده. دويمه يې د امرتسر د خالصه د کاليج (د سکانو د تاريخ د څېړنې) په څانګه کې تر دوه سوه دوه پنځوسمې ګڼې لاندې شته. درېيمه يې د لندن د برتش موزيم (د لومړۍ او دويمې برخې د (Add No. ۲۸۵, ۲۲) ګڼې لاندې ليدل کېدلی شي. ما د امرتسر له نسخې څخه استفاده کړې ده.

## د ابراهيم الحسيني زوی محمود الموساني:

محمود الموساني د ((تاريخ نادري)) د مولف (محمد مهدي کوکبی استرابادی) يو نږدې ملګری او دوست و. احمد شاه د دغه اثر ((تاريخ نادري)) د نثر سبک تقدير کړ، نو له دې امله يې په ۱۱۲۷هـ (۱۷۵۴م) کې

محمود په مشهد کې انتخاب او په خپل سکرتریت (دارالانشاء) کې یې د منشي په توګه وګوماره. ده ته یې دا وظیفه ورکړه چې د میرزا مهدي د تاریخ نادري په سبک د ده د سلطنت یو تاریخ ولیکي. محمود د دغه اثر د ((تاریخ احمد شاهي)) تر نامه ولیکه او د هغه یو لنډ لنډیز د (ملخص تاریخ احمد شاهي) په نامه یادیږي. د مخکني اثر (تاریخ احمد شاهي) یو بېساري کاپي د لندن په برتش موزیم کې د یو سلو شپږمې ګڼې لاندې موجود دی. زه په خپل کلکسیون کې د دغې نسخې یو راتوګراف لرم. دا کتاب نیمګړی او په ډیلي کې د عالمګیر ثاني له لور سره د شهزاده تیمور په واده سره پای ته رسیږي. د کتاب په پای کې د شاه د غوره خصوصیاتو په باب بحث کوي. دغه راز د دغه اثر یوه نیمګړې نسخه د بمبیې د پوهنتون په کتابخانه کې شته. په ډیلي کې د تیمور له واده وروسته د احمد شاه تر مړینې پورې معلومات د برتش موزیم په نسخې (No.Or. ۲۰۵۹, x, Fool. ۵۰ ۵۳, ۲۲) کې موندل کیږي.

## امام الدین الحسیني:

امام الحسیني د لکنهو د خواجه (ابو محسن حسین حسیني چشتي مددي کمهري) مرید و. دی په ۱۷۹۲-۱۷۹۷ کې یانې هغه وخت چې شاه زمان په پنجاب برید وکړ، لاهور ته لاړ او د نوموړي پاچا له پوځ سره یې د ستنېدو پر وخت تر پېښور ره بدرګه وکړه. په پېښور کې ده د شاه زمان او ده د اسلافو تاریخي لیکنې ته خپل ځان وقف کړ. په ۱۷۹۸ کې دی لکنهو ته بېرته راوګرځېد او د خپل پیر خواجه حسین څخه د احمد شاه او ده د زوی تیمور شاه د تاریخ یوه مسوده یې ترلاسه او له خپل تاریخ سره یې ضمیمه

کړه. دغه اثر د ۱۲۱۳هـ کال د جمادی الثاني په شلمه (د نوامبر اته ویشتمه، ۱۷۹۸) کې بشپړ او د پیر د نامه په پیروۍ د ((تاریخ حسین شاهي)) په نامه یاد شو. دغه راز دا کتاب د (تاریخ احمد شاهي)، (تاریخ احمد شاه دراني)، (معمر که درانی) او (تاریخ نسبت نامه احمد شاه درانی) په نومونو هم یادېږي.

دا د احمد شاه او دده دوو تنو اخلافو د یو څو ډېرو لنډو او اجمالي شرحو یو اثر دی. ما د بانکیپور له نسخې او کاپي څخه استفاده کړې ده.

## عبدالکریم کشمیری:

د ((بیان واقعي)) مولف عبدالکریم په ۱۷۳۹ کې د نادر شاه په خدمت کې کله چې هغه (نادرشاه) په ډیلي کې و، شامل شو او تر پارس پورې یې له ده سره بدرګه وکړه په ۱۷۴۱ کې دی په ((قزوین)) کې اوسېده، له دغه ځای څخه مکې ته ولاړ او په ۱۷۴۳ کې ډیلي ته راوګرځېد. ((بیان واقعي)) دده د سفرونو بیان او تر ۱۷۸۵ پورې معاصر تاریخ دی. د کتاب لومړی فصل په هند باندې د نادرشاه برید ته وقف شوی دی. څلورم او پنځم فصل د ډیلي د امپراتورانو محمد شاه او احمد شاه بیان کوي چې د احمد شاه دراني معاصرین وو.

## تاریخ احمد شاهي:

((تاریخ احمد شاهي)) د احمد شاه (مغولي) سلطنت معاصر تاریخ دی چې د خپل پلار امپراتور محمد شاه د مړینې وروسته د ډیلي سلطنت ته ورسېد (اپریل ۱۷۴۸) نوموړی احمد شاه د ۱۷۵۴ کال د جون په دویمه له خلعه

کېدو وروسته زنداني شو. ددغه اثر نومورکي لیکوال وايي چې دی ((د امپراتور احمدشاه د جوتو بدمرغیو او کړاوونو شاهد و او ورته ژړېدلی دی)).

د سرجادو نات سرکار په قول دغه اثر ((ددغه سلطنت د تاریخ په باب تر زیاتې اندازې مکمل او سم دی)). نو په دې ډول په هند باندې د احمدشاه دراني د لومړنيو دربو بریدونو په باب د مغولي لوري او اړخ په برخه کې ډېر زیات ګټور ګڼل کېږي.

ما د برتش موزیم قلمي نسخې ((راتوګراف)) ته مراجعه وکړه چې (د امرتسر د خالصه کالج) لپاره مې د سرجادونات سرکار څخه ترلاسه کړ.

## طهماس خان مخم الدوله اعتقاد جنګ:

د طهماسنامې د مولف طهماس خان اصلي نوم تیمور دی. دی له ارمني، ګورجي یا ترکي مور او پلار څخه د کوچني اسیا (بایزید) ته نږدې په یوه کلي کې وزېږېد. دی ماشوم و چې د نادر شاه یوه ازبکي سپاهي د مریي په توګه له ځان سره یووړ. د ۱۷۴۸ کال په اوړي کې دده ازبکي نیک (چې یو جومه دارو) له ملتان څخه لاهور ته راغی او د معین الملک په پوځ کې یې ځان شامل کړ.

تیمور او دوه نور اته یا نهه کلن هلکان معین الملک ته تقدیم شول. معین الملک تیمور د پوځي خدمت لپاره وروزه، دده د نوي نایک له مرګ وروسته (چې د ۱۷۵۳ په نوامبر کې پېښ شو) ده د هغه د کونډې مغولاني بیګم پر وړاندې خدمت ته دوام ورکړ، چې د پنجاب حکومت یې د څه وخت

لپاره په لاس کې و. دی د نوموړي لپاره هغه وخت یو باوری کس و چې د غازي الدین له خوا له ډیلي څخه وشړل شو (۱۷۵۲) او د افغاني پاچا او د هغه د وزیر شاه ولي خان په خبرو اترو کې یې په هند باندې د هغه د ځلورم یرغل پر وخت زیاته ونډه واخیستله. کله چې شهزاده تیمور په ۱۷۵۷ کې د لاهور نایب السلطنه شو، نو دده زیات درناوی او اعزازیې وکړ او د طهماس په نامه یې په ده باندې د نوي نوم په ایښودلو سره هغه د (خان) درجې ته جګ کړ.

طهماس خان له مغولاني بیګم سره په دې کې موافق نه و چې هغې د دویم مېړه خیال درلود. دغه اختلاف د طهماس په مقابل کې د بیګم قهر او غضب راوپاراوه او د خپل مصوونیت لپاره د سرهند نواب زین خان ته پناه وروړه. بالاخره دی ډیلي ته ولاړ او د نجیب الدوله د زوی نواب ضابط خان او وروسته د ذوالفقار الدوله نواب نجف خان په خدمت کې شامل شو. کله چې ده په ۱۱۹۳هـ (۱۷۷۹م) کې خپل دغه خاطرات لیکل، نوموړي نواب نجف خان دده مشر و. دغه نېټه په (ګرونوګرام) کې چې دده د کتاب په پای کې شته، ورکړل شوې ده. دا وخت ده زیاته شتمني ترلاسه کړه او د مخیم الدوله اعتقاد جنګ لقب یې اعلیحضرت عالمګیر ثاني څخه حاصل کړ.

طهماسنامه چې د تاریخ طهماس په نامه هم یادېږي، د طهماس خان درېم اثر دی. ده دمخه دوه نور کتابونه په ترکي ژبه لیکلي دي یو یې دده د ژوند یوه خاکه او بل یې د ((احمدنامه)) په نوم یوه رساله ده چې ښایي د احمدشاه دراني شرحه به وي. طهماس خان د خپل ژوند (پېښو او پوځي عملیاتو بیان په تفصیل ورکړی چې ده په کې فعاله ونډه اخیستې ده. دغه

راز نوري معاصري پېښې يې تشريخ کړي دي. طهماسنامه د ګڼو رو معاصرو موادو د يوې منبع په حيث د عبدالکريم خان د ((بيان واقعي)) سره ورته بڼه لري، خو طهماس خان نېټې نه دي ښودلي.

ځيني ليکوال چې په سر کې يې سرهنري اليوت دی په غلطه توګه وايي د طهماس خان تخلص مسکين دی. طهماس خان دلته د مسکين کلمه د دربيم شخص په حيث ځانته د نورو ليکوالو په مقابل کې استعمال کړې ده لکه: ((دغه مسکين، دغه بنده، دغه ناڅيز، دغه خادم)) او نور. مسکين د طهماس خان تخلص نه و. تخلص يوازې په اشعارو کې استعمالېږي.

ما د برتش موزيم د قلمي نسخې څخه استفاده کړې او ددغې نسخې يو راتوګراف مې د امرتسر د خالصه کالج لپاره له سرجادو نات سرکار څخه واخيست.

## تاريخ عالمګير ثاني:

تاريخ عالمګير ثاني د عالمګير ثاني د سلطنت يو تشريحي معاصر اثر دی چې دده له جلوس (۱۰ شعبان ۱۱۲۷هـ، جون ۲-۱۷۵۴م) دده تر مرګ (۱۱۷۳هـ ربيع الثاني، ۸ نوامبر ۲۹، ۱۷۵۹) پورې په زيات کرونولوژيکي دقت سره بيان شوی دی. د مولف نوم هيچرې ذکر شوی نه دی. دا کتاب په هند باندې د احمدشاه د څلورم بريد (۱۷۵۲-۱۷۵۷) او نورو معاصرو پېښو په باب ډېر ګټور ګڼل کېږي. ما د امرتسر د خالصه کالج د برتش موزيم د نسخې له راتوګراف څخه استفاده کړې ده.

## سيد نورالدين حسين:

د احوال نجيب الدوله مولف سيد نورالدين حسين د وزير غازي الدين عماد الملک يو خاص خادم و، نو په دې اساس د هغو پېښو سره يې نږدې لاس درلود چې د نجيب الدوله په باب يې په خپل اثر کې بيان کړې دی. نجيب الدوله د احمد شاه يو ډېر باوري هندي متحد او استازی ګڼل کېده، له دې امله د احمد شاه د څلورم او پنځم هندي يرغل په برخه کې ډېر سم او د اتکا وړ شمېرل کېږي.

ما د امرتسر د خالصه کالج د برتش موزيم راتوګراف ته مراجعه کړې ده. دغه اثر د سر جادو نات سرکار له خوا په انګرېزي اړول شوی او په ((اسلامي کلتور)) کې خپور شوی دی (د ۱۹۳۳ کال جولای او اکتوبر او د ۱۹۳۴ کال اپريل).

## قاضي نورمحمد:

د جنګنامې مولف د ګنجا با قاضي نورمحمد د هغو پېښو شاهد و چې ده کښلي دي. ده (د سکانو پر خلاف د کلات د مير نصيرخان بلوڅي مجاهدين هغه وخت تر پنجاب بدرګه کړل (د ۱۷۶۲م، ژمی) چې احمد شاه د اووم ځل لپاره پر هند بريد وکړ. ده مير نصيرخان ته پيشنهاد وکړ چې دی به په دې شرط د جهاد شرحه وړاندې کړي چې د پنجاب څخه شاه د برياليو راستنېدلو او خان ته دده د خدمتونو په مقابل کې د ډېره جاتو او شکارپور له ورکولو وروسته دی (نورمحمد) د دغو سيمو د قاضي په توګه وګوماري. مير نصيرخان په ډېره مينه دده له دغې غوښتنې سره موافقه وکړه. په دې ډول جنګنامه منځته راغله چې په هند بادې د احمد شاه د اووم

برید په برخه کې یوازینی مفصله شرحه ده. مخکې له دې چې دغه اثر ((د کوټې د ګزیټر په دفتر کې د فقید کرم سنګ له خوا پیدا او بیا زما له خوا ایډیټ، په انګرېزي ترجمه او په ۱۹۳۹ کې خپور شي، په هند باندې د شاه اووم برید (۱۷۱۴-۱۷۲۵م) یا ببخي حذف شوی او د ۱۷۲۷م کال سره نغارل شوی و، یوازې د جنګنامې له مخې موږ ته د سکانو فتوحات معلومېږي چې تر ملتان پورې یې وسعت وموند او د ۱۷۲۴ کال په نیمایي کې د سر هند د فتحې په څو میاشتو کې له اباسین څخه پورې وتل او د بېره جاتو ته ننوتل. دا فتوحات په همدغه کال کې هند ته د شاه د راتګ یو علت و.

دا سمه ده چې (جنګنامه) یوازې د انځور یو مخ تشریح کوي او هغه هم د یوه متعصب مجاهد له نظره، خو سره له دې هم دا کار د دغه اثر تاریخي ارزښت لږولی نه شي.

د دې سره سره چې ده له سکانو سره سخت تعصب درلود او هغوی به یې د سپیانو، دوزخي سپیانو، لعنتي کفارو، پلیدو بت پرستانو، اورپرستانو او نورو نومونو یادول، بیا هم په اتلسمه پېړۍ کې د سکانو د کرکتر په تشریح کې د ده بیان د تاریخ د زده کوونکو لپاره له حده زیات ارزښت لري. د هغې اهمیت هغه وخت لا لوړېږي چې موږ ته جوته شوه هغه د دوی (سکانو) د یوه داسې دښمن له خوا لیکل شوی چې خدای ته زاري او دعا کوي او له مجاهدانو څخه غواړي د سکانو جرړې او ځانګې پرې کړي او دوی محوه کړي. په لنډه ډول ویلی شو دا کتاب د احمد شاه او سکانو د تاریخ لپاره یو ستر ارزښتمند تاریخي سند دی.

## شیوپراساد:

شیوپراساد خپل اثر (تاریخ فیض بخش) د جنرال کرکپاتریک په خواهش په ۱۱۹۰هـ (۱۷۵۷-۱۷۷۲م) د هغه د ورور کپتان کرکپاتریک لپاره تالیف کړ. نوموړي کپتان غوښتل د کاتیر د روهیله وو له تاریخ سره د نواب علي محمد خان له وختـه چې لـومړی ځل دوی قـدرت ونیـو، تـر دلالـداک تـر معاملې پورې ځان اشنا کړی او بیا دغه تاریخ په انګریزي واړوي. دغه اثر د ۱۷۷۲ کال په مارچ کې بشپړ شو. نواب علي محمد خان په ۱۷۴۸ کې هغه وخ چې احمد شاه د لومړي ځل لپاره په هند برید وکړ د سرهند حاکم و.

((تاریخ فیض بخش)) په هند کې د روهیله افغانانو په تېره بیا د نواب علي محمد خان د اولادې په باب چې د احمد شاه د لـومړي او ورپسې هنـدي عملیاتو په وخت کې ډېر ځله په صحنه کې ښکاره شوی، یو معاصر تاریخ ګڼل کېږي. دا کتاب د پنجاب په حالاتو ډېره هر اړخیزه رڼا اچوي.

د همدغه اثر په نامه یو بل اثر (تاریخ فیض بخش) هم شته چې د فیض اباد فیض بخش لیکلی دی. څرنګه چې نوموړی تاریخ هم د همدغې زمانې اثر دی نو باید هغه د مخکني تاریخ سره غلط نه کړو.

## د پارسي مراسلې سالنامې:

د ختیځ هند د کمپنۍ حکومت رارسېدلی پاسي لیکونو او اخباري پاڼو او د هغو د ځوابونو لنډیز په انګرېزي ژبه ترتیب، اډیټ او د هند د حکومت د شاهي اسنادو د ځانګې له خوا چې اوس (ملي ارشیف) نومېږي، پـه نهـو ټوکونو کې چاپ شوی دی او د هغې د لړۍ چاپ روان دی. پـه دغـو اسنادو

کې د مربوطو زمانو او نېټو د تاريخ په باب لاس ته خوړلی اصلي مواد شته. لومړی دريې ټوکونه د اوولس سوه نهه پنځوسم، اوولس سوه اووه شپېتم او اوولس سوه اوه شپېتم نه تر اوولس سوه نهه شپېتم او اووه لسوه اويايم نه تر اوولس سوه دوه اويايم کلونو لپاره د احمد شاه په باب ګټور مواد لري.

## د پيشوا له دفتر څخه انتخابات:

د (پيشوا له دفتر څخه انتخابات) چې د (راوبهادر، جي. اس. سار ديسای) له خوا ايډيټ او د بمبيي د حکومت له خوا په شپږ څلوېښت ټوکونو کې خپور شوی، د مرټې پوځ کمپونو، ملکي مامورينو او خبريالانو ته د هېواد له بېلابېلو برخو څخه رارسېدلي مرټې ليکونه او نور دولتي اسناد لري.

د منتخباتو دويم ټوک د پاني پت جګړې او د شمالي هند نور مسايلو ته وقف شوي چې د احمد شاه فعاليتونو ته په کې اشارې شوې دي. مرټې مدارک څه په دغه ټوک او څه په نوره لړۍ کې چې په ببليوګرافي کې ښودل شوې، د پارسي مراسلو تر سالنامې په څو لحاظه ډېر ګټور او سم دی ځکه په لومړي کې د غلط ستنساخ د اشخاصو او ځايو د نومونو ناسم تلفظ چې د شکسته ليکنې او ناسمې ترجمې په ترڅ کې ليدل کېږي، ممکن نه ګرځي.

## محمد علي خان انصاري:

محمد علي خان انصاري بن عزت الدوله له حيات الله خان (د شمس الدوله لطف الله خان زوی) د تبر هوت او (حاجي پور) د عدالت د پوجداري يو داروغا و چې د خپل نايک، د بنګال او بهار نايب نظام سيد نواب محمد رضاخان له خوا په دغه دنده ګومارل شوی و. دده نوموړي نايک په ۱۲۰۲ هـ،

۱۷۹۲م کې په مرشد اباد کې مړ شو. دده له خرد مندانه فکر سره د ربښتينوالي ژور احساس ملګری کړ. دده د ستر څو جلدي تاريخ نوم چې ((تاريخ مظفري)) نومېږي ظاهراً د خپل نايک په نوم نومول شوی دی. دغه اثر د هند له ډېرو سمو عمومي تاريخونو څخه شمېرل کېږي.

دی د احمد شاه همعصر و او د احمد شاه د هندي بريدونو په برخه کې دده بيان ډېر ګټور دی. ما د امر تسر د خالصه کالج کاپي ته مراجعه کړې چې د بانکيپور د خدابخش له کتابخانې څخه اقتباس او پرتله شوی او د دکن د حيدراباد د اصفيې په کتابخانه کې زما په لارښوونه د منشي فيض الحق په واسطه بشپړه شوه

د محمد علي خان نور دوه کتابونه دادي:

۱- بحر المواج د امپراتور محمد شاه تر مرګ پورې د هند عمومي تاريخ.

۲- تاريخ احمد شاهي، د محمد شاه د زوی امپراتور احمد شاه د پاچاهۍ لنډ تاريخ.

عنايت الله خان راسخ او د ((تاريخ شاکر خاني)) مولف نواب شاکر خان د محمد علي خان پلرني ترونه وو.

## بود سنګهـ ارورا:

د لاهور بود سنګ ارورا او دده ملګری د (مالر کوټلا) عجب سنګ سورج د احمد شاه بابا معاصرين وو. دوی د احمد شا له مرګ څخه دولس کاله وروسته په سکانو باندې د ((رساله نانک شاه)) په نامه يو اثر وليکه. دده

دغه رساله د میجر جیمز براون لپاره چې په ۱۷۸۴ کې د ختیځ هند د کمپنۍ د حکومت له خوا له کلکتې څخه په ډیلي کې د اعلیحضرت شاه عالم ثاني په دربار کې د انګرېزي وزیر په حیث لېږل شوی و، ولیکله.

میجر براون وایي چې ((د لوړې پوهې خاوند دوو تنو هندوانو د سکانو د عروج او پرمختیا په باب بیانونه او حکایات په لاس کې لرل چې په نګري (عامه هندي) بڼه لیکلی شوي دي. ما دوی دې ته وهڅول چې د هغو څخه یو یې په پارسي ژبه زما په واک کې راکړي او هغه په داسې توګه اختصار کړي چې د معلوماتو اصلي مقصد ته زیان ونه رسېږي)) ددغه پارسي خاکي په بنا میجر براون خپل (د سکانو د اصل او پرمختګ تاریخ) ولیکه. دغه تاریخ د ۱۷۸۷م په سپتمبر کې بشپړ او په ۱۷۸۸م کې دده د ((دویمې هندي مقالې)) په حیث چاپ شو. که څه هم (رساله نانک شاه) یوه خاکه ده، خو بیا هم د افغانانو او سکانو د اړیکو په باب ښېخې ګټوره ګڼل کېږي، ما د برتش موزیم له قلمي نسخې څخه استفاده کړې چې د هغې یو راتوګراف مې د امرتسر د خالصه کالج نه ترلاسه کړ.

## بخت مال:

د بخت مال مور او پلار کشمیریان وو. پلار یې لاهور ته کډه وکړه او لوړ مقام یې وګاټه. داسې برېښي چې د اتلسمې پېړۍ د شپږمې لسیزې په اوایلو کې دی ډیلي ته تللی دی او دلته به ښایي بخت مال زېږېدلی او روزل شوی و.

بخت مال د بهایي لال سنګ له ټولنې څخه په استفادې سره چې د منورینو او پوهانو ستر حامي ګڼل کېږي، د سکانو یو مفصل تاریخ ولیکه خو هغه

غلو پټ کړ. د ۱۸۰۵ کال په پای کې ده د جان ملکم سره د مهاراجا رنجیت سنګ په لور په یوه هیات کې بدرګه وکړه او د سکانو یو لنډ تاریخ یې ولیکه چې مالکم له ځان سره یووړ او د خپل اثر (د سکانو ) لندن ۱۸۱۲) په لیکلو کې یې ترې استفاده وکړه. (خالصه نامه) د بخت مال دریم اثر په دې برخه کې د (سکانو تاریخ.م) ګڼل کېږي چې په اتلسمه پېړۍ کې د محلي مغولي امیرانو او احمد شاه دراني په مقابل کې د سکانو د مبارزو لپاره د موادو یوه ګټوره منبع شمېرل شوې ده.

## رتان سنګهـ بهانګو:

د رتان سنګ بهانګو ((پراچېن پانت پراکاش)) لومړۍ درجه(*) ثانوي منبع ده، چې تقریباً د معاصرو منابعو غوندې وړ ګڼل کېږي. دی د پلار له خوا د (میران کوټ) د سردار مهتاب سنګ او د مور له خوا د کارور سنګیا میسل د لومړي مشر د نارلي سردار شیام سنګ لمسی و. دده پلار رای سنګ د ((بودا دال)) یو غړی و چې د محلي حکماوو او افغاني تېري کوونکو سره یې په زیاتو شخړو کې ونډه اخیستې ده. ده د هغو معلوماتو او د معاصرینو د سترګو لیدلی حال له مخې د سکانو بیان د لودیاني د انګرېزي سیاسي ایجنت کپتان موري په پیشنهاد سره ولیکه چې د پلار او نورو څخه ورته ورکړل شوي وو. له دغو معاصرینو څخه زیات شمېر یې په خپله رتان سنګ پېژندل. کپتان موري هم د سکانو د مفصل تاریخ د لیکلو لپاره خپل منشي بوټې شاه یا په بل نامه ((غلام محی الدین علوي قادري)) واستاوه.

رتان سنګ په خپله هم د اتلسمې پېړۍ د ځینو پېښو شاهد و چې ده لیکلي دي.

---

(*) ثانوي منبع هغه ماخذ دی چې د معاصرینو یا معاصرو مورخینو له خوا لیکل شوی نه وي، خو د هغوی له لیکنو سره ورته ارزښت ولري.

پر دې اساس ((پراچين پانت پراکاش)) په پنجاب کې د تفوق لپاره د سکانو او افغانانو د مبارزو لپاره چې د اتلسمې پېړۍ تر پای پورې يې دوام وکړ، يو ډېر غوره او ګټور اثر شمېرل کېږي.

د هغه کرونوګرام له مخې چې د دغه کتاب (پراچين پانت پراکاش) په پای کې ورکړل شوی دغه اثر په ۱۸۹۸ بيکرامي، ۱۸۴۱م، کې بشپړ شو.

د دغه کتاب پر بنسټ جيانی جيان سنګ خپل (پانټ پراکاش) وليکه. دغه وروستی اثر په ۱۹۳۲ بيکرامي کې خپور شو. (۱۸۸۰م) د نوموړي اثر د مولف د (تواريخ ګورو خالصه دويمه او دريمه برخه په (۱۸۹۲-۱۸۹۴) کې خپره شوه.

پای

انصاري واټ

کلوله پشته- کابل

۲۷-۳-۱۳۶۲

سوبمن (منګل)

# ماخذونه

## الف- فارسي ماخذونه:


۱- احمد جان خان، تاریخ افغانستان، پېښور.
۲- احمد شاه بټلیه، تاریخ هند ، دوولس سوه دري د پرشم هجري، اتلس سوه اوولسم- اتلس سوه اتلسم میلادي کلونه.
۳- احمد علي کهزاد ، رساله مسکوکات افغانستان در عصر اسلام، کابل، دیارلس سوه نولسم هـ. ش.
۴- احمد یادګار، تاریخ سلاطین افغاني، په هند کې د افغاني پاچایانو بیان.
۵- احوال ادینه بیګ خان، د جلندر د ناحیې د کرتار پور د ګورو تالیف چې د ادینه بیګ معاصر و.
۶- امان الحق، ارشاد مستقیم، اتلس سوه اتلسم کال.
۷- بخت مال، خالصه نامه، دوولس سوه پنځه ویشتم- دولس سوه نهه ویشتم هـ، اتلس سوه لسم- اتلس سوه څوارلسم میلادي کلونه.
۸- بوتیښاه، تاریخ پنجاب، اتلس سوه اته څلوېښتم کال.
۹- بود سنګ ارورا ، رساله نانک شاه.
۱۰- بیل، توماس ویلیام مفتاح التواریخ، ګاون پور، اتلس سوه اوه شپېتم- اتلس سوه اته شپېتم میلادي کلونه.

۱۱- بیهاري لال، بن با دری داس، احوال نجیب الدوله وعلي محمد خان و دوندی خان، دولس سوه یو هجري کال.
۱۲- تاریخ امدن احمدشاه درانی در هندوستان، اتلس سوه دوه څلوېښتم کال.
۱۳- تاریخ احمدشاهي، یوولس سوه اوه شپېتم هجري اوولس سوه دري پنځوسم میلادي کلونه.
۱۴- تاریخ خاندان راجا های پلخیان.
۱۵- تاریخ عالمګیر ثاني، یوولس سوه څلور اویایم هجري، یوولس سوه شپېتم میلادي.
۱۷- تاریخ مهاراجا کرم سنګ و خاندان پلخیان.
۱۸- توتارام، ګلګشت پنجاب اتلس سوه څلور شپېتم میلادي.
۱۹- حسین شیرازي کربلایي، تاریخ احمدشاه دراني.
۲۰- حقیقت بنایي عروج فرقه سکان.
۲۱- خوشوقت رای، تاریخ سکان، اتلس سوه یوولسم میلادي.
۲۲- دولت رای، مرات دولت عباسی، دولس سوه دوه شپېتم هجري، اتلس سوه شپږ څلوېښتم میلادي کلونه.
۲۳- سلطان محمد ابن موسی درانی، تاریخ سلطاني، بمبیې، دولس سوه اته نوي یم هجري، اتلس سوه یو اتیایم میلادي کلونه.
۲۴- سمین، غلام حسین، سیرالمتاخرین، کلکته، اتلس سوه شپږ د یرشم کال.
۲۵- سوهن لال، عمدة التواریخ، لاهور، اتلس سوه پنځه اتیایم- اتلس سوه نهه اتیایم کلونه.

۲۲- طهماس خان، طهماس نامه، یوولس سوه درېِ نوي یم هجري، اولس سوه نهه اویایم.
۲۸- شاکرخان، نواب، تذکره شاکرخان، یوولس سوه نهه اویایم هجري، اولس سوه پنځه شپېتم میلادي کلونه.
۲۸- شاه نوازخان، مرات افتاب نامه.
۲۹- شاه نوازخان، سمسم الدوله، یوولس سوه یو نوي یم نه تر نهه نوي یم هجري، اوولس سوه اولسم میلادي.
۳۰- شیر محمد خان: زبدة التواریخ وقایع ملتان.
۳۱- شیرمحم دخان تیوا نا، کیفیات و کار نامجات سرگذشت بزرگان ریاست تیوانا، اتلس سوه څلور شپېتم میلادي کال.
۳۲- شیرمحمد خان گنداپور، خورشید جهان، لاهور، اتلس سوه څلور نوي یم کال.
۳۳- عبدالحسن ابن محمد امین گلستانی، مجمل التواریخ پس از نادر، اتلس سوه شپږ نوي یم کال.
۳۴- عبدالرحمن، مرات افتاب نامه، دولس سوه اوولسم هجري، اتلس سوه دویم میلادي.
۳۵- عبدالحی حبیبي، لوی احمد شاه، کابل، دیارلس سوه نولسم- دیارلس سوه څلوېښتم کلونه.
۳۶- عبدالقادر خان، تاریخ عماد الملک.
۳۷- عبدالکریم کشمیری، بیان واقعي، یوولس سوه شپږ شپېتم هجري، اوولس سوه دوه پنځوسم- اوولس سوه دري پنځوسم میلادي کلونه.

۳۸- عبدالکریم ندیم ابن اسماعیل بخاري، افغان و کابل و بخارا و خیوا و خانلرنین احوال دوولس سوه درویشتم هجري، اتلس سوه اتلسم میلادي کلونه.
۳۹- عبدالطیف خار فدا، احمدنامه، یوولس سوه څلور اتیایم میلادي کال.
۴۰- عروج و خروج احمدشاه درانی اوولس سوه اتیایم کال.
۴۱- غلام سحین، حالات احمدشاه درانی در هندوستان، یوولس سوه نهه شپېتم هجري کال.
۴۲- غلام علي خان، شاه عالم نامه، کلکته، نولس سوه دوولسم- نولس سوه څوارلسم کلونه.
۴۳- غلام علي خان ازاد، خزانه عامره، ګاون پور، اتلس سوه څلور اویایم کال.
۴۴- غلام علي خان، سید، عماد السعادت، ګاون پور، اتلس سوه څلور شپېتم کال.
۴۵- غلام محمد غبار، احمدشاه بابا افغان، عمومي مطبعه، کابل، دیارلس سوه دوه ویشتم هجري شمسي کال.
۴۶- غلام محی الدین، ظفرنامه معین الملک، یوولس سوه دوه شپېتم هجري کال.
۴۷- فرزند علی، ملخص- التواریخ، اګره، دولس سوه اوه څلوېښتم هجری، اتلس سوه یو دېرشم –اتلس سوه دوه دېرشم میلادي کلونه.
۴۸- فرهاد میرزا، تاریخ افغان، تهران.
۴۹- فقیر محمد، جامع التواریخ، کلکته، اتلس سوه شپږ دېرشم کال.
۵۰- فیض محم دمیرزا سراج التواریخ، کابل، نولس سوه دیارلسم کال.

۵۱- قدرت الله صدیقي، جام جهان نما، یوولس سوه یو نوي یم –نهه نوي یم هجري، اوولس سوه اوه اویایم میلادي کلونه.
۵۲- کاشي راج، احوال جنګی بهاو و احمد شاه درانی، اوولس سوه اتیایم میلادي.
۵۳- کر پارام، ګلاب نامه، سرینیګر، اتلس سوه پنځه اویایم کال.
۵۴- کلیان سنګ، خلاصة التواریخ، دولس سوه اوه ویشتم هجري، اتلس سوه دولسم میلادي کلونه.
۵۵- ګانش داس باد هیرا، رساله صاحب نما چهار ګلشن پنجاب، اتلس سوه پنځه پځوسم میلادي کال.
۵۶- محمد جعفر شاه ملو، منزل و فتوح.
۵۷- محمد اسلم، فرحت الناظرین، یوولس سوه څلور اتیایم هجري، اولس سوه اویایم- اولس سوه یو اویایم میلادي کلونه.
۵۸- محمد بخشی اشوب، کارنامه، یوه مثنوي ده د معین الملک او احمدشاه دراني د جګړې په باب.
۵۹- محمد حسین ازاد، نګارستان فارس، لاهور، نولس سوه دوه ویشتم کال.
۶۰- محمد سید یارخان، ګل رحمت، دولس سوه نهه څلویښتم هجري، اتلس سوه دري د ېرشم میلادي.
۶۱- محمد علي خان انصاري، تاریخ مظفري، اتلس سوه دولسم میلادي کال.
۶۲- محمد صادق نامی، تاریخ کریم خان، یوولس سوه پنځه نوي یم، دولس سوه نهم هجري اولس سوه یو اتیایم- اولس سوه څلور نوي یم میلادي کلونه.

۶۴- محمد صالح قدرت، تاريخ علي، اولس سوه پنځه اتيا يم كال.
۶۵- محمد مستجاب خان، گلستان رحمت، دولس سوه نهه څلوېښتم هجري، تلس سوه اوه څلوېښتم ميلادي كلونه.
۶۶- محمد مير، چهار چمن انشای ارشادي، يوولس سوه شپږ اتيا يم هجري، اوولس سوه دوه اويا يم ميلادي.
۶۷- محمد مهدي بن محمد - نصير استرابادی، تاريخ جهان كشای نادری، بمبيي، دولس سوه درې نوي يم هجري، اتلس سوه شپږ اويا يم ميلادي.
۶۸- محمد ولي الله، تاريخ فرخ اباد ، يوولس سوه درې اويام – يوولس سوه شپږ اويا يم هجري، اولس سوه نهه پنځوسم- اولس سوه دوه شپېتم ميلادي كلونه.
۷۰- محمود الموساوی، احوال اقوام چهار گانه افغان، اتلس سوه يو شپېتم ميلادي كال.
۷۱- مراسلات احمد شاه درانی، يوولس سوه درې اويا يم- يوولس سوه شپږ اويا يم هجري، اولس سوه نهه پنځوسم- اولس سوه دوه شپېتم ميلادي كلونه.
۷۲- مرتضی حسين الله يار عثمانی بلگرامی، حديقته الاقاليم، لكنهو، اتلس سوه نهه اويا يم كال.
۷۳- نظام، د پيشوا له دفتر څخه انتخابات، بمبيي، نولس سوه درې ديرشم كال.
۷۴- نظام الدين عشرت، نادرنامه، يوولس سوه شپږ شپېتم هـ. اولس سوه درې پنځوسم ميلادي.
۷۵- نورالدين حسن، سيد ، احوال نجيب الدوله، اولس سوه درې اويا يم ميلادي كال.

۷۶- نورمحمد چپله سیال، مولوي، تاریخ جنګ سیال.
۷۷- نورمحمد قاضي، جنګ نامه، اوولس سوه پنځه شپېتم میلادي کال.
۷۸- هرچار نداس، جهارګلزار شجاعی، دولس سوه ي وهجري، اولس سوه اوه اتیایم میلادي.

## ب- انګرېزي ماخذونه:

۷۹- احمدشاه ابدالي، په هند باندې د برید وروستی مسلمان، کال ریو، ل. اول ټول، اتلس سوه اویایم میلادي کال.
۸۰- اکرم، محمد، د افغانستان ببلیوګرافیکي څېړنه، پارینس، دوه ځلویښتم کال.
۸۱- الفنستن، مونت ستورات، کابل سلطنت بیان، اتلس سوه دوه ځلوېښتم.
۸۲- الن، ریو، ای. ان، د سند او افغانستان له لارې د تګ بیان، لندن، اتلس سوه دري ځلوېښتم.
۸۳- الیوت، ای. سي، د ګجرات پېښې، لندن، نولس سوه دویم کال.
۸۴- الیوت، سي، د حافظ الملک حافظ رحمت خان ژوند، دده زوی مستجاب خان بهادر په قلم د ګلستان رحمت په نامه چې به انګرېزي ترجمه شوی دی، لندن، اتلس سوه یو دېرشم کال.
۸۵- الیوت هنری، ام. د هندوستان تاریخ څنګه چې خپل مورخین یې وایي، لندن اتلس سوه اوه شپېته تر اتلس سوه اوه اویا.
۸۶- ایروین، ډبلیو، احمدشاه ابدالي او د هغه هندي وزیر عماد الملک د هند د باستانشناسي ۱۹۰۷، ۳۲ ټوک، ۱۰-۸۱، ۴۳-۵۱، ۵۵-۷۰ مخونه.
۸۷- بیریچ، اچ، معاصر الامرا، کلکته، له یو زرو پنځه سوم نه تر اولس سوه اتیایم پورې د هند او مسلمانو افسرانو سوانح.

۸۸- پتچارد ، د خواجه عبدالکریم یادښتونه، اوولس سوه نهه د پرشم-
اوولس سوه نهه څلوېښتم کلونه.
۸۹- پرسر ، ډبليو ، ای، د جلندر سیمې د بیا مېشته کېدلو وروستی
راپور، لاهور اتلس سوه دوه نوي یم کال.
۹۰- پرمنادارورا ، احمدشاه ابدالي او یو سوامي هندو ، نولس سوه
درویشتم کال.
۹۱- پرنسیپ، هنری، تي، په پنجاب کې د سکانو د قدرت سرچېنه او د
مهاراجا رنجیت سنګ ژوند ، کلکته، اتلس سوه څلور د پرشم کال.
۹۲- پریستلی، هنری.
۹۳- د پنجاب د سیمې ګزیتر او مېشته کېدلو رپوټونه.
۹۴- پوتنچر، اچ، په بلوچستان او سند سفرونه، لندن، ۱۸۳۰.
۹۵- تارنتون، توماس هنری د پنجاب تاریخ، لندن، اتلس سوه شپږ
څلوېښتم کال.
۹۶- تیت، جی، پي، د افغانستان پاچاهي، بمبیي، نولس سوه یوولسم
کال.
۹۷- تیجاسنګ او ګنداسنګ، د قاضي نورمحمد جنګنامه، امرتسر،
نولس سوه نهه د پرشم کال.
۹۸-ګولډنګ، اچ آر او ټي. اچ. تورنتون، پخواني لاهور، د یوه
اوسېدونکي خاطرات، لاهور نولس سوه څلیریشتم کال.
۹۹- چترجی، نندلال، میرقاسم اله اباد ، نولس سوه پنځه د پرشم کال.
۱۰۰- خولی، سیتارام، احمد شاه ابدالي او سکان، نولس سوه اته د پرشم
کال.

۱۰۱- ډو، ای د هندوستان تاریخ، له پارس څخه ژباړه، لندن، اولس سوه دوه نوي یم کال.
۱۰۲- دوف، جیمز ګرانت، د مرټانو تاریخ، کلکته، نولس سوه دولسم کال.
۱۰۳- دیمز. ام. لانکورت، د درانیانو سکې، اتلس سوه اته اتیایم کال.
۱۰۴- راورټي، میجر، اچ جي د افغانستان او بلوچستان په باب یادښتونه. لندن، اتلس سوه اته اتیایم کال.
۱۰۵- راولسن، سرهنری د دراني قبیلې په باب رپوټ، اتلس سوه یو حلو ښتم کال.
۱۰۶- روس، دیوید، د پنځو دریابونو او سند سیمه، لندن، اتلس سوه درې اتیایم کال.
۱۰۷ ریو، سی، په برتیش موزیم کې د پارسي نسخو کتلاک، لندن، څلور ټوکه، اتلس سوه نهه اویایم- اتلس سوه پنځه نوي یم کلونه.
۱۰۸- ریهاتسک، د احمد شاه دراني سلطنت، د هند لرغون پېژندنه، اتلس سوه اوه اتیایم کال.
۱۰۹- ساداسک لال، هر چرنداس وګورئ.
۱۱۰- ساردیسایو جي اس د مرټانو نوی تاریخ، دویم ټوک، بمبیي، نولس سوه اته څلو ښتم کال.
۱۱۱- سایکس، پیر سي، د پارس تاریخ، لندن، نولس سوه پنځلسم کال، دیم ټوک، د افغانستان تاریخ، لندن، نولس سوه څلو ښتم، دوه ټوکه لومړی ټوک.
۱۱۲- سرکار سرجادونات، د مغولو د امپراتورۍ زوال، کلکته لومړی او دویم ټوکونه، نولس سوه دوه دېرشم- څلور دېرشم کلونه.

۱۱۳- سريواستوا، اشير بادی لال، د پاني پت د جګړې په درشل کې د افغانانو او مرهټانو د اړيکو ګډوډي، بمبيي، نولس سوه اته د ېرشم کال.
۱۱۴- شيجوالکر، ټي. اس، پاني پت، پونه، نولس سوه شپږ حلوېشتم کال.
۱۱۵- شيفر، چارلس، په فارسي منابعو کې عبدالکريم نديم وګورئ.
۱۱۶- عبدالقدير، ای. اف. ام. په هند باندې د احمدشاه ابدالي بريد. اسلامي مجله، څلورم کال، لومړی او دويمه ګڼه، نولس سوه نولسم کال.
۱۱۷- عبدالکوريم، د خواجه عبدالکوريم ياد دښتونه، اوولس سوه نهه د ېرشم- اوولس سوه نهه څلوېښتم کلونه.
۱۱۸- عسکري، خان صاحب سيد حسن، د دراني او راجپوت خبرې اترې، اولس سوه نهه پنځوسم- اوولس سوه يو شپېتم کلونه.
۱۱۹- عنايت علي خان، د کوتلاد غوره افغانانو بيان، لاهور، اتلس سوه دوه اتيايم کال.
۱۲۰- کولی، سيتارام، احمدشاه ابدالي او سکان، نولس سوه اته د ېرشم کال.
۱۲۱- کنکايد، سي، ای، اوی ډي بي، پاراسين، د مرهټانو تاريخ، بمبيي.
۱۲۲- کنګ، ډاکتر وايټ، د وايټ کنګ سيل کتلاک، دريېمه برخه، امستردام، جون نولس سوه پنځم کال.
۱۲۳- کننګو، ک، ر، د جټانو تاريخ، کلکته، نولس سوه پنځه ويشتم کال.
۱۲۴- ګروسی، اف، اس، متورا اله اباد، اتلس سوه اتيايم کال.
۱۲۵- ګريفين، ال، اچ د پنجاب راجګان، لاهور، اتلس سوه اويايم کال.
۱۲۶- ګزيتر، د پنجاب او اترا پراديش د سيمو په باب.
۱۲۷- ګليدوين، اف، د خواجه عبدالکوريم يادښتونه، اوولس سوه نهه د ېرشم- اوولس سوه نهه څلوېښتم کلونه.

۱۲۸- ګوپتا، اچ. ار. د سکانو تاریخ، اوولس سوه نهه د پرشم- اوولس سوه اته شپېتم کلونه، لومړی ټوک، کلکته، نولس سوه نهه د پرشم کال، دویم او دریيم ټوکونه، لاهور، نولس سوه څلور څلو پښتم کال.
۱۲۹- لاکهارت، نادرشاه، لندن، نولس سوه اته د پرشم کال.
۱۳۰- لانګلیو، ال، د عبدالکوریم دائر فرانسوي ترجمه.
۱۳۱- لطیف، سید محمد، د پنجاب تاریخ له لرغوني وخت څخه تر حاضر وخته پورې، کلکته اتلس سوه یو نوي یم کال.
۱۳۲- مارسدن، ختیځ مسکوکات لندن، اتلس سوه پنځه ویشتم کال.
۱۳۳- مالسن، جي، بي، د افغانستان تاریخ له پخوانیو زمانو څخه تر اتلس سوه اته اویایم کال پورې، لندن، اتلس سوه نهه اویایم کال.
۱۳۴- مالکم، جان، د پارس تاریخ له پخوانیو زمانو څخه تر حاضر وخته پورې، دوه ټوکه، اتلس سوه پنځلسم کال.
۱۳۵- محمد اکرم، اکرم محمد وګورئ.
۱۳۶- محمد علي، د افغانستان معرفي، کابل، نولس سوه اته د پرشم کال.
۱۳۷- مرتضی علي خان، نواب زاده، منیر الدوله، بمبیي، نولس سوه اوه څلو پښتم کال.
۱۳۸- مک ګریګور، ډبلیو رال د سکانو تاریخ، لندن، اتلس سوه شپږ څلو پښتم کال، دوه ټوکه.
۱۳۹- ناش، چارلس، په افغانستان کې د جنګ تاریخ، لندن، اتلس سوه دري څلو پښتم کال
۱۴۰- وانستارت، هنری، د احمد شاه ژوند، اوولس سوه نهه نوي یم، اتلس سوه یو کلونه.

۱۴۱- وایت، هیډ، ر.ب د پنجاب د موزیم د سکو کتلاک، لاهور، دریم ټوک، د نادرشاه او دراني کورنۍ سکې، اکسفورډ، نولس سوه څلور د یرشم کال.

۱۴۲- وید یا لنکر، جایاچندرا، سکان د هند د اتلسمې پېړۍ د تاریخ غوره عامل، بمبیي، نولس وه حلور د یرشم کال.

۱۴۳- ویلیامز، جي، ر، سي، سکان په پاسنۍ جمنا ګنګاه دواب کې.

۱۴۴- ها ملتن، انګوس، افغانستان، لندن، نولس سوه شپږم کال.

۱۴۵- هانوی، جوناس، د پارس انقلابونه، دویم ټوک، اولس سوه څلور پنځوسم کال.

۱۴۶- هوتیسما، او نور، د اسلام انسایکلوپیډیا، څلور ټوکه، نولس سوه دیارلسم- نولس سوه اته د یرشم کلونه.

۱۴۷- هوګیل، چارلس فریهرن اتلس سوه څلوېښتم- اتلس سوه څلور څلوېښتم کلونه.

## ج- اردو ماخذونه:

۱۴۸- اشرف علی، تاریخ افغانستان و سند، بمبیي، اتلس سوه بنځه څلوېښتم کال.

۱۴۹- الطاف حسین سید، ادینه بیګ خان، لاهور.

۱۵۰- امین چند، تاریخ سیال کوټ، کانګرا، اتلس وه اووه شپېتم کال.

۱۵۱- اودام سنګهـ، تواریخ دربارصاحب، لاهور، نولس سوه شلم کال.

۱۵۲- ایروین، ویلیام، تاریخ نوابان بنګښ شهر فرخ اباد، دویم ټوک، تاریخ فرخ اباد، فتح ګر، اتلس سوه اوه اتیایم کال.

۱۵۳- بشیر الدین احمد دهلوي وقایع دربار سلطنت دهلی، دهلی.

۱۵۴- بګوانت رای، منشی، مختصر تاریخ قدامت، نولس سوه لسم کال، یوازې په خصوصي توګه توزیع شوی او نښه نه لري.

۱۵۵- بلکریشان بترا، تاریخ ملتان، ملتان، نولس سوه شپږ ویشتم کال.

۱۵۶- بهیکا، سید شاه مظفر، تاریخ پنجاب، اتلس سوه اته نوي یم کال.

۱۵۷- پوهلورام، راپورکانګرا، لاهور اتلس سوه یو اویایم کال.

۱۵۸- چهار مینه، مقدمه سرکار پټیالا.

۱۵۹- دیبی پرسد، تاریخ ګلشن پنجاب، لکنهو، اتلس سوه پنځوسم کال.

۱۶۰- ذکاالله، منشی، تاریخ هندوستان، ډیلی نولس سوه پنځلسم- نولس سوه اتلسم کلونه نهم ټوک.

۱۶۱- رمجاس، دیوان، تاریخ ریاست کاپور تالا، لاهور، اتلس سوه اوه نوي یم کال.

۱۶۲- سنت سنګهـ منشي، بیان خاندان بیدیان، اتلس سوه پنځه شپېتم کال.

۱۶۳- شیر محمد خان، انساب روسای دېره اسماعیل خان.

۱۶۴- ظهور الحسن، تاریخ افاغنه، ډیلی.

۱۶۵- عبدالقدیر، سید، ادینه بیګ خان، لاهور.

۱۶۶- عظیم بیګ، میرزامحمد ، تاریخ ګجرات، لاهور، اتلس سوه اویایم کال.

۱۶۷- غلام رسول، تاریخ بلوچستان، امرتسر، تاریخ نه لري.

۱۶۸- غلام سرور، مفتي، لاهوری، تاریخ مخزن بنجاب، لکنهو، اتلس سوه اوه اویایم کال.

۱۶۹- کانهیالال، تاریخ لاهور، اتلس سوه څلور اتیایم کال، تاریخ پنجاب، لاهور، اتلس سوه یو اتیایم کال.

۱۷۰- ګیان سنګ، ګیانی، تاریخ ګورو خالصه، دویمه برخه، شمشیر خالصه، دریيمه برخه راج خالصه، امرتسر، نولس سوه درویشتم- نولس سوه پنځه ویشتم کلونه.

۱۷۱- محمد اسماعیل پاني پتی تاریخ پاني پت حیات نو پاني پت څلورم ټوک، لومړی ګڼه، جولای نولس سوه شپږ دېرشم کال.

۱۷۲- محمد باقر مالک، ادینه بیګ خان، د معاریف اسلامیه اداري اقدامونه، دویمه غونډه، لاهور، نولس سوه اته دېرشم کال.

۱۷۳- محمد حسن خان، سید خلیفه، تاریخ پټیاله، امرتسر، اتلس سوه اته اویایم کال.

۱۷۴- محمد حسین اغلب موهانی، سید، نیرنګ افغان، لکنهو، نولس سوه څلورم کال.

۱۷۵- محمد حیات خان، حیات افغاني، لاهور، اتلس سوه اووه شپېتم کال.

۱۷۶- محمد رحیم بخش، تاریخ دولت درانیه، ډیلی، دیارلس سوه یوویشتم هجري کال، نولس سوه دربیم میلادي کال.

۱۷۷- محمد زردرخان، صولت افغاني، کاون پور، اتلس سوه شپږ اویایم کال.

۱۷۸- محمد عبدالسلام، سرگذشت نواب نجیب الدوله، علیګړ نولس سوه ځلیرویشتم کال.

۱۷۹- محمد نجم الغني، تاریخ اوادهـ، مراداباد، نولس سوه نهم کال.

۱۸۰- نوازش علي، تاریخ روسای پنجاب، لاهور، نولس سوه یوولسم کال.

۱۸۱- نورمحمد چشتي، تحقیقات چشتي، لاهور، اتلس سوه نهه پنځوسم کال.

۱۸۲- وارث علي، واقعات درانی، کاونپور، دوولس سوه دوه نوي یم هجري کال.

۱۸۳- هرګوپال، پنډت، ګلستان کشمیر، لاهور، اتلس سوه درې اتیایم کال.

۱۸۴- حکام چند، منشي، تاریخ دېره غازي خان، لاهور، اتلس سوه شپږ اویایم کال.

۱۸۵- هوتورام، تاریخ بلوچستان، لاهور، نولس سوه اووم کال.

## د- هندي او مرټي ماخذونه:

۱۸۶- بهارت ایتهاس شنشوداک مندل، پونه، څلور میاشتنۍ مجله، څلیرویشتم ټول، لومړي ګڼه (پرله پسې درې نوي یمه ګڼه، جولای، نولس سوه دري څلویښتم کال.

۱۸۷- جوشی، شنکر پوروشوتام، شیکا نچه سپورتی دایاک ایتهاس، پونه، نولس سوه نهه دېرشم کال.

۱۸۸- دیش راج. جټ ایتهاس پریجندراسا هیتیا سامیتی، اګره نولس سوه حلور دېرشم کال.

۱۸۹- راجوید، وشو انات کاشی نات، مرتیانچې، ایتهاسا چېن سادانین، لومړی او شپږم ټوک، بمبیي اتلس سوه اتلسم، اتلس سوه اوه ویشتم کلونه، شاکا.

۱۹۰- سار دیسای، ګووېند ساکارام، د پیشوا له دفتر څخه انتخابات، (پیشوا دفترانا تون نیوا دیلی ککد) دویم، شپږم، پنځه ویشتم، اوه ویشتم، نهه ویشتم، اته دېرشم، نهه دېرشم، څلوېښتم او پنځه څلوېښتم ټوکونه، د بمبیي حکومت.

۱۹۱- سلیکشن فرام د چندراچود دفتر، د ګوالیار حکومت، ګوالیار نولس سوه څلور دېرشم کال، د چندرا جود دفتر، مندل، پونه، نولس سوه شلم کال.

## هـ- پنجابي (ګورموکي) ماخذونه:

۱۹۲- رام سوکراو (او د کاپور تالا سردار نابهسنګ)، جساسنګ بینود.

۱۹۳- رتان سنګ بهانګو شهید پراچین پانت پراکاش، امرتسر، نولس سوه اتلسم کال.

۱۹۴- کرم سنګ، خالصه دی پهلی جت ان د پهلواری، څلورم ټوک، دویمه ګڼه او ورپسې ګڼې.

۱۹۵- کیسر سنګ، بانساوالی نامه دس پادشاهیان کا، مارچ اوولس سوه اتیایم کال.

۱۹۶- ګنداسنګ، مهاراجا کورامل بهادر، امرتسر، نولس سوه څلویښتم کال.

۱۹۷- ګیانسنګ، ګیانی، پانت پراکاش، شپږم چاپ، امر تسر، نولس سوه درویشتم کال.

۱۹۸- هیرا سنګ دارد، راپور سری دربار صاحب امرتسر، ناچاپ.

# یادونه

ډېرو درنو او محترمو لوستونکو! څرنګه چې د دراني احمدشاه د دغه تاریخي اثر ماخذونه او منابع په فارسي، انګرېزي، اردو، مرټي او په پنجابي ژبو دي، نو که د هغو پښتو تلفظ څه تېروتنې ولري، هیله لرم چې د معذرت په منلو سره به مو وبښئ.

په مینه

(نصرالله سوبمن منګل)

۲۴-۴-۱۳۶۶ ل کال



# مننه او کور وداني

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (حاجي عبدالقیوم پردېس) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له ژباړونکي او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د ژباړلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک



# Durani Ahmad shah

د افغانستان ملي تحریک

www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۵۹

Download from:aghalibrary